



# غمیزه څرنګه وغزول شوه ؟؟؟



## د لیکنو ټولګه


لیکوال:

پوهنوال ډاکتر عبدالرشید جلیلي


د ۱۳۹۳ کال د غويي د میاشتې ۱۴ مه نیټه




**Download from:aghalibrary**

# نیولیک

عنوان | مخ


| عنوان | مخ |
|---|---|
| غمیزه څرنګه وغزول شوه ؟ | ۱ |
| د( ارمان )* هیلې او غوښتنې | ۳ |
| افغانستان : ګډ کور ګډې هلې ځلې | ۸ |
| دجدي شپږم: د افغاني تراژیدی د تورې شپې پیل | ۱۴ |
| په افغانستان کې: اوسنی وضعه څرنګه منځ ته راغله ؟ | ۲۱ |
| څرنګه افغانستان ؟... | ۳۰ |
| افغانستان: د افغانانو نه ټوټې کیدونکی ګډ کور | ۳۴ |
| په افغانستان کې د سولې پراخ بنسټه جبهه یا د سولې.. | ۳۷ |
| که طالبان کابل ونیسي سوله به ټینګه شي ؟ | ۴۰ |
| افغان او افغانیت | ۴۴ |
| د قدرت انتقال کله او څرنګه ؟ | ۴۷ |
| د افغانانو نوی کال | ۴۹ |
| ملي یو والی او اوسنۍ ستونزې | ۵۳ |
| د هیواد د برخلیک ټاکل د افغانانو په لاس کې دی | ۵۸ |
| د افغان مهاجرینو غمیزه | ۶۲ |
| افغاني ټولنه هر اړخیزې بیا رغاونې ته اړتیا لري | ۶۲ |
| یووالی د ژغورنې یوازینۍ لار | ۶۹ |
| پراخه ملي جبهه –دهیواد د ژغورنې لار | ۷۲ |
| یو والی | ۷۵ |
| آیا د خپلواکۍ جشن ولمانځو ؟ | ۷۸ |
| دټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو ځنې د... | ۸۱ |
| تر څو به افغانان د نورو په ټس کې قربانیږي | ۸۴ |
| د بن غونډه او د افغانانو غوښتنې | ۹۱ |
| نړیواله ټولنه باید نوره اشتباه ونه کړي | ۹۴ |
| د افغانستان نوې مؤقته اداره او نړیواله ټولنه | ۱۰۸ |




Download from:aghalibrary

پخوانی شوروي اتحاداو لاسپوڅي يې دافغانستان د... ۱۱۰
د ملي -دموکراتو شخصیتونواوډلو یووالی باید څرنګه... ۱۳۵
د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو ټینګ... ۱۴۰
د منځمهالي حکومت څخه د افغانانو هیلې ۱۴۴
د بیړنۍ لویې جرګې درنو استازوته د افغانستان ملي... ۱۴۸
تر څو به د تروریزم په جګړه کې بیګناه افغانان وژل کیږي؟ ۱۵۲
دهیوادد رواني وضعې په هکله دافغانستان ملي یووالي... ۱۵۷
د ملي دموکراتوشخصیتونواوځواکونو د تفاهم اویووالي... ۱۶۷
بیا هم دجدي شپږمې نیټې تیري په هکله ۱۷۰
ولې د ۱۳۵۸ کال د جدي ۶ نیټه د افغانانو دغمیزې دپیل.. ؟ ۱۷۶
د افغانستان ملي یووالي سازمان په استازیتوب اعلامیه ۱۸۵
نړیواله ټولنه د یوې بلې اشتباه په درشل کې ۱۸۹
په عراق کې جګړه ۱۹۶
د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا نه ماتیدونکې ده ۲۰۳
سیاسي عقده یا قومي لیونتوب ۲۰۷
د سیاسي ګوندونو قانون ۲۲۱
ټینګ ملي یووالی دټولو افغانانو د نیک مرغۍ لار ده نه... ۲۲۵
تر څو د ملي اهدافو تر شا یو ملي متحد منسجم ځواک... ۲۳۵
د جدي د شپږمې نیټې نه د راځیړیدلې غمیزې د پای ته... ۲۳۹
د افغانستان ملي یووالي سازمان په ګوند بدل شو ۲۴۲
رښتیا ۲۵۳
ولې د "ډیورنډ"تپل شوې کرغیړنه کرښه د منلووړ نه ده؟ ۲۵۵
په ایران او نورو ځایونو کې د افغان مهاجرینو دستونزو... ؟ ۲۶۲
آیا دامریکااوناټوژمنې پوره کیدونکې دي ؟ ۲۶۷
دوستم نور څه غواړي ؟ ۲۷۱
د زور استعمار نوې بڼه ۲۷۵
په افغانستان کې دبرطانیې د نوي سفیر څرګندونې ۲۷۹
ازمیښتي سر شمیرنه ۲۸۲



Download from:aghalibrary

| | |
|---|---|
| د ملي شخصیتونو او ډلو د یووالي ضرورت | ۲۸۵ |
| د طالبانو په نوم د عامو وګړو وژل | ۲۸۸ |
| د افغانستان ملي یووالي سازمان په استازیتوب د... | ۲۹۰ |
| څرنګه کیدای شي د افغانستان ملي یووالي ګوند ... | ۳۰۲ |
| د ملي نوامیسو څخه دفاع د هر افغان ملي دنده ده | ۳۲۵ |
| د دیورند کرښه: د سیمې او نړۍ پر سولې او ثبات باندې د ... | ۳۳۱ |
| د افغانستان ملي یووالي ګوند د دویمې لوې شورا د ... | ۳۳۲ |
| تر څو چې د افغانانو پر ضد ټولې پخوانۍ او اوسنۍ ... | ۳۵۹ |
| د امریکې متحده ایالتونو جمهور رئیس بارک اوباما ته... | ۳۷۷ |
| آیا اوسنۍ ټولټاکنې د افغانانو په ژوند کې کوم بدلون ... | ۳۸۵ |
| د ۱۳۵۸ کال د جدي د ۶ نیټې تیري څخه راپاتې کنډوالو... | ۳۹۱ |
| په هیواد کې تر ټولو بده او ترخه پیښه | ۴۰۷ |
| ټینګ، یوموټی ، سرتاسري ، ملي دموکرات او اصولي ... | ۴۱۲ |
| وایي: موچي ته هغه ځي چې پښې یې سوزي | ۴۲۲ |
| د افغانستان او امریکې تر منځ ستراتیژیک تړون په هکله | ۴۳۵ |
| د بن دویم کنفرانس | ۴۴۲ |
| پر افغانستان د ۶ او ۷ نیټو د یرغلونو ورته والی او توپیرونه | ۴۴۹ |
| تر څو د افغان واحد ملت ویش او بیلوالی دوام لري ، په... | ۴۵۴ |
| ولې په افغانستان کې فدرالیزم د تجزیې مانا لري ؟ | ۴۶۲ |
| د نړۍ خورو او تالي ځټو په تندي یو بل تور داغ | ۴۶۷ |
| زموږ ستراتیژیکه موخه | ۴۷۴ |
| څرنګه افغانستان غواړو ؟ | ۴۸۱ |
| پرچمیان او د دوئ ټلواله: د افغانانو د غمونو او کړاوونو... | ۴۹۳ |
| د افغانستان په هکله د امریکې استعماري سیاست لاپسې... | ۵۱۲ |
| د افغانستان ملي نوامیسو څخه د دفاع اړتیا | ۵۲۴ |
| د افغانستان خلک باید پخپله له ځان څخه دفاع وکړي | ۵۳۲ |
| حامد کرزي ته پرانیستی لیک | ۵۵۷ |
| د ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو په وړاندې ملي... | ۵۲۴ |



**Download from:aghalibrary**

په افغانستان کې دبهرنیو هیوادونو د نظامي اډو شتون... ۵۷۰
د پښتون \افغان قامي جرګه ۵۸۳
ولې دامپراتوریوهدیره لا تر اوسه د پنجابي استعمار په.. . ۵۹۱
که د ډیورنډ کرښې په واسطه ویشل شوی افغانستان ... ۶۱۵
له اوسنۍ غمیزې څخه دافغانانو د ژغورلو په خاطر ... ۶۳۱
یوائې افغان ستر ملت کولای شي استعماري توطیې... ۶۴۵
د ویشل شوي افغانستان دبیرته یووالي دپاره لهآموتر... ۶۵۷
وروستۍ خبرې ۶۶۵




Download from:aghalibrary

بسم الله الرحمن الرحیم

# غمیزه څرنګه وغزول شوه ؟

سریزه

دغه کتاب زما د ځینو لیکنو چې په بیلابیلو وختونو کې لیکل شویدي د یوې ټولګې په توګه درنو لوستونکو ته وړاندې کیږي. سره د دې چې ډیر شمیر لیکنې چې په بیلابیلو وختونو کې شوې وې اوس په لاس کې نه شته ، دا یواځې هغه لیکنې دي چې وروسته له ډیرو سفرونو ، په بیلو بیلو ځایونو کې د استوګنې کولو او کډوالیو ځنې لاس ته راغلي دي. نو ځکه د موضوعاتو د پرله پسې والي بڼه به یې دومره خوندوره نه وي. خو منځپانګه به یې د مختلفو وختونو د شرایطوسره سمون ولري او تر ډیرې کچې به د واقعیتونو غبرګون پکې نغښتی وي. چې په دې ډول دا کتاب کولای شي تر یوې اندازې د لیکوال او د هغه وخت د موجوده شرایطو ترجماني وکړي.

د دې لپاره چې په مختلفو وختونو کې په افغانستان کې د سیاسي بحران او له دې بحران نه د راځیږیدلو ستونزو په هکله واقعیتونه په منظم ډول رابرسیره شي ، هڅه شویده چې لیکنې له زماني پلوه په ترتیب سره په دې کتاب کې چاپ شي. باید وویل شي چې ټولې دا لیکنې هغه وخت شویدي چې لیکونکی د لس کاله زندان تیرولو نه وروسته د پلچرخي له جیل نه راوتلی و. لکه چې مخکې ورته اشاره شویده ډیرې هغه لیکنې چې د دغه پیر په لومړیو وختونو کې د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام په مقابل کې د کارمل د ډلې او شمالي ټلوالې د کودتا او توطیو د پیل په اړوند شوې وې له کابل ځنې پیښورته د کډې کولو په وخت کې ورکې شوې دي یوه نیمګړتیا ده.



Download from:aghalibrary

نورې ټولې ليکنې د کډوالۍ په وخت کې شويدي ، ځينې په پيښور او ځينې نورې په هالندکې شويدي ، خو ټولو کې د افغانستان ستونزو غبرګون موندلی دی. هيڅ ربښتينی افغان نه شي کولای د خپلو هيوادوالو او خپل هيواد نه ليرې ژوند وکړي ، که په جسمي ډول په خپل هيواد کې اوسيدل ورته د بهرنيو دښمنانو او د دوئ د لاسپوڅو په واسطه ستونزمن وي ، خو د خپل هيواد سره مينه او معنوي تړلتيا ترې هيڅوک نه شي اخستلای. کله چې په کابل کې اوسيدل راته ستونزمن و ،نو د هغې مينې له کبله چې مې پيښور اود پيښور د خلکو سره درلوده هيڅکله راته ځان کډوال نه ښکاره کيده او نه مې شول کولای چې له پيښور نه بل چيرته لاړ شم . خو په پيښور کې هم د سولې د ښمنانو هيڅ يو خپلواک سياسي فعاليت نه شو زغملای ، نو کله چې د افغانستان ملي يووالي ګوند منځ ته راغی او سياسي فعاليت يې پيل کړ ورسره سم د مختلفو استخباراتي او د افغانانو دملي يووالي ضد کړيو ګواښونه او توطيې پيل شوې ، تر څو پيښور هم پريږدم او اروپا ته کډوال شم. له دې وروسته ټولې ليکنې په اروپا کې شويدي ، خو يوه يې هم د خپل هيواد د پرابلمونو پرته په بل څه نه ده شوې.

د ليکنو ټوله موخه په افغانستان کې دسولې ټينګيدل ، د يوربښتياني ملي – دموکراتيک دولت منځته راتګ ، دافغانستان د خلکو ترمنځ د ملي يووالي ټينګښت ، د بهرنيو هيوادونو د لاسوهنو او تيريو مخه نيول او د هر ډول ظلم ، استبداد او بې عدالتيو په وړاندې مبارزه ده. هيله ده د ليکنو دا ټولګه به ځوانانو ته د هغو ترخو وختونو په اړوند د واقعيتونو د روښانه کولو لپاره د يوې وړې هڅې په توګه د منلو وړ وګرځي.

# د( ارمان )* هیلې او غوښتنې

نژدې پنځلس کاله کیږي چې افغانان د جګړو د اور په لمبو کې سوزي. دوه میلیونه کسان او هغه نژدې ټول ځوانان له منځه تللي او نور په همدې شمیر معیوب او معلول شوي دي. د پنځو میلیونو نه زیات خپل هیواد نه نورو هیوادونو ته مهاجر شویدي او پاتې ډیر یې د هیواد په دننه کې خپلو کورونو او کروندو پریښودو ته اړ شویدي او له کړاوونو ډک ژوند تیروي.
د افغانانو دا تراژیدي هغه وخت پیل شوه کله چې د یو ځرګند بهرني تیري سره مخامخ شول. د شورویانو تیری په واقعیت کې د افغانانو د دې دومره غمونو، کړاونو او بد مرغیو ستر عامل دی. په دې تیري سره ټول افغانستان د جنګ په ډګر بدل شو. په دې جنګ کې نه یواځې د افغانستان خلک د یو بیرحمه ستر بهرني یرغلګر ځواک سره مخامخ شول، بلکې د ګوډاګي رژیم د سیسې او توطیې له یو طرفه او زمونږ د هیواد په چارو کې د بهرنیو هیوادونو لاسوهنو له بله طرفه داسې وضعه منځته راوسته چې د شورویانو پر ضد ملي – اسلامي جهاد د نړیوالو تضادونو او د منطقې د هیوادونو د اهدافو تراغیز لاندې راشي.
په دې ډول هغو هیوادونو چې افغانانو سره مرسته کوله هیله درلوده چې شورویان نه یواځې په افغانستان کې بلکې په ټوله نړۍ کې په ګونډو او له ماتې سره مخامخ شي. البته د جګړو دغه اور چې یو ستر نړیوال قدرت پکې له پښو ولویږي ضرور و. خو د جګړو ټول بار د افغانانو په اوږو پروت واو بهرنیو هیوادونو یواځې مالي او تخنیکي مرستې کولې. همدارنګه د منطقې ځینو هیوادونو د فرصت نه په ګټې اخستلو سره غوښتل په افغانستان کې یواځې هغو ډلو سره مرستې وکړي چې د دوئ د هدفونو د لاسته راوړلو لپاره مناسبې وې. نو ځکه په دې دواړو حالاتو

کې د یو ملي مرکزي حکومت منځته راتلو لپاره نه یوازې کوم پروګرام نه و ،بلکې پيښو وښوده چې په افغانستان کې د یو ملي مرکزي حکومت د جوړېدو سره له هم هغه اول نه مخالفت هم و .
افغانانو چې دا دومره تلفات ولیدل د دې په سبب وو چې دوئ نه یوازې د ځان لپاره ، بلکې د نورو هیوادونو داهدافو او ګټو لپاره و جنګیدل او لا هم جنګیږي . افغانستان اوس د کونډو یتیمانو او معیوبینو داسې ټاټوبی دی چې نه یوازې دې جنګ ځپلو خلکو ټپونو ته پکې پټۍ نه شته ، بلکې د ټولو خلکو سر،مال ،پت او عزت د ستر ګوابښ سره مخامخ دي.
ټول کلي ، بانډې او زیات شمیر ښارونه په کنډوالو او باغونه او کروندې په شاړو بدلې شویدي . نه روغتون پاتې دی او نه کلینیک ، نه ښوونځي شته دي او نه پوهنتون. کابل د افغانستان علمي ، سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي مرکز داسې لوټې لوټې شو چې نور وران شوي ښارونه ورته اباد او ودان ښکاري. زموږ ټولې ملي شتمنۍ اوتاریخي ویاړونه تالا او برباد شول چې د دښمنانو خواوې پرې یخې شوې . د ځنګلونو او معدنونو نه نیولې تر موزیمونو ، بانکونو او مارکیټونوپورې د غنیمت مال او شخصي پانګې وګڼل شوې ، نه یوازې خپل ځانونه ، بلکې ډیر خپل او پردي یې پرې ماړه کړل.
که له یرغلګرو قوتونو او د هغوئ له ګوډاګیانونه ګیله وکړو چې په بیرحمۍ سره یې پر افغانانوهر ناتارچې د لاسه یې کیده راوست ، خو هغوئ چې د بشردوستۍ او وطنپالنې ډبرې پر سینې وهي څه بې رحمۍ نه وې چې وه یې نه کړې. ؛غل هم وایي نیسه یې او مل هم وایي نیسه یې ! ؛ هیڅوک نه غواړي چې په خپلې ګناه اعتراف وکړي. هر یو د خپل بام واورې د بل پر بام اچوي . څوک وایي د افغانانو تراژیدي له دې ځای نه پیل شوه او ځوک وایي له هغه ځای نه . خو واقعیت دادی : کله چې افغانان سره متفق او یو شوي دي ، تاریخ یې جوړ کړی دی. او کله چې په

خپلو منځونو کې بې اتفاقه او یو نه وي ، نو د هر ډول بدمرغیو سره مخامخ شوي دي. له همدې کبله ده چې زموږ د خلکو او وطن دښمنانو له هر څه نه لومړی یې د افغانانو په نه یووالي کې خپل بریالیتوب لټولی دی او لومړنۍ هڅه یې دا وي چې د دوئ تر منځ د نفاق اور بل کړي او تر څو یې وسه کیږي لمن ورته ووهي. نو ویلای شو چې د افغانانو تراژیدي د همدې بې اتفاقیو او نه یووالي نه پیل شویده. مذهبي ، قومي او ژبنیز تعصبونه هغه مرضونه دي چې له افغانانو نه یې په روغه جوړه او خبرو له لارې د خپلو اختلاقونو د اواري وس له منځه وړی دی . دا هغه منفي شیان دي چې تل ترې بهرنیو تیري کوونکو د افغانانو د بې اتفاقۍ او کمزوري کولو لپاره کار اخستی دی. د ځینو بهرنیو هیوادونو د لاسوهنو او لمسوونو له کبله په دې وروستیو کلونو کې په افغانستان کې د دوئ کورنیو نوکرانو داسې کارونه وکړل چې په تاریخ کې یې سارى نه لیدل کیږي. په دې کې شک نه شته چې د دې ټولو جنایتونو عاملین به هرو مرو یوه ورځ د افغانستان د خلکو پر وړاندې ودریږي او د خپلو اعمالو ځواب به وایي.

اوس به دې ته راشو چې خلک د څه شي ارمان کوي ؟ خلک تل د ښه شي ارمان کوي او د هغه شي ارمان کوي چې نه یې لري. د ( ارمان ) جریده په هیڅ تنظیم او سیاسي ډلې پورې تړلې نه ده. دا یوه ملي جریده د ه چې د افغانستان د خاموش اکثریت د ارمانونو ترجماني کوي او د هغه شي د لاسته راوړو لپاره به هلې ځلې کوي چې خلک ورته ضرورت لري . د افغانستان خلک دهر څه نه لومړی په خپل هیواد کې سولې او ثبات ته ضرورت لري او د دې لپاره چې په افغانستان کې سوله ټینګه شي د ټولو سوله غوښتونکو ملي ځواکونو یووالي ته اړتیا ده. (( ارمان )) به په دې لار کې د هیڅ ډول هڅو او هلو ځلو نه سر ونه غړوي. د ارمان په خپرونو کې به هر هغه څه چې د ملي یووالي د ټینګیدو سبب کیږي او سوله او

ثبات پرې منځته راځي انعکاس مومي او ټول هغه فعاليتونه به چې د جنګ د اوږديدو سبب کيږي او ملي يووالی له منځه وړي او هيواد د تجزيې د خطر سره مخامخ کوي غندي او رسوا کوي.

د دې لپاره چې په افغانستان کې سوله ټينګه شي د ملګرو ملتونو ، ګاونډيو او نورو هيوادونو مرستې ضرور دي. ارمان به په دې لار کې د ملګرو ملتونو ، ګاونډيو هيوادونو او نورو هيوادونو د پام را اړولو لپاره هڅې کوي او هم به د ملګرو ملتونو د سولې پلان د عملي کيدو لپاره د افغانستان ټول سوله غوښتونکي ځواکونه او شخصيتونه هڅوي او د سولې د يو ځواکمن جنبش منځته راتلو کې به چې په هغه کې بې له هر ډول تبعيض نه د افغانستان د ټولو ملي سياسي ډلو اوشخصيتونو کارنده ونډه وجود ولري هلې ځلې وکړي. ارمان به د سولې او ثبات د منځته راتلو په لار کې د هر ډول خنډ اوستونزو منځته راوړو ضد وي.

لکه چې مخکې ورته ګوته نيول شوې ، ارمان په هيڅ سياسي ډلې پورې تړلی نه دی او هم د هيچا سره شخصي ضديت نه لري ، خو ملي ګټې ورته د هرڅه نه لوړې دي ، هر هغه څه چې د ملي ګټو ضد وي ارمان به يې پر ضد وي. د دې لپاره چې په افغانستان کې سوله ټينګه شي او کلي ، بانډې او ښارونه مو ودان او ښارې مو ابادې شي يو ملي مرکزي حکومت ته ضرورت دی چې د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ د انتخاباتو له لارې منځ ته راشي ، ارمان به په دې لار کې خپلو هڅو ته تر اخره پورې دوام ورکړي. دا به د افغانستان د خلکو ارمان وي. زموږ خلک غواړي د جنګ اور مړ او سوله او ثبات منځته راشي. مهاجرين خپل وطن ته لاړ شي ، کورونه ، مکتبونه ، شفاخانې ، پوهنتونونه او نور عام المنفعه ځايونه اباد شي. ارمان به زموږ دخلکو د هيلوپوره کولو لپاره له هيڅ ډول هلو ځلو او هڅو او هاند نه ډډه ونه کړي.

۱ – دا لیکنه د ارمان د جریدې په لومړۍ ګڼه کې د ۱۳۷۳کال د قوس په اول خپره شویده . د ارمان جریدې د ښاغلي سید اسحاق ګیلاني په امتیاز په پیښور کې په خپریدو پیل وکړ ، چې د نوموړي په غوښتنه د جریدې د لومړۍ ګڼې په مناسبت دا لیکنه ولیکل شوه.

# افغانستان : ګډ کور ګډې هلې ځلې *

افغانان ټول بې له کوم توپیر نه مکلف دي چې د تیري او جنګ ټول کرغیړن تاثیرات له منځه یوسي او د دښمنانو د هیلو پر ضد خپل ملي یو والی ټینګ کړي
افغانستان د خپل پنځه زره کلن تاریخ په اوږدو کې د خپل جیوستراتیژیک اهمیت له مخې ځو ځلې د بهرنیو تیري کوونکو د ویجاړونکو تاړاکونو او له هغوئ نه د راځیږیدلو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ شوی دی. خو د وخت په تیریدو سره افغانانو نه یواځې د تیري کوونکو له شر نه ځان خلاص کړی دی ، بلکې د تیري نه را پیدا شوې ټولې ستونزې او کړاوونه یې له منځه وړي دي ، پر ټپونو یې پټۍ ایښې دي او خپل هویت یې ساتلی دی.
داځل چې شورویانو د کورنیو لاسپوځو په مرسته غوښتل د خپلو اسلافو ارمان تر سره کړي او تودو اوبو ته زموږ د پاکې خاورې نه د ټوپ د تختې په حیث ګټه واخلي ، نو زموږ په سپیځلي هیواد یې د ټولو نړیوالو نورمونو پر خلاف د ۱۳۵۸ کال د جدي د شپږمې نیټې په تور ماښام وسله وال تیری وکړ.
پر افغانستان باندې د شورویانو تیری د افغانستان د خلکو لپاره د یو ستر ناتار سره د دوئ د مخامخ کیدو مانا لري. هغه ګوډاګی حکومت چې د شورویانو پواسطه سیاسي قدرت ته ورسید د شورویانو په دیکتې سره یې د افغانانو د ماتولو لپاره د (( بیل یې کړه ! ایل یې کړه ! )) پالیسي په مخکې ونیوله او د پښتون ، تاجک ، اوزبک او هزاره په نومونو یې پخپله د دولت په واسطه بیل بیل قومونه وجنګول. په دې کار سره ګوډاګي رژیم په لوی لاس ملي یووالی چې د هر دولت د ټینګیدو لپاره اساسي فکتور دی کمزوری کړ او ورسره یو ځای یې خپل ځان ، چې لا

پخوا خلکو د ګوډاګي په حیث پیژاند او نه یې مانه لاپسې خلکو نه لیرې ویست.
همدارنګه د شورویانو په تیري سره نورو هیوادونو هم د افغانانو سره د مرستې په نامه د تیري په مقابل کې د افغانانو د مقاومت په پاڅون کې ورګډ شول .چې د دې په نتیجه کې شورویان د افغانانو د بې ساري قربانیو او قهرمانیو او د دوئ د مقاومت سره د نورو هیوادونو د سترو مرستو او سیاسي فشار په اساس خپلو ناولو هدفونو ته ونه رسیدل ، ماتې یې وخوړه او له افغانستان نه وتلو ته مجبور شول. خو یو شی باید له یاده ونه باسو چې د شوروي کمونستانو دتیري په مقابل کې د کمونیزم ضد ځواکونو په دغه اوږد جنګ کې افغانستان د جنګ په داسې میدان بدل شو چې پکې نه یوازې افغانانو په سر او مال لوبې وکړې ، بلکې د ازادې نړۍ ټولو غښتلو هیوادونوپکې که سر سره لوبې ونه کړې ، نو مالونه خو یې ښه و ښندل. په دې ډول په دې جنګ کې نه یوائې دوه میلیونه افغانان د خاورو خوراک او همدومره معیوب او معلول شول. ټول ښارونه ، کلي او بانډې یا بیخي او یا ډیره برخه یې ویجاړ او له منځه ولاړل . نژدې ټولې کروندې او بڼونه او باغچې په شاړو بدل شول . نه ښوونځی روغ پاتې شو ، نه کلینیک او روغتون او نه کوم رسمي دفتر یا دولتي یا شخصي موسسه. یانې ټول هیواد په کنډوالو او شاړو بدل شو او د جنګ تاثیر د ډیرو خلکو نه صله رحمي ، زړورتیا ، میلمه پالنه ، رښتینولي ، ننګ او غیرت ،هوډمنتوب او میړانه او نور ډیر افغاني غوره صفات او عنعنې له منځه یوړل او کمزوري یې کړل .
په بهر او دننه کې د خلکو مهاجرت افغانان له بې شمیره ستونزو سره مخامخ کړل ، چې ځینې یې کیدای شي جدي ټولنیزې ستونزې رامنځ ته کړي. د ښوونځیو او زده کړو نه د میلیونونو کوچنیانو پاتې کیدل ، په بې سوادانو د بیسوادانو ورزیاتیدل دی.چې د جهالت تورتم د ټولنې په ټولو

برخو راپریباسي او د پوهې او تمدن کاروان نه یې په کلونو کلونو وروسته پاتې کوي . په دې توګه به نه یوازې د نورو هیوادونو سره د سیالۍ جوګه نه یو ، خدای دې وکړي داسې وخت رانه شي چې د ناپوهۍ او احتیاج زولنې مو په پښو کې داسې ټینګې شي چې بیا هیڅکله د ازاد او سرلوړي افغانستان نوم په خپلو ګناهکارو غوږونو وانه اورو او د یو اوبل په لاسونو کې د لوبو د ځارویو په حیث ولویږو .
د دې لپاره چې د داسې سرنوشت سره مخامخ نه شو ، ټول افغانان بې له کوم توپیر نه مکلف دي چې د تیري او جنګ ټول کرغیړن تاثیرات له منځه یوسي ، د دښمنانو د هیلو پر ضد خپل ملي یووالی ټینګ کړي او لکه د یوې کورنۍ د غړو په څیر په خپل لوی کور افغانستان کې د سولې او ثبات منځته راتلو او ټینګیدو په خاطر له هیڅ ډول هلو ځلو نه سر ونه غړوي .په هر څه چې افغانان بیلیږي له منځه یې یوسي او په هر شي چې یو کیږي منځته یې راوړي . نه باید ژبه ، نه قوم ،نه مذهب نه ځای ، نه سیاسي نظر او یا سیاسي ډله هیڅ شی افغانان سره بیل نه کړي.
د دې لپاره چې په افغانستان کې سوله او ثبات منځته راشي څوشیانو ته کلکه اړتیا ده : هغه دا چې باید افغانستان لکه د ټولو خلکود شریک کور په حیث له هر بل کورګي نه لوړ وبلل شي . ملي ګټې له شخصي او ګروپي ګټونه لوړې وګڼل شي او ټول د یو سرلوړي افغانستان د بیا جوړیدو لپاره د افغان ملت ارادې ته سرونه ټیټ کړي . په هرچا چې ملت باور کوي او پرې راټولیږي نور ټول سیاسي ګوندونه او تنظیمونه هم د دغه باور درناوی وکړي او د ځان ځانۍ نه لاس واخلي . دا به په واقعیت کې په هیواد کې د دموکرسۍ پر بنسټ د داسې یو سیاسي نظام منځته راوړل وي چې د هیواد په سیاسي ثبات او پرمختګ کې به په راتلونکي وخت کې خپل رول ولوبوي . بې له دموکراسۍ په اوسنیو شرایطو کې په افغانستان کې سوله نه شي ټینګیدای . دموکراسي د ملت په خوښه د

انتخاباتو له لارې د يو دولت يا حکومت منځته راوړل اساسي شرط ګڼي . که دا کارونه ټول د يو قانون له مخې سرته رسيږي او د افغانستان ټول اتباع د دغه قانو ن په اطاعت کولوباندې مکلف وي ، نونور قدرت ته د رسيدو لپاره جنګ جګړو ،کودتاګانو ، توطيو او بهرنيو هيوادونو سره سازشونو ته ځای نه پاتې کيږي . هر څوک به هڅه کوي چې خلکوته په خدمت کې د هغوئ د باور لاسته راوړو لپا ره هلې ځلې وکړي او د جنګ پر ځای به سوله ايز سياسي رقابت موجود وي چې د ټولو هيوادونو د پرمختګ لپاره يو ضروري اصل دی.

زمونږ واقعي دوستان که دا ملګري ملتونه وي يا نور بهرني هيوادونه ، بايد افغانانو سره د دوئ په هيواد کې د ملت په خوښه د انتخاباتو له لارې د داسې يو سياسي نظام منځته راوړو کې مرسته وکړي چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي. د نورو له خوا نه تپل شوي حکومتونه افغانان نه مني . نو ځکه هيڅوک بايد دا هڅه ونه کړي چې د خپلې خوښې کسان د افغانستان په خلکووتپي. دا به هر چا ته ښه وي چې افغانستان داسې يو ملي اسلامي نظام ولري چې د خلکو له خوا جوړ او د دموکراسۍ ټول اصول مراعا ت کړي ،د بشر له حقوقو نه ملاتړ وکړي ، د مخدره موادو مافيا او ورسره تړلې تروريستي شبکې له منځه يوسي او د نړۍ د ټولو هيوادونو او په خاص ډول د ګاونډيو او اسلامي هيوادونو سره کلک دوستانه اړيکي ولري. البته دا هغه وخت کيدونکی کار دی چې د نړۍ ټول هيوادونه د افغانستان ملي حاکميت ، ځمکنۍ بشپړتيا ، استقلال او ملي يووالي ته درناوی وکړي او په کورنيو چاروکې يې له لاسوهنو نه کلکه ډډه وکړي.

د دې لپاره چې دا کارونه سرته ورسيږي په کار دي چې لومړی پخپله افغانان سره خپلو مينځونو کې کښيني او د اختلاف ټول ټکي تر څيړنې لاندې ونيسي. يوائې هغو ټکو ته پام واړول شي چې د ټول ملت ګټې

پکې انعکاس مومي . که چیرته ټول دا ومنو چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی او هر افغان حق لري چې د اوسنیو ستونزو نه د وتلو لپاره د خپل وس سره سم په خپل هیواد کې د سولې او ثبات منځته راتلو لپاره هلې ځلې وکړي ، نو بیا به دې ته ځای نه پاتې کیږي چې د سولې ټینګیدل دې هم د یو څو کسانو او یاسیاسي ډلو انحصار وي . په افغانستان کې د سولې اوثبات ټینګول د ملت په خوښه د یو مرکزي حکومت جوړولو پورې تړلې ده . دا یوه ملي مساله ده او ټول ملت پورې اړه لري او د ټولو افغانانو حق دی . نو ځکه هیڅ یو شخص او یا سیاسي ډله حق نه لري چې دا مساله په دې یا هغه نوم یا بهانه یوائې ځان پورې منحصره کړي او د اوارېدو مخه یې ونیسي .

همدارنګه مخکې له دې چې د افغانستان ټول ملت د سولې او ثبات په منځته راوړو کې برخه واخلي ضرورت دی چې ټول ملي سوله غوښتونکي سیاسي شخصیتونه او سیاسي ډلې د دې ستر کار د سرته رسیدو په خاطر په یو ګډ پلاتفورم چې د دې مسالې په اړوند د ټولو اړخونود ګډو ټکو منعکس کوونکی وي راټول شي او د سولې یو ځواکمن غورځنګ منځته راتلو لپاره هلې ځلې وکړي . موږ به د ټولو هغه ملي شخصیتونو او ځواکونود نژدې کیدو او په یوه متحده سرتر سري جبهه کې د راټولیدو په خاطر چې په افغانستان کې د سولې د ټینګیدو او یو ملي اسلامي حکومت منځته راتلو لپاره هاند او هڅې کوي او په لومړي سر کې د یوې لوې جرګې له لارې دې اهدافو ته د رسیدو لپاره غوارړي خپلې غوښتنې په سوله ایز ډول پلې کړي له هیڅ ډول هلوځلو نه ډده و نه کړو . موږ په افغانستان کې د سولې اثبات منځته راتلو په خاطر چمتو یو ډیرې ستونزې وزغمواو تر پایه پورې د یو سرلوړي افغانستان د بیا جوړیدو په خاطر د نورو ملي ځواکونو سره یو ځای اوږه په اوږه ولاړ شو . مونږ باور لرو جنګ ماتې خوري او سوله بریالۍ کیږي .

*- دالیکنه د **۱۳۷۳**کال د قوس په ۳۰نیټه د ارمان جریدې په دویمه ګڼه کې خپره شویده.

## د جدي شپږم: د افغاني تراژيدۍ د تورې شپې پيل *

د ۱۳۵۸کال د جدي شپږمه نيټه د افغانانو لپاره د تراژيدۍ د پيل نيټه ده. په همدې ورځ د ماښام په تورتم کې شوروي نيواکګرو د کورنيو لاسپوڅو په مرسته د افغانانو په پاکه خاوره تيری وکړ. د هغه وخت حکومت يې ، چې د شورويانو ديکټې يې نه منله رانسکور او پر ځای يې د خپلې خوښې ګوډاګی حکومت منځ ته راوړ چې د خلکو د پراخ مخالفت سره مخامخ شو. شورويانو د خپل دغه خاينانه عمل د پر ځای ښودلولپاره ډيرې وسې وکړې او ډيرې پلمې او دروغ يې جوړ کړل چې د نړيوالو په سترګو کې خاورې واچوي ، ځان پر حقه وښايي او هغه حکومت چې د دوئ پواسطه منځته راغلی و په خلکو وروتپي او پرې وه يې مني.

د جدي د شپږمې نيټې تيری د ټولو نړيوالو نورمونوضد عمل و. که په نړيوالو اړيکو کې د خاصو اصولو او نورمونو مراعات نه وای او دهيوادونو حقوق اووجايب نه وای تعين شوي ، نو په رښتيا سره به نړۍ د هيوادونو تر منځ د جنګونو او شخړو په اور کې سوې وای. دې اصل ته چې د دويم نړيوال جنګ نه وروسته د ملګرو ملتونو د چارتر يوه مهمه برخه جوړوي په نړۍ کې د سولې او ثبات په خاطر ډير پام واوښت. د مستقلو هيوادونو تر منځ اړيکي تر هر څه لومړی د يو او بل په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې ، د يو او بل د استقلال ملي حاکميت ، ځمکنۍ بشپړتيا ته احترام او پر يو او بل باندې د نه تيري پر اصل بنا شويدي. خو شورويانو دخپل يو ګاونډي هيواد پر خاوره بې له هر ډول مخکنې خبرداري نه د يو غلچکي او وحشيانه تيري په کولو سره دغه اصول تر پښو لاندې کړل اوپه نړۍ کې د يوتيري کوونکي وحشي دولت په حيث

وپیژندل شو او پر افغانستان باندې تیری یې د ټولو نړیوالو نورمونو ضد عمل وګڼل شو.
شورویان خو اول نه پوهیدل چې پر افغانستان باندې تیری به ورته دومره دروند تمام شي چې نه یوازې افغانان به یې په یوه چیغه په مقابل کې ودریږی ، بلکې د ټولې نړۍ دکر کې ،لعنت او مقاومت سره به مخامخ شي . دوئ فکر کاوه چې د دروغو ، حیلو او دسیسو په واسطه به وکړای شي افغانان وغولوي. شورویانو مخکې له دې چې پر افغانستان تیری وکړي خپلو اجنټانو ته یې دستور ورکړی و چې هر ډول ناوړه کارونه چې یې د لاسه کیږي وکړي او ملامتیا یې د هغه وخت پر حکومت واچوي. په رښتیا سره چې د شوروي دغو اجنټانود رژیم د بدنامیدو په خاطر دهیڅ ډول ناوړه او ناروا کارونو سرته رسولو نه ډډه و نه کړه. دوئ خپل ټول کرغیړن اعمال په ډیر مهارت سرته رسول او خلکو ته به یې ځانونه د رژیم د نمایندګانو په جامه کې ښودل . حتی ځینې بهرني ژورنالستان هم د شورویانو او ګوډاګي رژیم د پروپیګنډو تر اغیز لاندې داسې راغلي وو چې څه شی به ک.ګ.ب. او خاد تبلیغاوه دې ژورنالستانو به هم په عین شکل او یا له هغوئ نه زیات تبلیغول.
قدرت ته د کارمل په رسیدو سره داسې پروپاګنډې پیل شوې چې شورویان د نجات پرښتې دي او د آمین د »مستبد« رژیم نه د خلاصیدو او افغانستان ته د ټولو خلکو د نیکمرغه کولو لپاره راغلي دي. د جدي د اوومې نیټې په سهار د یو رادیویي پروګرام په ترخ کې چې په تاشکند کې جوړ شوی و ، کله چې ببرک کارمل د افغانستان خلکو ته ځان د افغانستان د نوي جمهور رئیس په حیث ور وپیژاند نو زیاته یې کړه چې: »ما د افغانستان د جمهور رئیس په توګه د شوروي ورونونه غوښتي دي چې زموږ په هیواد کې دسولې او ثبات په راوستو کې موږ سره مرسته

وکړي . دوئ دغه غوښتنې ته د شوروي سرتیرو د محدودو قطعاتو په رالیږلو سره جواب ویلی دی» .
د جدي شپږمې نیټې تیري کې ، چې ببرک کارمل پکې سیاسي قدرت ته ورسید ، د کارمل پیروانو مستقیم لاس درلود او د شوروي یرغلګرو قطعاتو په وړاندې یې منډې وهلې او ورته یې ښودل چې کوم ځایونه حساس او مهم دي او په لومړي سر کې ونیول شي . د جدي شپږمې نیټې په تور ماښام د شوروي یرغلګرو ځواکونو تیري ټول افغانان او په خاص ډول د حفیظ الله آمین د رژیم دولتي او ګوندي کادرونه په ویر او ماتم کې کښینول او د هر ډول خطر سره یې مخامخ کړل. خو د ببرک کارمل پیروانو ، پرچمیانو ، دا توره ورځ چې پکې د افغانستان په پاکه خاوره باندې د سره استعمار د پوځونو مستقیم تیری وشود » نجات ورځ » وبلله او په نڅاګانو یې تجلیل کړه . چې هر کال همدا توره ورځ د دوئ له خوا د » نجات ورځ » په نوم لمانځل کیده . شورویانو هم په ډیر غرور سره کله یو څه ویل او کله بل څه . کله به یې ویل چې دا د دوئ انتر ناسیونالیستي دنده وه چې سرته یې ورسوله او د دې دندې په سرته رسولو کې ورته د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند »اصولي غړو » ( هدف ببرک کارمل او د تیري نور کورني عاملین اود کارمل ډله ده ) بلنه ورکړې وه . او کله به یې ویل چې د شوروي جنوبي سرحدونه په خطر کې وو او د خپلو جنوبي سرحدونو د امنیت لپاره یې دا عمل سرته ورساوه .
خو نه شورویانو او نه د کارمل ګوډاګي رژیم ،هیڅ یو هم ، ونه شول کړای افغانان او نړیوال په دې اوتو بوتو تیر باسي . لږه موده وروسته د ۱۳۵۸کال د حوت په دریمه نیټه په کابل کې افغانانو د شوروي یرغلګرو او د هغوئ د لاسپوڅو په مقابل کې خپله کرکه او کینه د ورک شئ روسانو زموږ له هیواد نه ووځئ ! کارمله ورک شه بادارانو ته د ې څه ! موږ تا نه منو ! او داسې نورو شعارونو سره د کابل په سرکونو او کوڅو کې

څرګنده کړه . په دې پاڅون کې د ګوډاګي رژیم د عمالونه پرته بې له توپیره ټول افغانانو برخه اخستې وه .
کله چې شورویانو ولیدل چې د دوئ په مقابل کې د افغانانو مقاومت ورځ په ورځ زیاتیږي او د ازادۍ نړۍ ټول هیوادونه او حتی ځینې سوسیالیستي هیوادونه او ګوندونه ، چې دوئ پرې حساب کاوه ، هم پر افغانستان باندې د دوئ د تیري سره مخالف دي او نړیواله ټولنه یې ددې تیري په خاطر محکوموي او غندي ، نو د دغه جنایت د پټولو لپاره بیا دروغ وایي چې ګنې پخواني حکومت دعوت کړي دي او پر افغانستان یې تیری نه دی کړی. په دې توګه د یو دروغو پټولو لپاره سل نو ر دروغه وایي خو دا » اوبه له ورخ نه تیرې شوې دي » او خلک پرې باور نه کوي.
د جدي د شپږمې نیټې تیری ، چې د افغاني تراژیدۍ توره شپه ترې پیل شوه ، په افغانستان کې د یوې سیاسي خلا منځ ته راوړل و . شورویانو داسې څوک رامخته کړل چې په افغاني ټولنه کې یې ځای نه درلود او یو منفور سړی و . ببرک کارمل لا له پخوا نه د کمونست او د شوروي د اجنټ په حیث شهرت درلود . په افغانانو باندې د داسې سړي منل چې د پردیو اجنټ وي ناممکن کار دی . شورویانو خو دی د دې لپاره قدرت ته ورساوه چې هر څه ورته هغوئ وایي هغه وکړي او تل په روسانو تکیه ولري.
د یو مرکزي حکومت، چې د ټولو یا اکثریت د تائید ور وي په نشتوالي سره په افغانستان کې سیاسي خلا رامنځته شوه ، بې ثباتي او د مرکز نه نه اطاعت ورځ په ورځ زیات شو ، چې په نتیجه کې د یو بهرني نیواکګر ځواک او د هغه پواسطه په افغانستان کې منځ ته راغلي ګوډاګي حکومت په مقابل کې په ټول افغانستان کې سر تر سري ملي قیام منځ ته راغی.

د دې سره سم نورو بهرنیو هیوادونو هم د شوروي یرغلګروځواکونو په مقابل کې د افغانستان د خلکو د مقاومت سره د مرستې لپاره میدان ته راودانګل. په دې ډول د افغانستان مساله که د ثور د وسله وال پاڅون نه د جدي د شپږمې نیټې پورې یوه کورنۍ مساله ګڼل کیده ، د جدي د شپږمې نیټې نه وروسته یوه نړیواله مساله شوه. مخکې که د حکومت او کورنیو مخالفینو تر منځ جګړه وه ، نو د جدي د شپږمې نیټې نه وروسته د افغانستان خلک د یو بهرني یرغلګر پوځ سره چې د دوئ پر هیواد یې تیری کړی و مخامخ شول. که مخکې د نړۍ نورو هیوادونو د افغانستان مساله یوه کورنۍ مساله ګڼله ، نو د شوروي پوځ پواسطه د افغانستان اشغال نوره کورنۍ مساله نه ګڼل کیده او د اشغالګر پوځ په مقابل کې نړیوالو د افغانستان د خلکو سره مرسته خپله دنده بلله.
په دې ډول د افغانستان کورنۍ مسألې نړیوال خصلت غوره کړ. افغانستان نور نه یوائې د شورویانو او افغانانو ترمنځ د جنګ ډګر و ، بلکې د نړیوالو او سیمه ایزوتضادونو د ټکر ډګر هم وګرځید. افغانان نه یوائې د خپلې خپلواکۍ لپاره و جنګیدل ، بلکې په نړۍ کې د شوروي ضد ځواکونو د پلانونو .چې شوروي کمزوری او له پښو وغورځوي ، د جګړو د سر تیرو په حیث وظیفه سرته ورسوله. چې په همدې ډول یې نه یوائې ځان د شورویانو د تسلط نه خلاص کړ ، بلکې د سیمې هیوادونه یې د دوئ له ګواښ نه وژغورل او د افغانانو د دې سرښندنو له برکته په اسیا او اروپا کې ګڼ شمیر هیوادونو د شوروي د ټوټې ټوټې کیدلو له امله خپل استقلال او ملي حاکمیت تر لاسه کړ. که افغانستان په کنډوالو بدل شو او په میلیونونو افغانان له منځه ولاړل دا نه یوائې د ځان لپاره وو ، بلکې د سیمې او نړۍ لپاره هم وو.
نو ځکه او س نه ښایي چې افغانستان د نړۍ د پام نه وغورځیږي. همدارنګه به د اخلاقي پلوه ټولو نړیوالو او په خاص ډول د هغو

هیوادونو لپاره سمه نه وي، کله چې افغانان د دوئ د اهدافو لپاره جنګیدل مرستې یې ورسره کولې او کله یې چې اهداف تر سره شول ، نو ځانله یې پریږدي چې د جنګ په اور کې تل تر تله وسوزیږي او هرڅه یې د نابودۍ د خطر سره مخامخ شي .
اوس به دې ته راشو چې که شورویانو پر افغانستان تیری نه وای کړی آیا د ا هیواد به بیا هم د دې تراژیدۍ سره مخامخ شوی وای ؟ د **۱۳۵۸**کال د جدي د شپږمې نیټې د شورویانو د تیري نه مخکې د هغه وخت حکومت د جرګو او روغې جوړې لار خپله کړه . په کونړ کې چې د حکومت مخالفینو لومړ ی تر هربل ځای د حکومت پر ضد وسله وال غبرګون ښود دجرګو مرکو پروسه روانه شوه . څو جرګې د کونړ د سپین ګیرو او قومي مشرانو نه جوړې او کونړ ته د مخالفینو سره د روغې جوړې لپاره ولیږل شوې. د سلیمي په نوم د ساپو د قام یو مشر چې د **۱۳۲۴**کال د حکومت پر ضد د ساپو د جنګ مشر هم و له مزار شریف نه د جرګې لپاره را وغوښتل شو او کونړ ته د نورو سپین ګیرو او مشرانو سره یو ځای ولیږل شو . دا جرګه ډیره مؤثره وه او نژدې و چې په کونړ کې روغه جوړه منځ ته راشي. د حکومت باصلاحیته استازی هم د روغې جوړې لپاره کونړ ته روان و. که شورویانو تیری نه وای کړی نو کونړ کې سوله ټینګیدله .
په دې ډول بامیانو او بدخشان ته ، چې هلته هم څه مخالفتونه موجود وو ، د روغې جوړې د جرګو بندوبست کیده او هلته هم سوله ثبات منځته راتلل ، چې د شورویانو د تیري په اساس د روغې جوړې د ا ټولې هلې ځلې په سیند لاهو شوې.
همدارنګه د جدي د شپږمې نیټې د شورویانو یرغل نه مخکې ، د افغانستان حکومت غوښتل د پاکستان سره خپل اړیکي ښه کړي او په دې توګه هم په پاکستان کې د مهاجرو افغانانو سره روغه جوړه وکړي او هم د دې لارې نه د غربي هیوادونو سره خپل اړیکي نورمال او دوستانه

کړي. د همدې مقصد لپاره د پاکستان د هغه وخت د خارجه چارو وزیر آغا شاهي د جدي پر ۸ نیټه باید کابل ته راغلی وای او د دواړو هیوادونو تر منځ د دوستانه اړیکو په ټینګیدو یې دافغاني مقاماتو سره خبرې اترې کړې وای او د دواړو هیوادونو د مشرانو د ملاقات او د دوستۍ د تړون لاسلیک لپاره یوه مسوده جوړه شوي وای.

خو کله چې شورویان د خپلو اجنټانو پواسطه د حفیظ الله آمین د حکومت د دې پلانونو نه خبر شول ، نو یې د هغو توطیو ا و کودتاګانو ، چې د دې حکومت د رانسکورولو لپاره جوړولې سربیره په مستقیم ډول نظامي له شرمه ډک تیري ته ملا وتړله او ټولې نړۍ ته یې مخ تور شو . د شورویانو د دې خاینانه عمل پواسطه په افغانستان کې د روغې جوړې ټولې هلې ځلې ، چې د بریالیتوب درشل ته رسیدلې وې ناکامې شوې او د افغانانو د تراژیدۍ توره شپه له همدې ځای نه پیل شوه چې لا تر اوسه د سولې د سبا راتلو ته باید ډیرې ستونزې وګالل شي او اوږده لار ووهل شي.

---

*- دا لیکنه د ۱۳۷۳کال د جدي په ۱۰ نیټه په پیښور کې د ارمان په جریده کې خپره شویده.

## په افغانستان کې: اوسنی وضعه څرنګه منځ ته راغله ؟ *

د جدي د میاشتې شپږمه نیټه زموږ د ګران هیواد افغانستان د خلکو لپاره یوه توره د ستونزو ، دردونو او کړاوونو ډکه ورځ ده .دغه ورځ په حقه د شلمې پیړۍ د ناتار او فاجعې په نوم یاده شوې ده . د نن څخه پوره **۱۵** کاله د مخه د **۱۳۵۸** کال د جدي میاشتې په شپږمه نیټه زموږ د ازاد ، خپلواک او ناپییلي هیواد پر سپیڅلې خاوره باندې د پخواني شوروي اتحادنیواکګرو لښکر و د ټولو نړیوالو منل شوو نورمونو پر خلاف له خیانت څخه ډک وسله وال تیری وکړ . د روسانو د دغه تیري او یرغل له امله زموږ هیواد او خلکو ته خورا زیات او نه جبیره کیدونکي مادي او معنوي زیانونه ورسیدل.

پر افغانستان باندې د روسانو دتیري او یرغل هدف دا و ، چې هغه تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي او د تل لپاره یې د خپلې شوروي امپراطورۍ یوه برخه وګرځوي . خو روسانو ته داحقیقت هم خورا ښه څرګند و چې په ازادۍ او خپلواکۍ مین افغانان د مریتوب او د پردیو لاس لاندې ژوند څخه مرګ ډیر ښه بولي او د ښکیلاکګرو او نیواکګرو پر ضد جګړه د افغانانو په ملي دود او کرکتر بدله شویده . نو په دې دلیل دوئ افغانانو باندې په غیر مستقیمه توګه د یولاسپوځي رژیم پواسطه د واکمنۍ او حکومت کولو په لټه کې شول. هم روسانو او هم پخپله هغې رژیم چې ددوئ پواسطه په افغانانو تپل شوی و خورا زیاتې هلې ځلې او هڅې وکړې چې نوموړي رژیم ته افغاني ملي هویت ورکړي او د افغانستان د زیارکښو پرګنو د ګټو ساتندوی او مدافع یې معرفي کړي . خو لمر په دوو ګوتو پټیدلای نه شي افغانانو ډیر ژر د دې رژیم اصلي ماهیت درک کړ او ورته په ډاګه شوه چې هغه بې د روسانو د ګوډاګي او تالي څټي ځنې بل څوک نه دی. نو په دې سبب افغانان په ټول هیواد کې د

روسانو او د هغوئ د لاسپوڅي رژیم پرضد را و پاریدل او په بې سارو سختو او بې امانه جګړو یې پیل وکړ.
همدا ډول پر افغانستان باندې د روسانو تیري نه یوازې د دوئ پر ضد د کرکې ، غوسې او مقاومت او غچ اخستنې جګړو توپاني څپې په غورځنګونو راوستلې ، بلکې د نړیوالې ټولنې او په تیره بیا اسلامي او د ازادې نړۍ د هیوادونو د خلکو د خواشینۍ ، کرکې او غوسې د اور لمبې هم اوچتې شوې . د نړۍ زیاتو هیوادونو پر ازاد ، خپلواک ،ناپییلي ، سوله غوښتونکي او د ملګرو ملتونو د سازمان وفادار غړي هیواد افغانستان باندې د روسانو یرغل سخت وغندلو . د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې پریکړه وکړه چې باید روسي نیواکګرې لښکرې ډیر ژر له افغانستان نه ووځي ، افغاني کډوال دې په درناوي سره بیرته خپل هیواد ته راستانه کړل شي او د افغانستان د سیاسي واکمنۍ او قدرت مسئله په جګړه کې د ټولو ښکیلو اړخونو تر منځ د خبرو اترو او دیالوګ له لارې اواره او حل کړل شي. د ملګرو ملتو نو عمومي اسامبلې او د امنیت شورا دا پریکړه هم وکړه چې ملګري ملتونه دې د افغاني کډوالو او مهاجرینو سره چې شمیر یې یوازې په پاکستان او ایران کې نژدې پنځو میلیونو کسانو ته رسیده انساني مرستې پیل کړي.
د نړۍ ډیرو هیوادونو د افغانستان د مقاومت له غورځنګ سره چې د روسي نیواکګرو او دهغوئ د لاسپوڅي رژیم پر ضد یې د جګړې او مبارزې جنډه اوچته کړې وه زیاتې مادي او معنوي مرستې پیل کړې . د افغانانو د سربښندنو او بې دریغه جګړو، د نړیوالې ټولنې او دوستو او سوله غوښتونکو هیوادونو د زیاتو او سخاوتمندانه مادي او معنوي مرستو په نتیجه کې نه یوازې روسي لښکرې له افغانستان نه وتلو ته اړ شوې بلکې د شوروي اتحاد نوم ، د روس ستره امپراطوري او همدارنګه د هغې نړیوال نظام د سوسیالیستي کمپ په نوم هم دړې وړې شول . په

افغانستان کې د روسي لښکرو ماتې او له دې هیواد ځنې د هغوئ وتلو ته اړ ایستل او په همدې ډول د روسي امپراطورۍ دړې وړې کیدل ټول هغه عوامل دي چې په نړیواله سطحه یې د افغانانو او د دوئ د مقاومت د جګړو اعتبار او پرستیژ ډیر اوچت کړ. له افغانستان څخه د روسې د لښکرو له وتلو وروسته د ټولو افغانانو او د دوئ د دوستانو دا هیلې په غوړیدو شوې چې ګوندې د ملګرو ملتونو د هلو ځلو په نتیجه کې به په دغه جګړو ځپلي او په کنډواله بدل شوي هیواد کې سوله او سیاسي ثبات منځته راشي او د جګړې د ویجاړو ونکي او سوزوونکي اور لمبې د تل لپاره مړې شي. د افغانستان د مسألې د سیاسي حل لپاره د ملګرو ملتونو د پلان اساسي ټکی دا و ، چې په جګړه کې د ټولو ښکیلو اړخونو او افغاني سیاسي ګوندونو ، سازمانونو ، ملي او قومي شخصیتونو په ګډون یو داسې پراخ بنسټه مؤقتي حکومت جوړ شي چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي او وکولای شي چې په هیواد کې سوله او سیاسي ثبات منځ ته راوړي او په نژدې راتلونکې کې د یوه انتخابي حکومت منځته راتګ ته لاره اواره کړي.

خو له بده مرغه نوموړی پلان د عمل په ډګر کې پلی نه شو او ځینو معلوم الحاله کړیو د هغه پر ضد توطئه وکړه او د ناکامۍ سره یې مخامخ کړ. په همدې وخت کې د هیواد په شمالي ولایتونو کې د جنرال عبدالرشید دوستم اوزبک ملیشو ، چې د نجیب الله د دولتي پوځونو یوه برخه وه ، د نوموړي د حکومت پر ضد د نورو سیاسي ډلو سره یوځای د شمال د غورځنګ په نوم په وسله واله جګړه پیل وکړ. د شمال په غورځنګ کې د عبدالرشید دوستم او سید منصور نادري پر ملیشاو سر بیره د عبدالعلي مزاري په مشرۍ د هزاره ګانو د وحدت ګوند ، د احمد شاه مسعود په مشرۍ د نظار شورا او جمعیت تنظیم او همدارنګه د اسلامي حزب او نورو تنظیمونو یوشمیر قوماندانان هم شامل وو. د شمال غورځنګ د

هیواد په شمالي ولایتونو کې د نجیب الله د حکومت د راپرځولو وروسته خپل یو شمیر وسله وال ځواکونه د احمد شاه مسعود تر قوماندانۍ لاندې د هیواد پلازمینې د نیولو لپاره د کابل په لور وخوځول او په لنډ وخت کې چاریکارو ته راورسیدل. همدا ډول په دې مهال کې د نجیب الله دولتي واکمني په کابل کې هم پای ته ورسول شوه او د وطن ګوند سیاسي بیورو د هیواد د چارو واګې په لاس کې ونیولې. سیاسي بیورو سر بیره پر دې چې مجاهدینو ته یې د دولتي واکمنۍ د ژر لیږد لپاره خپله تیاري څرګنده کړه ، دا پریکړه هم وکړه ، چې ټول دولتي پوځي جزوتامونه دې خپلې جنګي وسیلې او مهمات او همدارنګه خپل ځایونه او ځانونه د نظار شورا او جمعیت قوماندانانو ته وسپاري او د ګلبدین حکمتیار اسلامي حزب قوماندانانو ته دې د پورته یادو شووشیانو له ورکولو نه کلکه ډډه وشي . او که په کوم ځای کې د جمعیت تنظیم قوماندانان موجود نه وي ، نو بیا دې نوموړي شیان د تنظیمونو ګډې شورا او یا یو کوچني او کمزوري تنظیم ته ورکړل شي. په همدغه وخت کې د تنظیمونو مشران د پاکستان ، سعودي عربستان ا و یو شمیر نورو هیوادونو د استازو په ګډون په پیښور کې سره جرګه شول او د دولتي واکمنۍ د تر لاسه کولو موضوع تر څیړنې او غور لاندې ونیوله . په دې جرګه کې پریکړه وشوه چې مجاهدینو ته د دولتي واکمنۍ له لیږدیدو وروسته ، لومړی صبغت الله مجددي د دوو میاشتو لپاره او ورپسې برهان الدین رباني د څلورو میاشتو لپاره د افغانستان د جمهورو رئیسانو په توګه خپلې دندې ترسره کړي. کله چې د برهان الدین رباني د جمهوري ریاست دوره پای ته ورسیږي نو بایدبیا قیادي شورا ، چې د تنظیمونو د مشرانو څخه جوړه ده ، غونډه وکړي او نوی جمهور رئیس وټاکي.

د چور ، تالا ، مرګ ژوبلې او ورانۍ څخه د کابل ښار او د هغه د اوسیدونکو د خوندي ساتلو په خاطر داسې په نظر کې وو چې تر څو په

کابل کې د مجاهدینو حکومت جوړ شوی نه وي او د ښار د خوندي ساتلو لپاره امنیتي ځواک منځته راغلی نه وي ، تر هغې پورې باید د جهادي تنظیمونو وسله وال ځواکونه پرې نه ښودل شي چې ښار ته راننوځي . خو له بده مرغه مخکې له دې چې صبغت الله مجددي د دولتي واکمنۍ د ترلاسه کولو لپاره کابل ته راورسیږي ، د قوماندان احمد شاه مسعود ځواکونه د متحدینو د یو شمیر وسله والو ځوکونو سره یو ځای د کابل ښار ته راننوتل . د ملي دفاع او دولتي امنیت وزارتونه ، د کابل ښار نور مهم پوځي – ستراتیژیک ځایونه ، زیات شمیر دولتي مؤسسې او ښاري ناحیې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې . ربښتیا خبره دا ده چې دولتي واکمني د احمد شاه مسعود لاس ته ورغله . کابل ته د صبغت الله مجددي د راتګ په درشل کې د شمال غورځنګ نورو غړو او همدا ډول د نورو تنظیمونو وسله والو ځواکونو ښار ته په راننوتلو پیل وکړ او پاتې پوځي جزوتامونه ، پوځي وسیلې ، واسطې او مهمات او دولتي مؤسسې او ځایونه او نورې شتمنۍ یې د غنیمت په توګه سره چور او تالاکړې . خو باید یادونه وشي چې د شمال غورځنګ ، په تیره بیا ، د احمدشاه مسعود د نظار شورا او د عبدالرشید دوستم وسله والو ځواکونو په ګډه د اسلامي حزب وسله وال ځواکونه د کابل ښار دننه د دولتي ځایونو او مؤسسونیولو ته پرې نه ښودل او د یوې خورا سختې او ویجاړونکې جګړې په ترخ کې یې له کابل ښار نه باندې وتلو ته اړ کړل.

په عمومي توګه ویلای شو چې د کابل ښار او د هغه نژدې شمالي او لویدیزې برخې د شمال غورځنګ د تنظیمونو او د اتحاد اسلامي د تنظیم په ولکه کې ولویدلې . د ښار مرکزي ، شمالي او شمال لویدیزې برخې د احمدشاه مسعود د نظار شورا او جمعیت تنظیم په لاس کې کیوتلې . د ښار د لویدزې خوا زیاته برخه او همدا ډول د پغمان ولسوالي د اتحاد اسلامي تنظیم ونیوله . جمال مینه ، کابل پوهنتون ، میرویس میدان ،

سیلو ،پولي تخنیک ، افشار ، دشت برچي او ځینې نور ځایونه د عبدالعلي مزاري او محسني په مشرۍ د هزاره ګانو د وحدت او حرکت اسلامي ګوندونو په برخه شول. د مرنجان غونډۍ ، زمان خان کلا ، زاړه مکروریان ، بالا حصار ، شاه شهید ، د نوې کارتې یوه برخه ، د بي بي مهرو غونډۍ او همدارنګه د خواجه رواش هوایي ډګر د عبدالرشید دوستم د ملیشاوو لاسته ورغلل.
باید وویل شي چې د غنیمتونو د تر لاسه کولو په دغه اخ او ډب او مسابقه کې نورو تنظیمونو دومره زیات څه تر لاسه نه کړل. د اسلامي حزب وسله وال ځواکونه خو په ښار کې دننه فعالیت ته پرې نه ښودل شول ، د باندې و ایستل شول او خپل سوق الجیش او قرارګاه یې د چهار اسیاب ولسوالۍ ته ولیږدوله. د اسلامي حزب تنظیم یوازې د کابل ښار د باندې جنوبي او ختیزې برخې په خپله قبضه کې ونیولې. په دې توګه د کابل ښار او د هغه شاوخوا د جهادي تنظیمونو تر منځ وویشله شوه او ټول دولتي او د عامه ملکیت منقول او غیر منقول مالونه او شتمنۍ د غنیمت په نوم چور او تالا شوې.
کله چې صبغت الله مجددي په کابل کې د جمهور رئیس په توګه د چارو واګې په لاس کې واخیستې ، نو احمد شاه مسعود یې په رسمي توګه د دفاع د وزیر په توګه وټاکه. د احمدشاه مسعود د دفاع وزارت په وسله والو ځواکونو کې د نظار شورا او جمعیت تنظیم وسله وال ځواکونه ، د پخواني رژیم د کابل ګارنیزیون ، دولتي امنیت وسله وال ځواکونه او د اتحاد اسلامي ځینې قطعات ، د منصور نادري او عبدالرشید دوستم ملیشا شامل وو.
کومې جګړې چې د کابل په ښار کې د مجاهدینو د وسله والو ځواکونو تر منځ وشوې زیاتره د احمدشاه مسعود د دفاع وزارت د پوځي ځواکونو او د اسلامي ګوند د وسله والو ځواکونو تر منځ پیښې شویدي. خو د

اتحاد اسلامي تنظيم او هزاره ګانو د وحدت ګوند تر منځ هم زياتې نښتې شويدي . په همدې ډول د دولتي يا ملي دفاع وزارت او وحدت ګوند د وسله والو ځواکونو تر منځ هم خونړۍ جګړې او نښتې منځ ته راغلې دي. د دغو جګړو عمده هدفونه دا وو چې يا دوئ يو او بل له منځه يوسي او سياسي واکمني تر لاسه کړي او يا قومي ، ژبني او مذهبي تعصبونو او بې اتفاقيو ته لمن ووهي . د دولتي ځواکونو او ګلبدين حکمتيار ځواکونو تر منځ جګړې زياتره د دولتي واکمنۍ او قدرت په سر باندې منځ ته راغلي دي. په داسې حال کې چې د وحدت ګوند او اتحاد اسلامي تنظيم تر منځ جګړې د قومي ، ژبني او مذهبي تعصبونو ته د لمن وهلو له امله پيښې شوې دي ،
په دې جګړو کې له هر راز درنو وسلو څخه لکه توپونه ، هاوانونه ، هر راز راکيټونه او هوايي بمباريو نه کار اخستل شوی دی . دغه ورانوونکې جګړې زياتره د ښار دننه د خلکو څخه په ډکو سيمو کې پيښې شوې دي. چې خورا زيات ملکي او بيګناه کسان پکې وژل شوي ، معيوب شوي او کورونه او نورې شتمنۍ يې له منځه تللې دي. د دې جګړو له امله د کابل ښکلی ښار په يوه مخروبه او کنډواله بدل شوی دی.
که څه هم د هيواد په ولايتونو کې د کابل په پرتله جګړې او شخړې دومره زياتې نه دي ، خو د دې سره سره هلته هم حالات پوره خراب او کړکيچن دي . د هيواد شمالي ولايتونه د پدخشان او تخار څخه پرته ، نور زياتره د عبدالرشيد دوستم د مليشاو په لاس کې دی. د بدخشان ولايت د جمعيت د ځواکونو او د تخار ولايت او د کندز ولايت ځينې برخې د احمد شاه مسعود د نظار شورا په لاس کې دي . هرات ، بادغيس او غورات د جمعيت تنظيم د قوماندان اسماعيل خان په ولکه کې دي. په کندهار کې د تنظيمونو ګډه شورا واکمنه وه ، خو اوس دولتي واک د طالبانو په لاس کې دی. دغزني په ولايت کې قاري بابا واکمني کوي ، چې د دولت سره

هم ښې اړیکې لري . د پکتیا او خوست په ولایتونو کې د تنظیمونو شوراګانې د چارو واګې په لاس کې لري ، خو والیان یې د دولت له خوا ټاکل شوي دي. د ننګرهار په ولایت کې د چارو واګې د تنظیمونو د شورا په لاس کې دي. خو د ننګرهار والي حاجي عبدالقدیر د مولوي خالص د تنظیم قوماندان هلته زیات د نفوذ خاوند دی. د کنړ د ولایت د چارو واګې د سلفیانو په لاس کې دي . د لغمان ولایت د چارو واګې د حزب اسلامي او د پروان ولایت د چارو واګې د احمد شاه مسعود د نظار شورا په قبضه کې دي . د هیواد په مرکزي برخه بامیانو کې د هزاره ګانو د وحدت ګوند واکمن دی او په ارزګان کې د هغه سیمې قومي کسان حکومت کوي. په عمومي توګه ویل کیدای شي چې په هیواد کې واحد مرکزي حکومت ، واحد زعامت او رهبري وجود نه لري ، د ولایتونو او مرکز تر منځ اړیکي شلیدلي دي او د ځینو مواردو پرته د ولایتونو ترمنځ هم اړیکي پرې شوي دي.

لنډه دا چې په ټول هیواد کې د تمدن نښې او اثار د بشپړې نابودۍ په درشل کې دي . هیواد د فرش شوو ماینونو ځنې تر خولې پورې ډک دی ، چې د ډیرو خلکو ژوندیې د خطر او ګواښ سره مخامخ کړی دی . د تنظیمونو د مشرانو د شخصي ګټو او سیاسي واکمنۍ او قدرت غوښتنې او همدارنګه د بهرنیو ، په خاص ډول د ګاونډیو هیوادونو د لاسوهنې ، د واحد مشرتابه او واحد مرکز نشتوالي له کبله هیواد د ورانوونکې او تباه کوونکې کورنۍ جګړې په اور کې سوزي. که د جګړې دغه سوزونکی او سرکښ اور مهار نه شي ، نه به افغان پاتې شي نه به افغانستان. له دې امله د هر افغان ملي او اسلامي دنده ده چې د بربادۍ او نابودۍ ځنې د خپل هیواد دژغورلو په خاطر د هیڅ ډول هڅو او هلو ځلو نه ځان و نه سپموي .

په دې لارکې مؤثر او اغیزمن ګام هغه وخت پورته کیدای شي ، چې ټول ملي هیواد پال او د سولې او دموکراسۍ پلوي ځواکونه په یوې پراخه د سولې او ملي یووالي جبهې کې سره راغونډ شي او د افغانستان د مسألې د سیاسي اواري او د ملګرو ملتونو د پلان د عملي کیدو لپاره هر اړخیزه او نه ستړې کیدونکې مبارزه وکړي او یو ملي اسلامي مرکزي حکومت ، چې د ټولو افغانانو ملاتړ ورسره وي ، منځته راوړي.

*- دا لیکنه د ۱۳۷۳ کال د جدي په ۱۰ نیټه د آرمان د جریدې په ۳ ګڼه کې خپره شویده.

# ځرنګه افغانستان ؟ *

د افغانانو ټاټوبی پنځه زره کلن تاریخ لري او ډیرې تودې سړې او لوړې او ژورې یې لیدلي دي . خو هیڅکله به د دومره ستر او اوږد ناتار او تورتم سره نه و مخامخ شوی ، په کلونو کلونو یې رڼا په سترګو ونه لیدله او لا هم هیڅوک نه پوهیږي چې څه به کیږي او څه وخت به پکې د نیکرغۍ د لمر وړانګې ، چې د ې ځپل شوي او خاوروسره یو شوي ولس ته بیا ژوند وبښي ، وځلیږي او د سولې کوتره پکې په غورځیدو او نڅا شي . په افغانستان کې لوړو ژورو تل د سیمې او نړۍ پر هیوادونو تل خپل تاثیر اچولې ، له خوښیو او بریاوو نه یې د سیمې خلک خوښ او بریمن شوي او له کړاوونو نه یې د ګاونډ اوسیمې خلکو ستونزې او کړاوونه لیدلي دي.

که دا پنځلس کاله افغانستان د جنګ په اور کې سوزي او سوله او ثبات پکې له منځه تللی دی ، نو په ګاونډیو هیوادونو او سیمه کې هم تر ډیرې اندازې د نیکمرغۍ دا پرښته ناروغه او کمزورې شویده . بې ثباتي زیاته شوې او دهیوادونو او قومونو تر منځ د جنګونو اور وار په وار بلیږي او کله خو یې لمبې تر اسمانه هم رسیږي . په خاص ډول هغه هیوادونه خو هیڅ خوندي نه دي پاتې شوي ، او پاتې به نه شي ، چې د افغانانو جونګړې ته یې اور اچولی او یا یې دې اور ته لمن وهلې ده .

شوروي ، چې زمونږ دې سپیڅلې خاورې ته په خیرنو سترګو وکتل اودجګړو اور یې پکې بل کړ ، دومره سپک او بې وزله شو ، چې نه یوازې ستر پاتې نه شو . بلکې ټوټې ټوټې او لتاړ شو ، امپراطوري یې له منځه ولاړه او نژدې ده چې روسیه هم دړې وړې شي . د افغانانو د تراژیدۍ اغیز ټولې نړۍ ته رسیدلی دی او که دې تراژیدۍ ته د پای ټکی نه ایښودل کیږي ، نو ټوله نړۍ او په خاص ډول ګاونډي اود سیمې هیوادونه به هرو

مرو ددې زهرو مزه څکي او بيا به وخت تير وي . دا چې د نړۍ په ډيرو هيوادونو کې سوله او ثبات کمزورې شوې ، د مخدره موادو استعمال او قاچاق ډير شوی او تروريزم لوړ پړاو ته رسيدلی دی ، د افغاني تراژيدۍ هغه پاتې شونې دي . چې د دې ناروغه وجود نه يې د مرض په ډول نورو ته سرايت کړی او کوي يې.

ښه به دا وي چې ټوله نړۍ نور د افغانانو په دې ناسور ټپ پټۍ کيږدي او مالګه پرې ونه دوړوي او پر دې بده ورځ يې خوشاله نه شي. اوس چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو خاص استازی ، محمود مستيري خپلې هلې ځلې بيا پيل کړيدي چې زموږ په هيواد کې سوله او ثبات منځ ته راشي ، دټولو افغانانو او په خاص ډول د هغو ډلو دنده ده چې د دې فرصت نه په ګټې اخستو سره د خپلوټولوهغو عملونو چې وطن يې د نابودۍ دکندې پولې ته رسولی دی يو څه جبيره وکړي. دا خو په جنګ کې ټولې دا ښکيلې ډلې دي چې زمونږ په هيواد کې يې سوله او ثبات له منځه وړی دی ، که چيرته دوئ جنګونه ونه کړي سوله پخپله ټينګه ده.

دا خو همدا افغانان دی چې د يوبل سره جنګونه کوي او افغانستان يې دې حالت ته رسولی دی. که دوئ د خپلو ګټو لپاره جنګيږي او يا د نورو په لمسه د پرديو ګټولپاره جنګيږي ، خو همدوئ دي چې جنګيږي او افغان ملت ته د جنګ لومړني مسؤلين دي . همدارنګه هغه بهرني هيوادونه چې په افغانستان کې د جنګ اور ته لمن وهي او دخپلو غرضونو له مخې نه غواړي زموږ په هيواد کې سوله او ثبات منځ ته راشي ، هم د جنګ په اوږديدو کې او زموږ د وطن په ورانيدو کې زموږ کړيدلی او ربړيدلي ولس ته مسؤول دي او يوه ورځ نه يوه ورځ به د خپلو دې ګناهونو کفاره ورکوي.

ملګري ملتونه اودنړۍ نور هيوادونه ،چې ځانونه د افغانانو خواخوږي بولي ، کولای شي دټولو سوله غوښتونکو افغانانوسره يوځای په دې

جنګ ځپلي هیوادکې د سولې په راوستو کې مرسته وکړي. په جنګ کې ښکیل اړخونه قانع کړي چې نور خپل هیواد وال ونه وژني اوخپل وطن وران نه کړي . هغه څوک چې سوله نه غواړي او کله په یوه بهانه او کله په بله بهانه د جنګ د اوږدېدو لپاره هلې ځلې کوي ، نه یوا ځې باید زموږ د کړېدلو وطنوالو د مقاومت سره مخامخ شي ، بلکې ملګري ملتونه او نور د دموکراسۍ او سولې پلویان هیوادونه زموږ په هیواد کې د سولې په دفاع کې ودرېږي او له جنګ غوښتونکو سره مخالفت وکړي او د سولې د یو ځواکمن غورځنګ په منځ ته راتګ او د جنګونو په مخنیوي کې د افغانستان د جنګ ځپلو خلکو سره مرسته وکړي .

اوس افغانستان نه یوا ځې پخپله په اور کې سوزي ، بلکې د سیمې او نړۍ د هیوادونو لپاره د بې ثباتۍ ، مخدره موادواستعمال او قاچاق او تروریزم په منبع بدل شوی دی ، چې ژر وي او که لږ وروسته د ملګرو ملتونو او ټولو هیوادونو لپاره داسې ناخوالې رامنځته کیدای شي چې بیا به له هر چا نه لار ورکه وي . که اوسنۍ وضعه په افغانستان کې همداسې دوام مومي اویا یې بحران لاپسې ژورېږي او ډیرېږي ، نو د داسې چاودنې امکان هم شته چې د سیمې او نړۍ ثبات د ستر ګواښ سره مخامخ کړي.

نو افغانستان باید څرنګه وي ؟ څرنګه افغانستان کیدای شي دټولو په ګټه وي ؟ یوا ځې هغه افغانستان چې د افغانانو لپاره وي کیدای شي هم د افغانانو ، هم د ګاونډیانو اوهم د سیمې اونړۍ لپاره ګټور ثابت شي . ملګري ملتونه باید هلې ځلې وکړي چې په افغانستان کې داسې یو حکومت منځته راشي ، چې د ټولو خلکو ملاتړ ورسره وي . د افغانانو له خوا جوړ او د افغانانولپاره کار وکړي. یوا ځې همداسې افغان حکومت کولای شي په افغانستان کې سوله اوثبات ټینګ کړي او د بشر د حقوقو په کلک رعایت سره د ټولو ټولنیزو فسادونو اوپه خاص ډول د مخدره

موادو د قاچاق او استعمال او  تروریزم جرړې وکاږي ، د نړۍ د ټولو هیوادونو او په سرکې د ګاونډیو اواسلامي هیوادونو سره دوستانه اړیکې ټینګې کړي.

*- دالیکنه د ۱۳۷۳ کال د جدي په ۲۰ نیټه د ارمان د جریدې په ۴ ګڼه کې خپره شوې ده.

# افغانستان: د افغانانو نه ټوټې کيدونکی ګډ کور *

زموږ لرغونی ټاټوبی د پنځه زره کلونو نه زيات د لوړو ژورو سره يوځای داسې اوږد تاريخ لري چې پکې بې شميره خوښيو او غمونو ، سوکاليو او تنګسو ، پرمختګونو او په شا تللو ځان وخت په وخت راڅرګند کړی دی ډير ځله د پرديو يرغلونو او تاړاکونو سره مخامخ شوی او هم يې ډير شمير فاتحان د تورې ، پوهې او قلم خاوندان په خپلې غيږې کې روزلي دي ، چې نه يواځې افغانانو ، بلکې سيمې او نړۍ ته د سترو خدمتونو مصدر ګرځيدلي دي.

دلته مختلف قومونه ميشت دي او د ورونو په شان ژوند کوي او خپل هيواد ورته د مور حيثيت لري. پښتون وي که تاجک ، هزاره وي که ترکمن يا ازبک ، بلوڅ وي که پشه يي وي يا نورستاني او يا نور ، ټولو ته افغان وايي او افغانيت ورته دخپل قوميت نه لوړ دی. دوئ لومړی ځان ته افغان وايي او بيا پښتو ن ، تاجک ، هزاره ، ازبک او نورو قومونو پورې ځان تړي.

د دې ټاټوبي په جوړولو او ابادولو باندې ټول مکلف دي ، خو د ورانولو حق يې هيڅوک نه لري . د دې هيواد په هر ځای کې چې اوسيږي او په هر قوم پورې چې تړلی وي افغان دی او د افغانستان له نيکمرغۍ او بد مرغۍ نيکمرغه او بد مرغه کيږي . نو ځکه هيڅ قوم يا ډلې ته نه ښايي چې ځان د دې هيواد يوازينی واکدار او برخه ټاکونکی وګڼي .

ټول افغانان حق لري چې د خپل هيواد په سياسي برخه ليک کې کارنده ونډه واخلي . په خاص ډول اوس چې زموږ د ټاټوبي شتوالی د پرديو د لاسوهنو له امله د کورنيو منځته راغلو ستونزو او اختلافونو پر بنسټ له ستر ګواښ سره مخامخ دی ، نه يواځې حق لري ، بلکې مکلفيت لري

چې له اوسنیو ستونزو نه د وتلو او خپل هیواد د ژغورلو لپاره په ټول اړوندو نړیوالو او کورنیو هلو ځلو کې فعاله برخه ولري .
د تاریخ په اوږدو کې ، کله چې زموږ هیواد له ستونزو سره مخامخ شوی دی ، افغانانو په ګډه له ستونزو نه د وتلو لپاره لاسونه یو کړي دي ، او کله چې یو شوي دي ، نه یوازې دا چې د هر ډول ستونزو نه یې ځان ژغورلی بلکې ستر بریالیتوبونه یې تر لاسه کړی دی او تاریخ یې جوړ کړی دی.
افغانان ډیر ځله د پردیو تاړاکونو او توطیو سره مخامخ شوي دي ، چې نه جبرانوونکي زیانونه یې ګاللي دي. یو له هغو تاړاکونو نه چې د افغانانو ملا یې ماته کړې او تر اوسه لا هم ځان نه شي سمولای د انګریزي استعمار تاړاک و. خو شوروي تیري کوونکو پر افغانانو داسې ناتار راوست ، چې په خپل معاصر تاریخ کې یې نه و لیدلی . نه یوازې دا چې دسترو ځاني ، مالي او معنوي قربانیو په ورکولو سره یې ټول ټولنیز بنسټونه ونړیدل ، بلکې د هغه جنګ او توطیو له امله چې له بهر نه پرې وتپل شول زموږ د هیواد موجودیت یې دستر ګواښ سره مخامخ کړی دی .
که افغانان یو نه شي او په شریکه د جنګ اور مړ نه کړي او داسې یو حکومت جوړ نه کړي چې د ټولو افغانانو ملاتړ ورسره وي ، دا توطیې کیدای شي زموږ د هیواد ځمکنۍ بشپړتیا په خطر کې واچوي. په دې کې شک نه شته تر اوسه چې کوم ناتار پر افغانستان راغلی او د هیواد ځمکنۍ بشپړتیا یې له ګواښ او خطر سره مخامخ کړې د ه د بهرنیو تیري کوونکو توطیې وې. هیڅکله رښتینو افغانانو داسې کار نه دی کړی چې په خپل لاس دې خپل وطن ټوټې ټوټې کړي او په کور کې کورګي جوړ کړي.

افغانان په یو داسې افغانستان کې اوسیږي چې د زرګونو کلونو راهیسې خپل ځانګړي حدود اوتاریخ لري. که ځینې افغانان په نورو هیوادونو کې په مؤقت ډول ژوند کوي، بیا هم ځان افغان بولي او همدا افغانستان خپل وطن او ټاټوبی ګڼي . که څوک نه غواړي چې په افغانستان کې ژوند وکړي ، نو کولای شي چې د ټولو نړیوالو منل شوو قوانیون سره سم په هر بل هیواد کې چې غواړي ژوند وکړي ، خو هیڅوک دا حق نه لري چې زموږ دا لرغونی ، له ویاړه ډک افغانستان په ټوټو وویشي. افغانستان د افغانانو ګډ کور دی او څوک چې په دې شریک کور کې ژوندکوي هغه ټول افغانان دي .

اوس چې د روژې مبارکه میاشت په تیریدو اودمسلمانانو اختر په رارسیدو دی ښایي ، چې افغانان له دې مبارکو ورځونه په ګټه اخستو سره د اسلام د مبین دین د ارشاداتوسره سم په خپلو کې سره یوشي ، موجودې ستونزې لیرې کړي او د یو پراخ بنسټه حکومت په جوړیدو سره خپل هیواد له تباهۍ نه وژغوري.

*- دا لیکنه د ۱۳۷۳ کال د حوت پر ۱۰ نیټه د ارمان جریدې په ۸ ګڼه کې په پیښور کې خپره شویده .

# په افغانستان کې د سولې پراخ بنسټه جبهه یا د سولې ضامن *

دا چې ولې د سولې لپاره هلې ځلې کومې نتیجې ته نه رسیږي ؟ دا سې یوه پوښتنه ده چې د ډیرو دردیدلو او سولې ته تږو افغانانو په زړونو کې تیریږي . خو که واقعیتونو ته ځیر شو ، نو به پخپله قانع شو ، چې د سولې پلوي ځواکونه لا تر اوسه تیت او پرک اوتر ټولو مهمه خبره داده چې منظم او متحد عمل نه کوي .
ددې لپاره چې په افغانستان کې یوه رښتینې سوله ټینګه شي ، باید تر هر څه لومړی د سولې د یوې پراخ بنسټه جبهې لپاره ، چې پکې ټول سوله غوښتونکي ځواکونه د یو واحد سیاسي پلاتفورم په شاوخوا راټول شي ، کار وشي . په دې لار کې نه یواځې هغه کسان او کړۍ اغیزمنې دي چې په دې تیرو کلونو کې یې د سولې د ټینګیدو لپاره هلې ځلې کړې دي ، بلکې ټول هغه کسان او سیاسي ډلې او جهادي تنظیمونه اود قومونومشران او ملي روحانیون چې نور د خپل هیواد د ورانیدو نندا ره نه شي کولای ، کولای شي د سولې د یو واقعي غورځنګ په منځته راتګ کې خپل وړ رول ولوبوي.
د دې لپاره چې جنګ غوښتونکي ځانله شي کیدای شي په دې غورځنګ کې ټول هغه کسان ، چې اوس سوله غواړي او د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام ملاتړ کوي ، راټول شي. خو باید یوشرط داوي چې هغه څوک مخکې شي چې خلک ورته په درنه سترګه ګوري ، باور پرې ولري ،ملاتړ ترې وکړي او لمن یې پاکه وي .
هغه څوک چې په رښتیا سره غواړي په خپل هیواد کې د سولې د ټینګیدو لپاره کار وکړي ، باید د هر ډول تعصب ، تنګ نظرۍ ، ځان غوښتنې او

قدرت طلبۍ نه پاک وي او که پوه شي چې له ده نه بل څوک مؤثر واقع کيږي ، په خپلې خوښې سره ځان شاته کړي او د سولې د مدافعانو سره د زړه له کومې مرسته وکړي او هر ډول سرښندنو ته تيار وي.
دا به لويه اشتباه وي چې په يو نوم او بل نوم د سولې مدافعان ځان له هغه چا نه ليرې وساتي ، چې لږ تر لږه له جنګ سره مخالفت لري او د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام ملاتړ کوي . د سولې مخکښ يوازې هغه څوک کيداې شي ، چې د سولې د پراخ بنسټه جبهې منځ ته راوړو لپاره عملي ګامونه اوچت کړي . په افغانستان کې د سولې د ټينګيدو لپاره لومړنی عملي ګام د يوې داسې جبهې جوړيدل دي چې پکې بې له توپيره ټول سوله غوښتونکي ځواکونه راټول شي . پر سياسي ملي شخصيتونو او ډلو سربيره هغه جهادي قوماندانان او د تنظيمونو مشران چې نور نه غواړي وطن يې وران اود نابودۍ کندې ته ولويږي ، کيداې شي د سولې د دې پراخ بنسټه جبهې اساسي توکي جوړ کړي. د قومونو مشران ، ملي روحانيون او روښانفکران به هغه څوک وي چې د سولې په دې جبهه کې د پراخه پرګنو لارښوونه کوي .
که ملګري ملتونه غواړي چې په افغانستان کې يوه رښتيانۍ دايمي سوله ټينګه شي ، نو ضروري ده ، چې د سولې د داسې پراخ بنسټه جبهې منځ ته راتګ و هڅوي او مرسته ورسره وکړي. همدارنګه ملګري ملتونه بايد د افغانانو ځنې د دې تر څنګ د سولې د داسې يو پوځ جوړيدو کې مرسته وکړي چې په هيڅ يوې سياسي دلې يورې تړلی نه وي او يواځې د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام د عملي کيدو لپاره د دغه نړيوال سازمان تر پاملرنې لاندې فعاليت وکړي .
په افغانستان کې د سولې د نه ټيننګيدو يو بل بنسټيز فکتور د بهرنيو هيوادونو لاسوهنه ده . د دې لپاره چې په هيواد کې سوله ټينګه شي ، بايد ملګري ملتونه د بهرنيو هيوادونو نه د نه لاسوهنې تضمينات

واخلي . او که کوم هیواد ترې سرغړونه کوي باید د ملګرو ملتونو د اقتصادي ، سیاسي او نظامي بندیزونو سره مخامخ شي .
ځینې کسان او ډلې خپل قدرت د جنګ په دوام کېویني او د قدرت د بایللو له ویرې ، سولې ته غاړه نه ږدي او جنګ ته دوام ورکوي . ملګري ملتونه کولای شي په مختلفو لارو چارو دوئ مجبور کړي چې د سولې پروګرام ته غاره کیږدي .
بل مهم عامل چې په افغانستان کې د سولې په ټینګیدو کې ارزښتناک رول لوبولای شي ، هغه د افغانستان د دوستو هیوادونو دریځ دي . یو زیا ت شمیر هیوادونو د شوروي تیري کوونکو په مقابل کې د افغانستان له خلکو سره سترې سیاسي ، نظامي او مالي مرستې کړي دي . په هر نیت چې وي ، خو د افغانانو د بیساري قربانیو او دوستو هیوادونو دې مرستو له برکته ، شوروي یرغلګرو ځواکونو ماتې وخوړه او له افغانستان نه ووتل . دا دوست هیوادونه یو بل اخلاقي مکلفیت لري او هغه دا دی :چې د افغانانو د دې دومره سرښندنو په مقابل کې له دوئ سره مرسته وکړي ، چې په خپل هیواد کې سوله ټینګه او د بیا رغاونې کار پیل کړي.
هغه هیوادونه چې په افغانستان کې سوله او ثبات غواړي باید د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام ملاتړ وکړي او په هیواد کې د سولې د یوې پراخ بنسټه جبهې منځته راتلو لپاره خپلې هر اړخیزې مرستې و نه سپموي ، چې په دې توګه د افغانانو غمیزه پای ته ورسیږي.

---

*- دا لیکنه د ۱۳۷۳ کال د حوت پر ۱۰ نیټه د ارمان د جریدې په ۸ ګڼه کې په پیښور کې خپره شویده.

## که طالبان کابل ونیسي سوله به ټینګه شي ؟ *

د طالبانو غورځنګ چې یو اځې شپږ میاشتې مخکې په کندهار کې پیل شو او په ډیرو کمو تلفاتو پرته له کوم مقاومت نه په لنډه موده کې د افغانستان دریمه برخه د خپل کنترول لاندې راوسته او اوس یې د کابل یوه لویه برخه نیولې ده ، د ډیرو خلکو سره د هیواد په دننه او بهر کې پوښتنې پیدا کړې دي. د دغه غورځنګ له پیل نه په عمومي ډول داسې پوښتنې موجودې وې چې: طالبان څوک دي ؟ څوک یې مشرتوب کوي ؟ څوک یې تر شا ولاړ دي ؟ او څه هدفونه لري ؟
خو وروسته له څه مودې د طالبانو د مشرانو له څرګندونو او د نورو خلکو د سترګو حال نه معلومه شوه چې د طالبانو مشران اکثراً هغه پخواني مجاهدین دي ، چې د ځینو قوماندانانو د درې کلن ناوړه چلند او د اوسنۍ ناوړه وضعې نه د راپیدا شوو ستونزو له امله د تنظیمونو سره خپل اړیکي پریکړي او د دې ستونزو او فسادونو د له منځه وړلو لپاره راپاڅیدلي دي او په کم وخت کې یې یو ځواکمن غورځنګ چې د سیمې د خلکو ملاتړ د ځان سره لري منځته راوړی دی.
سره د دې ، چې داسې پروپیګنډې هم وشوې چې ګوندي پخواني کمونستان او پخواني افسران ورسره دي ، خو دې یو هم د طالبانو د غورځنګ د پرمختګ لار و نه نیوله او نژدې ټول ځایونه یې بې له مقاومت څخه ونیول او زیاتې وسلې یې راټولې کړې . په خاص ډول کله چې د مارچ په نهمې نیټې ورته د وحدت حزب ، چې د کابل د ادارې د ځواکونو د سخت فشار لاندې راغلی وو ، خپل ځایونه د ټولو درنو وسلو سره تسلیم کړل . طالبان اوس د کابل په ښار کې دننه د دې ځواکونو سره د راډیو ګانو د وینا له مخې ، د جګړې په حالت کې مخامخ پراته دي .

طالبان وايي : چې دوئ د غلا ، لوټماری ، سړي وژنې او فسادونو د له منځه وړو او په ټول افغانستان کې د سولې د ټینګیدو او د یو سرتا سري مرکزي اسلامي حکومت د جوړيدو لپاره راپاڅیدلي دي . دوئ غواړي ټولې وسله والې ډلې بې وسلې کړي تر څو د ملګرو ملتونو د پروګرام له مخې یو رښتیانی اسلامي حکومت چې د ټولو خلکو استازي پکې برخه ولري منځته راشي .
طالبان وايي : چې ټولې وسله والې ډلې د دولتي ځواکونو په شمول باید خپلې وسلې دوئ ته وسپاري ، تر څو د یو بیطرفه ځواک په حیث د راتلونکي حکومت نه دفاع وکړي . دوئ په راتلونکي حکومت کې د تنظیمونو د برخې اخستو سره مخالف دي او په تیر وخت کې یې هم همدغه ډول موضعګیري درلوده او د استاد رباني پیشنهادونه یې په دې اړوند رد کړل .
طالبان وايي: چې دوئ دملګرو ملتونو د پروګرام نه ملاتړ کوي ، خو د هغه مکانیزم نه یې ملاتړ ونکړ چې تنظیمونو پکې ګډون درلود . اوس چې د دولت د ځواکونو او طالبانو تر منځ د کابل په جنوب غربي برخو کې د جنګ اور بل شوی دی ، دا په ګوته کوي ، چې د دولت ځواکونه به په خوښه طالبانو ته کابل پرې نه ږدي . دا چې په دې جنګ کې د دولت له خوا د الوتکو په شمول ټولې درنې او عصري وسلې په کار اچول شوي دي دا مانا لري چې دوئ به تر خپلې وسې پورې د خپلې بقانه دفاع وکړي او طالبانو ته به په خوښه وسلې په زمکه کښینږدي .
آیا د کابل اداره کولای شي د طالبانو پواسطه د کابل د نیولو مخه ونیسي ؟ او که طالبان کابل ونیسي نو سوله به ټینګه شي ؟ په همدې ډول د امریکې د متحده ایالتو د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه خپره کړه او د ملګرو ملتونو د هلو ځلو نه یې په افغانستان کې د یوې پراخ بنستې انتقالي شورا د جوړیدو په خاطر بشپړ ملا تړ اعلان کړ او راتلونکي

حکومت سره يې د مرستې وعده ورکړه اوټولو افغانانو او د افغانستان دوستو هيوادونو نه يې وغوښتل چې په دې لار کې ملګرو ملتونو سره مرسته وکړي . دا هغه بيلګې دي چې د طالبانو د ورځ په ورځ زياتيدونکې طرفدارۍ څرګندونه کوي .

داچې د طالبانو تر کنترول لاندې سيمو کې خلک له ټولو پخوانيو ستونزو او کړاوونو نه خلاص شويدي او په ارامه ژوند کوي د افغانستان په ټولو خلکوکې يې د طالبانو پلويان ډير کړي دي . هغه کسان چې د کابل نه راغلي دي وايي چې دکابل عام خلک د طالبانو په راتګ خوښ دي او هغوئ د ټولو کړاوونو نه د خلاصون او د سولې د ټينګيدو يو مهم عامل ګڼي . نو کله چې د طالبانو پلويان ورځ په ورځ ډيريږي او حتی د دولت پخواني متحدين د دولت سره اړيکي پريکوي او د طالبانو ملاتړ اعلانوي او د دولتي ځواکونو تر کنترول لاندې د کابل خلک د طالبانو په راتګ خوښ وي ، بيا به هم د کابل اداره وکړای شي د طالبانو په مقابل کې د ډير وخت لپاره مقاومت وکړي ، يو څه د شک خبره ده .

خو اوس به راشو دې ته ، چې که طالبان کابل ونيسي ، سوله به ټينګه شي ؟ دا داسې يوه پوښتنه ده چې بايد غور پرې وشي . که چيرته طالبانو سره هم په دننه او هم بهر کې ملاتړ دوام وکړي ، په دې کې شک نشته چې طالبان به په داسې ځواک بدل شي چې هيڅوک به يې مخه ونه شي نيولای . خو دا په دې پورې هم اړه لري چې هغه چلند ته چې دوئ يې اوس د خپل کنترول لاندې سيمو کې کوي او د خلکو ملاتړ يې تر لاسه کړی دی نور هم دوام ورکوي او که نه ؟ همدارنګه دوئ به ، لکه چې څو ځلې يې مشرانو په مرکو کې څرګنده کړيده چې د هيڅ ډول امتياز غوښتونکي نه دي اويواځې د ملګرو ملتونو د داسې يو پروګرام ملاتړ کوي چې د هيواد دټولو خلکو استازي پکې ګډون ولري ، تر اخره پورې

خپلې خبرې ته وفادار پاتې شي اوکه نه ؟ دا په راتلونکي وخت پورې اړه لري چې اوس ورته ځواب له وخت نه مخکې ښکاري .
په دې کې شک نه شته چې په افغانستان کې د يوې دوامدارې سولې منځته راتلو لپاره يو ملي ځواک ته ، چې په هيڅ يوې سياسي او نظامي ډلې پورې تړلی نه وي او ملي ګټې په هر ډول شخصي ، ګروپي ، سمتي او قومي ګټو لوړې وبولي او هر ډول امتياز غوښتنې او انحصار طلبۍ ته ځان ليرې وساتي او د دموکراسۍ پر اصولو د ملګرو ملتونو د منځګړيتوب له مخې د يو پراخ پنستيز اسلامي حکومت د منځته راتلو ملاتړ وکړي ، ضرورت دی .
آيا طالبان به وکړای شي د نورو وطنپالو عناصرو او ځواکونو سره يوځای داسې يوملي سرتاسري ځواک جوړ کړي چې د ټولو افغانانو د ملاتړ نه برخمن وي . که چيرته داسې وشول نو د سولې ډولۍ به د افغانانو جونګړې ته ، که څه هم ډيره ويجاړه شويده ، هرو مرو ورننوځي .

*- دا ليکنه د ۱۳۷۳ کال د کب پر ۲۱ نيټه ( ۱۹۹۵ کال د مارچ ۱۲ ) دارمان د جريدې په ۹ ګڼه کې په پيښور کې خپره شويده .

# افغان او افغانیت *

که د افغان کلیمې د تاریخي او جوړښتي اړخونو نه تیر شو ، نو افغان هغه چاته وایي چې د افغانستان اوسیدونکی وي او یو شمیر ځانګړې صفات لري چې د هغه شخصیت جوړوي . دغه صفتونه چې د یو افغان شخصیت جوړوي افغانیت دی .

د یو افغان غوره صفات چې د افغانیت بنسټ جوړوي تر هر څه لومړی د خپلو خلکو او وطن خپلواکی ، ښه نوم ، بریالیتوبونو او سرلوړی سره مینه ده . د یو افغان همدا صفتونه دي چې دوئ یې د نړی د خلکو په نظر کې د وطنپالنې لوړې پوړی ته رسولي دي. د دې خبرې تائید ، چې افغانان وطنپالونکي او ازادي خوښوونکي خلک دي د افغانستان اونورو هیوادونو په تاریخونو کې ان د ډیر پخوا وختونو نه ، شوی دی.

هغه څوک چې د افغانانو د تاریخ نه خبر دي ځان ته یې دا حق نه دی ورکړی چې ددې زړور ملت ټاټوبي ته په خیرنو سترګو وګوري. خوهغه څوک چې د تاریخ نه ناخبره اویا یې ترې پند نه دی اخستی اود افغانانو وطنپالنه اوازادي خوښوونه یې ازمویلې نه ده داسې جواب یې تر لاسه کړی دی چې په ټول عمر کې یې د پښیمانی سبب شوی دی.

د افغانانو وطنپالنې اوازادی غوښتنې ته انګریزانو په سطحي سترګه وکتل اوپه خپلې پیاوړې اردو او پکې لمر نه پریوتونکې امپراتوری دومره مغرور شول ، چې دافغانانو د خپلواکی اواز یې ونه شو اوریدای چې پایله یې نه یوازې ددغه اردو له شرمه ډکه ماتې وه ، بلکې ددوئ د امپراتوری رنګیدل اود یو زیات شمیر خپلواکوهیوادونومنځته راتلل هم له همدې ځای نه پیل شول .

شوروي اتحاد ، چې د دویم نړیوال جنګ نه یې سره اردو بریالی راوتلې وه او په نورو هیوادونو باندې په پرله پسې ډول تیریو دومره پیاوړی

شوی و ،چې دغه هیواد یې د نړۍ د سترو هیوادونو په قطار کې ودرولی و او په سترګو یې د پراختیا غوښتنې پردې او ښتې وې ، ونه شول کړای چې د تاریخي واقعیتونو په رڼا کې پر افغانستان باندې له تیري نه ځان وژغوري دومره مات او برباد شو چې بیا به هیڅکله د شوروي په نوم هیواد د نړۍ په نقشه کې ونه لیدل شي. دا ټول له وطنپالنې او ازادۍ سره د بې شانه ډیرې مینې لرلو برکت و چې افغانانو وکولای شول په ډیر زړورتوب او سرښندنې سره د نړۍ یو ستر نظامي ځواک ته د جنګ په میدان کې ماتې ورکړي او په خپلو بې ساریو قربانیوسره بیا یوې تاریخي پیښې تکرار ته چې د یوې سترې امپراتورۍ ړنګیدل اوډیرو ولسونو ته یې له شر نه د خلاصیدلو زمینه برابره کړي .

له خپل وطن او ازادۍ سره مینه ، ننګ او غیرت ، زړورتوب ، سرښندنه په خپل هوډ ودریدل ، پتمن توب ، میلمه پالنه ، پاک لمنی او دیانت ،د ظلم او تعدی نه منل ، تیریدنه ، رښتینولي او د دروغو سره نه پخلاینه او داسې نور ډیر شمیر غوره صفتونه د یو افغان د شخصیت اوپه بله وینا د افغانیت جوړونکې برخې دي . هرڅوک چې افغان وي او افغانیت لري د دغو غوره صفتونو خاوند به وي . دا هغه صفتونه دي چې انسان نه ماتیدونکی کوي. نوځکه زمونږ د خلکو او وطن د دښمنانو لومړۍ هلې ځلې دا وي چې له افغانانو نه افغانیت واخلي ، تر څو یې بیا په خپلو نانځکو بدل کړي . د پردیو د لاس آلې چې د ا پورته غوره صفتونه نه لري که د افغانستان اوسیدونکي هم وي ، خو افغانان یې نه شو بللی او افغانیت نه لري .

شته دی یو شمیر کسان چې د پردیو د لاس آله دي ، د خپل وطن او خلکو سره مینه نه لري او د خپلواکۍ او ازادۍ په قدر نه پوهیږي ، په خپل وطن او خلکو باندې ننګه نه خوري ، پت اوعزت یې له لاسه ورکړی دی ، بې زړه ، ریاکار ، ډارن ، بې رحمه ، ناولي او درواغجن شوي دي. د ځان ګټې

د وطن له ګټو لوړې ګڼي ، بيګناه خلک وژني ، کورونه لوټوي ، په عامه پانګو يا پخپله خيټه اچوي اويا يې نورو ته وربښي او د خپلو نيکونو ټول تاريخي وياړونه يې له منځه يوړل اويايې وړي . ايا داسې کسانو ته افغان ويلی شو او يا د افغانيت کومه نښه لري ؟ نه ! داسې کسان نه افغانان بللای شو او نه افغانيت لري .

په خواشينۍ سره ځينې کسان نه يواځې دا چې پخپله افغاني خصلتونه نه لري ، بلکې هڅه کوي چې ځوان نسل د افغاني ضد خصلتونو سره وروزي ، تر څو وکړای شي په دې ډول افغان او افغانيت چې د افغانستان د بقا مانا لري ووژني او په بدل کې يې داسې کسان ځای ونيسي چې په ټولو ملي او مذهبي مقدساتو پښې کيږدي اود خپلو پلرونو او نيکونو له وياړه ډک تاريخ اوميراث په پرديو خرڅ کړي . يواځې مريان او دپرديو نوکران د خپلو پلرونو او نيکونو په تاريخ وياړ نه کوي او پروايې نه لري . د تاريخي اثارو غلا کول او بيايې په پرديو خرڅول اويا د ټولو ټولنيزو ،سياسي ، افتصادي ، نظامي او فرهنګي سيستمونو بنسټونه له منځه وړل يواځې هغه څوک کولای شي چې افغان نه وي ، افغانيت ونه لري او د پرديونوکر وي .

د دې لپاره چې زموږ ويارلی هيواد له تباهۍ نه وژغورل شي بايد د پوهې اوقلم خاوندان د نوي نسل او ځوانانو د روزنې لپاره متې راونغاړي او په ملي روحيه باندې سنبال افغانان وروزي ، تر څومو افغانيت کمزوری او له منځه ولاړ نه شي . بايد ځوان نسل داسې وروزل شي چې ملي ګټې له شخصي ، ګروپي ، سمتي او قومي ګټونه لوړې وګڼي ، ترڅو مو ملي يووالی پياوړی او د بهرنيو دښمنانو دسيسې شنډې شي .

---

*- دا ليکنه د ۱۳۷۳کال د کب پر ۲۱ د ارمان جريدې په ۹ ګڼه کې په پيښور کې خپره شويده .

# د قدرت انتقال کله او څرنګه ؟ *

نن د نوي کال لومړۍ ورځ ده او د وعدې سره سم باید قدرت یوې لنډ مهالې حاکمې شورا ته انتقال شي . خو دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې کومې شورا ته او څرنګه ؟ په دې وروستیو کلونو کې زموږ په ملک کې سیاسي واک داسې یو شی نه دی چې له یو لاس نه بې واخلې او بل لاس ته یې انتقال کړې. ځکه په کابل کې حکومت کول په دې مانا دي چې ټول پوځي او اداري سیستم باید د حاکمې ادارې تر واک لاندې وي . په تیره بیا که که چیرته حاکمه اداره په پوځ باندې بشپړ کنترول و نه لري ، نو بیا د قدرت د انتقال مسأله هیڅ مانا نه لري . د همدې مسألې پر بنیادو چې د ملګرو ملتونو د استازو او افغاني شخصیتونو هیئت د کویټې په غونډه کې په دې باندې ټینګار وکړ چې تر هر څه د مخه باید یوه شل زره کسیزه بیطرفه امنیتي قوه جوړه شي. دا قوه به د کابل کنترول په خپل لاس کې ونیسي او بیا به له اوسنۍ ادارې نه قدرت هغې شورا ته چې ټاکل کیږي انتقال مومي.

خو د کویټې د غونډې نه څلور میاشتې تیرې شوې او د پورته نوموړي شل زره کسیز پوځ یو سرتیری هم نه دی استخدام شوی او د قدرت د انتقال لپاره تر اوسه څو څو ځلې نیټې ټاکل شوي دي ، مګر د قدرت د انتقال ډرامه یوې ورځې نه بلې ورځې ته ځنډیږي . په حقیقت کې د دې ټینګار سره سره چې قدرت بایر ژر تر ژره انتقال شي ، خو معلومه نه ده چې ملګري ملتونه قدرت چاته انتقالول غواړي. دا دی نن د قدرت د انتقال ورځ ده ، کومه ده هغه شورا چې قدرت ورته وسپارل شي ؟ تر اوسه هیڅوک نه پو هیږي چې د ملګرو ملتونو دقدرت د انتقال مکانیزم څرنګه جوړ شوی او څرنګه به تطبیق شي.

ویل کیږي چې د هغې شورا په ترکیب کې چې مخکې اعلان شوې وه ، د حالاتو له بدلون سره سم تغیرات راځي او د شورا د غړو ترکیب ، نه د تنظیمي اړیکو پر بنسټ ، بلکې دولایاتو په استازولۍ جوړیږي . خو دا انتخابات به څوک کوي ؟ څوک به د دې انتخاباتو څارنه کوي او د څه مودې لپاره ؟ ځکه چې د خلکو د استازو ټاکل د ویلو او لیکلو پر بنسټ اسان کار دی ، خو په عمل کې میاشتو میاشتو ته ضرورت لري په تیره بیا د افغانستان په روان کړکیچن حالت کې .
داسې ښکاري چې هم ځینې معلوم الحاله حلقې او همدارنګه نور کورني او بهرني لاسونه نه غواړي د افغانستان روانې تراژیدۍ ته د پای ټکی کیږدي . ځکه دادی د څو اونیو راپه دې خواکابل یو وار بیا د اور په لمبو کې سوځي، کابل ورانیږي ، لوټ کیږي ، افغانان وژل کیږي ، بې عزته کیږي ،خو نه د لنډ مهالې شورا د غړو څه درک شته او نه د واک د انتقال لپاره لازم شرایط برابر شویدي.
هیڅ داسې علامې نه لیدل کیږي چې څوک دې وکړای شي د نوي کال په درشل کې افغان کړیدلي او ځوریدلي ولس ته سوله ډالۍ کړي. دا ویره اوس ورو ورو په ډاګه کیږي ، چې د محمود مستیري هلې ځلې به هم د بینن سیوان او کوردویز په سرنوشت اخته شي او د افغانانو دا یوازینۍ هیله به په اوبو لاهو شي . که داسې وشول نو روښانه ده چې د افغانستان روانه کړکیچنه وضعه به نوره هم د افغانانو او هم د نړیوالو له کنترول نه ووځي او هغه وخت به د افغانستان د جګړې د اور لمبې یوازې په ورا ن او تباه شوي افغانستان کې ایسارې پاتې نشي.

* - دا لیکنه د ۱۳۷۴ کال د حمل په لومړۍ نیټه د ارمان د جریدې په ۱ ګڼه کې په پیښور کې خپره شویده.

# د افغانانو نوی کال *

د وري يا حمل لومړۍ ورځ د افغانانو د نوي کال د پيل ورځ ده ، چې د لمريز هجري کال د لومړۍ ورځې سره سمون خوري . افغانان هم لکه د نورو خلکو په شان د خپل نوي کال پيل په سندرو ، ميلو ، د نوو جامو په اغوستلو او خوندورو خوړو په تيارولو سره لمانځي. د ا لکه د اخترونو او خپلواکۍ د جشن د ورځو په څير د افغانانو لپاره د ملي ورځې حيثيت لري. ځومره نيکمرغه وي هغه خلک چې خپلې ملي د خوښۍ ورځې په خپل وطن ،خپل کور او د خپلو خپلوانو او دوستانو سره يو ځای د سولې او خوښۍ په فضا کې لمانځي.

خو افغانان ، چې تر پنځلسو کلونو نه زيات دجنګ ،هجرت ، بې کورۍ ، بې کارۍ ، فقر ، لوږې او نورو ډول ډول ستونزو او تنګسو سره لاس او ګريوان دي ، څرنګه کولای شي د نورو نيکمرغه انسانانو په څير اخترونه او جشنونه ولمانځي . هر نوی کال د دوئ لپاره د هيلو کال وي ، چې سوله به راشي ، هر څوک به بيرته خپل وطن او ټاټوبي ته راوګرځي، ښارونه ، کلي او بانډې به بيرته اباد شي ، باغونه او کروندې به شنه او بيرته به بيا تر ټولو ښکلی افغانستان به په جوړيدو او غوړيدو شي. خو هر نوی کال لکه مخکيني کال په څير تيريږي او د افغانانو ستونزې لاپسې ډيريږي او هيڅوک نه پوهيږي چې څه وخت به دا غميزه پای ته ورسيږي.

۱۳۷۴ کال په داسې شرايطو کې پيل شو ، چې د افغانانو ستونزې نه يوائې دا چې اوارې شوې نه دي ، بلکې لاپسې ډيرې او بيچلې شوې دي . هغه څوک چې د دې ستونزو د منځته راتګ سبب شويدي او کولای شي چې اواريدو کې يې هم هلې ځلې وکړي يا د خير په غونډۍ کيناستل او يا لا هم دې ستونزو ته ستونزې نه وايي اوعادي لوبه ورته ښکاري.

د دولتي ځواکونو او مخالفينو تر منځ جګړو کې کابل وران شو ، په زرګونو انسانان په وينو کې ولمبيدل او په لکونو نور د خپلو کورونو نه مهاجرت ته مجبور شول ، خو لا اوس هم پر يوبل باندې د برلاسۍ خبرې کيږي د ډلو تر منځ دښمنۍ دومره د انسانيت له چوکاټ نه ووتلې ، چې يو د بل وژل ، بې عفته کول ، لوټ کول اوله کورونو نه شړل داسې بد غونې ځيره غوره کړې ده چې نه د پخوانيو وحشي تاړاکګرو سره پرتله کيداى شي او نه کله په تاريخ کې داسې څه تير شوي دي چې د يو هيواد خلک دې يواځې د څو ورځو قدرت لپاره يو بل وخوري او محوه او نابود کړي. دا ټول د قدرت د مينانو ليونتوب او جنون دى چې يو شمير نور افغانان يې ځانونو سره ليونيان کړي او د انسانيت ، اسلاميت او افغانيت نه يې ايستلي دي.

هغه هيوادونه چې ځان ته د بشر د حقوقو مبارزين وايي او له خپلو هيوادونو نه نورو هيوادونو کې د بشر د حقوقو نه تيرى لاپسې په ځير کتلاى شي ، ولې نه شي کولاى زموږ په هيواد کې ، د بشر د حقوقو نه ډير بدغونى تيرى ، په خپلو سترګو ووينې ؟او په يو اواز نړيوال ددې انساني تراژيدۍ پاى ته رسولو لپاره راوبولي ؟ څومره به نور افغانان د دې غميزې د ښامار ښکار کيږي او دخپل ژوند ټولې هيلې به د يو څو ټوپک والاو له نامشروع غوښتنونه قربانوي . هغه څوک چې د دې وضعې عاملين دي نه غواړي چې دا وضع تغير ومومي ، خو هغه کسان چې تغير غواړي ولې نه شي کولاى د سولې د ټينګيدو سمه لار پيدا کړي ؟

جنګ د سولې د ټينګيدو لار نه ده او جنګ غوښتونکي سوله ټينګولاى نه شي . که څوک د جنګ له لارې غواړي سوله ټينګه کړي او يا د جنګ غوښتونکو نه غواړي سوله ټينګه کړي په غلطه روان دي . سوله به يواځې سوله غوښتونکي ځواکونه له سوله ايزې سياسي لارې نه په جنګ غوښتونکو تحميلوي.

سوله غوښتونکي څوک دي ؟او څوک د زړه له کومي غواړي په هيواد کې سوله ټينګه شي ؟دې ته بايد په ځير سره ځواب وويل شي. د سولې خبرې خو هر څوک کوي ، خو يوائې هغه څوک د سولې رښتياني پلويان او غوښتونکي دي چې په جنګ کې يې تاوان دی . له دې نه مقصد هغه خلک دي ، چې په جنګ کې برخه نه لري ، خو له جنګ نه يې ستر ځاني ، مالي او معنوي زيانونه ليدلي دي .

د سولې ټينګيدو لپاره يوائې د همداسې سوله غوښتونکو خلکو او ځواکونو راټوليدو ته ضرورت دی . دا کار کيدای شي د منل شوو ملي مشرانو ، سوله غوښتونکو دوستو بهرنيو هيوادونو او ملګرو ملتونو په مرسته سرته ورسيږي. خو په دې شرط چې لومړی د سولې دا ځواکونه او د هغوئ د راټوليدو سمې لارې ولټول شي. که داسې وشي ، نو د سولې غورځنګ به جوړ شي او هيڅوک به يې مخه نه شي نيولای .

هر غورځنګ د يو معين هدف لپاره منځته راځي اوکله چې هدف لاس ته راشي نو بيا پخپله له منځه ځي. هغومره چې يو غورځنګ ځواکمن وي او څوک يې مخه نه شي نيولای ، په هم هغه اندازه په هغه کې دشاملو ځواکونو تر منځ اړيکې سستې وي او يوائې د يو ځانګړي هدف لپاره ټينګې شوې وي. کله چې د هدف په لور روان وي نو غورځنګ ورځ په ورځ ځواکمن کيږي ، خو که له هدف نه بل لور ته کوږ شي د کمزورۍ او ان د له منځه تلو ويره يې منځته راځي .

همدارنګه په يو غورځنګ کې کيدای شي ډير هغه ځواکونه چې يو بل سره سياسي ، نظرياتي او نور توپيرونه ولري د يو خاص هدف لپاره راټول شي. نو ځکه که چيرته د سولې غورځنګ مطلب وي ، نو دا کفايت کوي چې ټول هغه خلک او ځواکونه پکې راټول شي چې سوله غواړي. هيڅ ډول تنګ نظري ،تعصب ،لوړتيا غوښتنه ، امتياز او محدوديتونه په غورځنګ کې ځای نه شي لرلای . هر څوک چې په دې مرضونو اخته وي

د یو غورځنګ د منځته راوړو او لاربنوونې جوګه کیدای نه شي. په دې کې شک نه شته چې اکثر غورځنګونه بې له دې نه چې لکه د یوې سیاسي ډلې د جوړیدو په شان ورته کار وشي ، په ډیرې اسانۍ او کم وخت کې د ستونزو او ناخوالو په مقابل کې منځ ته راځي . خو بیا هم د هر غورځنګ منځته راتلو ، نظم او لار ښوونې لپاره په کار پوهو ،صادقو او د باور وړ مشرانو ته ضرورت دی چې خپل ټاکلي هدف ته ورسیږي . باید د همداسې مشرانو د یووالي او تفاهم لپاره هلې ځلې وشي.

اوس چې د افغانانو ۱۳۷۴ نوی کال پیل شو ، راځئ چې دا نوی کال د افغانانو لپاره د سولې د کال په نوم ونوموو او د دې کال له لومړۍ ورځې نه د سولې د ټینګیدو سمه لار ولټوو ، مخکښیو کلونو نه په خپلو کارونو کې بدلون راوړو ، داسې یوه ټګلاره غوره کړو چې د سولې د یوواقعي غورځنګ د منځته راتلو لپاره عملي ګامونه واخستلای شو. د سولې لپاره فعالیت د پخوانیو محدودو کړیو نه راوباسو او خپلې هلې ځلې پراخه کړو. هر څوک چې سوله غواړي او د جنګ ضد وي په هر قوم ، ژبې ،مذهب ، سمت ، سیاسي ډلې اورژیم پورې چې تړلی وي د سولې دې غورځنګ ته راوبولو او هغه څوک مخکې کړو چې افغانانو ته دمنلو وړ وي اوباور پرې لري.

---

*- دا لیکنه د ۱۳۷۴ کال د اوري په لومړۍ نیټه د ارمان جریدې په ۱ ګڼه کې په پیښور کې خپره شویده.

# ملي يو والی او اوسنۍ ستونزې *

په افغانستان کې بیلابیل قومونه ژوند کوي او ټول په ګډه یو ملت جوړوي چې د افغان په نوم یادیږي. دا قومونه ، چې د قومیت مختلفې ریښې لري په بیلو بیلو ژبو خبرې کوي ، خپل ځانګړی فرهنګ دود او دستور لري ، خو ټول په یو هیواد کې لکه د یو کور د غړو په شان اوسیږي ، غم – ښادي ، ګټه او زیان ټول یې شریک دي. د دوئ شریکې ګټې د قومي ګټونه لوړې او ټول افغان ملت پورې تړلې دي او ټول قومونه ترې په ګډه دفاع کوي. د هیواد په کچه د قومونو دې شریکو ګټو ته ملي ګټې اود فومونو دې یووالي ته ملي یووالی وایي.

ملي یووالی د پردیو د تیري په مقابل کې د خپل هیواد دخپلواکۍ ،ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا نه دفاع او ساتنې ، سولې او ثبات منځته راوړلو لپاره یو ضروري اصل دی. د تاریخ په اوږدو کې په افغانستان کې ټولو میشتو قومونو تل په ګډه د بهرنیو تیري کوونکو په مقابل کې د خپل هیواد د خپلواکۍ نه دفاع کړې ده . کله چې د افغان ملت یووالی ټینګ و ، هیڅ تیري کوونکي ترې بری نه دی ګټلی . د ټولو قومونو ګډې هلې ځلې نه یواځې د کورنۍ سولې او ثبات لپاره حتمي دي ، بلکې د هیواد د بیا رغاونې په کار کې ټولو ملي استعدادونو او ځواکونو پراخې برخې اخستنې ته لار اواروي .

همدا سبب دی چې زموږ د خلکو او وطن دښمنانو تل د خپلو ناوړو هیلو د ترسره کولو په خاطر لومړی تر هر څه زموږ دملي یووالي کمزورتیا لپاره له هیڅ ډول د سیسو نه ډډه نه ده کړې . زموږ دښمنانو تل لومړی دخپلو کورنیو ګوډاګیانو پواسطه د افغانانو په منځ کې قومي ، ژبني ،مذهبي او نورو اختلافونو ته لمن وهلې او بیا یې خپلې دسیسې پلې کړې دي او زموږ هیواد یې د ستونزو سره مخامخ کړی دی.

په دې توګه په هیواد کې د پنځلسو کلونو کورنیو جګړو ، که له یوې خوا یې د بهرنیو یرغلګرو په مقابل کې د افغانانو مقاومت منځته راوړ ، خو له بل پلوه یې له وسله والو ډلونه چې په مختلفو قومونو او تنظیمونو پورې تړلې دي داسې یو متعدد یو بل سره په اختلاف کې وسله وال ځواک جوړکړ، چې د یرغلګرو په وتلو او پر هغوئ پورې تړلي رژیم نسکوریدو سره یې هم و نه شول کړای خپلمنځي جنګونه بند کړي او خپل جنګ ځپلی هیواد له ستونزو نه وباسي . دوئ نه یوائې دا چې خپل جنګ ځپلی هیوادیې بیرته جوړ نه کړ ، بلکې د دې ډلو خپلمنځي جنګونو کې لاپسې وران او تباه شو .
زموږ په هیواد کې ډیر رژیمونه یو په بل پسې راغلي او له منځه تللي دي ، خو دټولنیز نظام ټول بنسټونه پر ځای پاتې شوي دي او که کوم بدلون راغلی دی پرهمغو بنسټونو منځته راغلی دی . د بیلو بیلو وسله والو ځواکونوموجودیت ، چې په مختلفو سیاسي ډلو اوتنظیمونو پورې تړلی دي او ځینې یې قومي بڼه هم لري د یوې ملي اردو د پایښت او جوړیدو لپاره ناوړه شرایط رامنځته کړي دي . په دې کار سره د افغانستان حپلواکي او ځمکنۍ بشپړ تیا په خطر کې لویدلي او سوله او ثبات له منځه تللی دی. د یوې ملي اردو شته والی دبهرنیو تیري کوونکو په مقابل کې د هیواد د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې او په دننه کې د سولې او ثبات د ټینګیدو او د وطن د بیا ابادیدو لپاره بنسټیز شرط دی .
یوه ملي اردو تل د ملي ګټو ساتندوی وي . په ملي اردو کې د ټولو قومونو استازي برخه لري ، خو د قومونو له ګټو ځخه نه ، بلکې د ټول ملت د ګټو ساتنه او دفاع کوي او په هیواد کې د ملي یووالي ممثل وي .
همدا سبب د ی چې دښمنان نه شي کولای د ملي اردو د موجودیت په صورت کې د افغانانو ملي یووالی له منځه یوسي . په افغاني ټولنه کې

ټول قومونه یو له بل سره دومره ژور اړیکي لري ، چې سړی دې نتیجې ته رسیږي چې هیڅ دښمن به و نه شي کړای دا قومونه یوبل نه بیل کړي . خو تجربو وښودله چې د دښمنانو دسیسې او په هیواد کې دننه د پردیو د پلانونود پلي کوونکو فعالیتونه هم بې اغیزې نه دي.
شورویانو زمونږ پر هیواد باندې له تیري سره سم د خپلو پښو د ټینګولولپاره ډیرې هلې ځلې وکړې چې هم پخپله او هم د خپلو ګوډاګیانو پواسطه په افغانستان کې مختلف قومونه یو له بل سره وجنګوي ، خو تر هغه وخته پورې چې دوئ په افغانستان کې وو ، ویې نه شول کړای د دوئ پرضد د افغانانو احساسات په خپلمنځیو دښمنیو واړوي.
کله چې شورویان زمونږ د مسلمانو خلکو د ملي – اسلامي قیام سره مخامخ شول او ټول قومونه په ګډه د تیري کوونکو پرضد د جهاد په لیکو کې ودریدل ، په عمل کې یې د خپل ملي یووالي په ټینګیدو سره دغه د نړۍ ستر ځواک په ګونډو او له خپل پاک وطن نه وتلو ته مجبور کړ . د بهرنیو تیري کوونکو په مقابل کې د کرکې له برکته د افغانانو ملي یووالی ټینګ و او د ملي اردو په موجودیت کې د قومونو تر منځ دښمنیو ته ځای نه پاتې کیده.
زمونږ په هیواد کې د دغو ټولو ستونزو او جنګونو مسئولیت ، چې د شورویانو له وتلو او شوروي پلوه حکومت له نسکوریدو وروسته پیښ شوي دي ، چې د ملي اردو له منځه وړل یې غوره بیلګه ده ، د همدغو بهرنیو هیوادونو پورې تړلو کسانو په غاړه دی ، چې د ملي ګټو پر ځای یې شخصي ، ګروپي ، قومي او یا سمتي ګټو ته ډیر ارزښت ورکړی او د نورو هیوادونو د ناوړه پلانونو د عملي کیدو په خاطر یې د خپل هیواد ګټې تر پښو لاندې کړې دي.

په عمومي ډول هغه څوک د قومونو تر منځ دښمنیو ته لمن وهي ،چې د پردیو دلاس اله وي او د ملت باور نه شي ګټلای. خو یو شی پوره جوت دی او هغه دا چې د افغانانو په ټول تاریخ کې هغه چا چې د ملي یووالي د کمزورتیا او یاله منځه وړو لپاره هلې ځلې کړې وي هیڅکله نه شي کولای د افغانستان دخلکو باور تر لاسه کړي اوپه آخر کې دټولو قومونو له خوا رټل شوی او مخ یې تور شوی دی. زموږ د ملي یووالي دښمنان کولای شي په مؤقت ډول د قومونو تر منځ دښمنیو ته لمن ووهي، خو په هیڅ ډول نه شي کولای د هغو ټینګو اړیکو ، شریکو ګټواو هغې مینې له امله چې ټول افغانان یې د افغان له کلیمې سره لري زموږ ملي یووالی له منځه یوسي او د افغانستان پر سپیڅلي نوم پښې کیږدي.
کومې هڅې کولای شي زموږ د دښمنانو دسیسې شنډې کړي ، اوسنیو ستونزو نه ووځو او د افغانانو د ټینګ ملي یووالي پر بنسټ د خپل استقلال ، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا نه دفاع وکړو او د افغانستان ښکلی او سر لوړی هیواد بیرته اباد او د نړۍ د سیالو هیوادونو په کتار کې ودروو.
که چیرته ټول اختلافونه د خبرو له لیارې په سوله ایز ډول اواریدای او جنګونه نه وای ، نو بشریت به د خپل پرمختګ ډیرې لوړې پوړۍ ته رسیدلی وای . خو ځینې وخت د جګړې کلیمه هم د تقدس مانا غوره کوي او د بهرني تیري په مقابل کې د خپلې خپلواکۍ لپاره افغانان جګړې ته دخپلواکۍ جنګ او جهاد وایي . د وطن او خلکو ازادۍ نه دفاع فرض او د خپلواکۍ په جنګ کې برخه اخستل د فرضو سرته رسول ګڼي.
د شورویانو په مقابل کې د افغانانو جګړه د ازادۍ جګړه او جهاد و ، خو د هغوئ له وتلو نه وروسته د قدرت لپاره جګړه کورنۍ ناولې تباه کوونکې جګړه ده چې زموږ ملي یووالی ،استقلال ، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا یې په خطر کې اچولي دي . ددې لپاره چې زموږ ملي یووالی

ټینګ شي او له او سنیو ستونزونه ووځو لومړی تر هرڅه باید دا دقدرت په خاطر کورنۍ جګړه بنده او سوله اوثبات منځته راشي . چې تر ټولو غوره لار یې د روغې –جوړې له لارې د ملګرو ملتونو په مرسته یوې بیطر فې انتقالي شورا ته د قدرت سپارل دي ،چې په دې سره به د یو انتخابي حکومت منځته راتلو لپاره لار اواره شي.

دویم هغه څه چې باید د ملي یووالي ټینګیدو لپاره سرته ورسیږي ، هغه د دموکراسۍ پر اصولو د راتلونکو حکومتونو د منځته راتلو بنسټ ایښودل دي. راتلونکي حکومتونه باید یواځې او یواځې د خلکو د باور پر بنسټ د عادلانه انتخاباتو له لیارې منځته راشي . ریښتیانۍ دموکراسي ، پرته له هر ډول تبعیض نه ، د هیواد ټولو قومونو او قشرونو ته حق ورکوي چې په سیاست کې فعاله ونډه واخلي اود خپل اقتصاد ، ژبې ، فرهنګ او ژوند د نورو اړخونو پرمختګ او لوړتیا لپاره کار وکړي . په دې ډول کیدای شي په افغانستان د ټولو قومونو ترمنځ یووالی ټینګ شي او اوسنۍ ستونزې له منځه ولاړې شي .

---

*- دا لیکنه د۱۳۷۴کال د حمل په ۱۳ نیټه د ارمان د جریدې په ۱۱ ګڼه کې په پیښور کې خپره شویده.

# د هیواد د برخلیک ټاکل د افغانانو په لاس کې دی *

د دوو اونیو په ترخ کې چې د جګړو شدت په کابل او د هغه په شاوخوا کې کم شوی خلکو ته د سولې هیلې زیاتې شوې دي. له همدې کبله په پاکستان کې ځینې میشت مهاجرین د خپلوانو او د خپلو کورونو د لیدلو لپاره کابل ته ور خوځیدلي دي.
خو په دې ترخ کې د محمود مستیري وروستنۍ اخطاریه چې ویلې یې دي: که استاد رباني د سولې پروګرام ته غاړه کښینږدي نو په انزوا کې به پریوځي . په همدې ډول د ځینو تنظیمونو او ټولنو هلو ځلو د نویو اتحادونو د جوړیدو لپاره د خلکو ، ملګرو ملتونو او ځینو سیاسي ټولنو په وړاندې یو لړ سوالونه رامنځته کړیدي.
که د افغانستان د ستونزو کرونولوژیکه څیړنه وشي ، نو ښکاره به شي چې د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د روسانو د تیري له اولې ورځې نه راپدیخوا د افغان مجاهد ملت په څنګ کې ودریدلی ، د روسانو تیری یې غندلي او د ژر وتلو غوښتنه یې کړې ده. د ملګرو ملتونو د سازمان په عمومي غونډو کې به یې له یوځو په شوروي پورې تړلو هیوادونو ، نورو په مطلق اکثریت سره پر افغانستان باندې د دغه هیواد د نظامي تیري غندنه کړې او له هغه نه یې د ژروتلو غوښتنه کړیده . همدارنګه هغه مرستې چې ملګرو ملتونو دافغاني مهاجرینو سره کړیدي او لا دوام لري د هیریدلو نه دي. د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو سازمان څو ځله په افغانستان کې د شورویانو او کورنیو مستبدینو د بشر دحقوقو ضد اعمال غندلي او رسوا کړیدي.
خو دافغانستان د مسئلې د بشپړ اواري په لار کې ، چې زموږ په هیواد کې سوله ټینګه او ثبات منځته راشي او یو داسې سرترسري حکومت چې د ټولو افغانانو دمنلو وړ وي جوړ شي ، د ملګروملتونو هلې ځلې څو

ځلې د ستونزو او خنډونو سره مخامخ شويدي . دا چې ولې د ملګرو ملتونو هڅې تر اوسه پورې په دې باندې نه دي بريالۍ شوي چې خپل د سولې پروګرام ته د عمل جامه واغوندي ، د څو ټکو يادونه ضروري ده :
ـ د ملګرو ملتونو د سولې پروګرام د پلي کيدو لپاره د بينن سيوان نه تر محمود مستيري پورې د دې نړيوال سازمان استازو او هيئتونو و نه شول کړای د يوې سمې فارمولې د پيداکيدو لپاره د واقعيتونو په رڼا کې د داسې شخصيتونو اوځواکونو سره کار وکړي چې په رښتيا سره سوله غواړي.
ـ د بينن سيوان د سولې پروګرام په همدې ډول سبوتاژ او شنډ شو چې له يوې خوا يې تش په خبرو ډير وخت تير کړ او له بل پلوه يې ونه شول کړای د سوله غوښتونکو افغانانو د سولې يوداسې ځواک په جوړيد و کې مرسته وکړي چې د دې پروګرام نه دفاع وکړي او هر ډول دسيسه شنډه کړي.
ـ د محمود مستيري کار په افغانستان کې د خونړيوجنګونو په جريان کې پيل شو. د کابل ښار او ولايتونه د مختلفو تنظيمونو او سياسي ډلو ترمنځ داسې وويشل شول ،چې کوم تنظيم يا اړخ ونه شول کړای داسې يوه اداره منځ ته راوړي چې د افغانانو اکثريت پرې راټول شي.
د محمود مستيري په مشرۍ د ملګرو ملتونو هيئت د سولې او ثبات لپاره په يولړ مقدماتي ليدنو کتنو سره د افغانانو په زړونو کې يو ځل بيا هيلې پياوړې کړې . په خاص ډول کله چې د يو شمير افغانانو سره د کويټې په غونډه کې پريکړه وشوه چې د يو مؤقت بيطرف حکومت جوړيدو لپاره به د يوې بيطرفې انتقالي شورا سربيره يو امنيتي بيطرف شل زره کسيز پوځ جوړوي تر څو د راتلونکي مؤقت حکومت نه ملاتړ وکړي.

خو له هغه وخت نه تر اوسه پورې ډير وخت تير شو او بې له يو څو تشريفاتي ليدنو کتنو نه ، چې هغه هم ډير يې په جنګ کې ښکيل اړخونو سره شوې دي ، بل هيڅ عملي ګام نه دی پورته شوی . همدا سبب دی چې هغه افغانان چې په رښتيا سره په خپل هيواد کې د سولې او ثبات غوښتونکي دي ډاريږي چې دا ځل بيا به د محمود مستيري د سولې پلان لکه د بينن سيوان د پلان په شان د ماتې سره مخامخ شي او هيواد به يې د څو نورو کلونو کورني جنګ په اور کې سوزي او يوائې پردي او د پرديو نوکران به ترې ګټه اخلي.
د ملګرو ملتونو هلې ځلې يوائې هغه وخت مثبتې نتيجې ته رسيدای شي ، چې زموږ په هيواد کې د جنګ ضد سوله غوښتونکو ځواکونو هلې ځلې سره يوځای او بيا د دې کورنيو ځواکونو او د نړۍ سوله غوښتونکو هيوادونو هڅې سره همغږې کړي ، د سولې ضد بهرنيو ځواکونو د لاسوهنو مخنيوی وکړي او بې له دې چې خپلو کارونو ته تبليغاتي جنبه ورکړي ، عملي ګامونه واخلي ترڅو مخکې له دې چې د سولې پروسه د سبوتاژ او دسيسې سره مخامخ شي د پلي کيدو شرايط يې برابر شوي وي .
همدارنګه د دې هڅو په تعقيب د ملګرو ملتونو پروګرام ته د استاد رباني نه تسليميدل د افغانستان کړکيچ ته د حل دلپارې د پيداکولو لپاره يو شمير نوي سياسي تحرکات رامنځته کړي دي . له دې جملې څخه يو هم په جلال اباد کې د ځينو تنظيمونو د رهبرانو راټوليدل او د هماهنګۍ شورا د نويو تصميمونو په رڼا کې يو شمير نوي حدثيات اوپوښتنې رامنځته کړې دي.
خوحقيقت دادی چې دپوځي کړکيچونو په اړوند د کورنيو او نړيوالو مشترکو تصميمونو د نيولو لپاره د سوله ايزو لارو غوره کول يو مثبت ګام او د اسلام د مقدس دين د اصولو او زموږ د ملي عنعناتو ډيره ښه

بيلګه ده . په دې ډول دا مسئله په ډاګه کيږي چې افغانان کولای شي د خپل هيواد برخليک په ټاکلو کې اساسي نقش تر سره کړي.
موږ په دې عقيده يو چې تفاهم اومشوره ، ملي ګټوته پر شخصي ګټو ترجيح ورکول ، ګذشت او دټولو تنګنظريواوملي او محلي تعصباتو ترک کول ، کولای شي افغانان د اوسني کړکيچ نه راوباسي ، د حل يوه لار منځته راوړي او دا زمينه مساعده کړ ي ، تر څو هغه هيوادونه او نړيوال سازمانونه ، چې دکومکونواو مالي مرستو وعده يې و رکړې ده د افغانستان د بيارغاونې او د افغانانو د مصيبتونو د ختمولو لپاره د عمل ميدان ته ورودانګي.

*- دا ليکنه د ۱۳۷۴ کال دحمل پر ۲۳ نيټه د ارمان جريدې په ۱۲ ګڼه کې په پيښور کې خپره شويده.

# د افغان مهاجرينو غميزه *

ډير عوامل کيداى شي د ميليونونو افغانانو د مهاجرت ، خپلو کورونو او هيواد د پرېښودو سبب شوي وي ، خو تر ټولو غټ عامل زموږ پر هيواد باندې د شورويانو له شرمه ډک خاينانه تيرى و چې زموږ يو زيات شمير هيواد وال مجبور شول د خپل سر او ناموس د ساتلو په خاطر د يرغلګرو سرو عسکرو تيري نه ځانونه په ډډه کړي .

دا يوه طبيعي خبره ده چې مخالفين او دښمنې خواوې تل هڅه کوي چې مقابل لورى کمزوری ، تجريد او د خلکو له ملاتړ نه محروم کړي . د يو پردي يرغلګر پوځ موجوديت ، د لاسپوڅي حکومت ظلم ،استبداد او اختناق ډير افغانان مجبور کړل چې له افغانستان نه ولاړ شي او د مخالفينو په ليکو کې ودريږي . له هيواد نه د دې دومره لوى شمير افغانانو وتل شورويان او هغوئ پورې تړلي حکومت مخالفين خوښ کړل او مهاجرينو ته يې د ډول ډول مرستو وعدې ورکړې .

تر څو چې دشورويانو ضد جهاد دوام درلو د تر هغې پورې د غربي هيوادونو ، ملګرو ملتونو ، سيمې او ګاونډيو هيوادونو مرستو دافغانانو سره د دوئ د خپلواکۍ اويا د بشر دوستانه مرستو په نوم کيدلې ، چې د افغانانو دبې ساري قهرمانيو او بې شانه ډيرو قربانيو له کبله شورويان نه يواځې په افغانستان کې له ماتې سره مخامخ شول ، بلکې ټول شوروي نظام د بحران او ړنګيدو په لور روان شو . د افغانانو د دې سترو برياوو صفتونه ټولې نړۍ پيل کړل او ځانونه يې د دوئ په مقابل کې چې شوروي ته يې ماتې ورکړې او د ړنګيدو سبب شوي وو مديون وګڼل او د لاډيرو مرستو وعدې يې ورکړې ، چې خپل وران ويجاړ هيواد بيرته اباد او ځانونه ښاد کړي .

خو لږه موده وروسته معلومه شوه چې د خولې وعدې او عمل ډېر توپير لري . په يو حيرانيدونکي ډول ټول هغه هيوادونه چې دافغانانو سره يې د هر ډول مرستو وعدې کړې وې او پخپله د ملګرو ملتونو مؤسسه دومره بې تفاوته شول چې تا به ويل زموږ له ستونزو هيڅ خبر نه دي . ځينو هيوادونو خو لا زموږ د جنګ ځپلو هيواد والو سره د مرستو پر ځای د خپل نفوذ د زياتولو په خاطر لاسوهنې زياتې کړې . د دې لاسوهنو له امله زموږ د هيواد ثبات لاپسې خراب او د تنظيمونو تر منځ د قدرت لپاره جګړې پيل شوې . چې په نتيجه کې بيا افغانان په وينو کې ليت پيت او په لکونو نور د خپلو کورونو پريښودوته مجبور شول .

د مهاجرينو نوې لړۍ په داسې وخت کې پيل شوه چې د نړۍ شوروی ضد ځواکونه خپلو هدفونوته رسيدلي وو . شوروي ړنګ شوی او ډېر هيوادونه يې له ښکيل نه خلاص شوي وو . همدا سبب و چې لږه موده وروسته د افغاني مهاجرينو پرمخ دګاونډي هيوادونو دروازې وتړل شوې اوځينو نورو هيوادونوخو لاپخوا په دې پلمه چې اوس خو د افغانانوخپل حکومت دی دټولو نړيوالو نورمونو ضد عمل وکړ او د افغان مهاجرينو پرضد يې نه يوازې دروازې وتړلې ، بلکې په زور يې له خپلو هيوادونونه په ډېر غير انساني ډول د ويستلو هڅې وکړې.

افغانان چيغې وهي چې په هيواد کې يې امن نه شته ، جنګ دی ، نه سر خوندي دی ،نه مال او نه ناموس. خو هيڅوک دا چيغې نه اوري او وايي چې اوس خو ستاسې خپل حکومت دی بايد خپل هيواد ته ولاړ شئ. په خاص ډول ايران چې افغانانو سره نه يوازې بايد بشر دوستانه مرستې وکړي ، بلکې د اسلامي ورونو په حيث ، چې ځانونه په ټولې نړۍ کې د مسلمانانو مدافعين بولي او د عوه کوي چې د جهاد په وخت کې يې مهاجرينو سره ډېره مرسته کړې ده ، اوس د يو ګاونډي هيواد په حيث خپلې دندې هيروي اوپه زرګونو افغانان له خپل هيواد نه په وهلو ټکولو

شړي. دا خو لا پرېږده چې دټولونړیوالو نورمونو خلاف غواړي چې په جاري کال کې د پنځو لکو نه زیات مهاجر په زور خپل هیواد ته ، چې نه پکې سوله شته ،نه ثبات ، نه کارشته او نه روزګار ، وشړي اود دغو غمځپلو هیوادوالو ژوند د خطر سره مخامخ کړي .

تر ټولو زیات شمیر افغاني مهاجرین پاکستان ته راغلي دي ، چې څه پخواني اوځه د اوسنیو جګړو اوستونزو له امله د خپلو ټاټوبو پریښودو ته مجبور شوي دي. تر څو دشوروي اتحاد په مقابل کې مهاجرو ځوانانو ته د جنګ کولو ضرورت و ، نو کورنیو سره یې هم بشر دوستانه مرستې کیدې ، خو کله چې دا ضرورت لیرې شو نو دامرستې هم ډیر ژر بندې شوې .

نوي مهاجرین ، چې په کابل کې د کمونستي رژیم په وخت کې په اوسیدو تورن دي حتی په پاکستان کې تش په اوسیدو او پریښودو باید له خدای نه شکر وکړي او نور هیڅ شی ونه غواړي. د نړۍ د نورو هیوادونو دروازې خولا ډیر پخواد دې جنګ ځپلواوکړیدلو انسانانوپرمخ تړل شوې وې.

ډیر کم شمیر مهاجرین د شناختي پاس او راشن کارت له نعمتونو نه برخمن دي چې د راشن مواد هم د ملګرو ملتونو اونورو دوستو هیوادونو د مرستو له امله نیمایي ته ورسیدل. د افغاني مهاجرینو ، په خاص ډول د نوو مهاجرینو ، چې اکثر یې تعلیمیافته او روښانفکران دي ژوند ډیر بیخونده او د ستونزو سره مخامخ دی . د عادي مزدورۍ نه نیولې تر خښتووهلو ، جوالي ګرۍ ، ریړې چلولو اونورو خواریو او غریبیو باندې خپلو کورنیو ته دومره مړۍ پیداکوي چې له لوږې مړه نه شي. همدارنګه د مهاجرینوسره دپولیسو تبعیضي بد چلند د ډیرو زړه له ژوند نه تور کړی دی او په دې ارمان دي چې کله به له دغه سپکاوي او زندۍ نه خلاصیږي. د روسانو نه خو ګیله نه ده په کار ، دوئ خو د خپلې

ماتې عقدې لري اويوزيات شمير مهاجرين په دې ويره کې دي چې کله به يې لکه د نورو په شان په بندي خانو کې اچوي اويا په زور له روسيې نه وکاږي.
د افغاني مهاجرينو غميزه په واقعيت کې د افغانانو په مقابل کې د تبعيض نه رازيږيدلې غميزه ده. دافغان مهاجرينو دچيغو په مقابل کې نړيوال غوږونه کاڼه دي. د قدرت ليونيان نشي کولای په خپلو پرديسو وطنوالو تنګ وکړي اووطن ته يې دبيرته راتلو په خاطر د ځو ورځو قدرت نه تيرشي اوسولې ته غاړه کيږدي. څه شول د بشر د حقوقو مدافعين چې د دې انساني کتلې د غميزې نه ځان خبر کړي او که بشر ورته ښکاري ملاتړ ترې وکړي او له حقوقونه يې دقاع وکړي . په اسلام کې خويومسلمان پر بل مسلمان حقونه لري او ګاونډيان بيا لا زيات پر ګاونډيانو حق لري چې د تنګسې په وخت کې مرسته ورسره وکړي .آيا د اسلام طريقه همداسې ده چې په زور دې مسلمان ګاونډيانوسره اول د ځارويو په شان چلندوشي او بيا دې دښځو او کوچنيانو په ګډون په دښتو کې وغورځول شي. ايا ملګري ملتونه د افغان مهاجرينو په مقابل کې ځان مکلف ګڼي چې د ستونزو په اواري کې يې عملي ګامونه واخلي ؟ د افغان مهاجرينو د تراژيدۍ مسؤل څوک دی ؟ چې پوښتنه ترې وشي چې کله دا تراژيدي پای ته رسيږي ؟ او چې ترڅو دا تراژيدي نه وي ختمه شوي او افغانانو ته خپل وطن کې د اوسيدو امکانات نه وي برابر شوي هم ملګري ملتونه او هم ګاونډي او نور هيوادونه ځان مکلف وبولي چې د دغه قهرمان خوژوبل ژوبل ملت سره به خپلو انساني مرستو ته دوام ورکوي .

---

*- دا ليکنه د ۱۳۷۴ کال د ثور په ۳ نيټه دارمان جريدې په ۱۳ ګڼه کې په پيښور کې خپره شويده .

# افغاني ټولنه هر اړخيزې بيا رغاونې ته اړتيا لري *

د پرديو تيري ، لاسوهنې او شپاړس کلنې ورانوونکې اوږدې جګړې نه يوائې زموږ د ميليونونو هيواد والو د وژلو ، معيوبيدو او مهاجرت سبب شوې دي ، بلکې زموږ د ټولنې بنسټونه يې نړولي او هر څه يې د خاورو سره خاورې کړيدي .
په دې کې شک نه شته چې د دې ورانو شوو کورونو ، ښوونځيو ، روغتونونو ، لارو او نورو شخصي او عام المنفعه ځايونو بيا جوړول او د دې دومره شاړو ځمکو او باغونو بيا ابادول به ډير وخت او د سترو پانګو لګښت وغواړي ، خو بيا هم کيداى شي او د افغانستان زيارکښ او غيرتي ولس به يې له هر چا نه ژر او ښه جوړ کړي.
خو څه شی چې له دې نه سخت او ګران کار دی ، هغه زموږ د ټولنې د ټولو نړيدلو بنسټونو بيا جوړونه ده . آيا هغه سياسي ، اداري ، نظامي ، اقتصادي، فرهنګي او کلتوري سيستمونه چې ړنګ شوي او يا له منځه تللي دي کيداى شي بيا جوړ او لکه د يومتمدن هيواد په څير په منظم ډول خپل فعاليتونه پيل کړي ؟ دا هغه پوښتنه ده چې هر وطنپال افغان يې له ځان او نورو څخه کوي.
همدارنګه څوک او په څه ډول به د هغو ميليونونو د کارور او په کار پوه افغانانو ځای ونيسي چې يا خو شهيدان شوي يا معيوب او يا له وطن نه وتلو ته مجبور شوي دي. د زرګونو فني اومسلکي افغان کدرونو پوهه ، تجربه په نورو هيوادونو کې د غيرفني او غير مسلکي کارونو په کولو سره ورو ورو له منځه ځي او راتلونکي نسلونه چې په جنګ کې پيدا او لوی شويدي او له هر ډول مؤثرې ښوونې او روزنې نه بې برخې دي نه شي کولای دغه تشه ډکه کړي.

پر دې سر بيره هغه معنوي او اخلاقي نيمګړتياوې چې د پرديو د توطيو او ناوړه جګړه ايزو شرايطو له امله په افغاني ټولنه کې منځته راغلي دي په واقعيت کې د افغانانو لپاره داسې يوه غميزه ده چې افغانيت يې د سترګو ابن سره مخامخ کړی دی.
د خپل هيواد افغانستان د خپلواکۍ او افغان کليمې سره مينه ، ميړانه ، د ناموس ،پت او امانت ساتنه ، په هوډ ودريدل او ټولو افغاني منلو دودونو ته په درنه سترګه کتل او داسې نور د اکثرو افغانانو هغه غوره صفتونه دي ، چې په خواشينۍ سره اوس په ډيرو کې نه ليدل کيږي .
همدا رنګه د اخلاقو کمزوري بله هغه ناوړه پيښه ده چې د افغانستان پای ته نه رسيدونکې غميزې په ترخ کې د ځينو افغانانو په برخه شويده.
بې تفاوتي ، د خپل وطن او خلکو نه پردی والی ، ملي ګټو ته شا کول ، د نورو هيوادونو دناوړه رواجونو او منفي پيښو اغيزې لاندې راتلل هغه معنوي انحطاط دی چې بايد زموږ هيواد وال ترې وژغورل شي .
زموږ د دښمنانو هلې ځلې دا دي چې افغانان په هر اړخيز ډول وځپل شي . له ملي مشرتابه نه محروم او په مادي او معنوي لحاظ دومره کمزوري او بې وسې شي چې بيا په اسانۍ سره د يو باتور ملت په حيث په پښو و نه دريږي. دښمنانو نه يوازې زموږ حال د تباهۍ سره مخامخ کړ ، بلکې زموږ راتلونکی يې تت او تياره کړی او غواړي ټول تاريخي وياړونه مو غلا کړي ، چې تر څو د تاريخ په رڼا کې بيا د افغان په نوم د يو واحد ملت په حيث د يرغلګرو او توطيه ګرو د سترګو اغزی نه شو .
د دې ناولې موخې د لاسته راوړلو لپاره زموږ دښمنانو د افغانانو د بيلو بيلو کتګوريو له کمزورتيا نه ګټه اخستې ده . يو شمير يې هغه کسان د ي چې په پرديو خرڅ شوي دي او د خپلو شخصي ګټو لپاره هر ډول ، فساد خيانت او ټيټوالي ته تيار دي . بله ډله هغه افغانان دي چې د جهالت او ناپوهۍ په تورتم کې ژوند کوي ، د خپلواکۍ او ملي ګټو په ارزښت نه

پوهیږي لکه د لیونیانو په شان خپل کورته پخپله اور اچوي او خپلې ټولې مادي او معنوي شتمنۍ له منځه وړي. دریمه یې هغه ډله ده چې د ډول ډول فشارونو له کبله یې خپل هیواد پریښی ، پردیو ته یې پناه وړې ، د بل چا چوپړ ته یې غاړه ایښې او ځینې وخت خوبیا د مجبوریت له مخې کیدای شي د خپل ملي غرور ، عزت او وقار نه تیر شي او د ذلت ژوند غوره کړي .

د دې لپاره چې زموږ د دښمنانو توطیې شنډې شي ، باید ټول ملت د بې توپیرۍ نه راووځي ، د پردیو نوکرانو مخه ونیسي ، د ناپوهه کسانو د پوهولو لپاره متې راونغاړي او پرې نه ږدي چې ځینې وطنوال یې د بیوسۍ له کبله سر ټیټۍ ته ملا وتړي .

زموږ افغاني ټولنه نه یواځې مادي بیا جوړونه غواړي ، بلکې له دې نه زیات هم معنوي بیا رغاونې ته اړتیا لري ، چې د ټولو غوره افغاني صفتونو سره نوی نسل منځ ته راشي ، تر څو بیا همدغه افغان د خپلې ویجاړې شوې ټولنې د بیا رغاونې جوګه شي.

د دې لپاره چې زموږ له ویاړه ډک افغانستان د نړۍ د سرلوړو هیوادونو په کتار کې بیا ودریږي د ټولو ملي فرهنګي او سوله غوښتونکو ځواکونو او په خاص ډول د پوهې ، تورې او قلم خاوندانو ګډو هلو ځلو ته اړتیا ده ، تر څو د سولې او ثبات لپاره د تیت ا و پرک فعالیتونو پر ځای یو واحد د سولې او بیا رغاونو غورځنګ منځ ته راوړي ، چې لومړی سوله تحمیل کړي او بیا په خپل هیواد کې هر اړخیزه بیا رغاونه سرته ورسوي.

---

*- دا لیکنه د ۱۳۷۴ کال د ثور په ۱۲ نیټه د ارمان جریدې په ۱۴ ګڼه کې په پیښور کې خپره شوې ده .

# يووالی د ژغورنې يوائنی لار *

هر کله چې افغانان سره يوشوي دي ، تاريخ يې جوړ کړی دی او کله چې يې يووالې مات شوی دی له ستونزو کړاوونو ، تيري ، ظلم ، سپکاوي اوماتې سره مخامخ شوي دي. په خاص ډول دهغو افغانانو يووالی ، چې د پوهې ، تورې او قلم خاوندان دي او دخپل هيواد په وړاندې ځان د خدمت کولو مکلف ګڼي د وطن د برخليک سره تړلی دی .
بهرني هيوادونه ، دوستان اودښمنان ، د همدغو افغانانو په يووالي حساب کوي. نو ځکه د افغانانو دښمنانو تل هڅه کړې ده چې دخپل هر کرغيړن پلان عملي کيدو لپاره لومړی تر هر څه دغه وطن اوخلکو ته وفادار ځواک بې اتفاقه ، کمزوری او له منځه يوسي .
د ځينو سياسي مشرانو کمزوری لکه بې ځايه غرور او ځينې وخت د قومي ، ژبني ، سمتي او محلی تاثيراتو تر اغيز لاندې راتلل هغه عوامل دي چې د ملي او سياسي شخصيتونو ترمنځ دوستي يې په دښمنی اړولې او په دې توګه يې ستر ملي ځواکونه په خپلو منځو کې اچولي ، کمزوري کړي اوپه اخر کې له منځه وړي دي .
زموږ د هيواد په غميزه کې که له يوې خوا بهرنيو توطيه ګرانو او دهغوئ ګوډاګيانو خپل ناولی رول ولوباو خو له بل پلوه ځينو اغيزناکو سياسي شخصيتونو چې د ډيرو وړو شيانو په خاطر يې يو بل سره دښمني پيل کړه او په دې ډول يې ملي ځواکونه چې د افغانستان د لوړتيا او پرمختګ لپاره ضروري وو کمزوري او تيت او پرک کړل ، هم له مسئوليت نه نه شي خلاصيدای .
سياسي مشران که چيرته د ملت ګټې له بل هر ډول ګټو نه لوړې ونه ګڼي و به نه شي کړای چې بيلابيل قومونه او ځواکونه د ملت په سطحه راټول کړي او د مشرتابه دغه تشه ډکه کړي .

زموږ په هیواد کې د بهرنیو تیري کوونکو د تورې تیره څوکه د هغه چا په لور وه او ده چې ملي ګټې یې شخصي ګټو ته لوړې بللې دي او د یوملي تحریک په سرکې یې ځای درلود .ځینو افغاني شخصیتونو د ډیرو وړو اختلافونو په خاطر په خپل منځ کې یوبل سره داسې ډغرې ووهلې چې سرونه او ورمیږونه یې مات شول او د دښمنانود تیریو دشنډولو توان یې له منځه ولاړ . دوئ په یونوم او بل نوم ځانونه یوبل نه دومره لیرې ویستل او دښمنانو ته یې موقع ورکړه چې په اسانۍ سره یې خپل د عمرونو ډک زړونه خالي کړل او هیڅ یې په وهلو نه مړیږي .

دا خو وشول ، وطن مو هم وران شو ، خلک مو هم ژوبل ژوبل ، تیت اوپرک او له کړاوونو او غمونو سره مخامخ شول ، خو لا تر اوسه ژوندي دي او په دې تمه دي چې وطن به یې جوړیږي او بیرته به د متمدنو انسانانو په حیث په خپل وطن کې په سرلوړۍ ژوند کوی اوبیا به د وطن د ابادۍ په پروسه کې کارنده برخه اخلي . خو دښمنان یې دې ته نه پریږدي او خوا یې لا یخه نه ده ، غواړي بیخي نوم او نښان یې ورک شي ، بې وطنه شي او د یو مستقل ملت په حیث بیا سر راپورته نه کړي . که ژوند کوي نو د یو مریي په حیث ژوند وکړي او دنورو د خندا ،سپکاوي ، تیري او تهدید لاندې ژوند وکړي. آیا دا ورکیدل نه دي ؟دا له منځه تګ او مرګ نه دی ؟

دښمنانو اول افغانان په خپلو منځونو کې واچول ، کمزوري یې کړل او بیا غواړي جدا جدا یې د ځانونو مریان کړي . په خپلو سترګو یې وینې چې بې اتفاقۍ کوم ځای ته راورسول خو بیا هم هر یو وایي چې زه یم، په دې یې ځانونه د نشت کندې ته روان کړي دي. لکه چې وایي: که زه ووایم زه یم او ته ووایې زه یم - نه به ته یې نه به زه یم ؛ خو که زه ووایم ته یې او ته ووایې ته یې – هم به زه یم هم به ته یې.

اوس چې افغانان د نشت د کندې په غاړه ولاړ دي نوآيا بيا دې هم هر يو وواييي چې زه يم ؟ نه ! د دې لپاره چې دې کندې ته غوځار نه شي بايد له هر ډول لوړتيا غوښتنې ،شخصي ، ګروپي ،قومي ، ژبني او سمتي ګټو نه تير شي او په اګاهانه ډول يو بل ته وواييي چې ته يې ! او د باور وړ داسې يو شخصيت مخکې کړي ، چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي. تر ځو وکړای شي خپل سرلوړی افغانستان له هر ډول دسيسو او توطيونه وژغوري او د تاريخ په دې نازکو شيبو کې د خپل وطن او خلکو په وړاندې خپله ملي او اسلامي دنده تر سره کړي او ځانونه له ورکيدو نه بچ کړي.

*- داليکنه د ۱۳۷۴ کال د ثور په ۳۰ نيټه د ارمان د جريدې په ۱۵ ګڼه کې په پيښنور کې خپره شويده.

## پراخه ملي جبهه – د هیواد د ژغورنې لار *

وايي: که غر لوړ دی پر سر يې لار شته. هره ستونزه که څه هم ډيره پيچلې وي ، خو بيا هم د اواريدو لار لري. شرط يې دادی چې او ل پرستونزه سرې ښه پوه شي او بيا ورته د اواريدو لار پيدا کړي. د ستونزې د منځته راتګ علتونه ، د اواريدو لارې او د عمل سرې بايد پيداشي تر څو ستونزه حل او له مخې ليرې شي.

د افغانستان غميزه ( تراژيدي ) د شوروي يرغلګرو ځواکونو په تيري سره پيل او تر اوسه نه يواځې دوام لري ، بلکې لا پسې پيچلې او ژوره شوې ده. بايدد شوروي ځواکونودماتې او وتلو سره سم له منځه تللې وای. خو څرنګه چې ځينې علتونه لا اوس هم شته له منځه ولاړه نشوه ، پراخه او ژوره شوه.

د روسانو په ګډون د ځينو بهرنيو هيوادونو د لاس وهنو دوام ، د قوم ، مذهب او سياسي ډلو په اړوند د ځينو وسله والو ځواکونو رامنځته کيدل او دقدرت لپاره د دوئ تر منځ جنګونه او د داسې يو ملي زعامت ، چې د افغانانو اکثريت ته دمنلو وړ وي ، نشتوالی د دې سبب شويدي چې زموږ جنګ ځپلي هيواد کې سوله او ثبات ټينګ نه شي.

هغو ليډرانو چې د جهاد په دوران کې د بهرنيو هيوادونو په مرسته يې ځانونو ته وسله وال ټولګي جوړ کړي وو او ځينې ځايونه يې تر تسلط لاندې دي ونه شول کړای په خپلو منځونو کې يوشي او يو مرکز ي سر ترسري حکومت منځته راوړي.

د قدرت پر سر جنګونو ډير زيات ځاني او مالي تلفات زموږ بيګناه خلکو ته ورسول ، کابل وران شو او د افغانانو نړيوال اعتبار ته ستر تاوان ورسيد. دا خو څه چې اوس مو د هيواد ځمکنۍ بشپړتيا ، استقلال او ملي حاکميت د ستر ګواښ سره مخامخ دي.

ملګري ملتونه او نور هيوادونه چې د شوروي د اشغال په وخت کې د افغانانو تر شا ولاړ وو اوس ډېر بې تفاوته شوي او وايي چې افغانان نه غواړي چې هيواد کې يې سوله ټينګه شي نو موږ به څه وکړو ؟ رښتيا وايي : موچي ته هغه ځي چې پښې يې سوزي . د سولې د ټينګيدو لپاره بايد هغه څوک هلې ځلې وکړي چې د جنګ په اور کې سوزي.

دلته د ملګرو ملتونو او يو شمير نورو هيوادونو ستره اشتباه په دې کې وه چې دوئ سوله له هغه چا نه غوښتله چې جنګ کې يې ګټه موندلې ده . سوله هغه څوک غواړي چې جنګ کې يې تاوان وي . د افغانستان مظلوم خلک ، دا چوپ اکثريت ، چې په جنګ کې يې ستر ځاني او مالي تاوانونه ګاللي دي د سولې رښتياني غوښتونکي دي.

خو که سوله غوښتونکي د شمير له پلوه هر څومره ډېر هم شي په تيت او پرک ډول هيڅ شی نه شي کولای . سوله بايد پر جنګ تحميل شي او د دې لپاره چې سوله تحميل کړي بايد د سوله غوښتونکو يو منظم سياسي ځواک چې پکې د سولې ، دموکراسۍ او ملي يووالي پلويان راټول شوي وي منځته راشي . دا منظم سياسي ځواک ، چې پکې بې له تبعيض نه د افغانستان د مسئلې د سوله ايز حل ټول پلويان راټول شي کيدای شي د يوې پراخ بنسته جبهې په شکل منځته ته راشي .

که چيرته په دې پراخې ملي جبهې کې ټول ملي شخصيتونه ، د قومونو مشران ، روحانيون ، ديني عالمان ، روښانفکران ، سوله غوښتونکي جهادي قوماندانان او په سياسي ډلو اړ تنظيمونو پورې تړلي هغه کسان چې د دې بحران د سوله ايز حل پلويان وي ، په يوګډ پلاټفورم راټول شي او د يو ملي زعامت د رامنځته کيدو لپاره هلې ځلې وکړي ، يقين دی چې په ډېر کم وخت کې به په ملي او نړيواله سطحه ملاتړ ترې وشي او د سولې داسې يو غورځنګ به رامنځته شي چې هيڅوک به يې د مخنيوي توان ونه لري .

نو ځکه له ټولو ملي وطنپالو شخصیتونو څخه ، چې له دې جاري غمیزې نه د خپل وطن او خلکو د خلاصون لپاره د هیڅ ډول سرښندنې نه ډډه نه کوي ، په کلکه غوښتل کیږي چې د یوې پراخې ملي جبهې په جوړیدو کې له هیڅ ډول هڅې او هاند نه سر ونه غړوي او په دې ډول هیواد له تباهۍ نه وژغوري . خدای دې نه کړي چې سباته به لاسونه مروړي او وخت به ترې نه تیر وي .

*- دا لیکنه د ۱۳۷۴ کال د جوزا په ۱۴ نیټه د ارمان د جریدې په ۱۲ ګڼه کې په پیښور کې خپره شوې ده .

# یو والی *

وایې : یو کور چې سره یو شي نو بیا کلي ته رسیږي ـــــ چې کلي سره یو شي د ولس ځلي ته رسیږي
چې بیل شي نو کمزوري شي په ّهیڅ کې شمیره نه شي ـــــ بیلوالي کې درانه خلک سپک خلي ته رسیږي
بیخي همدا کار پر درنو ، غیرتمنو ، پتمنو او په خپلواکۍ مینو افغانانو شویدی. دبې اتفاقۍ له کبله دوه لسیزې کیږي چې هیواد یې د جګړو په اور کې سوزي. او په دې اور کې یې هر څه له لاسه ورکړل. دغه میړني خلک چې د نړۍ سترو قدرتونو ته یې سر نه ټیټاوه اوس د نړۍ پر سر له هر چانه بې وزله ، کمزوري ،ناروغه ، وږي ، بربنډ ، بې وطنه او د ډول ډول سپکاویو ، ظلم او نهیلیو سره مخامخ دي. نه یې په خپل هیواد کې ګوزاره کیږي ، نه په بل هیواد کې.
زموږ له ویاړونو ډک هیواد افغانستان ، د نړیوالو په نظر کې داسې انځور شوی دی چې بې له بدیو لکه جګړې ، د بشر حقوقو ته نه درناوی ، تروریزم ، د مخدره موادو تولید ، بې فرهنګۍ ، ټوپک واکۍ او د ژوند ډول ډول ستونزو او کړاوونو څخه پکې بل شی نه پیدا کیږي اوخلک یې دومره بې وسه او کمزوري دي چې ځان له دې تدریجي مرګ او بربادۍ ځنې نه شي ژغورلای. هره ورځ د نړۍ د مختلفوهیوادونو له رادیو ګانو او تلویزیونونونه زموږ د هیواد په هکله داسې خپرونې کیږي چې په اوریدو او لیدو یې هر رښتینی افغان شرمیږي او ویلې کیږي. چې د ا ټول د افغانانو د نه یووالي ، بې اتفاقۍ او ځان ځانۍ زیږنده ده. دا چې دا بې اتفاقي او ځان ځاني د ځان غوښتنې نتیجه ده اوکه د پردیو د لمسونو او لاسوهنو. خو یوشی په ګوته کوي او هغه دا چې پر ملي ګټو شخصي او ګروپي یا قومي ګټې لوړې ګڼل د اوسنۍ غمیزې په دوام کې مرسته کول

دي او دا پخپله زموږ دکړیدلو خلکو په مقابل کې جفا ده چې دوئ به یې هیڅکله و نه بښي .
نن د هر با شعوره افغان ملي او اسلامي دنده ده چې زموږ د کړیدلو مسلمانوخلکود غمیزې دپای ته رسیدو په خاطر ټول قومي،ژبني ، مذهبي او سیمه ایز اختلافونه څنګ ته کړي او د هغه څه په خاطر ، چې د ټولو افغانانو پت ، عزت ،تاریخ ، ویاړ او سر لوړي پکې یوشان خوندي دي او دا زموږ دټولو افغانانو شریک هیواد ، افغانستان دی ، یوتر بله لاسونه ورکړي او په ګډه خپل دا شریک د افتخار وړ ټاټوبی له بربادۍ نه وژغوري . بس همدې موخې ته د رسیدو په خاطر د افغانستان ملي یووالي سازمان خپل نشراتي ارګان باندې د (یووالي) نوم کیښود او هیله لري چې په دې لار کې به د ټولو ملي ، هیواد پالو سوله غوښتونکو افغانانو په نژدې کیدو او یو کیدو کې خپلې دندې سرته ورسوي .
موږ په ټینګه وایو چې ( یووالی ) به د ټولو په هیواد مینو افغانانو د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي په ټینګیدو کې او د واقعیتونو نه په دفاع او راسپړلوکې په بشپړې ازادۍ د هغوئ د نظریاتو ښکارندوی وي. (( یووالی )) به هڅه وکړي د افغان مهاجرینو د هیلو او غوښتنو د ښکارندوې خپرونې په حیث خپلې دندې سرته ورسوي. ((یووالی )) به هیڅکله په دروغو ولاړ تبلیغات خپاره نه کړي اونه به داسې کوم مطلب خپور کړي چې له هغه نه د قومي ،ژبني ،مذهبي ،سیمه ایز او یا نورو تعصباتو بوی راشي او زموږ د خلکو د ملي یووالي د کمزوري کیدو سبب شي . موږ د هیواد ټولو درنو پوهانو ،لیکوالانو، سیاسي او ټولنیزو شخصیتونوته بلنه ورکوو چې د افغانانو د ملي یووالي د ټینګیدو او د خپلو هیواد والود عمومي پوهې د سطحې لوړیدو لپاره خپل ارزښتناک نظریات او مطالب ((یووالي )) ته راولیږي .

* - داليکنه د ۱۳۸۰ کال د زمري پر ۲۸ نېټه د يووالي د جريدې په لومړۍ
ګڼه کې په هالنډ کې خپره شويده .

# آیا د خپلواکۍ جشن ولمانځو ؟ *

۸۲ کاله مخکې زموږ نیکونو او پلرونو د هغه وخت یو لوی استعماري ځواک برطانیې نه ، د بې ساري سترو سربښندنو په نتیجه کې ، خپله خپلواکي تر لاسه کړه . په خپل هیواد او خپلواکۍ مین افغانان په تش لاس ، خود افغاني هوډ ایمان او ټینګ یووالي سره د انګریز انو د امپراتورۍ په مقابل کې ، چې په ډیرو عصري وسلو وسله واله قوي اردو او بې شانه مادي امکانات درلودل او نژدې ټوله نړۍ یې د خپل استعماري جیغ لاندې راوستې وه ، راپاڅیدل او په چړو ، تورو ، تبرګو او چقمق ټوپکونو یې دغې ځواکمنې اردو ته داسې شرموونکې ماتې ورکړه ، چې انګریزانو ته بله لار پاتې نه شوه بې له دې چې زموږ خپلواکي په رسمیت وپیژني.

همدارنګه کله چې شورویانو د ټولو نړیوالو نورمونو پر خلاف زموږ پر خپلواک هیواد له شرمه ډک غلچکی تیری وکړ او فکر یې کاوه چې د حفیظ الله آمین د خپلواک او ملي حکومت په نسکورولو به ځان او د ببرک کارمل په مشرۍ ګوډاګی حکومت د سرو لښکرو په زور په افغانانو وتپي ، بیا هم د خپل هیواد د خپلواکۍ نه د دفاع په خاطر د افغانانو د بې ساري کرکې او مقاومت سره مخامخ شول .

شورویانو پوره لس کاله د افغانانو په ځپلو او د افغانستان په ورانولو کې له هیڅ ډول توطیې او بیرحمۍ نه ډډه ونه کړه ، سلګونو زره افغانان له منځه ولاړل او هیواد یې په کنډوالو بدل شو ، خو تیري کوونکو ته یې سر ټیټ نه کړ . کله چې افغانان په یو اواز او یووالي سره د شورویانو د تیري په مقابل کې ودریدل ،نړیو الي ټولنې هم ترې ملاتړ وکړ چې په نتیجه کې د دوئ د بې ساریو سربښندنو له امله شورویان مجبور شول زموږ له هیواد نه ووځي .

خو کله چې د شورویانو او یو شمیر ګاونډیو هیوادونو او د دوئ د لاسپوڅو د توطیو له امله د افغانانو خپل منځي یووالی له منځه ولاړ ، نه یوائې بشپړه خپلواکي اوسوله د افغانانو په برخه نه شول ، بلکې ټولې هغې ویاړنې او بریاوې چې افغانانو د شورویانو سره د جهاد په وخت کې ترلاسه کړې وې له لاسه ولاړې ، خپلمنځي جګړې پیل ، د افغانستان په چارو کې بهرنۍ لاسوهنې د رسوایي تر پولې ورسیدې او د افغانانو هغه غمیزه چې د شورویانو په تیري سره پیل شوې وه نه یوائې دا چې له منځه ولاړه نه شوه ، بلکې دوام یې وموند او لاپسې ژوره شوه .

د بهرنیو ملاتړ کوونکو په مرسته ځینووسله والو ډلو په پر له پسې ډول د کورنیو جګړو له منځ نه د حکومتونو د جوړولو ادعا ګانې وکړې ، خو یوېې هم په یو واقعي خپلواک ملي سرترسري حکومت بدل نه شو او د هغو دندو د سرته رسیدو له عهدې نه ،چې یو خپلواک ملي حکومت یې د خپلو خلکو په مقابل کې لري ، و نه وتل .جګړې لا د پخوا په شان دوام لري ، زموږ په چاروکې د بهرنیو هیوادونو د لاسوهنو مخنیوی نه دی شوی ، اوس هم په میلیونونو افغانان له هیواد نه بهر د مهاجرت په حالت کې د بې شماره ستونزو ، کړاوونو او نهیلیو سره ژوند کوي . هغه افغانان چې د هیواد په دننه کې دي د خپلمنځي جګړو له ستونزو نه برسیره لوږې ، ناروغۍ ، بې کورۍ ، بیکارۍ ، د ښوونې او روزنې نشتوالي اود ډول ډول ناروا ستونزو او فشارونو سره مخامخ او د بشري ټولنې علمي اوفرهنګي لاسته راوړنونه بیخي محروم او لرې ساتل شوي دي . د یو هیواد بشپړه خپلواکي یوائې په دې نه ده چې په دغه هیواد کې بهرني وسله وال ځواکونه نه شته . بشپړه خپلواکي هغه وخت منځته راتلای شي ، چې د سیاسي خپلواکۍ تر څنګ یو هیواد له نظامي ، اقتصادي او فرهنګي پلوه خپله خپلواکي تر لاسه کړي. او دا هغه وخت

امکان لري چې د سیاسي خپلواکۍ د لاسته راوړو نه وروسته د خلکو په خوښه منځته راغلی حکومت چې د خپلو خلکو د غوخ ملاتړ نه برخمن وي د یوعلمي پلان او پروګرام له مخې نظامي ، اقتصادي او فرهنګي خپلواکیو ته د رسیدو لپاره د ملي او نړیوالو منابعو نه مؤثره ګټه واخلي. خو په خواشینۍ سره په افغانستان کې داسې ونه شول او د بشپړې خپلواکۍ لپاره لا هم نورو سرښندنو او مبارزې ته ضرورت دی .
بشپړه خپلواکي د افغانستان د خلکو مشروع حق دی ، هیڅوک نه شي کولای چې زموږ پر دې حق سترګې پټې کړي. هر څوک چې هڅه وکړي چې افغانان له دې حق نه محروم کړي ، هغوئ زموږ د خلکو رښتیاني دښمنان دي . خو لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه له هر څه نه لومړی د خلکو په خوښه د یو خپلواک دولتي نظام ، چې د ټولو افغانانو له ملاتړ نه برخمن وي ، منځته راوړل ضروري دي . دا لومړۍ ازموینه ده چې د افغانستان د خلکو دوستان او دښمنان په ګوته کوي. هر څوک چې د داسې یو حکومت د منځته راوړو لپاره چې د خلکو د خوښې او ملي واکمنۍ ښکارندوی وي ، هلې ځلې وکړي د خلکودوستان او که څوک یې مخه نیسي او اوسني حالت ته دوام ورکوي د خلکو دښمنان دي .
موږ په داسې حال کې د افغانستان د خپلواکۍ ۸۲ کلیزه لمانځو او دخپلو پلرونو او نیکونو دا هوډ تازه کوو چې هرو مرو به خپلې بشپړې خپلواکۍ ته رسیږو او زموږ له ویاړه ډک هیواد ، افغانستان ، به بیا د نړۍ د سیالو هیوادونو په لیکه کې ودریږي.

*- دالیکنه د۱۳۸۰ کال د زمري پر ۲۸ نیټه د یووالي د جریدې په لومړۍ ګڼه کې خپره شوې ده. د یووالي جریده ، د افغانستان ملي یووالي ګوند نشراتي ارګان، دهالنډ دآسن په ښار کې په نوموړې نیټې په خپریدو پیل وکړ.

# دټولو ملي دموکراتو شخصیتونواو ځواکونو ځنې د ((یووالي)) غوښتنه*

په دې تاریخي شیبوکې د ټولو ملي دموکراتوشخصیتونو او ځواکونو یووالی له بل هر وخت څخه د ستر اهمیت وړ او زموږ په غمځپلي هیواد کې د ملي زعامت د تشې د ډکیدو او د سولې اوثبات د ټینګیدو مانا لري.
په هیوادکې د ملي زعامت تشه ، د یو ملي متحد سرترسري حکومت د نشتوالي له امله د ډیرو کلونو راهیسې موجوده وه ، خو که داتشه د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو جبهه اویا ائتلاف ډکه نه کړي ، په دې کې شک نه شته چې نه یواځې سوله او ثبات به منځته رانه شي ، بلکې هیواد به د غچ اخستونکو جګړو ، انارشۍ او د غمیزې له پاسه غمیزه کې ډوب اودا ځپل شوي افغانان به لاپسې د بربادۍ کندې کې لویدو ته نژدې شي.
هر ډول حکومت که جوړیږي باید د ټولو ملي وطنپالوشخصیتونو او ځواکونو ملاتړ ځان سره ولري او په دې ډول د هیواد د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو له ټینګ ملاتړ نه برخمن ووسي . یواځې همدا ډول حکومت کولای شي په هیواد کې د سولې او ثبات د ټینګیدو جوګه شي .
هیڅ یو ګوند ، جګړه ایزه ډله اوشخصیت نه شي کولای په یواځې ډول د ملي زعامت د تشې د ډکیدواو په هیواد کې دسولې او ثبات د راوستلو وس ولري .
د شمال اتحاد د هغو جګړه ایزو ډلو د پاتې شونو یوه مجموعه ده چې د شلو کلونو څخه زیات په جګړو کې بوخته او ځان د تاجکو ، ازبکو او هزاره قومونو نماینده ډله بولي. خو ډیر یې د جمعیت تنظیم د نظار د

شورا غړي دي. اولکه څرنګه چې طالبان د پښتنو نماینده‌ګان نه دي ، د شمال اتحاد هم په هیڅ ډول د ټولو اقلیتونو نماینده‌ګي نشي کولای. همدا سبب دی چې د نظار شورا او د وحدت ګوند او دوستم د ملیشې ځواکونو تر منځ ځوځلې په مختلفو وختونو کې خونړۍ جګړې پیښې شوي او د دې اتحادبې ثباتي او کمزورتیا یې په ډاګه کړې ده.

له همدې کبله د شمال اتحاد بایدداهڅه ونه کړي چې د ټولو افغانانو دیوواحد قوت پر ځای ځان لپاره د قدرت په لټه کې شي او په دې ډول د یو پراخ بنسټ حکومت د جوړیدو په مخکې خنډونه پیدا کړي. بلکې هلې ځلې وکړي چې د ټولو افغانانو د ملي یووالي د ټینګیدو په نتیجه کې داسې یو حکومت منځته راشي چې په هغه کې د ټولو قومونو ، سیاسي او ټولنیزو ډلو استازي بې له هر ډول تبعیض نه ځان شریک وګڼي او د زړه له کوني ملاتړ ترې وکړي.

د افغانستان پخوانی پادشاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په هغه وخت کې د ملي یووالي د سمبول په حیث په هیواد کې د سولې او ثبات په منځته راوړو کې بریالی کیدای شي چې د هیواد ټول ملي ، دموکرات شخصیتونه اوځواکونه په یوه خوله شي اوټول سوله غوښتونکي افغانان یې تر شا ودروي اوپه شریکه د هغو توطیو د شنډولو لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړي ، چې د ځینو هیوادونواوکړیو له خوا د یوسرترسري ، د ټولو خلکو نماینده حکومت د جوړیدو په مقابل کې سرته رسیږي.

باید زموږ د جګړو ځپلي هیواد د تاریخ نه زده کړو ، چې بې اتفاقۍ ، ځان غوښتنې ، شخصي او ګروپي ګټې له ملي ګټو نه لوړ بلل هیواد د ناورین او بربادۍ خوا ته راښکه. او که وروسته له ډیرو ترخو تجربونه بیاهم ونه شو کړای چې جاري غمیزې نه ځان وباسو ، دا به اخري چانس اوموقع وي چې له لاسه یې ورکوو او د افغانستان خپلواکي ، ځمکنۍ بشپړتیا او

ملي واکمني به مو بايللي وي او د ملامتيا تور ځنځير به مو تر قيامته په غاړه کې پروت او راتلونکي نسلونه به مو و نه بښي .
همدا رنګه له تاريخ نه بله تجربه اخستل هم پکار دي او هغه دا: چې تر څو افغان ملي – دموکرات شخصيتونه او ځواکونه په ټينګ يووالي سره د ملي زعامت دغه تشه ډکه نه کړي او د افغان ملت باور تر لاسه نه کړي ، له بهر نه د زعامت په تپلو به په افغانستان کې سوله او ثبات ټينګ نه شي .
او کيدلی شي چې تشدد ، مرګ ژوبله او بربادي پراخه پرګنې په مخالفت کې ودروي .
نو ځکه پکار دي چې د بيګناه افغانانو له وژلو نه په کلکه ډډه وشي اود نظامي لارو پر ځای داسې سياسي لارو چارو نه کار واخستل شي چې ټولو افغانانوته د منلو وړ وي . تر څو په نتيجه کې سوله ټينګه اوداسې يو حکومت منځته راشي چې د افغانانو د غوڅ اکثريت له ملاتړ نه برخمن او اوسنيو غوښتنو ته ځواب ووای.

---

*= داليکنه د ۱۳۸۰ کال د تلې د مياشتې په ۲۷ نيټه ( د۲۰۰۱ م کال د اکتوبر ۱۹ ) د يووالي د جريدې په ۲ ګڼه کې په هالنډ کې خپره شوې ده.

# تر څو به افغانان د نورو په تس کې قربانیږي *

دوه لسیزې کیږي چې افغانان د تیري ، لاسوهنو او د قدرت لپاره د جګړو په اور کې سوزي . دشوروي تیري کوونکو سره جګړه د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د دفاع په خاطر سرته رسیدله اود هر افغان وجیبه وه چې دغه سپیڅلي دنده سرته ورسوي . خو د شورویانو د شړلو نه وروسته د شخصي او ګروپي ګټو لپاره د افغانانو د مختلفو وسله والو ډلو تر منځ جګړې ، چې د بهرنیو هیوادونو په لمسه اود هغوئ د ګټو اومو خو د لاسته راوړولپاره د افغانانو د وژلو او د افغانستان د ورانیدلو نه نور څه نه وو او نه دي او زموږ د خلکو په مقابل کې جفا وه او ده .

دغو مختلفو وسله والو ډلو د دې لپاره چې د خپلې رقیبې ډلې سره جګړې ته دوام ورکړل شي او دافغانانو د وژلو لپاره وسلې ترلاسه کړی شي دهیواد طبیعي زیرمې او شتمنۍ، د دې پر ځای چې د خلکو د سوکالۍ او د هیواد بیا رغاونې او پر مختګ لپاره استعمال شي ، د جګړو په اور کې لوګی کړې . افسوس په داسې کسانو چې د خپلو شخصي او ګروپي ګټولپاره د خپلو خلکو ملي ګټې تر پښو لاندې کوي او د خپل هیواد په بربادۍ هم اړ نه دي.

په دې کې شک نه شته چې د افغانانو د غمیزې په منځته راتګ کې پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د **۱۳۵۸** کال د جدي د شپږمې نیټې ناولی تیری بنسټیز عامل دی ، چې یو خپلواک ملي حکومت ، چې د خلکو دهوساینې او خپل هیواد دترقۍ اوپرمختګ لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کولې او د خلکو د پوره اکثریت له ملاتړ نه برخمن و له منځه یووړ او د یو لاسپوڅي اوګوډاګي حکومت په منځته راوړو یې د نورو بهرنیو هیوادونو لاسوهنو او په هیواد کې د

نړۍ د ډول ډول جاسوسي ، تروريستي او بنسټپالو شبکو جوړولو ته زمينه مساعده کړه .
خو له بل پلوه د هغو هيوادونو تيروتنه ، چې د شورويانوسره دجګړې په وخت کې د افغانانومرستې ته راودانګل خو د افغانانو د يو واحداو ملي دموکرات ځواک د منځ ته راتلواو پياوړي کيدوپر ځای چې د افغانستان نه د شورويانو له وتلووروسته يې د ټولو خلکود غوښتنې سره سم د دموکراسۍ پر بنسټ ولاړيو ملي حکومت جوړيدو کې مرسته کړې وای اود ملي زعامت د تشې د منځته راتګ مخه يې نيولې وای ، د بنسټپالود مختلفو ډلومنځته راوړو او پياوړي کيدوهڅې وکړي .
له افغانستان نه د شوروي اتحاد د وسله والو ځواکونو د وتلو وروسته د نړيوالې ټولنې دبې تفاوتۍ له امله ددې پرځای چې سوله ټينګه شي اويوملي سرترسري حکومت منځته راشي د افغانستان د خلکو دښمنانو د ملګروملتونود سولې پلان په مقابل کې کودتا وکړه او په دې ډول افغانستان يوځل بيا په خپل منځي ويجاړونکواوږدو جګړو کې راښکيل شو . وسله والو ډلو د جګړو د دوام په خاطر د ملي شتمنيو نه نيولې د قومي ،ژبني او مذهبي بې اتفاقيو ته په لمن وهلو او هغو بهرنيو هيوادونو ته ، چې د افغانستان د بربادۍ پلانونه جوړ کړي وو له ګونډې وهلو نه هم ډډه ونه کړه او هيواد يې د بهرنيو جاسوسي ، بنسټپالو ، مخدره موادو د قاچاقبرانو ، تروريستانو او شراچوونکو شبکو په مرکز بدل کړ . زموږ جنګ ځپلي خلک يې چې څومره د لاسه کيدای شول لاپسې وځپل ، زندۍ کړل او د نړيوال تمدن او پرمختګ له ښيګڼونه محروم کړل . چې په دې کار سره په واقعيت کې هغه غميزه چې پر افغانستان باندې د شورويانو په تيري سره پيل شوې وه لاپسې ژوره او اوږده شوه . نو ځکه ضرور ده چې په دې اړوند د نړيوالې ټولنې ،

ګاونډیو هیوادونو او پخپله د افغانانو په کړو وړ و او چلند یو څه رڼا واچول شي .
د افغان مسئلې سره د نړیوالې ټولنې چلند ، په افغانستان کې د وسله والو ډلو تر منځ د جګړو دوام او د یو ملي سرتر سري حکومت منځته نه راتګ او په دې اړوند د نړیوالې ټولنې بې تفاوتۍ جنګ غوښتونکو ډلو او د دوئ ملاتړ کوونکو هیوادونو ته دا موقع په لاس ورکړه چې د خپلې بقا او نفوذ لپاره له هرې نا مشروع لارې نه ګټه واخلي.
په افغانستان کې د بن لادن دالقاعدې اونورو بهرنیو شبکو منځته راتګ تر ډیرې اندازې پورې د افغان مسئلې بنسټیز حل ته د نړیوالې ټولنې د شاګرځولو پورې تړلې ده . که چیرته افغان مسئله اواره شوې او یو مرکزي سرترسري حکومت ، چې د خلکو ملاتړ نه برخمن وای ، منځته راغلی وای ، نو څرنګه به بیا اسامه بن لادن او ده پورې تړلو کسانو او نوروبهرنیو شبکو په افغانستان کې ځالې جوړې کړې وای .
په نیویارک او واشنګټن کې په نړیوال تجارتي مرکز او پنتاګون باندې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټې تروریستي حملو چې پکې په زرګونو بیګناه انسانان له منځه ولاړل او ټوله نړۍ یې ولړزوله یوشی په ګوته کوي او هغه دا چې ګني نړیواله ټولنه غواړي چې افغان مسئله باید نوره اواره شي او په دې ډول په هیواد او نړۍ کې د تروریزم ځالې له منځه ولاړې شي .
خو د تروریزم ځالې یواځې په نظامي عمل له منځه نه ځي . که چیرته تروریستي ځالو منځته راتګ لپاره شرایط اوسببونه له منځه ولاړ نه شي ، نو که یوه تروریستي ځاله له منځه ولاړه شي نو بله به یې د شرایطو او سببونو په موجودیت کې ځای ونیسي . خو که د تروریستي ځالو د منځته راتګ شرایط اوسببونه له منځه ولاړ شي ، او هغه داچې زموږ ددې کوچنۍ نړۍ په هر ځای کې ستونزو او شخړوته نړیواله ټولنه د خپلې کورنۍ شخړې په سترګه وګوري او د بشر د حقوقو په چوکاټ کې د ګډ

ژوند د اصولو او ټولنيز عدالت پر بنسټ يې په حل کې غفلت ونه کړي ، باور دی چې تروريستي ځالو ته به هيڅ ځای پاتې نه شي .
د دې د پاره چې په افغانستان کې د تروريزم ټولې ځالې له منځه ولاړې شي ، نړيواله ټولنه بايد له ټولو سوله غوښتونکو ملي وطنپالو ځواکونو او شخصيتونو نه ، چې په وروستيو جګړو کې برخه نه لري ، د رښتيانۍ سولې ، دموکراسۍ او ملي يووالي غوښتونکي دې ملاتړ وکړي ، تر څو په جنګ کې ښکيلې وسله والې ډلې له جګړو نه لاس واخلي او د ملي اسلامي اخوت پر بنسټ يو سرتر سري حکومت ، چې د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو ملاتړ ورسره وی منځ ته راشي.
دا بايد په ډاګه شي چې د يوې جنګي ډلې پر ځای د بلې جنګي ډلې ملاتړ کول په هيواد کې د يوسرترسري حکومت د جوړېدو سره مرسته نه شي کولای . نړيواله ټولنه بايد نوره دا اشتباه ونه کړي ، چې د سر تر سري حکومت د منځته راتلو په خاطر ، چې د سولې د ټينګيدو يوا ځنۍ لار ده ، د سوله غوښتونکو افغانانو پر ځای د يوې متخاصمې جنګي ډلې د مسلط کيدو هلې ځلې وکړي او په دې ډول جګړو ته لا دوام ورکړي .
په ډيرې خواشينۍ سره ګاونډيوهيوادونوهم د دې پر ځای چې په افغانستان کې د سولې په ټينګيدو کې د افغانانوسره مرسته وکړي ، د خاصو ځان پورې تړلو جنګي ډلو په واسطه اوملاتړ يې په افغانستان کې د خپل نفوذ د زياتيدو اونورو اهدافو لاس ته راوړو د پاره د جګړو اور ته لمن ووهله او د يوواحد سرترسري حکومت د منځته راتلو ، چې د ټولو افغانانو د منلو اوملاتړ وړ وای مخه ونيوله .
په افغانستان کې د ملي زعامت د تشې د منځته راتلو او د ګاونديو هيوادونو د زياتيدونکو لاسوهنو له امله افغانستان د نړۍ د مختلفو جاسوسي ، تروريستي ، مخدره موادو قاچاق او بنسټپالو شبکو مرکز وګرځيد. په سيمه کې د سياسي او مذهبي نارامیواصلي عامل په

افغانستان کې د همدې هیوادونوچلند ، دجګړو دوام او د سیاسي بې ثباتۍ ساتل دی.
نو ځکه که ګاونډی او نور ښکیل هیوادونه غواړي چې د سیمې اونړۍ سوله او ثبات د لاپسې ډیرو خطرونو سره مخامخ نه شي نو باید په افغانستان کې د خاصو ډلو له ملاتړ او د دوئ په واسطه د افغانانو د غمیزې له اوږدیدو نه لاس واخلي اود ټولو سوله غوښتونکو افغانانود خوښې سره سم د یوسرتر سري حکومت د جوړیدو ملاتړ وکړي ، چې په دې کار سره به خپل ، د سیمې اونړۍ سوله اوثبات ټینګ کړي او د افغانانو د کلونوکلونوغمیزې ته به د پای ټکې کیږدي.
یو شی بل چې د ستر اهمیت وړ دی ، هغه داچې د افغانستان خلک باید پوه شي چې د دوئ غمیزه د نورود تیري ، لاسوهنو او توطیو زیږنده ده.که افغانان په یوه خوله وای او د پردیو د توطیو ښکار شوي نه وای ، نو د یو ځو ځان غوښتونکو پواسطه افغان غمیزې دومره دوام نه شو کولای. نورو پورې تړلو ګوډاګیو ډلو تل خپلې ګټې ددې پر ځای چې د خپلو خلکواو هیواد په ملي ګټو کې ولټوي ، د پردیو په ګټو کې لټولي دي او خپل هیواد یې دسترو ګډوډیو ، کړاوونو او خطرونو سره مخامخ کړی دی.
هر څوک چې ځان واقعي افغان او مسلمان بولي ، نور به د افغانستان د مسلمانانو د بشري ناتار د پای ته رسیدو لپاره متې رانغاړي ، نه داچې زموږ خلک د نوو خطرونو ، ناتار او بربادۍ سره مخامخ کړي . په نیویارک او واشنګټن کې تروریستي حملې ، چې پکې په زرګونو بیګناه کسان له منځه ولاړل او د نړیوالو کرکه او نفرت یې وګاټه ، په خواشینۍ سره په افغانستان کې اوسیدونکي د سعودي عربستان تبعه ، اسامه بن لادن په القاعده پورې یې تور وتړل شو .

د اسامه بن لادن نه د میلمه په حیث د طالبانو ملاتړ یوه پلمه وه چې لا له پخوا نه افغانستان له ټولې نړۍ نه ګوښه او د سیاسي ، اقتصادي او نظامي تعزیراتو سره مخامخ کړي .چې دې ګوښه توب زموږ هیواد ته ستر سیاسي ، ټولنیز او اقتصادي زیانونه اړولي او افغانان یې د سترو ستونزو سره مخامخ کړي دي . دې تعزیراتو په لوی لاس دطالبانو حکومت دخپلو چارو دسرته رسولو دپاره مجبور کړی دی چې دهغه چاسره دوستي وکړي چې مرستې ورسره کوي. خو اوس د اسامه بن لادن نه ملاتړ ، افغانستان د امریکې او متحدینود حملې سره مخامخ کړی دی. چې ددې حملې په کیدو کیدای شي زموږ په زرګونو رنځیدلي بیګناه خلک له منځه ولاړ شي اوهیواد مو لاپسې د بربادیو سره مخامخ شي .
سره ددې چې د طالبانو د علماوو شورا پریکړه کړې ده چې اسامه بن لادن دې له افغانستان څخه وویستل شي ، خو امریکا په دې بسنه نه کوي او پر افغانستان د یرغل د پاره تیاری نیسي.
له همدې ویرې نه په سلګونو زرو رنځیدلو افغانانو خپل کورونه پریښي او د پاکستان او ایران په سرحدونو کې په مایوسۍ او بدترینو شرایطو کې د پاکستان او ایران د چارواکوله بیرحمۍ او سپکاوي نه ډک چلند سره مخامخ او یو واقعي بشري ناتار منځ ته راغلی دی . نو سړی نه پوهیږي چې د څه او چا لپاره زموږ رنځیدلي خلک بیا له دې ناتار سره مخامخ دي.
د شمال اتحاد یوځل بیا دقدرت نیولو لپاره د جنګونو لړۍ د دې لپاره توده کړې ده ، چې ځان په دې ډول سیاسي قدرت ته ورسوي او ددې پر ځای چې د یوسرترسري حکومت ، چې د ټولو افغانانو په ګډون او خوښه د منځته راتلوپه فکر کې شي ، بیا د لوی برخې د لاسته راوړو په لټه کې دي. خو داځل باید هرو مرو د ټولو افغانانو په متناسب ګډون داسې حکومت جوړ شي چې د ټول ملت ملاتړ ور سره وي او نړیوالې ټولنې ته

هم دمنلوور وي . نه داسې حکومت چې دکوم بهرني هيواد پواسطه ځان په خلکو وتپي اوپه دې ډول د سرتر سري حکومت د منځته راتلو مخه ونيسي .
اوس نو د افغانستان ولس پورې ،ټولو ملي وطنپالوشخصيتونو او ځواکونو پورې تړلې ده چې څه بايد وکړي. آيا همداسې بايد د پرديو پواسطه بل شوي اور کې وسوزي او يا د يو خپلواک سرلوړي ملت په حيث خپل برخليک پخپله وټاکي. د کلونو کلونو غميزې ته د پای ټکی کيږدي او د افغانانو د مطلق اکثريت له خوښې سره سم داسې يو حکومت جوړ کړي ، چې نه يوائې د افغانانو د پوره ملاتړ نه برخمن وي ،بلکې د نړيوالې ټولنې د تائيد او مرستې وړ هم وي او خپل هيواد بيرته د سيالو هيوادونو په کتارکې ودروي .
داسې حکومت يوائې بې له هر ډول تبعيض اويا امتياز نه د ټولو افغانانو د استازوپه ګډون د يوې لويې جرګې پواسطه د افغانانو دغوره عنعنواو داسلام دمقدس دين دارزښتونو پر بنسټ منځته راتلای شي . نو ځکه ټول افغانان مکلف دي چې د داسې حکومت د منځته راتګ په برخه کې هيڅ ډول هلو ځلو او سرښندنونه ډډه ونه کړي . تيرې اشتباه ګانې تکرار نه کړي ، خپلې شخصي او ګروپي ګټې له خپلو ملي ګټونه لوړې ونه بولي اوپه يواواز د خپل هيواد ژغورلو دپاره راپاڅيږي .

*- دا ليکنه د ۱۳۸۰ کال د تلې دمياشتې پر ۲۷ نيټه د يووالي د جريدې په ۲ ګڼه کې خپره شويده.

# د بن غونډه او د افغانانو غوښتنې *

دوه ويشت کاله کيږي چې افغانان د تيري او لاسوهنو له کبله د جګړو او بربادۍ له غميزې سره لاس او ګريوان دي . د افغانانو د بې شانه سرښندنواو د نړيوالې ټولنې د مرستو له امله پر افغانستان باندې مستقيم تيری ختم شو . خو د يو مرکزي سرتر سري حکومت د نه جوړيدو او په دې ډول د ملي زعامت د تشې د موجوديت په صورت کې بهرنۍ لاسوهنې دومره زياتې شوې چې د افغانستان خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا يې د ګواښ سره مخامخ کړل او افغانستان يې په عمل کې د مختلفو ډلو تر منځ چې په مختلفو بهرنيوهيوادونو پورې تړلې وې تقسيم کړ . همدا انارشي او ګډوډي وه چې زموږ هيواد د نړيوالو جاسوسي ، بنسټپالنې ، تروريستي او مخدره موادو د قاچاقچيانو د شبکو د فعاليت په مرکز بدل شو .

دغو بهرنيو لاسوهونکو هيوادونو اوشبکو د افغاني جګړه ايزو ډلوسره په جګړو کې ديوبل په مقابل کې د مرستو له امله عملاً د جګړه ايزو ډلوسره يوځای زموږ د کړيدلو خلکو په ځپلو ، زندۍ کولو اوزموږ دهيواد دشتمنيو په لوټولو کې هيڅ کمی نه درلود ، چې په دې توګه د خلکو کرکه اونفرت د خپلو بهرنيو او کورنيو ځپونکو ځواکونو په مقابل کې يوشان لوړې پوړۍ ته ورسيد . خو وايي :ه لاسه ته مې دښمن يې . افغانانو په تش لاس نه شول کولای چې بې د نړيوالې ټولنې له مرستې نه جګړه ايزو ډلو او د دوئ د بهرنيو ملاتړ کوونکو له شر نه ځان وژغوري .

خو کله چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ نيټې له پيښونه راوروسته نړيوالې ټولنې خپل پام بيرته د افغان ستونز ي اوارۍ ته اړولی دی اواوس د طالبانو اوددوئ د نړيوالو انډيوالانو له ماتې نه وروسته وخت دې ته رارسيدلې دی چې د خبرو اترو له لارې په افغانستان کې د سولې د

ټينګيدو او يوپراخ بنسټه حکومت د جوړيدو لپاره د جرمني د بن په ښار کې غونډه جوړه شويده ، بايد له دې فرصت نه بشپړه ګټه واخستل شي .
ټول افغانان سترګې په لار دي او غواړي چې دا اخري فرصت د شخصي او ګروپي ګټو په خاطر له لاسه ولاړ نه شي او په افغانستان کې بيرته د کورنيو جګړو اور بل نه شي.
په دې کې شک نه شته چې د بن غونډه په افغانستان کې د ټولو قومونو قشرونو ، سياسي اوټولنيزو ډلو او شخصيتونو نماينده غونډه نه ده ،خو بيا هم که د ملت په ګټه د سولې د ټينګيدو او يوپراخ بنسټه حکومت د جوړيدو لپاره ، چې افغانستان له اوسنۍ غميزې نه وژغوري ، پريکړې وشي د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو له خوا به يې ملاتړ وشي . د غونډې برخه وال بايد وپوهيږي چې نور د چنې وهلو وخت نه دی او بايد ملي ګټې له هر ډول قومي ، مذهبي ،سمتي ا و شخصي ګټونه لوړې وګڼل شي ، ترڅو ټول افغانان يوموټی شي ، سوله ټينګه کړي او دټينګ ملي يووالي پر بنسټ داسې يوپراخ بنسټه حکومت منځ ته راوړي چې د ټولوافغانانو او نړيوالې ټولنې ملاتړ له ځان سره ولري او په دې ډول د خپل وران ويجاړ هيواد بيا رغاونه پيل کړي .
البته دا بايد په ډاګه شي چې هيڅ داسې پريکړه به افغانانوته د منلووړ نه وي چې د بن د غونډې په شان محدوديتونه ولري او په راتلونکې لوې جرګې اوجوړيدونکو ادارو کې دټول ځوريدلي افغان ملت د استازو ، سياسي او ټولنيزو سازمانونو او شخصيتونو او خاموشه اکثريت نمايندګي پکې په عادلانه ډول انعکاس ونه مومي . په دې برخه کې د نړيوالې ټولنې اوپه خاص ډول د ملګرو ملتونو د سازمان هلې ځلې او څارنه ضروري ګڼل کيږي .

*- داليکنه د ۱۳۸۰ کال د ليندۍ په ۱۲ نيټه د يووالي په ۳ ګڼه کې خپره شويده .

# نړیوال ټولنه باید نوره اشتباه و نه کړي *

د ساینس او تکنالوژۍ پرمختګ او د دې له کبله په سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو چارو کې د هیوادونو ترمنځ اړیکي دومره خوځنده ، فعال او نژدې شوي دي چې په مستقیم ډول دیوهیواد بریاوې اوستونزې د نورو هیوادونو په بریاوو او ستونزو اغیز ښندلای شي. که ننني نړۍ د یو لوی کلي سره پرتله کړو او ووایو چې غم او ښادي د کلي د ټولو اوسیدونکو شریکه ده او په یوائې ډول د کلي هیڅ غړی نشي کولای نیکمرغه او هوسا ژوند ولري اوځان دکلي دنورو بد مرغه اوسیدونکو سره غمشریک کلیوال وبولي.

د ساینس او تکنالوژۍ بریاوې باید د بشر د ښیګڼې او نیکمرغۍ لپاره پکار ولویږي ، نه د بشر د بد مرغۍ او نابودۍ په خاطر. د همدې موخې لپاره د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي غونډې په ۱۹۴۸ م کال د دسمبر په ۱۰ نیټه د بشر د حقوقو اعلامیه ، چې د ټولو متمدنو هیوادونو قوانین او نور نړیوال مقررات له همدې اعلامیې نه الهام اخلي ، منځته راغله.

د بشر د حقوقو مطابق د ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو سره سم د حکومتونو جوړول همدا مانا لري چې د حکومتونو په چارو کې د ځان غوښتونکو او ناپوهو کسانو واک کم اودپراخه پرګنوغوښتنې او واک پیاوړی شي. تر څو نه یوائې په خپل هیواد کې ، بلکې د نورو هیوادونو سره په چلند کې د بشري ټولنې له قوانینو او مقرراتو نه سر غړونه ونه شي او ټول امکانات د انسان د ښیګڼې لپاره بې له هر ډول نژادي ، قومي ژبني ، مذهبي ، سیمه ایز ، جنسي او فکري تبعیض او تعصب نه پرته په کار واچول شي.

که چیرته د بل انسان ، بلې کورنۍ ، قوم او یا هیواد حقوق تر پښو لاندې نه شي ، د لاسوهنې او تیري مخه ونیول شي ، په دې کې هیڅ شک نه شته چې تر ډیرې اندازې پورې به مو د لاسوهنو او تیریونه د را پیدا شوو ستونزو مخه نیولې وي او په نړۍ کې به مو د سولې او ثبات په ټینګیدو سره د بشري ټولنې د پرمختګ او سوکالۍ لپاره د ساینس او تکنالوژۍ غوړیدو ته په زړه پورې شرایط برابر کړي وي. خو که د لاسوهنو او تیریو مخه ونه نیول شي او دمعاصرو علمي او تخنیکي پرمختګونو نه د نړیوال قانون نه د سر غړونې په صورت کې موقع ځان غوښتونکو ، بنسټپالو اوتروریستي کسانو او شبکو ته ورکړل شي ، په دې کې هیڅ شک نه شته چې پخپله به مو د بشري ټولنې بقا په جوارۍ کې ایښې وي او نن د ی که سبا بشري ټولنه به د پرمختګ پر ځای د ډیر ناوړه په شاتګ او بد مرغۍ په کنده کې اچولو ته نژدې کړې وي.
په نیویارک او واشنګټن کې تروریستي حملې ، چې پکې په زرګونو بیګناه کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او د افغانانو په شمول د ټولو نړیوالو د کرکې او غندنې سره مخامخ شوې ، د پورتنۍ خبرې ښکاره ثبوت دی . نو ځکه د دې ټولو اړخونو او پایلو په نظر کې نیولوسره نړیواله ټولنه مسئولیت لري چې په نړۍ کې د ټولو ستونزو بنسټیز عوامل پیداکړي اوپه پوره صداقت سره د دغو عواملو په له منځه وړوسره زموږ په دې کوچنۍ نړۍ کې د انسان د ښیګڼې او پرمختګ لپاره مساعد شرایط منځته راوړي.
که د یورښتیني انسان په توګه ، پرته له هر ډول غرض نه قضاوت وکړو نو په ډاګه ویلی شو چې د افغانستان ستونزه پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د **۱۳۵۸** کال د جدي د شپږمې نیټې تیري نه پیل شوې ده . که دیوژوندي تاریخ په حیث د پیښو په هکله واقعیتونه څرنګه چې وو بیان کړو ، نو ښکاره خبره ده چې شورویانو په خپل ناولي تیري

سره ، چې د ټولو نړیوالو قوانینو سره په مخالفت کې سرته ورسید ، یو خپلواک ، ناپییلی دولت ، چې د ملګرو ملتونو د سازمان ، ناپییلو هیوادونو د غورځنګ او د اسلامي هیوادونو د کنفرانس فعال غړی و او د نړی د اکثرو هیوادونو سره یې سیاسي –دیپلوماتیک اړیکې درلودې او د بشر حقوقو ته په درناوي سره د ملګرو ملتونو اکثره میثاقونه لاسلیک اوورته وفادار او د افغانانو له اکثریت ملاتړنه برخمن و له پښو وغورځاو او پر ځای یې خپل لاسپوڅی ګوډاګی حکومت منځ ته راوړ . هڅه یې وکړه چې په زور سره دغه لاسپوڅی حکومت او ځآن په خلکو وتپي .

دغه جګړه چې په ظاهر کې د شوروي تیري کوونکو او دخپلې خپلواکۍ نه په دفاع کې د افغانانو جګړه وه ، په واقعیت کې له دې نه ډیره پراخه او د دوو ځبر ځواکونو د ستراتیژیکو اهدافو تر منځ جګړه وه ، خو د جنګ میدان افغانستان او د جګړې لوبغاړي افغانان وو .

شورویانو په لومړي سر کې نه غوښتل چې په جګړو کې په مستقیم ډول برخه واخلي . دوئ چې د تیري په لومړیو ورځو کې د هیواد ټول هوایي میدانونه ، لوې لارې ، نظامي مرکزونه او تاسیسات تر خپل کنترول لاندې راوستي وو فکر کاوه چې په درواغجنو تبلیغاتو ، رشوتونو او په خپلو منځو کې د قوم ، ژبې او مذهب اختلافونو ته په لمن وهلو یود بل سره د افغانانو په اچولو به خپلې او د ګوډاګي رژیم پښې تینګې کړي ، خو داسې ونه شول . لکه چې وايي : افغانان په خوښه دوزخ ته درسره ځي ، خو په زور یې جنت ته هم نه شې بیولی . دې وینا ثابته کړه چې همداسې ده . د شورویانو د هر ډول وحشت او زور زیاتي په نتیجه کې افغانان تسلیم نه شول اود شورویانو او ګوډاګي رژیم په مقابل کې مقاومت ورځ په ورځ په زیاتیدو شو .

کله چې امریکا او متحدینو ولیدل چې د خپل ستر رقیب ، شوروي اتحاد ، په مقابل کې افغانان د خپلې خپلواکۍ ، ملي او دیني مقدساتو دفاع لپاره بې امانه مبارزه کوي ، د خپلو ستراتیژیکو اهدافو په نظر کې نیولو سره د افغانانو مرستې ته راودانګل . او په دې ډول د افغانستان شخړې نړیوال شکل غوره کړ او د شورویانو په دې تیري سره افغانستان د هغه وخت د سارړه جنګ د نړیوالو تضادونو د ټکر میدان وګرځید .
شورویانو د سترو ځاني ، مالي او سیاسي زیانونو په ګاللو سره د لسوکلونو جګړو ، وینو تویولو او افغانستان د ورانولو نه وروسته د افغانانو د بې شانه سر ښندنو او د امریکا اویوشمیر نورو هیوادونو د مؤثرو سیاسي ، نظامي او مالي مرستو په نتیجه کې ماتې وخوړه او زموږله هیواد نه وتلو ته مجبور شول .
د شورویانوسره د جګړوپه وخت کې هڅه وشوه چې امریکا او نور متحدین یې ځان په مستقیم ډول د شورویانو سره مخامخ نه کړي نو ځکه ټولې مرستې یې د پاکستان له لارې افغانانوته ورکول پیل کړل .
په همدې وخت کې ځینو افغانانو هڅه وکړه چې یو سرتر سري د ټولو افغانانو یوه ملي جبهه اویوه مؤقته اداره جوړه کړي چې په راتلونکې کې د شورویانو له وتلونه وروسته د ملي زعامت تشه تر یوې اندازې ډکه کړي او هغه مرستې چې دبهرنیو هیوادونو له خوا د افغانانوسره کیږي په مستقیم ډول دوئ ته ورکړل شي.
خو د پاکستان حکومت چې غوښتل یې د شورویانو په مقابل کې افغاني غورځنګ د دوئ په لاس کې وي اوکه مرستې ورسره کیږي د دوئ له لارې وشي ، نو ډیر ژر یې ځان پورې تړلو تنظیمي مشرانو پواسطه د ملي جبهې او مؤقتې ادارې د جوړیدو دغه هلې ځلې د ناکامۍ سره مخامخ کړې اوپه دې ډول یې دافغانانو د یو واحد ملي غورځنګ مخه ونیوله اوپر ځای یې د مختلفو تنظیمي مشرانو سره په مختلفو درجو اړیکې

ټينګې کړې او يوبل سره په مخالفت کې يې په جدا جدا ډول تر اخره پورې وساتل .
امريکې او متحدينويې چې د خپلو ستراتيژيکو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د افغانانوسره بې شانه سخاوتمندانه مرستې کولې او د شوروي ماتې ته يې ډير پام و ، ددې هدف په لاسته راتلو يې هر څه سرته رسيدلي وګڼل . د دې پر ځاى چې په افغانستان کې د سولې دبشپړې ټينګيدو اود دموکراسۍ د اصولوپر بنسټ د يوسرتر سري حکومت په منځته راتلو اود افغانستان په بياجوړيدوکې د افغانانو سره مرسته وکړي افغانان په تش ميدان پريښودل او د افغانستان د خلکو کورنيو اوبهرنيو دښمنانو ته موقع په لاس ورغله چې د ملګرو ملتونو د پروګرام په مقابل کې په توطيې سره دولتي نظام رنګ کړى ، ملي اردو تيت پرک او د يوې ملي واکمنۍ پر ځاى د قوم ، ژبې او مذهب پر بنسټ جوړوشوو وسله والو مليشو او تنظيمونو ته ، چې د بهرنيو اوپه خاص ډول ګاونډيو هيوادونو سره يې ټينګې اړيکې درلودې ، د افغانانو برخليک وروسپاري .
چې په نتيجه کې ډير ژر د دغو هيوادونو د ځانګړو موخو او نفوذ لپاره کورنۍ جګړې پيل او د افغانستان کړيدلي او ځپل شوي خلک څه د دغو جګړوپه اور کې وسول اوڅه د يوې اويا بلې ډلې له خوا برمته او د خپل سرتوب ، ظلم ،وحشت اوتيري سره مخامخ شول .
په دې وخت کې چې د هيواد واکې د يوسرترسري حکومت پر ځاى د يو زيات شمير وسله والو ډلو په لاس کې کيوتې اوافغانستان د يوبې خاونده ملک په حيث د خپلې خپلواکۍ ، ځمکنۍ بشپړتيا اوملي واکمنۍ نه د دفاع وس نه درلود ، د نړۍ ټول نابللي ميلمانه چې د بنسټپالنې ، تروريزم او مخدره موادو قاچاق په تور يې خپلوهيوادونوکې شپې نه شوې کولاى زموږ دې جنګ ځپلي هيوادته

رامات شول او حتې د مختلفو وسله والو ډلو په امر او نهې کې يې ستر رول درلود .
ټولي افغاني وسله والي ډلي چې تر اخره پورې د قدرت لپاره جنګيدې او جنګيږي د ګاونډيو هيوادونو په مالي او نظامي مرستو چليدې او چليږي . اوس هم په افغانستان کې د دغو هيوادونو لاسوهنې له بل هر وخت نه زياتې اوبربنډې شوي دي او په ښکاره د خپلو ځان پورې تړلوډلو نه دفاع کوي او حتی په ډيرې بيشرمۍ سره ټينګار کوي چې په راتلونکي حکومت کې د دوئ د نظر وړ ډلو ته په امتياز ورکولو سره د دوئ ګټې په نظر کې ونيول شي.
همدا اوس هم کله چې له هر بل وخت نه ډير دافغانانو يووالي ته ضرورت دی د افغانستان په چارو کې د دغو هيوادونو لاسوهنې درسوايي اوبيشرمۍ پولې ته رسيدلي دي . د روسيې ، ايران اوتاجکستان حکومتونه ټينګار کوي چې دطالبانوله اداري نه وروسته د شمال ائتلاف يا رباني اداره د هيواد چارې په لاس کې واخلي . دوئ هم په دې ښه پوهيږي چې د شمال ائتلاف د دې توان نه لري چې د ټول هيواد واګې په لاس کې واخلي او د دوئ په وجود کې سوله ټينګه شي . له دې نه معلوميږي چې دوئ اوس هم نه غواړي په افغانستان کې سوله منځته راشي او دا نړيوال کړکيچ له منځه ولاړ شي.
همدارنګه د پاکستان لاسوهنو او د شورويانوله وتلونه وروسته د يوملي متحد سرتر سري حکومت پر ځای دخپلې خوښې وسله والو ډلومسلط کيدو ، د بنسټپالنې په تقويه او دافغانستان دملي اردو په تيت او پرک کيدوکې د پاکستان د حکومت ، د استخباراتي او سياسي مذهبي کړيولاسوهنواو ګډون نه هيڅ انکار نه شي کيدای .
که د افغانانو د اوږدې غميزې په منځته راتلو او اوږديدو کې د شورويانو تيری ، د روسانو او ايرانيانو لاسوهنو له يوطرفه رول لوبولی

دی ، نو له بل پلوه د پاکستان او سعودي عربستان په چار چلندباندې په افغانستان کې د جګړو د دوام، دبنسټپالنې په تقویه او د افغانانو دغمیزې په اوږدیدو کې سترګې نه شي پټیدای.
خو اوس ټول دغه هیوادونه باید د خپلو تیرو اعمالو د تلافۍ په خاطر په افغانستان کې خپلې لاسوهنې بندې کړي اودیوپراخ بنسټ حکومت د منځته راتلو ، چې په افغانستان کې د سولې او ثبات لومړنی شرط دی ، خنډ نه شي.
کله چې افغان ستونزه په نړیوالې ستونزې بدله شوې ده ، نو نړیواله ټولنه نوره باید نه یوازې د افغان ستونزې په حل کې غفلت ونه کړي ، بلکې د دې ستونزې په بنسټیز حل کې هلې ځلې وکړي اوپه افغانستان کې د داسې حکومت د منځته راتلو ملاتړ وکړي چې د ټولو افغانانو په نمایندګۍ اوخوښې منځته راغلی وي او وکړای شي د افغانانو اوسنۍ غمیزې ته د پای ټکی کیږدي.
یو زیات شمیر خلک فکر کوي چې د شمال اتحاد په څو علتونو نه شي کولای د یو سر تر سر ي پراخ بنسټه حکومت ځای ونیسي او هغه دا چې:
دا اتحاد ،چې ځان د لرګیو استازی بولي ، یوازې د جمعیت تنظیم او د دې تنظیم د نظار شورا ، د دوستم په وجود کې ازبک ملیشې او د وحدت دګوند د یوې برخې اوڅو بې واکو اشخاصو اوتنظیمونو د پخوانیو قوماندانانو نمایندګي کوي ، نه دتاجکو ، ازبکو او هزاره قومونو .
دا اتحاد د بهرنیو هیوادونو لکه روسیه ، ایران ، ازبکستان اوتاجکستان د اغیز لاندې دی اود دې هیوادونو په ناجایزو مرستو یې په هیواد کې د افغان وژنې اوافغانستان ورانونې او ړنګونې اوږدو جګړو لړۍ تازه ساتلې ده اوپه لوټ اوپه تالان اود خلکو په ناموس باندې په تیري سره متهم دی.

د شمال اتحاد په واقعیت کې د پخواني شوروي حکومت له خوا د کارمل د رژیم بقایاوو او په دغه رژیم پورې تړلو قومي ملیشو اونظار شورا نه د پښتنو په مقابل کې د افغانستان دشمالي برخې د قومونو په نوم جوړ شوی او دقومي تعصب ، ملي یووالي او ځمکنۍ بشپړتیاد کمزورۍ بوی ترې راځي .

د شمال اتحاد په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دسولې د پلان د ناکامۍ او ددغه پلان پر بنسټ د یو پراخ بنسټه ملي حکومت د منځته راتلو د مخنیوي ، دولتي قدرت د انحصار او وسله والو ډلو تر منځ د کورنیو جګړو د پیل او په دې ډول د افغانانو د غمیزې د اوږدیدو او ژوریدو ملامتیا په غاړه لري او خپل اعتبار یې د افغانستان په خلکو کې بایللی دی او په یوې وړوکې سیمې کې واکداري لري .

که چیرته د شمال اتحاد ویاند اویا د دوئ ملاتړي بهرني هیوادونه دعوه کوي چې دا اتحاد د طالبانو د واکدارۍ نه وروسته باید په دې خاطر د حکومت واګې په لاس کې واخلي چې دملګرو ملتونو او ځینو هیوادونو په رسمیت پیژندلی او په ملګرو ملتونو او دغو هیوادونو کې لا تر اوسه سیاسي – دیپلوماتیکې نمایندګۍ لري . خو دغه ځکه دلیل کیدای نه شي ، چې د طالبانو د حکومت ضد پالیسۍ له امله د ملګرو ملتونو سازمان او د نړۍ ځینو هیوادونو دغه دریځ نیولی دی.چې د افغانستان د ملي وطنپالو ځواکونو د انتقاد سره مخامخ وو او دي ، نه د دې لپاره چې دغه اتحاد چې یواځې پنځه په سلو کې یې د افغانستان خاوره په لاس کې ده ګڼې په رښتیا یو قانوني اوسر تر سري نماینده حکومت دی .

د دې دپاره چې د شمال اتحاد دغه لوی غوښتنه له سر نه لیرې شي او د نورو افغانانو سره یوځای د یوپراخ بنسټه ملي حکومت په جوړیدو کې خپل امکانات او هلې ځلې شریکې کړي ، د ملګرو ملتونو سازمان او د نړۍ هغه هیوادونه چې د رباني د حکومت سره سیاسي –دیپلوماتیکې

اړیکې لري د یو پراخ بنسټه ، د ټولو افغانانو نماینده حکومت د جوړیدو په خاطر د مساعدو شرایطو د منځته راوړو دپاره د دغه حکومت سره خپلې اړیکې وشلوي او یواځې هغه حکومت په رسمیت وپیژني چې د ټولو افغانانو په خوښه او استازیتوب منځته راشي .
نو ځکه که د شمال اتحاد او د دوئ بهرني ملاتړ کوونکي ټینګار کوي چې د طالبانونه وروسته دې د حکومت واګې د رباني تش په نامه حکومت په لاس کې ونیسي ، نو دا د افغان مسئلې د حل لار نه ده . د دې موخه یواځې د پراخ بنسټه حکومت د راتلو مخنیوی اوپه افغانستان کې د جګړو د اوږدیدو او زموږ د غم ځپلي هیواد د لاپسې بربادۍ مانا لري او بس .
طالبان چې په کم وخت کې دکورنیو جګړو او فساد څخه تر پزې راغلو خلکو په مرسته قدرت ته ورسیدل او په کم وخت کې یې د تنظیمي قوماندانانو او د هغه وخت د حکومت د ناروا کارونو له امله ډیر ژر په سلو کې پنځه نوي د افغانستان خاوره تر کنترول لاندې راوسته په لنډ وخت کې یې سوله ټینګه او بشپړ امنیت منځته راوړ . پاټک سالاري له منځه ولاړه او دافغانانو سر ، مال او ناموس خوندي شول .دافغانستان د تجزیې ډار له منځه ولاړ او د ټولنیزو فسادونو مخه ونیول شوه .خو د دې پر ځای چې د جګړې ځپلو افغانانو د بې شماره ستونزو اوارولو ته متې راونغاړي او مخې ته یې پرتې دندې ،چې هغه د معاصر دولتي نظام ټینګول ، د نړیوالې ټولنې په مرسته د میلیونونو افغانانو بیرته هیواد ته د راتګ او میشت کیدو زمینه مساعدول ، د ټولو افغانانو په شمول د لویې جرګې له لارې د یو انتخابي حکومت منځته راوړل او دغه وران ویجاړ او په کنډوالو بدل شوي افغانستان ، د نړیوالې ټولنې په مرسته بیرته د افغانانو په واسطه د افغانانو لپاره ابادول او په افغانستان کې د بهرنیو هیوادونو دلاسوهنو مخه نیول دی سرته ورسوي دنړیوالې ټولنې

دمخالفت او نه مرستې کولو له امله سرته ونه رسول . په همدې ډول د امریکې او نورو غربي هیوادونو دطالبانوحکومت په رسمیت ونه پیژاند او رسنیویې پروپیګنډې پیل کړې چې له افغانستان څخه د نړۍ د بنسټپالو ، تروریستي او مخدره موادو د قاچاق د شبکو مرکز جوړ شوی او د خلکو انساني حقوق ، په خاص ډول د ښځو حقوق ، تر پښو لاندې کیږي. د ښوونځیو دروازې تړلې شوې ، دهیواد ښوونه او روزنه ، اقتصاد ،صنعت ، زراعت او مالداري ، تجارت ، روغتیایي چارې، مواصلاتي کرښې ، تعمیراتي کارونه ، د اوبو لګولو او انجینرۍ پروژې هوایي ترانسپورت او په لنډ ډول د هیواد ټیا رغاونه په ټپه ولاړ او یا په کلونو کلونو شا ته وغورځېدل . سره ددې چې په دې برخه کې د طالبانو پر حکومت دغربي هیوادونو تعزیراتو بشپړ اغیز درلوداودغه ټولې منفي پیښې د تنظیمونو د واکدارۍ په وخت کې منځته راغلې وې ،خو ملامتیا یې د طالبانو په حکومت اچول کیده.

طالبانوهم د تنظیمي حکومتونو په څیر د پخوانیو رژیمونومسلکي او فني کدرونه ، چې د هر رژیم د بقا او پر مختګ لپاره ضرور دي په یوه او بله پلمه له کارونونه ګوښه او له هیواد نه وتلو ته مجبور کړل. ډیر مسلکي متخصصان او د پوهې او قلم خاوندان په تنظیمي حکومتونو او د طالبانو په وخت کې زندانونو ته واچول شول اویا له منځه ولاړل.

طالبانو دتنظیمي واکدارۍ په موده کې د ړنګې شوې ملي اردو دبیرته جوړیدو پر ځای ،چې د هیواد د خپلواکۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا اوملي واکمنۍ د ساتلو لپاره دهر دولت اساسي رکن دی په ملیشه ډوله ځواکونو ټول جګړه ایز او امنیتي دندې سرته رسولې .

د طالبانو دکورني او نړیوال سیاست سره دامریکې او نورو غربي هیوادونو د مخالفت په نتیجه کې افغانستان له ټولې نړیوالې ټولنې نه په ګوښه کیدو سره د سترو سیاسي ، اقتصادی او ټولنیزو ستونزو سره

مخامخ او د معاصر ساینس او تکنالوژۍ له ښیگڼو نه محروم ساتل شوی دی. اوس د اسامه بن لادن او دده له ملگرو نه دملاتړ په تور د امریکې او متحدینو د خونړي جنګ سره مخامخ کړی شوی دی. چې په دې توګه په میلیونونو جګړه ځپلي افغانان له هیواد نه کډې کولو ته مجبور اویو زیات شمیر لوی واړه ، ښځې اونر هره ورځ د امریکې اوبرطانوی بمونو له کبله په شهادت رسیږي او له منځه ځي . اوپه میلیونونو نور یې وږي ، تږي ، ناروغه ، لوڅې پښې در په در او خاورې په سر په کنډوالو ،شاړو او دښتو کې شپې ورځې تیروي .
آیا دا افغان غم ځپلو مسلمانانو ته خدمت دی ا و که ددغه محروم ولس لاپسې محرومول او بربادول دی . نو ځکه هیڅوک نور دا دعوه نه شي کولای چې افغانانو ته یې سوله او سوکالي راوړې ده اویا دا ټول کارونه د افغانانو د غمیزې د پای ته رسیدو د پاره شوي دي. د افغانانو دغمیزې د د ختمیدو لار په افغانستان کې د سوله ایزې سیاسي لارې نه د یو پراخ بنسټ حکومت جوړول دي . دا یواځې هغه وخت کیدای شي چې د افغانستان ټول ملي وطنپال شخصیتونه او قوتونه اود سولې او ثبات پلویان ، چې نه غواړي افغانان تر قیامته د جګړو په اور کې وسوزي اوله منځه ولاړ شي ، سره راټول شي او د یوې عنعنوي لوې جرګې له لارې یو مؤقت زعامت وټاکي .
په دې لار کې د افغانستان پخوانی پادشاه محمد ظاهر شاه کولای شي د داسې یو اکثریت ته د منلو وړ سپین ګیري مشر رول ولوبوي چې خواخوږي او نژدیوالی یې د ملت ټولو وګړو ته یوشان جوت شي.چاته د سکه اونا سکه په سترګه ونه کتل شي. هر افغان په هر قوم ، هرې ژبې ، هر مذهب ، هر قشر ، هرې سیمې او هرې سیاسي اوټولنیزې ډلې پورې چې مربوط وي د افغان ملت د یوفرد په حیث ځان دملي یووالي په دې

غورځنګ کې وويني اود خپلو استازو له لارې د افغانستان د نوې ادارې په چاروکې په عادلانه ډول برخه واخلي .
خو لکه چې معلوميږي داسې يوې موخې ته د رسيدو په لار کې لا تر اوسه ډير خنډونه شته او ځينې ډلې او ځيني بهرني هيوادونه لا تر اوسه نه غواړي چې زموږ په هيواد کې سوله ټينګه او يو پراخ بنسټ حکومت چې د ټولو افغانانو له ملاتړ نه برخمن وي منځ ته راشي. هغه هيوادونه چې ټينګار کوي چې د طالبانو نه وروسته دې شمالي ټلواله د مرکزي حکومت رو ل ولوبوي په واقعيت کې نه غواړي چې په افغانستان کې سوله او ثبات منځته راشي او د افغانانو روانه غميزه پای ته ورسيږي .
همدارنګه ځينې کسان چې په ښکاره ځان د پراخ ائتلاف او پراخ بنسټ حکومت پلويان بولي، خو د دې پر ځای چې د ټولو قومي ، سياسي او ټولنيزو سازمانونو مشرانو او استازو د پراخ ائتلاف په لټه کې شي او د ټولو افغانانو ملاتړ تر لاسه کړي ، خپلې هلې ځلې اواړيکې يې په يوې يا بلې پلمې يوکوچني شمير شخصيتونو او کړيو ته محدودې کړې دي او په دې ډول يې د ائتلاف په کمزورتيا کې رول لوبولی دی . چې دا کار دشمالي ټلوالې د لوړتيا غوښتنې لپاره ، د ډيرو کسانو په نظر ، ددې کسانو مرسته ګڼل شويده . چې بايد د داسې چلند مخه ونيول شي او د يو پراخ بنسټه ، سر تر سري افغاني اتحاد لپاره هلې ځلې ګړندۍ شي.
البته د يوپراخ بنسټه افغاني ائتلاف منځته راوړل او په دې ډول په هيواد کې د خلکو د خوښې سره سم د دموکراسۍ پر بنسټ يو حکومت جوړول چې په افغانستان کې د سولې اوثبات د ټينګيدو اود هيواد د بيا رغاونې جوګه وي اود ګاونډيواونړۍ د ټولو هيوادونوسره دوستانه اړيکې ولري او نړيوالو موازينوته متعهد وي ، د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو ملي او اسلامي دنده ده.

ځرنګه کیدای شي چې په افغانستان کې سوله ټینګه او د خلکو د ملاتړ
وړ او پراخ بنسټه حکومت منځته راشي او زموږ هیواد له رواني غمیزې
نه وژغورل شي ؟ په دې هکله دافغانستان ملي یووالي سازمان د ۱۹۹۷م
کال د اګست په۲۲ نیټه خپله طرح دافغانستان لپاره
دملګرو ملتونو خاص استازي لخدار براهیمي ته وړاندې کړې وه چې
اوس هم کیدای شي د دغې طرحې ډیر مواد په هیواد کې دسولې د
ټینګیدو او د لوې جرګې له لارې د یومؤقت پراخ بنسټه حکومت د
جوړیدو لپاره پکار واچول شي.
په دې طرح کې راغلي دي :
د افغانستان ستونزه د جګړې له لارې نه ، بلکې د سوله ایزې – سیاسي
لارې او په خاص ډول د افغانانو د تاریخې عنعنوي لوې جرګې له لارې
اوارېدای شي. البته د سولې ټوله دا پروسه به دملګرو ملتونو دسازمان
په مستقیمې برخې اخستنې او مرستې سرته ورسیږي. خومخکې له لوې
جرګې نه بایدد افغانانو په چارو کې د بهرنیو هیوادونو لاسوهنې بندې
شي ، ټول ملي سوله غوښتونکي دموکرات شخصیتونه اوځواکونه په
یومشترک پلاتفورم باندې د سولې په یوې پراخ بنسټه ملي جبهې کې
راټول شي اوپخپله دهغو سوله غوښتونکو افغانانونه چې په وروستیو
جګړو کې برخه نه لري د ملګرو ملتونو په مصرف اوقوماندې دسولې یو
وسله وال ځواک جوړ شي .
د لوې جرګې د جوړیدو لپاره د ملګرو ملتونو دهلوځلو او مشورو په
نتیجه کې د بیطرفه ، په کار پوه او د افغانانو اکثریت ته د منلو وړ
شخصیتونو یو کمیسیون جوړ شي . داکمیسیون به د لوې جرګې غړي په
دې ډول ټاکي چې په هیواد کې ټول قومونه ، قشرونه ، سیاسي –
ټولنیزې او مذهبي ډلې پکې استازیتوب ولری .لویه جرګه به یو مؤقت
زعیم وټاکي اود دغه زعامت پواسطه پیشنهاد شوی مؤقت حکومت به

تصويب کړي او ددغه حکومت دندې به هم وټاکي . د افغانستان ملي يووالي سازمان عقيده لري چې مؤقت حکومت بايد دا لاندې دندې سرته ورسوي :

د سولې ټينګول او ساتل ، دملي اردو جوړول ، د ټولوسپکو او درنو وسلو راټولول ، له ماينونونه دهيواد پاکول ، هيواد ته د مهاجرينودبيرته راتګ اوميشت کيدو لپاره زمينه برابرول ، په ټول هيواد کې د امنيت قانونيت ، عدالت اوفردي مصئونيت ټينګول ، د اساسي قانون ، د انتخاباتو قانون او د سياسي ګوندونو د فعاليت د تنظيمولو قانو ن تدوينول او ديوې انتخابي لوې جرګې پواسطه د هغوئ تصويبول او بيا د يومنتخب حکومت منځته راتلو لپاره د عمومي ، پټو ، مستقيمو او مساوي راى اخستنو په واسطه د ازادو او دموکراتيکو ټاکنو سرته رسول.

د پارلماني سيستم څخه دپيروۍ له مخې اودسياسي پلوراليزم ( ډير ګونديز سيستم ) د اصولوپر بنسټ هغه ګوندونه يا سياسي ډلې ، شخصيتونه او يا ائتلافونه چې د ازادو او دموکراتيکو انتخاباتو په نتيجه کې پارلماني اکثريت ګټي حکومت به جوړوي . يوائې همدغسې حکومت به قانوني مشروعيت ولرى اود افغانستان دمسلما ن او متدين ملت له ملاتړ نه به برخمن وي .

---

*- دا ليکنه د ۱۳۸۰ کال د ليندۍ دمياشتې پر ۱۲ نيټه د يووالي د جريدې په ۳ ګڼه کې خپره شويده .

# د افغانستان نوې مؤقته اداره او نړیواله ټولنه *

د بن غونډه په داسې وخت کې جوړه شوه چې افغانان د دوو لسیزو نه زیات د جګړو په اور کې سوزیدلي او هر څه یې له لاسه ورکړي وو ، په دغه جمله کې د سولې په ټینګیدو باندې باور.
په غونډې کې د استازو تناسب په هیڅ صورت د افغانستان د ټولو خلکو نمایندګي نه شوه کولای ، چې دې کار لاپسې د خلکو بې باوري د غونډې د پایلو په هکله زیاته کړې وه . خو بیا هم ټولو افغانانو او نړیوالو دا یو ستر ګام باله چې زموږ په جنګ ځپلي هیواد کې د سولې د ټینګیدو او د افغانانو د غمیزې د پای ته رسیدو لپاره اخستل شوی و . د غونډې له پریکړو څخه هم ټول افغانان راضي نه وو ، ځکه چې یوې کوچنۍ وسله والې ډلې ته پکې ډیر امتیازات ورکړل شوي او نور هیواد وال ترې محروم شوي وو . خو بیا هم اکثرو افغانانو چې د سولې تږي وو او دي دا یوه مؤقته اداره ګڼله او په راتلونکې کې یې د ټولو نیمګړتیاوو د پوره کیدلو په ارمان د غونډې د پریکړو په مقابل کې کوم جدي عکس العمل ونه ښود او له مؤقتې ادارې او د سولې له جاري پروسې نه یې خپل ملاتړ اعلان کړ .
اوس چې له خبرو او کاغذ په سر پریکړو نه عمل ته وخت رارسیدلی دی او ژر به د ښاغلي حامد کرزي په مشرۍ نوې مؤقته اداره په کار پیل وکړي ، ټول افغانان او نړیوال سترګې په لار دي چې نوې مؤقته اداره به د ټولو په وطن مینو افغانانو له ملاتړ او نړیوالې ټولنې له مرستې نه اعظمي ګټه اخلي او که څرنګه ؟ او په هیواد کې به د سولې د ټینګیدو او له غمیزې نه د ابد لپاره د هیواد د ژغورلو په خاطر پر مخ ځي او که څرنګه ، چې تر ټولو لومړی باید د ملګرو ملتونو په مرسته د افغانانو یو امنیتي وسله وال ځواک منځته راشي او هغه څوک پکې برخه ولري چې

مسلکي پوهه ولري او د شخصي او ګروپي ګټونه دفاع ونه کړي ، بلکې یوائې ملي ګټو ته وفادار وي. یا په بل عبارت باید یو بې طرفه امنیتي ځواک چې په واقعیت کې د ملي اردو بنسټ به جوړوي منځ ته راشي. تر څو چې داسې یو وسله وال امنیتي ځواک جوړیږي ، بهتره به وي چې د ښارونو او نورو ضروري ځایونو امنیت د ملګرو ملتونو تر سر پرستۍ لاندې د نړیوالو سوله ساتونکو ځواکونو په واسطه تأمین شي او ټولې افغاني وسله والې ډلې بې وسلې شي تر څو بیا د ۱۹۹۲ کال پیښې تکرار نه شي . په دې برخه کې د نړیوالې ټولنې هر اړخیزې مرستې ځکه ضرور دي ، چې د سولې دغه بهیر د ځینو ځان غوښتونکو ډلو او د دوئ د ملاتړ کوونکو بهرنیو هیوادونو له خوا سبوتاژ او د خطر سره مخامخ نه شي او دا راغلی فرصت له لاسه ولاړ نه شي .
په افغانستان کې د سولې د ټینګیدو او د اوږدې غمیزې نه د افغانانو د ژغورلو په پروسه کې ټول سوله غوښتونکي افغانان او نړیواله ټولنه په خاص ډول په اوس وخت کې له هر بل وخت نه زیات یو بل سره مرستې او ملاتړ ته ضرورت لري . د افغانانو دا د اوږدې مودې ارمان ، چې په هیواد کې به یې سوله او ثبات منځته راځي او هیواد به یې بیرته د نړۍ د نورو سیالو هیوادونو په کتار کې ودریږي د ټولو سوله غوښتونکو ، ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو یووالی د ټولو میشتو قومونو د ملي یووالي په ټینګیدو او د دموکراسۍ داصولو پر بنسټ او د بشر د حقوقو د اصولو نه په پیروي ، بې له هر ډول تبعیض نه د ټولو افغانانو په ګډون د یو ملي زعامت په ټاکلو او منځته راوړو سره سرته رسیدلای شي .

---

*- دالیکنه د ۱۳۸۰ کال د جدي په ۲ نیټه د یووالي د جریدې په ۴ ګڼه کې خپره شویده .

# پخوانی شوروي اتحاد او لاسپوڅي یې دافغانستان دغمیزې پړه پر غاړه لري*

دوه ویشت کاله مخکې ( ۱۹۷۹ – ۱۲ – ۲۷ ) پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان باندې له شرمه ډک غلچکی تیری سرته ورساوه. د دې تیري په کولوسره ،چې د ټولو نړیوالو نورمونو پر خلاف سرته ورسید د یو ګاونډي خپلواک هیواد ، افغنستان ، بر حال جمهور رئیس حفیظ الله آمین د خپلو ځامنو او یو زیات شمیر لوړ رتبه افسرانو او سرتیرو سره د تیري په لومړیو شیبو کې په شهادت ورسیدل . د ګوند او دولت مشر تابه هیئتونو غړي زندان ته واچول شول او په دې ډول داسې یو حکومت چې غوښتل یې د خپل هیواد د ترقۍ او د خلکو د هو سایې لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړي او دنړۍ د ټولو هیوادونو سره یوشان سیاسي دیپلوماتیک او دوستانه اړیکي ولري له منځه یوړل شو او پر ځای یې د ببرک کارمل په مشرۍ د شورویانو لاسپوڅی حکومت منځته راوړل شو.

شورویانوفکر کاوه چې د حفیظ الله امین خپلواک ، مترقي اومتمدن حکومت چې د دوئ دیکته یې نه منله او د پراختیا غوښتنې په مقابل کې یې ستر خنډ و ، په لمنځه وړو سره او د کارمل په مشرۍ د یوګوډاګي حکومت په جوړیدو سره به هم په منطقه کې خپلې پراختیا غوښتنې ته د عمل جامه واغوندي او هم به امریکا او متحدینو ته ، چې د شورویانو په نظر له دیتانت څخه یې مخ اړولی و او په غربي اروپا کې یې د پرشنګ اوکروز توغندیو د ځای پرځای کیدو پوا سطه د شوروي امنیت په خطر کې اچولی و ، یوچلنج اوپر ځای ځوابیه عمل وي . خود لوړتیا غوښتنې اوتیري دغه غشی ، چې غوښتل یې دوه نښې په یوځل وولي خطا ولاړ او

د شوروي امپراتورۍ ځواکمن کیدو او دپراخیدوپر ځا ی یې دغه امپراتوري د کمزوري کیدو ، او دړې وړې کیدو سره مخامخ کړه .
پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد په تیري سره نه یوا ځې دا چې زموږ د هیوادخپلواکي ،ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا له خطر سره مخامخ اوتر پښو لاندې شول او یوبهرني هیوادد خپلووسله والو ځواکونو په زور په هیواد واکداري پیل کړه ، بلکې افغانستان عملآ د دوو ځبر ځواکونو ( امریکا اوشوروي ) اومتحدینو د زور ازمویلو په میدان بدل شو . دګاونډیوهیوادونو لکه پاکستان او ایران لاسوهنې ، چې په میلیونونوافغانان د خپل سر اوناموس د ساتلو په خاطر د تیري کوونکو له ویرې له اشغال نه وروسته دغو هیوادونو ته تللي وو ، په ښکاره ډول پیل اوزیاتې شولې . نورو اسلامي هیوادونواو په خاص ډول سعودي عربستان د خپلوپیسو اوداوطلبانو په رالیږلو سره، چې اسامه بن لادن یې یو مثال دی ، د شورویانوپه مقابل کې د افغانانو مرستې ته ورودانګل اوپه څنګ کې یې د وهابیت د خپرولو لپاره هلې ځلې پیل کړې .
د شورویانو د تیري او له دغه تیري نه د راځیږیدلو جګړو اولاسوهنوله امله د دوو میلیونوپه شاوخوا کې افغانان له منځه ولاړل ، د پیړیوپیړیو لاسته راوړنې له خاوروسره خاورې اودهیواد مادي او معنوي پانګې په ډیرې بیرحمۍ سره لوټ اوتالا شوې . د افغانانو ملي یووالی د بهرنیوهیوادونو او په خاص ډول شوروي پاکستان اوایران د لاسوهنو اودې هیوادونو پورې تړلوډلود اعمالو په واسطه د ګواښ اوکمزورتیا سره مخامخ شواو د ملي ګټو پر ځای شخصي اوګروپي ګټو لپاره هلې ځلې ، چې د قوم ،ژبې ، مذهب او سیمې په جامه کې یې ډیر ځلې ځان څرګند کړی دی ،د ځینوسیاسي کړیو اوډلود اهدافو برخه وګرځیده.

د شوروي تيري نه راځيږيدلی سياسي بحران دومره ژور او پراخه شو ، چې نه يواځې زموږ هيواد يې د دغه تيري نه راپه ديخوا د دوويشتو کلونو په موده کې د جګړود دوام له کبله په داسې غم ځای بدل کړ، چې بې له وينو او اوښکو ، وير او ماتم ، ظلم او استبداد ، نابوهۍ اوجهالت کرکې اونفرت ، لوږې او مرض ، ويجاړتيا او بربادۍ نه پکې نور څه نه ليدل کيږي او د نړۍ د ټولو شر اچوونکو ، تروريستانو ، او د مخدره موادو د قاچاقبرانو اوبهرنيو استخباراتي شبکودفعاليت مرکز وګرځيد بلکې د سيمې اونړۍ سوله اوثبات يې هم د ګواښ سره مخامخ کړل .

د ۱۳۵۸ کال دجدي دشپږمې نيټې تيري نه راپيداشوې غميزه چې لا تر اوسه دوام لري ، دافغانستان دخلکو په مقابل کې دومره ستره ګناه او خيانت و ، چې که عاملين يې هرڅومره هلې ځلې وکړي اود درواغجنو تبليغاتو توري لړې جوړې کړي بيا هم ځان نه شي پټولی او د دغه تيري نه د راپيداشوې غميزې له مسؤليت نه ځان نه شي سپينولی. خويوشې چې د انديښنې وړ دی هغه دادی چې که د درواغو دغه تور ديوالونه وه نه نړيږي او واقعيتونه رابرسيره نه شي او رښتيا ونه ويل شي ، نونه يواځې راتلونکي نسلونه به دخپل هيواد د تير تاريخ نه سمه پوهه ونه لري ، بلکې اوس هم يوشمير هيوادوال اونړيوال چې د پيښو له بهير نه ليرې وو اود دغو درواغو ښکار شوي دي تراخره په تورتم کې پاتې شي.

په دې کې شک نه شته چې د درواغجنو تبليغاتو دغه تور غرونه چې په حفيظ الله آمين او د هغه په حکومت باندې د کلونو کلونو په اوږدو کې راغورځول شوي دي په يوې مقالې کې يې سپيناوی ګران کار دی ، خو بيا هم رښتيا که هر څومر ه کمزورې اوتنه وي ، له هغو درواغو نه چې نه په کوم منطق برابر وي او نه په کوم سند ولاړ وي او« منزل يې لنډ وي» ډير قوت او تاثير لري او کولای شي تيرې ټولې توطيې رسوا او بربنډې کړي.

ددې لپاره چې لوستونکي د تيرو پيښنو په هکله ،چې د تيري دعاملينو له خوا د سترو تبليغاتي امکاناتو په لرلو سره خلکوته په ناسم ډول تشريح شوي دي او يوزيات شمير لوستونکي يې له واقعيتونونه ليرې ساتلي دي ،د واقعيتونونه خبر شي ، ضرور دي چې ټولې هغه پيښې ځرنګه چې وې خلکو ته وويل شي. په دې ترڅ کې دا به ګټوره وي چې يو څه رڼا په دې لاندې پوښتنو واچول شي او ځواب شي .

حفيظ الله آمين څوک و ؟ آيا د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند په رښتيا سره يوواحد ګوندو او که د مختلفو ډلو او فرکسيونونو يوه مجموعه وه ؟ د ثور پاڅون ځرنګه منځ ته راغی ؟ آيا شورويانواو د کارمل ډلې پرچميانو د ثور انقلاب په مقابل کې په مخالفت او توطيو لاس پورې نه کړ ؟ دوئ ولې مخالفت او توطيې کولې ؟ شورويانو کومې توطيې کولې چې خلقي حکومت کمزوری او له پښو وغورځوي ؟ آيا دشورويانو سر تيري ددې لپاره افغانستان ته راغلل چې خلقي رژيم ته نجات ورکړي او که ددې لپاره يې تيری وکړ چې خلقي رژيم له پښو وغورځوي ؟ آيا شورويانو د ۱۳۵۸ د جدي پر شپږمې نيټې پر افغانستان تيری وکړ اوکه د پخواني حکومت له خوا رابلل شوي وو ؟

دا ټولې هغه پوښتنې دي چې بايد لوستونکو ته د واقعيتونو دروښانه کولو په خاطر پرې په لنډ ډول رڼا واچول شي.

حفيظ الله آمين د حبيب الله خان خروټي زوی او په ۱۹۲۹ م کال کې په پغمان کې زيږيدلی د ی . ده په پغمان کې د لومړنيو زده کړونه وروسته د کابل دار المعلمين بشپړ او بيا د ساينس د پوهنځي څخه فارغ شو . ده د امريکا په نيويارک کې د کولمبيا يونيورسيټي نه د ښوونې اوروزنې په برخه کې د تخصص ( ماستري ) بری ليک تر لاسه کړ . خو د هغو انتقادونو له امله چې ده په امريکا کې د افغاني محصلينو د اتحاديې په غونډه کې د افغانستان د هغه وخت پر حکومت د غير

متوازن معارف  په اړوند وکړل  ، د حکومت له خوا بیرته  هیواد ته وغوښتل شو اود ډاکترۍ پرو ګرام یې چې اخر ته نژدې و نیمګړی  پاتې شو .
حفیظ الله آمین نژدې خپل ټول عمر د ښوونې اوروزنې په برخه کې د ابن سینا  ، دار المعلمین ، رحمن بابا ، خوشحال خان  ښوونځیو کې  د ښوونکي او د ښوونې او روزنې مؤسسې اد د ښوونې او روزنې وزارت د تدریساتو په ریاست کې د غړي  په حیث تیر کړی دی  او د ابن سینا او دارالمعلمین په ښوونځیو کې د مدیریت دنده هم سرته رسولې ده .چې په دې ډول یې په زرګونو ځوانان د وطنپالنې او انسان پالنې په روحیه ټولنې ته وړاندې کړي او له بل هر چانه زیات یې د افغانستان په ښوونیز ډګرکې شاګردان ، همکاران ، دوستان او مینه وال درلودل .
لکه څرنګه چې په ظاهر کې یونیک سیرته سړی و ،  په  باطن کې  هم هغومره پاک او سپیڅلی و . هیڅ ډول کینه یې په زړه کې چاته نه ساتله . که یو سړي به ورسره ډیر بد وکړل او بیا به یې په خپلو کړو پښیماني وښوده د ده به ورته له زړه نه  هر څه وتلي وو  ، چې تا به ویل چې  هیڅ شی نه دي واقع شوي  . ده له هر چاسره له درناوي نه ډک چلند درلود . دی یوزړور سړی و  ، هیڅکله یې چاته توطیه او دسیسه نه جوړوله او د توطیه ګرانو او دوه مخو خلکو نه یې بد راتلل  . دا چې د کارمل سره یې نه جوړیده همدا سبب و چې د نورو عواملو تر څنګ  د کارمل ټول ژوند د توطیو او دوه مخیتوب نه ډک و .
حفیظ الله آمین لکه د یو رښتیني افغان مشر په حیث د توطیې سیاست نه کاوه ، دزور سر ه له زور ازمویلو څخه نه ډاریده ، خو پټ یې د هیچا پر ضد هیڅکله توطیه نه کوله او لکه دیو رښتیني افغان مشر په حیث لوړ ملي غرور درلود . ده ته افغانان زړور ، میړني ، پتمن ،غیرتي ، سوله دوست ، وطنپال او له هر پلوه مستعد خلک معلومیدل.

دی د افغانانو د ترقۍ ، سوکالۍ او عظمت ارمانجن و. دده یواځینی ارمان داو چې افغانستان د پوهې ، تخنیک او اقتصاد له پلوه په ټوله سیمه کې یو سر لوړی او پر مختللی هیواد وي. او بل هیڅا ته محتاج نه وي . ده د افغانانو په استعداد بیخي باور درلود او داسې یې ګڼل چې که افغانانو ته د معاصرې پوهې او تخنیک د زده کړې زمینه برابره شي، کیدای شي ډیر ژر هیواد د سیالو هیوادونو په لیکه کې ودریږي او افغانان د موجوده ستونزو او وروسته پاتې والي نه ووځي .

حفیظ الله آمین د افغانستان د ټولو قومونو سوکالي یوشان غوښتله او په دې یې ټینګ باور وچې په افغانستان کې ټول قومونه د یووجود غړي دي اوباید یوشان اباد اووغوړیږي . که ټولو هغو کسانو ته، چې په دې پسې د پښتنو د لوړ تیا غوښتنې او دنورو قومونو په مقابل کې د تعصب ډنډورې وهلې ، په ځیر وکتل شي یا د بهرنیو هیوادونو د جاسوسي شبکو اجنټان وو او یا د دې اجنټانو د ناولو پروپیګنډو د اغیز لاندې راغلي کسان وو او سیاسي جنبه یې درلوده .

حفیظ الله آمین یو پاک لمنی شخصیت و او په هیڅ ډول عمل معتاد نه و . دی د ډیر قوي ذهنیت خاوند و اوکه یوسړی به یې یوځل ولید نو کلونه وروسته به یې د هغه نو م او مشخصات په یاد وو. د ګوند اکثره غړي چې ده سره یې رابطه درلوده اویا یې ورسره لیدلي وو په نوم پیژندل . دی د یوې ژبې خاوند و ، هو یې هو او نه یې نه وه . دی په خپل هیواد مین اودملي ګټو له یوې زرې څخه هم نه تیریده . ده ته دخلکو عامه شتمني د یو مقدس شي په مانا وه او یوه پیسه یې هم دخلکوله شتمنۍ نه د ځان لپاره نه ده اخستې . دی د نړۍ د ټولو هیوادونو سره د افغانستان د متقابلو نیکواو دوستانه اړیکو غوښتونکی و ، خو هیڅکله یې د هیڅ یو بهرني هیواد دیکتې نه شوه منلای او د افغانستان خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی یې د هر

هیوادسره د ښواړیکو لومړنی شرط و . داوې د حفیظ الله آمین په هکله ډیرې لنډې خبرې چې ددې په رڼاکې کیدای شي د ده د شخصیت او د هغو درواغجنو پروپیګنډو په هکله چې د کې. جي. بي. د اجنټانو له خوا په ده پسې شویدي لوستونکي سم قضاوت وکړي .
آیا د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په رښتیا سره یو واحد ګوند و او که د مختلفوډلواوفرکسیونونو یوه مجموعه وه ؟
ډیر خلک د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په هکله داسې فکر کوي چې دا ګوند یو واحد سیاسي ګوند و او که د دې ګوند منځ کې اختلافونه وو دا جزئي وو اودومره د پام وړ نه وو . خو په واقعیت کې داسې نه وه. واقعیت دادی چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند نه یوائې دا چې د مختلفو ، بلکې د مخالفو ډلو ( خلق ، پرچم ، سازا ...... یوه مجموعه وه ، چې مختلفې موخې او اړیکې یې درلودلې او له دې کبله له جوړیدو نه وروسته ( د ۱۳۴۳ کال د جدي ۱۱ نیټه ) د نور محمد تره کي او ببرک کارمل تر منځ اختلاف دومره سخت شو ، چې نور محمد تره کي په ډاګه اعلان وکړ چې نو ر په ببرک کارمل باور نه لري . د یوبل پر ضد د تره کي اوکارمل د ډلو د مبارزې له امله ګوند په خلق او پرچم وویشل شو ( ۱۳۴۲کال دثور۱۴ ) چې پوره لس کاله یې د یوبل پرضد تر بیا میخانیکي یووالي پورې ( د ۱۳۵۲ کال د سرطان ۱۲ ) د هیڅ ډول دښمنۍ اوخصومت نه ډډه ونه کړه . چې البته په دې وخت کې د شوروي سره د کارمل اوډلې نژدیوالی یې ډیر زیات شوی و . داچې د خلق اوپرچم میخانیکي یووالی ولې منځته راغی یوځه رڼا پرې اچول پکار دي.
لکه چې پوره جوته ده چې د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه په مقابل کې د داود خان په کودتا کې پرچمیانو اساسي رول درلود او په حکومت کې یې د پوره نفوذ په درلودو سره سیاسي قدرت ته د ببرک کارمل د رسیدو یو پاټکی ګڼل کیده. نو ځکه د کارمل د ډلې هڅه داو ه چې داود

خان دننه په هیواد کې د ملي وطنپالو ځواکونو ، په خاص ډول خلقیانو ، په مقابل کې ودروي . چې تر ډیرې اندازې په دې لار کې بریالي هم شول .
داود خان ددې پر ځای چې د نورو ملي وطنپالو ډلوسره نژدې شي ، په ضدیت کې ودرول شو . د میوندوال وژلو اود سلونه زیا ت د خلقي کدرونو بندیانولو د داود خان سره د خلقیانو اونورو سیاسي ډلو د نژدې کیدو هیلې کمزورې کړې . د کارمل د ډلې بله هڅه داوه چې په بهرني سیاست کې هم داود خان د دې پر ځای چې د ټولې نړۍ د هیوادونو سره ښې او دوستانه اړیکې ولري یواځې شوروي اتحاد پورې وتړي .
کله چې شورویانو ولیدل چې داود خان د هیواد په دننه کې د نورو ملي وطنپالو ځواکونو نه تجرید او یواځې د کارمل په ډلې تکیه لري او د هیواد نه بهر د نورو هیوادونو ، په خاص ډول غربي هیوادونو سر ه هم دومره تاوده اړیکي نه لري ، نو د افغانستان په کورنیو چارو کې یې په ښکار ه لاسوهنو او داود خان ته په دیکتې لاس پورې کړ. خو داود خان د یوافغان مشر په حیث د شورویانو لاسوهنو او دیکتې ته تسلیم نه شو.
خو ددې پر ځای چې دهیواد په دننه کې د شورویانود اساسي پایګاه یانې د کارمل دډلې فعالیت محدود او نورو ملي وطنپالو ډلو سره اړیکې ښې کړي ، یواځې په بهر کې د ځینو هیوادونو سره د اړیکو ښه کیدو لپاره هلې ځلې پیل کړې او په هیواد کې یې د نورو ټولو سیاسي ډلو فعالیت غیر قانوني اعلان او د « ملي انقلاب ګوند » یې منځته راوړ .
خو دا ګوند په کوم سیاسي ځواک بدل نه شو چې داود خان له سقوط نه وژغوري .
کله چې شورویان پوه شول چې د اود خان نور د دوئ له منګولونه په وتو دی ، نو په دې فکر کې شول چې د داود خان پر ځای ببرک کارمل ، چې د دوئ هره خبره مني او د افغانستان ملي ګټو نه د شوروي ګټې لوړې ګڼي ، سیاسي قدرت ته ورسوي.خو ددې کار لپاره یواځې د پرچم ډلې ،

سره ددې چې په دولت او اردو کې يې نفوذ درلود ، کفايت نه کاوه . په خاص ډول کله چې د خلق ځواکمنه ډله يې په مخالفت او رقابت کې وه . نو ځکه بايد د خلق ډله د مخالفت او رقابت پر ځای د پرچم سره د داود خان د ضربې څخه د مخنيوي په خاطر د يووالي لار خپله کړې وای . البته په دې کار کې د خلق ډلې په مقابل کې د داود خان د حکومت له خوا داختناق او ديکتاتورۍ فضا منځته راوړل هم بې تاثيره نه و .

که دخلق او پرچم ډلو يووالي څخه د خلق د ډلې دمشرتابه اکثرو غړو موخه داوه ، چې د داود خان د حکومت له ضربې نه ځان وساتي ، خو د کارمل او ډلې هيلې يې چې د شورويانو سره يې بيخي نژدې اړيکې درلودې او هر څه يې د هغوئ په پلان او مشوره و ، له دې نه زياتې او ژورې وې . کارمل او دلې يې هڅه کوله چې په دې يووالي سره د خلق په ډله کې مخالفين ، لکه حفيظ ا لله آمين او ملګري يې، له ګوند څخه وباسي او بيا د زړو او نورو ملګرو په مرسته ، په اصطلاح ددې واحد ګوند ، رهبرۍ ته ځان ورسوي . نو ځکه د خلق او پرچم د بيا ميخانيکي يووالي نه سمدستي وروسته د حفيظ الله آمين او ملګرو پر ضد دسيسې پيل او له ګوند څخه د ويستلو هڅې په ډېر قوت سره په کار ولويدې.

په دې هکله دستګيرپنجشيري په خپل کتاب ( ظهور وزوال حزب دموکراتيک خلق افغانستان )کې داسې ليکي : « .... يکې از تحريکات خود سرانه حفيظ الله آمين ترور علي احمد خرم وزير پلان حکومت سردار داود بتاريخ **۲۵** عقرب **۱۳۵۲** بود . نقشه ترور علي احمد خرم تا جائيکه تحقيقات کميسيون کنترول در ولايت کندز اشکار ساخت توسط حفيظ الله آمين طرح ګرديده بود. در ان هنګام د ر رآس کميسيون حزبی قرار داشتم . در ترکيب هيئت فوق العاده بيوروی سياسي کميته مرکزی ح . د. خ. ا . سليمان لايق عضو کميسيون کنترول حزبی ، نظام الدين تهذيب مسؤل حرفوی ولايت کندز واعضای ديګر کميسيون

کنترول حزب اشتراک داشته اند . طي چهار روز تحقیقات ادامه یافت ، بیش از صد کادر حزبی در منزل نظام الدین تهذیب به پرسشهای هیئت پاسخ گفت ، تا جائیکه از نتایج بررسي معلوم شد ، حفیظ الله امین برای اجرای توطیه خود اعضا و حتی کدر های حزبی کندز را مورد استفاده و استعمال قرار داده بود . هدف امین از این عمل ماجراجویانه این بوده است تا ابتدا خرم به اثر تهدید مرجان تروریست داخل ارگ شود . تروریست را با خود نزد سردا ر داود انتقال دهد ، سپس حمله بر سردا ر محمد داود انجام شود و انگاه اردو به حال اماده باش در آید و آمین سر انجام به اسانی از طریق قیام اردو قدرت سیاسی را به تصرف خود در اورد و در جریان قیام مسلحانه مخالفان ورقیبان سیاسی خود را تارومار وسرکوب کند » . دستگیر پنجشیري زیاتوي:

« .... هنگامیکه حزب دموکراتیک خلق افغانستان این توطیه تحریک امیز حفیظ الله آمین را توسط کمیسیو ن کنترول کشف کرد ، بیدرنگ اخراج امین ا ز کمیته مرکزي و در درجه اول سلب مسؤلیت و سبکدوشي اواز رهبری سازمان مخفی نظامی واخراج او از کمیته مرکزی حتی در یکې از جلسه های دفتر سیاسی توسط میثاق نوشته شد . .... نور محمد تره کی مصوبه اخراج امین را به این علت به تعویق انداخت تا طی یک ماه افسران بلند پایه اردوو عناصررهبری کننده سازمان های نظامی را از تحت نفوذ امین بیرون کشد» . ( بخش دوم ، فصل دوم ، ص **۵۲-۵۵** ) .

خو خلک په دې خبره خاندي ، چې ګنې د پنجشیري د کنترول کمیسیون د داود خان د استخباراتي اوپولیسي دستګاه نه هم دومره قوي و چې هغوئ په میاشتو میاشتو کې یې ایله مرجان د قاتل په حیث کشف او بندي کړ ، خو د پنجشیري په مشرۍ د کنترول کمیسیون په څلورو ورځو کې په کندز کې دګوند له کدرونو څخه د پوښتنو په نتیجه کې د خرم

اصلي قاتل « حفیظ الله آمین » کشف کړ اوله همدې کبله یې له ګوند نه د اخراج غوښتنه وکړه او په سیاسي بیورو کې تصویب هم شوه.
په خواشینۍ سره دستګیر پنجشیری اوس هم د واقعیتونو له ویلو څخه عاجز دی . دا نه شي ویلای چې دی او دده د کنترول کمیسیون د شورویانو او د هغوئ د ګوډاګیانوله خوا ګومارل شوی و ، چې په ګوند کې د کارمل د مشرتابه په مقابل کې هر ډول خنډونه له منځه یوسي. ټول ګوند د خلقیانو په شمول، د کارمل ترشا ودروي اوپه داسې یو اجیر ګوندیې بدل کړي چې هر څه ورته شورویان وایي هغه په پټو سترګو ومني اوپه اصطلاح د « انترنشنالیستي » ګټو په وړاندې ملي ګټې مطرح نه وي.
څرنګه چې د حفیظ الله امین په وجود کې پورتنۍ موخې نه تر سره کیدې د شورویانودیکتې اود کارمل مشري یې نه منله او خپلې ملي ګټې یې له هر څه نه لوړې ګڼلې ، نو ځکه باید نه یوا ځې له ګوند څخه په توطیه امیز ډول ویستل شوی وای ، بلکې د خرم دقتل په تور بایدداود خان په ګیر و رکړل شوی اوله منځه تللی وای. د حفیظ الله آمین اودده د ملګرو پرضد په « واحد ګوند » کې توطیې ورځ په ورځ زیاتیدې ، چې په دې وخت کې د کارمل یو بل مخالف او د ده دمشرتوب په مخکې خنډ ، میر اکبر خیبر ، چې د پرچم په ډله کې یو وتلی شخصیت او د ډیرو په اند له کارمل ځنې ډیر محبوبیت درلود اودرناوی ورته کیده او د کارمل په کړو وړو یې ګوتنیونه کوله په قتل ورسید .
کله چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند کې د خلق او پرچم ډلو میخانیکي یووالی منځ ته راغی اوکارمل د ټول ګوند دمشرتابه خوبونه لیدل ، نو خپل دغه رقیب او« ملګری » یې د کې. جې. بې. پواسطه له منځه یووړ. په دې هکله عبدالقدوس غوربندي په خپل کتاب ( نګاهې به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان ) کې داسې لیکي : دلایلې

کافی وجود دارد تا با آرامش کامل وجدان حکم نمائیم که خیبر توسط کې. جې. بې. طبق معلومات غلط ببرک کارمل که در مورد نقش وی در جنبش انقلابی داده بود ترور شده است (صفحه **۵۲**). همدارنګه نور ښکاره دلیلونه یې په دې اړوند د دې کتاب په **۵۷** مخ کې راوړي دي چې د لوستونکو قناعت حاصلوي.
د خیبر جنازه چې د یوې مظاهرې په ترڅ کې خاورو ته وسپارل شوه او پکې ببرک کارمل پارونکې خبرې وکړې د داود خان پلمه جوړه کړه چې د ګوند په مشرتابه حمله وکړي او په دې ډول ځان په داسې وخت کې د خلقیانو د نظامي سازمان سره مخامخ کړي، چې د کې. جې. بې. په لارښوونه د ببرک کارمل پلان لا نه و بشپړ شوی. نو ځکه د ثور د اوومې نیټې پاڅون په نتیجه کې د ببرک کارمل پر ځای نور محمد تره کی د ګوند اودولت مشر شو اودشورویانو دغه هیله،چې غوښتل یې ببرک کارمل سیاسي قدرت ته ورسیږي، ځای ته ونه رسیدله.
د ثور د اوومې نیټې پاڅون څرنګه منځ ته راغی؟ آیا شورویانو اود کارمل ډلې پرچمیانو د ثور انقلاب په مقابل کې په سبو تاژ اوتوطیو لاس پورې نه کړ؟ دوئ ولې مخالفت اوتوطیې کولې؟
باید په ډاګه شي، چې خلقیانو د داودخان تر کودتا پورې (**۱۳۵۲**کال د سرطان **۲۲**) /په اردوکې هیڅ ډول سیاسي - نظامي سازمان نه درلود. د دوئ زیات پام له هغو دموکراتیکو امکاناتونه ،چې د **۱۳۴۳** کال د اساسي قانون پواسطه منځته راغلي وو، ګټې اخستلو ته و. تر دغه وخته پورې دوئ په هیواد کې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو چارو سمون لپاره په پارلماني مبارزه بسنه کوله. د نورمحمدتره کي او حفیظ الله آمین په شمول د یوشمیر نوروکدرونو دولسي جرګې غړیتوب لپاره په ټاکنو کې دنوماندانو په توګه ودریدل او دیغمان له ولسوالۍ نه په

ولسي جرګې کې د حفیظ الله آمین غړیتوب د همدې خبرې جوت ثبوت دی.
کله چې داود خان د خلق د ډلې په شمول د ټولو سیاسي ډلو فعالیت بند کړ او هغه نیم بنده دموکراسي چې د شاه په وخت کې منځ ته راغلې وه له منځه یوړه ، نو د خلقیانو مشرتابه هم پریکړه وکړه چې د خپلې بقا او دفاع په خاطر په اردو کې د خلقیانو نظامي سازمان منځ ته راوړي . چې د دغه نظامي سازمان د منځته راتګ دنده ، لارښوونه او مشري حفیظ ا لله آمین ته وسپارل شوه . د حفیظ الله امین د پوهې ، زړورتوب او پیاوړې سازماندهۍ نتیجه وه چې په ډیرکم وخت کې د خلق ډلې سره په تړاو کې په اردوکې یو قوي نظامي سازمان منځ ته راغی. دې نظامي سازمان ته یې د داود خان پر ضد نه ، بلکې دبل هرچا په مقابل کې د داود خان څخه د دفاع لارښوونه وکړه. خو دا لارښوونه یې هم ورته وکړه که د داود خان حکومت پرګوند حمله کوي نو بیا د دې حملې په مقابل کې له ګوند څخه دفاع وشي.
داچې ولې دا دنده حفیظ الله آمین ته سپارل شوې وه د خلقیانو دهغه وخت دمشرتابه دیوغړي دستګیر پنجشیري له خبرو نه ښه څرګندیدای شي. البته نوموړی هغه څوک دی ،چې د حفیظ الله امین سره یې تل کله چې وسه شوې ده تضاد او دښمني ښودلې ده . واقعیت دادی چې ددې دندې دسرته رسیدو وس ، لیاقت او زړورتوب د هغه وخت په شر ایطوکې یواځې حفیظ الله آمین درلود . خو دستګیر پنجشیری د دې پر ځای چې د حفیظ الله آمین په پوهې او زړورتوب اعتراف وکړي د عبدالقدوس غوربندي ددې پوښتنې په ځواب کې چې : شما که با حفیظ الله امین چندان جور نبودید چگونه شد که کار با اهمیت مسؤلیت اردو را به وی تفویض نمودید ؟ داسې وایي : با این دلیل ساده که اگر مورد

اعتماد دستگاه است بگذار کار کند و در غیر آن خوب است که خطر این کار خلاف قانون متوجه ما نباشد .
آیا له هماغه وخت نه د امین پر ضد توطیې موجود نه وې ؟ په داسې وخت کې چې په واحد گوند کې د آمین او ملگرو ، چې د خلق دډلې غوڅ اکثریت ترې ملاتړ کاوه ، له گوند نه د ویستلو هلې ځلې گړندۍ شوې وې د داود خان حکومت د ۱۳۵۷ کال د ثور په ۵ نیټې دافغانستان د خلق دموکرتیک گوند باندې حمله وکړه ، چې د ثور تر ۷ نیټې پورې روانه وه اوکیدای شول چې د نورمحمد تره کي ، حفیظ الله آمین او مشرتابه نورو غړو تر نیولو وروسته په دولت کې دکارمل د ډلې د نفوذ له امله د خلقیانود نوروکدرونو ، په خاص ډول نظامي کدرونو ، چې امین سره یې اړیکې درلودلې ، دنیولو سلسله تر هغې اوږده شوې وای چې تر څویې بیخې له منځه وړې وای . نو ځکه د داودخان د حکومت د حملې په مقابل کې د خلقیانو نظامي سازمان د خپل ځان د بقا او دفاع په خاطر مقاومت وکړ او په مقابله کې بریالی شو . نوی حکومت د افغانانو د غوڅ اکثریت د ملاتړ سره مخامخ شو .
البته داخوانیانو د ډلو ځینو کسانو چې د داود خان سره هم په ضدیت کې واقع شوي وو او د خلقیانو سره نظریاتي اختلاف درلود په مخالفت کې ودریدل او گاونډیو هیوادونوته یې پناه یوړه چې د دغو هیوادونو د استخباراتي سازمانونو په مرسته به یې کله کله تخریب او سبوتاژ څخه کار اخیست .
همدارنګه د کارمل ډله چې د شورویانو سره یې کلکې اړیکې درلودلې ، دهغوئ په ډاډ ا و لمسه د انقلاب د بریالیتوب له اولې ورځې نه د دې لپاره په مخالفت کې ودریدل ، چې د شورویانو او ددوئ دا پلان چې باید د داودخان نه وروسته کارمل د قدرت په گدۍ ناست وی ، د ناکامۍ سره مخامخ شو او دکارمل پر ځای نورمحمد تره کی جمهور

رئیس اوصدراعظم وټاکل شو. دوئ د سبوتاژ ، ناوړه او درواغجنو پروپیګنډو او نورو انقلاب ضد فعالیتونو نه نیولې تر نظامي کودتاګانو پورې پر هیڅ شي اسره ونه کړه تر څو کارمل قدرت ته ورسوي . د جنرال قادر په مشرۍ د کشتمند ، رفیع اویوشمیر نوروکسانو کودتا ، چې د شوروي په لارښوونه اوډاډ باید سرته رسیدلې وای د افغانستان دخلک دموکراتیک ګوند د سیاسي قدرت په مقابل کې د ببرک کارمل ښکاره خیانت و چې د همدغه ګوند د مشرتابه دعوه یې هم کوله . ددې کودتا لپاره تیاری ان د کارمل اونورو له تګ ا و سفیرانو په حیث ټاکلو نه مخکې پیل شوی و . چې د همدې توطیې له کبله د هغه وخت سیاسي بیورو اکثریت غړو د کودتا او توطیې د مخنیوي په خاطر د دوئ د سفیر کیدو پریکړه وکړه . د دې توطیې په باره کې د توطیې ګډون کوونکی نبي عظیمي چې د غزني د ۱۴ فرقې قوماندان مقرر شوی و داسې لیکي:

« . . . روزی یکی از دوستانم از کابل تلیفون کرد و گفت مادرت مریض است فوراً به کابل بیا . . آنروز ۲۸ ماه جون بود منزلم د ر خیرخانه مینه بود با شتاب خود را به انجا رسانیدم مادرم را کاملاً صحتمند یافتم . برادرم توضیح داد که رهبر ارزوی ملاقات را با تو دارد . بعد از ساعتې عبدا لوکیل که در آن موقع معین وزارت خارحه بود به منزلم امد . . . او گفت متأسفانه ارزوها و کوشش های صادقانه رهبری ما در راه ایجاد وحدت و یک پارچگی ح. د. خ . ا . به اثر دسایس و توطیه های حفیظ الله امین و همدستانش با شکست مواجه شد . . . .او د ر نظر دارد تا تمام پرچمی هارا از رهبری الی صفوف از صحنه خارج و حتی به صورت فزیکی به نام خائن به انقلاب ثور از بین ببرد . . . همین اکنون تصمیم وی در مورد سفیر شدن رفیق کارمل در پراگ ، نور احمد نور در واشنگتن ، اناهیتا راتب زاد به بلگراد . . . به معنی کودتاه سیاسی علیه حزب ماست. ... ما با اکثر افسران و اعضای حزب صحبت کرده ایم. . . . نظر تمام اعضای حزب

پرچم اینست که درصورتیکه امین د ر تصمیم خود پافشاری نماید باید اردو قیام مسلحانه را علیه امین اغاز نماید . وی گفت من می خواهم امادگی خودت و رفقای فرقه ۱۴ را به رفیق کارمل در مورد قیام مسلحانه اردواطلاع بدهم .چه فکرمیکنی ؟ آیا میتوانی در انجا استقلال فرقه را اعلان ودر صورت درخواست ما بطرف کابل مارش نمایی ؟. . . . من به وکیل گفتم اگر راه و وسیله دیگری سراغ ندارید ، من حاضرم » ( اردو و سیاست صفحه ۱۵۸ ) .

اوس باید لوستونکي پخپله قضاوت وکړي چې په سفارتونو باندې مقرریدل د یووالي ماتول و اوکه د انقلاب پرضد وسله واله کودتا ؟ د پنجشیري د کتاب پر بنسټ کارمل او ملګرو یې مخکې له انقلاب نه امین او ملګري له ګوند نه ویستل او نوم یې پرې د وحدت استحکام ایښود . خو د کارمل د توطیو د مخنیوي په خاطر په سفارتونو باندې د ده اویوځو نورو کسانو مقرري بیا د یووالي ماتول او سیاسي کودتا بلل کیږي او د انقلاب او ګوند پرضد د کې. جي. بي. په ملاتړ وسله وال قیام یوائې د شخصي قدرت لپاره بیا روا عمل بلل کیږي. آیا دا په څرګنده توګه د شخصي قدرت او ګټو په خاطر ملي ګټوته خیانت نه و چې کارمل او ملګرو یې سرته رساوه ؟

د کارمل او نورو له سفیر کیدونه وروسته د انقلاب اوخلقي دولت په مقابل کې د پرچمیانو له خوا په منظم ډول توطیې اودسیسې سرته رسیدې . د پرچم بقایاوو په قصدي ډول داسې کارونه کول چې خلقي دولت بد نام او خلک یې په مقابل کې راوپاروي. د دولت په مقابل کې د دروا غجنو تبلیغاتو څخه سربیره یې نور داسې کارونه هم کول چې د خلکو له غوښتنو اوعنعنوسره یې مخالفت درلود او کله چې به یې لمسوونکی جنایت سرته ورساوه ، نو به یې په قصدي ډول ویل چې د رفیق امین په دستور داکار کوم . همداسې نور د خلکو ځورول او خشونت او له منځه

وړل د دغه انقلاب ضد عناصرو له خوا چې په ګوند او دولت کې يې د میکروبونو په څیر ځای نیولی و بې شماره دي. په ګوند او دولت کې د ننه د انقلاب دې دښمنانو یواځې ددې لپاره چې کارمل قدرت ته ورسیږي د انقلاب خلکو او وطن پرضد له هیڅ ډول توطیو ، خیانت او جنایت نه ډډه نه کوله . البته دا ټول کارونه د شوروي کې. جې. بې. په لارښوونه سرته رسیدل.

کې. جې. بې . نه یواځې پرچمیان د انقلاب او خلقي دولت په مقابل کې د توطیو په جوړولو مصروف کړي وو بلکې دګوند په مشرتابه کې یولږ شمیر خلقیان، چې غولیدلي اویا ځانونه په شورویانو خرڅ کړي وو هم د ثور انقلاب او خلقي دولت د اصولي مشرتابه په مقابل کې ، چې شپه او ورځ یې د وطن د ترقۍ اودخلکو د سوکالۍ لپاره هلې ځلې کولې ، د توطیوسرته رسولو ته هڅولي وو. دوئ هم د کارمل د ډلې د بقایاو په شان دامین پرضد دشفاهي تبلیغاتو اود پروپیګنډې پټو پاټو دخپرولو نه نیولې ، د بیګناه خلکو په ځورولو ، بندي کولو او حتی له منځه وړلو اسره نه ده کړې . دا ټول ددې لپاره دا جنایتونه سرته رسیدل چې خلقي دو لت د خلکو له ملاتړ نه محروم او کارمل راوستلو ته زمینه مساعده کړي .

شورویانو دخلق په ډله کې د خپلو دغو اجنټانو پواسطه نه یواځې حفیظ الله امین پسې ناوړه تبلیغات کول اود ټولو هغو جنایاتو، چې به یې د کارمل ډلې سره یوځای سرته رسول ، ګوته امین ته نیوله ، بلکې د امین او تره کي ترمنځ یې د مخالفت منځته راوړو لپاره هم د دغو اجنټانو نه کار اخیست او څو ځلې یې د کې. جې. بې. په دستور د امین د ترور پلان جوړ کړ ، خو ناکام شو . له هاوانا څخه تره کي د راتګ په وخت کې د هوایي میدان او ارګ ترمنځ لار کې د امین د وژلو پلان او د ۱۳۵۸ کال د سنبلې په ۲۵ نیټه د تره کي د دفتر تر مخې ،په داسې وخت کې چې دشوروي سفیر پوزانوف د تره کي په دفتر کې ناست و، پر امین باندې د

کلاشنکوف ډزې او پر دغو ډزو کې د سید داود تړون ځای پر ځای مړینه او د وزیر ځیرک ټپي کیدل د توطیې اوترور هغه ښکاره بیلګې دي چې په مستقیم ډول پکې شورویانو لاس درلود اوغوښتل یې دخپلو اجنټانو په واسطه عملي کړي . ویل کیږي دا ډزې د تره کي د یاورانو ،قاسم او ببرک ، له خوا شوې دي اوبیانور وایي چې د پوزانوف د ساتونکو له خوا ،چې وسله وال وو ، شوي دي اوپه دې سره شورویانو غوښتل د دې دوو مشرانو ترمنځ، چې خلقیان او پښتانه وو ،لاپسې بې باوري او بیلوالی ژور کړي.

باید وویل شي چې دا ټول کارونه ددې لپاره کیدل چې یو ملي خپلواک حکومت چې د نور محمد تره کي او حفیظ امین په وجودکې منځته راغلی و ، له منځه یوسي او پر ځای یې د ببرک کارمل په مشری یو ګوډاګی حکومت منځ ته راوړي. باید روښانه شي چې حفیظ الله امین د ۱۳۵۷ د ثور ۷ نیټې انقلاب نه وروسته د بهرنیو چارو وزیر او د صد راعظم مرستیال وټاکل شو ، چې په دغه وخت کې د دولت رئیس ، صدراعظم او د وسله والو او امنیتي قواو اعلی سرقوماندان نورمحمد تره کی و . د دفاع وزیر ( محمد اسلم وطنجار ) ، د کورنیو چارو وزیر ( شیرجان مزدوریار ) اود اګسا رئیس ( اسد ا لله سروري ) مجبوریت نه درلود چې د خارجه چارو وزیر او د صدراعظم مرستیال ته یې د خپلوکارونو راپور ورکړی وای او یا یې ورله امر منلای وای . د اګسا رئیس خولاله اول نه د امین سره په ضدیت کې و. څو ځلې د تره کي او امین تر منځ د اګسا د رئیس د ناوړه کارونو له امله اختلاف او جنجال رامنځته شو ، چې حتی د دوئ جنجال د وزیرانو شورا په غونډه کې هم مطرح شوی دی ، چې حفیظ الله امین د ده د ناوړه کارونو له کبله د هغه لیرې کول غوښتل ، خو نورمحمد تره کي له هغه نه دفاع کوله او د امین خبره یې نه منله. همدارنګه د مخابراتو وزیر ( سید محمد ګلاب زوی ) هم له اول نه د

امین پر ضد په ښکاره مخالفت پیل او د تره کي او امین تر منځ یې د بې باورۍ او بې اتفاقۍ منځته راوړو لپاره له هرچانه ډیره لمن وهله او د همده پواسطه د دفاع وزیر او د کورنیو چارو وزیر بیا وروسته د حفیظ الله امین سر ه په مخالفت کې ودرول شول . همدا سبب دی چې د جدي د ۲ نیټې تیري نه وروسته نوموړي څلور واړه کسان د کارمل په ګوډاګي حکومت کې په لاپسې لوړو دندو وټاکل شول .

د جدي د شپږمې نیټې تیری:

کله چې د شورویانو ټولې دا توطیې د خلقي دولت نه د ملاتړ له امله ناکامه شولې ، نو یې پر افغانستان باندې مستقیم تیري ته ملا وتړله او دا تیری یې د ګوند او دولت نه د یوڅو شړل شوو کسانو په مرسته په غلچکي ډول د ۱۳۵۸ کال د جدي په۶ نیټه سر ته ورساوه . شورویانو فکر کاوه چې ددې کسانو په موجودیت کې به افغانان وغولوي او خپل تپل شوی ګوډاګی حکومت به پرې ومني . خو داسې ونه شول او د افغانانو ددې غبرګون په وړاندې چې روسان او ددوئ ګوډاګی کارمل دې زموږ له هیواد نه ووځي ، حتی د ۱۳۵۸ کال د حوت په دریمه نیټه د تیري کوونکو پښې ولړزولې او پوه شول چې نه دوئ څوک مني او نه یې ګوډاګي .

تیري کوونکو او د کارمل ګوډاګي رژیم چې هر څومره له توطیو ، مکر حیلو ، دروغو ، زور او زیاتي نه کار واخیست ، خو ځان یې په خلکو ونه شو تپلی . تیري کوونکي مجبور شول چې زموږ له هیواد نه ووځي . شورویانو او لاسپوڅویې ددې لپاره چې افغانان اونړیوال تیرباسي په خوورونو دروغ باد کړل او هڅه یې وکړه چې د یودروغو پټولو لپاره سل نور دروغ ووایي ، خو ګټه یې ور ته ونه کړه.

کله چې د شورویانو دهغه وخت رهبري د تیري په لومړیو ورځو کې د تیري نه په دفاع کې ژورنالستانو ته د تیري په هکله دلیلونه ویل نو اوله خبره به داوه چې : «زموږ جنوبي سرحدونه په خطر کې وو ». یا به یې

دکارمل ډلې اود هغه په څېر نورو وطنپلورونکو ته اشاره کوله چې : « د ګوند او دولت داصولي مشرتابه له خوا رابلل شويدي » . خو کله چې نړيوالې ټولنې د شورويانو په دې اوتو بوتو لعنت ووايه او دا څرګند تيرى يې وغانده او له افغانستان څخه يې د تيري کوونکو دوتلو غوښتنه وکړه ، نو يې په نورو اوتو بوتو پيل وکړ او هغه داچې ګوندې د پخوانې حکومت ( د تره کي او امين حکومت ) له خوا دعوت شوي وو او هغه هم يو ځل نه ۱۴ ځلې ، ۱۵ ځلې او ۲۰ ځلې !!! .

د کارمل ډلې او متحدينويې ، چې د جدي ۲ تورې ورځې ته يې د نجات ورځ ويله ، د کې . جې . بې . د جنرالانو څخه هم په دروغو کې مسابقه وړې او په دومره بيشرمۍ د شوروي کې . جې . بې . په دستګاه کې جوړې شوې پروپيګنډې د تو طيانو په شان تکراروي چې سړى ورته حيرانيږي . خو واقعيت بل شى دى او دهغه وخت شوروي لوړ رتبه مامورين او افسران هم کله کله مجبوريږي چې اعتراف وکړي . د مثال په ډول ، د شوروي دولت د بهرنيوچارو د وزارت معين کريينکو وايي :« زما د معلوماتو له مخې دغه پريکړه ( چې پر افغانستان تيرى وشي – ليکونکى ) په يوه تنګه کړۍ کې شوې وه ، چې پکې بريژنف ، اندروپوف ، اوستينوف ، ګروميکو او سوسلوف ګډون کړى و . اوس نه شم کولاى په پوره يقين سره درته ووايم چې هلته چا څه خبره وکړه ، خو په يوه ټکي راسره هيڅ شک نه شته او هغه دا چې د پوځونو د ليږلو موضوع د اندروپوف له خوا پورته شوه . د اندروپوف تر مشرۍ لاندې د کې . جې . بې . غړو د امين په هکله شکمن اطلاعات ورکول چې ګنې د سي . آى . اى . سره اړيکي لري ، چې بيخي د امريکايانو جاسوس شويدى اوخپل هيواد هغوئ ته سپارل غواړي . د اندروپوف همدې استدلال د دفاع وزير اوستينوف هم قانع کړى و . د بهرنيوچارو وزير ګروميکو هم ددغې پريکړې پلوي کړې وه . ښايي هغه په اول سرکې مخالفت کړى وي ، خو ده داسې عادت درلود چې

د سترګو په رپ کې يې د يوې نظريې د مخالف نه د هغې عامې بنې بدلون کاوه. بريژنف هم چې د هغه مثلث غړی و بيخي باور درلود او ځکه يې نو د هغوئ د پريکړې مخالفت ونه شو کولی ». ( بي بي سي له خوا چاپ شوی کتاب: ژوندی خاطرې - داکتر عبد العلي ارغنداوی ، ۳۱۹ مخ ).
داچې ولې شورويانو پر افغانستان تيری وکړ او خپل عسکر يې وليږل د شوروي د کمونست ګوند د مرکزي کميټې ځينې هغه دليلونه چې د تيري نه وروسته يې راوړي دي اود اندروپوف ، ګروميکو ، اوستينوف او پانماريف له خوا په ۲۱ –۱۲ – ۱۹۷۸ نيټه لاسليک شوي او د ډيرو پټو اسنادو په جمله کې راتلل دادي:
- « . . . . بيشتر اشتراک کنندګان انقلاب اوريل و کسانيکه علاقمندی خود را به اتحاد شوروی تبارز ميدادند و آنانيکه از موازين لينني زندګی درون حزبی دفاع ميکردند ، مورد سرکوب قرار ميګرفتند . . .» .
- « . . . به دستور امين اوازه های ساخته شده و بافته شده يې برضد شوری پخش ميګرديد » .
- « . . . همګام با آن تلاش های به خرج داده ميشد تا با امريکايی ها در چار چوب ( مشی متعادل تر سياست خارجی ) که امين انرا شعار قرار داده بود تماس های برقرار ګردد . امين با کاردار سفارت امريکا در کابل ديدار های پنهانی ميکرد . حکومت جمهوری دموکراتيک افغانستان دست به فراهم ساختن زمينه مساعد برای کار مرکز فرهنګی امريکا زده و سرويسهای ويژه جمهوری دموکراتيک افغانستان به دستور امين به نظارت بر سفارت پايان داده بودند » .
- « امين تلاش ميورزيد موقف خود را از راه دستيابی به توافق با رهبران ضد انقلاب داخلی استحکام بخشد. او از طريق اشخاص مورد اعتمادش با رهبران اپوزيسيون مسلمان داخل تماس ګرديده بود » .
( طوفان در افغانستان ، جلد يکم ، الکساندر لياخفسکی ، صفحه ۱۵۲ ) .

د شورويانودتيري اود حفيظ الله امين د خپلواک ملي حکومت رانسکورولواو د يوګوډاګي حکومت منځ ته راوړلو دليلونه ډير ويل شوي دي ، چې په قطعي ډول واقعيت نه لري اومطلق دروغ اوپروپيګنډي اړخ لري . خو د دغو دروغوډکو دليلونو تر څنګ د شورويانوله مشرتابه څخه ځينې رښتيا دليلونه هم ويل شوي دي چې د دوئ له شرمه ډک تيري ماهيت څرګندوي . دوئ د خپل تيري يودليل دا راوړی دی ، چې د دوئ ګوډاګيان ، ببرک کارمل اوډله يې ، له کارونو ليرې شوي وو . بل غټ دليل دا دی چې آمين د شوروي ضد اوازې خپرو ي اوغواړي د متعدل سياست لاره خپله کړي او د امريکا په شمول د نړۍ د ټولو هيوادونو سره خپلې اړيکې ښې کړي . او هم غواړي خپل موقف د مخالفينو سره د سولې له لارې ټينګ کړي او خپلو باوري کسانو پواسطه اسلامي اپوزيسيون مشرانو سره خپله رابطه ټينګه کړي.

که سړی ورته ځير شي دا ټول هغه څه دي چې د امين حکومت غوښتل د نړۍ له ټولو هيوادونوسره ، د امريکا په شمول ، خپلې اړيکې دوستانه کړي . او هم د هيواد په دننه کې د جرګو له لارې سوله اوثبات ټينګ کړي. چې تر ډيرې کچې په دواړو برخو کې پرمختګ شوی و او کيدای شول ډير ژر په هيواد کې بشپړه سوله ټينګه او د نړۍ د ټولو هيوادونو سره مو اړيکې ښې شوې وای . خو په خواشينۍ سره د شورويانو تيري د سولې او ثبات ټولې لارې برباد کړې او زموږ هيواد يې په خپل خاينانه تيري سره د ساړه جنګ د تضادونو د ټکر ميدان وګرځاوه ، چې بيشانه بشري ، مادي او معنوي نه جبرانيدونکي زيانونه يې افغانانوته راوړل اويوه رښتيانۍ تراژيدي يې رامنځ ته کړه .

که پر افغانستان باندې د تيري لپاره د شورويانو پورتنيو دليلونوته وګورو ، آيا يو خپلواک هيواد حق نه درلود چې د نړۍ د ټولو هيوادونوسره يې دوستانه اړيکې ټينګې کړې اوبې غرضه مرستې يې

لاس ته راوړې وای. په خپل هیواد کې د سولې ټینګیدو لپاره د جګړواو وینو تویولو پر ځای د جرګو او خبرو اترو لار غوره کړې وای. آیا حفیظ الله امین کولای شول دغه شان اسارت راوړونکې پالیسي غوره کړي ؟ دا کار یوازې د کارمل په څیر کسانو کولای شو، چې د شورویانو په غلامۍ یې هم ویاړ کاوه.
همدارنګه شورویانو دا هم په خپلو دلیلونو کې راوړي دي، چې په حفیظ الله امین پسې پټې تبلیغاتي پاڼې خپریدلې. خو دا هغه تبلیغاتي پاڼې وې چې د شوروي په سفارت کې به جوړیدې اوبیا به د اګسا په موټرو کې خپریدې او مقصد یې یوازې شوروي تیري ته د زمینې مساعدول او د ببرک کارمل قدرت ته رسول و.
د شوروي له تیري نه مخکې د حفیظ الله امین په مشرۍ حکومت نژدې د ټولې نړۍ له هیوادونو سره سیاسي دیپلوماتیکې اړیکې درلودلې او هغه یې کوله چې د پاکستان سره، چې د مخالفینو اساسي ملاتړ کوونکی هیواد و، د دوستۍ او ښو اړیکو ترون په لاسلیک کیدو سره په هیواد کې سوله ټینګه او هم د امریکا په شمول د غربي هیوادونو سره نیکې دوستانه اړیکې، چې ددې هیوادونوځنې دمرستو د ترلاسه کولولپاره اړینې وې، ولري. خو دشوروي مستبد حکومت د افغانستان د خپلواک هیواد دغه خپلواکه پالیسي نه خوښیده اود ټولو نړیوالو نورمونو په تر پښو لاندې کولو سره یې پر دغه خپلواک هیواد تیری وکړ اوداسې غمیزې د پیل سبب شو چې لا تر اوسه روانه ده اود افغانانو لپاره یې ستر زیانونه منځته راوړي دي.
د شورویانو د تیري د توري تیره څوکه، تر هر څه لومړی خلقي ګوند اودولت ته متوجه وه. د تیري په لومړۍ ورځ یې د افغانستان برحال جمهور رئیس د هغه د زامنو او ګڼ شمیر افسرانو او سرتیرو سره یو ځای په شهادت ورسول او د خلقیانو د ګوندي اودولتي مشرتابه ټول غړي یې

د یوزیات شمیر کدرونوسره جیل ته واچول او په ټول کې یې د خلقیانو په ځپلو لاس پورې کړ. څوک چې په اولو ورځو کې زندان ته ونه لویدل ، ډیر یې ترور اوله خپلودندو څخه ګوښه کړل شول اوتر سخت فشار اوڅارنې لاندې راغلل. هر چا چې به د شورویانو او کارمل د واکدارۍ په مقابل کې مخالفت کاوه اوښکاره به شو نوسمدستي به د کې. جې. بې. او خاد له خوا ، چې په واقعیت کې په افغانستان کې د کې. جې. بې. یوه څانګه وه ، په مرګ محکوم او له منځه ته . همدا سبب و چې د خلقیانو مطلق اکثریت د تیري کوونکو او د هغوئ د ګوډاګي رژیم په مقابل کې ، دننه په ګوند اودولت کې په مقاومت اومخالفت لاس پورې کړ او په هغه برخلیک اخته شول ، له کوم سره چې د افغانستان ټول وطنپالونکي مخامخ وو ، چې له دې درکه ورته د سر ډیر تاوانونه واوښتل او ډیرې ستونزې او محرومیتونه یې وګالل.
دتیري کوونکو او لاسپوڅو یې هم د افغانستان دخلکو د بې ساري سرښندنوله امله ، چې نړیوالې ټولنې یې ملاتړ کاوه ، پښه ټینګه نه شوه او وه یې نه شول کړای ځان پر افغانانو وتپي . خو د هغو توطیو له امله چې د تیري له اولې ورځې نه یې پیل کړې وې او هغه په لومړي سر کې د ءء بیل یې کړه ایل یې کړه ءء توطیه وه ، وشول کړای د خپلو وتلونه وروسته په افغانستان کې د سولې د ټینګیدو مخه ونیسي. البته په دې کار کې د نړیوالې ټولنې غفلت او د افغانانو دمسئلې د حل په هکله د دغې ټولنې بې تفاوتي د سولې دښمنانوته زمینه مساعده کړه چې دملګرو ملتونو د سولې د پروګرام په مقابل کې د ۱۹۹۲ کال د اپریل په ۲۵ کودتا وکړي او یوځل بیا زموږ هیواد وال په وینو او اوښکو کې ولمبوي . او هغه څه چې د تیري کوونکوسره د جګړو له وختنه یو څه روغ پاتې وو له خاورو سره خاورې کړي او زموږ هیواد د ملي زعامت د نشتوالي له کبله د د پردیپالنې ، تروریزم او مخدره موادو د قاچاق په

مرکز بدل کړي . او په دې ډول نه یواځې د افغانانو تیر، حال او راتلونکی د خطر او ناورین سره مخامخ کړي ، بلکې د سیمې او نړۍ سوله او ثبات هم په خطر کې واچوي.

البته د دې ټولو پړه دشوروي تیري کوونکو په غاړه ده ، چې د خپلو پراختیا غوښتونکو هژمونیستي هیلو له کبله یې یو ملي حکومت چې د ملګرو ملتونو د سازمان فعال غړی او د نړۍ د اکثرو هیوادونوسره یې سیاسي –دیپلوماتیک اودوستانه اړیکي درلودل او دخپلو خلکو ملاتړ ورسره و له منځه یوړ او زموږ هیواد یې د یوې اوږدې غمیزې سره مخامخ کړ.

هیله ده چې لوستونکو ، او په خاص ډول هغو کسانو ته ،چې لا تر اوسه یې ددې پوښتنې ځواب نه درلود چې ایا شورویان د دې لپاره راغلي وو چې خلقي رژیم وژغوري او که یا له منځه یې یوسي ؟ اویا شورویانود ۱۳۵۸ کال د جدي پر ۲ نیټې پر افغانستان تیری وکړ اوکه د پخواني حکومت له خوا دعوت شوي وو ؟موضوع روښانه شوې وي اونور د کې. جې. بې. د اجنټانو په دروا غجنواوناولو پروپیګنډوتیر نه وځي .

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۰ کال د جدي پر ۲ نیټه د یووالي د جریدې په څلورمه ګڼه کې خپره شویده.

# د ملي-دموکراتو شخصیتونو اوډلو یووالی باید څرنګه اودڅه لپاره وي *

په دې کې شک نه شته چې یووالی په هره سطحه چې وي د ځانګړو موخود لاسته راوړ لپاره ضروري کار دی. که دا یوه کورنۍ وي یا کلی ، یا ټولنه یا ګوند ، یا حکومت او یا کوم بل ټولنیز جوړښت ، هغه بریاوې چې په یووالي کې لاس ته راځي په بیلوالي کې به یې هیڅ وخت څوک د لاسته راوړو جوګه نه شي . په هره ټولنه کې هغه سیاسي اوټولنیز سازمانونه ډیر بریالي وي چې یووالی لري . نوځکه یووالی د هر پرمختګ اوترقۍ لپاره لومړنی شرط دی.

په افغانستان کې دسولې او ثبات د منځته راتلو او د دموکراسۍ د اصولو تامین لپاره د هیواد د ټولوملي دموکراتو شخصیتونواوډلو یووالي ته ضرورت دی . دغه واحدملي دموکرات ځواک به تر ډیرې اندازې پورې نه یواځې دسولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي په ټینګیدوکې چې دراتلونکي سیاسي نظام د بریالیتوب لپاره بنسټیز عوامل ګڼل کیږي ونډه واخلي ، بلکې د هیواد بیا رغاونې په چاروکې به هم خپل مکلفیتونه د ملي ګټو په پام کې نیولوسره سرته رسوي او د خلکود ستونزو په اوارولو کې به د خلکو د باور وړ سیاسي- ټولنیز نماینده ځواک حیثیت ولري ، چې دنړیوالې ټولنې د یوې برخې په حیث به دغې ټولنې ته دمنلووړ ځواک وي. په دې شرط چې :

- په دغه ځواک کې ټول راټول شوي ملي شخصیتونه د دموکراسۍ او بشر د حقوقو اصولوته و فادار او د دغو اصولو په پلي کیدو کې له هیڅ ډول هلو ځلو نه ډډه ونه کړي.

- د ساړه جنګ د وخت د استبداد او دیکتاتورۍ اشتباه ګانې تکرار نه کړي او د هغه وخت د نومونو او اهدافو نه چې په اوسني وخت کې د افغانستان خلکو او نړیوالو ته د منلو وړ نه دي ځان لیرې وساتي .
- د نړۍ د ټولو هیوادونو سره چې دموکراسۍ او بشر حقوقو ته احترام لري د یوشان دوستانه اړیکو غوښتونکي وي او ځان په کوم خاص هیواد پورې ونه تړي او د یو ملي ځواک په حیث د پردیو استخباراتي شبکو له نفوذ او اغیز نه پاک وي.
- د ټولو غړو عقیده او کره وړه یې د خپلو خلکو له عقیدو او دود او دستور سره سمون ولري او د پردیپالنې تروریزم او مخدره موادو د استعمال ، کرنې او قاچاق پرضد مبارزه وکړي .
- له هر ډول قومي ، ژبني ، مذهبي ، جنسي اونورو تعصباتو او تبعیض نه ، چې زموږ د هیواد والو ورورګلوي ، ملي یووالی او د ټولنې پرمختګ یې د خطر سره مخامخ کړی وي لیرې وي .
- د تیرو ټولو پیښو په هکله صادقانه تحلیل ولري او د شخصي او ګروپي ګټو په خاطر پر واقعیتونو سترګې پټې نه کړي . د مثال په ډول پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د ۱۳۵۸ کال د جدي د ۶ نیټې تیری چې د افغانانو د غمیزې د پیل ورځ ده ، د نجات ورځ ونه وایي .
- دیو واحد سیاسي ځواک ټول غړي په اصولو کې یو د بل مخالف نه وي داسې کسان کولای شي په خپل یووالي سره داسې یو ملي دموکرات ځواک ،چې اوسنیو غوښتنو ته جواب ووایي او هم افغانانو او نړیوالې ټولنې ته د منلو وړ وي ، منځ ته راوړي .
- چې دایووالی د جانبینو له خوا د یو شریک میکانیزم په منلو سره منځته راشي .

- دا یووالی به په طبیعي ډول بې له هر ډول شک او تردید نه پر یوبل باندې د پوره اعتماد په صورت کې ، بې له دې چې خاصې هلې ځلې او تحمیل ډوله فعالیتونه پکې احساس شي ، سرته ورسیږي .
- دا یووالی باید اصولي ، صادقانه ، دموکراتیک او رښتیانی وي اود کارونو دمؤثریت او پرمختګ سبب شي.
- دا یووالی باید دملي ګټونه د ښې دفاع په خاطر منځته راغلی وي او د خلکو له نظره مثبت او په افغانانو کې د باور او اعتماد نه برخمن وي.
- نوموړی یووالی باید هیڅ ډول فرکسیوني ناروغتیاوې دننه واحد ګوند ته انتقال نه کړي . اود سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدو اود هیواد بیا رغاونې لپاره هلې ځلې پیاوړې کړي .
د پورتنیوټولو ټکو په نظر کې نیولوسره د افغانستان ملي یووالي سازمان د منځته راتلو ( ۱۹۹۲ کال د اګست د میاشتې ۱۹ نیټه ) له لومړۍ ورځې څخه د ې سازمان په خپلې کړنلار کې د ټولو ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو یووالي غږ په دې ډول پورته کړی دی :
« د افغانستان ملي یووالي سازمان ټولو هغو ملي وطنپالو او دموکراتو عناصرو او ځواکونو سره ،چې دا کړنلاره مني او په پلي کیدو کې یې هلې ځلې کوي سازماني یووالي ته چمتو دی او په دې لار کې به د هیڅ ډول هاند او هڅې نه ډډه ونه کړي » . پوره پنځه کاله او شپږ میاشتې مخکې د افغانستان ملي یووالي سازمان د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو سره د یووالي لپاره خپل غږ پورته کړی دی او په ټوله دې موده کې یې په دې لار کې له هیڅ ډول هلو ځلو نه ډډه نه ده کړې .چې له همدې کبله یې لیکې مخالفینو د ناوړه تبلیغاتوسره سره له پخوا څخه زیاتې پراخه شوي اوتر ډیرې اندازې د هیواد په دننه اوبهر کې پیژندل شوی او ورځ په ورځ په دغه لار کې پرله پسې ګامونه اخلي او خپل دریځ ټینګوي .

نو ځکه د افغانستان ملي یووالي سازمان د خپلې کړنلارې په نظر کې نیولوسره د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو سره د سازماني یووالي ، اتحاد او ائتلاف د مکانیزم په هکله د خپل نظر ټکي لاندې په لنډ ډول وړاندې کوي .

۱-د افغانستان ملي یووالي سازمان ټولو غړو ته لا پخوا لارښوونه شویده چې دهیواد دکورنیو او بهرنیو شرایطو په پام کې نیولو سره د ټولو سوله غوښتونکو ملي دموکراتو ځواکونو او روڼ آنده شخصیتونو سره د یو سر تر سري تفاهم د منځته راوړلو په خاطر صادقانه او نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړي . دوئ به د دغو ګډو هلو ځلو په بهیر کې د تل په شان د هیواد لوړې ملي ګټې په نظر کې لري او هیڅکله به د خپلو شخصي او سازماني ګټو په خاطر د افغانستان د خلکو ملي ګټې تر پښو لاندې نه کړي اود تفاهم تر بریالۍ پولې پورې به په دغه پروسه کې د پخوا په شان د زغم او تیریدنې نه کار اخلي.

۲-ټول هغه سوله غوښتونکي ملي دموکرات شخصیتونه ، ډلې اوسازمانونه چې د افغانستان ملي یووالي سازمان دکړنلارې سره کوم اصولي اختلاف نه لري کولای شي په دې کړنلارې راټول شي اوبیا به دسازمان دننه ټولې مسئلې په دموکراتیک ډول د سازمان په لویه غونډه کې فیصله شي . له هرې بلې لارې نه دا د یووالي لپاره اسانه ، اصولي اونژدې لار ده.

۳-هغه ملي دموکرات شخصیتونه اوډلې چې د افغانستان ملي یووالي سازمان د کړنلارې سره بشپړ توافق نه لري کیدای شي خپل سازمان اوکړنلار منځ ته راوړي . جانبین به بیا بې له کومې بیړې داختلاف وړ ټکو د لیرې کیدو لپاره د سازماني یووالي په خاطراړیکي ټینګوي . د اختلاف د لیرې کیدو په صورت کې به سازماني یووالی منځ ته راځي . او

که د اختلاف ور ټکي پاتې کیږي ، نو بیا په شریکو ټکوکیدای شي یوبل سره اتحاد یا ائتلاف وکړي.
**۴**-د یووالي په هکله د خبرو لپاره هر اړخ خپل استازي ( استازو ) ته دنده ورسپاري چې د هرډول ټاکنو یا انتخاباتونه مخکې پر یوې مشترکې پالیسۍ د سازماني یووالي یا جبهې لپاره کار وکړي . د جانبینو د موافقې په صورت کې به اخري پریکړه د دغې پالیسۍ د پلي کیدو په خاطر د سازمان جوړې شوې لویې غونډې کې د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ کیږي.

---

*- دالیکنه د ۱۳۸۱ کال د حمل پر **۱۵** نیټه د یووالي د جریدې په **۵** گڼه کې خپره شوې ده.

# د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو ټینګ یووالی د لوې جرګې د بریالیتوب ضامن دی ، نه په یو او بل نوم بیلوالي ته لمن وهل *

افغانستان یو ډیر قومیز هیواد دی ، چې د پیړیو پیړیو راهیسې پکې
لوی او واړه قومونه د یو وجود دغړو په شان په ګډه د پردیو له خوا د
تیریو او توطیو په مقابل کې جنګیدلي او په دې ډول یې خپل شته والي
او بقا ته دوام ورکړی دی. هرکله چې ددې قومونو تر منځ یووالی ټینګ
و ،نو په هیواد کې هم نه یواځې سوله او ثبات ټینګ و ، بلکې د ټولو
قومونو د یوشان پرمختګ اوسوکالۍ لپاره هم مناسب شرایط موجود
وو . خو کله چې د پردیو په لمسه د ځینو کسانو او ډلګیو پواسطه د
قومونو یووالی کمزوری شوی دی ، له دې سره سم سوله اوثبات له
منځه تللي ، د پردیولاسوهنو او توطیوته زمینه مساعده شوې او د
پرمختګ او سوکالۍ پر ځای افغانانو ته ستر زیانونه اوښتي او د ډول
ډول کړاوونو ، سپکاویو او ستونزو سره مخامخ شوي دي.
همدا سبب دی چې ټول په خپلو خلکو او هیواد مین روښانفکران ،
ټولنیز او سیاسي شخصیتونه او ډلې ، چې دهیواد ملي ګټو ته وفادار
وي ، باید په افغانستان کې د یوواحد ملت په چوکاټ کې د ټولو
قومونو یووالي لپاره مبارزه وکړي . ټول قومونه لوی وي اوکه واړه
باید په خپل تناسب سره په ټولو سیاسي ، اقتصادي ، نظامي ، امنیتي
او ټولنیزو چارو کې بې له هر ډول تبعیض او توپیر نه یوشان برخه واخلي
او د ټولو قومونو اقتصاد ، ژبې ، کلتور او فرهنګ ، پرمختګ او لوړتیا
ته یو شان پاملرنه وشي . د دموکراسۍ او د بشري حقوقو اصولوته
باید د درناوي پر بنسټ د اکثریت او اقلیت حقوق او وجایب په ټینګه

په نظر کې ونيول شي. د هر ډول قومي ، ژبني ، مذهبي ، سيمه ايز او نورو لوړتيا غوښتنو ، تنګ نظريو تبعيض او تعصب مخه ونيول شي . د قوم په نوم هيڅ ډول سياسي ، نظامي فعاليتونو ته ، چې د افغانانو ملي يووالی کمزوری کوي اجازه ورنکړل شي. د خپل هيواد د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا د ساتنې لپاره د عسکري مکلفيت د مقرراتو سره سم د ټولو قومونو له ځوانانو څخه د ملي يووالي ممثله اردو جوړه شي او ټولې هغه مليشې او وسله والې ډلې چې د قوم ، مذهب يا سيمې په نوم منځته راغلې دي بې وسلې شي .

د ټولو قومونو ښيګڼه د دې قومونو په يووالي کې ده ، نه د يوبل سره په مخالفت او خصومت کې . د دموکراسۍ پر اصولو ولاړ يو سياسي نظام کولای شي د هيواد د ټولو اوسيدونکو حقوق تامين او مکلفيتونه تعين کړي او وړتياوو ته د غوړيدو ډګرونه منځ ته راوړي . که چيرته د هيواد ټول خلک په شريکه د خپل هيواد د بيا رغاونې لپاره خپلې متې راونغاړي اوټول استعدادونه په کار واچوي ، کيدای شي ډير ژر افغانستان د اوږدو جګړو د ناوړه اغيزو نه راووځي ، خپلې ټولې طبيعي پانګې په کار واچوي او په کم وخت کې بيا ودان ، د سر شاره افغان بشري متورو قواوو په زور د بهرنيو هيوادونو تخنيکي مرستې په کار واچوي اود سيالو هيوادونو په قطار کې ودريږي .

د دې لپاره چې دا کار وشي ، ضرورت دی داسې يو سياسي نظام منځته راشي ، چې د ټولو قومونو ديووالی څرګندوی نظام وي . راتلونکې لويه جرګه به د راتلونکي سياسي نظام بنسټ ايښودونکي مانا لري ، نو ځکه دا لويه جرګه بايد په بشپړ ډول د بيړني توب سره سره يوه نماينده جرګه وي. ترڅو ټولې پريکړې يې د لوړو ملي ګټو سره برابرې وي او د خلکو د ملاتړ وړ وګرځي .

که خدای نه کړي ، لویه جرګه د ځینو ډلو ټپلو د فشار له امله داسې پریکړې وکړي ،چې د ټولو افغانانو ملي ګټې پکې غبرګون ونه مومي او ځینې خاصې ډلې ترې ناوړه ګټه واخلي ، نو کیدای شي د لوې جرګې د پریکړو پلي کیدل د ستونزو سره مخامخ شي او دا کار به د هیڅا په ګټه نه وي. نو ځکه هیڅوک باید دا حق ځانته ور نه کړي چې د ا تاریخي لویه جرګه د خپلې اصلي موخې نه ، چې هغه په افغانستان کې د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدل او د هیواد بیا ودانول دي ، کږه کړي . او په دې ډول د افغانانو لوړې ګټې د ځینو کسانو د سیاسي ، قومي او مذهبي ډیرو کوچنیو ګټوپه خاطر تر پښو لاندې او هیواد مو بیرته د وحشت ، بربادۍ ، ټوپک واکۍ او ورور وژنې جګړو ته خوشې او په دې ډول د ټولو افغانانو هیلې د خاورو سره خاورې کړي .
په هیواد کې د د موکراسۍ د اصولو او بشري حقوقو ته د درناوي پر بنسټ منځ ته راتلونکي نظام کې به نه یواځې د ټولو وړو قومونو ټول حقوق خوندي شي ، بلکې د ډیرکیو یا اکثریت حقوق به هم په ټوله مانا د دموکراسۍ په نظام کې خوندي وي . نو ځکه ضرور دي چې د داسې یونظام منځ ته راتلو لپاره ، چې په هغه کې د ټولو افغانانو حقوق خوندي او ملي یووالی او افغاني ورورګلوي ټینګه کړي ، ټینګې هلې ځلې ، هڅه او هاند تر سره شي.
د افغانستان ملي یووالي سازمان ان د ۱۹۹۲ کال راهیسې د خپلې کړنلارې له مخې د لویې جرګې پواسطه د دموکراسۍ او بشر حقوقو ته د درناوي پر اصولو ولاړ یو سیاسي نظام منځته راتلو غږ پورته کړی دی. او د دې موخې لاسته راوړو لپاره یې په هیواد کې د ټولو ملي ، دموکراتو ، سوله غوښتونکو شخصیتونو او ځواکونو یووالي لپاره هلې ځلې پیل کړیدي او عقیده لري چې کیدای شي د ا موخه پر یو مشترک پلاتفورم باندې د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو راټولیدو له لار ې

سرته ورسیږي . هیله ده چې نړیواله ټولنه به هم د ټولو افغانانو هیلې او ګټې په نظر کې ونیسي او ملاتړ ترې وکړي ، تر څو د افغانانو دغه ستونزه چې په منطقوي او نړیوالې ستونزې بدله شویده اواره شي . ټول په هیواد مین خلک سترګې په لار دي چې د لوې جرګې په بریالۍ سرته رسیدو کې به د افغانستان پخواني پادشاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه اونور ملي دموکرات شخصیتونه خپل فعال رول ولوبوي ، تر څو دا جرګه داسې پریکړې وکړي چې د ټولو افغانانو غوښتنوته ځواب ووایي.

د افغانستان ملي یووالي سازمان لکه دپخوا په شان لویه جرګه د افغانانو تاریخي ، عنعنوي داسې یو سیاسي ،ټولنیز جوړښت بولي چې کولای شي په خپلو ارزښتناکو پریکړو په هیواد کې سوله ټینګه کړي او د دموکراسۍ په لور دافغاني ټولنې لارو ټاکي. د افغانستان ملي یووالي سازمان به د لوې جرګې د ټولو هغو پریکړو ، چې د هیوادوالو د ملي ګټو سره سمون لري ، سوله ، دموکراسي او ملي یووالی پرې ټینګیږي ، جګړو او ټوپک واکۍ ته خاتمه ورکوي او د هیواد بیا رغاونې ته لار پرانیزي په کلکه ملاتړ کوي او په دې لار کې به له هیڅ ډول هڅو او هاند او هلو ځلو څخه ډډه ونه کړي .

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۱ کال د جوزا پر ۳ نیټه د یووالي د جریدې په ۲ ګڼه کې خپره شویده.

# د منځمهالي حکومت څخه د افغانانو هیلې*

« بیړنۍ لویه جرګه د بن د موافقتنامې له مخې د دې لپاره جوړیږي چې د خپل سیاسي برخلیک په ټاکلو کې د اسلام ، د سولې ، ملي روغې جوړې ، د بشري حقوقو رعایت ، د خپلواکۍ ټینګیدل ، ملي واکمنۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا ، دموکراسۍ ، سیاسي پلورالیزم او ټولنیز عدالت پر بنسټونو د خلکو مسلم حق تامین شي » . ( د لوې جرګې د جوړیدو کمیسیون له خپرونو نه ) .

لویې جرګې د دولت مشر وټاکه او دده له خوا د حکومت د یوشمیر غړو ټاکل تائید شول . خو پوښتنه راپیدا کیږي چې آیا په دې جرګه کې د ټولو افغانانو استازو ګډون درلود ؟ آیا په رښتیا هم بې له هر ډول ګواښ او ویرونې خلکو په ازادانه ډول کولای شول خپل نظریات ښکاره کړي ؟ آیا حکومت چې منځ ته راغی د ملي ترکیب او وړتیا پر بنسټ منځته راغلی دی او که د ځینو وسله والو ډلو تر اغیز لاندې جوړ شوی دی ؟ آیا منځمهال حکومت به وکړای شي چې په مخکې پرتې دندې سرته ورسوی ؟ یانې سوله ټینګه کړي ، وسله والې ډلې بې وسلې کړي ، ملي اردو جوړه کړي ، هیواد له ماینونو نه پاک کړي ، د کډوالو افغانانو هیواد ته د بیرته راستنیدو او میشت کیدو لپاره زمینه مساعده کړي ، په هیواد کې د هرچا مصئونیت تضمین شي او قانون حاکم وي ، د اساسي قانون ، د سیاسي ګوندونو قانون اود انتخاباتو قانون مسودې جوړې او د یوې انتخابي لویې جرګې له خوا په تصویب ورسوي اود سیاسي پلورالیزم اودموکراسۍ د اصولو پر بنسټ زمینه انتخابي حکومت منځته راوړو لپاره مساعده کړي.

د افغانستان ټول خلک دا هیله لري چې منځمهال حکومت دې دا دندې په بریالیتوب سره سرته ورسوي ، تر څو افغانستان د جګړو او جګړه

مارانوله شر څخه خلاص شي . د يو متمدن او پرمختلونکي هيوادپه څير د نړيوالې ټولنې د فعال غړي په حيث د پرمختګ اوهوساينې لپاره د خلکو د ملي ګټو سره سم پراخ ګامونه واخلي .
خو تاريخ ښودلې ده چې د يو ملي پروګرام شاته بايد يو ملي متشکل او منظم ځواک ولاړ وي ، د حکومت ټول غړي بايد ملي ګټې تر هرڅه لوړې وګڼي ، په خپلو جګړو ځپلوخلکويې زړه وسوزي ، سياسي تقوا ولري اولاسونه يې د چا په وينو سره نه وي . او همدغه حکومت د ټولو سوله غوښتونکو ملي دموکراتو افغانانو، شخصيتونو او ځواکونو نماينده اود خوښې حکومت وي ، تر څويې ملاتړ وکړي او د باور وړ يې وګرځي ، نوبيا کيداى شي چې داسې حکومتونه د هر ډول ملي دندو د سر ته رسيدو جوګه شي .
د منځمهالي حکومت په مقابل کې چې ورسپارل شوې دندې په برياليتوب سره سرته ورسوي ستر ګواښ اوستونزې شته دى . دا ګواښ د وسله والو ډلو موجوديت دى ، چې په خواشينۍ سره نه يواځې دا چې بې وسلې شوې نه دي ، بلکې لا پسې يې خپلسرتوب اوزور زياتى په منځمهالي حکومت کې د ورګډيدو له امله زيات شوى دى.
په بيړنۍ لويه جرګه کې د همدې وسله والو ډلو د مشرانو ګډون و ، چې د جرګې فضا يې خړه کړې وه او ډيرو وکيلانو د جګړه مارانو له ويرې ونه شول کړاى خپل نظريات په ازاده توګه څرګند کړي . حتى د وسله والو ډلو د بې وسلې کيدو خبرې د ځينو جګړه مارانو له خوا د اسلام پرضد عمل وبلل شو او سوله غوښتونکي وکيلان يې د ګواښ او ويرې سره مخامخ کړل .آيا هغه څوک چې پخپله د سولې او امنيت پرضد وي کولاى شي چې په هيواد کې سوله او امنيت ټينګ کړي ؟
بايد په ډاګه شي چې تر څو په افغانستان کې وسله والې ډلې موجودې وي سوله نه شي ټينګيداى او د خلکو ډاډمن مصؤنيت منځته نه شي

راتلای . اوکه ټوپک واکي لا نور هم دوام وکړي نو پر منځمهالي حکومت به د خلکو باور کمزوری شي او کورنی ملاتړ به يې کم شي. له بل پلوه که بهرني هيوادونه وګوري چې لا اوس هم د مختلفووسله والوډلو ټوپک واکي چليږي او مرکزي حکومت د ټوپکيانو له لاسه هيڅ شی نه شي کولای او د مرستو او پانګې اچونې لپاره يې ډاډمن تضمين نه شته ، نو بيا به څرنګه حاضر شي چې افغانستان سره مرسته وکړي اويا په هيواد کې پانګې اچونې ته زړه ښه کړي.
که چيرته دمنځمهالي حکومت سره بشپړ کورنی سياسي اوبهرنی مالي او تخنيکي ملاتړ نه وي ، نوبيا به څرنګه وکړای شي ،چې ورسپارل شوې دندې سرته ورسوي او دخلکو غوښتنوته ځواب ووايي . په هيوادکې د سولې د ټينګيدوتر څنګ په ميليونونو ماينونه له منځه يوړل شي او افغان کډوالو ته د خپلې خوښې د راستنيدولپاره خوندي اومناسب شرايط منځته راشي اود کورونو په جوړولو اوکروندوپه ابادولوکې ورسره مرسته وکړي.څرنګه کيدای شي چې دوسله والو ډلو په موجوديت کې د خلکو دسر ، مال اوناموس خونديتوب تضمين شي او د دموکراتيکو قوانينو جوړول شوني او په عمل کې پلي شي ، تر څو يو انتخابي حکومت دمنځته راتلو لپاره سم شرايط منځ ته راشي .
وايي :(( کوږ بار تر منزله نه رسيږي )). هيڅوک بايد دا هڅه ونه کړي چې ملي موخو ته د رسيدوپه لار کې ملي کاروان د خپلو شخصي اوګروپي ګټو لپاره د کږو بارونو لاندې په ګونډو کړي. ځينې کسان او ډلې شته چې د شخصي او ګروپي ګټو لپاره يې د افغانانو لوړې ملي ګټې تر پښولاندې کړيدي اود سولې دپروسې د بريالي سرته رسيدو په مقابل کې يې بې شميره ستونزې منځ ته راوړي دي او لانور هم غواړي خپل ځانګړي وسله وال ځواکونه ولري . دوئ د پرديوپه لارښوونه قومي شخړو ته د دې لپاره لمن وهي چې په افغانستان کې د تلپاتې سولې په

ټينګيدوکې خپل زوال ويني . نوځکه د منځمهالي دولت مشر ښاغلي حامد کرزي ته ضرور دي چې د مرکزي حکومت د پياوړتيا په خاطر د هغو صلاحيتونونه ګټه واخلي چې لويې جرګې ورکړي دي ، په خپل خدای تکيه وکړي اود خپلوخلکوپه زور اونړيوالې ټولنې په مرسته خپل ځان ، خلک اوهيواد د جګړه مارانو له شرنه خلاص کړي ، ټولې وسله والې ډلې بې له هر ډول توپير نه بې وسلې شي تر څو لار د يوې ملي اردو او امنيتي ځواک جوړيدو ته اواره شي .

نړيواله ټولنه ، په خاص ډول امريکا بايد د ملي اردو په جوړيدو او دوسله والو ډلوپه بې وسلې کيدو کې د منځمهالي حکومت سره مرسته وکړي.تر څويې خپلې ژمنې سرته رسولې وي او په افغانستان کې تلپاتې سوله منځ ته راشي او دخلکو داشک له منځه ولار شي چې د امريکا متحده ايالتونو يواځې غوښتل د طالبانو پر ځای تنظيمي وسله والې ډلې د خلکو په سرنوشت يوځل بيا مسلطې کړي. د جګړو ځپلو افغانانو د ستونزو اوارولوپرځای يواځې خپلې عقدې وباسي او د خپلو ګټو په فکر کې دي. د منځمهال حکومت دندې خو دبيړنۍ لويې جرګې پواسطه ټاکل شويدي چې څه وکړي . خو دا دټولو ملي دموکراتو شخصيتونو او ځواکونو دنده هم ده چې د ا فرصت له لاسه ورنه کړي او په خپل يووالي سره دسولې او دموکراسۍ د پروسې په مقابل کې هر ډول خنډونه له منځه يوسي اوپرې نهږدي چې بيا ټوپکواکي پر هيواد مسلطه شي.

---

*- داليکنه د ۱۳۸۱ کال د چنګاښ د مياشتې پر ۲۱ نيټه د يووالي دجريدې په ۷ ګڼه کې خپره شويده.

# د بیړنۍ لویې جرګې درنو استازوته د افغانستان ملي یووالي سازمان د مبارکۍ پیغام *

د ډیرې خوښۍ خبره ده چې وروسته له اوږدې مودې جګړو اووینوتوئیدو څخه افغانان بیا د خپلو نیکونو په شان په لویه جرګه کې را ټولیږي او په خپل هیواد کې د تلپاتې سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدو په لور یو بل ستر ګام اخلي. تلپاتې سوله ، دموکراسي او ټینګ ملي یووالی هغه څه دي ، چې زموږ د هیواد خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا تضمینوي او دهیواد بیا جوړیدو لپاره ډاډمن شرایط منځته راوړي او لاره اواروي.
نو ځکه زه د افغانستان ملي یووالي سازمان د ټولو غړو او مینه والو په استازیتوب تاسو دلویې جرګې درنو ګډون کوونکو او ټولو وطنپالو سوله غوښتونکو افغانانوته د دې تاریخي ورځې په مناسبت د زړه له کومي مبارکي وایم او دهغوسترو مسؤلیتونواو دندو په سرته رسولو کې چې د خلکو له خوا یې پر تاسو باور شوی دی د لوی خدای ( ج ) څخه ستاسې زیات بریالیتوبونه غواړم.
د خوښۍ ځای دی چې زموږ دخلکو داغوښتنه چې ټول افغانان له غمیزې نه دخپل هیواد دژغورلو په خاطر یووالي او وروری ته راوبلل شي په عمل کې پلې کیږي . موږ یوځل بیاخپله دا ژمنه د افغانستان ملي یووالي سازمان د غړو او مینه والو په حیث تکراروو چې د جګړو له ناتار نه د خپل هیوادد ژغورلو ، خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا نه دفاع ، د سولې ، دموکراسۍ اوملي یووالي ټینګښت او خپل هیواد د ابادۍ په چارو کې به له هیڅ ډول هلو ځلو هڅې او هاند نه دډه ونه کړو .

د دې لپاره چې دا تاريخي لويه جرګه د افغانستان دخلکو او هيلوته ځواب ووايي اوپريکړې يې پلې اود تحقق جامه واغوندي د لويې جرګې دغړو پام لاندې ټکو ته را اړوو :
۱-ملي ګټې له هر ډول شخصي ، ګروپي ، قومي ، ژبني ، مذهبي ، سيمه ايزو اوددې په شان نورو ګټو نه لوړې وګڼل شي او پريکړې يوائې د ملي ګټو پر بنسټ سرته ورسيږي.
۲-په افغانستان کې ټول ميشت قومونه افغانان دي او د خپل هيواد د قوانينو په وړاندې بايد يوشان حقوق او مکلفيتونه ولري. په يوواحد ملت کې ددې قومونويووالى په هيواد کې دسولې اودموکراسۍ د پياوړتيا او بيا رغاونې لپاره ضروري کار ګڼل کيږي. د قومونوتر منځ نفاق اوبيلوالي ته لمن وهل، په هره بڼه او بهانه چې وي ، د ملي ګټو ضد عمل وګڼل شي اومخنيوى يې وشي.
۳-راتلونکى سياسي نظام بايدد سياسي پلوراليزم پر بنسټ ولاړ نظام وي او ډير ګونديز سيستم پکې په کلکه په نظر کې ونيول شي . په افغانستان کې سوله او ثبات يوائې هغه وخت ټينګيداى شي چې د افغانانو ترمنځ ټينګ يووالى موجود وي چې دا کار د ټولو افغانانو لپاره بې له هر ډول قومي ، مذهبي ، ژبني اونورو تعصبونو ځنې د يوې رښتينې دموکراسۍ د موجوديت نه پرته ناشونى کار دى. هيله ده لويه جرګه به د راتلونکي سياسي نظام دموکراتيک اصل ته کلک پام واړوي .

۴-دملي اردو جوړول نه يوائې په هيوادکې د سولې او ثبات لپاره ضرور دي ، بلکې خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا بې له ملي اردو څخه اتکل کيداى نه شي. په هيوادکې مختلفې وسله والې ډلې ، چې د قوم ، ژبې او محل پر بنسټ منځ ته راغلي دي د ملي اردو د جوړيدو په مخکې خنډ او دسولې او ثبات لپاره هميشنى ګواښ دى. نو ځکه ټول پر

خپل هیواد مین افغانان غواړي چې لویه جرګه د ملي اردو د جوړیدو په هکله رغنده پریکړې وکړي اوهم دټولو وسله والو ډلو بې وسلې کول تصویب او اعلان کړي .
**۵**-دا لویه جرګه دراتلونکي سیاسي نظام بنسټ ایښودونکې جرګه ده . راتلونکی سیاسي نظام نه یواځې بایددافغانانو د منلواو ملاتړ وړ نظام وي ، بلکې نړیوالې ټولنې ته هم د منلو وړ وي . تر څو د نړۍ مختلف هیوادونه په ډاډه زړه هغه اقتصادي او تخنیکي مرستې چې د افغانستان د بیا رغاونې لپاره یې ژمنه کړیده ورکړي . دا کار یواځې هغه وخت کیدای شي چې کارونه مسلکي ، پوهو او صادقو خلکو ته وسپارل شي او د راتلونکي دولت دستګاه له هر ډول فساد اونیمګړتیاوو څخه پاکه دستګاه وي . ترڅود بیارغاونې لپاره بهرنۍ پانګې اچونې ته د قانون په چوکاټ کې مناسب شرایط او تضمینونه منځ ته راشي .
**۶**-ډیره موده وشوه چې افغانستان د جګړه مارانو ، تروریستانو او مخدره موادو دقاچاقچیانو د غیر انساني اعمالو په مرکز اړول شوی و .چې په دې کار سره نه یواځې د افغانانو انساني حقوق تر پښو لاندې شوي او هیواد موداوږدو جګړو له امله په کنډوالو بدل شویدی ، بلکې د دې لمبو تاو منطقې اونړۍ ته هم ورسید او د افغانستان نړیوال اعتبار زیانمن شو . اوس چې د نړیوالې ټولنې په مرسته د دې امکان منځته راغلی دی چې په افغانستان کې سوله ټینګه شي او د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ د افغانانو د خوښې نظام منځته راشي ، ټوپکواکي ، تروریزم او د مخدره موادو قاچاق او کر کیلې ته د ابد لپاره د پای ټکی کیښودل شي او د خلکو مدني او انساني حقوقوته درناوي وشي . نو ځکه افغانان او نړیوال سترګې په لار دي او په ټینګه غواړي چې دا لویه جرګه به د موجودو امکاناتونه په ګټې اخستو سره د خلکو غوښتنو او هیلو ته په دې هکله وړ ځواب ووایي او پرې به نه ږدي چې وسله والې ډلې نور هم د

ټوپک په زور د خلکو ستونی خفه کړي او د قانون واک له منځه یوسي. نو ر باید قانون حکومت وکړي ، نه ټوپک. تر څو زموږ د کړېدلو خلکو بې شمیره ستونزې اوارې شي او دهیواد بیارغاونه په بریالیتوب سره سرته ورسیږي.

*- دا لیکنه د ۱۳۸۱ کال د چنګاښ پر ۲۱ نیټه د یووالي د جریدې په ۷ ګڼه کې خپره شویده.

# تر څو به د تروریزم په جګړه کې بیګناه افغانان وژل کیږي؟ *

د دوشنبې پر شپه د جولای پر اوله نیټه بیا د یوشمیر افغانانو لپاره د ارزګان په ولایت کې له غمه ډکه شپه وه. د یو واده پر مراسمو باندې بیا امریکایي ب-۵۲ او آ ث - ۱۳۰ ډوله الوتکو د شپې پر یوې بجې د بمونو په اچولو ، چې نژدې ۱۵ دقیقې دا عملیات روا ن وو یوزیات شمیر ښځو ، کوچنیانو او بې ګناه ملکي کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او یوزیات شمیر نور یې ټپیان شول . دې کار نه یوازې ټول سوله غوښتونکي افغانان بوګنولي او ډیر خفه کړي دي ، بلکې یوزیات شمیر نړیوال چې په افغانستان کې سولې او د بشر حقوقو ته د درناوي پلویان دي په دې کار خپله ژوره خواشیني ښودلې ده.

اوس به راشو د دې او ددې په شان د نورو پیښنود منځته راتلو علتونو او د تروریزم پرضد د جګړې دې ډول ته. پوښتنه دا ده چې ولې د شپې پر یوې بجې امریکایي جنګي الوتکې پر دغه ځای یانې د ارزګان په دهراود الوتنه کوي ؟ له دې نه معلومیږي چې د یو راپور له مخې دغه الوتکې پر دغه ټاکلي وخت چې ډیرخلک د واده لپاره راټول شوي دي ځان دهراود ته رسوي او د طالبانو او القاعدې د کسانو په نوم شپږ کلي په بمونو ولي اوپه زیات شمیر بیګناه انسانان چې ټول یې ښځې ، ماشومان او ملکي کسان دي ، دواده دخلکو په شمول ، پکې له منځه ځي او ټپیان کیږي .

که چیرته د امریکایي مربوط نظامي مقاماتو په وینا پر الوتکې ډزې شوې وي او دوئ د دغو ډزو ځایونه بمبارد کړیدي، نوبیا ولې کوم وسله وال څوک پکې نه دی وژل شوی اوپه مړو اوژوبلو کې هیڅوک وسله وال

يا طالب يا د القاعدې کسان نه ليدل کيږي او ټول ملکي کسان دي ، په خاص ډول کوچنيان ، ښځې او بوډاګان . نوله دې نه معلومېږي چې له ځمکې نه چا پر الوتکې ډزې نه دي کړي . او کيداى شي دا الوتکې د يو خاص راپور له مخې هلته تللي اوبمونه يې غورځولي دي.
که د راپور پر بنسټ دا کار شوى وي ، چې له واده نه ورته د طالبانواو القاعدې دکسانو غونډه يا ډله جوړه کړې وي ، نوولې بيا ددغسې غلطو راپورونو پر بنسټ يوځل نه ، بلکې څوځلې عمليات کيږي ، چې هر ځل يې يواځې بيګناه ملکي کسان له منځه وړي دي. او ولې ددغسې غلطو راپورونو ورکوونکي جزا نه ويني او حتى دا کومه ګناه نه ګڼل کيږي ؟
هر څوک چې دغسې ناسم راپورونه ورکوي چې پکې بيګناه افغانان د امريکايي بمونو پواسطه له منځه لاړ شي ، په افغانستان کې د سولې ، دموکراسۍ او ملي يووالي ټينګيدو سره خيانت کوي . دوئ نه غواړي چې په افغانستان کې جګړه پاى ته ورسيږي او وسله والې ډلې بې وسلې شي. دوئ غواړي چې د طالبانو او القاعدې پرضد د جګړې په بهانه افغانان د وسله والو ځواکونو د فشار او ناروا چلند ، ظلم او استبداد لاندې وساتي او ملي غرور او د خپلواکۍ احساس يې وځپل شي. دوئ غواړي په وچ زور عام خلک ، چې د طالبانو او القاعدې سره هيڅ ډول رابطه نه لري لاپسې وځپي .
خو داکار په ښکاره سره په افغانستان کې د تلپاتې سولې د راتلو لپاره يو ستر خطر دى . که چيرته دا ناحقه مرګ ژوبله دوام ومومي کيداى شي له دې نه يواځې هغه کسان او ځواکونه ګټه پورته کړي ، چې نه غواړي د افغانانو دغه هيلې ،چې د نړيوالې ټولنې په مرسته دې په افغانستان کې تلپاتې سوله ټينګه شي او هيواد دې بيرته د نورو هيوادونو په څير د نړيوالو د باور وړتيا لاس ته راوړي ، په عمل کې پلې

شي . افغانان هرډول ستونزې زغملی شي ، خو دظلم ، استبداد اوسپکاوي په موجوديت کې له چا سره دوستي نه کوي. دا يو ځل نه دی چې د طالبانوسره د جګړې نه وروسته امريکايي الوتکې بيګناه ملکي خلک له منځه وړي . د طالبانو سره د جګړې په وخت کې د زرګونو افغانانو د وژلونه وروسته ډير ځله د ښه نيت په کاروانونو ، ودونو او د خوښۍ په مراسمو او کلو او بانډو باندې امريکايي الوتکوبمونه غورځولي او ډير شمير بيګناه او غير نظامي خلک يې له منځه وړي دي.
کيدای شي ددې کارونو په مقابل کې د افغانانو د کرکې داسې اور بل شي چې بيا به يې مړ کول آسان کار نه وي . دا به هغه څه وي چې زمونږ دخلکو دښمنان يې غواړي او په دې ډول به هڅه کوي د نړيوالې ټولنې ددې هلو ځلو ، چې په افغانستان کې سوله ټينګه شي، ټولې وسله والې ډلې بې وسلې شي ، د دموکراسۍ د اصولوسره سم يوانتخابي حکومت منځته راشي اوهيواد موبيرته د نړۍ دنورو هيوادونو په ليکه کې ودريږي ، مخه ونيسي .
ډير خلک دا فکر کوي چې طالبان او القاعده په خلکو کې ځای نه لري اودوئ نه شي کولای چې سوله او امنيت په خطر کې واچوي. داچې ځينې وخت په نړيوالو سوله ساتو ځواکونو او ښارونو باندې کله کله دراکټونو ګوزارونه کيږي دا دطالبانو او القاعدې کار نه دی ، بلکې د هغو وسله والو ډلوکار به وي چې د طالبانو او القاعدې د ځپلونه وروسته نه يواځې بې وسلې شوې نه دي ، بلکې لاپسې يې د خالي ميدان په ليدلو زورګويي او خپلسرتوب زيات شوی دی او نه غواړي چې په هيواد کې د ټوپکواکۍ پر ځای قانون واکي ټينګه شي.
هر څومره چې نظامي عمليات شدت مومي په هم هغه اندازه د بيګناه خلکو دمرګ ژوبلې خطر زياتيږي او ددې سره سم د سولې پر پروسې خلک بې باوره کيږي اودنړيوالو سوله ساتوځواکونو په مقابل کې

حساسیت او کرکه منځته راځي. نو ځکه ددې لپاره چې داسې ونه شي د نظامي عملیاتو پر ځای باید سیاسي مبارزه شدت ومومي، هغه څه چې خلکوته وعدې ورکړل شوې وې باید سرته ورسیږي . خلکوته لومړنۍ مرستې زیاتې شي او د ټوپکیانو د زور زیاتي نه وژغورل شي. د سیاسي او ټولنیز شعور د لوړیدو په خاطر سیاسي او ټولنیزو سازمانونو جوړیدو اوفعالیت لپاره زمینه مساعده شي او خلک پريښودل شي چې په ازادانه ډول خپل برخلیک پخپله وټاکي.

خوداکارونه یواځې هغه وخت کیږي چې په هیواد کې تلپاتې سوله ټینګه شي ، ټولې وسله والې ډلې بې وسلې شي او پر ځای یې یوه ملي اردو او یو امنیتي ځواک منځته راشي . د بیګناه خلکو ، چې د سولې د پروسې نه بشپړ ملاتړ کوي د طالب او القاعدې سره د جګړې په بهانه مرګ ژوبله اوځپل په بشپړه توګه، د هر چا له خوا چې وي ، ودرول شي. د طالبانو او د القاعدې ځواکونو د کوم خاص قوم سره اړیکي نه درلودل اونه یې کوم خاص قوم ته څه ورکړي دي. نو ځکه که دطالب یا القاعدې د غړو پر ضد د جګړې په بهانه یوخاص قوم د ګواښ لاندې راځي ، دا به هغه احمقانه د سولې ، دموکراسې او بشري حقوقو ضد عمل وي چې ډیر ې ناوړې پایلې به ولري.

نړیواله ټولنه او د هغې سوله ساتي ځواکونه باید د افغانانو په مقابل کې خپلې ژمنې په صداقت سره سرته ورسوي . نړیوالې ټولنې افغانانوسره ژمنه کړې وه چې د بنسټپالنې ،تروریزم اوجګړونه به د هیواد په ژغورلو کې افغانانو سره مرسته کوي ، تر څو په امن کې ژوند وکړي. یواځې د طالبانو د رژیم په نسکوریدو ،په داسې حال کې چې د طالبانو دنسکوریدو سره سم پخوانۍ جګړه ماري ډلې بیرته له پخوا نه په زیات قوت سره صحنې ته راغلې ، دا ژمنه نه پوره کیږي. بلکې دا د طالبانوپر

ځای نورو جنګسالارانوته زمینه مساعدول دي ، چې د افغانستان د بیګناه خلکو په سر ،مال اوناموس لوبې وکړي.
افغانان به د نړیوالوسوله ساتو ځواکونوپه کړو وړو شکمن شي که چیرته د جګړه مارانو د مهار کولوپر ځای ، چې همیشه سولې اوثبات ته ګواښ دي ، بیګناه ملکي کسان د بمونو په واسطه له منځه ځي. او که چیرته دا د بیګناه ملکي کسانو پر ضد بمباري دوام وکړي او مخه یې ونه نیول شي ، کیدای شي خلک دسولې په جاري پروسې باندې خپل باور له لاسه ورکړي اومنځمهالي حکومت نه یې ملاتړ زیانمن شي چې بیرته لاسته راوړل به یې ډیر ګران کار وي.

*- دا لیکنه د ۱۳۸۱ کال د چنګاښ پر ۲۱ نیټه د یووالي د جریدې په ۷ ګڼه کې خپره شویده.

# دهیوادد رواني وضعې په هکله دافغانستان ملي یووالي سازمان دنظرټکي*

افغانان په خپل اوږد تاریخ کې ډیر ځلې د کړاوونو او بد مرغیوسره ، چې د بهرنیوتیري کوونکو له یرغلونو نه راځیږیدلي دي ، مخامخ شوي دي . خوکله چې به دوئ سره یووو دغه تیري شنډیدل اوپر هیواد به یې ناوړه اغیزې هم دډیر وخت لپاره نه پاتې کیدې اوخلک به بیرته خپل عادي ژوند ته راستنیدل . خوکله چې دتیري کوونکو په لمسه خلک په خپلو منځونوکې په جګړو او بې اتفاقیو اخته شویدي ، په هم هغه اندازه د بهرنیو تیریو اغیزې ژورې اودوام موندلی دی او زموږ ټولنه یې نورمال حالت ته له راګرځیدو او پرمختګ نه په کلونو کلونو پاتې کړیده. ډیر مخکې نه ځو ، انګریزانو د ( بیل یې کړه ایل یې کړه ) پالیسۍ له امله وکړای شول افغانان په خپلو منځونو کې د بې اتفاقۍ اونه یووالي له کبله تر ډیرې مودې پورې نه یوائې دخپل استعماري سیاست په سیوري کې وساتي ، بلکې زموږ دا تاریخي هیواد په داسې غیر طبیعي اوظالمانه ډول په ټوټو وویشي چې که خپلواک هم شي ځان د استعمار له ټپونونه روغ ونه ګڼي اودنورو هیوادونو دسیالۍ جوګه نه شي. همدا سبب دی چې د انګریزي استعمار دغه دښمني چې له افغانستان نه یې په زور او جبر یوه لویه برخه بیله کړیده د یوعادي افغان هم هیریدای نه شي اوتر څو چې د دغه تور استعمار اغیزې پاتې وي افغانان به د خپلې خپلواکۍ کالیزه لمانځي اوپه ترڅ کې به یې د دیورند کرښې ته د انګریزي استعمار د منحوسې بیلګې په څیر چې د افغانانو دزړونود پاسه د تور ښامار په شان تیره شویده د کرکې په سترګه ګوري.

خود انګریزي استعمار نه بل یوډیر د استعمار ناوړه شکل چې په ښکاره دوستي ، مرسته او بشرپالنه ښوول کیدله اوپه پټه کې نه یوائې له سیاسي پلونه دافغانانوخپلواکي اوملي واکمني تر پښولاندې کول و، بلکې دافغانستان په نوم د یوخپلواک هیوادبیخي نفې کول او له ځان سره تړل و ، منځ ته راغی. پر افغانستان باندې د شورویانو د ۱۳۵۸ کال د جدي د شپږمې نیټې تیری د همدې موخې لپاره سرته ورسید . د یوخپلواک حکومت له منځه وړل او پر ځای یې د یولاسپوځي ګوډاګي حکومت منځ ته راوړل د همدې لپاره و چې په اصطلاح نړیوالو ته وښایي چې افغانان پخپله غواړي چې افغانستان د شوروي اتحاد شپاړسم جمهوریت شي. دا تش پروپیګنډه نه وه. د شورویانو له خوا د هغه وخت د شوروي اتحاد په جغرافیایي نقشه کې افغانستان د شپاړسم جمهوریت په حیث چاپول او د ګڼ شمیر د هغه وخت لوړ رتبه شوروي مامورینو په لیکنو کې د شوروي اتحاد دهغه وخت حکومت د دغه ډول هڅو اونیتونو څرګندونه د دې خبرې ښکاره ثبوت دی .

د همدغه پورتني پلان دپلي کیدو په خاطر شوروي اتحاد دتیري په لومړیوشیبو کې د هغه وخت دولتي اوګوندي مشرتوب ، چې دشورویانو دیکتې او لاسوهنې سره یې مخالفت درلو د ، له منځه یوور. اوورپسې یې د ګوندي او دولتي ایرات مهم پوستونه د خپلو مخالفینو څخه پاک کړل . په لاسپوځي حکومت کې پر هغه چا اعتماد وشواو په لوړو دولتي اوګوندي چوکیو مقرر شول چې دشورویانو تیري ، لاسوهنې او دیکتې سره یې مخالفت نه درلود او ملي ګټې یې د شخصي اوګروپي ګټونه ټیټې ګڼلې . چې له دې کبله دې لاسپوځي حکومت په خلکوکې خپل اعتبار له لاسه ورکړاو په دې ډول د ملي زعامت داسې یوه خطرناکه خلا رامنځ ته شوه چې سیاسي او نظامي واک د افغانانو له لاسه ووت. له یوپلوه تش په نامه افغان حکومت ، چې په سر کې یې د شوروي استخباراتو

پورې تړلي کسان وو ، چې په مستقیم ډول دشوروي یرغلګر پوځ پواسطه قدرت ته رسیدلي وواو ملاتړ ترې کیده ، قرار درلود او له بل پلوه شوروي پوځونو او ګوډاګي حکومت مخالفینو قرار درلود ، چې د هغوئ واک هم خپل نه و او د هغو هیوادونو تر اغیز لاندې وو چې مرسته یې ورسره کوله.

البته لومړیو وختونوکې یو شمیر ملي شخصیتونو هلې ځلې وکړې چې د شوروي تیري په مقابل کې یوه واحده ملي جبهه منځته راشي . د مقاومت دا جبهه به د ټولو افغانانو مشترکه جبهه وي ، ټول افغانان به په دې کې راټولیږي اوبهرني هیوادونه به خپلې مرستې په مستقیم ډول ددې جبهې سره کوي او په تدریج به د جلا وطنه حکومت ځای ونیسي. خودا هلې ځلې د ګاونډیو هیوادونو د توطیو له امله ، چې غوښتل یې د شوروي سره په جګړه کې د افغان ډلو قومانده د دوئ په لاس کې وي او کوم واحد ملي قوت منځته رانه شي شنډې شوې . د ملي شخصیتونودهلو ځلو څخه د نړیوالې ټولنې مرسته نه کول ، داسې وضعه منځته راوړه چې د جهاد مشرتوب د ملي کسانوله لاسه ووت اودبهرنیو هیوادونو او یا هغوئ پورې تړلو کسانو په‌لاس کې پریوت .

نو ځکه د شورویانو سره په جګړه کې یو واحد ملي افغان ځواک برخه نه وه اخستې ، بلکې افغانان په ډلو ډلو ویشل شوي وو او د مختلفو هیوادونو داغیز لاندې یې ځانله ځانله مقاومت ته دوام ورکاوه. ډیر ځلې ددې مختلفو وسله والو تر منځ خونړۍ خپلمنځي جګړې د نورو په اشاره پیښیدې چې یواځې ددښمن په ګټه تمامیدې او په نتیجه کې جګړه اوږدیده او د افغانانو مرګ ژوبله زیاتیدله. قومي ، ژبني ،مذهبي ، سیمه ایزو او تنظیمي دښمنیو ته لمن وهل ، چې د اشغال دوخت رسمي پالیسي وه ، د دې په خاطر و چې مختلفې ډلې په یوواحد سیاسي پلاتفورم راټولې نه شي .

که چیرته دغه ټولې ډلې او شخصیتونه چې دشورویانو سره یې په وسله والې جګړې کې برخه اخستې وه اویا یې د مخالفت بل شکل ته دوام ورکاوه ، په یوې متحدې ملي جبهې کې راټول شوي وای ، نو جګړې دومره نه اوږدیدې او شورویانو نه شول کولای چې د خپلووسله والوځواکونو له ویستلونه وروسته دخپلولاسپوڅو پواسطه د ملګروملتونو دسولې پروګرام په مقابل کې کودتا وکړي او افغانان په خپلومنځونوکې په ویجاړونکو جګړو اخته کړي . که له یو پلو نه د شوروي پوځونو له وتلو څخه وروسته د افغانانو په لس کلنو کورنیو جګړوکې پخوانی شوروي اتحاد اولاسپوڅي یې مسؤلیت لري ، خوله بل پلوه ګاونډي هیوادونه چې لاسوهنې یې له پخوا څخه زیاتې او بربنډې شویدي او دځان پورې تړلو ډلو پواسطه یې کورنیوجګړو ته لمن ووهله ، اوهمدارنګه ملګري ملتونه او دنړۍ نور هیوادونه ، په خاص ډول د امریکې متحده ایالتونه او متحدین یې هم دافغانانوتر منځ د خپلمنځي جګړو د اوږدیدو له مسؤلیت نه ، چې افغانان یې په نیمه لار کې پریښودل نه شي بچ کیدای.

په افغانستان کې د دموکراسۍ داصولو پر بنسټ ولاړ یو حکومت منځ ته نه راتګ د دې سبب شوچې نه یوائې زموږ په هیواد کې ویجاړونکې کورنۍ جګړې دوام وکړي ،بهرنۍ لاسوهنې زیاتې شي ، او دقوم ، ژبې ، مذهب او سیمې په نوم اختلافونه تر بل هروخت ډیر شي ، بلکې افغانستان د مخدره موادو دقاچاق ، کر کیلې ،تروریزم اودسیمې دبنسټپالانو په مرکز بدل شي اوناوړه اغیزې یې دنړۍ نوروهیوادونوته هم ورسیږي . اوس هم موجوده ستونزې له همدې کبله دي چې په هیواد کې یوواحد ملي سیاسي ځواک ، چې په هغه کې دټولوافغانانواستازي ، بې له هرډول قومي ، ژبني ، مذهبي او سیمه ایز توپیر نه برخه واخلي ، وجود نه لري . د ا واحدملي سیاسي ځواک کیدای شي په مشترکو ټکو

باندې په راټولیدوسره دیوې متحدې ملي جبهې په شکل د ټولو ملي دموکراتوشخصیتونو اوډلو له خوا منځته راشي .
د افغانستان ملي یووالي سازمان عقیده لري ،چې هر هغه پروګرام چې هم ملي ګټې منعکس کړي اوهم د دموکراسۍ او بشري حقوقو اصولو پر بنسټ ولاړ وي ، تر هغه وخت پورې نه شي بریالی کیدای تر څو په منظم او متشکل ډول د یومتحد ملي دموکرات سرترسري ځواک له خوا یې ملاتړ ونه شي . همدا سبب دی چې دې سازمان د خپل منځته راتګ له لومړۍ ورځې څخه د داسې یوسرتر سري ملي متحد ځواک د جوړیدو لپاره ، چې د دموکراسۍ او بشري حقوقوپر اصولوپابندوي خپل غږ پورته کړی دی او په خپلې کړنلارې کې یې هم انعکاس ورکړیدي.
سیمه ایزې مختلفې وسله والې ډلې ،چې د مختلفو بهرنیوهیوادونو له خوا یې ملاتړ کیږي دملي یووالي د کمزوتیا او د سرتر سر ي ملي متحد ځواک د نه منځته راتګ بنسټیز عوامل جوړوي. همدا سبب دی چې د افغانستان ملي یووالي سازمان په تیر وخت کې د هیڅ په جنګ کې ښکیلې وسله والې ډلې سره دبلې وسله والې ډلې په مقابل کې په هیڅ ډول جګړه ایز فعالیت کې برخه نه ده اخستې او تل یې د جګړو اوجګړه مارانوسره خپل مخالفت ښودلی دی اواوس هم دټولو وسله والوډلو ، بې له هر ډول توپیر نه، د بې وسلې کیدو غوښتونکی دی او عقیده لري چې تر څو د مکلفیت داصولو پر بنسټ د ټولو افغانانو په ګډون یوه ملي اردو جوړه نه شي اوټولې وسله والې ډلې بې وسلې نه شي په افغانستان کې تلپاتې سوله او ثبات نه شي ټینګیدای.
له همدې کبله د افغانستان انتقالي حکومت ته ضرور دي چې دنړیوالې ټولنې په مرسته د ملي اردوپه جوړیدو او دټولووسله والوډلو په بې وسلې کیدوکې نور ځنډ ونه کړي. د دې لپاره چې انتقالي حکومت په خپلوپښو ودریږي اوخپلې ورسپارل شوې دندې په بریالیتوب سره سرته

ورسوي حتمي ده تر هر څه لومړی ملي اردو جوړه اوټولې وسله والې ډلې بې وسلې شي.
نړیواله ټولنه باید پوهه شي ، چې تر څوپخپله افغانان د سولې اوثبات په ټینګیدو کې برخه وانخلي ، دبهرنیو سوله ساتوځواکونوپواسطه په افغانستان کې د سولې اوثبات ټینګیدل به ډیرګران اوحتی ناشونی کار وي. نه نړیوال سوله ساتي ځواکونه کولای شي چې په افغانستان کې دسولې اوثبات د ساتلو لپاره تل زموږ په هیواد کې پاتې شي اونه افغانان غواړي چې د بهرنیوهیوادونود نظامي موجودیت په صورت کې د تل لپاره خپل ژوند ته دوام ورکړي . نوځکه ضرور ده چې ژر تر ژره انتقالي حکومت د سوله غوښتونکوافغانانو په ملاتړ اونړیوالې ټولنې په مالي مرسته په دې لار کې غوځ ګامونه واخلي .
له نړیوالې ټولنې نه د افغانستان د روښانفکره ملي- دموکراتو شخصیتونواوځواکونوغوښتنه دا وه او ده چې زموږ د هیوادمسئلې په اواري کې دملګروملتونو سازمان فعاله برخه واخلي اودنړۍ نور اغیزمن هیوادونه ورسره مرسته وکړي . ځانګړي هیوادونه په افغانستان کې دسولې دټینګیدو اوبیارغاونې پر ځای لومړی تر هرڅه خپلې موخې او ګټې لټوي اویوبل سره په رقابت کې د افغانانو دستونزو د اوارۍ پر ځای د رقیبوارخونو ترمنځ دخپلوګټوپه نظر کې نیولوسره داسې کارونه سرته رسوي ، چې افغانانوته دګټې نه تاوان ډیر لري. اویا دیوارخ دفشار له کبله بل اړخ پر خپلو ژمنو ، چې افغانانو سره یې کړي دي سترګې پټوي او سرته یې نه رسوي.
د همدې جوړ جاړي او سازشونوپه نتیجه کې د طالبانودرژیم دنسکورولو اوالقاعدې دشبکوله ځپلونه وروسته پخوانۍ وسله والې ډلې ، چې تیت اوپرک اوبې وسلې شوې وې ، وسله والې شوې او دهیوادپه مختلفو سیموکې بیا قدرت ته ورسیدې ، چې ددې ډلو پر

چلند او اعمالو باندې دسترګو پټولوله کبله د افغانستان سوله او ثبات ملي يووالی او څمکنۍ بشپړتيا په خطرکې لويدلي دي . د دوو لسيزونه زياتو جګړو او ټوپک واکۍ ملي دموکراتو ځواکونو ته د راټوليدو مجال نه دی ورکړی . په افغانستان کې د نړيوالو سوله ساتوځواکونو دموجوديت نه بايد د ټوپکواکۍ دختميدو او سولې او د موکراسۍ ته وفادار شخصيتونو او ځواکونو د يوځای کيدو او تشکل لپاره ګټه واخستل شي ، تر څو د ټوپک پر ځای قانون حاکم شي او په هيوادکې سوله او ثبات ټينګ او د دموکراسۍ او بشري حقوقو اصول برياليي شي.

د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو اساسي دنده هم داده چې په هيوادکې نوره وسله حکومت ونه کړي . اونه قدرت ته ځان څوک د وسلې په زور ورسوي . داچې ځينې ډلې په دروغودعوه کوي چې ګوندې دخپلواړونده قومونو حقوق ساتي ، بې له غولولو نه بل څه نه دي . دغه جګړه ماران او جګړه ماري ډلې تر هر چا لومړی خپل قومونه زندۍ کوي او د خلکودسر ، مال اوناموس سره لوبې کوي. نوکه چيرته وسله والې ډلې بې وسلې کيږي ، لومړی تر هر چا د هم هغې سيمې خلک د دوئ له شر نه خلاصيږي . اوبيا دهيواد ټول خلک به بې له هر ډول ګواښ اوويرې نه د خپل هيواد په سياسي ، اقتصادي ،نظامي اوبيا جوړونې په چاروکې فعاله برخه واخلي اوهر څوک به په خپله خوښه د مرکزي حکومت نه ملاتړ کوي . دمرکزي حکومت نه دخلکوملاتړ په افغاني ټولنه کې ملي حاکميت پياوړی کوي ، ملي يووالی ټينګيږي ، دبهرنيوهيوادونو دلاسوهنو مخه نيسي او دبهرنيو بنسټپالو ،تروريستي او مخدره موادو دقاچاقچيانو دشبکو لپاره د فعاليت زمينه له منځه ځي او په دې ډول به هيواد دسولې ، ثبات اودموکراسۍ پرلور پر مخ درومي .

که چيرته دسولې اوثبات د ټينګيدو تر څنګ انتقالي حکومت د خلکو د امن اوساتنې اوسياسي اومدني حقوقو د تامين لپاره قوانين منځته

راوړي او پلي يې کړي ، په دې کې هيڅ شک نه شته چې ټولنه به د روښانه راتلونکې په لور ګامونه اخلي اوحکومت به دنړيوالې ټولنې د باور او ملاتړ نه برخمن شي . نو بيا به هله زمينه مساعده شي چې دد موکر اسۍ د اصولو پر بنسټ د انتخابي حکومت منځته راوړولپاره دموکرابيک انتخابات سرته ورسيږي . خود دموکراتيکو انتخاباتو اوريفورمونو ترشا بايد ټول سوله غوښتونکي ملي دموکرات شخصيتونه او ځواکونه په يوواحد سياسي پلاتفورم راټول اود يوواحدملي دموکرات ځواک په حيث ودريږي ، تر څو د هر ډول سبوتاژ او خنډ اچونې مخنيوی وشي . ددې لپاره چې انتقالي حکومت په دې لار کې خپلې ورسپارل شوې دندې په برياليتوب سره سرته ورسوي لازم دي چې په ملي دموکراتو شخصيتونو او ځواکونو تکيه وکړي او د فعاليت لپاره يې د قانون په چوکاټ کې زمينه مساعده کړي. هر ډول قوانين چې د خلکو د سياسي او مدني ازاديو د محدوديت سبب کيږي د منلو وړ نه دي. ټول قوانين او مقررات ، داساسي قانون ، د سياسي ګوندونو دفعاليت د تنظيمولو قانون او انتخاباتو قانون په شمول ، بايد د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ وي اود ملګرو ملتونو چارتر د بشري حقوقو داصولو سره سمون ولري.

د افغانستان ملي يووالي سازمان ، چې د دموکراسۍ او بشري حقوقو ته معتقد اووفادار دی ، دمنځمهالي حکومت د ټولو هغو هلو ځلو نه ، چې په هيواد کې سوله او ثبات ټينګ شي ، د ټوپک پر ځای قانون حکومت وکړي ،بنسټپالنه ،تروريزم اومخدره موادو قاچاق له منځه ولاړ شي ، د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ راتلونکی انتخابي حکومت وټاکل شي ، دمرکزي حکومت په ټينګيدوسره د افغانانو ملي يووالی ټينګ او په هر ډګر کې دهيواد بيارغاونه پيل او سرته ورسيږي ، په کلکه ملاتړ کوي او په دې لار کې به د هيڅ ډول هلوځلو ،هڅې اوهاندنه ډډه ونه کړي.

د همدې لپاره، چې منځمهالی حکومت پورتنۍ دندې په بریالیتوب سره سرته ورسوي او د سولې او دموکراسۍ د جاري پروسې په مقابل کې خنډونه منځته رانه شي ، د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو یووالی اوملاتړ ضرور دی. دا یووالې کیدای شي دیوې جبهې ، ایتلاف یا وحدت عمل په شکل منځته راشي. د افغانستان ملي یووالي سازمان د یوشمیر ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو سره د داسې یووالي په لور یولړ ګامونه اخستې دي او هیله کوي چې د ټولو سوله غوښتونکو پر دموکراسۍ معتقدو شخصیتونو او ډلو ، چې د سولې او دموکراسۍ دجاري پروسې نه ملاتړ کوي ، یووالی منځته راشي .پر همدې هیله د افغانستان ملي یووالي سازمان د پخوانیووړاندیزونو سربیره خپل نوي دنظر ټکي په همدې ګڼه کې وړاندې کوي چې یوځل بیا د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو اوځواکونو یووالي لپاره دسازمان ژمنه په ډاګه کوي . البته د نظر دا ټکي پخوا هم په مختلفوخپرونواو غونډو کې وړاندې شوي دي ، خواوس د نظر دې ټکو پلي کیدولپاره مکانیزم هم وړاندې کوي اوهیله کوي چې د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو د پام وړ وګرځي.

د افغانستان ملي یووالي سازمان عقیده لري چې هیڅوک بایدنور دهیواد دسولې اوثبات دټینګیدو او د انتخابي حکومت دمنځته راتلو په لار کې خنډ نه شي او دسولې اودموکراسۍ روانه پروسه سبوتاژ اواخلال نه کړي اود۲۳ کلونو جګړونه وروسته په هیواد کې د سولې او دموکراسۍ دټینګیدو لپاره لاس ته راغلی فرصت له منځه یونه سي. بلکې د نړیوالې ټولنې په مرسته له دې فرصت نه ګټه واخلي اوخپل هیواد دتل لپاره د جګړو ، ظلم ، استبداد ،ناپوهۍ ، لوږې .مرض ،بیکورۍ اوبیکارۍ اوټولو ناخوالواو تنګسیاوو نه وژغوري. نور باید افغانستان د سولې ، امن ،دموکراسۍ او بشر حقوقوته د درناوي ځای وي. نه دا چې

بیرته دجګړو ،ورور وژنې ،ظلم ، تشدد ، تروریزم اومخدره موادو دکر کیلې اوقاچاق دعاملینو مرکز وګرځي.
وروستنیو پیښو ، لکه په کابل کې چاودنې ، چې پکې زیات شمیر بیګناه هیوادوال له منځه ولاړل ، په کندهارکې دمنځمهالي حکومت پر مشر ښاغلي حامد کرزي باندې تروریستي حملې او څه مخکې د داکتر عبد ا لرحمن او حاجي عبدالقدیر وژلو اونورو ناوړو پیښووښودله چې لا اوس هم زموږ د خلکو د سوکالۍ اونیکمرغۍ دښمنان په کرار ناست نه دي.
دسولې ،دموکراسۍ او دخلکو دسوکالۍ په مقابل کې له هیڅ ډول توطیونه ډډه نه کوي ، غواړي روانه دسولې او دموکراسۍ پروسه سبوتاژ کړي. خویوشی چې منل شوی دی ، هغه دادی چې اوس خلک په دې عقیده دي ، چې هر څوک چې دسولې اودموکراسۍ د ټینګیدو په مقابل کې ، په هره بهانه اوبڼه چې وي ، خنډ کیږي په واقعیت کې د خپل هیواد ا و خلکو سره خیانت کوي او باید د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو دمقاومت اوکرکې سره مخامخ شي.

---

*- دالیکنه د ۱۳۸۱ کال د تلې دمیاشتې پر ۲۳ نیټه دیووالي دجریدې په ۸ ګڼه کې خپره شویده.
یادونه: څرنګه چې په دغه وخت کې لیکونکي د افغانستان ملي یووالي سازمان مشرتوب په غاړه درلود ، نو ځکه یې په دې لیکنه کې دسازمان استازیتوب کړی دی.

# د ملي دموکراتو شخصيتونو او ځواکونو د تفاهم اويووالي په هکله د افغانستان ملي يووالي سازمان د نظر ټکي *

په دې کې هيڅ شک نه شته چې په هيواد کې د سولې اوثبات دپياوړتيا ، د ملي يووالي دټينګښت ، د دموکراسۍ د اصولوتامين اوديوانتخابي حکومت د منځته راوړلو لپاره د ټولو ملي اودموکراتو شخصيتونو اوځواکونو يووالي ته خورا ډير ضرورت دی.
يوازې هغه حکومتونه د اوسنيو ستونزو د اواريدو او د هيواد دبيا رغاونې جوګه کيدای شي ، چې د دموکراسۍ د اصولو سره سم د قانون پر بنسټ بې له هر ډول نظامي او سياسي فشار څخه د خلکوپه خوښه منځته راغلی وي . دا ډو ل حکومت به د خلکو له ملاتړ څخه برخمن اوپه نړيوالې ټولنې کې د اعتبار خاوند وي. څرګنده ده چې داډول حکومت د ملي او دموکراتو شخصيتونو او ځواکونو د يووالې او ګډون څخه پرته منځته نه شي راتلای.
د افغانستان ملي يووالي سازمان عقيده لري چې دا تفاهم اويووالی بايدصادقانه ، اصولي ، پراخ او دافغانستان د خلکو دملي ګټوسره سمون ولري او له هر ډول عجولانه او تحميلي هڅونه پرته د ټولو اړخونو له خوا د خپلمنځي منل شوې سياسي طرحې او مکانيزم پر بنسټ منځ ته راشي.
د دې ډول يووالي په نتيجه کې منځ ته راغلی سياسي ځواک به هغه وخت بريالی وي چې په هغه کې ګډون کوونکي شخصيتونه اوډلې د هيواد خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتيا ته متعهد اود دموکراسۍ اوبشرد حقوقواصولو ته وفادار وي . ملي ګټې تر شخصي اوګروپي ګټو

لوړ ي وګڼي. دهيواد د اوسيدونکو ملي يووالي ته متعهد او د هر ډول تعصب پر ضدوي. له هغونومونو او تګلارو څخه ځان ليرې وساتي چې په اوسنۍ مرحله کې زموږ دخلکو لپاره دمنلووړ نه دي او دهيواد د وروستيو لسيزو تاريخي پيښو په هکله صادقانه اوواقعبينانه تحليل او قضاوت ولري.

د پورتنيو ټکو په نظرکې نيولو سره سم د افغانستان ملي يووالي سازمان خپلوټولو غړو او سيمه ايزو سازمانونو ته لارښوونه کړې ده چې:

- د هيواد دکورنيواوبهرنيو شرايطوپه پام کې نيولوسره د ټولو سوله غوښتونکو ، ملي دموکراتواو روښان آندو شخصيتونو او ډلو د يوسرتاسري تفاهم د منځته راوړلو په خاطر صادقانه اونه ستړې کيدونکې هلې ځلې وکړي. دوئ به د دغو ګډو هلو ځلو په بهير کې د تل په شان دهيواد لوړې ملي ګټې په نظرکې ولري او هيڅکله به د خپلو شخصي او سازماني ګټو په خاطر دافغانستان دخلکو ملي ګټې تر پښولاندې نه کړي او د تفاهم تر برياليۍ پولې پورې به په دغسې پروسه کې د پخوا په شان د زغم او تيريدنې نه کار اخلي.

- ټول هغه ملي دموکرات شخصيتونه اوډلې چې د افغانستان ملي يووالي سازمان سره هيڅ ډول اصولي اختلاف نه لري ، کيدلای شي دافغانستان ملي يووالي سازمان په کړنلار راټول شي او بيا د سازمان دننه ټولې مسئلې د دموکراسۍ د اصولو سره سم د سازمان په لويه غونډه کې حل کړي . البته دا له هرې بلې لارې نه د يووالي لپاره آسانه، اصولي اونژدې لار ده.

- هغه ملي دموکرات شخصيتونه او ډلې چې د افغانستان ملي يووالي سازمان د کړنلارې سره بشپړ توافق نه لري ، کيدای شي په شريکو ټکو زموږ له سازمان سره ائتلاف يا اتحاد سرته ورسوي.

د افغانستان ملي یووالي سازمان ، د دې لپاره چې د ټولوملي دموکراتو شخصیتونو اوډلو یووالي ته یوځل بیا خپله ژمنه په ډاګه کړي ، د خپلوپخوانیو پورتنیو وړاندیزونو برسیره خپل نوی وړاندیز په لاندې ډول وړاندې کوي :

۱-د تفاهم او یووالي د پروسې ټول اړخونه به هر یوپه مساوي کمیت سره دخپلو استازو په معرفي کولو سره د تفاهم یومشترک کمیسیون جوړوي .

۲-د تفاهم داګډ کمیسیون به پر یوې ګډې طرحې چې دتفاهم اویووالي پرنسیپونه پکې منعکس شوي وي او د ټولو خواوو لپاره دمنلو وړ وي موافقه وکړي. هر اړخ به دا طرحه خپلوټولو علاقه مندانوته د دوئ د خبرتیا اونظر اخستنې لپاره رسوي.

۳-همدارنګه د تفاهم دا کمیسیون به د ټولوخواوو په ګډون سره د یوې لویې ګډې غونډې د جوړیدو په مکانیزم کار او موافقه وکړي.

۴-پر منځته راغلې طرحه او مکانیزم باندې د جانبینو د باصلاحیته ارګانونو د موافقې په صورت کې به اخري تصمیم د ټولو خواوو نه د یوې جوړې شوې ګډې غونډې له خوا نیول کیږي.

۵-دا غونډه به د تفاهم د ګډ کمیسیون له خوا د منځته راغلي مکانیزم پر بنسټ د دموکراسۍ د اصولو سره سمه جوړیږي اود نوي ګډ تشکل په ټولو اړخونو به تصمیم نیسي .

د افغانستان ملي یووالي سازمان ژمنه کوي چې د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او سازمانونو د تفاهم او یووالي په خاطر د پورتنیو ټکوپه عملي کیدو کې له هیڅ ډول هلو ځلو هڅې او هاند نه ډډه ونه کړي .

---

*- دالیکنه د ۱۳۸۱ کال د تلې دمیاشتې پر ۲۳ نیټه د یووالي د جریدې په ۸ ګڼه کې خپره شویده.

## بیا هم د جدي شپږمې نیټې تیري په هکله *

د جدي شپږمه نیټه د هغې ورځې یاد تازه کوي چې پکې په **۱۳۵۸** کال کې د پخواني شوروي اتحاد له خوا د ټولو نړیوالو اصولو او د افغانستان سره د دغه هیواد د دوو ګاونډیو هیوادونو د اوږدې مودې د دوستۍ د لاپوشاپو پر ضد زموږ پر هیواد باندې له شرمه ډک غلچکی تیری سرته ورسید . د دې تیري په نتیجه کې چې د ځان غوښتنې او ځبر ځواکۍ له بیلګو نه ډک و د جمهور رئیس حفیظ الله امین په مشرۍ د افغانستان ملي دولت ، چې د شورویانو دیکتې یې نه منله او د خپلو ملي ګټو څخه نه تیریده ، له منځه یوړل شو او پر ځای یې د شورویانو ګوډاګي ببرک کارمل په مشرۍ یو لاسپوڅی حکومت وتپل شو .
ددې لپاره ،چې خپل لاسپوڅی سیاسي قدرت ته ورسوي ، شورویانو زموږ په هیواد کې خپلو اجنټانو پواسطه نه یواځې دبخواني ملي حکومت په مقابل کې په بې شمیره توطیو لکه کودتاګانو لاس پورې کړ ، بلکې په هیواد کې د عمومي وضعې دخرابوالي لپاره یې له هیڅ ډول سبوتاژ ، زور زیاتي ، د مختلفو قومونو ترمنځ اودننه په ګوند کې د نفاق اچونې اود هغه وخت ګوندي او دولتي مشرتابه اوپه خاص ډول جمهوررئیس حفیظ الله امین په مقابل کې د درواغجنو تبلیغاتو او حتی تروریستي حملو نه ډډه ونه کړه .
شورویانو د خپلو لاسپوڅود پروپیګنډو پر بنسټ دا فکر کاوه چې که چیرته دغه ملي حکومت نسکور او پر ځای یې خپل لاسپوڅي قدرت ته ورسوي ، نوپر هغودرواغجنو پروپیګنډو چې یې مخکې کړې وې ، افغانان اونړیوال وغولوي او دکارمل ګوډاګی حکومت به پرې ومني . خوداسې ونه شول .شورویانودټولو هغو پروپیګنډو ، سبوتاژ اوتوطیوپواسطه ، چې دخپلواجنټانوله لارې یې د حفیظ الله امین د ملي

حکومت په مقابل کې سرته رسولې وې ، افغانان اونړیوال ونه شول غولولای چې خپل د شرمه ډک تیری توجیه کړي.
د افغانانو مطلق اکثریت دشورویانودتیري په مقابل کې په مختلفوډولونو مخالفت وښود اودیرغلگرواوتالي ځتو په مقابل کې یې ملي قیام پیل کړ. نړیوالې ټولنې هم د شورویانوتیری په غوڅ ډول رد کړ اودملگرو ملتونوعمومي اسامبلۍ په مطلق اکثریت دشورویانونه وغوښتل چې افغانستان نه دې خپل ځواکونه وباسي. ددې لپاره چې دشورویانویرغل ته دافغانانواونړیوالو له سخت غبرگون نه ژغورون ورکړی وي ، ببرک کارمل د (( نوې انقلابي شورا )) غونډه جوړه کړه اود شورا په پریکړو کې یې شوروي اتحاد څخه دمرستې غوښتنه وکړه اوداسې یې وښودل ،چې گوندې شورویانوتیری نه دی کړی ! اوپه اصطلاح د « نوې انقلابي شورا » په غوښتنه راغلي دي. برژنف هم په خپلې مصاحبې کې څرگنده کړه چې د شوروي اتحاد جنوبي سرحدونه د خطر سره مخامخ وو اولښکرې یې د خلک دموکراتیک گوند اودموکراتیک جمهوریت کې د« اصولي » عناصرو له خوا رابلل شوي دي. د « اصولي عناصرو » نه د برژنف مقصد په گوند اودولت کې شوروي استخباراتوپورې تړلي د جدي دشپږمې نیټې د تیري افغاني عاملین وو.
خوافغانانواو نړیوالو د کارمل « انقلابي شورا » اوپه گوند او دولت کې د بریژنف په وینا« اصولي عناصرو » رښتینولي اوصلاحیت رد کړ او افغانستان ته د شوروي وسله والو ځواکونو راتگ یې بلنه نه ، بلکې د ټولو نړیوالو نورمونو پر ضد یوبربنډ تیری وگاڼه. له افغانستان څخه یې د شوروي ځواکونود وتلو او له تیري نه د منځته راغلو زیانونو د تاوان وکولو غږ پورته کړ . د دې ناروا عمل په سرته رسولو سره شوروي اتحاد ، نه یوائې دافغانانودټینگ مقاومت سره مخامخ شو ، بلکې په ټوله نړۍ

کې یې حیثیت او اعتبار زیانمن شو ، چې دا کار د پرمختلونکو ناپییلوهیوادونو په منځ کې ، چې تر دغه وخته پورې شورویانو پکې زیات اعتبار او نفوذ درلود د ستر اهمیت وړ و. دافغانانو له مقاومت اود ناپییلو هیوادونوله دې غبرګون څخه د امریکې متحده ایالتونو او متحدینویې وړ ګټه پورته کړه او شوروي یې نه یواځې په افغانستان کې په نظامي ډګر کې د یوې دوامداره جګړې لور ته راښکه ، بلکې په نړیواله سطحه یې په اقتصادي اوسیاسي لحاظ د تجرید او یوازیتوب سره مخامخ کړ.

افغانستان په واقعیت کې د ساړه جنګ د وخت دتضادونو د ټکر میدان وګرځید ، چې له یو پلوه د امریکې او متحدینو مالي اونظامي مرستې وې چې دافغان بشري قواو پواسطه د جګړو په میدان کې په کار لویدلې وې او له بل پلوه د شوروي اتحاد نظامي ځبرځواک خووروست سیاسي نظام و ، چې مالي ،نظامي اوبشري منابع یې په یواځې ډول په کار اچولي وو او د دغه دروند بار په وړلو سره یې ملا کړوپه اونه یواځې په نظامي لحاظ دسترو ځانې او تخنیکي تاوانونو سره مخامخ شو ، بلکې په اقتصادي او سیاسي ډګرونو کې یې هم نه جبرانیدونکې ستونزې اوناکامۍ په برخه شوې. نوځکه مجبور شو چې زموږ له هیواد څخه خپلې لښکرې وباسي.

شورویانو ددې لپاره چې دخپلې ماتې غږ واخلي اوهم ددوئ د تیري نه د منځته راغلې جګړې د تاوان څخه ځان وژغوري ، د دوئ پواسطه قدرت ته رسیدلو افغانانو او متحدینو دفاع ته له خپلو وتلو ځنې وروسته هم دوام ورکړ او هڅه یې وکړه چې خپل زاړه اونوي متحدین په یوه رسۍ وتړي او د رسۍ سر په خپل لاس کې ونیسي ، هر څه د دوئ په دیکتې سرته ورسیږي او د خپلو ګټو په خاطر افغان جنګ ځپلی ولس یوځل نه بلکې څو ځلې د جګړو اور ته ټیل وهي.

کومې لاسوهنې چې په افغانستان کې د شوروي دولت له خوا پیل شوې وې ، په خواشنیې سره د روسې فدرالي جمهوریت له خوا په لا ډیر قوت اوبرتنډتیا سره دوام ورکړ شو . د دې پر ځای چې د شوروي دولت خطاوې سمې کړای شي او په پالیسۍ کې یې نوښت راشي ، روسانو هم هغې د شورویانو زړې پالیسۍ ته دوام ورکړ . د افغانستان دټولو خلکوسره ددوستۍ پر ځای یې د ځان پورې تړلو ډلو ټپلو د واکمن کیدو او د نوروقومونو ،په خاص ډول پښتنو په مقابل کې لکه دپخوا په شان له تبعیض او کینې نه کار اخستی دی . ددې پر ځای چې زموږ په هیواد کې د یورښتیني دموکراتیک نظام ، چې د ټولو افغانانو په ګډون او ملاتړ منځ ته راشي اویوه تلپاتې سوله اوثبات ټینګ شي ، مرسته وکړي روسان هغو وسله والو ډلو څخه چې په قومي بنسټونو منځ ته راغلي دي او دبې ثباتۍ سبب کیږي ، خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. او په دې ډول د ټولو افغانانوسره د ښواړیکو او دوستۍ پر ځای یو څو محدودو جګړه مارانو د تسلط لپاره پخوانۍ ټولې ځان پورې تړلې شبکې په کار اچولې دي ، تر څو پاک ملي وطنپال د دموکراسۍ واقعي مدافعین یو ځای نه شي او د ټولو افغانانو نماینده حکومت ، چې ملي ګټې تر هر څه لوړې او لومړۍ وګڼي منځته رانه شي اود افغانانو د بربادۍ تاوان له چا څخه ونه غوښتل شي. اوتر ټولو مهمه بیا دا چې د پخوا په شان هڅه کیږي چې تیر واقعیتونه بر بنډ نه شي.

د دې پر ځای چې له تیرو غلطیو او ناکامیو نه د عبرت درس واخلي بیا هم پر زړو کنډو کپرو لارو ر وان دي اوهڅه کوي چې لمر په دوو ګوتو پټ کړي ، پر افغانستان دشوروي اتحاد یرغل ته د بلنې ښه ورکړي او ټول هغه ناوړه کارونه چې دشوروي استخباراتي سیستم پورې تړلو اجنټانو له خوا سرته رسیدلي دي ، پر نورو بیګناه کسانو واچوي . د شوروي استتخباراتي سیستم شبکې لا اوس هم فعالې دي او په مختلفو

شکلونو او لارو هلې ځلې کوي تیر واقعیتونه په بل ډول وښئ . د جدي د شپږمې نیټې د تیري او له دې تیري نه درازیږیدلې غمیزې عاملین ، که څه هغه روسي او افغاني سیاست مداران وو که جنرالان ، هم پخپله هم دوئ پور ې ترلي ژورنالستان په خپلو بیانیو ، کتابونو او تبلیغاتوکې هڅه کړې ده چې د تیرو واقعیتونو غلطه بڼه خلکو ته وړاندې کړي. نه یوائې اوس خلکونه لار ورکه کړي ، بلکې راتلونکو نسلونو ته له دروغو نه ډک غلط تاریخ وړاندې کړي او په دې ډول هغه جفا چې یې د افغان مظلوم ملت په حق کې کړې ده د درواغجنو تبلیغاتو په وریځو کې پټه او بیرته ددغه ملت استازوته ،چې د تیري ، ظلم او وحشت قربانی شویدي ، نسبت ورکړي . ددې غیر اخلاقي او ناجایزه تبلیغاتو بیلګې ډیرې دي اوله سرنه تر پایه پورې له ښکرورو درواغو ډکې دي ، خو ځیني ټکي پکې موندل کیږي چې ،که چیرته رابرسیره شي، ترینه ددغو درواغجنو پروپیګنډو ماهیت ځرګندیدای شي .

باید وویل شي ، چې هغه څوک چې په ښکاره په خپل هویت د تیرو پیښو په هکله خپل نظر ځرګندوي ،که څه هم سم نظرنه وي ، بیا هم د هر چا نظر د احترام وړ دی او کومه غټه ګناه نه ګڼل کیږي. خو که څوک سره ددې امکاناتو چې په ازادانه ډول خپل نظر ځرګندولای شي ، بیا هم هڅه کوي خپل هویت پټ کړي او دعوه کوي ګنې واقعیتونو نه ملاتړ کوي ، دغه خبره به یې هیڅوک ونه مني او بې له دې چې د درواغجن اویو اجنټ په حیث ځان خلکوته وښئ ، چې دخپل هویت د رسواکیدونه ډاریږي ، بله کومه ګټه په تر لاسه نه کړي.

د افغانستان ملي یووالي سازمان خپله ملي دنده ګڼي چې د تیرو واقعیتونوڅخه تر خپلې وسې پورې دفاع وکړي او هغه بربنډ اوښکرور درواغ چې د شورویانو او د هغوئ د لاسپوڅو پواسطه دخپلو جنایاتو دپټولو لپاره شوي اوکیږي تر خپلې وسې پورې خپلو خلکوته رسوا

کړي. په همدې علت د« یووالي» په ۴ گڼه کې چې د جدي شپږمې نیټې ته ځانګړې شوې وه او پکې د یوشمیر لیکونکو له خوا پر افغانستان باندې د شورویانو د تیري او له دغه تیري نه د راپیدا شوې غمیزې په هکله پر ځینو واقعیتونو باندې رڼا اچول شوې وه پر یوشمیر کسانو ښه تاثیر نه وکړ ی. دوئ د دې لیکنو په مقابل کې چې د« یووالي» په جریده کې د هر چا په خپل هویت خپرې شوې وې ، ناسم ، په بدل نوم د شبنامې په څیر خپل غبرګون وښود چې یوه کاپي یې د« یووالي» په پته هم رالیږل شوې وه .خو څرنګه چې دغسې لیکنې کې د قلم عفت بیخي تر پښولاندې شوی و او« لیکونکي» یا« لیکونکو» ځان د ش. شریف تر نامه لاندې پټ کړی و ، نوځکه موږ دغه لیکنه خپره نه کړه او ځرنګه چې لیکوال یې معلوم نه و، نودغې لیکنې ته اعتبار او ځواب ورنه کړل شو. خواوس چې بیا د « یووالي» دا گڼه چې د جدي شپږمې تورې ورځې غندلوته ، چې لا اوس هم یې ناوړه اغیزې دوام لري ، ځانګړې شوې ده او کیدای شي لیکنې یې دځینو کسانو د نظر سره سمون ونه لري ، چې موږ دوئ ددې گڼې د لیکنوپه هکله ښکاره غبرګون ته رابولو او ژمنه کوو چې که په لیکنه کې د قلم پاکي ساتل شوې وي ، هغه به په« یووالي» کې د دوئ په خپل نوم خپره کړو او مناسب ځواب به ورکړو . البته څه شی چې زموږله نظره د پام وړ دی هغه دادی چې د تیرو پیښو په هکله باید د ملي دندې په حیث رښتیا وویل شي ، تر څو راتلونکي نسلونه د خپل هیواد د رښتیني تاریخ څخه خبر او دتیروپه هکله رښتیانې پوهه ولري اود درواغجنو تبلیغاتو تر تاثیر لاندې رانه شي.

---

*- دا لیکنه د۱۳۸۱ کال د د جدي پر ۲ نیټه د یووالي د جریدې په ۹ گڼه کې خپره شویده.

# ولې د ۱۳۵۸ کال د جدي ۶ نیټه د افغانانو دغمیزې د پیل ورځ ده ؟ *

پر همدې ورځ یانې د ۱۳۵۸کال د جدي ۶ ورځې په تور ماښام شوروي پوځونو پر خپلواک افغانستان باندې د شرمه ډک غلچکی تیری سرته ورساوه . د دې تیري په نتیجه کې د حفیظ الله امین په مشرۍ یو خپلواک ملي متمدن حکومت چې دنړۍ د اکثرو هیوادونو سره یې سیاسی – دیپلوماتیک او دوستانه اړیکي درلودل دملګرو ملتونو دسازمان ،ناپییلو هیوادونو دغورځنګ او اسلامي هیوادونو د کنفرانس فعال غړی و او د افغانانو د غوځ اکثریت ملاتړ ورسر ه و له منځه یوړ او پر ځای یې د ببرک کارمل په مشرۍ خپل لاسپوڅی او ګوډاګی حکومت پر افغانانو وتاپه.

دغه ګوډاګی حکومت ، چې د شورویانو د مستقیم تیري په نتیجه کې منځته راغی ، نه یواځې دافغانانو د مخالفت او کرکې سره مخامخ شو ، بلکې یه نړیواله ټولنه کې هم دمنلو وړ ونه ګرځید . دنړۍ اکثرو هیوادونو ورسره سیاسي – دیپلوماتیک اړیکي وشلول ، د نا پییلو هیوادونو غورځنګ او اسلامي هیوادونو کنفرانس کې یې د ګوډاګیتوب او بې باورۍ له امله ځای ونه موند او یواځې په شوروي پورې تړلی تجرید پاتې شو . البته د شورویانو مشرتابه همداسې حکومت خوښ واو په خپلو هیلوکې بریالي شول . د شورویانو او د دوئ د لاسپوڅو د درواغو پر خلاف د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین حکومت یوملي او متمدن حکومت و چې هڅه یې کوله افغانان د نړۍ د علمي اوتخنیکي لاسته راوړنو څخه برخمن شي ، د هیواد ټولې نجونې ا و هلکان زده کړه وکړي ، د خلکو د اقتصاد ، فرهنګ اوکلتور دسطحې

په لوړېدو سره دافغانانو د ژوند سطحه دنړۍ د خلکو دژوند تر سطحې پورې لوړه شي او هیوادد سیاسي او اقتصادي پلوه د یوخپلواک هیواد په څیر په خپلو پښو ودریږي. د مختلفو قومونو تر منځ د شریک اقتصاد کلتور او فرهنګ او تاریخي ارزښتونوپر بنسټ یووالی او وروري لاپسې ټینګه شي او ټول افغانان په شریکه د خپل هیواد په ابادۍ اوپر مختګ کې فعاله برخه واخلي .
چاچې د پورتنیوهلوځلو د تحقق لپاره کار کاوه تر اخره په دې لار پاتې شول. او چاچې د ملي ګټو پر خلاف د خپلو شخصي ،ګروپي اوپردیو ګټو لپاره ملا تړلې وه په پرله پسې ډول یو پر بل پسې رسوا او له سیاسي ډګر نه ووتل. په دې جمله کې هغو کسانو چې د پردیو په لمسه ددغه ملي حکومت په مقابل کې په ورانکارۍ ، توطیواو دسیسو لاس پورې کړ ، قانون یې تر پښو لاندې کاوه اود ډیرو پر حقوقو یې تیری کاوه که په ګوند کې وو او که په دولت کې ، له ماتې سره مخامخ شول او زمینه یو خپلواک ،پرمختللي، متمدن افغانستان منځته راتلوته مساعده شوه ،تر څو د ټولو نړیوالو سره یوشان دوستانه اړیکې ولري اوملي یووالی او سوله او ثبات پکې ټینګ وي اودنوي دموکراتیک اساسي قانون په منځ ته راوړو سره د افغانانو مدني حقوق تامین او قانون حاکم شي .
خو په خواشینۍ سره د افغانانو د نیکمرغۍ دښمنانو داځل د دښمن په جامه کې نه ، بلکې د یو دوست په جامه کې چې د افغانانوسره یې د اوږدې مودې د دوستۍ لاپې وهلې دتمدن او پرمختګ په لور زموږ دهیلو د کاروان په تس نس کولو یې نه یواځې دغه ملي ځواک ، چې دخپل هیواد اوخلکو د پرمختګ او سوکالۍ لپاره هر ډول سرښندنوته تیار و ، له منځه یووړ ، بلکې زموږ هیواد یې د یوې واقعي تراژیدۍ سره مخامخ کړ چې په لنډ ډول د ځینو بیلګو یادول ضرور دي .

لومړی – دشورویانو په تیري سره د افغانستان خپلواکي اوملي واکمني له منځه ولاړې . افغانستان د سرو لښکرو په واسطه ونیول شو او د یو ګوډاګي حکومت په تپلوسره د هیواد سیاسي ، اقتصادي او نظامي چارې د شورویانو په لاسونوکې کیوتې او افغانان د خپل برخلیک دټاکلو اوملي واکمنۍ نه محروم کړای شول . چې دا دیوداسې ملت لپاره چې له هر څه نه زیات په خپلې خپلواکۍ مین وي ، بې له سترې دردونکې فاجعې نه بل څه نه شي کیدای .
دویم – د دې لپاره چې د ځان او لاسپوڅو لپاره په افغانانو کې د پښې ټینګیدو ځای پیداکړي ، شورویانود خپلولاسپوڅو پواسطه د مختلفوقومونو تر منځ د بې اتفاقۍ اور ته دومره لمن ووهله ، چې حتی د تاریخ په اوږدو کې هیڅکله داسې دملي یووالي ضد فعالیت او دسیسې نه وې لیدل شوې. ددې موخې په خاطر ، چې دافغانانو مقاومت وځپي، هڅه وشوه چې یو دایمي د اکثریت او اقلیت په نوم د پښتون قوم په مقابل کې دتاجک ،اوزبک اوهزاره قومونو اختلاف ته لمن ووهي اوپه دې ډول دقومونو داختلاف له امله خپل لاسپوڅي پر دغو قومونو ومني . چې دا بې اتفاقي اچونه لا تر اوسه دوام لري اوسخت زیان یې د افغانانوملي یووالي ته رسولی دی.
همدارنګه یې دافغانانو دوطنپالنې داحساس د وژلو او په دوئ کې دشخصي ګټولپاره د حرص اوطمعې د ژوندي کولو په خاطر په شدت سره ټولنیز فساد ته لمن ووهله او د رشوت ، اختلاس ،قاچاق او عیاشۍ د رواجولو لپاره کار پیل کړ . د دې پر ځای چې د خلکو دکړاوونواوستونزو د لیرې کیدو په خاطر هلې ځلې وکړي ، شورویانو او لاسپوڅویې په لوی لاس د شرابو او نورو ملي – اسلامي ضد اعمالو ته ځوانان هڅول او غوښتل یې چې راتلونکیي نسلونه د هر ډول ملي – وطني احساس نه بیګانه وي. د اصلي افغاني فرهنګ سره خصومت او پر

پیکه او تقلیدي شیانو باندې ویاړ د شورویانو د تیري مستقیمه نتیجه وه. درواغ ویل ، ټګي او بې لوزي ، چې په افغاني ټولنې کې تر هر څه بد ګڼل کیدل ، د جدي د شپږمې نیتې نه وروسته یې رواج وموند .
دریم – پر افغانانو باندې د تباه کوونکې نابرابرې جګړې تپل د شورویانو د تیري هغه غمجنه بیلګه ده چې د افغانانو هر څه پکې لګړه شول. شورویانو دیو نړیوال ځبر ځواک په حیث فکر کاوه چې د دوئ په مقابل کې به په افغانستان کې دومره زیات مقاومت منځته رانه شي .
کارمل او ډلې یې شورویانو ته سینه ډبوله چې که چیرته په ګوند اواردو کې د حفیظ الله امین د طرفدارانو پر ځای دوئ واکمن شي ، نوپه خلکوکې دوئ د امین پرضد دومره ډیر کار کړی دی چې خلک به پرشورویانو ګلونه وشیندي او دحفیظ الله امین د طر فدارانو نه غیر به بل هیڅوک دشورویانومخالفت ونه کړي . هغومره چې شورویان د افغانانو له تاریخ نه بې خبره وو ، هم هغومره دکارمل ډله د افغانانو له وطنپالنې اوخپلې خپلواکۍ سره مینې نه ناخبره او بیګانه وه. پر همدې نیت شورویانو پر افغانستان تیری وکړ . تر هرڅه لومړی یې په ګونداودولت کې خپل مخالفین وځپل او ګوندي او دولتي قدرت یې د کارمل ډلې ته وسپاره. خوڅه خوبونه چې دوئ لیدلي وو او لاسپوڅو یې وعده ورکړې وه هغسې ونه شول او د ۱۳۵۸ کال د حوت دمیاشتې دریمې نیټې د افغانانو لومړنۍ د مخالفت لمبې وې ، چې په کابل کې دیرغلګرو او لاسپوڅو په مقابل کې د کابل عادي ښاریانو ، د ښوونځیو شاګردانو د پوهنتون زده کوونکو ، مامورینو او کسبه کارانو له خوا بلې شوې اوډیر ژر ټول افغانستان کې د یرغلګرونه د خپل هیوادد خلاصون په خاطر ملي قیام او جهاد پیل شو . دا یوه تپل شوې نابرابره جګړه وه ، چې له یوطرف نه افغان مظلوم ولس و چې د خپل هویت دبقا اوخپلواکۍ لپاره جنګیدل اوله بل پلوه شوروي ځبر ځواک و ،چې دسره پوځ په جګړه ایزې

وړتيا اوعصري وسلومغرور اود پراختيا غوښتنې اود افغانانو د ښکيل کولو ناولي خوبونه يې ليدل ، چې په نتيجه کې په ميليونونوافغانان له منځه ولاړل او ښکلی هيواد يې په شاړو او کنډوالو بدل شو .
څلورم – پر افغانستان باندې د شوروي تيري سره سم دګاونډيوهيوادونو ، لکه ايران اوپاکستان لاسوهنې چټکې شوې او دامريکې په شمول د نړۍ ګڼ شمير هيوادونه دافغان مسئلې لور ته راښکل شول . د جګړې قومانده د افغانستان له پولې نه بهر ووتله ، خودجګړې د قومانداناتو د زور ازميلو ميدان افغانستان وګرځيد . هغه لاسپوڅی حکومت ، چې شوروپانو غوښتل په خلکوتپي ، خلکويې له منلونه ډډه وکړه اوپه مخالفت کې يې ودريدل .
خودشوروپانواولاسپوڅي حکومت مخالفين هم د دې لپاره چې سره يونه شي اوخپل ملي متحد ځواک منځته رانه وړي دخپلوغرضونو په خاطر د بهرنيو هيوادونو له خوا يوکيدوته پرې نه ښودل شول . چې له همدې کبله دملي زعامت تشه منځته راغله او په جګړوکې دافغانانو د يو متحد ځواک پر ځای مختلف تنظيمونه او جګړه ايزې ډلې منځته راغلې اود دغو جګړه ايزو ډلوپه سرکې هغه څوک راوستل شول چې يواځې ښه جګړه يې کولای شوه . البته اکثره دا جګړه ايز قومانداتان بې سواده خوبې رحمه او په جګړو کې زړور اودملاتړ کوونکو هيوادونو اوددوئ دجاسوسي سازمانونو خبره يې ښه منله . نو ځکه جګړې اوږدې اودافغانانو له موخې نه ،چې دخپلواکۍ لاسته راوړل و، کږې اودبهرنيوهيوادونود ستراتيژيکو اهدافولپاره افغانستان په کنډوالو بدل اوپه ميليونونوافغانان مړه ، معيوب اوله خپل کور،کلي اوهيواد نه وتلو ته مجبور اود بې شانه ستونزو ،کړاوونو ،محروميتونواوغمونوپه ګاللو محکوم شول.

پنځم - که له یوپلوه روسانو زمونږ دهیوادورانولواو د ملي ځواک اوملي شخصیتونو په لمنځه وړواو ځپلو کې له هیڅ ډول وحشت او بې رحمۍ نه ډډه ونه کړه ، له بل پلوه همدغو بې سوادو او بې رحمو قوماندانانو چې یواځې د روسانوسره جګړې کولولپاره منځته راغلي وو ، په خپل هیواد اوهیواد والو هیڅ رحم ونه کړ. په زرګونو ښوونځي ، روغتونونه ، لوړې تعلیمي مؤسسې ، دولتي عام المنفعه ځایونه ، کارخانې ،بندونه ، سرکونه ، پلونه ، د تلیفون شبکې ، فارمونه او د خلکو عام المنفعه اوشخصي شتمنۍ ، کلي او ښارونه د ۲۳ کلنې جګړې په موده کې له منځه یوړل او دهیواد دپیړیو په اوږدو کې اکثره علمي ،تخنیکي اقتصادي او فرهیګي لاسته راوړنې یې د خاورو سره خاورې کړې . که شورویانو پر افغانستان تیری نه وای کړی ، هیڅکله به دغوکسانوته ، چې دملي ګټوله ارزښت سره نابلده وو ، دا زمینه نه وای مساعده شوې چې خپل هیواد پخپله وران کړي .
شپږم – پر افغانستان باندې دشورویانو تیري زمونږ هیواد دستر سیاسي اقتصادي او فرهنګي بحران سره مخامخ کړ. ملي یووالی یې کمزوری کړ په نړیواله ټولنه کې یې دافغان هویت د هغه د سیاسي بلواکۍ په نتیجه کې خړپړ، اقتصادي او فرهنګي سیستم ویجاړ او افغانان په ټول کې بې لاسو ، بې پښو اونورو ته محتاج اومعنوي ارزښتونوباندې یې مرګوني ګوزارونه وشول. وطنپالنه ،زړورتوب ، رښتینولي ، مینه، ترحم ، قول او وعدې باندې ټینګ دریدل د افغانانو هغه ملي – تاریخي او معنوي ارزښتونه دي ، چې دشورویانوله تیري نه وروسته سخت زیانمن شول. ډیر افغان ماشومان د ملي زده کړې له نعمت څخه محروم شول ، چې په نتیجه کې ډیر زیات یې حتی لوست لیک نه شي کولای . اوکه ځینوکسانوته دمهاجرت په وخت په بهرنیوهیوادونو کې د زده کړې شرایط مساعد شوي وي ، نود خپل هیواد په هکله پوهه پکې ډیره کمه

اویا بیخي نه لیدل کیږي . چې دا له خپل هیواداوهیوادوالو نه د ځوانو نسلونو بیگانه توب او لیرې والي کې سخته ناوړه اغیزه درلودای شي.
اووم – دقوم ،ژبې ، مذهب اوسیمې په نوم وسله والوملیشو منځته راوړل او په ملي اردو کې د ځینوقوماندانانوسره د دوئ تړاو، هغه تراژیکه پیښه وه ،چې په نتیجه کې د سولې د ټینگیدو پر ځای د افغانانو خپلمنځي جگړو ته لار خلاصه شوه. د قدرت لپاره د جگړه مارو ډلو ترمنځ د هیواد وران شوي ښارونه لاپسې وران او جگړې لاپسې اوږدې شوې اوافغانستان د ځو جگړه مارو ډلوتر منځ وویشل شو، چې دبهرنیوهیوادونود لاسوهنو له کبله نژدې و چې زموږ گران هیواد د کورنیواو بهرنیو دښمنانو له خوا ټوټه ټوټه شي.
اتم – که شورویانو په خپل ناولي تیري سره د وخت ملي ، مترقي او متمدن حکومت له منځه نه وای وړی په هیڅ صورت بنسټپالنې ،د تروریزم او مخدره موادو د قاچاق شبکو وده نشوه کولای اوافغانستان به یې په مرکز نه وای بدل شوی . د ځینو بهرنیو هیوادونو استخباراتي شبکو د بنسټپالنې ، تروریزم اومخدره موادو د قاچاق په پیاوړي کیدو کې هغه وخت لوی لاس پیداکړ ، چې شورویانو پر افغانستان تیری وکړ او دتیري په نتیجه کې یې پر افغانانوباندې د یوگوډاگي حکومت په تپلو سره د ملي زعامت تشه ( خلا ) منځته راوړه دا ځکه چې افغانان هیڅکله د بهرنیوهیوادونو پواسطه جوړ شوي لاسپوځي حکومتونه نه مني او ملاتړ ترې نه کوي. د کمزوري لاسپوځي حکومت په موجودیت کې دگاونډیو اونورو هیوادونو لاسوهنې زیاتې شوې او زمینه دوئ پورې تړلو بنسټپالانو ، تروریستانو او مخدره موادو قاچاقبرانو ودې اوپیاوړي کیدوته مساعده شوه. چې افغان ولس یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په سترو بد مرغیو او کړاوونو اخته کړ ، داسې بد مرغۍ ، چې لا تر اوسه ترې افغانان ځانونه نشي خلاصولی .

نهم – د دې لپاره چې د خپل تيري نه د منځته راغلو بربادیو له مسؤلیت نه ځان په ډډه کړي ، شورويانو هڅه وکړه چې د خپلو زړو او نوو انډیوالانو په مرسته د ملګرو ملتونو د سولې پلان له منځه یوسي . د دغه پلان پر بنسټ کیدای شول یوه مؤقته بیطرفه اداره منځته راغلې وای او په دې ډول دیو سرترسري ملي حکومت منځته راتلوته دخلکو دخوښې سره سم د انتخاباتو له لارې زمینه مساعده شوې وای . د ملګروملتونو دپلان په شنډولو سره وسله والو ډلو ترمنځ د قدرت لپاره جګړې هغه وخت تودې شوې ، چې دکارمل د ګوډاګۍ ډلې او ځینو تنظیمونو اووسله والو ډلو ( شمالي ټلوالې ) د سازش او توطیې په نتیجه کې ملي اردو له منځه یوړل شوه او په هیواد کې یو ژور سیاسي بحران منځته راغی .روسې. پاکستان او ایران خپلې لاسوهنې زیاتې کړې او امریکې اومتحدینویې چې د شورویانو سره په جګړو کې د افغانانو سره مرسته کوله ، افغانانو ته په دې بهانې شاوګرځوله چې دا د افغانانو خپلمنځي کاردی چې سوله غواړي اوکه جګړوته دوام ورکوي . افغانستان په واقعیت کې د یوې بې خاونده ځمکې په څیر د بهرنیوهیوادونو او جاسوسي شبکو د لاسوهنو په نتیجه کې د جګړه مارو ډلوسره دیوبل د وژلو لپاره د مرستې په بهانه د نړیوالې بنسټپالنې ، تروریزم او مخدره موادو د کرکیلې او قاچاق مرکزوګرځید .

لسم - همدا د شورويانواو د هغوئ د میراث خورو تیری او توطیې وې چې په افغانستان کې یې بې ثباتي اود ملي زعامت تشه منځته راوړه او افغانان یې د ۲۳ کلونو لپاره د تباه کوونکو جګړو په اور کې سر تر پایه وسوزول . همدا د شوروي او نورو بهرنیوهیوادونو استخباراتي شبکو پورې تړلي کسان وو چې خپل هیواد یې د پردیو دناولو موخواو ګټوځخه قربان کړ. د دې لپاره چې دنورو افغانانوسره په دښمنۍ کې بریالي شي او شخصي ګټې لاس ته راوړي ، د ځان او وطن په خرڅولو هم اړ نه شول . په

میلیونونو هیوادوال یې د بدبختۍ کومي ته ټیل وهل او هیواد یې لوټ او په کنډوالو بدل کړ.
همدا د نړیوالې ټولنې بې تفاوتي وه چې افغان غمیزه اوس په نړیوالې ستونزې بدله شویده. که پر افغانستان باندې د تیریو او لاسوهنو او ګوډاګیو حکومتونو دتپلو مخه نیول شوې وای ، نو په افغانستان کې خپلمنځي جګړې او انارشۍ ، چې د تروریزم اومخدره موادو قاچاق ودې ته یې شرایط منځته راوړل اوافغانان یې د یوې رښتیانۍ غمیزې سره مخامخ کړیدي ، به دومره نه غزیدلای او په نیویارک اوواشنګټن کې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټې پیښې به ورپورې نه تړل کیدای ، چې له کبله یې بې وزله جګړو ځپلي افغانان یوځل بیا د امریکې او متحدینو د یرغل او ځپلو سره مخامخ شول. د افغان ستونزې سره د نړیوالې ټولنې او په خاص ډول د امریکې متحده ایالتونو بې تفاوته چلند سبب شو چې افغاني ستونزه اوبې ثباتي په سیمه ایزې اونړیوالې ستونزې اوبې ثباتۍ واوړي اونه یوائې د افغانانو ، بلکې د سیمې اونړۍ د خلکوګټې او ارامه ژوند د خطر سره مخامخ شي. نو ځکه هره ځایي ستونزه باید دنړۍ دستونزې د یوې برخې په څیر وڅیړل شي او په اوارۍ کې یې نړیواله ټولنه ، په خاص ډول د ملګرو ملتونو سازمان ، د کوم غرض نه پرته د ضرورت سره سم برخه واخلي او مرسته وکړي. البته دهرې ستونزې حل یوائې په عادلانه ډول ،چې دچا حق تر پښولاندې نه شي اوظلم پرې ونه شي ، شونی دی اوبس.

---

*-دالیکنه د ۱۳۸۱ کال د جدي پر ۲ نیټه د یووالي دجریدې په نهمه ګڼه کې خپره شویده .

# د افغانستان ملي یووالي سازمان په استازیتوب اعلامیه*

د ۲۳ کلونو پرله پسې تباه کوونکو جګړو ، چې پر افغانستان باندې دشوروي اتحاد د تیري ، ګاونډیو هیوادونو دلاسوهنو ، د جګړه مارو قوماندانانو د ځان غوښتنو اود نړیوالې ټولنې د بې تفاوتۍ په نتیجه کې پر افغانانو وتپل شوې زموږ هیواد دسترو ځاني ، مادي او معنوي بربادیو سره مخامخ کړی دی. چې بیرته جوړول یې یواځې اویواځې د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو ټینګ یووالي اود نړیوالې ټولنې بې غرضه مرستو سره شونی کیدای شي.
په افغانستان کې د تلپاتې سولې اوثبات ټینګیدل نه یواځې د ټولو افغانانو په ګټه دي ،بلکې دګاونډیو هیوادونو ، سیمې او نړۍ په ګټه هم دي ، چې یو سوله ایز ،باثباته ، پرمختللی او متمدن افغانستان ، چې د نړۍ دټولو هیوادونو سره دوستانه اړیکي ولري ، د دموکراسۍ داصولو پر بنسټ وچلیږي ، دبشر حقوقوته پکې درناوی وشي اود افغانانو دملاتړ څخه برخمن او هیلو او غوښتنوته یې ځواب ووایي ، منځته راشي.
کله چې افغانستان کې کورنۍ جګړې روانې وې اود بهرنیو هیوادونو ، په خاص ډول د ګاونډیوهیوادونو لاسوهنو عادي بڼه غوره کړې وه ، ورسره سم زموږ کړیدلي سوله غوښتونکي عام خلک او ملي دموکرات شخصیتونه او ډلې نه یواځې د کورنیووسله والو ډلو د غیر انساني چلند ظلم او تعدی سره مخامخ وو، بلکې زموږ هیواد او ټول سوله غوښتونکي افغانان د نړیوالې ترهګرۍ ،پردیپالنې اومخدره موادو دقاچاق د شبکو برمته وو. د افغانستان د خلکو دښمنانو ، کورنیو او

بهرنیو ، له افغانستان څخه د نړۍ پر سر د بیګناه انسانانو د سوزیدلو لپاره دوزخ جوړ کړی و ، چې تاو یې نه یواځې دننه افغانستان کې پاتې نه شو ،بلکې سیمه او نړۍ یې هم لوغړنه کړه. وروستیو پیښو ، په خاص ډول په نیویارک او واشنګټن کې د ۲۰۰۱ کال د سپتامبر تروریستي حملو وښودله چې په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات ټینګول نه یواځې افغاني ، بلکې سیمه ایز او نړیوال ضرورت دی ، چې باید د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو او نړیوالې ټولنې په ګډو هلوځلو منځ ته راشي .
اوس چې د امریکې متحده ایالاتو په فعال رول سره نړیوالې ټولنې پتیلې ده چې په افغانستان کې د تل پاتې سولې او ثبات د ټینګیدو لپاره د افغانانو سره مرسته وکړي ، باید په ګوته شي ، چې یواځې د طالبانو د رژیم په لمنځه وړو اود القاعدې شبکې په دړې وړې کیدو سره د افغانانو په غمځپلي هیواد کې سوله او ثبات نه ټینګیږي . دا لومړنی ګام دی چې په اخستلو یې ټولو سوله غوښتونکو ملي دموکر اتو افغانانو ته لار اواره شویده چې سره یوشي او دنړیوالې ټولنې په مرسته په خپل هیواد کې تلپاتې سوله اوثبات منځته راوړي ، هر ډول زور زیاتی اود ټوپک واک له منځه یوسي ، د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ او دقانون له حکمونو سره سم د ملي یووالي ممثل حکومت جوړ شي ، د تمدن او ترقۍ لار غوره شي او هیواد مو د سیالو هیوادونو په قطار کې ودریږي .
نوځکه هر هغه ځوک چې د سولې او دموکراسۍ دروانې پروسې په مقابل کې ستونزې منځ ته راوړي ، جګړې ، بې ثباتۍ ، ټوپک واکۍ او دغیر مشروع شخصي او ګروپي ګټو په خاطر د وسله والو ډلواو سیمه ایزو قوماندانانو د واکمنۍ دوام غواړي ، په واقعیت کې د ښاغلي حامد کرزي په مشرۍ د منځمهالي حکومت کمزوري ساتل دي . تر څو ونه

کړای شي هغه دندې چې د لوې جرگې له خوا ورسپارل شویدي په بریالیتوب سره سرته ورسوي.
د افغانستان ملي یووالي سازمان د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینگیدو او د هیواد بیا جوړیدو لپاره د بن دغونډې او لوې جرگې د پریکړو پر بنسټ د لنډ مهالي او منځمهالي حکومتونو له ټولو هلو ځلو نه ملاتړ کړی دی . یوځل بیا د ښاغلي حامد کرزي په مشرۍ د منځمهالي حکومت د ټولو هغو هلوځلو نه ، چې د نړیوالې ټولنې په مرسته یې د ملي اردو جوړیدو ، د ټولو وسله والو ډلو د بې وسلې کیدو ، د هر ډول تروریستي او جگړه ایزو فعالیتونو دبشپړ پای ته رسیدو ، د افغانستان د ملي وثیقې - د دموکراسۍ او بشري حقوقو پر بنسټ د اساسي قانون د جوړیدو او نافذیدو ، د ډیر گوندیز سیستم د مقرراتو سره سم ، چې ددموکراتیکو انتخاباتو سرته رسیدوله لارې د یوانتخابي حکومت منځته راتلل دي ، خپل کلک ملاتړ اعلانوي.
د افغانستان ملي یووالي سازمان عقیده لري ، چې پورتنۍ دندې هغه وخت په بریالیتوب سره سرته رسیدای شي چې:
۱-ټول ملي –دموکرات شخصیتونه او ډلې ، چې ملي گټې له هر ډول شخصي اوگروپي گټونه لوړې گڼي ، یو بل ته لاسونه ورکړي او پر یومشترک پلاتفورم راټول شي . تر څود یومتشکل سیاسي ځواک په توگه د سولې ، دموکراسۍ او بیارغاونې دپروگرام تر شا ودریږي .
۲-دښاغلی حامد کرزي په مشرۍ منځمهالی حکومت دورسپارل شوو دندو په سرته رسیدو کې یوازې هغه وخت بریالی کیدای شي ، چې د سولې دموکراسۍ اوملي یووالي ضد کسانو او ډلو له نفوذ نه ځان لیرې وساتي او د خپل خدای ( ج ) په مرسته د سوله غوښتونکو افغانانو ، ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو په ملاتړ تکیه وکړي ، د نړیوالې

ټولنې له بې غرضه مرستو نه ور ګټه واخلي اود هیچا نامشروع ، ملي ګټوضد غوښتنې وه نه مني .
۳-نړیواله ټولنه نوره باید د افغانانودستونزو او د جګړه مارو ډلو د زور زیاتي په مقابل کې بې تفاوته پاتې نه شي او افغانانوته دورکړل شوو ژمنو په پلي کیدوکې ځنډونه کړي . د تروریزم اومخدره موادو ضد جګړه یوائې هغه وخت په بریالي ډول سرته رسیدای شي ، چې نړیواله ټولنه د سوله غوښتونکو افغانانو ، ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو د هلو ځلو ملاتړ وکړي او هم یې ملاتړ له ځان سره ولري .
یوائې سوله ایز باثباته ، دموکراسۍ اود بشر دحقوقو اصولو ته ژمن ، متمدن اوپرمختللی افغانستان کولای شي نړیوالې سولې او ثبات سره مرسته وکړي . نه وروسته پاتې د وسله والو جګړه مارو او بنسټ پالو ملي ضد ډلو په منګولو کې ښکیل افغانستان .
د افغانستان ملي یووالي سازمان عقیده لري ، چې که ټول سوله غوښتونکي ملي دموکرات شخصیتونه او ځواکونه یوشي ، کیدای شي دسولې او ثبات ، دموکراسۍ اوملي یووالي ټینګیدو په مقابل کې ټولې دسیسې شنډې شي ، دنړیوالې ټولنې لازم ملاتړ تر لاسه شي او په مخکې پرتې دندې په بریالیتوب سره سرته ورسیږي او د ټوپک پر ځای قانون حاکم شي . د افغانستان ملي یووالي سازمان ژمنه کوي چې د ټولو سوله غوښتونکو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو دیووالي په خاطر به د تل په شان یوائې د ټولو افغانانو ملي ګټې په پام کې نیسي او بې له هر ډول امتیاز غوښتلونه به په دې لار کې له هیڅ ډول صادقانه او پرله پسې هلو ځلو نه ډډه نه کوي .

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۱ کال د جدي پر ۷ نیټه د یووالي د جریدې په ۹ ګڼه کې خپره شویده .

## نړیوال له ټولنه د یوې بلې اشتباه په درشل کې *

کله چې شورویانو د خپلو پراختیا غوښتونکو موخو له مخې د خپل ځبر ځواکۍ له خصلت نه کار واخست او د دوستۍ پر ځای یې د تیري او ځپلو لار غوره کړه ، نو د افغانانو د سخت مقاومت سره مخامخ شول. د تیري کوونکو پر ضد د افغانانو مقاومت د نړیوالو پام افغانستان ته راواړاوه او د افغانانوسره یې د شورویانو له شرڅخه د ژغورلو تر نامه لاندې لومړی په محدود ډول ، خو وروسته په پراخه پیمانه مالي ،سیاسي او نظامي مرستو ته راودانګل.

مرسته کوونکي هیوادونه ، ډیر یې هغه هیوادونه وو چې شورویان یې پر افغانستا ن باندې له تیري څخه مخکې خپل مخالفین او دښمنان ګڼل . نو ځکه د افغانانو د خپلواکۍ لپاره که یې مرسته نه کوله ، خو د خپلو زړو دښمنانود کمزوري کولو او ستونزو سره مخامخ کولو لپاره ، چې نور د پراختیا غوښتنې خیالات له سرنه وباسي ، مرسته کوله. یا دا چې : د دښمن دښمن ، دوست دی.... له اصل څخه کار اخیست.

خو ځینو دغومرسته کوونکو هیوادونو ، په خاص ډول ګاونډیو هیوادونو ، نه غوښتل چې افغانان دې د یوواحد ملي ځواک په حیث د یوواحد مشرتابه په لارښوونه د شورویانوسره جګړه پر مخ بوځي اود دوئ له لاسوهنې نه پرته د نړیوالو مرستو څخه په مستقیم ډول برخمن شي. دوئ غوښتل چې افغانان د شورویانو سره جګړې ته دوام ورکړي او پرې نه ږدي چې شورویان پر دوئ حمله وکړي ، خو غوښتل یې چې افغانان د دوئ تر نفوذ لاندې او د دوئ په دیکتې شورویانو سره وجنګیږي. او هم که نور هیوادونه مرسته کوي ، نو ډیره برخه یې دوئ ته ورسیږي .

همداو چې افغانان د يو قوت پر ځاى په بيلو بيلو مختلفو اوحتى مخالفو ډلو کې وويشل شول او د ډګروال يوسف له ليکنو سره سم په پاکستان کې د مقاومت ټولې چارې آى . اس . آى . ته وسپارل شوې .دملګرو ملتونو سازمان ، امريکې او متحدينو يې په دې اړوند هيڅ هڅه ونکړه چې دمختلفو ډلو پر ځاى خپلې مرستې د افغانانويوواحد ملي ځواک ته وسپاري. دا د ملګروملتونو ، امريکايانو او متحدينو لومړنۍ اشتباه وه چې د افغانانو په مقابل کې يې سرته ورسوله . که چيرته د مقاومت په وخت کې د افغانانو يوملي متحد ځواک جوړ شوى واى ، کيداى شول د شورويانو له وتلونه وروسته دې ملي متحد ځواک د ملي زعامت تشه ډکه کړې واى او د قدرت لپاره د تنظيمونو تر منځ خپلمنځي جګړې منځته نه واى راغلې.

بله اشتباه چې نړيوالې ټولنې په افغانستان کې سرته ورسوله ، هغه د افغانانو دازادي غوښتونکو مبارزو او سرښندنو اعتماد په کورنۍ او بهرنۍ بنسټپالنې وشو او ملي شخصيتونه او ډلې هير شول . هر څومره چې به يوشخصيت يا ډله ډيره بنسټپاله وه ، په هم هغه اندازه به د ډير اعتماد وړ وه او مرستې به ورسره کيدلې . همدا سبب و ، چې د نړۍ اکثرو بنسټپالو شخصيتونو او کړيو افغانستان ته مخه کړه او دا هيواد يې د بنسټپالنې په مرکز بدل کړ. نو ځکه د شورويانو پر ضد جګړه کې د مقاومت ډير واک د هغو مذهبي مشرانو په لاس کې کيوت ، چې د ملي ګټو پر ځاى يې نړيوالو مذهبي اړيکو ته ډير ارزښت ورکاوه . همدغه د نورو هيوادونو نه افغانستان ته راغلې کړۍ وې چې د خپلې بقا او فعاليت د دوام لپاره يې زموږ هيواد د نړيوالې بنسټپالنې اوتشدد په مرکز واړاوه.

همدارنګه کله چې د افغانانو د بې ساريو سرښندنو په نتيجه کې شوروي مجبور شو خپل ځواکونه زموږ له هيواد نه وباسي او زمينه دې ته

مساعده شوه چې په سوله ایز ډول د ملګرو ملتونو د پروګرام له مخې دولتي قدرت يوې بیطرفه ملي ادارې ته تسليم اوورپسې د لوې جرګې له خوا منځمهال او ورپسې د قانون له مخې انتخابي حکومت منځته راشي ، جګړې پای ته ورسیږي او هیواد مو بیرته اباد شي. خو نړیوالې ټولنې بله اشتباه وکړه او افغانان یې په نیمه لار کې پریښودل . د افغانانو قربانۍ یواځې د شورویانو دماتې اوکمزوري کیدو لپاره کافي وګڼل شوې او په افغانستان کې د سولې دټینګیدو او د جګړې نه د راځیږیدلې غمیزې د پای ته رسیدو لپاره ټولو هغو هیوادونو، چې د شورویانو سره په جګړه کې یې بې شانه مرستې کړې وې افغانانو ته شا وګرځوله او د خیر په غونډۍ کیناستل .

چې په نتیجه کې دافغانستان دخلکو کورنیو او بهرنیودښمنانو ، دموقع نه په ګټې اخستو سره ، دملګرو ملتونو د سولې پروګرام په مقابل کې توطیه وکړه او افغانان بیا د اوښکو اووینو په سیلاب کې لاهو شول. هغه فرصت چې لاس ته راغلی و د نړیوالې ټولنې د بې تفاوتۍ او اشتباه له امله له لاسه ولاړ او افغانان د نورو لسو کلونو لپاره د خپلمنځي جګړو په اور کې سوزیدل اونړیوالې ټولنې یې سیل کاوه . ترڅو د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټې پیښه منځته راغله او نړیوال پوه شول چې د افغانانو په نیمه لار کې پریښودل اشتباه وه . ډیر خلک په دې عقیدې وو ، چې که د افغانانو مسئله په دموکراتیک ډول اواره شوې وای ، نواوس به نه یواځې افغانان د ډول ډول ستونزو سره مخامخ نه وو ، بلکې له دغو ستونزونه د راځیږیدلو سیمه ایزو او نړیوالو پیښو مخه به هم نیول شوې وای . نو ځکه د امریکې او برطانیې مشرانو افغانانو سره ژمنه وکړه ، چې نور به د افغانانو ستونزو ته شاونه ګرځوي .

د افغانستان خلکو کلکه عقیده درلوده چې د طالبانو او اسامه بن لادن د واک د ختمیدو څخه وروسته به نړیواله ټولنه په خپلو ژمنو کلکه ودریږ

ي . په افغانستان کې به سوله تینګیږي اود دموکراسۍ داصولو سره سم
به د ډیر ګوندیز سیستم پر بنسټ به انتخابي ډول منځ ته راځي او د
افغانستان د بیا جوړیدو لپاره به د افغانانو سره لازمې مرستې کیږي .
هیڅا هم دافکر نه شو کولای چې هغه جګړه ماران ، چې د کورنیو جګړو
په وخت کې له قدرت څنې لویدلي او له جګړه مارتوب نه وتلي وو ، به
بیرته دنړیوالو سوله ساتوځواکونو په موجودیت اومرسته د وسله والو
ډلو قوماندانان کیږي او خپل ظلم ، تشدد ، خپلسریو او له قانون نه
سرغړونو ته به دوام ورکوي. خلکو داعقیده درلوده چې د نړیوالې ټولنې
په موجودیت کې به حتی هغه وسله والې ډلې چې لاتر دغه وخته پورې نه
وې بې وسلې شوې ، بې وسلې شي او لار به دټوپک له فشار څخه پرته
دخلکو ازادې ارادې ته اواریږي ، چې پخپله خوښه خپل لنډ مهال ،
منځمهال او انتخابي حکومتونه منځ ته راوړي.
ټولو افغانانو عقیده درلوده ، چې په هغومره بیړه او قوت سره د طالبانو او
القاعدې د ځواکونو تیت پرک کول شوني وو ، بل به هیڅوک دا جرئت ونه
کړي چې په غیر قانوني ډول له ځان سره وسله وساتي او یا په حکومتي
چاروکې د قانون پرځای د ټوپک له زور نه کار واخلي . افغانانو عقیده
درلوده چې د نړیوالې ټولنې په مرسته به ډیر ژر په افغانستان کې سوله
اوثبات منځته راشي او لار به د قانوني حکومت منځته راتګ اود قانون
حاکمیت ته اواره شي. ټولو افغانانو د نړیوالې ټولنې پر ژمنو کلک باور
درلود او افغانستان ته یې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د راتګ موخه د
سولې اودموکراسۍ ټینګیدل ګڼل . افغانان پر دې عقیدې وو چې د
نړیوالو سوله ساتو ځواکونو په موجودیت کې به ټوپک واکې او له قانون
څخه سر غړونه په قاطع ډول پای ته ورسیږي .
خوهغه کارونه چې دنړیوالې ټولنې دسوله ساتو ځواکونو په موجودیت
کې وشول اوکیږي ، ډیر افغانان د مایوسۍ اوبد ګومانۍ سره مخامخ

کړي دي او ډیر سوالونه ورته پیدا شوي دي . دا چې بې وسلې شوي قوامندانان بیرته وسله وال کیږي او په خپلو محلاتواوسیموکې حاکم کیږي اوحتی دمرکز ځنې د بیلوالي اکتهونه کوي اویا دا چې ځینې وسله والې ډلې نه یواځې داچې بې وسلې کیږي نه ، بلکې د وسلې په ګواښ سره غواړي سیاسي امتیازات لاس ته راوړي ، دهیڅ افغان دهیلو او غوښتنوسره برابر کارونه نه دي. دهیواد په مختلفوسیموکې د وسله والو ډلوترمنځ وقفه یي نښتې ، دخلکوپر سر ،مال اوناموس باندې تیری ، قومي تشدد ،تبعیض او زور زیاتي نه کار اخستل هغه کارونه دي ، چې افغانانو فکر کاوه چې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو په راتګ سره به یې لمن ټوله شي.
همدارنګه افغانانو عقیده درلوده چې په هیواد کې به دسولې او ثبات په ټینګیدوسره د دموکراسۍ په لور پراخ ګامونه اخستل کیږي ، د هیواد بیا رغاونه به په قوت سره پیل او دټولو هغو افغانانو لپاره چې په هیواد کې دجګړو اونا امنۍ له کبله یې خپل هیواد پریښی دی اواوس غواړي خپل هیواد ته راوګرځي شرایط په زړه پورې شي ، تر څو د خپل هیواد په ابادیدوکې برخه واخلي .
اوس چې د لنډ مهال حکومت دوره تیره او منځمهال حکومت منځته راغلی دی باید هغه ستونزې او نیمګړتیاوې چې د لنډ مهال حکومت په وخت کې موجودې وې نورې پای ته ورسیږ ي او پریښودل شي چې منځمهال حکومت خپلې دندې په بریالیتوب سره سرته ورسوي . تر څو په هیواد کې سوله او دموکراسي ټینګه او د هیواد بیا رغاونه په بریالیتوب سره سرته ورسیږي. د دموکراسۍ او بشر دحقوقو نړیوالو اصولو سره سم اساسي قانون منځ ته راشي ، د پلوراليزم ( ډیر ګوندیز سیستم ) پر بنسټ د دموکراتیکو ټاکنو له لارې انتخابي حکومت جوړ شي. تر څو کار دکار

وړ کسانو ته وسپارل شي او افغانان بیرته خپل ځای په نړیواله ټولنه کې ونیسي .
ټول دا کارونه بې د نړیوالې ټولنې له مرستې څخه امکان نه لري. د دې لپاره چې په هیوا د کې یو روغ سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز نظام رامنځته شي او د دې نظام تر شا ټول سوله غوښتونکي ملي دموکرات افغانان د یومتحد سیاسي ځواک په څیر ودریږي ، باید په افغانستان کې د ټوپک واک ختم شي او پر ځای یې قانون حاکم شي. د وسله والو ډلو د زور زیاتي او بنسټپالنې د پای ته رسیدو لپاره لازم دي ، چې د ضرورت سره سمه یوه بیطرفه ، مدرنه ملي اردو جوړه شي او ټولې هغه وسله والې ډلې چې د جګړو په وخت کې د سیمه ایزو قوماندانانو له خوا جوړې شوې وې ، بې له هر ډول توپیر نه بې وسلې شي . باید په ګوته شي چې د ملي اردود جوړیدو لپاره اوسنۍ هلې ځلې ، تشه تبلیغاتي جنبه لري د ضرورتونو سره په هیڅ ډول سمون نه لري .
تر څو ټول دغه کارونه سرته ونه رسیږي او د سولې او دموکراسۍ پروسه پر روغه لار روانه نه شي ، نړیواله ټولنه به ونه شي کړای خپلې ژمنې ، چې افغانانوسره یې کړې وې ، سرته ورسوي . دا به داسې وګڼل شي چې نړیواله ټولنه دا ځل بیا د افغان ستونزې د اواري لپاره څرنګه چې لازم ده ملا نه ده تړلې او د افغانانو هیلې کیدای شي بیا د نهیلۍ سره مخامخ شي. د سولې او دموکراسۍ پروسې باید په بریالیتوب سره بشپړې شي او د هیواد د بیا جوړیدو کار د خلکو دهیلو سره سم پیل او پرمخ ولاړ شي. منځمهال حکومت باید خپلې هغه دندې چې د لوې جرګې له خوا ورسپارل شوې وې د نړیوالې ټولنې په مرسته او ملاتړ د دموکراسۍ او بشري حقوقو د نړیوالو اصولو په نظرکې نیولو سره سرته ورسوي .
دسولې او دموکر اسۍ په وړاندې موجوده ستونزې او ددې ستونزو

اواري ته د نړيوالې ټولنې کمه پاملرنه ، کولای شي دا ټولنه د يوې بلې اشتباه په درشل کې ودروي .

*- دا ليکنه د ۱۳۸۲کال د حمل د مياشتې پر ۱۸ نيټه د يووالي د جريدې په ۱۰ ګڼه کې خپره شويده .

# په عراق کې جګړه *

د ۲۰۰۳کال دمارچ پر ۱۹ نیټه د امریکا په مشرۍ امریکایي او برطانوي وسله والو ځواکونو په عراق باندې د کروز او تاماهاک توغندیو په ګوزارونو سره خپل یرغل پیل کړ . په عراق باندې دیرغل کولو لپاره امریکائیان او انګریزان داسې دلیل راوړي ، چې ګوندې د صدام حسین رژیم د ټولوژنې کیمیاوي اوبیالوژیکي وسلې لري او هم نیت لري چې اټومي وسلې جوړې کړي.
خو دصدام حسین د حکومت چاروکي وايي چې د ټول وژنې هیڅ ډول کیمیاوي او بیالوژیکي وسلې نه لري او هم د اټومي وسلې د جوړیدو هیڅ ډول پروګرام نه لري . او داچې امریکائیان او انګریزان دعوه کوي ، نو د ملګرو ملتونو څارونکي کولای شي په خپلوسترګو ووینې چې نه موږ د ټولوژنې کیمیاوي اوبیالوژیکي وسلې لرو اونه د اټومي بم د جوړیدو کوم پروګرام . عراقیان ادعا کوي : چې د امریکې او برتانیې موخه یواځې په دې پروپیګنډو باندې د تیلو د ذخیرو نیول دي اوغواړي چې د عراق د ملي حاکمیت په لمنځه وړو سره د عراق د خلکو شتمنې لوټ کړي او دا په واقعیت کې د استعمار بله بڼه ده چې د ټولوژنې د وسلو اود تروریزم سره د مبارزې ترنامه لاندې ځان پټوي.
د عراق سره د امریکا دا دوم جنګ دی. لومړی جنګ ، چې د خلیج د جنګ په نوم یادیږي په ۱۹۹۱کې پر کویټ باندې د عراق د یرغل نه وروسته پیښ شو ، چې پکې د امریکا سره نه یواځې د ناټو متحدین کلک ودریدل ،بلکې اکثرو عربي هیوادونو هم د عراق پر ضد موضعګیري وکړه اوپر کویټ باندې د عراق له تیري سره یې کلک مخالفت وښود او دامریکا ملاتړ یې وکړ . خو دا اوسنی جګړه له هغې جګړې نه په کمي

او کیفي لحاظ ډېر توپیر لري. نوځکه ضرور دي چې یوڅه رڼا پرې واچول شي.
د عراق اوسنۍ جګړې ته امریکائیان او انګریزان (( د عراق د ازادۍ جګړه )) وایي. خونه یوازې عراقیان، بلکې د نړۍ اکثره خلک، په هغه جمله کې پخپله د امریکې او برتانیې عام خلک دې جګړې ته (( د تیلو جګړه )) وایي. پخپله د امریکائیانو او انګریزانو له خوا ویل کیږي چې په مخکینۍ جګړې کې عراق له نظامي پلوه نسبت اوس ته ډېر ځواکمن و. هغه جنګي تخنیک چې امریکا او برتانیه یې په واک کې لري د عراق له نظامي تخنیک نه ډېر لوړ، مؤثر او دقیق دی. د مثال په ډول د عراق ټولې زغره والې وسیلې پخوانۍ دي او د امریکې او برتانیې زغره والو وسیلو سره هیڅ د مقایسې وړ نه دي. همدارنګه عراق یوازې ۹۰ جنګي فعالې الوتکې لري، چې په مقابل کې امریکا او برتانیه ۱۲۰۰ عصري ترینې الوتکې د ب۵۲- الوتکو په شمول او داسې نور ډېر لیرې ویشتونکي توغندي او نظامي وسیلې هغه څه دي چې امریکائیانو او برتانویانو په کار اچولي دي.
خود عراق د اطلاعاتو وزیر د یومطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې ډاډ ښکاره کړ، چې د امریکې او برتانیې پوځونو ته به ارو مرو ماتې ور کوي. ده د امریکې او برتانیې د نظامي لوړتیا تائید وکړ، خو زیاته یې کړه چې عراقیان د خپل وطن لپاره جنګیږي او امریکائیان او انګریزان د دوئ د وطن د اشغال لپاره. نو ځکه دوئ نه شي کولای چې عراقیان مغلوب کړي. ده مثال راوړ چې د اسرائیلو صیهونیستي رژیم ونه شول کړای په خپل قوي جنګي ماشین سره هغه فلسطینیان مات کړي چې د خپلې خپلواکۍ لپاره د وسلو پر ځای په کاڼو او تیږو جنګیږي.
د دې جګړې بل توپیر د خلیج دمخکینۍ جګړې نه دادی، چې په دې جګړه کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا درې دایمي غړي - فرانسه،

چين او روسيه چې د ويټو حق لريددې جګړې سره کلک مخالف دي او يوائې امريکا اوبرتانيه د پنځو دايمي غړو له جملې نه ددې جګړې غوښتونکي دي . همدارنګه دملګرو ملتونو سازمان ، دنړۍ اکثر هيوادونه او د ټولې نړۍ د عامو خلکو اکثريت ، د امريکې او برتانيې د خلکو په شمول ددې جګړې سره مخالفت لري . او که دا جګړه اوږده شي او زيات تلفات ولري ، کيداى شي عمومي ذهنيت د بوش او بلير پر ضد قوي شي . ځکه چې د عامو خلکو په دې جګړو کې هيڅ ګټه نه شته او يوائې دنظامي وسايلو توليدونکې کمپنۍ او د تيلو کمپنۍ له دې جګړو نه ګټه اخلي . چې په دې ډول بوش د تيلو د کمپنۍ استازى او بلير له دې جګړونه دلاسته راغلو ګټو شريک ګڼي . خو ددې تر څنګ چې د عامو خلکو بچي په دې جګړو کې له منځه ځي ، پخپله عام انساني ترحم هم خلک مجبوروي چې دجګړو پر ضد ودريږي او هر څوک چې جګړو ته لمن وهي هغه محکوم اوورټي .

د ځينو هيوادونو خلک په مطلق اکثريت سره د جګړې پر ضد ولاړ دي ،خو حکومتونه يې دخپلو خلکو د غوښتنوسره په مخالفت کې د جګړې تائيد کوي . چې په دې ډول د دغوهيوادونو دخلکو او حکومتونو تر منځ واټن منځته راځي او حکومتونه په خلکو کې خپل اعتبار له لاسه ور کوي . د مثال په ډول د هسپانيې صدر اعظم د عراق دجګړې سره د خپلو خلکود غوښتنو پرخلاف خپل يووالى څرګند کړ . خو د هسپانيې اتيا په سلو کې خلک د دې جګړې پر ضد دي . نوځکه سياسي مبصرين دا اوسنۍ جګړه په ځينوهيوادونو کې د شخصيتونوداعتبارد لوېدو اوپه ځينو هيوادونو کې داعتبارد ټيټيدو عامل ګڼي . په اروپاکې دعاموخلکو په منځ کې د فرانسې جمهور رئيس شيراک او دالمان صدراعظم شرودر تر ډيرو نورو حکومتي مشرانو ځنې د خلکوپه منځ کې د جګړې پر ضد د موضعګيرۍ په غوره کولو او دملګروملتونو په

چوکاټ کې د عراق د مسئلې په سوله ایز حل باندې په ټینګار سره محبوبیت زیات شوی دی . همدارنګه دچین اوروسیې د حکومتونوموضعګیري ، چې دعراق د مسئلې د سوله ایز حل نه یې طرفداري وکړه په نړیواله ټولنه کې اعتبار زیات شویدی.
د ساړه جنګ د دوران په ختمیدو ، چې به پکې دوو څبر ځواکونو یانې امریکا او پخواني شوروي اتحاد تل ناندرۍ وهلې اونړۍ یې په دوو کمپونو ویشلې وه اوتل د دې څبر ځواکونو تر منځ د لوې جګړې دپیښیدو ویره موجود وه ، خلکوفکر کاوه چې نور د شوروي په ړنګیدو به امریکا دیواځیني څبر ځواک په حیث له وړو هیوادونو سره ډغرې نه وهي اوپه نړۍ کې به د دموکراسۍ او بشري حقوقو ته د درناوي د اصولو پر بنسټ د چلند په خپلولو سره د نړیوالې سولې تر شا ودریږي او دملګروملتونو دسازمان ځواکمن ملاتړ کوونکی به وي . یانې خلکو ګڼله چې ګوندې د دوو څبر ځواکونو تر منځ په ډغرو کې که ځینې واړه اوکمزوري هیوادونه دل کیدل ، نواوس چې دغه ډغرې پای ته رسیدلي دي نور به کمزوري هیوادونه له دغه حالت نه خوندي پاتې وي . ځکه داسې فکر کیده چې هغه حکومتونه چې د خپلوخلکوله خوا په دموکراتیک ډول ټاکل شوي دي باید په نړیوالو سیاسي اړیکوکې هم دخپلوخلکود خوښې سره سم د دموکراسۍ له اصولو نه کار واخلي او د دې لپاره هغه مؤسسه چې دټولو نړیوالو شریکه مؤسسه ده او د هر چا د حقوقو په ساتلو او د دې مؤسسې د اصولو د پلي کولو دنده لري باید د ټولو هیوادونو او په خاص ډول د امریکې د متحده ایالاتو له خوا چې د نړۍ یواځنی څبر ځواک پاتې شویدی ملاتړ وشي .
ډیر سیاسي مبصرین حیران دي چې ولې د امریکې متحده ایالاتو د عراق په مسئله کې د ملګرو ملتونو په پروګرام سترګې پټې کړې او په دې کار سره یې نه یواځې دملګروملتونو حیثیت او رول ته تاوان ورساو ، بلکې

نژدې دنړۍ ټول خلک او حتی خپل زیات شمیر متحدین یې د خپل ځان په مقابل کې ودرول او ډیرو نورو هیوادونو ته یې خپل اعتبار کمزوری کړ . ځکه اوس ډیر هیوادونه داسې فکر کوي ، چې د امریکې متحده ایالات د یواځیني ځبر ځواک په حیث یواځې خپل اهداف او ګټې لټوي اود هغوئ د لاسته راوړلو لپاره حتی د هیڅ ډول نړیوالو اصولو پروا هم نه کوي. چې له دې امله کیدای شي ځینې هیوادونه دخپلو ځانونو دساتلو لپاره نوې ټلوالې جوړې کړي او په دې ډول په نړۍ کې د تشنج اوسوړ جنګ دراژوندي کیدو شرایط منځته راشي.

ډیر خلک دا وايي چې د امریکې متحده ایالاتو ولې د سوړ جنګ د وخت شعار بدل کړ او هغه دا چې کله پخواني شوروي اتحاد په مجارستان . چکوسلواکې اوافغانستان باندې د رژیمونو د بدلولو لپاره یرغلونه سرته ورسول ، نو د امریکې د متحده ایالاتوحکومت دغه یرغلونه غندل او حتې پر افغانستان باندې د شورویانو د تیري په مقابل کې یې د افغانانوسره دومره مرستې وکړې ، چې هیڅکله مخکې نه وې لیدل شوې. او دا په دې چې امریکائیانو شورویان ملامتول ، چې د یوخپلواک هیواد حکومت یې په زور راوپرځاو او پر ځای یې د خپلې خوښې حکومت قدرت ته ورساوه. دا حق یې نه ورکاوه چې په زور هغه رژیم بدل کړي چې خوښ یې نه و . خواوس دملګروملتونودسازمان ډیرو غړو هیوادونو په زور سره دعراق درژیم د راپرځولو او بې وسلې کولو سره خپل مخالفت وښوداو دملګروملتونو سازمان دڅارونکو له لارې سوله ایز بې وسلې کیدل غوښتل ،چې امریکې اوبرتانیې دجنګ لار غوره کړه اوسوله ایز بې وسلې کیدل یې رد کړل.

په زور سره د عراق د رژیم بې وسلې کیدو او یا راپرزیدو په خاطر کیدای شي دډیرو بې ګناه انسانانو وینې توی شي . ډیر امریکایي او برتانوي سرتیري له منځه ولاړ شي . د عراق ځاني ، مالي او کلتوري شتمنۍ د

درنو بمباریو او جګړو له امله د خاورو سره خاوري شي. دا ټول هغه څه دي چې د نړۍ ټول سوله غوښتونکي خلک یې د جګړې پر ضد راپارولي دي. جګړه هیڅکله نیکمرغي منځته نه راوړي. جګړه همیشه د بربادۍ او بدمرغۍ سبب کیږي او هر څوک چې د جګړو نه د نیکمرغۍ تمه لري یا نه پوهیږي اویا هغه خلک دي چې د نوروپه بد مرغیوکې خپله نیکمرغي لټوي او د داسې خلکو شمیر ډیر کم دی.
افغانانو د جګړونه راځیږیدلې غمیزې له هرچانه زیاتې ګاللې دي اوپه دې توګه یې ډیرې بدې ورځې په خپلو سترګو لیدلي دي. نو ځکه له هر چانه زیات د جګړې پر ضد اود سولې لیوال دي اوعقیده لري چې دنړۍ ټولې مسئلې دې له سوله ایزې لارې حل شي. افغانان پر دې سرېیره ، په عراق کې د امریکائیانو په بوختیدو ځکه اندیښمن دي چې د افغانستان ستونزې کیدای شي بیا هیرې شي.
لا اوس هم څه شی چې دافغانستان خلکو هیله درلوده چې ګڼې د امریکا او متحدینو دوینا سره سم به په افغانستان کې سوله اودموکراسي ټینګه شي اود هیوادبیا رغاونه به د امریکې په مشرتابه د نړیوالو مرستو په واسطه پیل شي ، په عمل کې پلي نه شول .یوائې دطالبانو پر ځای پخوانۍ وسله والې ډلې بیرته واکمنې شوې. سوله او ثبات لانه دی ټینګ شوی . د وسله والو ډلو زور زیاتی لا هم هغسې دوام لري. په میلیونونو افغانان لا اوس هم د مهاجرت په حالت کې اوسیږي . په هیواد کې د میلیونونو سړي وژونکو ماینونو موجودیت ، هره ورځ دافغانانو ژوند دخطر سره مخامخ کوي اود هیواد بیا جوړیدل نه دي پیل شوي . ملي اردو نه ده جوړه شوې اود دموکراتیکو قوانینو د منځته راوړلو په مخکې اوس هم خنډونه موجود دي او د دغو قوانینو سره سم انتخابي حکومت نه دی جوړ شوی .

خوکه دامریکې متحده ایالاتو جمهور رئیس جورج بوش او دبرتانیې صدراعظم توني بلیر د عراق په جګړه کې د ښکیل کیدو له امله افغان مسئلې ته بیا شا واړوي اودخپلو ژمنوپه پوره کولو ځان مجبور ونه ګڼي او یوځل بیا نړیواله ټولنه افغانان هیر کړي ، نوبیا به هیڅکله افغانان دچا پر ژمنو باور ونه کړي.

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۲کال دحمل پر ۱۸ نیټه دیووالي دجریدې په ۱۰ ګڼه کې خپره شویده.

# د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا نه ماتیدونکې ده*

تاریخ څو ځلې ثابته کړیده چې هر چا چې د افغانانو د هیواد د لاندې کیدو هڅه کړیده سر یې خوړلی دی . دوو سترو امپراتوریو پر همدې خپل سر وخوړ او ړنګیدل یې پیل شول چې د افغانانو پر ټاټوبي یې تیري ته زړه ښه کړ اوددې سرلوړي هیواد د لاندې کیدو هڅه یې وکړه .
د برتانوي امپراتورۍ ماتې د افغانستان په غرونو او ګړنګونو کې د لومړي ځل لپاره پیل شوه .چې بیا ورو ورو یې د استعمار کمپله خپلې اصلي خاورې ، د انګلستان جزیرې ته په ټولیدو شوه . د دغه استعماري ځواک اغیزې او پاتې شونې لا تر اوسه د افغانانو پر وجود د یو ناسور شوي ټپ په څیر پاتې دي ، خو پر افغانانو باندې مستقیم واک او نفوذ یې آن په ۱۹۱۹ کال کې پای ته رسیدلی دی .
شوروي اتحاد بله امپراتوري وه چې پر افغانستان باندې په تیري سره دړې وړې شوه . نه یواځې خپل ټول متحدین او په امپراتورۍ پورې نښلول شوي هیوادونه تړې ولاړل، بلکې د امپراتورۍ اصلي برخه ، روسیه ، هم د سترو ستونزو او ګډوډیو سره لاس او ګریوان شوه.
انګریزانو اوروسانو دواړو فکر کاوه ،چې ګوندې په افغانستان کې به د کمزورو ګوډاګیو حکمتونو په تپلو سره ، خپلې پښې تینګې کړي او افغانان به خپلو استعماري لومو کې تر ډیرې مودې پورې ښکیل وساتي. خودتیري کوونکو په مقابل کې تل عام ولس پاڅیدلی دی او تر هغه وخته پورې جنګیدلی دی چې تیري کونکي یې د شرمونکې ماتې سره مخامخ کړیدي. همدا سبب دی چې نړیوالو افغانستان د غومبسو د چک سره پرتله کړی دی ، چې هوښیاران باید لاس ور نه وړي .
البته پر افغانستان باندې د شورویانوله تیري نه وروسته زموږ هیواد د ملي زعامت د نشتوالي له کبله د بهرنیو هیوادونو ، په خاص ډول ،

دروسيې ، پاکستان ،ایران او یوشمیر نورو لیرې اونژدې هیوادونو د نه باوریدونکو لاسوهنو سره مخامخ شوی دی . چې دغه لاسوهنې اکثره وخت دې هیوادونو پورې تړل شوو وسله والو ډلو له لارې سرته رسیږي .
خو د افغانستان پر حریم باندې د پاکستان تیری د غومبسو چک ته لاس وروړل دي. پاکستان باید له تاریخ څخه زده کړې وي او دا فکر ونه کړي چې د یو کمزوري مر کزي دولت په موجودیت کې به وکړای شي دافغانستان ځینې قبائیلي سیمې ، چې هیڅکله یې مخکې تر واک لاندې نه وې اوس دتروریزم سره د جګړې په پلمه په نظامي توګه لاندې باسي اوپه دې ډول به له یوې پیړۍ نه مخکې د انګریزانو پواسطه جلاشوو برخو مسئله او ددواړو هیوادونو تر منځ د اختلاف موضوع له نظامي لارې نه حل کړي.
د دې لپاره چې د دواړو هیوادونو ، افغانستان اوپاکستان ، دخلکو او حکومتونو ترمنځ وروري او دوستي پاتې او لاپسې ټینګه شي باید دواړه خواوې د اختلاف وړ ټول مسایل د سیاسي – دیپلوماتیکو لارو اوخبرو اترو پواسطه حل شي او هیڅکله داسې عمل ونه شي چې ددواړو هیوادونو تر منځ د نورمالو اړیکو فضا خړه پړه کړي . له همدې کبله دافغانستان ملي یووالي سازمان په ټینګه غواړي چې دا لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:
۱-پاکستان دې ډیر ژر خپل ټول وسله وال ځواکونه هغو سیموته په شا کړي چې د افغانستان له سیاسي بحران څخه مخکې پکې پراته وو او هیڅکله دې بیا داسې تحریک آمیز عمل نه تکراروي . د القاعدې د شبکو په مقابل کې دې دملګرو ملتونو تر سر پرستۍ لاندې د محلي خلکو په مرسته تصفیه سرته ورسیږي او ددغو سیمو د عنعنوي ازادۍ د خوندي پاتې کیدو تر څنګ دې د لازمو اقتصادي ، فرهنګي او ټولنیزو اصلاحاتو منځته راتګ عملي شي.

۲-دملګرو ملتونو اداره باید د افغانستان په کورنیو چارو کې د نورو هیوادونو له خوا د هر ډول لاسوهنې او تیري په مقابل کې لازم عکس العمل وښایي او د نړیوالو قوانینو سره سم دې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا خپلواکۍ او ملي واکمنۍ له خوندیتوب څخه دفاع وکړي .
۳-د امریکې د متحده ایالاتو حکومت دې خپلې ټولې ژمنې ، چې د افغانانوسره یې په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګیدو ، د یورښتیني دموکراتیک حکومت د منځته راتلو او دهیواد د بیا رغاونې په هکله کړې دي سرته ورسوي .
۴-د ډیرې خواشینۍ خبره ده ، چې د امریکې دمتحده ایالاتو د وسله والو ځواکونو او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو په موجودیت کې د قوم ، ژبې او سیمې پر بنسټ جوړې شوې وسله والې ډلې د هیواد په مختلفو ځایونو کې خپل موجودیت ته دوام ورکوي او د هیواد سوله او ثبات یې د همیشني ګواښ سره مخامخ کړی دی . په مرکزي حکومت کې د زیات نفو ذ له کبله مرکزي حکومت بې واکه او د افغانستان د اکثرو خلکو په وړاندې بې باوره کړی او د نورو هیوادو نو لاسوهنو او تیریوته یې زمینه مساعده کړې ده .
۵-د امریکې متحده ایالتونه په افغانستان کې د خپل نظامي حضور په درلودو سره مکلفیت لري چې دافغانستان دځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې اودنورو هیوادونو د تیري اولاسوهنو په مخنیوي کې له افغانانو څخه دفاع وکړي . د افغانانو دملي ګټو پر سر د نورو هیوادونو سره معامله او یا په دې هکله بې تفاوتي به افغانان د امریکې د متحده ایالتونو په ژمنوبې باوره کړي . چې داکار به په یقیني ډول د دواړو هیوادونو د مخالفینو په ګټه تمام شي .
۶-د ټولو ملي دموکراتو وطنپالو سوله غوښتونکو افغانانو نه یووالی ددې سبب شویدی چې په هیواد کې د ملي زعامت ژوره تشه رامنځته شي

د دې تشې له کبله بهرنيو هيوادونو پورې تړلې وسله والې ډلې خپل موجوديت ته دوام ورکړي اوزموږ ګران هيواد په پرله پسې ډول د بهرنيوهيوادونو دلاسوهنو اوتيريوسره مخامخ کړي اود دموکراتيکواصلاحاتو دسرته رسيدو مخه ونيسي .
نو ځکه د افغانستان ملي يووالي سازمان له ټولو ملي دموکراتو شخصيتونو او ځواکونو څخه غوښتنه کوي چې دهيوادد لوړو ملي ګټو په خاطر پر يو مشترک ملي پلاتفورم راټول شي او خپل هيواد له اوسنيو ستونزو او ګډوډيونه وژغوري اود خپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيانه په ګډه ساتنه وکړي .

*- دا ليکنه د۱۳۸۲کال د ځمري پر لسمه نيټه د يووالي د جريدې په ۱۱ ګڼه کې خپره شويده .

# سیاسي عقده یا قومي لیونتوب*

دا یوه طبیعي خبره ده چې سیاسي بحران د ځان سره اقتصادي ، نظامي ، ټولنیز او معنوي بحرانونه راوړي او ټولنه د ډول ډول ستونزو ، ناخوالو او کړاونو سره مخامخ کوي . البته که سیاسي ، اقتصادي ، نظامي او ټولنیز بحران منځته راشي ، نو کیدای شي چې د بحران د علتونو د لمنځه تلو نه وروسته وضع بیرته عادي حالت ته راوګرځي . خو د معنوي بحران پایلې ژر له منځه نه ځي او که د بحران علت له منځه ولاړ هم شي ، خو د ټولنې په معنوي ژوند کې کیدای شي تر ډیرې مودې پاتې شي .

په افغانستان کې دوروستیو **۲۵** کلونو پیښو : تیریو ،لاسوهنو او جګړو نه د راځیږیدلي هر اړخیز بحران یو اړخ هم معنوي بحران د ی ، چې افغاني ټولنه ورسره لاس او ګریوان ده . دې بحران د افغانانو معنوي ارزښتونو ته سخت زیان اړولی دی . په دې بحران کې میړانه ، رښتینولي هیواد پالنه ، زړورتوب ، پت ، عزت، صداقت ، وفا ، ملګرتوب ، زړه سوی او داسې نور غوره افغاني او انساني صفات او ارزښتونه دي ، چې د تیري کوونکو او د هغوئ د لاسپوڅو له خوا بې ارزښته او بې مزې شویدي او هڅه شویده چې د میړانې پر ځای د توطیوله لارې خپلو ناولو موخو ته ورسیږي ، د رښتینولۍ او صداقت پر ځای له درواغو او دوکو نه کار واخلي او دخپل هیواد او خلکو ګټې له خپلو شخصي ګټونه قربان کړي .

ځینې دغسې کسان د خپلو هغو اعمالو په خاطر چې یې دخپل هیواد او هیوادوالو په مقابل کې سرته رسولي دي تل په ویرې او ډار کې ژوند کوي او ځانونه ورته حقیر او ټیټ ښکاري . د عقدونه ډک دي ، د پت او عزت هیڅ ډول ښې پکې نه لیدل کیږي ، بې رحمه ، متعصب ، تنګ نظره او محل پرست دي . بل هر څوک چې د دوئ په خیر نه وي او د دوئ په خیر

فکر نه کوي هغه ته د دښمن په سترګه ګوري او دملي وطنپالو شخصیتونو او ډلو نه کرکه او نفرت لري.
د قومي تعصب ، تنګ نظرۍ ، اومحل پرستۍ له مخې د خپل قوم اوسیمې عادي خلکونه عیاران او قهرمانان جوړوي ، خو د نورو قومونو اوسیمو ملي شخصیتونو او وطنپالونکو مشرانو ته ، چې ځانونه یې د خلکوله ګټو نه قربان کړي دي ، د مستبد ، ظالم او قبیله سالار خطاب کوي او په دې ډول هڅه کوي چې د افغانانو ترمنځ د قوم ،ژبې ، مذهب او سیمې پر بنسټ د نفاق اور ته لمن ووهي او د خپلو بادارانو غوښتنې سرته ورسوي. دا ډول کسان فکر کوي چې د پوهې او فضیلت خاوندان دي ، خو د پوهې اوفضیلت هیڅ ډول نښې نه لري. که کوم اعزازي القاب ورته د خپلو ولینعمتانو له خوا ورکړل شوي وي ، له هغوئ نه په خواشینۍ سره ډیره ناوړه ګټه اخلي ، حق او ناحق ځان ریکلاموي ، خودخپلو اعمالو له کبله ژر رسوا کیږي او خپل ځانونه ثابتوي ، چې د څومره ټیټې سویې خاوندان دي.
پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد خاینانه اوظالمانه تیری ، پخپله د شوروي اتحاد اود روسیې د ډیرو حکومتي او غیر حکومتي لوړ رتبه شخصیتونو اوژورنالستانو په لیکنو او بیانیوکې محکوم شوی او د شلمې پیړۍ غمیزه بلل شویده . خو د دغه تیري افغاني عاملین د ټولوافغانانو اونړیوالو په سترګو کې خاورې اچوي. نه یوازې دا چې دغه تیري ته تیری نه وایي ، بلکې هغه د (( قیام شش جدي )) ، (( انقلاب مسلح )) او(( روز نجات مردم )) په نومونو یادوي ، چې دشورویانو پواسطه زموږ هیوادته صادر شویدي. دوئ دتیري په مقابل کې د افغانانو په پاڅون او مقاومت باندې ، چې دنړیوالې ټولنې په مرسته یې په خپلو بې ساري قربانیو سره تیري کوونکو ته له شرمه ډکه ماتې ورکړه ، خواشیني دي او افسوس څرګندوي.

يو له دغو کسانو څخه دستګير پنجشيری دی ، چې پر افغانستان باندې د شورويانو د تيري د سرته رسيدو په خاطر دشوروي اتحاد دهغه وخت ګوندي اودولتي مشرتابه په هڅولو کې د ببرک کارمل سره يوشان ځای لري. دستګير پنجشيری په خپلې يوې ليکنې کې ، چې دانترنت په پرده هم خپره شويده ، د « فشرده پيام کاديميسين دستګير پنجشيري به جلسه تاريخی هشتم جون سال ۲۰۰۳ ميلادی شهر مالمو سويدن » يوه سلسله مطلبونه په دې دعوی بيان کړيدي چې : « از سازمان دهندګان جلسه تاريخي هشتم جون ۲۰۰۳ شهر مالمو سويدن صميمانه سپاسګذارم که اين امکان را برايم فراهم ساخته بودند تا بعد از ۴۰ سال .... رازهای پيروزي و شکستهای تلخ و پيهم خود و همرزمان خود را با همه شفافيت و ايجاز بيان کنم » .

دستګير پنجشيري د مالمو د غونډې د جوړونکو په غوښتنه د غونډې ګډون کوونکو ته يو پيام ليکلی دی ، چې سر تر پايه له درواغو ، محل پرستۍ ، پنجشيرسالارۍ او د نورو قومونو ، په خاص ډول پښتون قوم په مقابل کې ، دکرکې ، تعصب ، سپکاوي او دښمنۍ نه ډک دی ، چې بايد ټول تر کره کتنې لاندې ونيول شي. څو څرنګه چې د« يووالي» جريدې حوصله دومره زياته نه ده ، نو له دې کبله د نوموړې ليکنې يوائې ځينې برخې ترکتنې لاندې نيسو ، تر څو لوستونکو ته روښانه شي چې پنجشيری اوهمرزمان يې له دې توطيه اميزې ليکنې نه څه شې غواړي تر لاسه کړي ؟ او دچا په دستور او ديکتې يې د ملي دموکراتو او وطنپالو شخصيتونو او ځواکونواو دافغانستان خلکو ، په خاص ډول پښتنو ، سره د جنګ او دښمنې اعلان کړيدی.

اوس به راشو د دستګير پنجشيري د ليکنې ځينوبر خو ته ، چې له پټ تعصب او کينې او نفرت نه ښکاره دښمنۍ او حملې ته راوتلی دی . اووبه

ګورو چې دده په لیکنو او کړو کې څومره رښتیا ، سپیڅلتیا ، صداقت او افغانیت موجود دی.
دی پر افغانستان باندې د شوروي د تیري په هکله د خپلې لیکنې په یوې برخې کې داسې لیکي : « مګر دولت مستعجل یکصد روزه امین به مقیاس ملي وبین المللی خوش نه درخشید . در چنین شرایطې طرفداران حضور نظامي شوروي و انقلاب مسلح، از اتحادشوروی خلاف اصول همزیستی مسالمت امیز بین دولتها و مغایر اصول و موازین دموکراتیک به کشور ما صادر ګردید ، منشور ملل متحد قهراً نقض و دولت امین سرکوب خونین ، ساقط ووضع کشور باز هم پیچیده و پیچیده تر شد . افغانستان به ګره ګاه تضاد های حاد سیاسي –نظامي و عقیدتی منطقه و به صحنه پیکار های دو ابر قدرت متخاصم سوسیالیستی سرمایه داری جهانی مبدل ګردید . با هزاران درد ودریغ که ( پیش مرګ ) و( هیزم کش ) این کشمکش های خونین مریدان ،پیروان و مقتدیان خوش باور رهبران تنظیم های ساخت پاکستان ، دهقانان فقیر وزحمتکشان روستا های کشورما شدند » .
پنجشیری په خپلې لیکنې کې لومړی تر هر څه پر افغانستان باندې د شورویانو خاینانه تیري ته دوسله وال انقلاب صادرول وایي . پر خپلواک افغانستان باندې وسله وال تیری او زموږ دهیواد اشغال ده ته یواځې د شورویانو نظامي حضور او حتی د انقلاب صادرول ښکاري . سره د دې چې دی له دې څخه نه دی منکر شوی چې شورویانو په خپل دغه تیري سره د دولتونو ترمنځ دسوله ایز ګډ ژوند له اصولو نه سرغړونه کړیده او د ملګرو ملتونو منشوریې قهراً تر پښو لاندې کړی دی ، ترڅو د آمین دولت وځپي او له پښو وغورځوي. ده لکه دخپلو نورو همرزمانو ، کشتمند او نور.... ، په څیر دعوه نه ده کړې چې شورویانوته د حفیظ الله آمین له خوا بلنه ورکړل شوې وه . پنجشیري دا هم لیکلي دي چې ددې

تیري په نتیجه کې دهیواد وضع لاپسې پیچلې شوه اوافغانستان په سیمه کې د سیاسي – نظامي او عقیدتي تضادونو او د دوو ځبر ځواکونو د ټکر په میدان بدل شو . خو ددې ټولو ملامتیا يې په هغه چا اچولې ده چې د شورویانو دتیري په مقابل کې راپاڅیدل اوپه خپلو بې ساري قربانیوسره يې تیري کوونکو ته شرموونکې ماتې ورکړه . له دې څخه سربیره يې د تیري او له دې تیري نه د افغانستان د خلکو د غمیزې د منځته راتلو عاملین ، چې دی هم یوله دغو عاملینوڅخه دی ، پټ کړي دي .

خلکو ته دا یوبیخي څرګند ثبوت دی چې دستګیر پنجشیري په څه ډول د ملا د درد په پلمه شوروي ته ولاړ او هلته يې د څه مودې په ترڅ کې د کارمل او دتیري د نورو عاملینو سره یوځای شورویان دې ته وهڅول او قانع کړل چې زموږ پر خپلواک هیواد یرغل وکړي. د حفیظ الله آمین ملي او قانوني حکومت ،چې دملګروملتونو د سازمان ، داسلامي هیوادونو د کنفرانس او د ناپییلو هیوادونو د غورځنګ فعال غړی و او د نړۍ د ډیر شمیر هیوادونو سره يې سیاسي – دیپلوماتیک او دوستانه اړیکي درلودل اوپه خلکوکې يې ورځ په ورځ ګرانښت او اعتبار زیاتیده ، له منځه یوسي او پر ځای يې دکارمل – پنجشیري ګوډاګی حکومت منځته راوړي او افغانستان د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوریت بدل کړي.

نه انکار کیدونکې بیلګې وجود لري چې دستګیر پنجشیري پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد دتیري په توطیه کې غوڅه برخه درلوده . نه یواځې داچې په هفتوهفتویې د تیري دکورنیو عاملینو اوشوروي مسؤلو کسانوسره دتیري دسرته رسولو لپاره کار کاوه اوایله یوه ورځ مخکې له تیري څخه له شوروي څنې راغی . څرنګه چې توطیه کې يې ګډون درلود ، نو ځکه هغه سوپ او ډوډۍ چې دسیاسي بیورو د غونډې ګډون کوونکولپاره جوړه شوې وه او مسموموونکي مواد پکې

اچول شوي وو ، ونه خوړه. ډیرو کسانو ترې په خپلو غوږونو اوریدلي دي چې همدی ( پنجشیری ) و ،چې شورویانو ته یې قناعت ورکړ تر څو پر افغانستان باندې خپل تیری ګړندی کړي .
پنجشیري د خپلو پخوانیو تعهداتو له مخې د ۱۳۵۸ کال د جدي د شپږمې نیټې نه وروسته لوړ ګوندي او دولتي پوستونه تر لاسه کړل اود شورویانو د اشغال د بقا لپاره یې له شرمه ډکه تبلیغاتي مبارزه پیل کړه. ده حتی د اشغالګرو سرتیرو په مدح او ثناکې شعرونه ولیکل او حفیظ الله آمین اونورو ټولو هغو خلقیانو پسې یې ، چې دشورویانو دتیري ښکار او لومړني قربانیان وو ، سخت تبلیغاتي کمپاین پیل کړ. د ده په لاسلیک او تائید په زرګونوسپیڅلي خلقیان ، چې د شوروي د تیري او ګوډاګي حکومت سره یې مخالفت درلود ، د خپلو دندو نه ګوښه اوډیر زیات یې د« آمینیانو » په نوم زندانونو ته واچول شول اویا ترور او له منځه یوړل شول.
له شرمه ډکه خبره خوداده ، کله چې پنجشیري د شورویانوپه مدحه کې ګټه لیدله ، نو حفیظ الله آمین او دهغه ملګري ، دوستان اوخواخوږي یې په امریکا پورې تړل. خوکله چې اوس د امریکا سره په تړاو کې خپله ګټه ویني ، نو دحفیظ الله امین ملګري اودوستان په توطیه آمیز ډول په پاکستان او طالبانو پورې تړي. خوخلک اوس پوهیږي چې پنجشیری له دې اپورتونیستي چلند نه څه شی غواړي تر لاسه کړي.
پنجشیري په بل ځای کې لیکي : (( اما درنتیجه فروپاشي دولت اتحادشوروی و پیدایی یک تندپیچ قهقرایي و ګذرای تاریخي بسود سرمایه سالاری جهانی ، داکتر نجیب ا لله نیز قربانی پالیسی سیطره جویی سیاسی و ملی خود شد . حزب وطن به آهنګ شتابنده منقطب ګردید . به هنګام انتقال ناموزون قدرت به فرمانده مسعود و سپس تنظیمها وزیران دفاع وداخله و دیګر تکیه ګاه های سیاسي ، محلي

ومنطقه يي ،داكتر نجيب ا لله با همه سابقه انقلابي نظامی علمی و تعصب طبقاتی خود داوطلبانه به حزب اسلامی حکمتیار تسلیم شدند . به این تر تیب زمینه های پراګندګی و زوال حاکمیت حزب وطن و جنګ های غیر عادلانه میان هفت تنظیم در هفت اقلیم کشور فراهم ګردید )) .
په دې ځای کې بیا دستګیر پنجشیري له واقعیتونو څخه سترګې پټوي اوهغې توطیې او کودتا ته بله بڼه ورکوي ، چې د کې . جې . بې . په لاربښوونه او د پنجشیري په منځګړیتوب د کارمل د ډلې اوشمالي ټلوالې ، په خاص ډول د احمدشاه مسعوددنظار شورا له خوا ، دملګروملتونو د سولې د پلان په مقابل کې سرته ورسیده .
ټول افغانان ددې شاهدان دي ، چې دملګروملتونو د پنځه فقره ایز پلان له مخې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سر منشي خاص استازي بینن سیوان په منځګړیتوب د ستونزې دټولو خواوو په موافقه یوه مؤقته شورا جوړه شوې وه ، تر څودولتي قدرت دغه شورا ته انتقال شي او بیا یو مؤقت حکومت د دولت واګې په لاس کې واخلي. چې په دې ډول کیدای شول سوله ټینګه شي ، افغانستان د بیا رغاونې په لور روان شي او افغانان د اوږدو جګړو له غمیزې نه ، چې شورویانو پرې تحمیل کړې وې ووځي . خود ۱۹۹۲کال د اپریل د ۱۵ نیټې کودتا په جګړو ځپلي افغانستان کې د سولې پر ځای د سیاسي قدرت لپاره د مختلفو تنظیمونو تر منځ د جګړو اور بل کړ اوپه نتیجه کې افغانستان دا ځل دکورنیو جګړو په اور کې سرتر پایه وسوزید . خو دستګیر پنجشیري دپیښې داصلي عاملینوپر ځای بدل ادرس ورکوي او غواړي په دې ډول پر واقعیتونو یو ځل بیا خاورې راواړوي.
همدارنګه دستګیر پنجشیري په بل ځای کې لیکي : « باشرمساري بایدګفت: ماشین جنګي طالبان را این بار سیطره جویان ملی ، سیاسی ، طرفداران قبیله سالاري ، تنظیم های تندرو و کندرو از جمله یاران

مخلص ووفادار  حفیظ الله آمین به غرش در اوردند . این جنبش بې سروپای طالبی و نابینایان سختگیر ان  نخست به مقاومت عادلانه ، شجاعانه ، قهرمانانه و بی نظیر فرمانده مسعود وسپس به مقاومت گسترده و ریشه دار (جبهه متحد ملی افغانستان ) و تمامی زنان ومردان آزادی خواه میهن ما مواجه گردید ».
دستگیر پنجشیري په داسې درواغجنو او له شرمه ډکو ټاپولګونو چې هیڅ ډول توجیه نه لري خپل اعتبار ته د روښانفکرانو او ملي دموکراتو شخصیتونو او خلکو په منځ کې سخت زیان رسولی دی او دی یې د یو درواغجن او مفتن شخص په حیث معرفي کړی دی . دده په دې درواغو کې هیڅ ډول منطق نه لیدل کیږي او یوائې تر دا نتیجه اخستلای شو ، چې د ده کینه دحفیظ الله امین د پلوي خلقیانو په مقابل کې ، چې د شورویانو ددیکتې اواشغال  سره یې مخالفت درلود ، حتی د ببرک کارمل نه هم ډیره ده . البته پنجشیری په لومړی سر کې  د کارمل د ډلې غړی و . چې وروسته د شورویانو او کارمل په غوښتنه د خلقیانو د کمزورتیا اوبې اتفاقۍ لپاره دستوري دخلقیانوګوندکې د راتلونکو توطیو د پلي کیدو په خاطر ګومارل شوی و.
دستګیر پنجشیری فکر  کوي  چې په دې  توطیه آمیزه تومتونو به  دی وکړای شي  په هیواد کې ټول پاک او سالم قوتونه  او شخصیتونه ، چې دی ورسره د قومي  تعصب له مخې  خصومت او دښمني لري ، دنړیوالې ټولنې سره په ضدیت کې ودروي . خو نړیوالو ته پوره جوته ده  چې څوک دسولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي  په ټینګیدوکې  د زړه له کومي صادقانه هلې ځلې کوي او څوک د وسله والو ډلو او جنګسالارانو نه  په دفاع اوقومي شخړو ته  په لمن وهلوسره  د نړیوالې ټولنې  دسولې د پروګرام په مخکې خنډونه منځ ته راوړي.

په همدې اړوند دستګیر پنجشیري په ډېرې بیشرمۍ خپلې ناولې موخې ته در سیدو لپاره په توطیه امیز ډول داسې لیکي : « ارتباط اشکار وپنهان سازمانهای ( غورزنګ صلح ) شهنواز تنی با حکمتیار رهبر حزب اسلامي و پیوند ( وحدت ملي ) پوهنوال عبدالرشید جلیلي با جنبش طالبان به اعتبار ملي ، اجتماعي ، سیاسي ، سازماني انان ضربات تجرید کننده وارد کرده است » . او ورپسې زیاتوي چې : « نسل نوین مبارزان و فعالان نباید این تجارب تلخ تاریخ و فرصت طلبانه و دنباله روانه را در شرایط کنونی تکرار کنند وباز به فکر وذکر و احیای نظامات قبیله سالاری و ارایش نظام سلطنتي شوند و خود را از توده های مردم و متحدین اجتماعي وسیاسی ملی ودموکراتیک وستراتیژیک و اهداف غایی مردم سالارانه خود جدا وتجرید نمایند » .
له دې پورتنیو څرګندونو څخه په ښکاره جوتیږي چې دستګیر پنجشیري په افغانستان کې د سولې او ثبات د دښمنانو په دیکتې د ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو په مقابل کې راپاڅیدلی دی . خوپه بیچاره باندې « له یوپلوه پړانګ اوله بل پلونه پانډ » ټوکه شویده ، ځان ترې ورک شویدی ، نه پوهیږي چې څه وکړي . له یوپلونه ورته خپلو بادارانو امر کړی دی ، چې د افغانستان ملي یووالي سازمان ، د سولې غورځنګ اونورو ملي ډلو په مقابل کې تبلیغاتي جګړه پیل کړي ، اوله بل پلوه نه پوهیږي چې څه تور پرې ولګوي . په پای کې دې نتیجې ته رسیږي چې سترګې پټې کړي او دیوړانده په خیر لمن له تیرو ډکه کړي او هرلوري ته په ګوزارونو پیل وکړي . دستګیر پنجشیری په دې ډول تورونو لګولو سره ځان دیو اکادمیسین په خیر نه ، بلکې د یوې ټیټې سویې ړانده سړي په خیر ثابت کړی دی . یواکادیمیسین ، چې دفضیلت اوپوهې ډیره لوړه درجه ده هیڅکله دروغ نه وایي او هیڅکله داسې خبرې نه کوي چې هغه واقعیت نه وي . په دروغو پر هیچا تومت نه لګوي او نه د محل پرستۍ او

قوم پرستۍ پر بنسټ دچاسره دښمني کوي . دلته دافغانستان ملي یووالي سازمان اوطالبانو په منځ کې کومه یوه مشترکه وجه ده چې دستګیر پنجشیری دهغې پر بنسټ یوملي دموکراتیک د روښانفکرانو سیاسي سازمان د طالبانو له جنبش سره چې په اسلامي بنسټپالنې مشهورو وتړي ؟
دستګیر پنجشیري ، چې قومي تعصب یې سترګې ړندې کړې دي د افغانستان ملي یووالي سازمان پر ټولو هلو ځلو ، چې په هیوادکې دسولې ، دموکراسۍ او ټولو افغانانو ملي یووالي د ټینګیدو اوبشرحقوقو ته د درناوي په خاطر سرته رسولي دي او په دې لارکې یې دتنظیمي او طالبي بنسټپالوله خوا له هر ډول ویروني او ګواښلو نه نیولې تر بندي کیدو اووژل کیدو پورې زیاتې قربانۍ ورکړې دي ،سترګې پټوي . د تنظیمي او طالبي بنسټپالو له خوا د پوهنوال محمدمنصور هاشمي ، ډاکتر عبد الغني وثیق ، محمد خان پیګیر او د ننګرهار د پوهنتون استادان حبیبي او بشرمل او ډګروال محمد دوست خان ، شیر محمد شعار او داسې نورو شهادت او همدارنګه د سولې دغورځنګ غړو جنرا ل نظرمحمد او ځوی یې محمد موسی او جنرال شیرین اغا شهادت او نظام الدین شریک معیوبیدل اوپه کابل کې د یوزیات شمیر غړو له بندي کیدو څخه چې په هغه جمله کې حکم خان الماس ، میر احمد ګربز او رسول تنویري او داسې نور دي ، سترګې نه شي پټیدای. دی کولای شي د دې خبرې د ثبوب لپاره د نړیوال سره صلیب په دفتر کې د افغانستان ملي یووالي سازمان د هغه وخت دکابل مسؤل ښاغلي توکل شاه همکاردثبت دانمبر : ۳۷۳۴۷چې په ۱۴ د دسمبر ۱۹۹۸کال کې په کابل کې د استخباراتو په دریم ریاست کې د سره صلیب د استازي سره دلیدو په ترڅ کې د یو بندي په حیث ثبت شوی دی وګوري او بیا په خپل ګریوان کې سر ښکته کړي چې رښتیا وایې او که درواغ.

پنجشیري د هر ډول قضاوت لپاره بل هر معیار هیر کړی دی او یواځې د قوم ، ژبې او سیمې پر بنسټ قضاوت کوي . په داسې حال کې چې نه طالبان په دې بنسټ راولاړ شوي او حکومت یې جوړ کړی و او نه د افغانستان ملي یووالي سازمان د دستګیر پنجشیري په څیر په تنګنظرانه ، سکتاریستي ،قومي ، ژبني او سیمه ایز بنسټ کار او فعالیت کوي .

د افغانستان ملي یووالي سازمان د خپل منځته راتګ له لومړۍ ورځې څخه په خپلې کړنلار او بې شمیره نورو لیکنو او اعلامیو کې د ټولو افغانانو د اتفاق او اتحاد اواز پورته کړی دی او عملا په دغې لار روان دی. د افغانستان ملي یووالي سازمان ته ټول ورونه قومونه ، پښتون دی او که تاجک او یا هزاره وي او که اوزبک ، بلوڅ وي او که پشه یي وي او که نورستانی او یا نور قومونه ، ټول افغانان دي او د خپلې کړنلارې او تګلارې سره سم دټولو د یووالي د ټینګیدو لپاره صادقانه هلې ځلې کوي . د افغانستان ملي یووالي سازمان په افغانستان کې د ټولو میشتو قومونو نه جوړ شوی او په هیڅ یوې خاصې سیمې ، قوم او یا ژبې پورې تړلی نه دی.

د افغانستان ملي یووالي سازمان د افغانستان د ورونو قومونو تر منځ د بې اتفاقۍ اور ته لمن وهل د افغانانو په مقابل کې د پردیو د جاسوسي شبکو توطیه بولي ، عاملین یې غندي او ورسره په ټینګه مخالفت کوي. د فدرالیزم د لیونیانو ، چې کیدای شي دستګیر پنجشیري یې تر ټولو سر ټنبه سړی وي ، هلې ځلې د افغانانو دملي یووالي دټینګیدو په مقابل کې لوی ګواښ ګڼي او مخالفت یې کوي. دټولو افغانانو ګټه په داسې یو واحد افغانستان کې ویني ، چې دولتي نظام یې د دمو کر اسۍ او بشر حقوقو ته د درناوي پر بنسټ ولاړ وي او د هیواد د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړ تیا د ساتنې وړتیا ولري.

نو سړی نه پوهیږي ، چې دستګیر پنجشیري پر کوم بنسټ او منطق د افغانستان ملي یووالي سازمان لکه څرنګه چې دی هغسې نه تعریفوي. البته د افغانستان ملي یووالي سازمان په مقابل کې د پنجشیري دداسې خصمانه چلندمنطق او دلیل کیدای شي د دې سازمان د ملي ، ټولنیز اوسیاسي اعتبار لوړتیا او سازماني پراختیا او پیاوړتیا وي ، چې پنجشیري او دده همرزمان یې سخت وارخطا کړي دي .

بله دا ، چې د پښتنو په مقابل کې د یو رسوا متعصب عنصر په حیث ، دستګیر پنجشیري ټولو هغوحکومتونو ته چې پښتانه یې مشران وو « نظامات قبیله سالاري » وایي او په اصطلاح د مبارزانو او فعالانو نوي نسل نه غوښتنه کوي ، چې د داسې حکومتونو چې پښتون یې مشر وي، د منخته راتلوپه فکر کې نه شي او ځانونه د « خلکو له پر ګنو او سیاسي اوټولنیزو ، ملي او دموکراتیکو او ستراتیژیکو متحدینو» ( سکتارستانو ) او د« خلکودواکمنۍ له غایي اهدافو » ( اول فدرالیزم او بیا تجزیې ) څخه ځان تجرید نه کړي .پنجشیري په دې ارتباط نور هم مخکې ځي او د هغو « چپو » ځواکونو په حال افسوس څرګندوي چې دقبیله سالارۍ د نظامونو د منځته راوړو په لټه کې وي ، چې هغه لا وختي دده په فکر تر خاورو لاندې شویدي او دبیا راژوندي کیدو وړتیا نه لري . دی لیکي :« مګر وای به حال ان نیروهای (چپې ) که امروز بصفت .. ارایشګر نظامات مرحوم و مغفور ( قبیله سالاری ) و سلطنتي توضیف میشوند ».

دستګیر پنجشیري یو ځلې بیا د دې لپاره چې خپل ځان او همرزمانو ته نجات ورکړی وي او په هغو توطیو ، چې ده او همرزمانو یې دخلکو دحاکمیت په وړاندې سرته رسولي دي، پرده وا چوي او پر افغانستان باندې دشورویانو دخاینانه یرغل نه دخلکو پام بل طرف ته واړوي ، داسې لیکي : « یکې از علل اساسي شکست مرحله اول حاکمیت خلق در

افغانستان ، اشتباه سیاسي و چپروي رهبری ، بویژه روحیه نظامیگرانه حفیظ الله امین بر سر نوشت حزب ودولت ، کم بها دادن به تشکیل ( جبهه متحدملی و دموکر اتیک ) و طرح (دیکتاتوری نظامی ) بجای ( دیکتاتوری پرولتاریا ) آنهم در کشور نیمه فیوډالي افغانستان بوده است» .

دستګیر پنجشیري په دې لیکنې کې غواړي د شوروي د اشغال اودکارمل – پنجشیري ګوډاګي رژیم وخت ته د خلکو د حاکمیت دوهمه مرحله وو ایي .ځکه کله چې د یو شي لومړۍ مرحله موجود وي ، نو دوهمه مرحله هم باید ولري. دی ( پیجشیری ) په دې کې له دې واقعیت نه منکر دی چې د کارمل پنحشیري ډلې چې هر څومره سبوتاژ ، توطیې اوکودتاګانې وکړې اوزور یې ونه رسید ، ترڅو ملي حاکمیت له پښو وغورځوي ، نو بیایې خپلوشوروي بادارانوته پناه یوړه ، چې پر افغانستان تیری وکړي اویوملي اوقانوني حاکمیت له منځه یوسي. دغه حاکمیت د۱۳۵۸ کال دجدي په ۶ نیټه د کارمل۔ پنجشیري په شاه شجاع توب اودشورویانو د ناولي او وحشیانه تیري په نتیجه کې له منځه یوړل شو او بله کومه مرحله نه لري . د جدي ۶ نیټې نه وروسته د اشغال اوګوډاګیتوب مرحله ده ، نه دخلکو د حاکمیت مرحله . دا هغه مرحله ده چې شاه شجاع ببرک کارمل او شاه شجاع دستګیر پنجشیري یې د راوستلو په خاطر شورویانوته قناعت ورکړی و چې پر افغانستان تیری وکړي او د حفیظ الله امین د خپلواک او ملي حکومت پر ځای د سره استعمار تر ولکې لاندې د کارمل۔ پنجشیري ګوډاګی حکومت منځته راوړي او افغانستان د شوروي په شپاړسم جمهوریت واړوي . دا پنجشیری او کارمل وو چې د خپلو شخصي ګټو او قدرت لپاره د افغانستان د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا اود افغانانو پر ملي ګټو یې پښې کیښودې اوتر ابده یې د شاه شجاع ګانو نومونه وګټل .

*-دالیکنه د ۱۳۸۲ کال د ځمري پر ۱۰ نیټه د یووالي د جریدې په ۱۱ گڼه
کې خپره شویده .

# د سیاسي ګوندونو قانون*

په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د قانون منځته راتګ په واقعیت کې د افغانستان دخلکو په تاریخ کې د دموکراسۍ پر لور داسې ستر ګام دی چې د قانون دحاکمیت زیری ورکوي . کله چې په یوې ټولنې کې قانون حاکم وي اوپه دغې ټولنې کې ټول میشت وګړي د قانون پر وړاندې برابر حقوق او وجایب ولري ، نو طبیعي ده چې د ټولنیز عدالت په رڼا کې د وګړو تر منځ ورورولي او یووالی ټینګیږي ، سالمې او رغنده سیالۍ چې هیواد اوخلکو ته خدمت یې اصلي مضمون وي منځ ته راځي او دسیاسي ثبات کچه لوړیږي. دا ټول هغه څه دي چې ټول ملي وطنپال شخصیتونه اوځواکونه یې غواړي اود تحقق لپاره یې له هیڅ ډول هلو ځلو نه ډډه نه کوي.

د واقعي دموکراسۍ داصولو په منلو او تطبیق سره زموږ په جګړو ځپلي هیوادکې سوله لاپسې ټینګیږي ، ټولنیز عدالت اودقومونو تر منځ ملي یووالی ددې اصل پر بنسټ ، چې ټول افغانان به د قانون په وړاندې یو شان وي ، پیاوړتیا مومي. د دښمنیو او ناسمو کارونو سرته رسیدل له منځه ځي او دا ځکه چې د زور واکۍ پر ځای به قانون واکي حکومت کوي. هر هغه خنډونه چې د ګوندونو د قانون د تطبیق په مقابل کې تر سترګو راځي بایدله مخې ایسته کړای شي. دا د ټولو افغانانو په ښیګڼه ده چې د هر ډول دموکراتیکو هڅو او پرمختګ نه ګټه واخستل شي او د تطبیق په لار کې یې هیڅ ډول ستونزه منځ ته را نه شي.

دا چې د سیاسي ګوندونوپه قانون کې لیکل شویدي چې: « د افغانستان اتباع چې د رای ورکولو عمر لري ، بې له دې چې قومیت ، نژاد ، ژبه ، جنسیت ، دین ، تحصیل ،شغل ،نسب ، دارایی او په هیواد کې د استوګنې ځای په نظر کې ونیول شي کولای شي په ازاد ډول سیاسي

ګوند جوړ کړي » ، د ټولو افغانانو لپاره د هیواد په سیاسي چارو کې د ګډون کولو زمینه برابروي. دا به له هر ډول تبعیض او تعصب نه پرته ټولو افغانانو ته حق ورکړي ، چې دیو افغان په حیث د هیواد په سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو چارو او بیا جوړونه کې برخه واخلي.

او کله چې د قانون له حکمونو سره سم افغانان کولای شي د هیواد په سیاسي چارو کې برخه واخلي ، نو بیا به څوک مجبور نه وي چې د غیر قانوني لارونه سیاسي فعالیت ته دوام ورکړي. تیرو تجروبو ښودلې ده چې د قانون د نشتوالي او یا تبعیضي قوانینو د موجودیت له کبله افغانان غیر قانوني سیاسي فعالیتونو ته راښکل شوي وو ، چې ناوړه پایلې یې درلودلې. نو ځکه نور باید هیڅکله غیر قانوني سیاسي فعالیتونو ته زمینه برابره نه شي اوددې کار لپاره غوره لار یې داده چې د سیاسي ګوندونو قانون په بشپړ ډول پلی او ملاتړ ترې وشي.

او که چیرته څوک د قانوني اسانتیاوو په موجودیت کې د خپلو اهدافو دلاسته راوړو لپاره د غیر قانوني لارو نه کار اخلي ، دا په واقعیت کې په افغانستان کې د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي دټینګیدو او په هیواد کې د قانون د حاکمیت په مقابل کې مخالفت او مقاومت دی ، چې د دموکراسۍ او بشري حقوقو د اصولو پلوي افغانانو ته هیڅ دمنلو وړ نه دی. په دې برخه کې حکومت دنده لري چې د قانون څخه دفاع وکړي او دټولو وطنپالو ملي دموکرا تو شخصیتونو اوځواکونو دې غوښتنو ته ، چې د زو ر پر ځای قانون حاکم شي او ټول افغانان دقانون په وړاندې یوشان حقوق او وجایب ولري ، ځواب ووایي .

همدارنګه د سیاسي ګوندونو په قانون کې دا مطلب چې سیاسي ګوندونه نه شي کولای دا لاندې فعالیتونه سرته ورسوي په ټوله مانا دهیواد والو د غوښتنو او هیلو سره سمون لري :

۱-د داسې موخو تعقیبول چې د اسلام د مقدس دین له اساساتو سره تناقض ولري .
**۲**-له زور او خشونت نه ګټه اخستل ، د زور ګوابښنه او یا له زور نه د ګټې اخستو تبلیغ کول.
**۳**-قومي یا نژادي یا ژبني یا مذهبي تعصب هڅول .
**۴**-په قصدي توګه عامه نظم او امنیت ګډوډ کول او وګړو دحقوقو او ازادیو په مقابل کې ځرګند خطر منځته راوړل .
**۵**-نظامي تشکیلات یا وسله والو ځواکونو سره اړیکي لرل .
**۶**-له بهرنیو منابعو څخه تمویلیدل .
دا ټول هغه څه دي چې د اسلام د مقدس دین سره په تناقض کې هلو ځلو ،د زور څخه د خپلو موخو لاسته راوړو لپاره کار اخستلو ، هر ډول تعصب ته لمن وهلو ، د عامه امنیت ، حقوقو اوازادی په خطرکې اچولو ، د نظامي لارې نه قدرت ته د ځان رسولو او زموږ په کورنیو چاروکې له بهر نه د لاس وهلو مخه نیسي.
د افغانستان ملي یووالي سازمان دخپل منځته راتګ له اولې ورځې نه د هیواد دملي ګټو سره سم د سیاسي فعالیت طرفدار او غوښتونکی و او عقیده لري چې د سیاسي ګوندونو د قانون دپلي کیدو په صورت کې به ډیرې هغه ستونزې چې د سولې ، دموکراسی او ملي یووالي ټینګیدو ، بشري حقوقو ته د درناوي او دهیواد بیا رغاونې په مخکې پرتې دي له منځه یوړل شي .
د هیواد ټول ملي دموکرات ځواکونه او شخصیتونه باید د دموکراسی د بهیر تر شا ودریږ ي او د هغو کسانو او ډلو ټپلو مخه ونیسي چې نه غواړي د ټولنې پر ځای قانون حاکم اوسي . څوک چې د قانون دحاکمیت په مقابل کې مخالفت کوي اوستونزې منځته راوړي او یا له قانون نه سرغړونه کوي ، هغه به هرو مرو داسې څوک وي چې د شخصي او ګروپي

مؤقتو ګټو لپاره د ټولو افغانانو پر ګټو پښې ږدي او یا د پردیو په چوپړ کې ولاړ وي.

د افغانستان انتقالي دولت لپاره د ګوندونو د قانون پلي کول په واقعیت کې د دغه دولت د مشرانو لپاره یوه ازموینه ده. چې په دې ازموینې کې بریالیتوب به یې نه یواځې په افغاني ټولنې کې، بلکې په نړیوالې ټولنې کې اعتبار زیات کړي او خلک به ډاډ پیداکړي چې انتقالي دولت کولای شي خپلې نورې ورسپارل شوې دندې ، چې هغه دټولو وسله والو ډلو بې وسلې کول ، د دموکراتیک اساسي قانون نافذول ، د قانون سره سم د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ د یوانتخابي حکومت منځته راتګ لپاره د شرایطو برابرول دی ،هم په بریالیتوب سرته ورسوي.

یو شی چې د پام وړ دی ، هغه دادی ، چې انتقالي دولت د خپلوټولو ورسپارل شوو دندو په سرته رسیدو کې په ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو باندې ، چې په دموکراسۍ عقیده لري او د خپلو هیوادوالو ملي ګټوته وفادار او غواړي چې نور افغنستان د ټوپک واکۍ ،تروریزم پردیپالنې ، بنسټپالنې او مخدره موادو د مافیایي شبکو له تورو منګولو نه وژغورل شي ، تکیه وکړي . په دې کار سره به نه یواځې دوطنپالو سوله غوښتونکو ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو ملاتړ تر لاسه کړي ، بلکې د ټول ملت دملاتړ د لاسته راوړو لار همدا ده او بس .

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۲کال د قوس د میاشتې بر ۱۷ نیټه د یووالی د جریدې په ۱۳ګڼه کې خپره شویده .

# ټینګ ملي یووالی د ټولو افغانانو د نیک مرغۍ لار ده ، نه د تعصب نه ډک قومي بیلوالی*

د ۲۰۰۳ کال د اګست پر ۲۵ نیټې ښاغلي د ستګیر پنجشیري "اردوی منظم ملي ضامن صلح و استقلال کشور واحد و تجزیه ناپذیر ماست " تر عنوان لاندې یوه لیکنه کړی ده چې د انترنت په آریایي سایت کې خپره شویده . په دې لیکنې کې سرتر پایه د جنګسالارانو نه دفاع او هغوئ څخه غوښتنه شویده چې خپلې وسلې له اوږو لیرې نه کړي ، بلکې د عسکري قانون سره سم د ملي اردو له ویاړه ډک نظامي لباس واغوندي ، د ملیشو له شکل نه په ملي اردو واوړي او یا په بل عبارت د یوې رښتینې ملي اردو د جوړیدو مخه ونیسي . او که څوک وایي چې وسله والې ډلې دې بې وسلې شي ، نو دا نه یوازې جنګسالارانو ته اهانت دی ، بلکې ملي منظمې اردو ، استقلال اوزموږ پر خپلواکۍ مینو خلکو دیني ستنو ته اهانت دی .

هیڅ دا فکر نه کاوه چې ښاغلی د ستګیر پنجشیري دې دومره په قومي تعصب او تنګ نظرۍ کې ډوب شي چې د هیواد روښانفکران او سوله غوښتونکي شخصیتونه او ډلې دې د دې لپاره وغندي او ملامته کړي چې وایي ټولې وسله والې ډلې دې بې وسلې شي ، تر څو د افغانستان عام خلک د هر ډول زور زیاتي نه خلاص شي او د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدو په مقابل کې هر ډول خنډونه او ګواښونه له منځه ولاړ شي . دا نه یوازې څو شخصیتونه او ډلې غواړي ، بلکې د هیواد ټولو خلکو او په خاص ډول د هغو سیمو ښځو او نرو دا اواز پورته کړی دی چې د وسله والو ډلو ناروا اعمال ،جبر او تعدی یې په خپلو سترګو لیدلي دي . د عامو خلکو قضاوت تل په عمل تکیه لري او سم وي .

نوځکه خلک هغه څوک غواړي چې د ټول ملت د ګټو څخه یې دفاع کړې وي ، هغه کارونه یې سرته رسولي وي چې ملي ګټو سره سمون ولري. ملي ګټو سره د ټولو افغانانو یووالي لپاره هلې ځلې سمون لري ، نه د افغانانو په منځ کې د قوم ،ژبې ، مذهب او سیمې په نوم بیلوالي او بې اتفاقۍ ته لمن وهل . د ملي ګټوسره په افغانستان کې د سولې او دموکراسۍ ټینګول او د بشر حقوقو ته درناوی کول سمون لري ، نه د جګړو دوام او د سولې مخنیوی.
سړی نه پوهیږي ، چې دستګیر پنجشیری ولې د ملګرو ملتونو د سولې د پروګرام په مقابل کې ، چې کیدای شول د دغه پروګرام له مخې د شورویانو له وتلونه وروسته سوله ټینګه او یو دموکراتیک نظام منځته راغلی وای ، کودتا چیانو ته د"ځمریانو " او "قهرمانانو" خطاب کوي او هغه شخصیتونه او ډلې چې په دموکراسۍ عقیده لري او غواړي چې د دغو وسله والو ډلو په بې وسلې کیدو د ټوپک پر ځای قانون حاکم شي او د ټولو افغانانو له خوا د یو ملت په حیث د دموکراسۍ د اصولو مطابق د قانون په سیوري کې د بیرون ځنې تپل شوی نه ، بلکې پخپله د افغانانو په واسطه انتخاب شوی حکومت منځ ته راشي چې د ملي یووالي ممثل حکومت وي ، دټولو افغانانو له خوا یې د یو واحد ملت په څیر ملاتړ وشي اوپه دې ډول د افغانستان خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا تضمین شي ، غندي او حتی د"روباها"خطاب ورته کوي .
البته څوک چې په دموکراسۍ عقیده لري او خپل هیواد او د هیواددخلکو ملي ګټې پرې ګرانې وي ، هغوئ ته ټول افغانان د یولاس ګوتې ښکاري او د قومي تصفیې ، شړلو او ځپلو چل نه ورځي . داکار یوائې هغه لنډاکه ، بې فکره ، تنګ نظره قومي لیونیان کوي چې "په پچه

سور شي کشمير ويني " او دتاريخ له بيرحمۍ اودخلکو له زور نه خبرنه وي.
هغه څوک چې لمر په دوو ګوتو پټوي او هڅه کوي چې نور خلک هم په دې قانع کړي چې لمر نه شته ، هغه ړانده ته ورته دی چې پخبله څه نه ويني او ورځ او شپه ورته يوه وي ،نو هڅه کوي چې نورو باندې هم خپله ړوندتيا ومني او شپه ورته ورځ او ورځ ورته شپه وښايي . دا خو ټولو افغانانو ته معلونه ده چې طالبان او د القاعدې شبکه د امريکائيانو د ب-۵۲الوتکو په بمباريو سره تار ومار اودړې وړې شول ، نه د جنګسالارانو په "اتلوليو" او که فرض کړو همدې د ښاغلي پنجشيري "قهرمانانو"جنګسالارانو طالبان او القاعده ووهل اوس خو طالبان او القاعده له منځه تللي دي ، نو څه ضرورت دی چې تنظيمي او قومي مليشې ددې پر ځای چې لار ملي اردو جوړيدوته اواره کړي ، په خپلو خلکو باندې دمحلي جبر اوستم د ساتلولپاره د وسلو په ساتلو ټينګار کوي او په هيواد کې دسولې او ثبات په وړاندې ګواښونه منځته راوړي اودعادي خلکو ژوند يې د نه باوريدونکو ستونزو سره مخامخ کړی دی.
آيا يوروښانفکر کولای شي چې د سولې او دموکراسۍ لپاره د تبليغ پرځای د ټوپک سالارۍ د دوام لپاره د تبليغاتومنبع وګرځي ؟ آيا د جنګ اوجنګسالارۍ تبليغ او توجيه کول د يو روښانفکر د شخصيت او ذهنيت سره جوړيدای شي.
نننی رښتيانی روښانفکر هغه دی چې زموږ په جګړو ځپلي هيواد کې د هر ډول جګړو ، زور واکۍ ، تروريستي اعمالو ،قانون شکنۍ، ظلم ، استبداد ، بې اتفاقۍ ، تبعيض ، تعصب اودکتاتورۍ سره مخالف وي او پر ضد يې مبارزه وکړي . نننی افغان روښانفکر بايد پوه شي چې افغانان څه ته ضرورت لري. افغان روښانفکر بايد هر هغه څه تائيد کړي

او د فاع ترې وکړي چې د سولې ، دموکراسۍ ، ملي یووالي اوسیاسي ثبات د ټینګیدو لپاره ضرور وي.
د وسله والو ډلو بې وسلې کیدل تر ټولو لومړی سوله منځ ته راوړي ، قانون واکۍ ته زمینه مساعدوي ، د زور واکۍ،ظلم اوجبر مخه نیسي ، افغانانو ته زمینه مساعدوي چې خپلې ستونزې د خبرواترو او سیاسي لارو په واسطه حل کړي او دهیواد دبیا رغاونې لپاره سوله ایز اوباثباته شرایط منځته راوړي .
که څوک وايي چې جنګسالاران دې بې وسلې شي ، دا د دې مانا نه لري ، چې یوائې دې د ښاغلي پنحشیري جنګسالاران بې وسلې شي او نور دې وسله ولري او بیا دې دغو ځمریانو نه د پنجشیري په خبره غلامان یا ګیدړان جوړ کړي. د ټولو وسله والو ډلواو افرادونه دې بې له هر ډول تبعیض نه وسلې ټولې او دملي اردو په وسله تونونو کې ذخیره او یوائې د ملي اردو د ګټې اخستو وړ وګرځي . داسې ملي اردو چې دهر ډول تبعیض پرته له ټولو افغانانو نه د مکلفیت د قانون او مسلکي پوهې پر بنسټ جوړه او په کوم قوم ، ډلې او یا محل پورې تړلې نه وي ، بلکې د افغانستان ملي اردو وي او دټولو افغانانو دملي ګټو ، خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا نه دفاع وکړي.
افغانان باید ټول بې له تبعیض نه د قانون په وړاندې یو شان حقوق او مکلفیتونه ولري . هیڅ افغان حق ونه لري چې د ټوپک په زور بل افغان سره خبرې وکړي او خپله اراده او غوښتنې د ټوپک په زور په بل افغان تحمیل کړي . که حکومت جوړیږي باید د قانون سره سم د دموکراسۍ داصولو پر بنسټ د خلکو په اراده او پریکړه ، نه د توطیې کودتا او ټوپک مارۍ له لارې .
موږ لیدلي دي ، هغه څوک چې غواړي دټوپک له لارې خپله اراده پر بل تحمیل کړي په دموکراسۍ عقیده نه لري . څوک چې فکر کوي ګنې په

قانون کې به تاوان وکړي او ټوپک ته پناه وړي ، نه یوائې دا چې د قانون د حاکمیت سره تضاد لري ، بلکې د یوانسان په حیث د انساني وسیلې پر ځای د وحشت او غیر انساني وسیلې نه کار اخلي. او په دې ډول د بشر حقوق تر پښو لاندې کوي او د متمدنې نړۍ د فرهنګ او اخلاقو ضد واقع کیږي ، نو هرومرو به د افغانانو او نړیوالو له عکس العمل سره مخامخ کیږي.

سره ددې چې ښاغلې پنجشیری په دې مشهور دی چې تل یې د زورورو او د واک د خاوندانو مدح اوثنا کړې ده ، خو د جګړو او جګړه مارانو او یا جنګسالارانو ثنا او صفت کول د هغه چا سره چې د خپل نوم سره اکادمیسین لیکي هیڅ مناسب نه ښکاري . اول دا چې دا جنګسالاران مجبور دي د خلکو غوښتنو ته سر ټیټ کړي او خپلې وسلې مرکزي حکومت ته تسلیم کړي او لکه د نورو افغانانو په شان قانون ته غاړه کیږدي. یانې ښاغلی پنجشیری د دوئ په مؤقت زور ونه غولیږي. دویم داچې د جنګسالارانو له خوا په مستقیم یا غیر مستقیم ډول په کورنیو جګړو کې په زرګونو استادان ، معلمان ،محصلان ، د مکتبونو شاګردان او دولتي ماموران غیر حق له منځه تللي او تلف شویدي. او نژدې ټولې تعلیمي اوتربیتي مؤسسې ،پوهنتونونه مکتبونه ،لابراتوارونه ، علمي څیړن ځایونه ، هغه چې د شورویانو له ناتار نه پاتې وو ، دخاورو سره خاورې شوي دي . نو په کوم عقل او روغ فکر ، سړی کولای شي د جنګسالارۍ نه دفاع وکړي او حتی دا ګناه په اوږو بار کړي چې جنګسالار ته تبلیغ وکړي چې خپلې وسلې تسلیم نه کړي .

ښاغلی پنجشیری قومي تعصب دومره افراطي کړی دی ، چې دملګرو ملتونو ، نړیوالو سوله ساتو ځواکونو او نژدې ټولو افغانانو د غوښتنو په مقابل کې راپاڅیدلی دی او فکر کوي ګنې که د جنګسالارانو څخه ټوپک لیرې شو ، نو له دې "ځمریانو" نه به "ګیدړان" جوړ شي او په "کمر

بسته غلامانو ″ به بدل شي . دی فکر کوي چې ګڼې دوئ يوائې د وسلې په زور ژوند کولای شي او که وسله ترې ليرې شوه هرڅه به له لاسه ورکړي. خو دی په دې نه پوهيږي چې پر افغانانو هيڅ‌چا هم د وسلې په زور حکومت نه دی کړی . د شورويانو دتيري په مقابل کې د مقاومت جګړو کې نژدې ټولو افغانانو برخه اخستې ده او دمقاومت کوونکو د سرښندنو اوقهرمانيو نه هيڅوک هم نه شي منکريدای اوتل به ورته دقدر په سترګه کتل کيږي . خوهر څوک چې د خلکو د غميزې مسؤل وي اويا يې د دغې غميزې په اوږديدو او ژوريدوکې برخه اخستې وي هرو مرو بايد يوه ورځ د افغانستان خلکو ته ځواب ووايي.

البته اوس چې سولې او بې وسلې کيدو ته ضرورت دی ، د جنګسالارانو نه په دفاع او هغوئ ته ددې تبليغ کولو چې خپلې وسلې وساتي او دبې وسلې کيدو د پروسې په مقابل کې مقاومت وکړي او تسليم نه شي ، دا په واقعيت کې د سولې او دموکراسۍ د ټينګيدو په مقابل کې مقاومت ، قومي دښمنيو ته لمن وهل ، دمرکزي حکومت کمزوري ساتل ، دمخدره موادو د توليد په مقابل کې د مبارزې مخنيوی او دبنيادګرايي او تروريزم بيرته را ژوندي کول دي ، چې مرتکبين يې بايد مجازات شي.

سړی نه پوهيږي چې دستګير پنجشيري څه خوب ليدلی دی ، چې د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو او نړيوالو د غوښتنو په مقابل کې ، چې ټولې وسله والې ډلې دې بې له هر ډول تبعيض نه بې وسلې شي او دمختلفو وسله والو ډلو پر ځای دې ملي اردو او د پوليسو ملي ځواک منځته راشي ، شک او ترديد منځته راوړي . دی ټينګار کوي چې دا شعار يوائې د″مقاومت د ملي جبهې ″ دجنګسالارانو پر ضد دی او اکثره هغه شخصيتونه او ډلې چې کلونه کلونه يې د سولې ، دموکراسۍ او ملي يووالي ټينګيدو لپاره مبارزه کړيده په دې ډول ګره موي چې ګڼې:

"در حال حاضر نیروهای سازمان یافته نظامي از خارج و داخل زیر شعار بظاهر خوشایند مخالف با جنگسالاران جبهه مقاومت ملی ، کار زار تبلیغاتي گسترده را براه انداخته اند.

نیروهای مستقل وسازمان یافته زیرین زیر شعار ضد تفنگ سالاري بسوی تصرف و تمرکز قدرت سیاسي در حال خزیدن میباشند :

-جلالتماب اشرف غني احمدزی وزیر خزانه داری و فرزند یکې از برآوردگان قبیله احمدزی .

- محترم پروفیسور احدي رهبر افغان ملت ومقام برجسته رهبري جریان پولی و بانک مرکزی افغانستان

- سلطنت طلبان ( وحدت ملی )

- بقایای طالبان

- شورای تفاهم قبرس

- شورای تفاهم پاکستان

- شورای تفاهم سویدن

- غورځنګ صلح شاغلی تنی

- بخشې از اعضای رهبری حزب وطن متمایل به حزب اسلامی حکمتیار

- ملی یووالی شاغلی جلیلی

- احزاب نو ظهور و قبلی که با هردو جناح اصولأ اشتی ناپذیر میباشند

- تکنو کراتهای نجیب .... که از دیاران دور و بعد از دهها سال با وجود کبر سن برای احراز کرسی های وزارت و سفارت خانه ها تشریف اورده اند ورنج سفر را بر خود اموار کرده اند ".

ښه به دا وی چې ښاغلي پنجشیري د جنګسالارانو د بې وسلې کیدو د غوښتونکو د فهرست د لیکلو پر ځای دجنګسالارانو د وسله وال پاتې کیدو د پلویانو فهرست وړاندې کړی وای. چې ده ته څرګنده شوې وای چې بې له جنګسالارانو او پنجشیري نه نور څوک په افغانستان کې د

وسله والو ډلو د وسله وال پاتې کیدو پلویان دي او په دې ډول د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدو سره خپل مخالفت ته دوام ورکوي .
او یا به بهتره وای ،چې پنجشیري لیکلي وای چې د افغانستان ټول خلک غواړي چې وسله والې ډلې بې وسلې شي ، خو موږ جنګسالاران او د جنګسالارۍ مدافعین نه غواړو چې بې وسلې شو ، ځکه چې په بې وسلې کیدو کې زموږ تاوان دی او داپه دې چې زموږ محلي پادشاهي ګانې اوپه ټول افغانستان باندې د پادشاهي خوبونه او زموږ بهرنیو ملاتړ کوونکو ته د خذمت کولو موقع له لاسه ورکوو .
ښاغلی پنجشیری سخت ویرې اخستی دی . دی فکر نه شي کولای ،چې د مختلفو شخصیتونو ، ډلو او اکثرو افغانانو دا غوښتنه ، چې ټولې وسله والې ډلې دې بې وسلې شي ، دا مانا نه ورکوي چې ملي متحده جبهه دې له قدرت نه وغورځول شي ، بلکې ددې مانا داده چې قدرت ته درسیدو لار باید دوسلې پواسطه نه ، بلکې د قانون له لارې ، ددموکراتیکو انتخاباتو له لارې وي . تر څو ټول افغانان د سولې او دموکراسۍ په ټینګیدو او دهیواد په بیا جوړیدو کې یوشان برخه واخلي . خو بیا پنجشیری د جنګسالارۍ په دفاع او د ټولوسوله غوښتونکو افغانانو په مقابل کې د لاپو- پټاکو ،له ګواښ او سپکاوي نه ډکوکلمو په استعمال سره ودریږي . په دې ډول : "نیروهای مخالف تفنګسالاری باید با مغز سرد و قلب ګرم این واقعیت های تلخ تاریخ را هر چند باب طبع ایشان نباشد ، بخوانند و بدانند و بشنوندکه تفنګسالاران ما از دره ها ،و دهقانخانه ها فرود امده اند . . . مګر با افتخار میتوان ګفت که امروز با همه دوری وجدایی تاریخی از اداره وسیاست از خود شایستګی و کفایت چشمګیر نشان میدهند . . . مردمې ما ضرب المثلی داشته اند که: "شیرزد وروبا برد " مګر جنګسالاران امروزما از ان شیرانی نیستند که روباهان کهنه استعمارآنان را بفریبند . . . از خانه وکاشانه دره های سبز و

تاکستان های شاداب به دشتهای بې اب و علف تبعید کنند ویا به غلامان کمر بسته خود تبدیل نمایند ".
او بیا دټولو افغانانواو نړیوالې ټولنې د غوښتنوپه مقابل کې ماجراجویي ته بدې راوهي او له خپلو جنګسالارانو داسې غواړي:
"از تحلیل مشخص اوضاع ملی وبین المللی کنونی ، این نتیجه بدست مې آید که:... فقط فرزندان مردم افغان ( د ملي متحدې جبهې ملیشې ) باید اردوی منظم ملی خود را تشکیل کنند ، تفنګ های خود را خلاف طرز تفکرمخالفان تفنګسالاران به دشمن تسلیم نه کنند برزمین نګذارند برعکس در سلاح کوتهای نظامی اردوی منظم ملی و باانظباط خود تحویل کنند ... اهانت به تفنګسالاران ، اهانت به اردوی منظم ملی ، استقلال و سنن پسندیده دینی خلق ازادی پرست وطن ماست " .
د ښاغلي پنجشیري د پورتنیو څرګندونو نه داسې نتیجې لاس ته راوړو چې د ی سخت د قومي تعصب د ستونزې سره لاس او ګریوان دی . د افغانانو دملي یووالي په مانا او ښیګڼو نه پوهیږي. ده ته د وسله والو ډلو بې وسلې کیدو او د ملي اردو د جوړیدو غوښتنې جنګسالارانو ته اهانت ګڼل کیږي . د ده په نظر دقوم او محل پر بنسټ جوړې شوې ملیشې باید ملي اردو جوړه کړي ، نه ټول افغانان د مکلفیت د قانون او مسلکي پوهې پر بنسټ. ده ته یواځې دملي متحدې جبهې ملیشې "فرزندان مردم افغان "ښکاري ،چې باید ملي اردو جوړه کړي اوورته نصیحت کوي چې خپل ټوپکونه د جنګسالارانو د مخالفانو د نظر پرخلاف دښمن ته تسلیم نه کړي . خودلته سړی نه پوهیږي چې دی چاته دښمن وایي . د سولې اودموکراسۍ پلویان خودا وایي چې وسله والې ډلې خپلې وسلې مرکزي حکومت ته تسلیم کړي ،چې دوطن دملي ګټو نه ددفاع په خاطر د افغانستان د ملي اردو ضرورتونه پوره کړي ، د مختلفووسله والو ډلو ترمنځ د خپلمنځي نښتو مخه ونیول شي او ټول افغانان بې له هر ډول

ویرې او د وسلې له فشار پرته په ټولو سیاسي ،اقتصادي اوټولنیزو فعالیتونو او د هیواد په بیا جوړیدو کې برخه واخلي او دخپل هیواد دقوانینو په مقابل کې یوشان حقوق او مکلفیتونه ولري. د یوشي په ګوته کول ضرور دي او هغه دا چې تیروترخو تجروبو هم ښودلې ده ، چې هیڅ یوه ډله یاسیمه اویا قوم نه شي کولای بې د نورو افغانانو د برخې اخستلو نه په افغانستان کې سوله ټینګه کړي او د هیواد په بیا رغاونه کې د پام وړ کار سرته ورسوي. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کوردی . په ګډ کور کې هوسا ژوند تیرول یواځې د کور د ټولو غړو یووالی ، مینه اویوبل سره مرسته غواړي . هر څوک چې دا خوبونه ویني ګنې چې یوقوم ، یوه سیمه او یا یوه ډله به د نورو قومونو ، سیمو اویا ډلو څخه پرته او یا په مخالفت کې څه ګټه وکړي ، نو داسې کار نه پخوا شویدی ، نه به اوس وشي اونه به په راتلونکې کې ترسره شي.

خود پنجشیري او دده په څیر د نورو کسانو تنګ نظره او سکتاریستي طرحې له ټولو ملي وطنپالو افغانانو ، شخصیتونو او ډلو ، چې د خپلو هیواد والو ملي ګټو ته ژمن دي او د بشر پر حقوقو او دموکراسۍ باور لري ، په ټینګه غواړي چې د جګړو او جګړه مارانو له شر نه د خلاصون په خاطر سره یوشي او نور پرې نه ږدي چې د دوئ له بې اتفاقۍ نه د افغانانو د نیکمرغۍ او یووالي دښمنان ناوړه ګټه واخلي او زموږ هیواد دبنسټپالنې ،تروریزم ، دمخدره موادو دتولید او قاچاق او د بهرنیو هیوادونو د استخباراتي شبکود اجنټانو ناخوالې تر قیامته دوام ومومي اودنړیوالو مافیایي سازمانونو سره یوځای زموږ غمځپلي ،خو میړني خلک د بربادۍ کندې ته ټیل وهي.

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۲کال د قوس پر ۱۷ نیټه دیووالي د جریدې په ۱۳ګڼه کې خپره شویده .

# تر څو د ملي اهدافو تر شا يو ملي متحد منسجم ځواک نه وي ولاړ دا سې اهدافو ته رسيدل به ناشونی کار وي *

د دوو لسيزو څخه زياتو جګړو زموږ دهيواد ټولې انساني ، مادي اومعنوي پانګې له اټکل نه پورته زيانمنې کړې دي .سياسی، اقتصادي ټولنيز ، فرهنګي او اداري سيستمونه له منځه تللي اوبيا رغاونه غواړي. د ټولنې د امنيت د ساتلو او د هيواد دخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا نه د دفاع لپاره امنيتي ځواک او ملي اردو وجود نه لري . اوس هم نه يوا ځې دا چې سوله او ثبات لا نه دي ټينګ شوي ، بلکې د مختلفو وسله والو ډلو شته والی اود تروريستي او خرابکارانه فعاليتونو سرته رسيدل دا ويره منځته راوړې ده ، چې کيدای شي دا موجوده وضعه لا نوره هم خرابه شي.

د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو موجوديت د سولې او ثبات په ټينګيدو کې خپل محدود رول د کابل په ښارکې لوبولی دی. نړيوال سوله ساتي ځواکونه نه شي کولای په يوا ځې توګه بې د افغانانو د فعالې ونډې څخه په هيواد کې سوله او امنيت تينګ کړي. افغانان هم بايد دا هيله ونه لري چې تل دې ورته نور هيوادونه هغه کارونه سرته ورسوي ، چې هغه بايد دوئ پخپله سرته ورسوي .

دا ځل بيا هم افغانان بايد د ۲۳کلونو جګړو له ناورين نه ځان وباسي ، نه يوا ځې په خپلو تيروتېونو پښې کيږدي ، بلکې د اوسنۍ سيالې نړۍ په سياليو کې برخه واخلي او ثابته کړي چې دا ملت نه يوا ځې دا چې مړ نه دی ، ژوندی دی ، بلکې د سيالۍ جوګه دی او هغه چا چې فکر کاوه ګنې بيا به پر پښو ونه دريږي بايد پوه شي چې دا ملت به هيڅکله په ګوندو نه شي.

خو افغانان هم باید نور خپل ځان وپېژني ، خپل رسالت سرته ورسوي او د هر ډول ستونزو سره سره ځان ثابت کړي چې دا وړتیا لري یوځل بیا د تاریخ له ازمېښت نه بریالی راووځي . افغانان که په لومړي ازمېښت کې بریالي شول ، یقین دی چې نور به له ټولو ازمېښتونو نه هر و مرو بریالی راوځي . دا ازمېښت "یووالی "دی . افغانان باید نړۍ ته وښایي چې د هیواد دلوړو ملي ګټو په خاطر له هر ډول شخصي او ګروپي ګټوڅخه تیریدای شي.

د ټولو سوله غوښتونکو ،ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو یووالی به په هیواد کې داسې یوسوله غوښتونکی ملي دموکرات ځواک منځ ته ر اوړي ، چې دملي ګټونه ددفاع په لار د ټولو ستونزو او خنډونو او د ملي ګټو ضد فعالیتونو په مقابل کې ودریږي او په دې ډول به په هیواد کې د ملي زعامت تشه ډکه کړي. دغه واحد ملي دموکرات ځواک به د افغانانو ملي یووالي په ټینګښت کې خپل وړ رول لوبوي او دهر ډول هغو هلوځلو، چې په هیواد کې سوله او دموکراسي کمزورې کوي اودافغانانو تر منځ کرکې او نفاق ته لمن وهي ، مخالفت او مخنیوی کوي.

تر څو داسې یو ملي ځواک چې په هیواد کې د ملي زعامت تشه ډکه کړي نه وي جوړ شوی ، دا به ناشونی کار وي چې راتلونکی اساسي قانون د وسله والو ډلودټوپک له اغیزنه خوندي پاتې شي ، په ربښتینې سره دموکراتیک وي اود ټولو افغانانو دملي ګټوساتندوی اودیووالي ضامن وي اوپه عمل کې پلی شي.

منځمهال حکومت درې بنسټیزې دندې لري ، چې باید د خلکودهیلواو غوښتنوسره سمې سرته ورسیږي:

لومړۍ دنده یې د پولیسو د ځواک او ملي اردو جوړول دی ، چې په جوړولو سره به یې په هیواد کې سوله او ثبات ټینګ شي ، ټولې وسله والې ډلې به بې وسلې اودهیواد خپلواکي ،ملي واکمني او ځمکنۍ

بشپړتیا تضمین شي . د ملي اردو د جوړېدولپاره اوسنۍ هلې ځلې د هیواد دضرورتونو سره هیڅ سمون نه لري . ملي اردو باید د هیڅ یوې سیاسي ډلې تر اغیز لاندې نه وي اوپوره مسلکي مهارت ولري . د دې لپاره چې په ژر وخت کې یوه مسلکي ملي اردو منځته راشي ، کیدای شي ټول پخواني افسران ، د مسلکي پوهې او زده کړې خاوندان چې دخلکواو هیواد دګټو پر ضد یې کوم عمل نه وي کړی په نوې ملي اردو کې ونیول شي . چې سربازان به یې د نوو شر ایطو سره سم د ټولو ځوانو هیوادوالو نه د مکلفیت د مقرراتو له مخې منځ ته راځي . ملي اردو باید د قانون پواسطه غیر سیاسي وګڼل شي ، د هیواد دخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا او د ټولو افغانانو د ملي ګټو ساتنه وکړي .

دویمه د منځمهال حکومت په مخکې بله ستره دنده دهیواد د ملي وثیقې یانې اساسي قانون منځته راوړل دي . اساسي قانون باید د دموکراسۍ او بشري حقوقو د اصولواواسلام دمقدس دین د لارښوونو مطابق اونړیوالو نورمونو سره سم منځته راشي . د ټولو افغانانو هیلې او غوښتنې منعکس کړي او دټولو حقوق تأمین کړي اوساتنه ترې وکړي . اساسي قانون د هیواد د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي د خوندي ساتلو او دټولو افغانانو د حقوقو او مکلفیتونو بیانوونکې اوتضمین کوونکې ملي وثیقه ده . د اساسي قانون په نافذیدو باید په افغاني ټولنه کې هر ډول غیر قانوني اعمال ختم شي او د زور او تشدد پر ځای قانون حاکم شي . اساسي قانون باید دټولو افغانانو سیاسي او مدني حقوق تضمین کړي . نوځکه اساسي قانون باید د کوم شخص یا ډلې د ګټو د ساتلو لپاره نه ، بلکې ملي ګټې تضمین کړي .

دریمه د ټاکنو له لارې د یو انتخابي حکومت منځته راوړل بله ستره دنده ده ، چې منځمهال حکومت یې باید سرته ورسوي . د اساسي قانون څخه وروسته دوه نور قوانین په دویمه درجه کې دپام وړ دي . هغه د انتخاباتو

قانون او د سیاسي ګوندونو د فعالیتونو د تنظیمولوقانون دی . دواړه قوانین په خپلواړوندو برخو کې په اساسي قانون کې راغلې مادې تفسیروي. نو ځکه که اساسي قانون دموکراتیک وي او دخلکو حقوق پکې خوندي وي ، نودسیاسي ګوندونو او انتخاباتو قانون به هم دموکراتیک وي. او که ددې قانون له مخې انتخابات منځته راځي نو هغه به دموکراتیک اودټولو خلکو هیلې اوغوښتنې به پکې نغښتې وي .

په اخر کې باید یو ځل بیا په ګوته شي ، چې تر څو ټول ملي دموکرات او سوله غوښتونکي افغانان پر یو مشترک پلاتفورم باندې راټول نه شي او یو واحد ملي ځواک منځته را نه وړي اود سولې اودموکراسۍ د پروسې تر شا وه نه دریږي د یو دموکراتیک اساسي قانون ، دموکراتیکو انتخاباتو قانون او د ګوندونو دفعالیتونو دتنظیمولو دموکراتیک قانون منځته راتګ او پلي کیدل به هسې هیله پاتې شي . نو ځکه ضرور ده چې ټول ملي دموکرات شخصیتونه او ډلې دې پر یومشترک پلاتفورم راټول شي ، تر څومو هیواد له اوسنۍ وضعې نه بریالی راووځي .

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۲ کال د قوس پر ۱۷ نیټه د یووالي دجریدې په ۱۳ ګڼه کې خپره شویده.

# د جدي د شپږمې نیټې نه د راځیږیدلې غمیزې د پای ته رسیدو پیل*

اوس چې نړیوالې ټولنې ژمنه کړې ده چې د افغانانو دهغې غمیزې دپای ته رسیدو لپاره دافغانانو سره د مرستې متې راونغاړي ، چې پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د ۱۳۵۸کال د جدي د ۶ نیټې تیري نه پیل شوه ، چې پکې ټول نړیوال قوانین تر پښو لاندې شول ، د بشر له حقوقو نه په وحشیانه ډول سر غړونه وشوه او ددموکراسۍ د ټولو نورمونو پر خلاف یومستبد ،ظالم، ګوډاګی حکومت د بل مستبد ، ظالم ځبر ځواک له خوا په زور پر افغانانو وتپل شو .

په دې کار سر ه دواړو ، کورنیو او بهرنیو ، دښمنانو ته زمینه مساعده شوه ، چې د افغانانو ځاني ،مالي او معنوي پانګې د نابودیدو تر پولې وځپي او زموږ د سر لوړي هیواد افغانستان خپلواکي ، ملي واکمني ، ځمکنۍ بشپړتیا او تاریخي ملي ، اسلامي هویت ترې واخستل شي .

نو ځکه ، افغانان د خپلو تاریخي ، ملي ، اسلامي ارزښتونو نه د دفاع په خاطر راپاڅیدل او د تیري کوونکو او ګوډاګي حکومت پر ضد یې سرترسري ملي قیام سرته ورساو . په دې سپیڅلې جګړه کې افغانانو ته ستر ځاني او مالي تاوانونه واوښتل ، خو هغه چا چې افغانانو ته سپک کتلي وو د تاریخي سپکاوي په ګټولوسره زموږ له هیواد نه وتلو ته اړ ویستل شول .

خو دتیري کوونکو په وتلوسره هغه غمیزه چې دتیري څخه پیل شوې وه پای ته ونه رسیده او دا ځکه چې د تیري کوونکو سر ه جګړه په کورنۍ جګړې واوښته او د وسله والو ډلوتر منځ جګړه کې هر ډول دموکراتیک ارزښتونه اود بشر حقوقو ته درناوی او قانونیت له منځه ولاړل او پر ټولنه

د ټوپک واک حاکم شو. تشدد ،تروریزم ، دمخدره موادوتولید او قاچاق اودبهرنیو هیوادونو لاسوهنه دومر ه زیات شول چې کنترول یې نور د افغانانو په لاس کې نه ، بلکې دبهرنیوهیوادونو د بنسټپالو ،تروریستي اومافیایي شبکو په لاس کې ولوید .
دې بنسټپالو تروریستي مافیایي شبکو چې د افغانانو د ماهیت سره سمون نه درلود او بیګانه پدیدې وې ، نه یواځې افغاني ټولنه د تدریجي مرګ سره مخامخ کړه ، بلکې نړیوال امنیت او ثبات یې په خطر کې واچول . نو ځکه نړیوالو ومنله چې که د افغاني ټولنې ، چې د نړیوالې ټولنې یوه برخه ده ، ستونزې اوارې نه شي ، نو د نورې نړۍ ستونزې نه شي اواریدای . نړیوال مجبور شول د افغانانو سره د دوئ د ستونزو په اواریدو کې مرسته وکړي او لاس ورکړي. له دې کبله باید افغانان له دې موقع نه ګټه واخلي او د نړیوالې ټولنې په مرسته په خپل هیواد کې د جګړو اور مړ کړي ، د بنسټپالنې ،تروریزم او مخدره موادو مافیایي شبکو له اغیزنه ځان وژغوري ، د هرډول قومي ، ژبني ، مذهبي او سیمه ایز توپیر او تعصب نه ځان وساتي ، خپل ملي یووالی ټینګ کړي او په شریکه خپل هیواد بیرته جوړ او د ټوپک پر ځای د قانون حاکمیت ته غاړه کیږدي.
د ډیرې خوښۍ ځای دی چې افغانان د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدو او بشري حقوقو ته د درناوي پر بنسټ د ټوپک پر ځای د قانون دحاکمیت په لور ګامونه اخلي. سره له دې چې اوس هم ډیرې ستونزې په مخکې پرتې دي ، خو د یو دموکراتیک اساسي قانون د منځته راتګ او نافذیدو له کبله ویلای شو ، چې د هغې غمیزې پای ته رسیدل پیل کیدای شي ، چې د ۱۳۵۸کال د جدي پر ۲ نیټې پر افغانستان باندې د شوروي سرو لښکرو له تیري نه منځ ته راغلې وه.

په دې کې شک نه شته چې اوس هم لا ډیرې ستونزې په مخکې پرتې دي ، په هیواد کې بشپړه سوله ټینګه نه ده او ثبات منځته نه دی راغلی. وسله والې ډلې نه دي بې وسلې شوي ، لاسوهنه او له بهر نه د بنسټپالنې ، تروریزم او مخدره موادو مافیایي شبکو فعالیت نه دی ودریدلی . د دموکراسۍ د اصولوپر بنسټ مرکزي انتخابي حکومت منځ ته نه دی راغلی . د ټولو افغانانو مدني حقوق نه دي تأمین شوي . لا اوس هم میلیونونه افغانان د خپل هیواد نه بهر په نورو هیوادونوکې ژوند کوي. مصؤنیت او قانونیت نه دی ټینګ شوی. ډیر افغانان د لوږې ، ناروغۍ، بیکورۍ اوبیکارۍ سره لاس او ګریوان او دمعاصرو علومو د زده کړ ې نه بې برخې دي. افغانان نه شي کولای په خپل دې جنګ ځپلي وران ویجاړ اقتصاد او د علمي تخنیکي امکاناتو د نشتوالي په صورت کې خپل ټول منابع په کار واچوي او خپل هیواد بیرته جوړ کړي . نوځکه د نړیوالې ټولنې مؤثرو او بې غرضو مرستو ته ضرورت دی ، ترڅو دا ټول کارونه سر ته ورسیږي .

هیله ده ، چې په دې حساس وخت کې د تیرو تجروبونه په عبرت اخستو سره نړیواله ټولنه ، په خاص ډول د ملګرو ملتونو سازمان او د افغانستان په مسئلې کې اوسني ښکیل هیوادونه بیا افغانان په نیمه لار کې پرې نه ږدي او تر هغه وخته پورې خپلو هر اړخیزو بې غرضومرستو ته دوام ورکړي ، تر څو د افغانانو دغمیزې د پای ته رسیدو پیل بشپړ شي . همدارنګه دټولو افغانانو، ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو ملي اسلامي دنده ده چې د خپلو لوړو ملي ګټوپه خاطر خپلمنځي ټول اختلافونه شاته کړي اوپه خپل ټینګ یووالي اواتحاد سره د سولې او دموکراسۍ د رواني پروسې چې دنړیوالې ټولنې له خوایې ملاتړ کیږي ، تر شا ودریږي او خپل هیواد بیرته د سیالوهیوادونو په قطار کې ودروي.

*- دا لیکنه د۱۳۸۲کال د جدي پر ۲ نیټه د یووالي جریدې د دویم کال په ۲ ګڼه کې خپره شویده.

# د افغانستان ملي يووالي سازمان په ګوند بدل شو *

د افغانستان ملي يووالي سازمان د خپل کار او فعاليت په ترڅ کې د افغانستان په سياسي ډګر کې نوي برياليتوبونه تر لاسه کړي دي اود ګوند د غړودنه سترې کيدونکو هلو ځلو په تنيجه کې يې وکولی شول چې د ثبت او راجستر ټول شرايط پوره کړي او د قانون د حکمونو سره سم د افغانستان انتقالي اسلامي جمهوريت د عدليې وزارت په مربوطه دفتر کې ثبت او راجستر شي او د يورسمي او قانوني ګوند په توګه خپل سياسي فعاليتونه مخې ته بوځي. چې په دغه اړوند دمکتوب متن په دې ډول دی:

"به حزب وحدت ملي افغانستان !

باتوجه به ماده (۳۵) قانون اساسی و قانون احزاب سياسی ، حزب شما شرايط مندرجه قانونی را تکميل نموده و به دفتر مربوطه اين وزارت ثبت و راجستر ګرديده است . بدينوسيله به شما اطلاع داده می شود تا مطابق قانون فعاليت های حزبی خويش را آغاز نمائيد ".

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت له خوا زموږ دګوند په رسميت پيژندلوسره موږ د سياست داسې پړاو ته ورننوزو چې د سترو ازموينو نه د تيريدو وړتيا بايد ولرو. موږ بايد په افغاني ټولنې کې د داسې يو سر تر سري سياسي ځواک په حيث ځانونه تثبيت کړو چې په کمي او کيفي لحاظ وکړای شو نه يوائې دسولې ، دموکراسۍ او ملی يووالي په ټينګيدو کې فعال رول ولوبوو اود خپل هيواد په جوړيدو کې وړ برخه واخلو، بلکې د نورو وطنپالونکو ځواکونو په ګډ زيار اومبارزې سره د سولې ، دموکراسۍ اوملي يووالي د مخالفينوټولې توطيې ، په هر شکل چې وي ، شنډې کړو. د نورو ملي دموکراتو شخصيتونو او ډلو سره د نژدې کيدو او زموږ شريک آرمان ته ، چې هغه زموږ د سرلوړي

افغانستان بيا رغاونه اوپر مختنگ دی ، د رسيدو لپاره خپلې اړيکې ټينګې کړو اودخلکوباور او ملاتړ تر لاسه کړو . تر څو زموږ خلک نور د خپلو دښمنانو په درواغجنو تبليغاتو ، چې اوس هم د ځينو مشکوکو ، دسولې اوثبات سره مخالفو کسانو له خوا پرې د پخوا په شان شخوند وهل کيږي ونه غوليږي .
د دې لپاره چې وکړای شو په نوو شرايطو کې خپلې په مخکې پرتې دندې په برياليتوب سره سرته ورسوو ، بايد د خپل ګوند ليکې ټينګې کړو ، پاک او صادقه کسان ګوند ته راوبولو ، دراسپارل شوو کارونو د ښه سرته رسيدو لپاره خپله د پوهې او مکلفيت د احساس سطحه لوړه کړو او په دې لار کې خپلې هلې ځلې څو چنده کړو .
د سولې او دموکراسۍ دښمنان او زموږ د سپيځلو خلکو د کړاوونو او د هيواد د بربادۍ عاملين ، په هيواد کې د سولې او ثبات په لور د هر يو عادي ګام په اخستلو هم خوښ نه دي . دوئ هلې ځلې کوي چې سوله ټينګه نه شي ، ټوپک واکي دوام ولري ، مرکزي حکومت کمزوری اوسي ، د افغانانو تر منځ د قوم ، ژبې ، مذهب ، سيمې اختلافونو ته لمن ووهل شي . تر څو د افغانانو ملي يووالی ټينګ نه شي ، د ملي دموکراتو شخصيتونو او ځواکونوتر منځ اعتماد او باور رانه شي او هغه ملي شخصيتونه او ډلې چې په هيواد کې د سولې ،دموکراسۍ او ملي يووالي ټينګيدو او د قانون دحاکميت لپاره هلې ځلې کوي د خلکونه ګوښه کړي . چې د دوئ لپاره اوبه خړې او ماهيان ونيسي اوپه دغه ډول نورې شخصي پانګې تر لاسه کړي .
د افغانستان د خلکو دښمنان دا ځل بيا لکه د پخوا په شان په هيواد کې د سولې ، دموکراسۍ او ثبات ټينګيدو او د قانون دحاکميت په وړاندې له هيڅ ډول توطيو نه ډډه نه کوي ، خو دا توطيې له پخوا څخه توپير لري .
پخوا څو ځلې د سولې دښمنانو دټوپک په زور د سولې د ټينګيدو مخه

نیولې ده او هیواد یې په ګډه د بیګناه افغانانو په وینو سور کړی دی. خو اوس نه غواړي چې وسله والې ډلې بې وسلې شي ، د سیمه ایزو خپلسرو واک لرونکو پر ځای قوي مرکزي حکومت منځ ته راشي. په خلکو کې د یووالي د ټینګیدو د مخنیوي په خاطر له شرمه ډکو قومي تعصباتو ته لمن وهي ، د سولې او دموکراسۍ دپروسې د بریالیتوب د پلویانو پر ضد خصمانه تبلیغات کوي او د واحد مرکزي دولت د بې اعتباره کولو لپاره له هیڅ ډول سبوتاژ او ناوړه اعمالو سرته رسیدو څخه ډډه نه کوي. دوئ یوځل بیا هم هغه زموږ د خلکو د بهرنیو او کورنیو دښمنانو په لار ښوونه پخوانۍ تبلیغاتي جګړه پیل کړې ده او هر څوک چې د سولې او دموکراسۍ د پروسې نه ملاتړ کوي ، د هغوئ په مقابل کې له هیڅ ډول دروا غجنو ګمراه کوونکو پروپیګنډونه ډډه نه کوي. البته یوازې ناوړه پروپیګنډې نه دي چې دوئ یې پر مخ بیایي ، بلکې کیدای شي چې د سولې ،دموکراسۍ اوملي یووالي دښمنان د خپلوشخصي ګټو په خاطر د ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو په مقابل کې له داسې توطیو لکه ترور ، وسله وال مقاومت او په هیواد کې ګډوډۍ جوړولونه هم ډډه ونه کړي. نو ځکه ضرور ده چې ټول په خپلو خلکو او وطن مین هیواد وال هوښیار او یو اوسي ، ترڅو د سولې د دښمنانو هر ډول توطیې شنډې او د سولې او دموکراسۍ د ټینګیدو ، د افغانانو تر منځ د اتفاق او اتحاد منځته راوړو او د خپل ویاړلي هیواد د بیا رغاونې فرصت له لاسه ونه وځي.

په دې ټینګ باور لرو چې د سولې اودموکراسۍ پلویان او غوښتونکي شخصیتونه او ځواکونه د سولې ضد کسانو په پرتله ډیر، ځواکمن او دمطلق اکثریت افغانانو او نړیوالو له مرستې او ملاتړ نه برخمن دي. که دوئ یوبل سره خپل اړیکي ټینګ او له ټولو امکاناتو نه ګټه واخلي ، د

دښمنانو توطيې به شنډې شي او د سولې ، دموکراسۍ ، يووالي او رغاونې دا کاروان به هرومرو بريالی خپل منزل ته رسيږي.
په افغانستان کې د اساسي قانون او سياسي ګوندونو قانون نافذيدل ، د انتخاباتو قانون منځته راوړل او ګڼ ګونديز سيستم پر بنسټ د انتخاباتو سرته رسول ، د قانون پر بنسټ د جمهور رئيس او پارلمان د غړو ټاکل ، دا هغه څه دي چې په هيواد کې د قانون د حاکميت په لور ستر ګامونه ګڼل کيږي. خو تر څو چې په هيواد کې وسله والې ډلې موجودې وي ، دقومي تعصباتو لمن نه وي ټوله شوې ، د قانون حاکميت کمزوری ښکاري او کيدای شي په هر وخت کې يې په مقابل کې خنډونه منځته راوړي .
تر څوپه هيواد کې قانون حاکم نه شي ، کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته قانوني تضمينونه ور نه کړل شي او دنړيوالو مرستو او کورنيو پانګو د پکار اچولو لپاره په کار پوه ، مجرب او زړه خوږي سپيڅلي ملي کدرونه د کارونو واګې په لاس کې وانخلي ، هيڅ امکان نه لري چې دنړيوالې مرستې کونکو او کورنيو او بهرنيو پانګې اچوونکو باور لاسته راوړل شي او په افغانستان کې خپلې پانګې په کار واچوي. په د ې ډول به ډيره سخته وي چې د هيواد دبيا جوړولو چارې په برياليتوب سره پر مخ يوړل شي.
په هيواد کې هيڅ شی نه شته چې يا بيخي او يا څه ناڅه وران شوی او له منځه نه وي تللی. د هيواد ټولې طبيعي ، علمي او تخنيکي زيرمې سختې تاواني شويدي او بيا رغاونه او په کار اچونه غواړي . دهيواد تعليمي ، اقتصادي ، تخنيکي ، زراعتي او د اوبو لګولو ټول سيستمونه د اوسنيوضرورتونو د پوره کولو جوګه نه دي ، بدلون او بيا جوړونه غواړي . له دې چې تير شو ، افغان لوړ اخلاقي معيارونه بيرته راژوندي شي اود مادي بيا رغاونې تر څنګ ، معنوي بيا رغاونه له هر بل وخت څخه ډيره ضرور ده . وطنپالنه ، رښتينولي ، پيرزوينه ، ديانت ،

پټمنتوب ، زړه سوی ، یووالی او باور د غداری ، جنایت ،منافقت ، ځان غوښتنې ، بې پتی ، کینې ، بې رحمی ، بیلوالي او بې باوری پر ځای بیرته د پخوا په څیر په افغاني ټولنه کې خپل وړ ځای ونیسي .
د افغانستان بیا رغاونه ډیرې مادي اومعنوي زیرمې غواړي ، چې یوشخص او یا ډله یې د پوره کیدو وس نه لري او د ټولو افغانانو ، په خاص ډول د ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو ملي دنده ده چې دخپل هیواد مادي او معنوي بیا رغاونې لپاره لاسونه یوکړي او په شریکه بې له هر ډول توپیر نه په ټینګ ملي یووالي سره پر یو پلاتفورم راټول شي او خپل هیواد نور د تل لپاره د پردیو د لاسوهنو پواسطه منځته راغلو ویجاړ تیاوو نه روغ رمټ راوباسي.
په رسمي ډول دځینو ګوندونو ثبت او راجستر دې ګوندونو ته دا امکانات برابر کړیدي ، ترڅو د پراخو پرګنوسره خپلې اړیکې ټینګې کړي ،خپلو سیاسي متحدینو سره نژدې شي ، خپلې غوښتنې اوسپارښتنې په ډاګه د ټول ملت په سطح مطرح کړي او د چارواکو پام ورته راواړوي . په انتخاباتو کې د یوسیاسي ځواک په حیث تثبیت او سیاسي فعالیت پر مخ بوځي اوپه دې ډول د هیواد په دننه کې د سیاسي ثبات په ټینګیدو کې فعاله برخه واخلي.
لنډه دا چې د افغانستان ملي یووالي ګوند د ۱۳۸۲ کال د حوت د ۱۸ نیټې نه وروسته په افغانستان کې د یو راجستر شوي قانوني ، سیاسي ګوند په حیث په کار پیل کړیدي او سره له دې چې دې ګوند هیڅکله د افراط او تفریط نه کار نه دی اخستی اوتل یې د افغانستان دخلکو ملي ګټې په پام کې نیولي او د اسلام دمقدس دین د ارزښتونو او غوره افغاني عنعنوسره سم خپلې کړنې عیارې کړیدي . خو بیا هم ضرور ده چې په اوسنیو شرایطو کې د ګوند د نظر ټکي یوځل بیا په ډاګه شي او د ګوند دغړو ، مینه والو او لوستونکو پام ورته راواړول شي.

۱-دګوند ټول غړي خپل مکلفیت ګڼي چې د ګوند د تګلارې په نظر کې نیولو سره د خلکو د عنعنو درناوی وکړي اود اسلام د مقدس دین پر احکامو او شعایرو ټینګ ولاړ او پابند اوسي .
۲-د ګوند ټول غړي به د هر ډول شخصي او ګروپي ګټو نه د افغانانو ملي ګټې لوړې ګڼي او خپل ټول کارونه به د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره عیار او سرته رسوي .
۳-د ګوند هر غړی به د هر هغه څه نه چې د اسلام دمقدس دین په نزد بد اوګناه ګڼل کیږي اوخلکو ته ټولنیز ، اقتصادي اوسیاسي تاوان پیښوي ، لکه رشوت ، اختلاس ، قاچاق ، په خاص ډول د نشه ایي توکو قاچاق او استعمال او داسې نورو څخه نه یواځې په کلکه ځان وساتي ، بلکې په مخنیوي کې به یې تر خپلې وسې پورې له هیڅ ډول هلو ځلو نه ډډه نه کوي.
۴-د ګوند هر غړی باید په خپل چاپیریال کې د یو بادیانته ، متقي ، زړه سواندي ،صادق ، دنیکو اخلاقو او صفاتو خاونداو په خپلو خلکو او وطن باندې مین افغان په توګه پیژندل شوی اوسي . د ګوند غړو ته ښایي چې په عمل کې ثابته کړي چې دوئ دخپل وطن اوخلکو رښتیني خدمتګاران دي.
۵-دګوند هر غړی باید دخپلو خلکو په دردونو باندې دیو دردمند انسان په توګه دهغوئ له ستونزو څخه خبر او په اوارولو کې یې هلې ځلې وکړي او د ضرورت په صورت کې یې د اوارولو لپاره د خپل ګوند او اړونده دولتي مقامونو پام راواړوي.
۶-د افغانستان ملي یووالي ګوند بنسټیزه غوښتنه د افغانانو تر منځ هر ډول بې اتفاقۍ ، تبعیض او تعصب له منځه وړل ، د سولې او دموکراسۍ ټینګول ، د بشر حقوقو ته ددرناوي پر بنسټ د افغانانو تر منځ د ښو اړیکو ټینګوالی ،د خلکو سوکالي او دهیواد بیا رغاونه ده . د ګوند هر

غړي ته ضرور ده چې د ټولو دغوکارونو د سرته رسیدو په خاطر ځان دیوربښتیني اومتعهد مسلمان او افغان په توګه مکلف وګڼي اود نورو وطنپالو هیوادوالوسره یوځای خپلې دغه ملي دندې سرته ورسوي .
۷-د افغانستان ملي یووالي ګوند د هیڅ ډول تبعیض او تعصب سره که دا قومي ،ژبنی ،مذهبي اویا نور وي جوړه نه شي کولای . نو ځکه دافغانستان ملي یووالي ګوند هر غړی نه یوائې دا چې هیڅ ډول تبعیض او تعصب نه لري ، بلکې د ټولو افغانانو تر منځ د مینې ورور ګلوۍ اویووالي لپاره هلې ځلې کوي . ددې لپاره چې په دې کار کې بریالیتوبونه لاس ته راشي ، د افغانستان ملي یووالي ګوند ټول غړي ، په خاص ډول کدرونه غوره بولي چې د خپلې مورنۍ ژبې تر څنګ د ټولو افغانانو سره د ښه افهام اوتفهیم په خاطر لږ ترلږه د هیواد په دواړو ژبو ، پښتو او دري باندې پوهیدلو او خبرو کولو وړتیا ولري.
۸-د افغانستان ملي یووالي ګوند باوري دی چې د یوخپلواک ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا لرونکي افغانستان د بیارغونې ، پرمختګ اوترقۍ لپاره د ټولو افغانانو تر منځ یووالی او وروري لازمي شرط دی. خودا یووالی او وروري یوائې په هغه صورت کې ټینګیدای شي ، چې ټول افغانان بې له هر ډول توپیر نه د قانون په وړاندې یوشان حقوق اومکلفیتونه ولري اوهیڅوک له قانون څخه سر غړونه ونه کړي . د وسلو پر ځای قانون حاکم وي او ټولې وسله والې ډلې خپلې وسلې ملي اردو ته ، چې د افغانانو ملي ګټو د ساتلو دنده په غاړه لري ، تسلیم کړي . هر څومره چې ژر دا کار سرته ورسیږي ، هم هغومره ژر د خلکو د سوکالۍ شرایط منځ ته راځي او دسولې او دموکراسۍ پروسې نه د خلکو ملاتړ زیاتیږي. نو ضرور ده چې دګوند هر غړی د خپل ګوند د نظر دپلي کولو لپاره هر اړخیزې هلې ځلې وکړي .

۹-د افغانستان ملي یووالي ګوند په عقیده په افغانستان کې د سولې او دموکراسۍ له پروسې نه د نړیوالې ټولنې ملاتړ ضروري عامل ګڼل کیږي. خو دا پروسه یواځې هغه وخت په بریالیتوب سره سرته رسیدای شي ، چې دافغانستان خلک یې تر شاودریږي او ملاتړ ترې وکړي. افغانان یواځې هغه وخت له دې پروسې نه ټینګ ملاتړ کوي ، چې له پروسې نه بیرون پاتې نه شي ا و ګډون پکې ولري. د افغانانو فعال ګډون یواځې هغه وخت شونی دی چې د سولې اودموکراسۍ پروسه پراخه اوژوره شي ، دوسلوپر ځای قانون حاکم شي اودسیاسي ډلو له لارې پراخه پرګنوته دملي پخلاینې اوتاریخې واقعیتونو په پام کې نیولو سره په سیاسي ،اقتصادي ، ټولنیزو او اداري چارو کې د ګډون زمینه برابره شي او په دغه ډول په هیواد کې د جګړې د دوام عوامل له منځه یوړل شي.

۱۰-د اساسي قانون او سیاسي ګوندونو د قانون په نافذیدو او د یوشمیر سیاسي ګوندونو په ثبت او راجستر سره د سولې او دموکراسۍ په پروسې باندې د خلکو باور زیات شوی دی. خو دا یواځې کفایت نه کوي چې څوګوندونه ثبت او راجستر شي او دمربوطه مقاماتو له خوا په رسمي ډول د سیاسي ګوندونو په حیث وپیژندل شي. د افغانستان ملي یووالي ګوند په نظر ضرور ده چې دې ګوندونو ته د فعالیت کولو دموکراتبکه فضا برابره شي او له هیڅ ډول فشار او ګواښ سره مخامخ نه شي. همدارنګه ټول افغانان د دې امکان ولري چې د سیاسي ګوندونو په جوړیدو کې برخه واخلي او که قانوني شرایط پوره کوي د قانون سره سم ثبت او راجستر شي او د رسمي ګوندونو په څیر د سولې او دموکراسۍ په ټینګیدو او دهیواد په بیا رغاونه کې فعاله برخه واخلي.

۱۱-په انتخاباتو کې د مختلفوسیاسي ګوندونو برخه اخستل د پلورالیزم پر بنسټ د هیواد سیاسي مشرتوب ټاکل دي. پلورالیزم"ډیر ګوندیز سیستم"یواځې په دموکراتیکه ټولنه کې د پلي کیدو وړ دی، چیرته چې

قانون حاکم وي. دا د ټولو افغانانو دنده ده چې د قانو ن دحاکمیت لپاره کار وکړي اوهیڅ ته اجازه نه وي چې قانون ته سپکاوی وکړي اودزور زیاتي نه خپلوشخصي او ګروپي ګټولپاره کار واخلي. د دې کار لومړنی ګام د ټولو وسله والو ډلو بې وسلې کول دي او دداسې ملي اردو اوملي پولیسو دځواکونو جوړول دي چې دقانون حاکمیت او په ټول هیواد کې امنیت او شخصي مصؤنیت تضمین کړي. البته دا کارونه تر ډیرې اندازې پورې د افغانستان دانتقالي اسلامي دولت دنده ده چې یې په هیواد کې د دموکراسۍ غوښتونکو شخصیتونو، ډلواو نړیوالې ټولنې په هر اړخیزو مرستو اوملاتړ سرته ورسوي. څه شی چې دافغانستان ملي یووالي ګوند پورې اړه لري، دا ګوند دخپلې کړنلارې سره سم د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د ټولو هغو هلو ځلو څخه، چې د سولې، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدو، دوسله والو ډلو بې وسلې کیدو، د قانون حاکمیت اودهیواد د بیا جوړیدو اوځمکنۍ سلامتیا د ساتنې په خاطر یې کوي، ملاتړ کوي او دغوسترو هیلو ته د رسیدوپه خاطر به نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کوي.

۱۲-دموکراسي هغه وخت ټینګیږي، چې افغانان د قانون سره سم د حکومتونو او پارلمان په منځته راتګ کې پراخه برخه واخلي. د انتخاباتو مشروعیت هم په دې پورې تړلی دی، چې څومره خلک د جمهور رئیس او د پارلمان د غړو په ټاکلو کې برخه اخلي. البته هر څومره چې انتخابات دموکراتیک وي اوپه سوله ایزه فضا کې بې له هرډول لاسوهنواو دګواښ او ډار پرته سرته رسیږي، په هم هغه اندازه د رای ورکوونکو شمیر به زیات وي او افغانانو او نړیوالوته به اعتبارولري. نو ځکه د دموکراتیکو انتخاباتو په سرته رسیدو کې باید لومړی تر هر چا د افغانستان انتقالي اسلامي دولت ددموکراتیکو شرایطو منځته راوړو لپاره هلې ځلې وکړي او نړیواله ټولنه باید په دې لار کې هیڅ ډول مرستې

او ملاتړ نه ډېره ونه کړي. د افغانستان ملي یووالي ګوند سربیره پر دې چې دانتخاباتولپاره د دموکراتیکوشرایطو په منځته راوړو کې د انتقالي اسلامي دولت مرسته او ملاتړ کوي ، خپله دنده بولي چې په انتخاباتو کې له امکاناتو سره سم د خلکو پرګنې په ټاکنوکې د برخې اخستولپاره وهڅوي او په ټاکنوکې د پراخې بر خې اخستو اهمیت ورته روښانه کړي.په خاص ډول د ګوند غړي به ډېر پام په ټاکنو کې د ښځو بر خې اخستو لپاره ، چې د افغانستان د وګړو نیمایي نه زیات جوړوي ، اړوي او په دې لار کې به د توضیحي او عملي هلوځلو نه ډېره نه کوي .

۱۳-په انتخاباتو کې د خلکو د پراخه ګډون په مخکې د پورتنیو نوموول شوو ستونزو سربیره ځینې تخنیکي ستونزې هم موجود دي ، چې باید اوارې شي. دا ستونزې د انتخاباتو لپاره د ثبت اوراجستر کمزوری کا ر جوړوي. د "یونما" دثبت او راجستر کم شمیر مرکزونه اوپه ډیرو ځایونو کې د دې مر کزونو نشتوالی ددې سبب شویدی چې ډیر کم شمیر افغانان په انتخاباتو کې دګډون کارتونه واخلي. په خاص ډول په ځینوله مرکز نه لیرې پرتو سیمواو په پاکستان اوایران اونورو هیوادونو کې چې لا اوس هم ډیر شمیر افغانان هلته ژوندکوي په انتخاباتو کې د ګډون لپاره دکارتونو دورکولو دمرکزونو نشتوالی د دې سبب شویدی چې ډیر شمیر خلک د ټاکنو د پروسې نه بیرون پاتې شي. د افغانستان ملي یووالي ګوند غړي دنده لري چې په هغو سیمو کې چې دیونما دکارتونو دویشلو مرکزونه نه شته ، دملګرو ملتونو او دولتي مربوطه مقاماتو پام د دغو مرکزونو جوړولو ته راواړوي او هم پراخه هلې ځلې وکړي ترڅو درای ورکولوټول مستحق نر او ښځې په ټاکنوکې برخه واخلي.

۱۴-د افغانستان ملي یووالي ګوند کدرونه مکلفیت لري چې د هیواد د جاري چارو په هکله د ګوند پالیسي په پراخه توګه د ګوند غړو ، افغانانو

اونړیوالو مؤسسو او ملګروملتونو استازوته ، چې زموږ په هیواد کې کار کوي ، روښانه اوتشریح کړي .

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۳کال د ثور پر ۳۰ نیټه د یووالي د جریدې د دویم کال په ۴ ګڼه کې خپره شویده .

## رښتیا ❋

د افغانستان دخلکو دښمنانو تل خپلو موخوته درسیدو لپاره د خلکو دغولولو په خاطر له هیڅ ډول ناروا درواغوڅخه ډډه نه ده کړې. ځکه که ټول خلک چیرته په رښتیا پوه شي ، نوبیا نه غولیږي ، خپل دوست اودښمن به پیژني او دښمنان نه شي کولای ځان ددوستانو په څیره وښایي او په ناپوهی کې زموږ خلک لوټ او هیواد مو وران کړي.

دا چې بهرنیو تیري کوونکو او ددوئ کورنیو لاسپوڅو وکولای شول زموږ خلک د دریو لسیزو څخه زیاته موده کې د جګړو په اور کې وریت او هیواد مو په کنډوالو بدل کړي ، دلیل یې د دښمنانو د ناروا درواغجنو پروپیګنډو مخکې بیول او دیوزیات شمیر خلکو نه د رښتیا پټول دي .

که چیرته خلکو ته رښتیا معلومه وای نوبیا خو په خپلو منځونو کې یوبل څخه نه بیلیدل اوددومره ستونزو سره نه مخامخ کیدل. له همدې کبله پر ټولو ملي دموکر اتوشخصیتونو اوډلو دین دی ، چې واقعیتونه بربنډ ، د درواغو تورې پردې څیرې اورښتیا رابر سیره کړي. تر څود واقعیتونو په رڼا کې د ټولو وطنپالو افغانانو ملي یووالی ټینګ شي ، ځانونه د بهرنیو او کورنیو دسیسو نه وژغوري او د بشپړ ې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا لرونکي سرلوړي افغانستان کې د سوکالۍ ، نیکمرغۍ او پرمختګ شرایط منځته راوړي او خپل هیواد د سیالوهیوادونو په لیکه کې ودروي.

د"رښتیا"همدا وتلې موخه ده چې په رښتیا پسې وګرځي . حرفوي درواغجنو او ټګانو په تیر وخت کې او اوس هم دټولو تیروشوو سیاسي پیښو او اوسنیو پیښو په هکله د افغانستان د غرونو په تول دروغ ویلي دي او وایي . د ټولو هغو توطیو او دسیسو مسؤلیت ، چې یې د افغانستان دخلکوپه مقابل کې کړي دي اوډیر زیات ځاني ، مالي او

معنوي تاوانونه يې ور اړولي دي ، په هغه چا غواړي وروتپي ، چې هغوئ هم د دوئ د دسيسو او خيانتونو ښکار شوي دي .
نو ځکه "رښتيا" خپله دنده بولي چې تر خپلې وسې پورې دغه درواغ رسوا او څه چې رښتيا دي خلکو ته وروپيژني . همدارنګه د ټولو دوستانو او "رښتيا" د مينه والو نه هيله کيږي چې د وطن د دښمنانو د درواغو په رسواکولو او دتيرو او اوسنيو پيښو په هکله خپل معلومات ، چې په واقعيتونو او رښتيا ولاړ وي ، را وليږي. تر څو په " رښتيا "کې له خپريدو نه وروسته د درواغجنوله مخونو څخه پردې ليرې او اصلي څيرې يې خلکو ته څرګندې شي .
"رښتيا"يوه آزاده ملي خپرونه ده ، چې په هيڅ سياسي ګوند او يا سازمان پورې تړلې نه ده . د دې خپرونې موخه يواځې او يواځې د افغانستان کړيدلو خلکو ته رښتيا ويل دي . چې په ټولو سياسي ، ټولنيزو او فرهنګي برخو کې به هڅه کوي د نظر دخاوندانو پوهه ، تجربه او د پيښو شننه خلکو ته وړاندې کړي. هيله ده چې په دې کار کې خداى (ج) له موږ سره مرسته وکړي او ددې وس راکړي چې په دې لار کې موبرياليتوب په برخه شي.

---

*- دا ليکنه درښتيا د جريدې د لومړۍ ګڼې لپاره ، چې د ۱۳۸۲کال د ثور په مياشت کې د ډاکترج. تړون په زيار يې په خپريدوپيل وکړ ، ليکل شوې وه .

## ولې د "ډيورنډ" تپل شوې کرغېړنه کرښه د منلوړ نه ده؟*

د ملي نواميسونه دفاع نه يواځې دحکومتونو، چې وسله وال ملي ځواکونه په واک کې لري دنده جوړوي ، بلکې دملت د ټولو غړو دنده ده ، چې د خپلو ملي نواميسو په ساتلو او دفاع کې له هيڅ ډول سربښندنو نه ډډه ونه کړي.
تاريخ ښودلې ده چې افغانانو تل د ملي نواميسو په دفاع کې سترې قربانۍ ورکړې دي . هر چا چې د دوئ پر خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا تيرى کړى دى ، ددوئ دکرکې ، قهر اومقاومت سره مخامخ شوي دي . تر څو يې ماتې خوړلې ده ، د تيري نه يې لاس اخستى دى اويا يې په توطيه اميز ډول د تيري شکل ته تغير ورکړى دى.
زموږ د هيواد په تاريخ کې دا ترخه واقعيتونه هم مو جود وو ، چې ځينو کسانو د خپلو شخصي ګټو په خاطر د افغانانو په ملي نواميسو معامله کړې او د تيري کوونکو په مقابل کې د مقاومت پر ځاى يې د دوئ غوښتنې پر افغانانو تپلې دي او يايې دخپلو ملي ګټو نه په دفاع کې خپله وړتيا نه ده ښودلې ، مبارزه يې پريښې او تيري ته تسليم شوي دي .
پر افغانانو باندې د ديورند د منحوسې ، د انګريزي استعمارچيانو په واسطه په زور تپل شوې کرښې په هکله دا خبره بيخي د دغو واکدارانو او قومي مشرانو ، چې کولاى يې شول خپل مقاومت او ضديت وښايي او نه يې دى ښودلى رښتيا ده . دا کار دا ثابتوي ،چې دغو کسانو يا د تاج او تخت په خاطر اويادنورو ډيرو وړو شخصي ګټو په خاطر د افغانستان له ځمکنۍ بشپړتيااو دغې ملي داعيې نه څرنګه چې لازم ودفاع نه ده کړې او استعماري توطيوته تسليم شوي دي . چې افغانان هيڅکله دوئ نه ښني او هيڅکله به د انګريزي استعمار دغه د غدر او زور بيلګه ونه

مني.
خو په خواشينۍ سره شته دی ځيني پوچ مغزه تنګ نظري ، بې وطنه ، متعصب ، پردو پورې تړلي کسان او ډلګۍ چې د افغانانو د ملي نواميسونه د دفاع پر ځای يې د تسليم طلبۍ په اوتو بوتو لاس پورې کړی دی او په ډيرې بيشرمۍ او غلام صفتۍ سره د "ډيورنډ "د منحوسې کرښې د په رسميت پيژندلو د غوښتنې جرئت کوي. د دې کسانو دليل دادی چې د افغانانو ستونزې ، د بهرنيو هيوادونو او په خاص ډول دپاکستان ، د لاسوهنو څخه منځته راغلې دي او دا ځکه چې موږ د ډيورنډ کرښه په رسميت نه پيژنو. ياني د خپلې ځمکنۍ بشپړتيا له داعيې څخه نه تيريږو. دوئ پر دې نه پوهيږي چې د فغانستان په ويشلو او کمزوري کولو سره يې لار بهرنيو لاسوهنو ته جوړه کړې ده ، که چيرته افغانستان ويشل شوی او کمزوری شوی نه وای هيڅا يې په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه شوه کولای.
دوئ هغه څوک چې نه غواړي د ديورند کرښه په رسميت وپيژندل شي ملي ګرايان بولي او په دې يې ملامتوي چې د ټولو افغانانو ګټې په نظر کې نه نيسي او يواځې غواړي د ډيورنډ دواړو خواوو پښتانه يو ځای شي او داسې افغانستان جوړ شي چې پښتانه پکې اکثريت وي . خو دوئ په دې هم نه پوهيږي چې اوس هم په افغانستان کې پښتانه اکثريت قوم دی او د نورو قومونو سره يو ځای په ورورګلوۍ کې ژوند کوي اود نورو ورونو قومونو سره يوځای د خپل هيواد او خلکو د ملي ګټونه دفاع کړې او کوي او له دې کبله دنورو ټولو هيواد پالو افغانانو پشان د پرديو او د دوئ د نوکرانو له توطيوو نه درپه در خاورې په سردي . دنړۍ اکثريت هيوادونه يو له بل نه د طبيعي پولو په واسطه بيليږي او که په تحميلي ډول په زور يا جبر سره پکې دمؤقت وخت لپاره غير طبيعي پولې لکه د" برلين ديوال "منځته راغلې وې ، دغه پولې هيڅکله تلپاتې نه وې

ا و د وخت په تیریدو سره له منځه تللي او د تاریخ په اوږدو کې منځته راغلي ملتونه د طبیعي پولو په دننه کې بیرته یوځای شوي دي. د تاریخ په اوږدو کې که له ځینو مؤقتو بدلونونو نه تیر شو، نو د افغانستان طبیعي پولې له آمو نه تر اباسینه پورې غزیږي ، چې ورته جغرافیوي جوړښت ، قومي- ژبني ، تاریخي او کلتوري یووالی ، یودوست او دښمن او شریک غم او ښادي لري . په خاص ډول کله چې د "ډیورنډ" منحوسې کرښې نه یواځې یوهیواد ، چې شریک اوږد تاریخ لري ، بلکې یوقوم ویشلی دی . نو ځکه د ډیورنډ کرښه هیڅ یوافغان ته د منلو وړ نه ده او باید دا هیواد ددې کرښې پواسطه ویشلی پاتې نه شي او د انګریزي استعمار دغه منحوسه توره نښه باید له منځه ولاړه شي . دا چې ځینې کسان دهغه تعصب اوکینې له مخې چې یې دپښتون قوم سره لري او وایي چې د ډیورنډ منحوسه کرښه باید په رسمیت وپیژندل شي ، چې ترڅودغه ویشلي پښتانه سره بیرته یوځای نه شي . دا په واقعیت کې ددوئ دملي ګټو ضد ماهیت اوخپل هیواد او افغانانوسره جفا او خیانت په ګوته کوي. چې ددې لپاره چې پښتانه په اصطلاح اکثریت نه شي ،نو حتی دملي نوامیسو د یوې غورې برخې سره ، چې ځمکنۍ بشپړتیا ده ، په جفا او خیانت کولو هم اسره نه کوي .

داسې متعصب او تنګ نظري کسان په دې نه پوهیږي چې په افغانستان کې د ګاونډیو هیوادونو لاسوهنې زموږ دهیواد دکمزورۍ اوبې اتفاقۍ زیږنده ده ، نه دډیورنډ دمنحوسې کرښې په رسمیت نه پیژندلو . دوئ نه پوهیږي چې یواځې یولوی ، ځواکمن اومتحد افغانستان کولای شي ژوندی پاتې شي ، نه یو وړوکی ټوټې شوی اوپه خپلو منځونو کې بې اتفاقه افغانستان . دوئ پر دې هم نه پوهیږي چې دیوهیواد دملي نوامیسو نه پخپله دهغه هیواد خلک دفاع کوي ،نه داچې د نورو هیوادونو نه د خپلې خپلې خپلواکۍ ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا

دفاع او ساتنه غواړي. اويا دغسې کسان په دې ټولوشيانو پوهيږي ،خو د خپلواک اوسرلوړي ژوندنه ورته د بلواکۍ اوغلامۍ ژوند خوند ورکوي.

ربښتيني افغانان په دې باور لري چې د افغانستان ټول خلک دخپلو ملي نواميسونه په کلکه دفاع کوي او د ډيورنډ دمنحوسې استعماري تپل شوې کرښې په رسميت پيژندل دخپلو ملي ګټو پر ضد توطيه اوخيانت ګڼي اوهيڅکله به يې ونه مني. بې دخلکو د مستقيمې ارادې اوګډون څخه نور هيڅوک ، نه جمهور رئيس ، نه حکومتونه ، نه پارلمانونه اونه فرمانشي جرګې ، هيڅوک د دې حق نه لري چې د ډيورنډ منحوسه کرښه په رسميت وپيژني. هر هغه څوک چې دغه خيانت ته ملا وتړي بې له شکه دټولو افغانانو د نه پخلا کيدونکې دښمنۍ سره به مخامخ شي.

افغانان فکر کوي چې دنړيوالې ټولنې د څواکونو موجوديت بايدافغانانو له حقوقو نه په دفاع اودبهرنيو هيوادونو ، په خاص ډول د ګاونډيو هيوادونو د لاسوهنو په مخنيوي کې مرسته وکړي ، نه داچې دپخوانيو استعماري توطيو دژوريدو سبب شي. افغانان د خپلوملي نواميسو نه په دفاع مکلف دي اوهر څوک چې ددوئ سره په مخالفت کې ودريږي ، په واقعيت کې د دوئ د کرکې ، مقابلې او مقاومت سره څان مخامخ کوي. افغانانوته د ډيورنډ کرغيړنه کرښه په دې لاندې دليلونو دمنلو وړ نه ده.

۱-په هغه وخت کې چې د انګريزانو او امير عبد الرحمن خان تر منځ د "ډيورنډ "په نوم کومه لوزنامه منځ ته راغلې ده ، په هغه وخت کې برطانيه استعماري دولت و او افغانستان د برطانيې نيمه مستعمره وه. يانې د لوزنامې دواړو خواوو ، برطانيې او افغانستان يوشان سياسي موقف نه د رلود. چې په دې ډول دغه لوزنامه چې د استعماري دولت او

مستعمرې ترمنځ شوې وه ، له قانوني او حقوقي پلوه بې ارزښته ده او دنړیوالو نورمونوسره سمون نه لري .
۲-د نړۍ پر سرنژدې ټول هیوادونه یوله بل نه دطبیعي ،تاریخي او جغرافیوي عواملو او ځانګړتیاوو له مخې بیل شویدي . دغه طبیعي عوامل یا ځانګړتیاوې د غرونو او سیندونو موجودیت دی چې تیریدل راتیریدل ترې ستونزمن وو اویاد ځانګړو قومونو او ټبرونو موجودیت ، دمیشت کیدو ځانګړتیاوې او تاریخي قدامت و چې ځانګړي هیوادونه ترې منځ ته راغلي دي . په یو ځانګړي جغرافیوي محیط کې د شریک تاریخ شریک کلتور او فرهنګ او شریک قوم اوژبې او شریک اقتصاد خلک یو ملت جوړوي چې دبیلیدو او تجزیې وړتیا نه لري . افغانان په طبیعي ډول یو ځانګړي جغرافیوي محیط کې له آمو نه تر اباسینه پورې راټول شوي دي . په زور او جبر یوه برخه د انګریزي استعمارچیانو پواسطه له خپلې اصلي برخې نه پرې شوې او دپنجاب سره ، چې هیڅ شریک تا ریخ ، شریک کلتور ، فرهنګ ، قوم اوژبه ورسره نه لري ، نښلول شویده چې دا کار دټولو نړیوالو نورمونو او دبشر له حقوقو سره په پوره ضدیت کې دی ، باید پای ته ورسیږي.
۳-د "ډیورنډ " لوزنامه د انګریزي استعمارچیانوسر ه په مؤقت ډول ، په داسې وخت کې په نښه شوې وه ، چې انګریزانو دهند او افغانستان خاوره په زور لاندې کړې وه او ددغو هیوادونو سیاسي واک اواختیار د دوئ په لاس کې و . کله چې انګریزان دهند له نیمې وچې نه ووتل ، نو ورسره ټولې لوزنامې چې د افغانستان اوبرطانوي هند تر منځ شوې وې داعتبار نه ولویدې . برطانیه یو استعماري ځواک وچې دخلکو د مبارزو له امله یې په سیمه کې واکمني پای ته ورسیده ا و هند او نوري سیمې یې له استعمار نه وژغورل شوې . برطانوي استعمار چیانو کوم میراث خور نه

درلو د ، او نه يې څوک مني ، چې د استعماچيانو سره د لوزنامو دعوه وکړي .
**۴**-د "ډيورنډ"لوزنامه هيڅکله هم د خلکو او يا د خلکو د استازو له خوا نه ده تائيد شوې. خلکو له اول نه تر آخره پورې ددې لوزنامې سره خپل مخالفت ښودلی او رد کړې يې ده . نو ځکه هغه لوزنامه چې خلک يا د خلکو استازي يې و نه مني هيڅکله د منلو وړ نه ده.
**۵**-په يو هيوادکې هغه خلک سره راټوليږي چې د تا ريخي ،اقتصادي، قومي ، ژبني ، کلتوري ، فرهنګي او عنعنوي پلوه سره يووالی او نژديوالی ولري ، نه دا چې ددې اړخونو په نظر کې نيولو سره بشپړ توپير او تضاد ولري. دا ډيره ناشونې خبره ده چې د افغانستان خلک دې ، چې پورتني ټول بنسټونه يې يو دي ، وويشل شي او يوه لويه برخه يې د هغه چا سره وتړل شي چې په دې ټولو شيانو کې نه يوا ځې يووالی او ورته والی نه لري ، بلکې بيخي توپير او حتی يوبل سره تضاد لري . د افغانانو ، په خاص ډول پښتنو ويشل او يوه لويه برخه يې په پنجاب پورې تړل د ټولو نړيوالو نورمونو تر پښولاند ې کول دی . پنجاب تل هڅه کړې ده چې د نورو خلکو ، په خاص ډول پښتنو ، ټول تاريخي ، اقتصادي ، قومي ، ژبني ، کلتوري او فرهنګي ارزښتونه له منځه يوسي . د افغانستان او پاکستان دواړو ګاونډيو هيوادونو دوستانه اړيکو ټينګيدل نه يوا ځې ددې دووهيوادونو لپاره ، بلکې په سيمه کې د ډير ارزښت وړ دي. خو دا اړيکي هيڅوخت د افغانانو دملي ګټو او ځمکنۍ بشپړتيا په تر پښو لاندې کيدو او د پښتنو په بې هويته کيدو تر سره نه شي. پاکستان بايدنور په دې ۲۱ پيړۍ کې استعمار ي دزور سياست ته د پای ټکی کيږدي . د افغانانو ملي ګټو ، او په خاص ډول ځمکنۍ بشپړتيا ته د رناوی وکړي او دنړيوالو قوانينو په نظر کې نيولو سره پر يوبل باندې د دواړو ګاونډيو هيوادونو حقوقو ته په درنه سترګه

وګوري ، دافغانستان په کورنيوچاروکې لاسوهنه ونه کړي اوزموږ په هيواد کې جګړوته دلمن وهلو پر ځای د سولې په ټينګيدوکې مرسته وکړي.
دا به د دواړو هيوادونو په ګټه وي چې د تاريخ په رڼا کې د دواړو هيوادونو ترمنځ د پولې مسئله په سياسي سوله ايزډول اواره شي ، نه د اغزنو مصنوعي مزو په غزولو لاپسې اغزنه شي .

---

*-دا ليکنه د ۱۳۸۲کال دثورپه مياشت کې د "رښتيا "دجريدې په لومړۍ ګڼه کې خپره شويده .

# په ایران او نورو ځایونو کې د افغان مهاجرینو د ستونزو او کړاوونو مسئول څوک دی ؟*

په معاصره نړۍ کې خلک د نړیوالواوکورنیو قوانینو سره سم خپل نورمال ټولنیز ژوند پر مخ بیایي. په ټولنه کې دانسانانو تر منځ اړیکي یودبل سره د مرستې پر بنسټ ،چې د طبیعي ستونزو په مقابل کې په مبارزه کې له پښو ونه لویږي ، ولاړ دي . خو له طبیعت نه د نعمتونودلاسته راوړو او ویش په برخه کې ډیر ځله د انسانانو تر منځ د مرستې روحیه په خصومت بدله شویده او دا پر دې ، چې ځیني ځان غوښتونکي او حریص انسانان ددې لپاره چې تر نورو ډیر نعمتونه لاس ته راوړي ، دمرستې روحیه په خصومت بدله کړې ده اونړیوال اوکورني قوانین یې تر پښولاندې کړي دي.

د جګړواو دښمنیو سرچینه هم په نړۍ کې د هیوادونو تر منځ او هم په یو هیواد کې د ډلو ، قومونو او کورنیو تر منځ د ځان غوښتونکو حریصو انسانانو تیری دی چې دنورو هیوادونو دخلکو او یاپه یوهیواد کې د یوې او یا څوډلو له خوا د نورو ډلو او خلکو دشتمنیو د لاسته راوړو لپاره سرته رسیږي.

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د ۱۳۵۸کال دجدي د ۶ نیټې تیري نه وروسته نه یواځې په میلیونونو افغانان له منځه ولاړل ، معیوب او معلول شول ، بلکې په میلیونونوړد خپلوکورونو او استوګن ځایونو پریښودو ته اړویستل شول. چې ډیر یې په ګاونډیو هیوادونو پاکستان اوایران کې کډوال شول. د پاکستان او ایران هیوادونو تر څویې د لاسه کیدل د افغان کډوالونه ناوړه ګټه واخسته. ټول شاقه کارونه دکډوالو په برخه شول. نه یواځې پر ی ې د دغو هیوادونود چارواکو له خوا ستونزې او

کړاوونه تیریدل او د غیر انساني ، ظالمانه چلند سره به مخامخ کیدل ، بلکې ډیر افغان مهاجرین ایرانیانو دعراق سره په جګړه کې د سرتیرو په څیر استعمال کړل . پاکستان هم له ایران څخه کم نه و . دپاکستان چارواکو چې څومره د لاسه کیدل افغان مهاجرین یې دکشمیر په جګړو کې استعمال کړل. د پولیسو له خوا دځورولو سره سره دپاکستان په کوڅو او ښارونو کې څه شاقه اوارزان کارونه چې وو ، هغه دافغان مهاجرینو په برخه وو.

افغان کډوال د پاکستان او ایران لپاره د بې اندوله عایداتو منبع وګرځیدله . که به دنړۍ نورو هیوادونو اویا ملګروملتونو د افغان کډوالو سره مرسته کوله هغه به نژدې ټول پاکستاني او ایراني چارواکو اخستله اوډیره کمه برخه به یې کډوالو ، هغه هم قوماندان صاحبانو ته ورکوله. یانې اوس چې د پاکستان او ایران اقتصاد او تخنیک دومره پرمخ تللی دی ، دا د افغان کډوالو د استثمار له کبله دی. یانې د افغان کډوالو سره دنړیوالو مرستو څخه غلا اود افغانانو له خوا دډیرو ارزانو او شاقه کارونه سرته رسیدل ، د دغو دوو هیوادونو د بډایتوب لپاره بنسټیزه منبع وه.

پاکستان او ایران پر افغانانوباندې له هغې بدې ورځې څخه ، چې د شورویانودتیري له کبله پر دوئ راغلې وه لانوره هم ناوړه ګټه واخسته اودافغانستان د ویشلوخوبونه یې لیدل. دې دوو هیوادونو افغانانوسره د نړیوالې ټولنې دمرستو څخه دځان په ګټه ډیر کار واخیست. څرنګه چې دغه مرستې په مستقیمه توګه د افغانانو سره نه کیدې او د دې دوو هیوادونو د دولتونو له لارې ورکول کیدې ، نو ځکه پاکستان او ایران د دغو مرستود غیر عادلانه ویشلو پر بنسټ ځانته مزدورې ډلې او اجنټان وروزل . څوک چې به ددوئ ډیر اوریدونکي اولاس په نامه سړي اویا ډله وه ، هغوئ ته به تر هر چا غوره برخه ورکول کیده. چې په دې ډول یې په

افغانانو کې د بې اتفاقۍ روحیه پیاوړې او د شورویانو له وتلو نه وروسته خپلمنځي جګړې جاري وساتلې او په زرګونو افغانان د دغو ګاونډیو هیوادونو د توطیو او لمسوونو په نتیجه کې دې هیوادونو پواسطه جوړو شوو ډلو ترمنځ جګړو کې له منځه ولاړل او د کابل په ګډون ډیر ښارونه په دې جګړو کې په کنډوالو بدل شول .

د افغانانو په کړاوونو او د افغانستان په بربادۍ کې هغومره چې شورویان مسؤلیت لري ، له هغوئ نه وروسته ټول هغه هیوادونه ، چې د افغانستان په ستونزو کې ښکیل او لاس درلود ، له مسئولیت څخه نه شي خلاصیدای. په خاص ډول پاکستان او ایران ،چې دافغان کډوالو د موجودیت نه په خپلو هیوادونو کې د خورا ډیرو شتمنیو خاوندان شول او افغانان یې د خپلو سیاسي او جګړه ایزو موخو له کبله دسترو ځاني ، مالي اومعنوي تاوانونو سره مخامخ کړل . خو کله چې دغو موخو ته ورسیدل او نړیوالې ټولنې هم خپلې مرستې بندې کړې ، نو افغانان ورته د مهاجرینو څخه په دښمنانو بدل شول او داسې چلند یې ورسره پیل کړ چې په جګړو کې اسیر شوو دښمنانوسره به هم څوک داسې خصمانه ، د سپکاوي او دښمنۍ نه ډک چلند ونه کړي.

د شورویانو یرغل او دنورو هیوادونو ، په خاص ډول پاکستان او ایران ، له لاسوهنو او په سختۍ کې د افغانانو سره دمرستې پر ځای دستونزو د زیاتیدو له هڅو نه که تیر شو نو نړیوالې ټولنې ، په خاص ډول امریکې او متحدینو ، خو ژمنې کړې وې چې په افغانستان کې به سوله او ثبات منځ ته راځي ، د تروریزم او مخدره موادومخه به نیول کیږي ، افغان کډوال به بیرته په خپله خوښه خپل هیواد ته راستنیږي او افغانانو سره به مرسته کیږي چې په خپل هیواد کې د دموکراسۍ د اصولوسره سم د خپلې خوښې حکومت منځته راوړي. خو څه ژمنې چې شوې وې ، یوه یې هم نه یوائې داچې سرته ونه رسیده ، بلکې د سولې او ثبات پر ځای جګړې

زياتې شوې ، ځان مرګي چاودنې چې مخکې ورسره هيڅ بلديت نه و په ورځنيو پيښو بدلې شوې دخلکوپر ځای جنګ سالارانو سره مرسته وشوه چې دهيواد پر سياسي ، اقتصادي او نظامي برخو کې بې پوښتنې واکداران شي ،دخلکو پر هيلو اوغوښتنو ملنډې ووهي اودحق غوښتنې ټيټ اواز هم په ستونوکې خفه کړي. همدا سبب دی چې د بې امنيتی ، بېکاری ، لوږې ، فقر او اختناق له کبله ، نه يوازې دا چې پخواني کډوال نه شي کولای راتګ ته زړه ښه کړي ، بلکې په زرګونونور له هيواد څخه تښتي.

اوس بايد دا په ګوته شي چې په ايران اونوروځايونو کې د افغان کډوالو د ستونزو اوکړاوونو مسؤليت د چا په غاړه دی ؟ . هغومره چې د دغوهيوادونو، چې افغان کډوال ترې په زور ويستل کيږي او ددوئ امنيتي ځواکونه ، په خاص ډول په ايران کې ، ورسره دا سلامي اخوت ، ګاونډيتوب حق اود هغو پروتوکولونو ،چې د رباني او کرزي له خوا ورسره د پارسي ژبو هيوادونو فرهنګي پروتوکول په نوم لاسليک کړي دي ، په ضديت کې د چلند مسؤليت په غاړه لري ، همدومره ، داچې دخپلو مهاجروهيوادوالو لپاره د افغانستان دولتي مقاماتو هم څه نه دي کړي ، ددې ټولو ستونزو مسئوليت په غاړه لري .

د طالبانو درژيم له نسکوريدونه شپږ کاله تيريږي. په دې شپږو کلونو کې بايددولت د سولې او امنيت د ټينګيدو اود هيواد د بيا رغاونې په برخه کې ډير کارونه سرته رسولي وای . لکه د افغاني کډوالو خپل هيواد ته دبيرته راستنيدو او ميشت کيدو لپاره دمناسبو شرايطو منځته راوړل . خو په دولت کې د فسادونو له کبله نه يوازې داچې د سولې اوثبات او بيا رغاونې او دکډوالو دبيرته راستنيدو اوميشت کيدولپا ره هيڅ د پام وړ کار نه دی شوی ، بلکې دشرايطو د خرابيدو له کبله له هيواد نه زيات شمير خلک د وتلو په حال کې دي . افغان مهاجرينوته دبې وطنه

انسانانو په څیر په سپک نظر کتل کیږي او ډیر یې په خاص ډول په ایران کې د غیر انساني او وحشت له چلندسره مخامخ دي . چې په دې ډول د افغان کډوالو په ستونزو کې دکوربه هیوادونوسربیره د افغان دولت د چارواکو مسئولیت لاپسې ډیر ستر دی.

*-دا لیکنه د **١٣٨٢**کال دجوزا دمیاشتې د "رښتیا"په دوهمه ګڼه کې خپره شویده.

# آیا دامریکااوناټوژمنې پوره کیدونکې دي ؟*

امریکا اومتحدینویې ژمنه کړې وه ، چې دافغانستان په هکله تیرې تیروتنې به سموي ،بیابه دافغانستان خلک یواځې په ستونزو کې نه پریږدي او افغانانو سره به مرسته کوي چې خپلې ستونزې اوارې کړي ،خپل هیوادکې سوله ټینګه کړي ، دمخدره موادو د تولیداو قاچاق مخه ونیسي ، د بشر دحقوقو او دموکراسۍ د اصولوسره سم په خپله خوښه داسې یوحکومت منځته راوړي چې ټولو افغانانو ته دمنلو وړ وي او ملاتړ ترې وکړي.

خوپه خواشینۍ سره ، څه ژمنې چې شوې وې د یرغل د لومړۍ ورځې د پیل سره سمې له پامه وغورځیدې . ډیر بیګناه افغانان د B-52 الوتکوپه بمباریو کې له منځه ولاړل . دبشر پر حقوقو ملنډې ووهل شوې ،چې په زرګونو دجګړې اسیران طالبان د تسلیمیدونه وروسته څه په لار اوڅه په جنګي قلعه کې دامریکایي بمباریو او شمالي ټلوالې ، په خاص ډول دوستم دملیشې له خوا له منځه یوړل شول. او د طالبانو په مقابل کې داتحاد پر نوم سیاسي ، اقتصادي اونظامي قدرت شمالي ټلوالې ته ور وسپارل شو. دامریکائیانو په ډاډاو مرستې شمالي ټلوالې په ټول هیوادکې دسقاو دځوی دوره راژوندۍ کړه. هرچا چې به د دوئ سره اړیکي نه درلودل ، نو پر هغه به دطالب او القاعدې ټاپه وهل کیده. په خاص ډول که به پښتون و ، نوبه هرو مرو طالبانو پورې تړل کیدل او دډول دول سپکاوي ، شکنجواو خطرونو سره مخامخ کیدل.

څرنګه چې د دولت ټول نظامي واک د شمالي ټلوالې سره و او امریکائیانو هم ددوئ په مشورې او شیطانۍ د طالبانو د ځایونو د بمباریو په نوم په پښتون میشتو سیموکې ډیر ځلې دبیګناه خلکو په غم او ښادۍ کې د راټولیدو پر ځایونو بمباریوته دوام ورکړی دی . دمثال په

ډول د ارزګان په ولایت کې پر واده باندې د شپې له خوا بمبارۍ کې د ناوې اوزوم په ګډون ګڼ شمیر بیګناه خلک پکې په شهادت ورسیدل دامریکایانو او متحدینو په ژمنو د نه باور کولو لومړۍ بیلګه ده . ددې لپاره چې د بیګناه خلکو پر ضد پر خپلې ګناه پرده واچوي په دروا غو پلمه جوړوي چې له ځمکې نه د امریکایانو په جنګي الوتکو د ټوپک له ډزو څخه وروسته دوئ عکس العمل ښودلی دی. ځو ورځې وروسته په خوست کې د جنازې په مراسمو بمونه وغورځول شول او ګڼ شمیر خلک پکې په شهادت ورسیدل . نه یواځې هوایي بمباریوله کبله په هرات ، هلمند ، قندهار ، ارزګان ، پکتیا ، ننګر هار ،کونړ، کاپیسا او نورو ځایونو کې ډیره مرګ ژوبله بیګناه ملکي خلکو ته واوښته ، بلکې د امریکایي او ناټو ځمکنیو ځواکونو په هرات( شینډنډ ) ، هلمند ، قندهار پکتیا ، ننګرهار اونورو ولایتونو کې د وسلو اوتالاشیو په پلمه دخلکو کورونو ته په زور ننوزي اوبې له توپیره په دې بهانه ، چې مخالفین دي ، د بیګناه خلکو وژل دهرې ورځې خبرونه جوړوي . د بشر دحقوقو د ټولو نورمونو سره په ضدیت کې بهرني ځواکونه د کورنیو اردلیانو په ملتیا هره ورځ د بیګناه اوبې وسلې سوله غوښتونکو خلکو کورونوته ، په دې پلمه چې دلته طالبانو ځانونه پټ کړي دي ، په زور ور ننه وځي او له وحشت او انساني ضدکارونوځنې ډډه نه کوي او په بیرحمۍ سره د ښځو ، ماشومانو اوبوډاګانو په ګډون ګڼ شمیر بیګناه خلک وژني اود ډول ډول شکنجوسره مخامخ کوي.

همدارنګه د وسلو په ټولولو کې د توپیر او تبعیض نه کار اخستل کیږي. په هغو ولایتونو کې چې د طالبانو له خوا پکې خلک بې وسلې شوي وو او هیڅ درنې وسلې چا نه درلودې حتی د خلکو کورونه تالاشي کیږي ، تر ځو سپکې وسلې هم راټولې کړي . خو په نورو هغو ولایتونو کې چې د جنګسالارانو سر ه دامریکې پټه معامله شویده نه یواځې ټولې درنې او

سپکې وسلې ځای پر ځای پرتې دي ، بلکې لا پسې نورې پیسې او وسلې ورکړل شویدي او ورکول کیږي تر څو دمرکزي دولت له چوکاټ نه بیرون د شمالي ټلوالي دجنګسالارانو یو ځانګړی ځواک موجود وي . په داسې حال کې چې د اوسنۍ "ملي اردو او ملي پولیسو " غوڅ اکثریت (۹۷٪) افسران او سرتیري اود "ملي امنیت "ټوله دستګاه په شمالي ټلوالې پورې تړلې ده . په دې ډول هم دبهرنیوهیوادونو، په خاص ډول امریکا او هم دامریکې سره په تړاو کې د شمالي ټلوالې جنګسالاران د یو واحد مرکزي ځواکمن دولت د منځته راتلو مخه نیسي . نو ځکه ویلای شو چې د مرکزي حکومت په کمزوري ساتلو کې امریکا او د هغې نړیوال او افغاني متحدین برخه لري ، چې دا کار دبې ثباتۍ ستر عامل دی . همدا رنګه په ولایتونوکې ، ددې پر ځای چې قانوني حکومت د قانون له مخې کارونه سرته ورسوي ، سیمه ایز قوماندانان خپلسري واکداران دي او هر څه چې یې زړه غواړي هغه کوي.

د همدې خپلسرو قوماندانانو او وسله والو ډلو موجودیت دی چې په هیوادکې بې ثباتي ده اودسولې د ټینګیدو پر ځای د ناارامیو ، مخالفتونو ،مخدره موادواو وسلو قاچاق ، معدني توکو او تاریخي اثارو قاچاق لاپسې کال په کال زیاتیږي او په دې ډول دبهرنیوهیوادونوپه مرستو اودمرکزي حکومت په واکدارۍ خلک ورځ په ورځ بې باوره کیږي . ددې پر ځای چې خلک دمرکزي حکومت نه ملاتړ وکړي ، بې تفاوتۍ اویایې دمخالفینوسره خواخوږي زیاتیږي. ددې کا ر مسئولیت چې دافغانانوغمیز ه پای نه مومي او په پرله پسې ډول اوږدیږي د امریکائیانو او د دوئ د بهرنیو او کورنیو متحدینوپه غاړه دی.

له همدې کبله ، ددې لپاره چې د افغانانو اوږده غمیزه پای ته ورسیږي او امریکا او دناټو نور هیوادونه افغانانو ته په ورکړل شوو ژمنو کې بریالي

اوسي باید په بشپړ ډول خپلې پالیسۍ او چلند ته تغیر ورکړي . د جنګسالارانو دملاتړ او خپلسریو نه لاس واخلي ، په کارپوه ملي دموکراتو شخصیتونو باندې ،چې دخلکو ملاتړ ورسره وي ، حساب وکړي . ټولې وسله والې ډلې بې وسلې شي اودیو ځواکمن مرکزي حکومت د جوړیدو لپاره ، چې ځواکمنه رښتیانۍ ملي اردو اوملي پولیس ولري ، هلې ځلې وشي . داسې حکومت چې د ټولو خلکو استازیتوب وکړي او له هر ډول فساد نه خلاص وي. دټولومخالفینو سره روغه جوړه وشي اود جنګسالارانوانحصار په دولتي قدرت پای ته ورسیږي . د امنیت ټینګښت ، دمخدره موادو د تولید او قاچاق مخنیوی اوددولتي فسادونو له منځه وړل د ستونزو داوارۍ بنسټیز عوامل دی.

*-دا لیکنه د ۱۳۸۲کال دجوزا په میاشت کې د "رښتیا "په دویمه ګڼه کې خپره شویده.

# دوستم نور څه غواړي ؟*

د خبري رسنيو په حواله د مې پر ۲۸نیټې د دوستم پلويانو ، په داسې حال کې چې د دوستم عکسونه يې په لاسونو کې وو د دولت پرضد له قهره ډکو چيغو او شعارونو سره د جوزجان په ولايت کې د ولايت په مقام يرغل وکړ. د ځايي مقاماتو او شاهدانو له خولې مظاهره کوونکو غوښتل د دولتي بيرغ پر ځاى د "جنبش" بيرغ پورته او دجمهور رئيس د عکس پر ځاى د دوستم عکس ولګوي. او په دې ډول خپل پخواني عادتونه بيا تکرار کړي. وايي : چې داکار دقهر جنو مظاهره چيانو او ولايت دساتونکو تر منځ د ټکر سب شو ، چې پکې ۸تنه مړه او د پوليسو په ګډون پنځوسوتنو په شاوخوا کې ټپيان شول . ډير دخواشينۍ ځای دی ، چې د ځان غوښتونکو د ناولو هيلو نه بيا بيګناه اوساده خلک ځانونه قربانوي او خپل ژوند له لاسه ورکوي.

دوستم ، چې دپارلمان غړی اود اعلی سرقوماندانۍ درستيز وال دی اوبې حسابه ډالر يې د خلکو اوبيت المال له لوټولو او بهرنيو استخباراتي شبکو له لارې د جګړوپه موده کې لاسته راوړي او ځانته يې شخصي شرکتونه د "کام اير"په ګډون پرې جوړ کړي دي ، نور څه غواړي چې بيا يې په مانورو او ګواښونو پيل کړی دی. داسې ښکاري چې د جنګسالار دوستم لپاره دا ټول شيان اولقبونه ده ته د ده له پوهې او شان نه ټيټ ښکاري ، نو ځکه په دې هڅه کې دی چې د يوبل څه اوچت مقام د ګټلو لپاره لاس په کار شي.

د دوستم تير تاريخ هر افغان ته لکه د لمر داسې روښانه دی . دی له يو عادي بيسواده دهقان څخه د روسانو او کارمل د ډلې پواسطه د اوزبک مليشې په چوکاټ کې جنرالۍ ته ورسيد . دوستم دډاکتر نجيب الله دحکومت په وخت کې ، دحکومت پرضد بغاوت وکړ او دکارمل دډلې (

پرچم ) دمرکزي کمیټې د غړي په حیث دشورویانو په لار ښوونه د نظار شورا سره یوځای د دولتي قدرت دغصب لپاره بغاوت پیل کړ . کله یې چې د بلخ ولایت مرکز ، مزار شریف ، ونیو د ځوشمالي ولایتونو استقلال یې د"خراسان مستقل "په نوم اعلان کړ . حتی د سالنګ تونل په جنوبي دروازه یې ولیکل چې : "به خراسان مستقل خوش آمدید ! " . دمزار شریف په تلویزیون کې یې د شمالي ټلوالې په استازیتوب د بیانیې په ترڅ کې تاجکو، اوزبکو ، ترکمنو ، هزاره وو اونورو لږکیو قومونو ته مبارکي ورکړه چې د "بې فرهنګه "پښتنو د ظلم او اسارت نه خلاص شول. له دې سره سم یې په شمالي ولایتونو کې د ملي یووالي دروحیې پرضد پر پښتنو باندې تیری اویرغل پیل کړ اوګڼ شمیر پښتانه یې له منځه یوړل یا یې زندانونوته واچول اویا یې له خپلو کورونواوکروندو څخه تیښتې ته مجبور کړل ، چې ډیر یې لا تر اوسه د دوستمیانوله لاسه بیرته خپلو ټاټوبوته نشي راتلای.
دوستم دافغانستان د بیرغ پر ځای خپل بیرغ پورته کړ ، خپله شخصي اردو یې جوړه کړه او ځان یې د یوخپلواک ټولواک په څیر راڅرګند کړ . داسې معلومیده لکه چې دوستم او پلویانو یې د خپلو تیرو ویاړونو د کمښت احساس کړیدی او اوس بیا غواړي چې خپله تیره واکمني بیرته راژوندۍ کړي او افغان ولس د تیر په څیر یو ځل بیا په کورنیو جګړو او ګډوډیو کې له پښو وغورځوي . کله چې تښتیدلی دوستم د طالبانو دنسکوریدو سره سم د امر یکې له خوا د ډیرو پیسواو وسلو دلاسته ر اوړو وړ وګرځید او بیرته د سیاست ډګر ته راوویستل شو بیا یې د قوم ، ژبې ، مذهب او نورو تبعیضونو اور ته په لمن وهلو اسره ونه کړه اوډیربیګناه پښتانه یې چې دطالبانو سره هیڅ ډول اړیکي نه درلودل د طالب په نوم له منځه یوړل . د ملي جبهې په جوړیدو سره دوستم بیا د

شمالي ټلوالې استازیتوب د تیرې واکمنۍ خوبونه ویني اوپه را ژوندي کولو کې یې د ملي جبهې ملاتړلا دپخوا په څیر د ځان کړی دی.
دا چې دملي جبهې جنګسالاران د دوستم په ګډون نه دي بې وسلې شوي ، په افغانستان کې دسولې اوثبات لپاره ستر ګواښ دی . همدا جنګسالاران اود دوئ بې مسئولیته وسله والې ډلې دي چې د هیواد سوله او امنیت یې دستونزو سره مخامخ کړی اوپه خلکویې ارام ژوند حرام کړی دی. د نړیوالې ټولنې مسئولیت و چې له لومړي سرنه یې د وسله والو ډلو په بې وسلې کیدو کې ، بې له هر ډول توپیر نه، هڅه اوهاند کړی وای اود وسله والو ډلوسره یې تبعیضي چلند نه وای کړي . که چیرته د ټولو وسله والوډلو د وسله وال پرېښودو پر ځای یوه رښتیانۍ ملي اردو او ملي پولیس په ښه توګه روزل شوي او د ضرورت سره سم په عصري وسلو وسله وال شوي وای ، نوکیدای شول چې د ډیرو ستونزو او ناخوالو مخه نیول شوې وای.
په خواشینۍ سره تر اوسه پورې چې کومې قطعې دملي اردواو ملي پولیسو په نو م جوړې شوي دي مسلکي پوهه نه لري او نژدې ټول یې د شمالي ټلوالې په جنګسالارانو پورې تړلي کسان دي ، چې د قومي ، ژبني او مذهبي تعصب په روحیه روزل شوي دي او دملي یووالي روحیه پکې نه لیدل کیږي او دقومونود تناسب استازیتوب نه کوي. دمثال په ډول پښتانه دهیواد **۲۵**په سلوکې نفوس جوړوي ،خوپه ملي اردو او ملي پولیسوکې یې شمیر ایله **۳**په سلو کې دی . ددې ښکاره بې عدالتۍ سپیناوی داردو دسیاسي چارو رئیس ، عظیمي ، داسې کوي چې په دې کار سره یې په اردو اوپولیسو کې دطالبانو د نفوذ مخه نیولې ده.
نوځکه تر څو ټولې وسله والې ډلې بې وسلې نه شي ، دپښتنو په ګډون د ټولو قومونو څخه د دوئ په تناسب یوه رښتیانۍ ملي اردو اوملي

پولیس جوړ نه شي ، نه یوازې داچې اوسنۍ ملي اردواو ملي پولیس دسولې او امنیت په ټینګیدوکې کوم د پام وړ رول نه شي لوبولای ، بلکې کیدای شي دافغانستان ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا د لا پسې سترګوابڼ سره مخامخ شي ، چې بیا به وار له واره تیر وي.

---

*-دالیکنه د۱۳۸۲کال دجوزا په میاشت کې د "رښتیا "د جریدې په دویمه ګڼه کې خپره شویده.

# د زور استعمار نوې بڼه *

د جون په ۱۱ د بي. بي. سي. راډیو له لارې یو خبر خپور شو چې په هغې کې د برطانیې د بهرنیو چارو د پخواني وزیر مالکم ریفکنډ څرګندونې په ډاګه شویدي . د ده دغه څرګندونې یوې برطانوي ورځپاڼې « انډپنډنټ » د یوې مقالې په ترڅ کې خپرې کړې دي . د برطانیې د پخواني وزیر مالکم ریفکنډ په دغو څرګندونو کې تر ټولو د پام وړ ټکی دا دی چې ده د افغانستان اوسنی کړکیچ د پاکستان د ملي ګټو سره تړلی دی او په دې یې ټینګار کړی دی چې لومړی دې د پاکستان ملي ګټې په پام کې ونیول شي ، ترڅو دغه هیواد خپله هر اړخیزه مرسته د افغانستان داوسني کړکیچ په حل کې ونه سپموي . مالکم ریفکنډ د کړکیچ عامل په پاکستان کې دبنسټپالو ډلو فعالیت ګڼي او وایي چې د پاکستان حکومت په دې هکله هیڅ د پام وړ مرسته نه کوي. مالکم ریفکنډ د پاکستان دغه ملي ګټې د "ډیورنډ "د کرښې په رسمیت پیژندلو کې ویني او د افغانستان په مسئله کې دنړۍ په ښکیلو حکومتونو باندې غږ کوي چې په ښاغلي کرزي دې زور راوړي ، تر څو د دیورند کرښه په رسمیت وپیژني . او دا ځکه چې د دغې کرښې په دواړو خواوو کې پښتانه او بلوخ پراته دي اوله دې کبله پاکستان په تشویش کې دی.

استعمارچیانو تل د نورو هیوادونو ګټوته په سپکه کتلې او یوازې خپلې ګټې په نظر کې نیسي. دوئ لومړی د خپلو استعماري ګټو په خاطر له افغانستان څخه یوه لویه برخه بیله کړه . نه یوازې پښتانه او بلوخ قومونه یې وویشل ، بلکې دټولو نړیوالو اصولو اودبشر د حقوقو پر خلاف د ډیورنډ دکرښې په واسطه د کورنیو غړي سره ویشلي دي ، چې دا پخپله د استعماري سیاستونو هغه ډیره کرغیړنه څیره څرګندوي ، چې هیڅ ډول انساني حقوقو ته په غاړه ایښودو ځان ژمن نه ګڼي . د پښتنو او بلوخو

قومي يووالی ددې قومونو ملي ګټې نه بولي ، بلکې پښتانه له پښتنو او بلوڅ له بلوڅونه بيلول اود پنجابيانوسره تړل ورته دپاکستان ملي ګټې ښکاري اوناټوته سپارښتنه کوي چې که غواړي پاکستان د ځان سره ملګری کړي ،نودافغانانود ملي ګټو په تر پښو لاندې کولوسره د پاکستان استعماري ګټې په نظر کې ونيسي .

دا خو د زو ر کلي شول ، دا سمه ده چې په زور به زورور تر يو وخته پورې وچليږي ،خومالکم ريفکنډ د خپل تير تاريخ نه ښه خبر دی چې په زور کلي نه کيږي . نه يوائې په زور کلي نه کيږي ، بلکې داکار په اوسني عصر کې دانساني ټولنې داصولو سره هيڅ ډول سمون نه لري . د مالکم ريفکنډ دا خبرې به افغانان پر دې شکمن کړي چې انګليس بيا په خپل پخواني نيت افغانستان ته راغلی دی او هغه ټپونه يې چې د افغانانو پر وجود جوړ کړي وو ، غواړي اوس يې تر هډوکو ورسوي. خو هيله ده چې دا دمالکم ريفکنډ خپل شخصي نظر وي اودبرطانيې د دولتي پاليسۍ کومه برخه نه وي .

مالکم ريفکنډ بايد پوه شي ، چې افغانانو نه يوائې تر اوسه پورې افغانستان سره دمرستې په هکله د ائتلافي ځواکونو په مقابل کې کوم شک نه دی ښودلی ، بلکې باور لري چې نړيواله ټولنه افغانستان ته د افغانانوسره دمرستې لپاره راغلې ده ، نه د دې لپاره چې استعماري پلانونه عملي اود انګريزي استعمار د ډيورنډ کرښه ابدي کړي . اوس خوټول افغانان د ټولو ناخوالواوکړاوونو سره سره دسولې دپروسې ترشا ولاړ دي اوملاتړ ترې کوي. خوکه دوئ پوه شول چې" دکاسې لاندې نيم کاسه ده " اودګاونډيوهيوادونود تيريو اولاسوهنو د مخنيوي پر ځای استعماري توطيې عملي کيږي ، نوبيا خودافغانانو دښمنۍ ته په لوی لاس زړه ښه کول دعقل اومنطق څخه ليرې خبره ده . که چيرته مالکم ريفکنډ د پاکستان دملي ګټودساتلو سره مينه لري ، نو دافغانانو د

خاورې په غصبولو دې د پاکستان دملي ګټو د خوندي کولو فورمولونه نه جوړوي . ځکه دا افغانانو ته دمنلو وړ نه ده اوهرومرو به دخپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا نه دفاع کوي. له بل پلوه دا يوازې دکرځې په وس کې نه ده ، چې د داسې سترې ملي مسئلې پريکړه دې بې د خلکو د ټولپوښتنو نه پخپله وکړي .

مالکم ريفکنډ بايد پوه شي چې دافغانستان وضعه له دې کبله نه ده خرابه شوې ،چې افغان حکومت د "ډيورنډ "کرښه په ر سميت نه ده پيژندلې ، بلکې له دې کبله د افغانستان امنيتي وضعه په پرله پسې ډول خرابه شوه چې نړيوالې ټولنې چې کومې ژمنې د افغانانو سره کړې وې هغه يې سرته نه دي رسولي . دالقاعدې اوطالبانو سره په جګړه کې دعامو بيګناه ملکي افغانانومرګ ژوبله اوکورونه اوکروندې يې له منځه وړل او سپکاوی ورته کول اوکډوالۍ ته اړ کول اوپه دې ناوړه کارونو سره يې مخالفينو لور ته ټيل يا په بله وينا د نړيوالو وسله والو ځواکونو ناوړه چلند د امنيتي وضعې په خرابيدو کې ستر رول لري . په افغانستان کې د نړيوالو وسله والو ځواکونو په موجوديت کې دګاونډيو هيوادونو لاسوهنې نه يوازې داچې کمې اوبندې نه شوې ، بلکې د پخوا په نسبت لاپسې بربنډې او ډيرې شوي دي اونړيواله ټولنه د ې لاسوهنو ته هيڅ غبرګون نه دی ښودلی .

همدارنګه په دولت کې د سولې او دموکراسۍ ضد کسانو ونډه د مغرضو هيوادونو د ملاتړ له کبله نه يوازې زياته ، بلکې په بشپړ ډول دملي حاکميت په مقابل کې د افغانستان په مسئله کې دښکيلو هيوادونو ديکتې د ګواښ تر پولې رسيدلې ده. په دې ډول ديوشمير وسله والو ډلو نه بې وسلې کيدل اويا لاپسې وسله وال کيدل د بې امنۍ اودمخدره موادو د کرکيلې او قاچاق د زياتيدو اصلي عامل ګڼل کيږي . په افغانستان کې د ملي روغې – جوړې د سرته رسيدو او برياليتوب په

وړاندې همدا د امريکې اوبر طانيې اوځينونوروهيوادونو سره په تړاو کې وسله والې ډلې تر اوسه خنډ شوي او خنډ کيږ ي . که ووايو چې په افغانستان کې دسولې اوثبات دټينګيدولپاره دهڅو دناکامۍ اصلي علت دپورتنيو لاملونو سربيره دګاونډيو هيوادونو ، په خاص ډول دايران او پاکستان ناوړه هلې ځلې دي ، چې خپلې ګټې د افغانانودهيواد په بربادۍ کې ويني . بايد داهيوادونه دافغانستان په ويجاړتيا کې خپلې ګټې ونه لټوي ځکه که افغانستان ورانيږي ،نو ددوئ روغ پاتې کيدل بيخي ناشونی کار دی.

*-داليکنه د۱۳۸۲کال دسرطان په مياشت کې د "رښتيا "دجريدې په دريمه ګڼه کې خپره شويده.

# په افغانستان کې د برطانیې د نوي سفیر څرګندونې*

برطانیه غواړي چې په افغانستان کې خپل شته والی نور هم قوي کړي . یانې نور سرتیري اودهغوئ لپاره وسلې او مهمات راوړي. د برطانیې د سفیر په وینا تر څو افغانان د "تروریزم "د شر نه خلاص نه شي ، تر هغې پورې به دوئ له افغانستان څخه نه وځي او دا کار شاید د برطانیې د نظامي ځواکونو شتون په افغانستان کې تر دیرشو نورو کلونو پورې اوږد کړي . نوموړی سفیر زیاتوي : چې د ناټو په چوکاټ کې د برطانوي ځواکونو شتون دا موخه لري چې په افغانستان کې سوله اوثبات ټینګ شي ، دغه هیواد ( افغانستان ) د تروریزم او مخدره موادونه پاک شي اودیرش کاله وروسته یې اقتصاد ایله د بنګله دیش د اقتصاد تر اوسنۍ سطحې ورسیږي .

خو پوښتنه داده چې په افغانستان کې د دومره اوږدې مودې ( ۳۰کلونو ) لپاره د برطانوي ځواکونو پاتې کیدل دڅه لپاره او څه مانا لري ؟ افغانانو خو د دوئ دژمنو سره سم دا تمه لرله چې په لنډه موده کې به دې هیوادکې سوله اوثبات ټینګ شي ، دجګړو او مخدره موادو د کرکیلې او قاچاق مخه به ونیول شي او دنړیوالې ټولنې په مرسته به په خپلو پښو و لاړ غوړیدلی افغانستان منځ ته راشي. ملي اردو به جوړه ، قانون به حاکم او خلک به پخپله خپل استازی حکومت منځ ته راوړي. اوپه دې ډول به افغانستان دیوخپلواک هیوادپه شان د خپلې ملي اردو په زور د خپلې خپلواکې ، ملي واکمنۍ ، خمکنۍ بشپړتیا او د خپلو خلکو له سوله ایز ژوند نه پخپله دفاع کوي.

خو د افغانانودغه تمه اوهیله د ناټودځواکونو ، په خاص ډول د برطانیې اوامریکې ځواکونو ، اشتباهاتواو ناوړه کړنوپه نامیندۍ بدلې اوپه سیند لاهو کړې . د دغو نړیوالو ځواکونو څخه دافغانانوسره درښتیانۍ

مرستې تمه مخ په ورکیدو شوه . دا ځکه چې افغانانودتیروشپږو کلونوپه موده کې په عمل کې ولیدل اود دې شاهدان وو چې دغوبهرنیو ،په تیره بیا د برطانیې او امریکې ځواکونو په افغانستان کې د امنیت اود سولې او ثبات دټینګیدوپر ځای په خپلو "مرستو "سره جګړې ، نا امنۍ ، ځان مرګي بریدونه ، ترور ، اختطاف ، دمخدره موادو کرکیله اوقاچاق اود بېګناه ملکي خلکو مرګ ژوبله او بربادۍ کچه تر اندازې لوړه کړیده. نوکه چیرته دبرطانیې سفیر په دې ډول غواړي چې خپل شتون په افغانستان کې تر نورودیرشو کلونو وغزوي ، نوپه دې ډول "مرستې "چې دوئ یې دافغانانوسره کوي ،پایلې به یې دافغانانولپاره بې د جاري غمیزې له ژوریدو اوغزیدو څخه بل څه نه وي.
واقعیت خوداسې دی ، چې افغانان نور له جګړونه ستړي شوي دي . دوئ په دې ښه پوهیدلي دي چې جګړه نوره په افغانستان کې سوله ثبات او د خلکو سوکالي نه شي راوړای او دبرطانیې اونوروهیوادونو جګړه ایزو فعالیتونوته ، چې تر هر څه لومړي دبیګناه افغانانودمرګ ژوبلې سبب ګرځي ، نور ضرورت نه لري. دجګړې پر ځای افغانان دې ته اړ دي چې نړیواله ټولنه ورسره مرسته وکړي اودلاسوهنو مخه ونیسي ترڅو خپل ملي حکومت جوړ کړي ، چې دضرورت سره سمه ملي اردو اوملي پولیس منځته راوړي اوقانون حاکم کړي. نو ښاغلی سفیر دې د نورو دیرشو کلونو دپاتې کیدو پر ځای په دې فکر وکړي چې دوئ څرنګه اوڅومره ژر کولای شي دافغان کړکیچ په یوسوله ایز حل کې ګټوره برخه واخلي. ځکه افغانان باید نور د جګړو په اور کې ونه سوزول شي. پرې ښودل شي چې دنورودلاسوهنونه پرته په خپل ټینګ ملي یووالي سره په دې کړکیچنه نړۍ کې دبقا اوپرمختیا وړتیا پیدا کړي.

*-دالیکنه د **۱۳۸۲**کال د سرطان په میاشت کې د"رښتیا "دجریدې په دریمه ګڼه کې خپره شویده.

## ازمیښتي سر شمیرنه *

سږ کال ( ۲۰۰۷ م ) د جولای دمیاشتې په ۱۱نیټه په افغانستان کې د چارواکو له خوا یو لړ هلې ځلې پیل شوې چې د افغانستان په ټولو ۳۴ولایتونو کې په ازمیښتي ډول سر شمیرنه سر ته ورسوي . د دغې سر شمیرنې موخه دمرکزي احصائې مشر عبد الرشید فخري په وینا د بل کال اصلي سرشمیرنې ته لاره هوارول دي. فخري دا هم زیاتوي چې په اوسنیو شرایطو کې د سر شمیرنې لپاره دی هیڅ ډول ستونزه نه ویني. دی د هر ې ورځې د لسګونو افغانانو وژل کیدل د جنګ له امله د بیا رغاونې په لار کې یوه نورماله پروسه ګڼي او د سر شمیرنې لپاره ده ته کوم خنډ نه ښکاري .

دا سمه ده چې د هر هیواد اقتصادي ، ټولنیز او سیاسي پلانونه باید د هغه هیواد د وګړو د شمیر په پام کې نیولو سر ه وه سنجول شي او د وګړو د شمیر له مخې د ټولنې هر اړخیزو اړتیاوو ته او د هغه په خواکې ټولنیز پرمختګ لپاره رغنده کارونه سرته ورسیږي . خو سر شمیرنه داسې یو پړاو دی چې دهغې لپاره د ځینو شرایطو شتون حتمي او ضرو ري ګڼل کیږي . یو له هغو شرایطو څخه چې د یوې سمې او دقیقې سرشمیرنې لپاره لازم دی ، په ټولنه کې د ټولنیز اوفردي مصئونیت او امنیت شته والی دی. په هغو هیوادونو کې چې د جنګ اور بل وي د سر شمیرنې کول خولاڅه چې فکر کول یې هم په خلکو او په ځان ملنډې وهل دي. دا ملنډې نن په افغانستان کې د چارواکو له خوا په خلکو وهل کیږي. افغانان په رڼو سترګو ویني چې په افغانستان کې د جنګ اور له یوې ورځې نه بلې ورځې ته لا تودیږي او هر ه ورځ زموږ بیګناه هیوادوال ددغه جنګ په اورکې سوځي . د دې پر ځای چې د جنګ د ختمولو لپاره لارې چارې ولټول شي او په افغانستان کې د یوې تلپاتې سولې د راوستولپاره هلې

ځلې وشي په جنګ کې "داسونو د څربولو شوقیان "د سر شمیرنې مسئله راپورته کوي او د افغانستان د هراړخیزو پرمختیاوو یوائني خنډ دا ګڼي چې د افغانستان اصلي نفوس معلوم نه دی او له دې کبله د بیا رغاونې د چارو عملي کول هم شونې نه دي.
خبره اصلاً بل شی ده. له یوې خوا د ازمیښتي او بیا کال وروسته د اصلي سر شمیرنې فورمول یو ښه اغیزمن فورمول دی ،چې د داړه مارانو جیبونه بیا ډک شي . ځکه چې ددې پروسې لګښت د بن د قرارداد پر بنسټ افغانستان ته د مرستوله هغې برخې څخه ده چې د نړیوال سازمان له خوا باید ورکړل شي. داسې ښکاري چې د مرستې کولو نورې پروژې خلاصې شویدي او دا د هغو پروژو په جمله کې ده چې سره دله دې چې وخت یې نه دی رارسیدلی ، خو بودیجه لاشته او باید په جیبونو کې تقسیم شي .
له بل پلوه په دې سرشمیرنه کې سیاسي خود غرضي هم له ورایه لیدل کیږي. ځینې سیاسي مداریان چې تل یې د نفاق اچولو په منتر خپل بچي د افغانانو په وینو ماړه ساتلي او افغانان یې په یواوبل وژلي دي ،نن یې بیا دافغانانو په منځ کې د نفاق اچولو بله طریقه پیدا کړې ده. دوئ داځل غواړي چې افغانان دقومي انډولونو دتوپیرونو په نوم په خپلوکې سره ښکیل کړي ، اوبه خړې کړي او په خړو اوبو کې د ځان لپاره ماهیان ونیسي او د خپلې بقا موده یو څه نوره هم اوږده کړي.
د دې لپاره چې دوئ د افغانانو په منځ کې د نفاق لپاره بله لاره لټولې وي ، د سر شمیرنې خبره راپورته کوي او په دې توګه غواړي چې په ناسمو سرشمیرنو سره ، چې له یوې خو ا د شرایطو له نظره سموسرشمیرنوته هیڅ زمینه نه ده مساعده او له بلې خواپه سرشمیرنه کې په جعل کاریو سره ، چې ډیره ښه زمینه ورته مساعده ده ، ډیره کي قومونه لږ او لږه کي ډیر وښايي اود افغانو په ذهنونو کې د نفاق لپاره یوه نوې موضوع را پیدا کړي.

خو دوئ نه پوهیږي چې لمر په دوو ګوتو نه پټیږي. ډیر ډیر وي او لږ لږ. دتعجب وړ خو دا ده چې د دغې سر شمیرنې لپاره د لګښت پیسې د ملګرو ملتونو دنړیوال سازمان له خوا ورکول کیږي. داخبره دافغانستان د خلکو شک او بې باوري په دې لا زیاتوي چې د افغانستان د بیارغاونې د پلانونو په نوم چې کومې مر ستې د افغانانو سره کیږي نه یوائې دڅو ټوپک سالارانو اوداړه مارانو جیبونو ته ځي ، بلکې داسې ښکاري چې د نړیوال سازمان به هم په دې تالان کې شر یک وي. د نړیوال سازمان په صندوق کې چې کومه بودجه د سرشمیرنې لپاره پرته ده ، هغه باید د یوې قانوني ، سمې او د شرایطو سره برابرې سر شمیرنې لپاره ولګیږي. نه دا چې د کورنیو او بهرنیو داړه مارانو په منځ کې وویشل شي. دا د افغانانو حق دی او داسې ورځ هرو مرو راتلونکې ده چې افغانان د خپل حق د غوښتنې غږ پورته کړای شي.

*-دا لیکنه د ۱۳۸۲کال د ځمري په میاشت کې د "رښتیا "دجریدې په ۴ ګڼه کې خپره شویده.

# د ملي شخصیتونو او ډلو د یووالي ضرورت*

د هیوادونو د پرمختیا او سمسورتیا تر شا تل یوشمیر هغه شخصیتونه او ډلې وجود لري چې د خپل هیواد او خلکو سره رښتیانی مینه لري او په نړیوالې سیالی کې د خپل هیواد د ترقی او خپلو خلکو د سوکالی لپاره هر ډول سربښندنو او کړاوونو منلوته چمتو وي. دا ډول خلک په دې فکر وي چې څه وکړي چې خپل هیواد او خلکو ته ګټه ورسوي ، نه دا چې د ځان په ګټه دخپل هیواد اوخلکونه امتیازوغواړي او یا ترې غلا وکړي. دا کسان رښتیاني ملي شخصیتونه دي چې په خپل یووالي او تشکل سره ملي څواک جوړوي چې بیا کولای شي ستر کارونه دخپل هیواد اوخلکوپه ګټه سرته ورسوي ، هر ډول ستونزې او خنډونه له منځه یوسي او د خپل هیواد خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنی بشپړتیاوساتي او د پر مختګ او تمدن اوږدې لارې لنډې کړي.

دې موخوته دملي شخصیتونو اوډلود رسیدو لارې اسانه نه وي اوپه مخکې بې شمیره ستونزې او خنډونه لري . دوئ باید په خپلو کمزورو امکاناتو ستر کارونه سرته ورسوي. په افغانستان کې د ملي وطنپالو شخصیتونو او ډلو د یووالي په مقابل کې نه یواځې د مالي امکاناتو کمزورتیا ستونزه ده ، بلکې ډیر ځان غوښتونکې ډلې او کسان چې د پردیو په ملاتړیې په ټولنه کې ځانونه بې انډوله لوړو مادي ،سیاسي او نظامي پوړیوته رسولي دي ، نه پریږدي چې ملي دموکرات او وطنپال څواکونه سره یوشي اود یو سیاسي څواک په حیث د دوئ ګټې په خطر کې واچوي. دا دملي ګټو او دموکراسی ضد ډلې نه یواځې ډیر مادي ، سیاسي او نظامي امکانات لري ، بلکې په خپلو منځونو کې متحد دي او دبهرنیو غاصبو او حریصو ډلواو حکومتونو ملاتړ هم ورسره دی.

ولې نړیواله ټولنه دملي دموکراتو شخصیتونو اوډلو ملاتړ نه کوي ، ترڅود دوئ په هڅو اوهاند اوهلوځلو په افغانستان کې سوله او ثبات منځته راشي ، د فسادونو مخه ونیول شي ، دهیواد بیا رغاونه په بریالی توګه سرته ورسیږي او ژر تر ژره په خپلو پښو ودریږي ؟.
ددې کار علتونه ځودي چې لومړی تر هر څه د ګټو یووالی دی . نړیواله مافیا د افغاني مافیا سره یوشان ګټې او تینګ اقتصادي ،سیاسي او نظامي اړیکي لري . دوئ نه پریږدي چې ملي دموکرات شخصیتونه او ډلې دنړیوالې ټولنې په مرسته د چارو واګې په لاس کې واخلي او د دوئ ګټې په خطر کې واچوي . همدارنګه ډیر بهرني هیوادونه په افغانستان کې هغه څوک د ملاتړ وړ بولي چې خپلې راتلونکې ګټې پکې ویني ، د دوئ په خوښه کار کوي ، دخپلو خلکو او هیواد سره دومره مینه ونه لري اودخپلو خلکو دملي ګټوځخه پرې خپلې شخصي او دپردیو ګټې ، چې له دوئ ځنې ملاتړ کوي ، ګرانې وي . بل علت یې دادی چې پردیو پورې تړلي کسان او ډلې له ډیرو امکاناتو سربیره د ملي دموکراتو شخصیتونو اوډلو په پرتله ډیر منظم او په اتفاق دي . کیدای شي د دوئ په نظم او اتفاق کې د بهرنیو ملاتړکوونکو لاربښوونه او دیکتې هم رول ولري. خو اصلي علت یې ګډې شخصي ګټې اودراتلونکي شریک برخلیک ویره ده چې دوئ یې یوله بل ځنې شریکې دفاع اویودبل سره ټینګواړیکو ساتلو ته مجبورکړي دي.
دا چې ولې نړیواله ټولنه د ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو نه ملاتړ نه کوي دا دلیل هم دی ، چې ملي دموکرات شخصیتونه اوډلې تیت او پرک دي او د یومنظم سیاسي ټولنیز ځواک تشه نه شي ډکولای. یا په بله وینا په داسې تیت او پرک حالت کې دوئ نه شي کولای چې د اوسنیو ستونزو د اوارۍ جوګه شي اوپه هیوادکې دسولې او ثبات د ټینګیدو سره مرسته وکړي.

ددې لپاره چې ملي دموکرات شخصیتونه او ډلې د نړیوالې ټولنې د پام وړ وګرځي ، بلهلار نه شته بې له دې چې دوئ پر یو شریک ،ټولو ته دمنلو وړ سیاسي پروګرام راټول شي او د ټول هیواد په کچه پر یو سرترسري سیاسي ځواک بدل شي. که چیرته ټول ملي دموکرات شخصیتونه او ډلې سره یو شي اویوواحد سیاسي ځواک منځته را اوړي ، نو کیدای شي د ټولو جګړو ځپلو افغانانو ، چې په هیوادکې سوله ، دموکراسي او ملي یووالی غواړي ، باور تر لاسه کړي. او کله چې د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو ملاتړ ورسره وي ، بیا به هرو مرو د نړیوالې ټولنې دپام وړ ګرځي او سترګې به ترې نه شي پټیدلای اودهیواد په چاروکې د برخې اخستو مخه به یې څوک نه شي نیولای.

په افغانستان کې کله چې د ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو د فعال ګډون څخه پرته د نړیوالې ټولنې دملاتړ په صورت کې اوسنی رژیم د سولې او دموکراسۍ په ټینګیدو ، په دولت کې د اداري فسادونو په لمنځه وړو او د هیواد په بیارغاونه کې کوم د پام وړ پر مختګ نه دی کړی ، نو ځکه ډیر افغانان او نړیوال د دې ټکو په پام کې نیولو سره د ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو یووالی ضروري ګڼي. تر څو په خپل یووالي سره د افغانستان د ستونزو د حل په پروسه کې فعاله برخه واخلي او موجوده تشه ډکه کړي . ملي دموکرات شخصیتونه او ډلې باید د یوواحد ځواک دمنځته راوړو لپاره د یووالي یو مشترک فورمول او مکانیزم منځته راوړي او په صداقت سره د دغې فورمول او مکانیزم په عملي کیدو کې هلې ځلې وکړي ، تر څو وکړای شي د خپل هیواد او خلکو په وړاندې خپل ملي دین سرته ورسوي.

---

*-دا لیکنه د ۱۳۸۲کال د ځمري په میاشت کې د "رښتیا "دجریدې په ۴ ګڼه کې خپره شویده.

# د طالبانو په نوم د عامو وګړو وژل*

د اګست په دریمه  د خبري رسنیو پر بنسټ د ناټو ځواکونو په هلمند ولایت کې یوځل بیا د هوایي بمباریو په ترڅ کې ډیر شمیر غیر نظامي او عام خلک د ښځو او ماشومانو په ګډون وژلي او ټپیان کړیدي . د وژل شوو کسانو شمیره له ۳۰۰ نه تر ۴۰۰ کسانو پورې ښودل شویده .
د ناټو د ځواکونو او دحکومت چارواکي دا ځل هم په ډیرې رسوایي او بیشرمۍ سره ټول دغه وژل شوي کسان طالبان بولي  او بیا یې په خپلو قاتلانه او بیرحمانه  دغو قتلونو باندې د خپلو لاسپوڅو په واسطه د پردې اچولو هڅه وکړه . دا لومړی ځل نه دی چې دعامو وګړو په سر بمونه وریږي او ډیر بیګنا ملکي خلک وژل کیږي . خو حکومتي چارواکې او د ناټو ځواکونه ، ددې لپاره چې له نړۍ نه خپل دشرمه ډک دغه کړه وړه پټ کړي ، هلې ځلې کوي چې دا دعامو خلکو وژنې دوسله والو طالبانو وژنې وښایي او لانور هم لار د بیګناه خلکو وژلوته خلاصه کړي.
د ۲۰۰۷کال د اګست په ۳نیټه په هلمند کې په عامو بې وسلې خلکو بمباري د ځایي چارواکو له خوا هم د یو زیات شمیر ملکي وګړو د مرګ ژوبلې عامل وګڼل شوه .  په روغتون کې د ژوبل شوو کسانو او نورعامو خلکو په وینا دغه بمباري په هغوخلکو باندې شویده چې بازار ته د خپلو ورځنیو ضرورتونو  د پوره کولو لپاره راغلي وو . خو د دفاع د وزیر ویاند ، جنرال عظیمي ، بیا دا بمبارۍ یواځې پر طالبانو بولي  او ټولو وژلو شوو کسانو ته طالبان وایي  او دعوه کوي چې په دې  بمباریو کې هیڅ ملکي وګړی نه دی وژل شوی.
جنرال عظیمي د خپلې نظامي تجربې او جنرالۍ سره سره  دا فکر نه شي کولای چې دا څرنګه کیدای شي چې  له ۳۰۰نه تر ۴۰۰پورې طالبان  په محلي بازار کې راټولیږي ، تر څو دناټو د ځواکونو الوتکې راشي ، بمونه

پرې واچوي او ټول له يوه سره مړه کړي. له داسې ناتار سره يواځې ملکي کسان ،چې جګړه ايزې تجربې نه لري ، مخامخ کيداى شي. جنرال عظيمي په دې هم سترګې پټوي چې په سيمه ايز روغتون کې د همدې بمبارۍ له کبله زيات شمير ټپيان ماشومان او ملکي وګړي دي . دا چې جنرال عظيمي په دې ټينګار کوي چې وژل شوي کسان ټول طالبان دي ، څه نور علتونه به يې شاته پراته وي. يا خو داده چې جنرال عظيمي دائيتلاف ځواکونو ته غوړه مالي کوي ،تر څو دخپلې څوکۍ عمر يوڅه اوږد کړي اويا خو د شخصي عقدو او تعصب پر بنسټ دناټو ځواکونو ته په ناسم راپور ورکولو سره په دې عام وژنې کې برخه لري.

نوپه دې صورت کې به دى هرومر و له دې څخه دفاع کوي چې وژل شوي کسان ټول طالبان دي. او يا خو کيداى شي چې دجنرال عظيمي په عقيده ددغو سيمو اوسيدونکي ټول طالبان ګڼل کيږي او وژل يې هم جنرال عظيمي ځان اوناټو ته برياليتوب او دمخالفينو ځپل بولي. دادى ددولت دلوړ پوړو چارواکو قضاوت. آيا په دې ډول په هيواد کې سوله او ثبات ټينګيداى شي ؟ آيا په بازارونو او دخلکو په کورونو بمبارۍ او عام وژنې خلک د اوسني دولت اوبهرنيوځواکونو په وړاندې په مخالفت کې نه ودروي ؟.کرزى او د کرزي حکومت بايد په دې پوه شي چې عام وژنه په لوى لاس د افغانستان دخلکو سره دښمني ده ، نه په هيواد کې دسولې د راوستو او بيا رغاونې هڅې .

*-دا ليکنه د۱۳۸۲کال د ځمري په مياشت کې د "رښتيا "دجريدې په ۴ ګڼه کې خپره شويده.

# د افغانستان ملي يووالي سازمان په استازيتوب د ۱۳۷۹ کال د جدي پر ۶ نيټه د هالند دآسن په ښار کې د افغان روښانفکرانو يوې غونډې ته د وينا متن *

د جدي ۶ نيټه د افغانستان په تاريخ کې يوه توره او د افغانانو د اوږدې غميزې د پيل ورځ ده. په دې ورځ پخواني شوروي اتحاد زموږ پر سپيڅلي خپلواک هيواد له شرمه ډک ناولی غلچکی تيری سرته ورساوه. تيري کوونکو ددې تيري په نتيجه کې د هغه وخت جمهور رئيس په خپل وطن مين ملي شخصيت حفيظ الله امين په شهادت ورساوه اودده ملي حکومت يې ، چې دملګروملتونو دسازمان ، ناپييلو هيوادونو د غورځنګ او اسلامي هيوادونو د کنفرانس بشپړ او فعال غړی و او د نړۍ د اکثرو هيوادونو سره يې سياسي ديپلوماتيک اودوستانه اړيکي درلودل راوپرځاوه او پر ځای يې د خپل ګوډاګي ،ببرک کارمل ، په مشرۍ ځان پورې تړلی لاسپوڅی حکومت منځ ته راوړ.
پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد په تيري سره نه يوازې د افغانانو سياسي خپلواکي له منځه ولاړه اوافغانستان د يوې مستعمرې په شان د ټولې نړۍ دهيوادونو سره خپلې مستقلې اړيکې له لاسه ورکړلې ، بلکې زموږ هيواد د شوروي اتحاد دتيري په نتيجه کې د هغه وخت د نړيوال ساړه جنګ د تضادونو د ټکر ميدان وګرځيد ، چې دنړۍ د ځبرځواکونو د دې ټکر په نتيجه کې په ميليونونو افغانان مړه ، معيوب او مهاجر شول او هيواد يې په کنډوالو بدل شو.
د افغانانو د بې ساري قربانيو له امله د شورويانو دا هيلې ، چې ځان او خپل لاسپوڅي د ډير عصري جنګي مکانيزم په زور او دخپلو اجنټانو پواسطه د قوم ،ژبې او مذهب اختلافونو ته د لمن وهلو او په نورو توطيو

سره پر افغانانو وتپي ، په سیند لاهو شوې او د ډیرې مایوسۍ او افغانانو ته له کینې نه په ډکو زړونو سره زموږ له هیواد نه وتلو ته مجبور شول .
د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو ټینګه هیله وه ، چې زموږ له هیواد نه د شوروي ځواکونو په وتلوسره به د هغو هیوادونو په مرسته چې د شورویانوسره د جګړې په وخت کې یې افغانانو سره بې شانه اقتصادي سیاسي اود وسلو مرسته کړې وه ، دملګروملتونو د سولې د پلان سره سم په افغانستان کې تلپاتې سوله ټینګه او هیواد به بیرته د خپلواکو سیالو هیوادونو په لیکه کې ودریږي.
خو په خواشینۍ سره دغو هیوادونو ، چې مرستې یې تر ډیرې اندازې په خپلواک افغانستان کې د سولې د ټینګیدو اویو واحد سرتر سري ملي حکومت منځته راتللو لپاره نه ، بلکې دشورویانو په مقابل کې د جګړو د اوږدیدو او دخپل ستر رقیب د کمزوري کیدو اوماتیدولپاره یانې دخپلو ستراتیژیکو اهدافو د لاسته راوړو لپار ه وې ، دشورویانو له وتلونه وروسته د افغانانو سره د سولې په ټینګیدوکې مؤثره مرسته ونه کړه اود توطیو مخه یې ونه نیوله او بې تفاوته پاتې شول. په نتیجه کې شوروي اتحاد ته ، چې زموږ په هیواد کې له خپلې ماتې نه افغانانوته سخت په غوسه واودجنګ د تاوان له ورکولو ډاریده ، موقع په لاس ورغله چې دخپلو لاسپوڅو په واسطه دملګرو ملتونو د سولې پروګرام په مقابل کې کودتا وکړي.
د دې کودتا اوتوطیې په نتیجه کې د یو واحد سر تر سري حکومت ، چې باید دملګرو ملتونو دپروګرام سره سم منځ ته راغلی وای ، مخه ونیول شوه او د سولې د ټینګیدو پر ځای دا ځل د یوبهرني هیواد په مقابل کې نه،بلکې دافغانانو په خپل منځ کې جګړې پیل شوې اوپه دې ډول د افغانانو ټولې هغه برياوې او ویاړنې چې دشورویانو سره د جهاد په وخت

کې لاسته راغلې وې برباد شولې . د مختلفو تنظيمونو او وسله والو ډلو ترمنځ په دغه د قدرت لپاره خپل منځي جګړو کې ، چې د مختلفو بهرنيو هيوادونو له خوا د خپلو پخوانيو اړيکو د لرلو له مخې دخپل نفوذ د زياتيدو لپاره پيل او وهڅول شوې ، افغانانو ته نه يواځې د سر ستر زيانونه واوښتل ، بلکې ټولې هغه مادي او معنوي شتمنۍ يې چې د شوروريانو سره په جګړو کې لا له منځه نه وې تللې له منځه ولاړې او دهيواد خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا د ګواښ سره مخامخ شول .

نړيواله ټولنه ، چې د شوروي اتحاد د ماتيدونه وروسته افغانستان ورته نور ستراتيژيک اهميت نه درلود ، دسيل په غونډۍ کيناسته . ملګرو ملتونودافغانانو دې د دوو لسيزو اوږدې تراژيدۍ ته د افغانانو دخپلمنځي جګړو د پيل نه راوروسته د يو کتونکي په سترګه وکتل او ګوري او زموږ د هيواد په کورنيو چارو کې دبهرنيو هيوادونو ، په خاص ډول ګاونډيو هيوادونو ، پر کرغيړنو لاسوهنو يې سترګې پټې کړې دي .
د ملګرو ملتونو سازمان د افغان ستونزې د بنسټيز حل پر ځاى په پرله پسې ډول د افغانستان لپاره خپل خاص استازى ددې لپاره راليږي چې په جنګ کې ښکيلې نه پخلا کيدونکې ډلې يو بل سره پخلا کړي ،چې هميشه د پخلاکيدو هڅې د تازه جګړو په پيل کيدو تمامې شويدي .
نړيواله ټولنه په طالب چارواکو نيوکې کوي چې افغانستان يې د مخدره موادو دتوليد او د تروريستانو دتربيې مرکز ګرځولى دى، چې د سيمې او نړۍ دهيوادونو سوله او ثبات يې په خطر کې اچولي دي اود بشر حقوقو ، په خاص ډول دښځو حقوقو ته درناوى نه کوي .
همدارنګه کله چې د طالبانو پر حکومت بنديزونه لګيږي ، چې په دې بنديزونو کې له هر چا څخه لومړى د افغانستان بيوزله او جنګ ځپلي خلک زيانمن کيږي ، په دې نه لګيږي چې ولې ښکيلې ډلې جګړې پاى

ته نه رسوي ؟ ولې د ملګرو ملتونو د سولې پلان ، چې په خواشينۍ سره تر اوسه يې هيڅ پلان نه دي وړاندې کړی، نه منل کيږي ؟ ولې د دموکراسۍ د اصولو سره سم داسې يو واحد سرتر سري حکومت نه جوړيږي چې د ټولو افغانانو او نړيوالې ټولنې ملاتړ ورسره وي ؟ ولې د افغان مسئلې د حل او په هيواد کې د سولې د ټينګيدو لپاره د افغانانو عنعنوي لوې جرګې نه ګټه نه اخستل کيږي ؟ او داسې نورې ډيرې ولې ؟ چې زمونږ هيواد يې دې حالت ته ر ارسولی دی . خو دافغانانو د اوږدې تراژيدۍ د پای ته رسيدو او دې ټولو ولو ته د ځواب ورکولو پر ځای اوس ټول ټينګار يواځې د يو سړي يانې اسامه بن لادن په تسليمولو کيږي . او که بنديزونه لګيږي ، نو پر همدې به وي چې ولې طالبان اسامه بن لادن امريکائيانو ته نه تسليموي ؟.

پوښتنه کيږي چې که اسامه بن لادن امريکائيانو ته تسليم شي ايا په دې به د افغانستان ستونزه اواره شي او داسې يوحکومت ، چې د ټولو افغانانو او نړيوالې ټولنې د ملاتړ وړاودهرډول فسادنه پاک وي منځ ته راشي ؟ ښکاره خبره ده چې يواځې د اسامه بن لادن په تسليمولو دا کارونه سرته نه شي رسيدای . خو که چيرته د ملګرو ملتونو او د نړۍ دنورو هيوادونو په مرسته دافغانستان ستونزه اواره شي او داسې يو حکومت چې د ټولو افغانانو او نړيوالې ټولنې د ملاتړ وړ وي منځته راشي ايا د مخدره مواد دتوليد او قاچاق ، تروريزم او بشر د حقوقو مسئله پخپله نه حل کيږي ؟ خوپه خواشينۍ سره د افغان ستونزې د حل په اړوند نړيوالې ټولنې دافغانستان دخلکو په وړاندې ، چې په يوې اوږدې غميزې کې راګيره ددې ټولنې يوه برخه ده ، خپل مکلفيتونه سرته نه دي رسولي اوپاتې راغلې ده.

آيا همدې نړيوالې ټولنې ، چې افغانانوسره يې د شورويانو په مقابل کې د جګړې په وخت کې د بشري ، اخلاقي ، اقتصادي او سياسي مرستو تر

نومونو لاندې نظامي مرسته هم کوله ، اوس افغانان په نيمه لار کې نه دي پرې ايښي ؟ آيا د افغانانو هغه غميزه چې د شوروي تيري نه راپه ديخوا پيل شوې پای ته رسيدلې ده ؟ همدا اوس په ميليونونو افغانان له خپل هيواد نه بهر د تنګسو او کړاوونوژوند نه تيروي ؟ همدا اوس هره ورځ په لسګونو افغانان د جګړو له کبله د مرګ کومي ته نه لويږي ؟ همدا اوس په لسګونو زره افغانان نه دي مجبور شوي چې دجنګونو ، لوږې ، فقر ، مرض او وچکالۍ له کبله خپل کور کلی پريږدي او پاکستان او تاجکستان ته وتښتي ؟ آيا د ژوند ناخوالو او تنګسو د افغانانو اکثريت له پښو نه دی غورځولی او د شپيته په سلو کې نه زيات کوچنيان د کم خوراکۍ په ستونزو نه دي اخته ؟ .

نو ولې نړيوالې ټولنې د افغانانو په دې اوږدې غميزې او تنګسو او کړاوونو سترګې پټې کړيدي او لاس تر ځنې ناسته ده ؟ که چيرته يو انسان د ډوبيدو په حال کې وي او بل انسان کولای شي له ډوبيدو نه يې بچ کړي او نه يې ژغوري ګناه او د بشر له حقوقو څخه واقعي سرغړونه نه ده ؟ آيا افغانان په نړيوالې ټولنې دا حق نه لري چې د افغان غميزې په لمنځه وړو کې چې د بهرنيو لاسوهنو او تيري ځيږنده ده مرسته ورسره وکړي ؟. که چيرته نړيواله ټولنه غواړي چې ځان دمخدر ه موادو او دتروريزم له شرنه ، چې دغميزې د ناوړه شرايطو نه دناوړه ګټې اخستو پواسطه د نړيوالې مافيا د توطيو زيږنده دي ، وژغوري نو يواځينۍ لار يې دافغان ستونزې په بنسټيز حل کې د افغانانو سره مرسته ده ، نه دا چې دبنديزونو په لګولو سره د افغانانو ستونزې لا پسې ژورې شي .

په دې کې شک نه شته چې نړيواله ټولنه بايد د افغانانو سره د غميزې په پای ته رسولو کې مرسته وکړي. خو دا پخپله افغانان دي چې بايد ځانونه له دې اوږدې غميزې څخه وژغوري. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی. هيڅ شخص ،قوم يا سياسي او مذهبي ډله حق نه لري د خپلو ګټو په

خاطر د ټولو افغانانو ګټې تر پښولاندې کړي. یواځې د ملي یووالي په ټینګیدو او د ټولو سوله غوښتونکو ملي وطنپالو افغانانو په شریکو هلو ځلو د بهر نیو لاسوهنو پرته کیدای شي په افغانستان کې سوله ټینګه او داسې یو سرتر سري حکومت ، چې د ټولو افغانانو او نړیوالو ملاتړ ورسره وی ، منځته راشي او هیواد مو د دې اوږدې غمیزې نه خلاص شي.
د افغانستان ملي یووالي سازمان په داسې حال کې چې پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د **۱۳۵۸**کال د جدي د شپږمې نیتې تیری ، چې دافغانانو د تراژیدۍ پیل و ، په کلکه غندي او غواړي چې:
۱-روسیه ، چې د پخواني شوروي اتحاد د قدرت په ګدۍ ناسته ده نور دې د افغانانو تر منځ د جګړو او بې اتفاقۍ اور ته د لمن وهلو څخه لاس واخلي ، زموږ په هیواد کې دې د لاسوهنو او جګړو د اوږدیدو پر ځای د سولې په ټینګیدو کې مرسته وکړي او په دې ډول دې په تیرو زخمونو دمالګې د دوړولو پر ځای ملهم کیږدي او د یو خاص قوم یا ډلې نه دملاتړ پر ځای دې ټولو افغانانو ته د دوستۍ لاس وغځوي.
۲-په افغانستان کې سوله او ثبات د ګاونډیو هیوادونو په ثبات او سوله باندې متقابل اغیز لري. زموږ په هیواد کې د جګړو دوام اوبې ثباتۍ تر ډیرې اندازې د ګاونډیو هیوادونو او سیمې ثبات هم کمزوری کړیدی چې کیدای شي که په افغانستان کې سوله ټینګه نه شي ددې هیوادونو، سیمې اونړۍ دهیوادونو سوله ایز ژوند لاهم د ستونزو سره مخامخ شي.
تجربې په عمل کې وښودله چې د افغانستان په کورنیو چارو کې د ګاونډیو هیوادونو لاسوهنې او د ځینو خاصو ډلو څخه د دوئ ملاتړ په هیواد کې د جګړو څخه د راپیدا شوې غمیزې د اوږدیدو سبب شوي دي، چې افغانانو پکې ډیر زیات ځاني ، مادي او معنوي زیانونه ولیدل او ویني. خو ګاونډیو هیوادونو ته پکې هیڅ ګټه نه ده رسیدلې او کیدای

شي چې لاپسې د ډول ډول ستونزو سره مخامخ او سوله او ثبات یې په خطر کې ولویږي.
د افغانستان ملي یووالي سازمان په ټینګه غواړي چې ګاونډي هیوادونه دې نور زمونږ په هیواد کې خپلې لاسوهنې بس کړي ، د خاصو ډلوڅخه دې ملاتړ نه کوي او په افغانستان کې دې نور د بې اتفاقۍ او جګړو په اور تیل نه ښندي او دهغې پر ځای دې د ټولو افغانانو سره د دوستۍ لاس ورکړي او دسولې او ثبات په ټینګیدو کې دې مرسته وکړي او په دې توګه دې په خپلو هیوادونو کې سوله او ثبات هم ټینګ کړي.
۳-که نړیواله ټولنه غواړي چې ځان د افغان غمیزې څخه د راپیدا شوو ستونزو له شر څني خلاصه کړي او هم د افغانستان د خلکو پر وړاندې خپل اخلاقي مکلفیتونه سرته ورسوي ، نو باید د افغان مسئلې د بنسټیز حل په لټه کې شي . او هغه دا چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاس وهنه په کلکه بنده شي او دملګرو ملتونو د سازمان تر نظارت لاندې د طالبانو او مخالفینو د استازو په ګډون د ټولو افغانانو د استازو د جرګې له لارې د دموکراسۍ د اصولو سره سم داسې یو سر تر سري حکومت منځ ته راشي ، چې نه یوازې د ټولو افغانانو ملاتړ ورسره وي ، بلکې نړیواله ټولنه یې هم په رسمیت وپیژني او مرسته ورسره وکړي . په دې اړوند د افغانستان ملي یووالي سازمان یوځل بیا د افغان ستونزې د بنسټیز اواري لپاره د ملګرو ملتونود سازمان پام د سولې د پروګرام هغې مسودې ته را اړوي ، چې ددې سازمان له خوا د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازي ښاغلي لخدار ابراهیمي ته د ۱۹۹۷کال د اګست پر ۲۲نیټه ، سپارل شوې ده .
۴-پر افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد د ۱۳۵۸کال د جدي د شپږمې نیټې په تیري سره نژدې ټول افغانان د شوروي یرغلګرو پوځونو په مقابل کې را پاڅیدل او دهغه چا له منلو څخه یې ډډه وکړه چې د دوئ

پر ټانکونو سپور راغلي و . خو یو شمیر هیوادونو ،په خاص ډول پاکستان اوایران، د خپلو غرضونو له مخې د مقاومت په یو واحد ځواک کې د افغانانو د راټولیدو مخه ونیوله . هڅه وشوه چې د افغانانو مقاومت په ځو کوچنیو ډلو کې نه یواځې د یواو بل نه بیل ، بلکې دیوبل سره په مخالفت او دښمنۍ کې وساتي . تر ځویو واحد ملي ځواک منځته را نه شي او د ملي زعامت دغه تشه چې منځته راغلې ده ډکه نه شي . جګړې دوام ومومي او د مقاومت د غورځنګ کنترول او قومانده د دوئ په لاس کې وي . همدا سبب دی چې د افغانستان په کورنیو چارو کې د دغو هیوادونو لاسوهنې لا اوس هم روانې دي چې له همدې کبله د افغانانو غمیزه پای ته نه رسیږي . ترڅو دملي زعامت دغه تشه ډکه نه شي ، دبهرنیوهیوادونو لاسوهنې به دوام لري. او ترڅو بهرنۍ لاسوهنې پای ته نه وي رسیدلي جګړې به دوام لري اوسوله او ثبات به منځته را نه شي .
د افغانستان ملي یووالي سازمان عقیده لري چې هیڅ یو شخص یا ډله په یواځې ډول نه شي کولای دغه د اوږدې مودې منځ ته راغلې د ملي زعامت تشه ډکه کړي ، سوله ټینګه او هیواد مو د جګړې له غمیزې او نړیوال ګوښه توب څخه وباسي . نو ځکه هیله څرګندوي چې ټول په خپل هیواد مین ملي سوله غوښتونکي شخصیتونه ، قومي مشران ، دیني عالمان ، روحانیون ، د سیاسي او ټولنیزو سازمانونو استازي د خپل هیواد د لوړوملي ګټو په خاطر خپل ټول د اختلاف وړ ټکي څنګ ته کړي ، دسولې او ملي یووالي پر یو مشترک پلاتفورم راټول شي او د ملي زعامت د تشې د ډکیدو په لور یو د بل لاسونه ټینګ ونیسي او مخ په وړاندې قدم واخلي.
**۵**-د طالبانو اسلامي تحریک چې **۹۵** په سلو کې د افغانستان خاوره یې په لاس کې ده او په هیواد کې یو پیاوړی سیاسي ځواک دی ، د نړیوالې ټولنې دنه ملاتړ له امله و نه شول کړای په ټول هیواد کې یو واحد

سرترسري حکومت منځ ته راوړي . هیواد دنړیوال ګوښه توب څخه وباسي ، د ملګرو ملتونو د سازمان او نورو هیوادونو مرستې تر لاسه کړي ، د پنځومیلیونو په شاوخوا کې افغان مهاجرینو ته د بیرته تګ او میشت کیدو زمینه برابره کړي ، دخلکو اقتصادي – ټولنیزې او فرهنګي ستونزې اوارې کړي او دهیواد بیا رغاونه پیل کړي او د سیالو هیوادونو په لیکه کې یې ودروي .

خو له اوسني حالت څخه د افغانستان د ویستلو توان اوس هم له بل هر سیاسي نظامي ځواک نه د طالبانو سره زیات دی ، چې له همدې کبله د ټولو ملي وطنپالو افغانانو سترګې د طالبانو اسلامي تحریک ته را اوړي . چې له اوسنیو ستونزو څخه به د افغانستان په ژغورلو کې خپل ملي اسلامي دین سرته ورسوي . د دموکراسۍ د اصولو سره برابر د داسې یو حکومت منځ ته راتلو ته ، چې د ټولو افغانانو او نړیوالو ملاتړ ورسره وي زمینه برابره کړي . خپلې هغه وعدې چې د تحریک دفعالیت په پیل کې یې خلکو سره کړې وې ، چې د قدرت اخستلو لپاره نه ، بلکې د فساد د ورکیدو ، دخلکو د ستونزو او کړاوونو د لیرې کیدو او د یوعادلانه اسلامي نظام د منځ ته راتلو او ټینګیدولپاره راپاڅیدلي دي ، پوره کړي . د افغانستان د اوسني مرګوني ګوښه توب څخه د را ایستلو په لار کې ، چې د افغانانو بې شماره ستونزې یې منځ ته راوړي دي ، له هیڅ ډول هلو ځلو ځنې ډډه ونه کړي . تر څو په هیواد کې سوله ټینګه شي ، ټول مهاجر افغانان بیرته خپل هیواد ته را وګرځي او افغانستان د تعزیراتو پر ځای د ملګرو ملتونو دسازما ن اونړیوالې ټولنې سیال غړی او مرستې یې تر لاسه کړي.

۲-دطالبانو مخالف ځواکونه ، چې دشمال اتحاد او په خاص ډول د احمد شاه مسعود وسله والې ډلې یا د نظار شورا په وجود کې مقاومت او جګړو ته دوام ورکوي ، یواځې ۵ په سلو کې د افغانستان خاوره په لاس

کې لري . بله هيڅ يوه سياسي وسله واله ډله په افغانستان کې دومره د قدرت د لاسته را وړلو او ساتلو لپاره نه ده جنګيدلې لکه داحمد شاه مسعود د نظار شورا چې په اوږدو جګړو کې را ګير ده ، چې په دې جګړو کې په زرګونو ددې شورا غړي ، پلويان او مخالفين له منځه تللي دي اوبې کچه مادي او معنوي زيانونه زموږ هيواد ته رسيدلي دي . د ډاکتر نجيب الله د حکومت په مقابل کې کودتا ، چې په واقعيت کې دملګرو ملتونو د سولې د پروګرام په مقابل کې د کارمل د ډلې کودتا وه ، دشمال اتحاددډلې دغړو سره د شريک پروګرام له مخې او د دوئ د وسله والو ډلو په مرسته بريالیتوب ته ورسيده ، چې دسولې د ټينګيدو پر ځای د افغانانو خپل منځي جګړې پيل اودوام وموند او لا تر اوسه روانې دي ، چې بې له مرګ ژوبلې اوبربادۍنه يې د افغانستان غمځپلو خلکو ته بل هيڅ شی نه دی راوړی.

د افغانستان ملي يووالي سازمان ، چې د افغانانو په خپل منځي جګړو کې يې د هيڅ يوې په جګړو کې ښکيلې ډلې سره د بلې ډلې په مقابل کې برخه نه ده اخستې او تل يې د افغان وژنې دا جګړې غندلي او د سولې او ملي يووالي د ټينګيدو غږ يې پورته کړی دی. اوس هم د شمال په اتحاد او په خاص ډول د نظار په شورا غږ کوي چې د جګړې او ځان لپاره د قدرت غوښتلو پر ځای د سولې د ټينګيدو لاره خپله کړي او د ټولو سوله غوښتونکو افغانانو سره يو ځای د داسې يو سرتر سري حکومت د جوړيدو لپاره سوله ايزې هلې ځلې پيل کړي ، چې دټولو افغانانو اونړيوالي ټولنې ملاتړ ورسره وي او هيواد مو له جاري غميزې او ګوښه توب څخه ووځي.

لويه جرګه د سترو او ستونزمنو مسئلو د اواريدو لپاره د افغانانو يو تاريخي عنعنوي جوړښت دی چې په سوله ايز ډول ددې جوړښت له لارې ډيرې پيچلې مسئلې اوارې شويدي. اوس هم کيدای شي د لوې جرګې د

جوړيدو له لارې زموږ غميزه پای ته ورسيږي . خو لويه جرګه بايد د ټول ملت د استازو له خوا جوړه شوې وي. هر افغان په هر قوم ، ژبې ، مذهب ، ځای ، قشر او ډلې پورې مربوط خپل استازی په دې لويه جرګه کې ووينې. لويه جرګه د افغانستان ملي يووالي سازمان د کړنلارې ، چې د ۱۳۷۵کال د ځمري دمياشتې په ۲۸ نيټه د سازمان د لوې غونډې له خوا تائيد او منځته راغله ،غوره بر خه جوړوي ، چې کيدای شي د دې له لارې په هيواد کې يوه تلپاتې سوله ټينګه او د ټولو افغانانو د خوښې داسې يوسرتر سري ملي اسلامي حکومت منځته راشي چې دملګرو ملتونو د سازمان فعال غړيتوب ولري اودنړيوالوملاتړ ورسره وي .

له همدې کبله د افغانستان ملي يووالي سازمان د لوې جرګې د جوړيدو لپاره د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه او دده د نژدې پلويانو او نورو ټولو ملي وطنپالو افغانانو هلې ځلې تائيدوي اوعقيده لري چې که د ځو محدودو کسانو پر ځای دټولو هغو افغانانو هلې ځلې ، چې فکر کوي د لوې جرګې له لارې د افغانستان مسئله اواريدای شي همغږې شي اودې جرګې په جوړيدوکې فعاله برخه واخلي ، کيدای شي داسې يوه لويه جرګه چې دټولو افغانانو استازيتوب وکړي جوړه او زموږ جګړو ځپلي هيوادته سوله او ثبات راوړي .

د افغانستان ملي يووالي سازمان خپلې کړنلارې ته په وفادارۍ سره د جګړې له لارې د افغان مسئلې په اواريدو باور نه لري . جګړې يوازې دافغانانو مرګ ژوبله اودهيواد بربادي منځته راوړي . د افغان مسئلې د اواري لار يوازې سوله ايزه سياسي لار ده ، چې د لوې جرګې دجوړيدو په واسطه د افغان مسئلې حل ترټولو غوره لار ګڼل کيږي . خو بايد د لوې جرګې تر جوړيدو مخکې ټول افغان سوله غوښتونکي ملي وطنپال شخصيتونه او ځواکونه او دلوې جرګې پلويان د سولې په يوې جبهې کې راټول شي ، تر څو د طالب چارواکو او ددوئ د مخالفينو سر ه په تفاهم

کې ، دننه په هیواد کې دلوی جرگې د جوړېدو امکانات منځ ته راشي . او په دې ډول د ملگرو ملتونو دسازمان او نړیوالې ټولنې په مرسته او ملاتړ بې له بهر نیو لاسوهنو څخه د ټولو افغانانو د خوښې داسې یو واحد سرتر سري حکومت منځ ته راشي ، چې کورنۍ ستونزې اوارې ، سوله او ثبات ټینگ او هیواد مو بیرته د ملگروملتونو د سازمان فعال غړی شي او د نړیوالې ټولنې د سیالو هیوادونو په قطار کې ودرېږي .

*- دالیکنه د افغانستان ملي یووالي گوند په استازیتوب د ۱۳۷۹کال د جدې پر ۲ دهالند د آسن په ښارکې د افغان روښانفکرانو یوې غونډې ته ولوستل شوه .

# ځرنګه کیدای شي د افغانستان ملي یووالي ګوند خپلې ملي دندې او مکلفیتونه په بریالیتوب سره سرته ورسوي*

درنو ملګرو !

د افغانستان ملي یووالي ګوند داسې یو ګوند دی ، چې بې له هر ډول بهرنۍ مرستې څخه پخپله د ملي وطنپالو افغانانو له خوا ، چې ارمان یې یوالي او یوالي د خپلو خلکو او هیواد سوکالي ، سرلوړي او ښیرازي وه اوده ، د ډیرو ناچیزو مادي امکاناتو په درلودو سره د ۱۹۹۲کال د اګست په ۱۹نیټه منځته راغلی دی.

ډیرو کسانو ، خپلو او پردو ، دا ګومان کاوه چې ګني دا ګوند به ونه شي کړای خپل موجودیت ته دوام ورکړي . دا خو لاپر ځای پریږده چې وده وکړي اوپه یو قانوني او راجستر شوي ګوند بدل شي . دهیواد په مهمو سیاسي مسئلو ، لکه د ولسمشرۍ اوپارلمان لپاره په ټولټاکنو کې فعاله برخه واخلي اوپه افغاني ټولنه کې د داسې یو ملي سیاسي ځواک په حیث مطرح شي چې افغانستان د افغانانو لپاره غواړي.

د افغانستان ملي یووالي ګوند هغه رښتیانی ملي سیاسي ځواک دی چې په خپل ځان متکي دی او دهیڅ یوې کورنۍ اوبهرنۍ تمویلونکې شبکې او منبع سره تړاو نه لري ، نو ځکه یې تل یوالي د ګوند دغړو په مرستو خپل ژوند او فعالیت ته دوام ورکړی دی . له همدې کبله نه یوالي دکمزوري اقتصاد اومالي ستونزو سره مخامخ دی ، بلکې د یو ملي سیاسي ځواک په حیث یې تل د کورنیو او بهرنیو مافیایي شبکود و رانوونکو فعالیتونو سره مخالفت ښودلی دی اوددغو شبکو دښمني یې ګټلې ده.

د کورنیو اوبهرنیو استخباراتي اومافیایي شبکو پورې تړلو کسانو ، چې هځه کوي د هیواد په سیاسي ، نظامي او اقتصادي چارو کې دوامدار برلاسی ولري ، زموږ دګوند سره دښمني د ولسي جرګې په ټولټاکنو کې پوره جوته شوه . زموږ د ګوند هیڅ یونوماند( کاندید ) د دغو شبکو د توطیو له کبله ولسي جرګې ته لار ونه موندله . دغو استخباراتي مافیايي شبکو د ټولټاکنو مشترک دفتر اوملګرو ملتونو پورې اړوند د یوناما ځینې کار کوونکي هم د میلیونونو ډالرو په رشوت ورکولو سره په ټولټاکنو کې د ځان پورې تړلو نوماندانو په ګټه ، ددوئ د بریالیتوب لپاره اجیر کړي وو . په رای اچونو کې د د رغلیو سربیره ، په رای شمارلو کې له شرمه ډک داسې کارونه سرته ورسیدل ، چې د دموکراسۍ ترنامه لاندې د اسې رسوا خیانتونه هیڅ د ښنلو وړ نه دي . او دا ځکه چې دوئ په دې اعمالو سره دیو دموکراتیک دولتي نظام دمنځته راتګ په خاطر دخلکو په هیلو او باور ملنډې ووهلې.

سرې نه پوهیږي ، چې د دوئ پر دغو اعمالو چې په ډالرو باندې دتشورای پاڼو د صندوقونو خرڅول ، په کورونو کې د خاص کاندید په ګټه د دغو رای پاڼو په نښه کول اوبیرته د رای شمارلو مرکز ته راوړل او شمارل د خاص کاندید په ګټه د یو لک ډالرو په بدل کې د شمیرلو د یو میز اجاره کول ، د دوئ لپاره د نا مطلوبو نوماندانو یانې هغه چا چې ډالر یې نه وو ورکړي ، رای د مطلوبو نوماندانو یانې ډالر ورکوونکو په حساب ثبتول ، د اړوندو چارواکو له خوا د۳۰زروډالروپه بدل کې د ځینو کاندیدانو د بریالیتوب تضمینول او د هغو رای پاڼو د صندوقونو قرنطین کول ، چې دوئ فکر کاوه چې د خلکو له خوانه ددوئ مطلوبو نوماندانو ته رای نه دي ورکړل شوي او پر ځای یې ملي دموکراتو شخصیتونو رای ورې دي. دا هغه څه دي چې په کولو سره یې د دموکراسۍ ، بشر د حقوقو اولږترلږه مدني ټولنې ټول نورمونه تر پښو لاندې کړي دي.

له دي ټولټاکنو څخه داسې نتيجه په راس راغله چې کورنۍ اوبهرنۍ مافيايي شبکې غواړي په نظامي او اقتصادي لحاظ په ټولنه کې مسلط پخواني جګړه ماران او اوسني د سترو مادي امکاناتو خاوندان دې د دولت قانون جوړونکی اورګان هم په لاس کې ولري اوپه اصطلاح ، په قانوني ډول ، د افغانانو لوټولو او ځبيښلوته د ځان او خپلو بادارانولپاره زمينه مساعده کړي . کورنۍ مافيايي شبکې چې دنړيوالو مافيايي شبکو سره ټينګې اړيکې لري ، غواړي د هيواد دخلکو د اقتصاد ، پوهې او معلوماتو سطحه دومره ټيټه وساتي چې تل محتاج وي او له واقعيتونو اوخپلو حقوقو څخه ددفاع وس ونه لري. دغه شبکې غواړي په درواغجنو تبليغاتو او تشووعدو ، چې د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره کار کوي ، خلک وغولوي. خو دخلکو د ستونزو دله منځه وړو او د دوئ د ژوند د ښه والي لپاره يې هيڅ وخت کوم د پام وړ کار نه دی کړی او نه به يې وکړي.

د خلکو ژوند ورځ په ورځ خرابيږي ، خو هغه څوک چې مافيايي شبکو سره تړلي دي خپلو نامشروعوپانګو زياتيدوته دوام ورکوي . حتی د هيواد په پلازمينه ، کابل کې ټول لوړ منزله تعميرونه ، رستورانونه ، د کرايو لپاره بلاکونه ، د ودونو او دعوتونو لوی لوی تالارونه او د ساعت تيريو ځايونه چې جوړ شوي دي د دغو شبکو د غړو سره په ،يوډول نه يوډول ، تړاو لري. خو د خلکو د سوکالۍ او دستونزو د اوارۍ لپاره کوم کوچنی ګام هم نه دی پورته شوی . دمثال په ډول لا تر اوسه کابل ښاريانوته اوبه اوبريښنا په جيره ورکول کيږي ، ډير خلک وږي ، بربنډ ،بې کوره اوبې کاره ګرځي. دناټو دبمباريونه ژوندي پاتې کډوال خوهډو د ژوند کولو هيڅ ډول امکانات نه لري ،خودولتي چارواکي او د دوئ بهرني ملاتړي ، چې په درواغود بشر دوستۍ نغاري ډنګوي ، ړانده او کاڼه دي اود دې غمځپلو خلکو ستونزي نه ويني او فريادېې نه اوري.

همدارنګه د عامه ښیګڼو ډیر ځایونه لکه ښوونځي ، روغتنونه ، د اوبو شبکې ، سړکونه او د بریښنامزي اوبرجونه چې له کاره لویدلي دي بیرته نه دي رغول شوي او عامه ټولنیزو فعالیتونو کچه د نړی‌ترټولو هیوادونو ټیټه ده .

د مرستو په نوم په میلیاردونو ډالر د افغانستان د خلکو سره د خواخوږی له امله ورکړل شویدي ، خو له دې ځنې کوچنۍ برخه هم د خلکو دستونزو د اوارولو او د دوئ په ګټه نه دي استعمال شوي. ددې پر ځای چې دغه پیسې د عام المنفعه پروژو په سرته رسولو مصرف شي ، د مافیایي شبکو پورې تړلو چارواکو ، انجیو ګانو او مشاورینو په منځ کې تقسیم شوي دي . د هیواد طبیعي شتمنۍ هم د دغو کورنیو او بهرنیو مافیایي شبکو د لوټ اوتالان ځخه نه دي بچ شوي . د مخدره موادو اووسلود قاچاق سربیره د ځنګلونو او معدنونو لوټ اوتالان ددولت د فاسدو چارواکو په ګډون په شدت سره دوام لري او هیڅوک یې مخه نه شي نیولای.

لنډه دا چې هیواد دکورنۍ او بهرنۍ مافیا په تورو منګولو کې ښکیل دی او ژغورل یې اوږده ، هوښیاره ، بې ډاره او له سرښندنوځنې ډکه مبارزه غواړي . دغه مبارزه په یواځې ډول د افغانستان ملي یووالي ګوند له وسې پوره نه ده . د دې مبارزې د بریالۍ سرته رسیدو په خاطر د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ګوندونو یووالي ته ضرورت دی . چې د یوواحد سرترسري سیاسي ځواک په حیث د افغانستان د ټولو خلکو د ملي یووالي د ټینګیدو او د دوئ دسیاسي ټولنیزې پوهې د لوړیدو په خاطر مبارزه وکړي ، ترڅوخلک خپل دوست او دښمن وپیژني اودخپل هیواد دملي ګټو او له خپلو حقوقو ځنې دفاع وکړي.

د همدې اصل له مخې د افغانستان ملي یووالي ګوندهڅه وکړه د هغو ګوندونو سره چې ګډ مرامي اهداف لري او د توپیر ټکي یې کم دي د

يوواحد ګوند جوړيدو لپاره ګډې هلې ځلې پيل کړي . په خاص ډول دا خبرې د افغانستان ملي يووالي ګوند ، د افغانستان د سولې غورځنګ ګوند اود افغانستان ملي ګوندتر منځ پيل شوې . چې له لومړنيو خبرو وروسته موضوع د افغانستان ملي يووالي ګوند د مرکزي شورا د اجرائيه بيورو غونډې ته وړاندې شوه . په اجرائيه بيوروکې د ډيرو خبرو اترو وروسته د بيورو د غړو په اکثريت پريکړه وشوه چې د سولې د غورځنګ سره په يووالي کې مخالفت نه لري ، خوکه دملي ګوند په دننه کې د جدي د ۶ نيټې عاملين وي ، نونوموړي ګوند سره جبهه جوړيدای شي ، خو ګوندي يووالی دجدي د ۶نيټې اصلي عاملينو سره نه شي کيدای . همدا پريکړه ټکي په ټکي د ملي ګوند مشر ښاغلي عبدا لرشيد ارين او ښاغلي رحيمداد خان : په افغانستان کې د سولې غورځنګ ګوند مسئول ته وښودل شوه ، چې دواړو ښاغلو کوم منفي غبرګون ونه ښود . په خاص ډول د افغانستان د ملي ګوند مشر ښاغلي عبدالرشيد ارين په ملي ګوند کې د جدي د شپږمې نيټې تيري د اصلي عاملينو دغړيتوب څخه انکار وکړ . کله چې داخبره څيره شوه چې سيد محمدګلاب زوی دخپلو ملګروسر ه د ملي ګوند له کنګرې ځنې وتلی دی او له دغه ګوند سره يې خپل اړيکي شلولي دي ، نو ددې خبر په اوريدوسره د افغانستان ملي يووالي ګوند دغړو ، په خاص ډول د اجرائيه بيورودغړو په نظر کې تغير راغی او دملي ګوند اوسولې غورځنګ ګوند سره د جبهې يا ائيتلاف پر ځای يې ګوندي يووالی ، چې د درې واړو ګوندونو داکثرو غړو او هغو روښانفکرانو چې تر اوسه په ښکاره د چاسره نه وو تللي غوښتنه وه ، غوره وګاڼه او د اجرائيه بيورو په غونډه کې د رايو په يووالي ومنل شو . مخکې له دې چې کوم عملي ګامونه واخستل شي د ګوند مؤقتې شورا غونډه وکړه چې د اجرائيه بيورو پريکړه تر څيړنې لاندې ونيسي يا يې تائيد او يا يې رد کړي . وروسته له ډير جر اوبحث څخه دشورا په غونډه

کې په دې هکله هیڅ ډول منفي عکس العمل وه نه ښودل شو او د درې واړو ګوندونو یووالی د رایوپه اتفاق تائید شو اویوشمیر عملي ګامونه هم واخستل شول.
د یووالي په هکله د افغانستان ملي یووالي ګوند یو شمیر غړو هغه وخت شک وښود ،کله چې په ملي ګوند کې د سید محمد ګلاب زوی په هکله په اروپا کې د دغه ګوند یو شمیر غړو د نوموړي پر غړیتوب اومعاونیت باندي ټینګار کاوه اوویل یې چې ګلاب زوی نه پخپله استعفا کړیده او نه کوم مقام له ګوند ځنې ویستلی دی. دا کار په داسې وخت کې کیږي چې زموږ ګوند د یوې بلې توطیې سره مخامخ و . هغه دا چې له ګوند څخه بیرون ځینو معلوم الحالو کسانو د پردیو په اشاره په ګوند کې ځینې کسان چې د ګوند له اصولو او ګوندي ژوند سره دومره بلدیت نه درلود دګوند اود ګوند دمشرتابه پرضد مخالفت اوخصمانه تبلیغاتو ته وهڅول. اصلي موخه دا وه چې د افغانستان ملي یووالي ګوند له دننه ځنې د ستونزو اوبحران سر ه مخامخ کړي او په دې ډول یې د هغه ملي وطنپال دریځ څخه واړوي چې دګوند د جوړیدوله لومړۍ ورځې نه تر اوسه پورې زموږ ګوند ترې دفاع کړې اوکوي یې.
د ګوند ضد کسانو لکه د پخوا په شان ، په خاص ډول دګوند دمشر ( جلیلي ) د شخصیت په تخریب پسې بډې راووهلې اوله درواغو اوخیانت څخه ډک تبلیغات یې ورپسې پیل کړ ل. د مثال په ډول دوئ دګوند په مشر پسې پرو پاګنډې پیل کړې چې ګنې جلیلي چې له ننګرهار څخه ځان ولسي جرګې ته کاندید کړ ، دا ځکه چې دی د پنځوسو زرو ډالرو په اخستو سره په کابل کې له کاندیدیدو ځنې تیر شو . بل ډول تبلیغات دا چې ده له روسي مقاماتوځنې ډالر اخستې دي ، تر څو روسي استخباراتو پورې تړلو کسانو سره یې یووالی وکړ. منحرفینو تبلیغات پیل کړل ، چې دګوند رهبري ، په خاص ډول رئیس او معاونین یې نور

زاړه دي ، د ګوند د مشر توب وړتیا نه لري باید په کودتایي ډول ، یانې د څو منحرفینو غونډه جوړه شي او په هغې کې د ګوند رئیس یو ځوان ، پولدار او ډېرو امکاناتو خاوند سړی رئیس شي ، په خاص ډول هغه څوک چې د امریکائیانو سره ښې اړیکې جوړې کړي. چې په دې ډول به ګوند د امریکې سره نژدې کړي او د امریکې مرستې به ترلاسه کړي.
همدارنګه دګوند ضد کسانو پخوانۍ درواغجنې پروپیګنډې بیا پیل کړې ، چې جلیلي له اروپا ځنې یو لک ډالر راوړي دي او نژدې خپلوانو او دوستانو ته یې ورکوي او دګوند دارایي په شخصي لاروکې مصرفوي.
دوئ همدارنګه تبلیغات پیل کړل چې جلیلي ته د اروپا ملګري د میاشتې ۷۰۰۰ ډالر ورکوي او دی (جلیلي ) یې د ګوند لپاره نه ، بلکې په شخصي لاروکې مصرفوي . داسې له درواغو ډک خاینانه تبلیغات چې د پردیو استخباراتي شبکو پورې تړلو اجنټانو له خوا د ګوند دمشر تابه ، په خاص ډول د ګوند د رئیس ، پرضد په کار وړل کیږي په واقعیت کې دوه موخې لري: یوه داچې هڅه کوي ترڅو په ګوند کې بې باوري رامنځ ته کړي او د ګوند هغه غړي چې د خپل ګوند سره مالي مرسته کوي ، نوره دغه مرسته د خپلو هیلو او موخو سره سمه ونه ګڼي او یایې قطع کړي او یا یې کمه اوناڅیزه کړي. دویمه داچې هغه چا چې په خپل ټول ژوند کې هیڅ وخت درغلي نه ده کړې او دخپل ګوند دبقا او پرمختګ لپاره او د واقعیتونو ځنې د دفاع په خاطر یې له هرچا څخه زیاته هر اړخیزه قرباني ورکړیده د خپلو ملګره په وړاندې بې باوره کړي او شخصیت یې ترور کړي. دا نه یواځې د منحرفینو هڅه ده ، بلکې د بهرنیو استخباراتي شبکو او هغو پورې تړلو کسانو هڅه ده ، تر څوهغه څوک لومړی تر هر چا له ستونزو سره مخامخ کړي چې په دې لار کې له هیڅ ډول قربانیو څخه ډډه نه ده کړې ، له خطر ځنې نه دی ډار شوی او په زړورتوب یې د افغانانو

له ملي ګټو او له خپلو تیرو اواوسنیو ملي ارمانونو څخه حتی په ډیرو ناوړه شرایطو کې دفاع کړې ده.
ګرانو ملګرو !
د دوهمې کنګرې ځنډول اشتباه وه. دافغانستان ملي یووالي ګوند ددوو نورو ګوندونو په دې غوښتنه چې که د "یووالي په لور "پروتوکول له لاسلیک څخه وروسته د یوځانګړي ګوند کنګره جوړیږي ، دا کیدای شي د ملګرو په روحیه کې د یووالي احساس کمزوری کړي. موږ د دوئ دا غوښتنه د ګوند اجرائیه بیورو او مؤقتي مرکزي شورا ته وړاندې کړه او ددواړو اورګانونو له خوا د رایو په اتفاق تائید شوه. چې بیاوروسته مو نورو ملګرو ته خبر ورکړ اوکنګره وځنډیده. چې دا کار دګوند د مشرتابه پریکړه وه اود رئیس یاکوم بل چا ځانګړې پریکړه نه وه. خو هغو کسانو چې تل په کمین کې ناست دي له دې څخه یې هم د ګوند د رئیس پرضد پروپیګنډه جوړه کړه ، چې ګنې جلیلي دا کنګره ددې لپاره وځنډوله چې د خپل ریاست موده نوره هم اوږده کړي.
اوس به راشو اصلي موخې ته او هغه دا چې ملګري د دوه دریځۍ ، بې تفاوتۍ او بې اتفاقۍ پر ځای خپل وطن ، خلکو او خپل ګوند ته د مسئولیت په احساس سره هڅه او هاند وکړي چې د صمیمیت او ملګرتوب په فضا کې خپل نظریات وړاندې کړي چې څرنګه له دې موجوده مشکلاتو ځنې ، چې د بهرنیو استخباراتي شبکو اجنټانو له خوا ورته لمن وهل کیږي ، وتلی شو . هڅه باید وشي چې نظریات اووړاندیزونه رغنده وي او د ستونزو د حل لپاره وي ، نه دچا دملامت کیدو اویا دستونزو د زیاتیدو لپاره. دهمدې لپاره چې دملګرو تر منځ د نورو ګوندونو سره د یووالي په هکله دریځونه مخالف نه وي اویوواحد دریځ ته ورسیږو د نومبر په ۸/۷ باندې په ننګرهار جلال ابادکې یوه غونډه جوړه شوه ، چې پکې دګوند د اجرائیه بیورو غړو ، د ننګرهار

ولایت د مشر تابه اودگوند د مؤقتې شورا غړو ، په پاکستان کې دمشرتابه د کمیټې او دګوند دمؤقتې شورا غړو او په اروپاکې د ګوند دمؤقتې شورا د یوشمیر غړو په استازیتوب دګوند دمؤقتې شورا دوه تنو غړو اوپه مسکوکې دمشرتابه دکمیټې اودګوند د مؤقتې شورا یوتن غړي ګډون درلود . په دې غونده کې چې دشپې له خوا جوړه شوې وه ګډون کوونکو په پوره دموکراتیکه فضا کې خپل نظریات د دوو نورو ګوندونو سره د یووالي په هکله څرګند کړل. نظریات لومړی یوبل سره په توپیر کې وو ، خو کله چې پریکړه لیک باندې رای اخستل کیدې یواځې دوو تنو مستنکفې رای ورکړې او نورو ټولو د غونډې ګډون کوونکو پریکړه لیک ته مثبته رای ورکړه . په پریکړه لیک کې مهم ټکی داو ، چې په دې یووالي کې عجله شویده او باید د پوره څیړنې لپاره دګوند غړواو کدرونو سره مشوره وشي او له مشورو ځنې وروسته د ګوند په کنګره کې پرې پریکړه وشي. البته ځینې ملګري دیووالي دپروسې د ځنډیدو سره مخالف وواو دلیل یې داو چې که موږ دیووالي له پروسې ځنې مخ اړوو ، کیدای شي دا کار د ګوند اعتبار او پرستیژ ته تاوان ورسوي . خونورو ملګرو داسې دلیل راوړ چې د یووالي له پروسې څخه ګوند هیڅکله مخ نه اړوي ، خو یواځې په ملي ګوندکې د جدي دشپږمې نیټې تیري د عاملینو موجودیت باید معلوم شي ،چې ایا په دغه ګوند کې غړیتوب لري اوکه نه ؟ ځکه دافغانستان ملي یووالي ګوند اجرائیه بیورو لا په لومړي سرکې پریکړه کړې وه چې د جدي د شپږمې نیټې د تیري اصلي عاملینو سره ګوندي یووالی نه کوي. بل دا چې دګوند په دننه کې د بې اتفاقۍ او ډلبندۍ د مخنیوي په خاطر یوبل سره مشورې وشي اوپه پوره یووالي سره دګوند باصلاحیته عالي مقام یانې لویه شورا دې دا مهم تصمیم ونیسي ، نه نور ټیټ اورګانونه.
درنو ملګرو !

د ټولوملي دموکراتو شخصیتونواو ګوندونو یووالی نه یواځې ګټور ، بلکې د وخت ضرورت دی . په خاص ډول په اوسنیو شرایطو کې په یواځې توګه سیاست کول به په زړه پورې نتیجې ونه لري. د دې لپاره چې په یوسیاسي سرترسري ملي قوت بدل شو ، نه یواځې باید په خپلو کارونو کې په کیفي لحاظ تغیر راولو ، بلکې د هر هغه چا سره چې په اصولو کې مونږ سره توپیر نه لري یو شو او په دې ډول لاپسې خپل ګوند پیاوړی کړو . د سولې غورځنګ اوملي ګوند سره زمونږ یووالی د کیفیت او کمیت له پلوه داسې ځواک منځ ته راوړي چې له سیاسي نظره په افغاني ټولنه کې د پام وړ وګرځي. خو باید په دې ګوندونو کې دجدي د شپږمې نیټې اصلي عاملین نه وي. په خاص ډول کله چې اوس هم د دغو کسانو دریځ زمونږ د ګوند او وطن د ګټوسره سمون نه لري ، پر واقعیتونو سترګې پټوي او په بې شرمۍ سره دخپلو ملي ګټو پر ځای د پردیو له ګټوځنې دفاع کوي. دوئ په خپلودریځونوکې تل پر افغانستان باندې د شورویانو له تیري څخه ، چې پخپله روسان پرې اعتراف کوي اونړیوال او افغانان یې غندي ، منکر دي . دوئ له دغه تیري ځنې د راپیداشوې غمیزې ملامتیا په هغه چا اچوي چې ددغه تیري لومړني قربانیان دي . د "ګوربت "مجلې د **۲۵-۲۴**ګڼوسره د سید محمد ګلاب زوی مصاحبه دا خبر ې په اثبات رسوي . نو ځکه د داسې کسانو سره ګوندي یووالی نه یواځې کومه ګټه نه لري ، بلکې په لوی لاس ځان د توطیو سره مخامخ کول اوخپل ملي هویت ته تاوان رسول دي .
له همدې کبله په لومړنیو خبروکې دملي ګوند درئیس توجه دې خبرې ته اړول شویده او په لومړنیو خبروکې مو ورته دافغانستان ملي یووالي ګوند د اجرائیه بیورو پریکړه ښودلې ده . چې په دې اړوند د ملي ګوند رئیس د دغو کسانو ، په خاص ډول د سید محمد ګلاب زوی د غړیتوب څخه انکار کړی دی. خولا تر اوسه پورې په دې هکله د کوم ګوندي رسمي

مقام لکه اجرائیه بیورو اومرکزي شورا له خوا کومه پریکړه نه ده شوې اویواځې دا یې کافي ګڼلې ده چې : څرنګه چې ګلاب زوی د دوئ پر ضدخپرونې کړیدي ، دبل ګوند د جوړیدو وړاندیز یې کړی دی او دملي ارمان دورځپاڼې سره یې مصاحبه کړیده اوپه هغې کې یې ویلي دي چې دهیڅ یو سیاسي سازمان غړی نه دی . نو ځکه دی دملي ګوند غړیتوب نه لري اودملي ګوند غړی نه دی. البته په دې باره کې یوه وړوکې بیلګه د ښاغلي ارین په لاسلیک موجوده ده . همدارنګه د نومبر د ۲۵ نیټې تلیفوني خبروکې ښاغلي ارین بیا همدا دلیل تکرار کړ اوپه ملي ګوند کې یې د ګلاب زوی غړیتوب رد کړ. ده په اوسنیو شرایطو کې دملي ګوندد مرکزي شورا د غونډې جوړول ستونزمن وبلل او دا دلیل یې راوړ چې د یووالي دپروسې په ځنډیدو سره کیدای شي د ګلاب زوی پلویان د یووالي پر ضد کاروکړي. د دې لپاره چې د ګلاب زوی توطیه شنډه شي بهتره ده چې دیووالي پروسه ژر پیل شي او بیا وروسته موږ دمرکزي شورا غونډه جوړه کړو او له ملي ګوند څخه دده دویستلو پریکړه وشي. خو په اروپاکې دملي ګوند مسئولین اوس هم ګلاب زوی دملي ګوند غړی او معاون بولي او دا دلیل راوړي چې تر اوسه هیڅ صلاحیت لرونکي ګوندي اورګان له ګوند څنې دده دویستلو پریکړه نه ده کړې .

ځینې ملګري فکر کوي چې د افغانستان ملي یووالي ګوند دویمه کنګره نه یواځې ددې مسئلې د څیړلو او پر هغې باندې د پریکړې لپاره جوړه شي ، بلکې په کنګره کې د افغانستان ملي یووالي ګوند ټولې ستونزې وڅیړل شي او اوارې شي. د افغانستان ملي یووالي ګوند دویمه کنګره یا سرترسري ګوندي کنفرانس باید زموږ په ګوند کې کیفي تغیرات راولي ، لوړ ګوندي مقامونه یواځې دضرورت سره سم جوړ شي. هغه څوک چې د ګوند ارمانونو ته وفادار وي ، سیاسي پوهه اوتجربه ولري او د ګوند په کارونو کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کوي بایدد اصولوسره سم په

دموکراتیک ډول لوړو مقامونو ته پورته شي. په دې کنګره کې د مرکزي شورا او اجرائیه بیورو د مقام څخه نیولې د ګوند تر ریاسته پورې ټول ګوندي مقامونه له سره وټاکل شي. خو مخکې له دې ځنې دنوو شرایطو او ضرورتونو په پام کې نیولو سره د ګوند تګلاره او کړنلاره تائید او تصویب شي.
موږ به هغه وخت د نورو ګوندونو سره په یوکیدو کې ګټور واقع شو، چې پخپله روغ اوسو او کومه ستونزه ونه لرو. او که چیرته د ستونزو او نیمګړتیاوو سره یووالي ته ځو، نو دګټې پر ځای به یووالي ته تاوان ورسوو او د خیر پر ځای به د شر سبب شو. موږ به د افغانستان خلکو ته د ښنلووړ نه اوسو که چیرته د هیواد دا ملي ځواک چې په ډیرو قربانیو او کړاوونو منځ ته راغلی دی د دسیسو ښکار شي اویا دسیاسي تجارت وسیله وګرځي. موږ باید په دې برخه کې ډیر دقیق اوسو اوپه درواغجنو لاپو شاپو او پروپیګنډو ونه غولیږو. موږ هیڅکله دخپلو ملي ارمانونو څخه نه تیریږو اود وطن د شهیدانو وینه به په هیڅ قیمت خرڅه نه کړو.
موږ به هیڅکله د شورویانو خاینانه او ظالمانه تیری ، چې پکې یې د افغانستان برحال جمهور رئیس حفیظ الله امین او ګڼ شمیر افسران او سرتیري د تیري په لومړۍ ورځ او بیا یونیم میلیون افغانان یې په خپل هیواد کې په شهادت ورسول له یاده ونه باسو. بلکې تل به یې د هیواد داشغال ، بربادۍ اود **۲۵**کلونو د مرګ ژوبلې جګړو اود نورو هیوادونو د لاسوهنو او زموږ دخلکو د اوږدې غمیزې د اصلي عامل په حیث غندو او له عاملینو نه به د افغانانو ددې ټولو کړاوونو د جبران غوښتنه کوو.
موږ د جګړو ځپلي افغان ولس سره دنړیوالې ټولنې مرستو ته په درنه ستر ګه ګورو ، ملګري ملتونه اوهغه هیوادونه چې دافغانانو سره د خپل هیواد په بیا جوړیدو کې مرستې کوي دافغان ولس رښتیاني دوستان ګڼو خو د افغانستان په کورنیو چاروکې لاسوهنه ، په قومي ، ژبني اومذهبي

بنسټ ولاړ تبعیضي چلند ، دهر چا له خوا چې وي ، په کلکه ردوو اودا کار افغانانو سره دوستي نه ، بلکې دښمني بولو .
په افغانستان کې باید یو رښتیانی ملي دموکراتیک دولتي نظام ټینګ شي ،چې دهر ډول فسادنه خلاص او دخلکوخدمتګار نظام وي ، د خلکو ارادې ته درناوی وکړي او غوښتنې یې سرته ورسوي. چې ددې کار لپاره دټولوملي دموکراتو ځواکونو یووالی او ورسر ه مرسته ضر و ري کا ر دی . دنړیوالې ټولنې څخه زموږ غوښتنه داده چې په دې لار کې د ملي دموکر اتو ځواکونو او دافغانستان دخلکو ملاتړ وکړي ،تر څو یو رښتیانی ملي دموکراتیک دولتي نظام ، چې د ټولو افغانانو ملاتړ ورسره وي منځ ته راشي اوټینګ شي . د هغوکسانو اوډلو له ملاتړ څخه ، چې یواځې دخپلو شخصي او ګروپي ګټو لپاره کار کوي ، هیواد یې دمخدره موادو د کر کیلې او قاچاق مرکز ګرځولی دی ، دبشر پر حقوقو او دموکراسۍ هیڅ عقیده نه لري اوپه پرله پسې ډول په افغانستان کې د بې اتفاقۍ اوبې ثباتۍ عاملین دي ، ډډه وشي .
د افغانستان ملي یووالي ګوند دیوواقعي ملي دموکراتیک دولتي نظام ټینګیدو په خاطر هلې ځلې خپله ملي دنده ګڼي . یوواقعي ملي دموکراتیک دولتي نظام باید په ازادانه ډول دخلکو له خوا دخلکو د غوښتنو سره سم منځته راغلی وي. په هر ملي دموکراتیک نظام کې د خلکو د ارادې تمثیل اودقانون حاکمیت هرومرو کار دی. بې د خلکو له ارادې اوفعال ګډون څنې ، چې دخلکو عامه ملي ګټې تر هر څه لوړې ګڼل کیږي ، هیڅ دولتي نظام ته دموکراتیک نه شو ویلای. په دموکراتیکو نظامونو کې د فساد ،قانون ماتونې ، د بشر له حقوقو څنې د سر غړونې ، زور زیاتي ، تبعیض ، تعصب اونورو بدو اعمالو په مقابل کې مبارزه د دولت دنده وي. خو په غیر دموکراتیکونظامونو کې نه یواځې دولت دغه

دنده سرته نه رسوي ، بلکې پخپله دولتي کار کوونکي په فساد اخته وي ، قانون تر پښولاندې کوي او دبشر له حقوقو څخه سرغړونه کوي.
په افغانستان کې وروسته له ۲۵کلونو جګړو ځنې اساسي قانون جوړ او د هغه له مخې نور قوانین اودولتي دستګاه ( حکومت ، قضااوپارلمان ) منځته راغلل ، چې دا کار دجګړوځنې دوتلو اوسیاسي سوله ایزډګر ته د تلو په مانا د جګړوځپلي افغانستان لپاره ډیره مهمه اودپام وړ خبره ده.
خو موږ په خپلوسترګوولیدل چې د دولت په دستګاه کې حکومت له ډول ډول نیمګړتیاوو اواداري فسادونو څخه ډک دی اود پارلمان لپاره ټاکنې د رشوتونو ، درغلیو او زور زیاتي ځنې ډکې وې اونه شو ویلای چې دا دموکراتیکې ټاکنې وې . په دې ټاکنو کې د خلکو دغوښتنو په خلاف ډیر هغه کسان د ډالرو او بهرنیواو کورنیو روابطو په زور بریالي وښودل شول چې دخلکو دباور وړ نه وو او د خلکو رایې یې نه وې ګټلې.
په قضایي چارو کې هم د رشوت خوړلو او فساد بوی دهر چا تر پزې رسیدلی دی . نوځکه اوسني دولتي نظام ته یوواقعي ملي دموکر اتیک دولتي نظام نه شوویلای او لازم دي چې د خلکو د غوښتلوسره سم د یوواقعي ملي دموکراتیک دولتي نظام د ټینګیدو په خاطر سوله ایزه سیاسي مبارزه سرته ورسیږي.
ددې لپاره چې دیوواقعي ملي دموکراتیک دولتي نظام د ټینګیدو په خاطر دا مبارزه په بریالیتوب سره سرته ورسیږي باید دیورښتیني ملي دموکراتیک ګوند یا جبهې له خوایې لار ښوونه وشي . دا باید داسې یوګوند یا جبهه وي چې خلک یې ملاتړ وکړي او باور پرې ولري . دې ګوندیا جبهې باید په عمل کې ثابته کړې وي چې تر هر څه پرې د خپلو خلکو ملي ګټې ګرانې دي او هیڅکله به دخپلو خلکو دملي ګټو پر سر د هیڅ کورنیو اوبهرنیو دخلکو دګټو دښمنانو سره معامله ونه کړي.

سره ددې چې دافغانستان ملي یووالي ګوند د ډیرو کورنیو اوبهرنیو مخالفینو د توطیو سره مخامخ دی او نه پریږدي چې دا ګوند خپلو ارمانونو ته د رسیدو په خاطر خپل نورمال قدمونه مخې ته واخلي ، خوبیا هم دیورښتیاني ملي دموکرات سیاسي ځواک په حیث د افغانستان ملي یووالي ګوند دنده لري چې د افغانستان دخلکو دملي ګټوځنې په هر قیمت چې وي دفاع وکړي . زموږ د خلکو دښمنان په رنګارنګ پروپیګنډو اودرواغو غواړي دخپلو اجنټانو په واسطه د ګونددغړو تر منځ بې اتفاقۍاو بې باورۍ ته لمن ووهي اودبهرنیواستخباراتي شبکو په واسطه جوړې شوې تبلیغاتي ډرامې د ګوند مشرتابه اوپه خاص ډول دګوندپه مشر پسې په پرله پسې ډول جاري وساتي ، تر څودا ګوندیا له منځه یوسي اویا داسې کسانوته پکې د نفوذ زمینه برابره کړي چې دهر چا ډهل ته وه ناڅي اوددښمنانودتوطیود پلي کیدولپاره د دوستۍ په جامه کې کاروکړي ، خودګوند دصادقوغړو هوښیار تیا اوهلې ځلې کولای شي زموږ دخلکو ددښمنانو ټول شیطاني پلانونه بربنډ اوشنډ کړي .
بایددا تریخ واقعیت ومنو ،چې تر یوې اندازې پورې د مخالفینو درواغجنو او د بهرنیو استتخباراتي شبکو په واسطه جوړو شوو پروپیګنډو په ځینو خوشباوروواوله واقعیتونوڅخه دناخبرو ګوندي غړو په ذهنیتونو منفي اغیز کړی دی. په خاص ډول ،کله چې دافغانستان ملي یووالي ګوند تبلیغاتي فعالیت ډیر کمزوری او له دوو لسیزو ځنې زیاتو ناخوالو د ځینو غړو مورال دې پولې ته راټیټ کړی دی چې دا هم یوه قرباني ګڼي چې تش په نوم د ګوند غړی دی ، بې له د ې چې د ګوند موخې تبلیغ کړي ، دګوند د مخالفینو او په ګوند کې دننه د منحرفینو تبلیغات رد کړي او د خپلو مادي او معنوي امکاناتو څخه په ګټې اخستو سره د ګوندي چارو په پرمختګ کې خپلې ذمه وارۍ سرته ورسوي .

يو شمير كسان بې له دې چې فكر وكړي چې زموږ ګوند په كومو شرايطو كې جوړ شوی ، په كومو امكاناتو يې خپل ژوند ته دوام وركړی دی او دهغو ټولو توطيو او دسيسوسره سره چې زموږ دګوند دګوښه كيدو په خاطر كيدې او كيږي بيا هم ګوند وكړای شول دغو ټولو توطيو ځنې ځان وباسي ،په زرګونو وطنپال ملي كسان په خپلو ليكو كې تنظيم كړي او ديو رسمي قانوني ګوند په حيث د هيواد په سياسي چارو كې فعاله برخه واخلي ، چې دا زموږ دګوند لپاره يوستر برياليتوب دی ، خو په دې ټولو سترګې پټوي او وايي چې خدای دې نه كړي ، هيڅ نه دي شوي او نور په دې لار كې ځانونه ستړي كول په كار نه دي.

ديوواقعي منتخب ملي دموكراتيک دولتي نظام منځته راتګ څخه د مخنيوي په غرض لا له پخوا ځنې د دموكراسۍ ضد كسانو او كړيو ، چې په مؤقت حكومت كې يې پوره نفوذ درلود ، توطيې پيل كړې وې . دوئ د بهرنيو دموكراسۍ ضد كړيو سره په تړاو كې هڅه پيل كړه چې په هيوادكې د دموكراسۍ داصولو د پلي كيدو مخنيوی وكړي ، چې لومړی تر هر څه يې په هغو سياسي ګوندونو پسې چې دحاكمو كړيوسره يې تړاو نه درلود ، نه يوائې دبې تجربه ګۍ ، نه وړتيا او د خلكوڅخه دليرې توب پروپيګنډې پيل كړې ، بلكې په عمل كې يې تبعيضي چلند غوره كړی دی اوددوئ دپرمختګ مخه يې نيولې ده . حكومت په هيواد كې د دموكراسۍ او د دموكراسۍ د لازمي برخې ، دسياسي ګوندونو شتنه والي اوفعاليت په مقابل كې ، هيڅكله خپل مكلفيت سرته نه دی رسولی ، بلكې هڅه يې كړې ده چې د سياسي ګوندونو سره دوكه وكړي اوداغيزمنې ودې او فعاليت مخه يې ونيسي . دملي دموكراتو ګوندونو پر ځای د تنظيمونو اوجګړه ايزوډلو واكدار ساتلولپاره هم دولت اوهم دنړۍ ځينو هيوادونو له خوا پراخ مادي اوسياسي امكانات برابر شويدي او حتی د دوئ په ګټه حكومت هم داسې دټولټاكنو طريقه غوره كړه چې د

تنظیمونو اوانفرادي قوماندانانو په ګټه وه اودسیاسي ملي دموکراتو ګوندونو د بریالیتوب مخه یې نیوله .
د رای و رکولو دا طریقه چې د حکومت له خوا ایله یوځو ورځې مخکې د ټولټاکنو ځنې د حکومت د پریکړې په حیث اعلان شوه ، په واقعیت کې ټول ملي دموکرات سیاسي ګوندونه ، چې د دولت د ستګاه سره تړلي نه وو د ناڅاپي او نابربره پیښې سره مخامخ کړل . ځکه چې ټولو سیاسي ګوندونو د ټولټاکنو د تناسبي سیستم لپاره ، چې پکې د افرادو پر ځای به سیاسي ګوندونو ته رای ورکول کیده ، تیاري نیوله . دا سیستم نه یواځې د ټولو سیاسي ګوندونو غوښتنه وه ، بلکې ملګرو ملتونو اواروپایي اتحادیې هم په ظاهره له تناسبي طریقې څخه ملاتړ کاوه . یواځې پخوانیو تنظیمونو او قوماندانانو له دې سیستم څخه ډار درلود . دا ځکه چې دوئ فکر کاوه چې که خلک رای ورنه کړي او د درغلیو مخه هم ونیول شي ، نو کیدای شي چې پارلمان ته لار پیدا نه کړي او سبا ته به د پارلمان له مصؤنیت او امتیازاتو ځنې محروم وي . له همدې کبله د تنظیمونو او قوماندانانو د نفوذ لاندې حکومت د "تناسبي سیستم "پر ځای د "نه لیږدیدونکې واحدې رای سیستم "غوره کړ او په دې ډول یې د سیاسي ګوندونو د تبارز او پر مختګ مخه ونیوله او ګوندونه یې د هله پته کیدو ( وارخطایي ) سره مخامخ کړل . همدارنګه د ټولټاکنو ګډ دفتر پر ټولټاکنو باندې دناظرینو او دسیاسي ګوندونو د استازو په باره کې د سیاسي ګوندونو سره سم چلند ونه کړ او درغلي یې ورسره وکړه . په قصدي ډول یې د مستقلو ګوندونو داستازو د هویت کارتونه ځنډول او د استازو شمیر یې هم را ټیټ کړی و. د مثال په ډول په ننګرهار کې یې د افغانستان ملي یووالي ګوند کم شمیر استازو ته د ډیرو غوښتنو او اعتراضونو وروسته یواځې څو ساعته مخکې د ټولټاکنود پیل څخه کارتونه ورکړل .له همدې ځنې دا ثابتیږي چې مربوطه دولتي چارواکو په

پلان شوي ډول ددموکراتیکو ټولټاکنوچې د سیاسي ګوندونو او مستقلو کاندیدانو یوبل سره د خلکو د رای په ګټلو کې سیالي کړي وای مخه ونیوله. نو ځکه ډیر شمیر د تنظیمونو استازو ،قوماندانانو اودمالي امکاناتو خاوندانو ، لوستو او نا لوستو ، چې ډالر یې در لودل اود کورنیواو بهرنیو مافیایي شبکو مرستوڅخه برخمن وو ، ځانونه کاندید کړل او دمیلیونونو ډالرو په ورکولو سره یې د خلکو د باور اورای ځنې پرته پارلمان ته لار پیداکړه . خو ددې کارونو تر شا ولاړو کورنیو او بهرنیو دموکراسۍ ضد کړیو او شبکو د درواغو ډکو پروپیګنډو ته زور ورکړ ، چې د دموکر اسۍ سره سمو ټول ټاکنو کې د افغانستان خلکو د تنظیمونو استازي اوقوماندانان دخپلو استازو په توګه ولسي جرګې ته وټاکل.

د افغانستان ملي یووالي ګوند ، د یوملي دموکر ات ګوند په حیث ، چې د ټولټاکنو د تناسبي سیستم لپاره یې تیاري نیوله او کله چې د "تناسبي سیستم » پر ځای د « نه لیږدیدونکې واحدې رای "سیستم سره په مخامخ کیدو د دې وخت نه درلود چې په دې کم وخت کې د ګوند ځانګړي کاندیدان مشخص کړي ، نومجبور شو چې د ګوند له غړو ځنې وغواړي چې هر څوک خپل امکانات وګوري او که فکر کوي ، چې په ټولټاکنوکې بریالی کیږي ، ځانونه ولسي جرګې اوولایتي شورا ګانو ته کاندید کړي. له همدې کبله د ګوند ګڼ شمیر غړو چې فکر یې کاوه په ټولټاکنو کې بریالي کیږي ځانونه ولسي جرګې او ولایتي شورا ګانوته کاندید کړل. په دې کې شک نه شته چې د ګوند ځینو غړو بې د ګوند له اجازې او خبریدو څخه ځانونه په خپل سر کاندید کړل او بیا وروسته یې ګوند ته خبر ورکړ . دا هم باید ومنوچې ګوند پر کاندیدانو باندې خپل کنترول له لاسه ورکړ او ځینو کاندیدانو په دې باره کې د ګوند خبره نه منله. نو ځکه د کاندیدانو شمیر دګوند د پروګرام او پلان سره سمون نه درلود .

اوکه سپینه خبره وشي ګوند په دغه کم وخت کې ونه شول کړا ی کوم منظم پلان جوړکړي ، خو بیا هم زموږ ګوند وکړای شول چې د ګوند او خلکو تر منځ د دموکراسۍ د دښمنانو په واسطه منځته راغلي ټول خنډونه له منځه یوسي او ولسي جرګې ته په ټولټاکنو کې فعاله برخه واخلي . د ګوند کاندیدانو په زرګونو هیواد والو سره په کلو ، بانډو او ښارونو کې اړیکي ټینګ کړل او د هیواد په سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو برخوکې یې دوئ ته هر اړخیز معلومات او د خپل ګوند د نظر ټکي وړاندې کړل . دخلکو له غوښتنو اوستونزو څخه خبر شول اوددوئ بې کچه ملاتړ یې تر لاسه کړ . چې دې کار زموږ کورني او بهرني مخالفین سخت په اندیښنه کې واچول ، نو ځکه یې د خپلو اجنټانو په واسطه په ګوند او په خاص ډول د ګوند دمشر اونورو کاندیدانو پرضد ناوړه تبلیغاتي کمپاین پیل کړ .

کله چې پر خلکو دبهرنیو اجنټانو تبلیغاتو کوم د پام وړ اغیز نه درلود ، نو په رای اچونې او رای شما رنې کې په درغلیو ،غلاګانو ، او دمیلیونونو ډالرو په رشوت ورکولو اود مربوطه چارو دکارکوونکو په اخستلو سر ه هڅه وشوه چې د ټولو ملي شخصیتونو ، په خاص ډول د افغانستان ملي یووالي ګوند کاندیدانو رای غلا اویا دشمار ځنې وباسي اوپه بې شرمۍ ډیرو هغو کسانو ته د خلکو استازي ووایي چې هیڅ دخلکو استازي نه دي او خلکو رای نه ده ورکړې . د دې لپاره چې په ټولټاکنوکې خیانت او درغلي پټ کړي ، د غله پر ځای د کور خاوند نیسي او پروپیګنډې کوي چې ولې د خپل کور په چارو کې لاس وهي او موږ ملامتوي چې ولې مو ځانونه ولسي جرګې ته کاندید کړیدي .

دافغانستان ملي یووالي ګوند پرضد د مخالفینو او منحرفینو توطیې ددې تر څنګ چې پر یوشمیر ګوندي غړو یې ناوړه اغیز کړی دی او هغوئ یې بې تفاوتۍ ، پسیف توب اود مایوسۍ کندې ته ورټیل وهلي دي ،

خو له بل پلوه يې دګوند مشرتابه اوپه کار پوه ملي وطنپال کدرونوته ، چې دخپل ګوند ،خلکو او وطن په وړاندې د مسئوليت احساس کوي هم ډير څه ورزده کړي دي. نو ځکه ضرور ده چې وروسته له دې څخه دګوندي ژوند په ټولو برخو بيا له سره کتنه وکړو او خپلې ګوندي چارې د نوو شرايطو ، غوښتنو اوضرورتونو په پام کې نيولو سره سمې کړو . موږ په نوو شرايطو کې د خلکو د غوښتنو او ضرورتونو سره سم بايد دا لاندې دندې سرته ورسوو :

۱-يوبل ته دمعلوماتو او مشورو دراکړې ورکړې چارې کارنده او ګړندۍ کړو . هره يوه د پام وړ ګوندي پريکړه ،د امکان په صورت کې ، بايد دکدرونو له مشورې اونظر اخستو څخه وروسته د ګوند دمشرتابه له خوا وشي . تر څو د ګوند ټول کدرونه د هغې تر شا په مسؤليت سره ودريږي اودپلي کيدو لپاره يې عملي کار وکړي.

۲-د ګوند ټول غړي مکلفيت لري د ګوند تګلار اوکړنلار ټکي په ټکي پلې کړي. د ګوند دکړنلارې اوتګلارې له ټولومو ادو څنې بشپړه خبر تيا ولري اود تحقق لپاره يې هلې ځلې وکړي. دګوند هيڅ غړی بايد ځان ته اجازه ورنه کړي چې دګوند له اصولو څنې سرغړونه وکړي او يا يې تر پښنولاندې کړي . په پر له پسې ډول دګوند د غړيتو ب ونډه نه ورکول د ګوند له اصولو څخه سرغړونه ده اوپه دې کا ر سره د سرغړونکي غړيتوب بايد تر پوښتنې لاندې راشي .

۳-په ګوند کې ټولې پريکړې د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ منځته راځي . کله چې د دې اصولو سره سم د ګوند لوړ ارګانونه د رايو په اکثريت پريکړه کوي دګوند ټول غړي اوټيټ اورګانونه ، که څه هم د ځينوکسانو دا پريکړه خوښه نه وي ، بايد هغه ومني اوپه پلي کيدوکې يې هلې ځلې وکړي . په دموکراتيکه توګه منځ ته راغلې دګوند دلوړوارګانونو پريکړه بايد هرومرو پلې شي. له دې کار څخه سرغړونه

په ګوند کې د انارشۍ ګډوډۍ اوخپل سرتوب مانا لري چې په هیڅ صورت دمنلوور چلند نه دي .

**۴**-دګوند ټول غړي باید دملي اونړیوالومسئلو په هکله ځان د ټولیزو رسنیو، مطالعې اوخلکوسره دنژدې اړیکو لرلو له لارې خبر کړي اودیوسیاسي ملي ځواک دغړي په ځیث د ټولو کورنیو ،بهرنیو اوګوندي مسئلو په هکله د خپلې پوهې په رڼا کې قضاوت وکړي ، تر څو پر درواغجنو ناوړو پروپیګنډو ونه غولیږي او د دښمنانو د توطیو ښکار نه شي . هغه خلک ډیر غولیږي چې دمسئلوپه اړوند په ریښتیاوو ولاړه پوهه یې کمه وي.

**۵**-دافغانستان ملي یووالي ګوند په رښتیا سره یوملي وطنپال ځواک دی ، و ، وي به اوتل به دخپلو خلکو د ملي ګټو څخه دفاع کوي. د خلکوله ملي ګټوځنې د دفاع په لار کې بایدلومړی تر هر څه یورښتیانی ملي دموکراتیک دولتي نظام ، چې د هر ډول فساد څخه خلاص وي اود خلکودخوښې سره سم د خلکو په واسطه ددموکراسۍداصولوسره سم ، منځته راشي اوټینګ شي . د دې کار لپاره د ټولو نورو ملي ځواکونواوشخصیتونو سر ه تفاهم ، نژدیوالی ضروري اصل دی . دافغانستان ملي یووالي ګوند به دټولوملي ځواکونو اوشخصیتونو سره دغې پورتنۍ موخې ته د رسیدو په خاطر ، دیوشر یک پلاتفورم په چوکاټ کې ، له هیڅ ډول اصولي هلو ځلو څخه ډډه ونه کړي . خوهیڅکله به دا ونه مني چې ددې ګوند ملي ارزښتونه تر پوښتنې لاندې راشي اودشخصي اوګروپي مؤقتو ګټو په خاطر خپل اصول تر پښو لاندې کړي.

**۶**-د افغانستان ملي یووالي ګوند دخپل منځته راتګ له لومړۍ ورځې څخه د بهرنیواستخباراتي شبکو او دې شبکو پورې تړلو کسانود پر له پسې ناولو درواغجنو پروپیګنډو اودسیسو سره مخامخ دی. خو د دې ګوند پتمنو اوپه خپلوخلکواوهیواد مینو زړورو غړو تل د دښمنانو

دروا غجنې پروپيګنډې بې اغيزي کړي او د دوئ توطيې يې شنډې کړې دي. د افغانستان ملي يووالي ګوند د بقا اوپياوړتيا په خاطر هلې ځلې ، مرسته اومبارزه يوه ملي دنده ده او هر هغه څوک چې د خپل وطن دملي ګټو د ساتلولپاره په مبارزه ځان ژمن بولي د افغانستان ملي يووالي ګوند ځنې دفاع هم خپله دنده بولي اود دې ګوند په وجودکې د خپل هيواداو خلکو ګټېويني . نه يواځې دا يې منلې ده چې دا ګوندبايد يوپياوړی سياسي ځواک وي ،ترڅوپه افغانستان کې د يو رښتياني ملي دموکراتيک دولتي نظام په منځته راتګ او ټينګيدوکې د خلکود ملاتړپه لاسته راوړو سره خپله دنده په برياليتوب سره سرته ورسوي . نوځکه دوئ په عمل کې دخپلوټولومادي اومعنوي امکاناتوځنې په ګټې اخستوسره دې موخې ته درسيدو په خاطر د زړه له کومې هلې ځلې کوي .
۷-هغه کسان چې زموږ دګوندڅخه د ملاتړپر ځای د ګوند پر ضد ناوړه دروا غجنې پروپيګنډې کوي اوزموږ په ګوندکې د بې باورۍ دمنځته راوړواوددې ګوند دکمزورتيا لپاره کار کوي ، که د دوئ اعمال اواړيکي وڅيړل شي هرو مرو به دا جوته شي چې د پرديو استخباراتي شبکو سره تړاو لري اواعمال يې د ملي ګټوضد اعمال دي. نوځکه د ګوند دټولو غړو دنده ده چې دګوند پر ضد د هر ډول توطيو مخه ونيسي او توطيه ګران او پر و پاګنډچيان ، هرڅوک چې وي ، رسوا اوتجريد کړي.
۸-موږ بايد په ګوند کې د ځينوپريکړوسره دمخالف نظر خاوندان ، نه يواځې دګوند د ګټو پر ضد کسان ونه ګڼو ، بلکې د دوئ دنظر درناوی وکړو او نظر يې د يوه زړه خوږي دوست په حيث وڅيړل شي . که نوی نظر معقول اودګونددګټوسره سمون ولري بايدپه پريکړوله سره کتنه وشي. په دې کې شک نه شته چې داسې کسان هيڅوخت د ګوندپر ضد ناوړه اود دروا غو څخه ډکې پروپيګنډې نه کوي او هلې ځلې يې د ګوندد کمزورتيا لپاره نه ، بلکې د ګوند د پياوړتيا لپاره وي .

۹-ددې لپاره چې ټولې پورتنۍ دندې په بریالیتوب سره سرته ورسیږي بایدداسې یوپیاوړی اودنوو شرایطو او ضرور تونو سره سم ګوند ولرو چې ددې ټولودندو دسرته رسیدو جوګه وی. د همدې موخې لپاره باید د ګوند په ټولوسازمانونو کې دنظر ټکي واخستل شي ،تر څودنوو شرایطو سره سم د یوې لوې غونډې په جوړیدو سره دګوندتګلار ، کړنلار او تشکیلات منځ ته راوړي اودنو رو ملي دموکراتو شخصیتونو او ګوندونو سره د یووالي اونژدیوالي په هکله خبرې اترې او پریکړې وکړي او دیوفعال سرترسري ملي دموکرات سیاسي ځواک په حیث د خپل هیواد اوخلکو په وړاندې خپله ملي دنده سرته ورسوي .

*- دا لیکنه د۲۰۰۵کال دنومبر پر ۲۲نیټه د جرمني – کولن ښار کې دافغانستان ملي یووالي ګونددغړو په غونډه کې ولوستل شوه .

# دملي نواميسو څخه دفاع د هر افغان ملي دنده ده*

د ملي نواميسو څخه دفاع نه يوائې دحکومتونو ، چې وسله وال ملي ځواکونه په واک کې لري دنده جوړوي بلکې دملت دټولو غړو دنده ده چې د خپلو ملي نواميسو په ساتلواو دفاع کې له هيڅ ډول سرښندنو ځنې ډډه ونه کړي .
تاريخ ښودلې ده چې افغانانو تل د ملي نواميسو په دفاع کې سترې قربانۍ ورکړې دي او هر چا چې د دوئ پر خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتيا تيرى کړيدى د دوئ د کرکې ،قهر اومقاومت سره مخامخ شويدي . تيري کوونکو سره يې تر هغوجګړه کړيده ،ترڅويې ماتې ورکړيده اوله تيري ځنې يې لاس اخستى دى اويايې د خپل تيري بڼه اړولې اودخپلوګوډاګيانو په وجود کې دافغانانو پرضد توطيوته دوام ورکړيدي.
زموږ دهيواد په تاريخ کې دا ترخه واقعيتونه هم موجود وو چې ځينو کسانو د خپلو شخصي ګټو په خاطر د افغانانو پر ملي نواميسو معامله کړې ده او دتيري کوونکو په مقابل کې دمقاومت پر ځاى يې د دوئ غوښتنې پر افغانانو تپلې دي او يايې د خپلوملي ګټوځنې په دفاع کې خپله وړتيا نه ده ښودلې ، مبارزه يې پريښې اوتيري ته تسليم شويدي.
پر افغانانو باندې د ديورند دمنحوسې ، د انګريزي استعمارچيانو پواسطه په زور تپل شوې ، کرښې په هکله دا خبره بيخي د دغوواکدارانو او قومي مشرانو چې کولاى يې شول خپل مقاومت اوضديت وښايي ، او نه يې دى ښودلى ، دا په ثبوت رسوي چې يو شمير يا دتاج او تخت په خاطر اويا دنورو ډيرو وړو شخصي ګټو په خاطر د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا له ملي داعيې څخه ،څرنګه چې لازم وو ، دفاع نه ده کړې اواستعماري توطيو ته تسليم شوي دي . خوافغانان به

هیڅکله پر خپلوملي ګټوباندې معامله ګران وه نه بښي اوهیڅکله به دانګریزي استعمار دډیورند دکرښې په اړوند د زور او توطیې بیلګه وه نه مني.
خو په خواشینۍ سره شته دی ځینې پوچ مغزه تنګ نظري بې وطنه پردو پورې تړلي کسان او ډلګۍ چې دافغانانو دملي نوامیسوځنې ددفاع پر ځای یې دتسلیم طلبۍ په اوتو بوتو لاس پورې کړی دی او په ډیرې بې شرمۍ او غلام صفتۍ سره د "دیورند "د منحوسې کرښې د په رسمیت پیژندلودغوښتنې جرئت کوي. د دې کسانو دلیل دادی چې دافغانانو ستونزې دبهرنیوهیوادونو ، په خاص ډول دپاکستان د لاسوهنو ځنې منځ ته راغلي دي اودا ځکه چې افغانستان د دیورند کرښه په رسمیت نه پیژني ، یانې دخپلې ځمکنۍ بشپړتیا له داعیې څخه نه تیریږي . دوئ له دې واقعیت څخه نه دي خبر چې دکمزورې اوویشل شوي افغانستان په کورنیو چارو کې له بهر ځنې لاسوهنه شونې ده ، نه د یوځوا کمن اوځمکنۍ بشپړتیا لرونکي افغانستان.
دا ملي ضدخیرې ، ددې سربیره چې په خاینانه ډول د دیورند دکرښې د په رسمیت پیژندلو غوښتنه کوي ، هغه څوک چې نه غواړي د دیورند کرښه په رسمیت وپیژندل شي ملي ګرایان بولي او په دې ملامتوي چې د ټولو افغانانو ګټې په نظر کې نه نیسي او یواځې غواړي دډیورند د دواړو خواوو پښتانه یوځای شي اوداسې افغانستان منځته راشي چې پښتانه پکې اکثریت وي . خو د افغانانو د یووالي دښمنان له دې ځنې سترګې پټوي چې اوس هم په افغانستان کې پښتانه اکثریت قوم دی. او دنورو قومونو سره یوځای په ورور ګلوۍ کې ژوند کوي او د نورو ورونو قومونو سره یوځای د خپل هیواد اوخلکو دملي ګټو څخه تل دفاع کړې اوکوي یې اود نورو ټولو افغانانو په څیر یا ترې ډیر د پردیو او د دوئ د نوکرانو له توطیوځنې تل د ستونزو او کړاوونو سره لاس اوګریوان دي .

د نړۍ اکثریت هیوادونه یوله بل څخه دطبیعي پولو په واسطه بیلیږي اوکه په تحمیلي ډول په زور یا دسیسې سره پکې د مؤقت وخت لپاره غیر طبیعي پولې لکه د"برلین دیوال "منځ ته راغلې وي ، دغه پولې هیڅکله تلپاتې نه وې. تېل شوې پولې د وخت په تیریدو سره له منځه ځي اودتاریخ په اوږدو کې منځته راغلي ملتونه دطبیعي پولوپه دننه کې بیرته سره یوځای کیږي. که له ځینو مؤقتو بدلونونوڅخه تیر شو، نود آفغانستان طبیعي پولې له اموڅخه تر اباسینه پورې غځیږي ، دا په دې چې بې له کوم توپیر یا طبیعي پولې څخه ورته یا یوشان جغرافیوي جوړښت ، قومي - ژبنی – تاریخي - ټولنیز اوفرهنګي یووالی ، یوشان دوست او دښمن اوشریک غم اوښادي لري . د دیورند منحوسې کرښې نه یواځې یوهیواد چې اوږدشریک تاریخ لري ویشلی دی ، بلکې یوقوم ( پښتون ) یې ویشلی اوحتی په قوم کې یې کورنۍ ویشلې دي ، چې دا کار په بشپړډول د ټولو نړیوالو نورمونو سره مغایرت لري اودمنلوړ نه دی . نوځکه د ډیورندکرښه هیڅ یو افغان ته دمنلو وړ نه ده اوبایددا هیواد او قوم نور ویشلی پاتې نه شي اود انګریزي استعمار دغه منحوسه توره نښه باید له منځه ولاړه شي. دا چې ځینې کسان ، په خاص ډول دپردیونوکران او لاسپوڅي، د هغه تعصب اوکینې له مخې، چې د پښتون قوم سره یې لري غوښتنه کوي چې د دیورند کرښه په رسمیت وپیژندل چې په افغانستان کې دپاکستان لاسوهنې پای ته ورسیږي ، هسې د وطن پلورنې لپاره یوه پلمه ده ،خواصلي موخه یې داده چې افغانان ،په خاص ډول پښتانه تل ویشلي وي ،تر څودپردیو دلاسوهنو دمخنیوي وس ونه لري اودخپلو روا حقوقو څخه دفاع ونه شي کړای . دافغانانو دیووالي دښمنان په واقعیت کې دملي ګټوضد ماهیت لري او دخپل هیواداوخلکو په وړاندې جفا او خیانت کوي اویواځې ددې لپاره چې پښتانه مطلق اکثریت نه شي ، نوحتی دملي نوامیسو دیوې غورې

برخې سره ، چې ځمکنۍ بشپړتیا ده ، په جفا اوخیانت کولو هم اسره نه کوي .
داسې متعصب او تنګ نظر ي کسان په دې نه پوهیږي اویاترې سترګې پټوي ، چې په افغانستان کې د ګاونډیو هیوادونو لاسوهنې زموږ دهیواد د کمزورۍ او بې اتفاقۍ زیږنده ده ،نه د ډیورند دمنحوسې کرښې د په رسمیت نه پیژندلو . دوئ نه پوهیږي چې یواځې یو لوی ، ځواکمن اومتحد افغانستان کولای شي په دې کړ کیچنه نړۍ کې د بقا اوپرمختیا وړتیا ولري ، نه یو وړوکی ، ویشل شوی او په خپلومنځونو کې بې اتفاقه افغانستان. دوئ په دې هم نه پوهیږي چې دیوهیواد دملي نوامیسوڅخه پخپله دهغه هیوادخلک دفاع کوي اودخپلې سوکالۍ اوپرمختګ لپاره سوله ایز شرایط برابروي ، نه دا چې دنورو هیوادونو ، په خاص ډول غاصبوهیوادون ځنې وغوښتل شي زموږ هیواد اشغال کړه ،خو د لاسوهنو په واسطه موسوله مه اخله اوپه هیوادکې مو کړکیچ ته دوام مه ورکوه.
دا منل شوی واقعیت دی چې دافغانستان ټول خلک دخپلوملي نوامیسوڅخه په کلکه دفاع کوي او د دیورند دمنحوسې استعماري تپل شوې کرښې په رسمیت پیژندل دخپلوملي ګټوپر ضد توطیه او خیانت ګڼي اوهیڅکله به یې ونه مني . بې دخلکو دمستقیمې ارادې او ګډون څخه نور هیڅوک ، نه حکومت ، نه قضا نه جمهور رئیس،نه پارلمانونه اونه فرمایشي جرګې هیڅوک ددې حق نه لري چې د دیورندمنحوسه کرښه په رسمیت وپیژني او هر هغه څوک چې دغه ستر ملي خیانت ته ملا وتړي ،بې له شکه به دټولو افغانانودکرکې او دښمنۍ سره مخامخ شي.
افغانان دخپل هیواداوسنۍ ستونزې داستعماري سیاستونو ، په خاص ډول د برطانیې داستعمار دتوطیې ، چې د دیورندمنحوسه کرښه یې پر

افغانانو تپلې ده ، زیږنده بولي . د دې کرښې په تپلوسره نړیوالو توطیه ګرو کړیو او ځواکونو په دې سیمه کې دافغانستان دبې ثباتۍ لپاره تل له بهر څخه ورانکاري روزلي او زموږ هیواد یې پر ې دستونزو سره مخامخ کړی اواستعماري موخې یې تعقیب کړي دي . ترڅوداستعمار ي سیاستونو زیږنده ،ددیورند منحوسه کرښه ، له منځه ولاړه نه شي په افغانستان اوسیمې کې دسولې اوثبات ټینګیدل ناشونی کار دی . که نړیواله ټولنه غواړي چې په افغنستان اوسیمه کې سوله اوثبات ټینګ او دنوروهیوادونوسولې او بې ثباتۍ ته ګواښونه له منځه ولاړ شي ، نولومړی تر هر څه باید داستعماري سیاستونو داکرغیړنه بیلګه د دیورند کرښه ، چې نړیوالومافیایي شبکواو ورانکاروډلوفعالیت ته یې زمینه مساعده کړې ده له منځه ولاړه شي ، دافغانستان خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی وشي اودافغنستان په کورنیو چاروکې د هر ډول بهرنیو لاسوهنو مخه ونیول شي.

په داسې وخت کې، چې د افغانستان اوپاکستان ، دواړو ګاونډیو اواسلامي هیوادونو دوستانه اړیکو ټینګیدواوپراختیا ته ډیرارزښت ورکړل شي ، خودا اړیکي باید هیڅوخت دافغانانودملي ګټواوځمکنۍ بشپړتیا په ترپښولاندې کیدوباندې ټینګې نه شي. پاکستان باید نور په دې ۲۱ پیړۍ کې استعماري ، د زور سیاست ته دپای ټکې کیږدي . دافغانانوملي ګټو ،په خاص ډول ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی وکړي اودنړیوالو قوانینو په نظر کې نیولوسره د دوو ګاونډیوهیوادونوحقوقوته په درنه سترګه وګوري اودخپل ګاونډي افغنستان په کورنیو چاروکې لاسوهنه ونه کړي او زموږ په هیوادکې جګړوته دلمن وهلو پر ځای دسولې په ټینګیدوکې مرسته وکړي . دا به ددواړو هیوادونو په ګټه وي چې دتاریخ په رڼا کې د دواړو هیوادونوترمنځ د پولې مسئله دنړیوالوقوانینوپر بنسټ په سوله ایز

سیاسي ډول اواره شي ، نه داغزنومصنوعي مزو په غزولوسره لاپسې اغزنه اوکړکیچنه شي ، چې پایلې به یې نه یواځې ددې دواړو هیوادونو ، بلکې دسیمې اونړۍ سوله او امنیت د خطر سره مخامخ کړي.

*- دا لیکنه ۱۳۸۸کال کې د"پشتونستان خواهي :عامل تباهي افغانستان" کتاب ته ،چې دنظار شورا د یو غړی له خوالیکل شوی دی یوه ځوابنیونه وه.

# د ډيورند کرښه: د سيمې او نړۍ پر سولې او ثبات باندې د ناسور ټپ *

په سيمې او نړۍ کې دسولې او ثبات د ټينګيدو او مخدره موددکر کيلې ، قاچاق او اعتياد او هر ډول تروريستي اعمالو د مخنيوي لپاره ضرور دي چې نړيواله ټولنه هغه ستونزې له منځه يوسي چې سوله اوثبات يې په خطر کې اچولي اودمخدره موادو کرکيلې او قاچاق اوتروريستي فعاليتونو لپاره يې مناسب شرايط منځته راوړي دي. د دې لپاره چې د مخدره موادو مافيايي شبکو فعاليت ، تروريستانو روزلو اودافغانستان په کورنيو چاروکې دلاسوهنودپاره مناسب شرايط منځته راوړي ، انګريزي استعمار چيانو د خپلو ګټوپه خاطر د افغانانو په سينه د ډيورند توره کرښه راښکله چې په نتيجه کې يې نه يواځې دافغانستان خلک په ځوبرخو وويشل ، بلکې د استعماري سياستونو راتلونکو توطيواو پورتنيو ناولو موخو دپلي کيدو په خاطر يې په اصطلاح "ازاد قبايل "منځته راوړل.
انګريزانو "ازادقبايل "ديوخاص رژيم لاندې ، چې هغه دهر ډول معاصرو علمي – تخنيکي پرمختګونو څخه ليرې ساتل و، دا سيمه دنورو دوو برخو : اوسنی افغانستان او برطانوي هند پورې تړل شوې برخې ځنې بيله او د يوې داسې سيمې په توګه منځته راوړه چې نه به پکې افغانستان لاسوهنه کوي اونه به پکې برتانوي هند. له هم هغه وخت ځنې افغانان ، پښتانه ، په درو "خپلواکې "، "ازادې "او " تابع "برخو ددې لپاره وويشل شول چې دا قوم يوواحد سياسي – ټولنيز هويت ونه لري ."خپلواکې" برخې يواځې کورنۍخپلواکي درلوده اوتل د انګريزانو د لاسوهنو اوتوطيوسره مخامخ وه. "تابع " برخه خودانګريزانو دمستقيم

استعماري واک لاند ې وه اوکورنۍ اوبهرنۍ چارې يې د انګريزانو له خوا اداره کيدې . خو" ازاده" برخه (ازادقبايل ) له هم هغه وخت څخه دخاصو مقرراتو له لارې دانګريزانو د سيمه ايزو موخو د لاسته راوړو لپاره د لاسوهنو سره مخامخ وه . هغه داچې د انګريزانو د مقرراتوڅخه دسرغړونې په خاطر د سيمې دخلکو په استازيتوب ددغه سيمې مشر يا ملک ځواب ورکونکی و . په سيمه کې چې به هر چا د انګريزانو دګټو او مقرراتو ضد کار سرته رساوه ، د سيمې ټول خلک به مسؤل ګڼل کيدل ، تر څو به پخپله د خلکو له خوا نوموړی سړی تر پيژندلو وروسته د سيمې د مشر يا ملک له لارې انګريزانو ته وروسپارل شو .

چې دهمدې استعماري سياست پر بنسټ انګريزانود«ازادو قبايلو» دخلکو د اقتصادي ، فرهنګي اوټولنيزو پرمختګونو اويا دستونزو د اوارولو مسئوليت په غاړه نه درلود . چې په دې ډول د ازادو قبايلو خلک دهر ډول ښوونيزو - روزنيزو ، روغتيايي او اقتصادي ښيګڼو او معاصر علم او تخنيک څخه داستعماري سياسي موخو له کبله ليرې وساتل شول اود خپلمنځي دښمنيو ، تربور وليو اود ورور وژنې فعاليتونه پکې ازاد پريښودل شول . دغه انګريزی استعماري حيله اوچال بايد له سلو کلونو څخه زيات دوام نه وای کړی . دا چې لا تر اوسه پورې د امير عبدالرحمن خان سره يواځې د سلو کلونو لپاره دغه قرار داد دوام لري دانګريزانو اوپنجابيانو دسياستونو کرغيړنه بيلګه ده چې دهيڅ ډول قراردادونو او نړيوالو اصولو اومقرراتو پروا نه ساتي اوترڅويې وسه رسيږي خپلو استعماري سياستونو ته دوام ورکوي ، نه دبشر دحقوقو څه پرواکوي اونه د نړيوالو قوانينو . افغانان ،پښتانه ، بايد خپله خپلواکي پخپله لاس ته راوړي چې ددې کار لپاره يو رښتيانی ملي زعامت پکار دی چې افغانان ،پښتانه ، پرې راټول شي اودغه سپيڅلي

ارمان ته د رسیدولپاره یوبل ته لاسونه ورکړي اوخپل حقه حقوق اوخپلواکي لاس ته راوړي.
د افغانانو ، په خاص ډول پښتون قوم په مقابل کې د انګریزانو اومتحدینو او پاکستان د دښمنۍ څخه ډک چلند او هڅه ده ، چې دبشر دحقوقو سره په بشپړ مخالفت کې نه یوائې یوقوم ،بلکې کورنۍ یوبل ځنې بیلوي اوپه دې سره په یوواحد هویت باندې د پښتنو د راټولیدو مخه نیسي. پاکستان ددې لپاره چې پښتانه ویشلي پاتې وي اویوواحد هویت ونه لري حتی د دیورند کرښې ځنې اخوا پښتانه د انګریزانو دوخت په څیر په دوه برخو( ازاد قبایل اوصوبه سرحد ) ویشلي ساتلي دي. پاکستاني واکدارانو" ازاد قبایل " ددې لپاره په اسلام اباد پورې تړلي دي ، ترڅو د خپلوراتلونکو توطیولپاره د خپلو ټولو کرغیړنو پلانونو عاملین ، د نړیوالې مافیا او بنسټپالنې په جامه کې استتخباراتي تروریستي شبکې ځای پر ځای کړي. چې ترڅو هم ځایي خلک سر پورته کولوته پرې نه ږدي اوهم بې دنوروپښتنود قومې او سیاسي مشرانو یووالي په وړاندې ودروي اوهم د تروریزم سره ترې دمبارزې ډرامه جوړه کړي ،چې دامریکې څخه په میلیاردونوډالر تر لاسه کړي . د بنسټپالنې په بڼه کې د پاکستان دغه استخباراتي تروریستي شبکې لومړۍ ترهرڅه د پښتنو قومي مشران له منځه وړي او امریکایي بې پیلوټه الوتکو ته د عملیاتو جاسوسي کوي اوهم نړیوالوته پښتانه د یوبنسټپال قوم په څیر ورپیژني.
نړیوال بایدپوه شي چې د "ازادوقبایلو "پښتانه بنسټپالان او تروریستان نه دي . دوئ ډیر غوره رواجونه او قومي ارزښتونه لري ، چې ددې خلکو ټولنیزې چارې پرې پر مخ ځي . له دې سیمې څخه لومړۍ انګریزانو او اوس پنجابیانو د خپلوتوطیود سرته رسولو او پښتنو د ځپلو په خاطر په لوی لاس د بنسټپالنې ، تروریزم اومخدره موادو د

قاچاق سیمه جوړه کړې ده . چې دا توطیې په لومړي سرکې ددې سیمې دخلکو پرضد ، چې دخپلو حقوقو اوخپلواکۍ لپاره راپا نه څیږي ، جوړې شویدي اوبیا دافغانستان دبې ثباتۍ اوپه دې هیوادکې دجګړود دوام او نورې نړۍ د خلکو سوله ایز ژوند ته د یوستر ګواښ په توګه په کار وړل کیږي .
د "ازادو قبایلو "سیمه دانګریزي استعمارچیانو په توطیه د دیورند دکرښې په راښکلو منځته راغله او دمنځته راتلوله لومړۍ ورځې څخه د استعمارچیانو دتوطیوله امله دسترو ستونزوسره مخامخ شوه . دا سیمه د ټولې نړۍ څخه بیله اود هر ډول علم اوفرهنګ نه محرومه وروسته پاتې سیمه وساتل شوه . په دغه سیمه کې د ټولوتیرو اواوسنیو ستونزومسؤلیت د استعماري سیاستونو ، په خاص ډول ، دانګریزي استعماري سیاست پرغاړه دی ، چې نه یوائې پخپله دپښتنوپه مقابل کې د نه پخلا کیدونکې دښمنۍ څنې کار اخلي ، بلکې امریکا یې هم پښتون قوم سره دښمنۍ ته هڅولې ده . خوهر چا چې له افغانانو ، پښتنو ، سره دښمني کړې ده ، ښه ورځ یې نه ده لیدلې . بې له دې چې ځان ،سیمه اونړۍ دستونزو سره مخامخ کړي بله ګټه نه لري .
که څوک فکر کوي چې د پښتنو په عام وژنه ،بربادۍ اوله خپلو حقوقو نه په محرومولو به بریالیتوب ترلاسه کړي او په سوله کې به ژوندوکړي ،نو د افغانستان او افغان تاریخ څخه خبر نه لري . ځکه افغانانو ، پښتنو سره په دښمنۍ کې هیڅا ګټه نه ده کړې ، بلکې په دوستۍ کې ترې هرچا ګټه لیدلې ده . په دې کې هیڅ شک نه شته چې د دیورند دکرښې پواسطه دافغانانو ویشل ، افغانان د سترو تاوانونو او ستونزو سره لاس اوګریوان کړي دي ، چې اوس بایدنه یوائې د خپل یووالي ، بلکې دخپل هویت لپاره ،چې دګواښ سره مخامخ دی وجنګیږي . نړیوال باید په سد راشي ،دافغانانو ،پښتنو، سره له دښمنۍ څخه لاس واخلي ټول

حقوقو يې ومنل شي اوپه خاص ډول دديورند کرښه ، دا د افغان ملت پر تن دناسور ټپ له منځه ولاړ شي او له آموڅخه تر اباسینه پورې د ټولو افغانانو ملي يووالي ، ملي نواميسو ، ارزښتونو اوعقيدې او هويت ته درناوى وشي ، تر څو په افغانستان ،سيمې اونړۍ کې سوله اوثبات ټينګ شي.

*- دا ليکنه په ۲۰۰۹ کال کې په يوه غونډه کې ولوستل شوه.

# د افغانستان ملي یووالي ګوند د دویمې لوی شورا د غونډې اساسي بیانیه*

یو موټی ، سرتاسري ، دموکرات او اصولي ګوند ته ضرورت دی .
لومړی تر هر څه تاسې ټولو ته په دې غونډه کې د ګډون کولو په خاطر ښه راغلاست وایم او مننه کوم چې د افغانستان ملي یووالي ګوند د دویمې لوی شورا په غونډه کې مو برخه اخستې ده.
د افغانستان ملي یووالي ګوند لومړی لوی شورا غونډه پوره دو لس کاله مخکې د **۱۳۷۵**کال د ځمري د میاشتې پر **۲۸**نیټه په پیښور کې جوړه شوه . د غونډې په جوړیدو کې د محترمو ورونو محمد افضل خان او افراسیاب خټک له مرستې څخه د زړه له کومې مننه کوم . همدارنګه دګوند لوی شورا جوړیدوځنې مخکې د مقدماتي غونډو په جوړیدو کې د محترم ورور لطیف افریدي مرسته او میلمه پالنه د ستاینې وړ ده.
دافغانستان ملي یووالي ګوند په داسې وخت کې منځته راغی چې په افغانستان کې دکورنیو جګړو اور بل و . ډیر بیګناه افغانان هره ورځ دقومي ،ژبني ، مذهبي او سیمه ایزو توپیرونو پر بنسټ د دښمنیو له کبله د مرګ کومي ته لویدل. د افغانانو ملي یووالی د بهرنیوهیوادونو په لاربښوونه او لمسونه د جنګ سالارانو له خوا دخطر سره مخامخ شوی و . افغانستان د ګاونډیو او نورو بهرنیو هیوادونو لپاره د یو بې مالکه ځمکې حیثیت غوره کړی و ، چې یو واحد هیڅ دولتي سیستم پکې وجود نه درلود . په هر ځای کې وسله والې ډلې مسلطې وې. دې وسله والو ډلو د خپل شته والي او د رقیبو ډلو سره د مقابلې د دوام لپاره لومړی تر هر څه د خپل واک لاندې خلک په مختلفو طریقو زندی کول او بیا یې د بهرنیو

استخباراتي شبکو دمرستو جلبولو لپاره د هغوئ هر ډول ناروا غوښتنو ته غاړه ایښوده.
هر ډول سیاسي فعالیت ، په خاص ډول د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي اواز پورته کول ستره ګناه او د وسله والو ډلو اوبهرنیو شبکو سره دښمني ګڼل کیده. د نړۍ نور هیوادونه ، په خاص ډول هغه هیوادونه ، چې د شورویانو داشغال په مقابل کې یې د افغانانو دمقاومت سره مرسته کوله د خیر په غونډۍ کیناستل او بهانه دا وه چې د افغانانو خپلمنځي مسئلو کې ګوتې نه وهي.
په همدې شرایطوکې د افغانستان ملي یووالي ګوند منځ ته راغی. لومړی هلې ځلې کیدې چې ټول هغه کسان چې ورته د نظر ټکي لري په ګوند کې راټول شي. خو دځینو ستونزو له کبله داسې ونه شول او څو ډلې په بیلو بیلو نومونو د ورته کړنلارو سره منځ ته راغلې. چې اوس هم د دې ډلو اکثریت غړي د دې پلویان دي چې دا ډلې په یوواحد سیاسي سازمان کې سره راټول شي . هیله ده چې یوه ورځ ددې ګوندونو د غړو دا هیله ربښتیاینه ومومي.
د افغانستان ملي یووالي ګوند دمنځته راتګ موخې او عملي هلې ځلې:
لکه چې مخکې ورته ګوته نیول شوې ده ، دافغانستان ملي یووالي ګوند په داسې وخت کې منځته راغی چې په افغانستان کې د بهرنیوهیوادونو د لاسوهنو او لمسونو له کبله د افغانانو تر منځ د خپلمنځي جګړو اور بل و. لومړی تر هر څه باید دافغانانو د خوښې سره سم بې د بهر نیولاسوهنو څخه د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ سوله ټینګه شوې وای ، په میلیونونو افغان کډوال خپل هیواد ته ستانه شوي او میشت شوي وای. په جګړو کې وران شوی هیواد بیرته جوړ شوی وای. ددې کار لپاره د ټولو هغو افغانانو ، چې ورته غوښتنې یې درلودې ، نژدیوالي او یووالي

ته کار شوی وای او دنړیوالې ټولنې پام د افغانستان مسئلې ته را اړول شوی وای.
ددې لپاره چې دا کارونه سرته ورسیږي ، د افغانستان ملي یووالي ګوند دخپل منځته راتګ له لومړۍ ورځې څخه هلې ځلې پیل کړیدي او د امکاناتو سره سم یې له هیڅ ډول هڅې اوهاندځنې ډډه نه ده کړې . ددې هلوځلو په لړ کې د افغانستان ملي یووالي ګوند خپل تبلیغاتي کار ته په تبلیغاتي پاڼو ، اعلامیو، مصاحبو اوعملي ورځنیواړیکوله لارې دوام ورکړی دی. او دننه په هیواد اوبهر نورو هیوادونو کې ګوندي سازمانونه جوړ اومنځته راوړي دي. چې په دې ډول دګوند فعالیت اوموجودیت نه یواځې په افغانستان کې ،بلکې د نړۍ په ډیروهیوادونو کې د خلکوپام دې ګوند ته را اړولی دی.
د دې لپاره چې د ګوند چارې همغږې او پراخې شي د "یووالی "جریده منځ ته را اغله چې لومړی په بهر (هالند ) کې په منظم ډول خپریده اوبیا کله چې ګوند په رسمي ډول په افغانستان کې په کار پیل وکړ ، په کابل کې خپریږي. چې لومړی په منظم ډول خپریده ،خو بیا د یولړ ستونزو له کبله ، په خاص ډول دمالي ستونزو له کبله یې خپریدل نا منظم شول. هیله ده چې دګوند دغه نشراتي ارګان یا ژبه نوره په منظم ډول خپلو خپریدو ته دوام ورکړي .
د افغانستان ملي یووالي ګوند دخپل منځته راتګ له لومړۍ ورځې څخه په افغانستان کې د سولې ، دموکراسۍ اوملي یووالي ټینګیدولپاره د خپلو هلوځلو په ترڅ کې د ملګرو ملتونو سازمان ته هم خپل غږ رسولی دی . په خاص ډول د افغان مسئلې د اواري په خاطر یې په لیکلي ډول دملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازي ته یو مکانیزم په ۱۹۹۷کال کې د پیښور په انتر کانتننتال کې ورکړ. چې ډیر مواد یې په هیواد کې د مؤقت ، انتقالي اوانتخابي حکومتونو د منځته راوړو مکانیزم سره ورته

والی لري. خو څرنګه چې د افغانستان ملي یووالي ګوند اونور ملي دموکرات ځواکونه اوشخصیتونه د بن په غونډه کې له ګډون څخه لیرې وساتل شول ، نو ځکه ددغه مکانیزم پلي کیدلو په زړه پورې پایلې نه درلودې اوپه پرله پسې ډول ستونزې زیاتې شوې .

دافغانستان ملي یووالي ګوند نه یواځې خپلوسوله ایزو سیاسي هلوځلو ته په هیواد کې د خپلو موخو لاسته راوړو لپاره د خپلې کړنلارې سره سم دوام ورکړی دی ، بلکې د ډول ډول ستونزو سره سره یې پراختیا موندلې او د نورو ملي دموکراتو سوله غوښتونکو ډلو او شخصیتونو سره د اړیکو ټینګولو له کبله اوس د هیواد په دننه او بیرون کې د یوملي سیاسي ځواک په توګه پیژندل کیږي .

د افغانستان ملي یووالي ګوند په طبیعي ډول د ستونزمنو شرایطو په موجودیت کې دخپل جوړیدو له اولې ورځې ځنې نیمګړتیاوې درلودې او دستونزو سره مخامخ شو ، چې دا ستونزې په خاص ډول ایدیالوژیکي تشکیلاتي ،مالي او په ګوند کې دنظم او دسپلین دکمزورتیاستونزې دي ، چې باید د دویمې لوې شورا د جوړیدو په واسطه په بشپړ ډول اوارې شي .

د افغانستان ملي یووالي ګوند چې وروسته له ډیرو لوړو ژورو او په ستونزمنو شرایطوکې منځ ته راغلی باید یواصولي ، یو موټی اودموکرات ګوند وي ، تر څوو کولای شي په دموکراتیک ډول یو ټاکلی مشرتوب ولري او دشرایطو او غوښتنو سره سم یوه کړنلاره او تګلاره ولري اودیوې سمې ایدیالوژۍ لرونکی وي . ایدیالوژي د مفکورو او ایدیاوو هغه مجموعه د ه چې پکې د ټولنیز ژوند په هکله اصول ، ټولنیزې موخې ، په ټولنه کې یودبل سره د چلند نورمونه ، موخو ته د رسیدو وسیلې اودراتلونکي لپاره هیلې شاملې وي. نو ځکه په ګوند کې د ایدیالوژیو بیلوالی اوډیر والی ګوند د پراختیا اوپر مختګ څخه پاتې

کوي اوستونزې يې ډيروي. دافغانستان ملي يووالي ګوند د ملي - انسان پالنې ايدیالوژۍ په هکله د پوهاند محمود سوما مقاله چې د" يووالي" په ځانګړې ګڼې کې خپره شويده لوستونکو، په خاص ډول، د ګوند غړو او مينه والو ته وړاندې کوي اولوستلوته يې رابولي.
د ګوند تشکيلاتي ستونزو د ګوند دجوړيدو له لومړۍ ورځې څخه د ګوند دچارو په سرته رسولو کې منفي اغيز درلود. د لومړۍ لوې شورا په غونډه کې يواځې د ګوند مشر وټاکل شو او نور ګوندي اورګانونه منځته را نه غلل. البته د ګوند رئيس ته واک ورکړل شو چې د ضرو رت سره سم د ګوندي چارو مسئولين او اورګانونه منځته راوړي اوپه مؤقت ډول د لومړۍ لوې شورا د جوړيدو لپاره له کميسيون څنې په مختلفو برخو کې مرسته وغواړي او کله چې يوکال وروسته بله لويه شورا جوړيږي په هغې کې به د ګوند مرکزي اورګانونه په دموکراتيک ډول منځ ته راشي . خوداسې ونه شول . د شر ايطو دخرابيدوله امله بله لويه شورا جوړه نه شوه او د ګوند مشر دامنيتي ستونزو له کبله اروپا ته مهاجر شو.
کله چې د١٣٧٥کال د ځمري پر ٢٨ نيټه ګوند په خپل کار پيل وکړ او هغه کړنلار او تګلار چې په لومړۍ لوې شورا کې منځته راغلې او افغانستان او د نړۍ نورو هيوادونو ته وليږل شوې، ډيرو ر وښانفکرانو د ګوند کړنلار او تګلار د خپلو ارمانونو لاسته راوړو لپاره د خپلو موخو سره سمې وګڼلې او په ډير شمير سره دګوند ليکو سره يوځای شول. چې په دې کار سره دنوموړې کړنلار اوتګلار په شاوخوا څلور ګوندي شوراګانې را منځته شوې. چې يوه يې په پيښور کې، بله په پخواني شوروي اتحاد – مسکو کې، دريمه يې په اروپا کې او څلورمه په کابل افغانستان کې منځته راغلې. چې د دې ټولو شورا ګانو د کارونو په هم غږ کولو کې د "يووالي "جريدې، چې د ګوند دنشراتي ارګان په توګه يې

په خپریدو پیل وکړ ، ډیر اغیزمن رول ولوباوه . سره ددې چې دې جریدې د څلورو نوموړو شورا ګانو د چارو په هم غږ کولو کې ډیر ګټور رول ولوباوه ، خو په ګوند کې د مرکزي ارګانونو په خاص ډول دمرکزي شورا اجرائیه بیورو او د اجرائیه بیورو دارلانشا وجود نه درلود ، نو ځکه بیا هم کارونه څرنګه چې لازم وهم غږي نه وو . له دې کبله د ګوند دغړو ټینګه غوښتنه وه چې د کارونو دښه انسجام لپاره دغه پورته یاد شوي مرکزي ارګانونه منځته راشي او په ګوندکې دغه نقیصه چې د مر کزي اورګانونودندې ټولې د ګوند دمشر په اوږو پرتې وې ، ددغوارګانونو په جوړیدو سره د ګوند دمشر له اوږو څخه لیرې شي.
کله چې د ۲۰۰۱کال د سپټمبر ۱۱نیټې د پیښو ځنې وروسته امریکائیانو او متحدینو یې پر افغانستان یرغل وکړ اود بن دکنفرانس په نتیجه کې لومړی مؤقت او بیاانتقالي حکومت منځته راغی او دسیاسي ګوندونو فعالیت ته اجازه و رکړل شوه ، د مرکزي شورا او اجرائیه بیورو د منځته راوړو لپاره پراخه ګوندي کنفرانس په کابل کې جوړ او د مرکزي شوراغړي ، داجرائیه بیورو دکمیسیونونومشران، د ګوندمرستیالان اوددارالانشا سکرتر هم وټاکل شول. دګوند دمرکزي شورا په جوړیدو سره ګوندد عدلیې په وزارت کې ر اجستر اوپه منظم ډول یې خپل کار پیل کړ .
په تایمني کې دمرکزي دفتر په جوړیدو سره د افغانستان ملي یووالي ګوند شهرت اونفوذ په ټول هیواد کې ډیرزیات شو اوپه زرګونو کسانو د ګوند سره د یو ځای کیدو هڅه وکړه اوپه کمي لحاظ ګوند ډیر لوی شو. خوددې لوی والي سره په ګوند کې د تشکیلاتو د پړسوب ستونزه هم رامنځته شوه. د مرکزي شورا شمیر تر ۱۵۰غړو ورسید . د اجرائیه بیورو شمیر تر ۲۵کسانو ورسید چې په دې جمله کې ځینې دا سې کسان دې ګوندي مقامونو ته پورته شول چې نه دګوند اصولو ته ژمن وو ، نه یې

کافي پوهه درلوده  او نه يې د ګوند په ګټه په چارو کې فعاله برخه اخستله. ځينې کسان ښايي ګوند ته د دې لپاره راغلي وو چې فکر يې کاوه ګڼې له دې لارې ځخه به شخصي ګټې تر لاسه کړي . خو کله چې ګوند د اوسني دولتي نظام ځنې بيرون پاتې شو،نو دغو کسانو په ګوند کې د ډول ډول ستونزو منځته راوړلو ځخه ډډه ونه کړه.
په ګوند کې مالي ستونزو د ګوند ستونزې زياتې کړې.  د داسې ملي دموکرات ګوندونو لکه د افغانستان ملي يووالي ګوند ، چې نه له کومې بهرنۍ مرستې ځنې برخمن وي او نه کومه بله کورنۍ مالي منبع لري ، بايد په ټول کې د ګوند دغړو په ونډه او بسپنه بايد خپلې ټولې چارې پر مخ بوځي . خودګوندي ونډې يا حق العضويت په هکله پاليسي له لومړي سرځخه نيمګړتياوې درلودې چې د ګوند دغړوسره د عضويت د حقونو په ترلاسه کيدو کې د تګلار نورمونه  په نظر کې ونه نيول شول او که چا به دعضويت حق نه ورکاوه هيڅ پوښتنه ترې نه کيده. په داسې حال کې چې د ګوند هر  غړی مکلف دی چې د ګوندي چارو د ترسره کولو لپاره خپل دعضويت حق هره مياشت په ټاکلي وخت ورکړي. د ګوند ددويمې شورا له جوړيدو ځخه وروسته بايد نور د ګوند اصول په کلکه په نظر کې ونيول شي او د ګوند دتګلارې سره سم کارونه سرته ورسيږي.
بايد يادونه وشي  چې تر اوسه پورې  د ګوند د چارو دپرمخ بيولو لپاره يوشمير ملګرو له هيڅ ډول مرستو ځخه  ډډه نه ده کړې ، چې له  دوئ اونورو ملګرو ځنې  چې تر اوسه  پورې يې په مالي مرستو زموږ ګوند خپل کارونه پر مخ بيولي دي د زړه له کومي مننه کوم .
دافغانستان ملي يووالي ګوند نورې ستونزې  په ګوند کې د دموکراسۍ تر نامه لاندې د ګوند له اصولو ځنې سر غړونه وه. د ګوند تګلار په ګوند کې د اساسي قانون حيثيت لري چې بايد په هيڅ صورت ترې سرغړونه ونه شي . د ګوند هر غړی حق لري چې په ګوند کې :

۱ - هر ګوندي ارګان یا مقام ته کاندید شي او یا بل ګوندي غړی کاندید کړي .
۲ - هر ګوندي غړی ګوندي کاندیدانو ته د رای ورکولو حق لري .
۳ - په هر ګوندي ارګان یا مقام اویا دګوند پر غړو باندې د ترسره شویو چارو او فعالیتونو له امله په ګوندي غونډو کې انتقاد وکړي.
۴ - هر ګوندي غړی د ګوندي ، ملي او نړیوالو مسئلو او پرابلمونو په باب په ګوندي او غیر ګوندي خپرونو کې خپل نظر او عقیده ثرګندولای شي .
۵ - د ګوند هر غړی دنورو ملي اونړیوالو مسلکي او غیر سیاسي سازمانونو ، انجمنونو او ټولنو غړیتوب تر لاسه کولای شي .
خو په ګوند کې د ډلو جوړولو او د خپلواړوندو غونډو او ګوند ځنې بیرون د ګوند د چاروا کو اویا کمزورتیاوو پر ضد پروپیګنډې کول اودخپلو ګوندي دندو "د انتقاد په نوم "پریښودل او یا له ګوند څخه فاصله نیول د ګوند له اصولو ځنې سرغړونه ده ، چې زموږ په ګوند کې یې وجود درلود .
ځینې وخت د ګوند د غړو تر منځ شخصي خصومتونود ګوند د چارو په پرمختګ کې غټې ستونزې منځته راوړې دي . ددې ټولو ستونزوداواری لپاره له حوصلې څخه ډک چلند اوپه اصولي ډول انتقاد اوانتقاد پر ځان دارماني ملګرو تر منځ د روغې جوړې او پخلاینې ډیره ښه لار ده .
تجربې ثابته کړه چې د هغوملګروتر منځ چې دګوند ارمان او اهدافو ته وفادار وو خپلمنځي اختلافات په ډیرې اسانۍ سره د تفاهم له لارې له منځه تللي او دا په دې چې ټولو د ګوند دلاپسې پیاوړتیا لپاره په نظریاتو کې اختلاف درلود او په خپلمنځي تفاهم سره هرډول د اختلاف تکي له منځه تللي او اوس لکه د یووجود په څیر د ګوند د موخو لاسته راوړو لپاره په ګډه هلې ځلې کوي .

باید یادونه وشي ، چې دګوندیوشمیر غړي چې د ګوند سره یې په مختلفو علتونوواټن پیدا شوی و ، لاتر اوسه د ګوند دمشر تابه دهلوځلو سر ه سره ګوند سره نه دي یوځای شوي او استازي یې د دویمې لوې شورا په غونډه کې برخه نه لري . همدارنګه یوشمیر غړو چې ګوند ته د خاصو موخو له کبله راغلي وو ، کله چې ګوند په اوسني دولت کې کوم دپام وړ ځای لاس ته را نه ووړ ، اونه دکوم بهر نې هیواد سره یې خاصې اړیکې ټینګې کړې ، نو دګوند پالیسي ورته دخپلو موخو سره سمه ښکاره نه شوه اوله ګوند څخه یې واټن ونیو . داسې کسان لا تر اوسه د افغانستان ملي یووالي ګوند ځنې لیرې پاتې دي اواستازي یې ددویمې لوې شورا په غونډه کې ګډون نه لري . خویوشی باید ومنل شي او هغه دا چې د ټولو ارماني ملګرو استازي چې دشخصي ګټوڅخه پرې دګوند او ملي ګټې ګرانې دي ، په نننۍ غونډه کې برخه لري اوپه شریکه به ټولې پر یکړې سرته رسوي.

محترمو حاضرینو !

د بن کنفرانس کې د نیمګړتیاوو له امله ډیر ملي دموکرات سوله غوښتونکي شخصیتونه اوسیاسي ډلې د افغانستان ملي یووالي ګوند په شمول په کنفرانس کې د ګډون کولو او یوې سالمې اداري ، چې دټولو افغانانو له ملاتړ څخه برخمنه وای ، رامنځته کولو ځنې محروم شول. خوبیا هم زموږ ګوند دسولې او دموکراسۍ ددغې پروسې د بریالي کیدو لپاره له هیڅ ډول هلو ځلو ځنې ډډه ونه کړه. زموږ ګوند د لومړیو ګوندونو څخه و چې د ګوندونو د قانون سره سم یې ځان راجستر کړ او د سولې ، دموکراسۍ او ملي یووالي ټینګیدو لپاره په رسمي ډول په سیاسي فعالیت پیل وکړ. البته په دې هیله چې افغان چارواکي او نړیواله ټولنه به په رښتیا سره غواړي چې په افغانستان کې یو رښتیانی ملي دموکراتیک دولتي نظام ټینګ شي . خو وروسته کله چې د مؤقت دولت

دوره تیره شوه ، خلکو بیا هم د وضعې د ښه والي لپاره انتقالي دورې ته سترګې په لار وو . په خواشینۍ سره انتقالي دوره هم د مؤقتې دورې په څیر له ډول ډول ستونزو : خپل سریو ، فساد او نا امنۍ څخه خالي نه وه او په دې ډول د دولت او نړیوالې ټولنې پر تبلیغاتو او ژمنو د خلکو باور ټکنی شو . یو شمیر خلکو بیا هم فکر کاوه چې انتخابي دولت به دا ټولې ستونزې څکه اوارې کړي چې د خلکو د غوښتنو سره سم به د مصلحت پر ځای په صلاحیت کار کوي اود هر ډول خپل سریو او فساد مخه به ونیسي او په هیواد کې به سوله او امنیت ټینګ کړي.
خو په خواشینۍ سره انتخابي دولت نه یوازې دا چې د مؤقت او انتقالي دورو نه راپاتې شوو ستونزو په اوارولو او دندو سرته رسولو کې کوم دپام ور ګام پورته نه کړ ، بلکې د ټولو خلکو غوښتنو ته یې شا واړوله اوبیا یې هم هغه ناکامې د مؤقت او انتقالي دورو تجربې تکرار کړې . د خلکو د ګټو او ستونزو په پام کې نه نیولو سره یې مصلحتي دولتي دستګاه منځته راوړه . چې د پارلمان د استازو په ټاکلو کې درغلیو ډیر ملي دموکرات شخصیتونه اوډلې د پارلمان له غړیتوب څخه محروم کړل اود دولت اداره د څو کسانو او ډلو د ائیتلاف څخه د پخوا په څیر منځته راغله اوپه دې توګه دهر ډول سموونو مخه ونیول شوه . د خلکو په ګټه د ټولنیزو پروژو د سر ته رسیدو پر ځای یوڅو خاصو کسانو او ډلو د یوبل په مرسته او ګډون د عام المنفعه پروژو بودجه ،چې باید د هیواد دبیا رغاونې لپاره مصرف شوې وای په شخصي بانکونو کې ذخیره کړې او د هیواد اکثریت خلک یې د نړیوالو مرستو څخه محروم اود ژوند کړاوونه یې لاپسې ور زیات کړل .
د افغانستان ملي یووالي ګوند ډیره هڅه وکړه چې دنورو ملي دموکراتو ځواکونو په څیر د یو دموکراتیک دولتي نظام په جوړیدو کې برخه ولري ،خو په خواشینۍ سره د نورو ملي دموکراتو شخصیتونو

اوځواکونو سره يوځای د دولت د دستګاه څخه ليرې وساتل شول. مور باور لرو که چيرته د دولت په دستګاه کې د فساد پر ضد مبارزه بريالۍ کيده نو هغه به يواځې او يواځې په کار پوه ، صادقه ، ملي دموکر اتو شخصيتونواو ځواکونو باندې د دولتي چارو د سرته رسيدو په برخه کې تکيه کول وای. اوکله چې داسې ونه شول اود خلکو د غوښتنو مخالف کارونه د دولتي دستګاه په جوړيدو کې سرته ورسيدل ، په دولت کې اداري فسادونه تر دې حده ورسيدل ، چې هر څوک د دولت د رئيس څخه نيولې تر عادي افغان پورې چيغې وهي چې چارواکي رشوتونه اخلي ، د بيت المال څخه غلا کوي ، د خلکو شخصي او دولتي ملکيتونه غصبوي اودمخدره موادو په توليد او قاچاق کې لاس لري. خوهيڅوک يې مخنيوی نه شي کولای. جګړې اونا امنۍ ورځ په ورځ نوي ابعاد غوره کوي. دخلکولوږه ، فقر او د ژوند نورې ستونزې ورځ په ورځ ډيريږي اوپه دې ډول د دولت او خلکو تر منځ بې باوري اوواټن دمايوسۍ تر پولې رسيدلی دی. ټول ملي دموکرات شخصيتونه اوځواکونه دې پايلې ته رسيدلي دي ، چې اوسنۍ دولتي دستګاه د دې وس نه لري چې د افغانانو ستونزې اوارې کړي . نوځکه ضرور ده چې ټول ملي دموکرات شخصيتونه اوډلې لاسونه يوکړي او داسې رښتيانی ملي دموکراتيک دولتي نظام منځته راوړي اوټينګ کړي ، چې له اوسنيو ستونزو څخه د هيواد د ژغورلو وس وه لري.

د دولت په دستګاه کې کمزورتياوې اونيمګړتياوې د دې سبب شويدي چې په هيواد کې له بهر څخه لاسوهنې زياتې شي . دمخالفينو سر ه د ايراني اوپاکستاني استخباراتي کړيو مرستې اواړيکي لاپسې زيات شوي دي. نړيوال وسله وال ځواکونه په خپل سر عمليات اود خلکو په سر،مال اوعزت تيری کوي . محلي قوماندانان قومي ، سمتي ، ژبني اومذهبي تبعيض او تعصب ته په لمن وهلو د يوخاص قوم پورې تړلو

افغانانو ( پښتنو ) جایدادونه غصبوي اوپه محلي خلکو هر ډول نامشروع اوناروا حاکمیت ټینګولو ته ادامه ورکوي. چې دا کارونه له یو پلوه ټولنیز عدالت له منځه وړي او د افغانستان اساسي قانون تر پښو لاندې کوي ، اوله بل پلوه د پردیو په لمسون د افغانانو تر منځ بې اتفاقۍ ته لمن وهي ، ملي یووالی کمزوری کوي اود بهرنیو دښمنانو د هیلو سره سم زموږ ګران هیواد افغانستان دتجزیې د خطر سره مخامخ کوي . دغه محلي قوماندانان او زورمندان د خپل حاکمیت او شخصي ګټوپه خاطر د بهرنیو هر ډول ناروا غوښتنې مني خو د افغانستان انتخابي دولت ته د دولت د کمزوریو له امله هیڅ اعتنا نه کوي او په دې ډول یې په هیواد کې د خپل سریو ، انارشۍ ، فساد ، ظلم ، استبداد او قانون ماتونې ته ادامه ورکوي .

دننه په دولت کې د مخالفو شخصیتونو او ډلو موجودیت او د یوې واحدې ملي ستراتیژۍ د پلي کیدو په خاطر په کار پوه ، صادقو او مجربو شخصیتونو څخه جوړ ټیم د نشتوالي له کبله دولت ونه شول کړای د خلکو غوښتنو ته ځواب ووایي اوپه ګټه یې کوم د پام وړ کار سرته ورسوي . همدارنګه دولت ونه شول کړای د مختلفوسیاسي ډلو اوټولنیزو سازمانونو مرسته اوملاتړ تر لاسه کړي. ډیر خلک حتی دا فکر کوي چې دولت د ملي دموکراتو ګوندونو اوسازمانونو سره تبعیضي چلند کوي. نه یوازې دوئ سره یې کومه مرسته نه ده کړې ، بلکې هڅه یې کړیده چې د دغو ګوندونو د پرمختګ مخه ونیسي.

باید هیره نه کړو چې د افغانانو ستونزې تر ډیرې اندازې پورې له بهر ځنې تپل شوي دي . که ډیر لیرې ولاړ نه شو پر افغانستان د انګریزانو یرغل اوورپسې د افغانانو هیواد د ډیورند د کرښې د تیرولو له امله په دریوبرخو : خپلواکې ( اوسنی افغانستان ) ، ازادې ( ازاد قبایل ) او تړلې برخې ( صوبه سرحد ) په نومونو ، د دې لپاره وویشل چې له یوپلوه

افغانان په یوواحد هویت راټول نه وي . اوله بل پلوه د خپلو راتلونکو خصمانه پلانونو پلي کیدو په خاطر د افغانانو هیواد په نړۍ کې یووروسته پاتې هیواد وي اوتر اخره یې د دې لپاره ویشلی اووروسته پاتې وساتي ، تر څو د هر ډول سیاسي ټولنیز پرمختګ او ازادۍ ښښونکو جګړو جوګه نه وي. په ازادو قبایلو کې د اوسنیو ټولو ستونزو مسئولیت د هم هغو استعمارچیانو په غاړه پروت دی ، چې د خپلو استعماري موخو لپاره یې د ازادوقبایلوسیمه دټولې نړۍ څخه تجرید ، دهر ډول معاصر علم اوتخنیک او نړیوال پرمختګ څنې لیرې اومحرومه وساتله . اوخپل اجنټان اوجاسوسان یې له دې لارې څخه د خپلواک افغانستان په کورنیوچاروکې تل تر تله د لاسوهنولپاره په کار اچولي دي اوهڅه یې کړې ده چې په دې توګه کمزوري حکومتونه د خپلوغوښتنومنلوته اړ باسي.

پاکستان په سیمه کې د خپلو سیاسي موخو لاسته راوړو لپاره د انګریزانو سیاست قدم په قدم تعقیب کړی دی. دازادو قبایلو سیمه یې د پخوا په څیر تجرید ساتلې او حتی د صوبه سرحد ایالت څنې تر اوسه بیله ساتل شوې او په مرکزي حکومت پورې تړلې ده. دا د دې لپاره چې دمرکزي حکومت د سیاسي ،نظامي او استخباراتي پلانونود پلي کیدولپاره ترې داوسني افغانستان دحکومت په چاروکې د لاسوهنو او پر افغانانو باندې د ډیورنداستعماري کرښې د تپلو لپاره ګټه واخلي. دې موخو ته د رسیدو لپاره انګریزانواو پاکستانیانو یوشان هڅه کړېده،چې د ازادو قبایلو سیمه د نړۍ دبنسټپالنې ، ترویریستي او مخدره موادو د کاروبار دمافیایي شبکو په مرکز بدله کړي . تر څوپخپله د ازادو قبایلو خلک د خپلو بشري ،مدني اوسیاسي حقوقو څنې بې خبره وي او کوم د سردرد پیښ نه کړي . او له بل پلوه د نړۍ څخه راټول کړل شوي کسان اوډلې د خپلو سیاسي موخو لپاره له دې ځای څخه په اسانۍ

سره په کار واچوي. همدا دبهرنیو هیوادونو خصمانه پلانونه دي چې د افغانانودهیواد د ټوټې ټوټې کولو، وروسته پاتې والي اوتشنج کې ساتلو له امله نه یوازې افغانستان ، بلکې دسیمې او نړۍ خلک دامنیت دبحران سره مخامخ کړي دي. ترڅودافغانانو پر ضددغه استعماري توطیې پای ته نه وي رسیدلي ، په افغانستان ،سیمې او نړۍ کې د سولې او امنیت ټینګیدل به ستونزمن کار وي.

ایران هم تل د افغانستان په کورنیو چاروکې لاسوهنه کړې اودافغانانو ستونزې یې زیاتې کړي اود ملي یووالي کمزوري کیدو ته یې لمن وهلې ده. ایران په افغانستان کې د خپلو سیاسي اهدافو لاسته راوړلو په خاطر تل مذهبي اوژبني تعصباتو ته لمن وهلې ده او هڅه یې کړې ده چې افغانان له دې لارې څخه فرهنګي او اقتصادي ښکیلاک کې را ګیر کړي اود ایران سره د ځینو تړلو کړیو دهلو ځلو له لارې نه یوازې پورتنۍ موخې لاسته راوړي ،بلکې له سیاسي پلوه هم افغان کمزوري حکومتونه د ځان تابع وګرځوي او خپلې غوښتنې پرې تحمیل کړي. کیدای شي په ډاګه ووایو چې ګاونډي هیوادونه ، په خاص ډول ایران او پاکستان، هیڅکله دا نه غواړي چې افغانستان دې یو متمدن خپلواک هیواد وي، خپل رښتیانی ملي دموکراتیک دولتي نظام ولري او د سیاسي ، اقتصادي اونظامي پلوه په خپلو پښوولاړ هیواد وي او ددې جوګه وي چې دخپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع وکړي اود بهرنیوهیوادونو د لاسوهنو مخه ونیسي.

خو تر هر چا زیات د نړۍ ځبر ځواکونه ، روسیه او د امریکې متحده ایالات ، د افغانانو د جاري ستونزو په زیاتیدوکې ګرم ګډون کیږي. روسانود پخواني شوروي اتحاد په وجود کې بې له هر ډول موجه دلیل څخه د ۱۳۵۸کال د جدي د میاشتې په شپږمه نیټه پر یوخپلواک هیواد یرغل وکړ اود افغانستان دهغه وخت برحال جمهور رئیس ، حفیظ الله

امین یې په شهادت ورساوه او دهغه ملي حکومت یې رانسکور او پر ځای یې د کارمل په مشرۍ یو ګوډاګی حکومت په افغانانو وتاپه ، چې په نتیجه کې زموږ هیواد د جګړو په میدان بدل شو . د یونیم میلیون افغانانو په شمیر د روسانوسره په جګړوکې له منځه ولاړل . دشپږو میلیونو نورو افغانانوپه شمیر دخپل هیوادپریښودو او نوروهیوادونو کې په مهاجرت غوره کولو سره مجبور شول . کلي ، بانډې اوښارونه په کنډوالو بدل شول . نژدې ټولې کروندې ، باغونه او ځړ ځایونه په خرابو واوښتل . سیاسي تشه منځ ته راغله . د بهرنیوهیوادونو ، په خاص ډول ګاونډیو هیوادونو لاسوهنې د رسوایي تر پولې زیاتې شوې . د کونډو اویتیمانو لښکرې دټولنې په اوږو بار شوې . د دې لپاره چې تیري کوونکي او ګوډاګی رژیم خپلې بقا ته دوام ورکړي ، قومي ، ژبني ، مذهبي او سیمه ایزو تعصباتو ته لمن ووهل شوه چې د غو ناروا و تر اوسه پورې دوام کړی دی او په دې جګړو ځپلي هیواد کې یې د نورو بدمرغیوسره یو ځای یوه رښتیانۍ غمیزه منځته راوړې ده .

د امریکې متحده ایالتونو او اروپايي انډیوالانو ددې پر ځای چې د شوروي اتحاد په مقابل کې د خپلو افغاني متحدینو سره مرسته وکړي ، تر څو د ملي یووالي یو حکومت منځته راوړي او دشوروي پر ضد چګړو کې د ټولو بربادیو او زیانونو بیا رغاونه وکړي ، خپلې پښې وویستې او افغان وسله والې ډلې یې پریښودې د سیاسي قدرت لپاره په رقابت او جګړو لاس پورې کړي او دا ځل بیا افغانستان د افغان وژنې په جګړو کې ډوب شي . د بهرنیو هیوادونو ، په خاص ډول ګاونډیو د لاسوهنو له کبله د افغانانو خپل منځي جګړې لاپسې تیزیدې او دهیواد عام خلک د څووسله والو ډلو دواک لاندې سیمو کې تقسیم شول . مرکزي حکومت وجود نه درلورد . د هر ې ډلې خپل مقر رات اوغوښتنې عملي کیدې . فسادونه او د بشر له حقوقو څخه تیري عام شول . داسې کارونه سرته

ورسیدل چې نه د بشري ټولنې د نورمونو سره سم وو او نه د اسلام د مقدس دین د لار ښوونو سره. چې په نتیجه کې د افغانانو هویت د سوال سره مخامخ شو. ځکه چې دې وسله والو ډلو هرې یوې خپل حکومتونه او پادشاهي ګانې جوړې کړې وې او غوښتل یې چې د خپل واک لاندې سیمو کې د دغو غیر مشروع حکومتونو شته والی ابدي کړي او په دې ډول دهیواد تجزیې ته زمینه مساعده کړي.
خو د طالبانو منځته راتګ دې حالت ته د پای ټکی کیښود او په کم وخت کې په هیواد کې یواځې امنیت ټینګ شو. د امارات اسلامي په نوم مرکزي دولت جور شو. خو د کلکو مذهبي مقرراتو د نافذولو له کبله یواځې دریو هیوادونو په رسمیت وپیژاند او د نړۍ نورو هیوادونو یې له په رسمیت پیژندلو څخه ډډه وکړه. دطالبانو د حکومت په نه رسمیت پیژندلو سره، دې حکومت د نړیوالې ټولنې له مرستوځنې ګټه ونه شوه کړای اوله اقتصادي پلوه د خلکو ستونزې زیاتې شوې. خو د ټولو ملي دموکراتو شخصیتونو او ډلو د غوښتنو سره په مخالفت کې د طالبانو پر حکومت تعزیرات ولګول شول. د طالبانو چارواکو د خپلو ضرورتونو د پوره کولو لپاره غیر معمولو لارو چارو ته لاس وا چاوه.
د ۲۰۰۱کال د سپتمبر د ۱۱ نیټې پیښنو امریکې د دغو تروریستي حملو دعوه په القاعده سازمان وکړه او طالبان یې د دغه سازمان په ملګرتوب اومرستې تورن کړل. چې له همدې امله یې د ۲۰۰۱کال د اکتوبر پر ۷ نیټه پر افغانستان یرغل وکړ. له ډیرې بمبارۍ وروسته، چې ډیر بیګناه خلک هم پکې ووژل شول، د طالبانو حکومت رانسکور اوپر ځای یې د هغوئ مخالفین شمالي ټلواله قدرت ته ورسوله. هیله کیده، چې د بن د کنفرانس په نتیجه کې به یوه داسې دولتي اداره رامخکې شي، چې د ټولو افغانانو له ملاتړ ځنې برخمنه وي خو داسې ونه شول. مؤقتې او انتقالي دورې په مطلق ډول مصلحتي شکل درلود او د ټولو افغانانو

استازيتوب يې نه شو کولای . انتخابي دولت هم د نومووړو ستونزو څخه ځان خلاص نه کړ . دهغو ملی دموکراتو شخصيتونو او ګوندونو ،چې انتخابي دولت سره د زړه له کومې همکارۍ ته حاضر وو ، له نژدې کيدو ځنې يې ډډه وکړه. په دې ډول انتخابي دولت هم د ټولنې په ګټه کوم د پام وړ کار سرته ونه رساوه او د مؤقتي او انتقالي دورو ناکامې تجربې يې نه يواځې تکرار کړې ، بلکې په دولتي دستګاه کې د فساد اواختلافونو انګازې ټولې نړۍته ورسيدې. له يوې خوا کمزوري او نيمګړي دولت اوله بلې خوا د امريکائيانو او ناټو د ځواکو نو، د افغانانو د عقيدو او دود اودستور سره په تضاد کې ، دکارونوسرته رسولو پواسطه د افغانانو په منځ کې د دوئ په مقابل کې کرکه منځته راوړې ده. په ډيرو ځايونو کې دولت او د بهرنيو وسله والو ځواکونو عملونو خلک د مخالفينو لور ته ټيل وهلي دي. د جرمونو او فساد کچه ترپخوا ډيره لوړه شوې ده او ورځ په ورځ لوړيږي. خود پوهنتنې اوقانون د پلي کيدو هيڅ ځرک نه ليدل کيږي. همدارنګه د پخوانيو ژمنواو تبليغاتو پر خلاف د مخدره موادو توليد او قاچاق له اټکل ځنې زيات لوړ شوی دی. د وسله والو ډلو بې وسلې کول د نړيوالې ټولنې د بې تفاوتۍ له امله د ناکامۍ سر ه مخامخ دي. جګړې او نا امنۍ ورځ په و رځ پراخيږي او ډيريږي. له دې وضعې نه پرديو استخباراتي او مافيايي شبکو پورې تړلي کسان اوډلې ګټه اخلي. د افغانستان د خلکو سره د نړيوالې ټولنې د مرستو د غلاکولو سربيره د شخصي او دولتي ملکيتونو غصب او لوټول دوام لري. د عامو خلکو ستونزې او کړاوونه ورځ په ورځ ډيريږي او د مرستې او پوهنتنې هيڅ مرجع نه ليدل کيږي. بهرني تيري کوونکي او افغان دښمنه ځواکونه ، خپلو موخو ته د رسيدو په خاطر يوکم شمير افغانانو ته لږڅه ورکوي ، تر څو د هيواد غوځ اکثريت ځنې هرڅه واخلي - خپلواکي ، ملي واکمني ، اراده ، عزت اوهويت يې له منځه يوسي اوټوله شتمني يې لوټ کړي .

لنډه دا چې د کورنیو او بهرنیو دښمنانو د انسانیت ضد چارچلند له کبله د دوئ د ظلم چاره د افغانستان د خلکو هډوکوته رسیدلې اود افغانانو د صبر کاسه نوره ډکه شویده . روانه وضع نوره د زغم وړ نه ده. که دا وضع دوام وکړي او سمه نه شي کیدای شي دداسې ناوړو پایلو شاهدان اوسو ،چې د هیچا په ګټه به نه وي – نه د افغانانو په ګټه ، نه د سیمې په ګټه او نه د نړیوالو په ګټه . که یو څو لوټماران او توطیه ګران فکر کوي چې دوئ به تر ابده د خپلو توطیو او ناروا اعمالو ځنې ګټه اخلي ، کیدای شي دوئ هم د خپلو توطیو او جنایاتو په داسې غړنه کې ډوب شي ، چې ترې راوتل به بیا اسان کار نه وي.

د دې لپاره چې په هیواد کې اوسنۍ ستونزې اوارې شي ، سوله ، دموکراسي او ملي یووالی ټینګ شي ، قانون حاکم شي ، یو رښتیانی ملي دموکراتیک دولتي سراسري نظام منځته راشي او په بشپړ ډول د هر ډول فساد مخه ونیول شي او د افغانستان خلک په رښتینې توګه دا وس ولري چې د خپلې خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیادفاع اوساتنه وکړي ، نودټولو افغانانو ،په خاص ډول ، ملي دموکراتو شخصیتونو او ځواکونو ټینګ یووالي ته ضرورت دی. زموږ کورني او بهرني دښمنان د خپلو ناولو اهدافو لاسته راوړو په خاطر تل دا هڅې کوي چې افغانان سره وویشي او بیا دا ټوټې ټوټې او بې اتفاقه افغانان یوپه بل پسې له خپلو حقوقو ځنې محروم او وځپي. خو دا دټولو ملي وطنپالوپه کار پوه شخصیتونواوډلو دنده ده چې خپل منځي یووالی ټینګ اود دښمنانو توطیې شنډې کړي . د افغانستان دخلکو دښمنان رسوا کړي ، افغانانوته دوست او دښمن وروپیژني ، دخپلو حقوقو ځنې د دفاع په خاطر یې یووالي اوسیاسي مبارزې ته را وبولي. تر څو په خپلې ګډې مبارزې سره ځانونه د هر ډول زور زیاتي ، ظلم اواستبداد څخه وژغوري ، سوله ټینګه کړي او خپل هیواد بیرته جوړ کړي.

په دې لار کې د افغانستان ملي سراسري جرګې جوړيدل يوستر ګام دی ،چې د افغانانو د ستونزو د اواريدو په خاطر پکې يوزيات شمير هغه ګوندونه ،ټولنيز سازمانونه ، قومي شورا ګانې ، مدني ټولنې ، مستقل شخصيتونه او دپارلمان د دواړو خونو غړي ،چې فکر کوي چې له دې روان ناورين څنې د وتلو لپاره يوبل سره لاسونه ورکړي اودشريکوارمانونو لپاره ګډې هلې ځلې وکړي ، راټو ل شويدي . دا شريک ارمانونه هله رښتيايينه موندلی شي ،چې افغانان د افغانستان ملي سراسري جرګې تر چتر لا ندې دجرګې ددې لاندې اهدافو لپاره په ګډه مبارزه وکړي.

١ - د افغانستان ملي سراسري جرګه به هڅه کوي ، چې ديرش کلنې غميزې اوجګړې ته د پای ټکې کيښودل شي اود جګړې بيل بيل اړخونه په کورنۍ او نړيواله کچه دې ته وهڅوي چې دتلپاتې اوعادلانه سولې تامين او ټينګولو ته غاړه کيږدي .

٢ - جرګه به په افغانستان کې دداسې يو مکانيزم اوطرحې د پلي کيدو لپاره هڅه کوي ، چې له مخې به يې د افغانستان سياسي برخليک او د اقتصادي او امنيتي چارو واک په رښتينې توګه افغان ولس ته وسپارل شي.

٣ - جرګه به په جګړه کې پر ټولو ښکيلو اړخونو زور راوړي ، تر څو دملکي خلکوله وژنو لاس واخلي اود ناټو او ايتلاف له ځواکونو څخه به په کلکه غوښتنه کوي ، چې د ټولو نړيوالوقوانينو اود بشري حقونو د منل شويو موازينو جدي رعايت وکړي اود خپلو تيروتنو له امله د قربانيانو او زيانمن شويو کسانو کورنيو ته د نړيوالو معيارونو له مخې خساره ورکړي.

۴ - جرگه به پر بهرنيوځواکونو فشار راوړي ، چې د افغان ولس دملي واکمنۍ حق او ملي اسلامي ارزښتونو ته درناوی وکړي اوله داسې کړنوډډه وکړي ، چې دغوارزښتونو ته سپکاوی اوتيری په کې وي.
۵ - جرگه به پر دولت ټينگار کوي ، څو دټولو سيمه ييزو ، قومي ، قبيلوي اوکډوالو حقوقي ستونزو لپاره د حق اوعدالت پر بنسټ سمدستي اوغوڅ حل راوباسي اودهر ډول حقوقي تيريو مخنيوی وکړي.
جرگه به په دغو برخو کې د دولت د پريکړو اودهغو د تطبيق څارنه کوي .
۶ - جرگه به افغان ولس او نړيواله ټولنه دې ته هڅوي ، چې د ټولو هغو بهرنيو لاسوهنو اوکورنيو دسيسو پر وړاندې ، چې غواړي د افغانستان ملي – اسلامي هويت ، ارزښتونو او يووالي ته زيان ورسوي ،غوڅ غبرگون وښيي اومخنيوی يې وکړي.
۷ - جرگه به هڅه کوي ټول هغه سياسي گوندونه ، ټولنيز سازمانونه قومي شوراگانې ،مدني ټولنې اواغيزمن شخصيتونه ، چې له پورتنيواهدافوسره توافق لري اودهغو پلي کول خپل مسؤليت گڼي ، ديولوی اواغيزمن ځواک د رامنځته کولو په موخه د افغانستان دملي سراسري جرگې تر چتر لاندې سره يوموټی کړي.
د افغانستان ملي يووالي گوند عقيده لري چې نوموړي اهداف د ټولو ملي وطنپالو افغانانو شريک اهداف دي اوباور لري چې ټول ملي وطنپال شخصيتونه اوځواکونه به ددې اهدافو د پلي کولو په خاطر د افغانستان ملي سراسري جرگې تر چتر لاندې راټوليږي اود روان ناورين ځنې د ژغورلو په خاطر به يولوی اواغيزمن ځواک منځته راوړي. د افغانستان ملي يووالي گوند دپورته يادو شوو اهدافو سره بشپړ توافق لري اوځان د دې اهدافو پلي کيدو کې ژمن بولي اود افغانستان ملي سراسري جرگې په پراختيا اوپياوړتيا کې به له هيڅ ډول هلو ځلو څخه ډډه ونه کړي.
درنو حاضرينو !

ددې لپاره چې د افغانستان ملي يووالي ګوند خپلې ژمنې په بريالیتوب سره سرته ورسوي ژورو سیاسي ، ایدیالوژیکي ،مالي اوتشکیلاتي ریفورمونوته اړتيا ده . په اوسنیو شرایطو کې یواځې دنوروملي دموکراتو شخصیتونو اوځواکونو سره یوځای په سیاست کې بريالیتوب لاسته راتلای شي. اوس چې د افغانستان ملي سراسري جرګې غړي یو ، نوخپل بريالیتوب به د افغانستان ملي سراسري جرګې په بريالیتوب کې لټوواو بس. زموږ ایدیالوژي د اسلام دمقدس دین د ارزښتونو سر ه سم د ملي ګټوپر بنسټ انسان دوستي ده . په مالي برخه کې د ګوند هر غړی مکلفیت لري چې د ګوندي چارو د پرمخ بیولو لپار ه د ګوندد تګلارې سره سم د عضویت حق په خپل وخت دمالي چارو اړوند مسئول ته ورکړي. که څوک دګوندد عضویت حق وروسته له دې په خپل وخت نه ورکوي ، هغه باید د ګوند غړی ونه بلل شي . د ګوند نوي کارتونه باید هغه چاته ورکړل شي ،چې دنورو ګوندي مکلفیتونو تر څنګ د عضویت حق ورکوي.

د ګوند تشکیلات باید د ضرورت سره سم جوړ شي. د مرکزي شورا د غړو شمیر باید دومره نه وي ، چې راغونډول یې ستونزمن وي. هغه څوک د مرکزي شورا غړی شي چې په ګوندي کارونو کې تر نورو مخکې وي او مربوطه ګوندي سازمان یې د مرکزي شورا د غړیتوب سره فعالیت سم ارزولی وي. د ګوند هر غړی حق لري چې هر ګوندي مقام ته ځان کاندید کړي ، خو تر هر څه لومړی دی پخپله باید ځان سره قضاوت وکړي ، چې ایا دی کولای شي د دغه مقام مسئولیت څرنګه چې لازم دي سرته ورسوي. همدارنګه رای ورکوونکي باید یواځې د کاندید وړتیا په نظر کې ونیسي ، نه شخصي خواخوږي. نوبیا کولای شو په ډاګه کړو چې د افغانستان ملي يووالي ګوند د ټولو ستونزو څنې راوتلی دی اوپه

یورښتیاني ملي دموکراتیک ګوند ، چې د خپلوخلکو اوهیواد په وړاندې خپلې دندې په بریالیتوب سره سرته ورسوي ، بدل شوی دی.
محترموورونو خویندو !
د افغانستان ملي یووالي ګوند په منځته راتلو ، پراختیا او پرمختیا کې د ګوند ټولو رښتینو وطنپالو غړو د پام وړ رول لوبولی دی . خوکوم رول چې د ګوند د بقا ، پراختیا او پرمختګ په چارو کې محترم محمد سالم مسعودي لوبولی دی هیڅوک ترې سترګې نه شي پټولی. ده په ډیرو ستونزمنو شرایطو کې د ګوندي چارو د سرته رسیدو او د نیمګړتیاوو په لمنځه وړو کې تل د ځوانو ملګروسره مرسته او د دوئ لارښوونه کړیده.
دا چې ګوند وکولای شول له ستونزو ځنې راووځي اوپه ټول هیواد کې خپل سازمانونه جوړ کړي د محترم مسعودي صاحب د حوصلې ، پرله پسې هلو ځلو او ټینګې ارادې څخه پرته امکان نه درلود . زه د دغه ستر شخصیت په ملګریتوب ویاړم اوله خدای پاک ځنې غواړم چې اوږد عمر او ټینګه روغتیایې ور په برخه کړي. محترمو ورونو !
کوم مسئولیت چې دولس کاله مخکې زماپه اوږو ایښودل شوی و ، د ډول ډول عواملو له کبله ما ونه شول کړای چې هغه د ملګرو د غوښتنو او ضرورتونو سره سم سرته ورسوم . زما شخصي نیمګړتیاوې ، کمزورتیاوې او تیروتنې ، دهیواد ستونزمن شرایط ، د ګوند په مقابل کې توطیې ، په ګوندکې د تګلار سره سم د ګوندد ځینو غړو نه چلند ، دا ټول ددې سبب شوي دي چې زموږ ګوند د غوښتنو او ضرورتونو سره سم پراختیا او پر مختګ نه دی کړی. خوبیا هم د پاک خدای (ج ) څخه شکر ګذار یم ، چې موږ ته یې دا وس را کړی دی ، چې د ټولو ستونزو سره سره مو دا ګوند تر اوسه پورې د خپلو خلکو او هیواد ته د خدمت په هیله فعال ساتلی دی اونن مو د ټولوستونزو ځنې د راوتلو او د ګوند د پیاوړتیا په

خاطر د افغانستان ملي یووالي ګوند د دویمې لوی شورا دا غونډه جوړه کړې ده.
هیله ده دا غونډه خپلې دندې په بریالیتوب سره سرته ورسوي. دا غونډه صلاحیت او واک لري چې د ګوند کړنلار او تګلار وټاکي اود ګوند د رئیس او مرکزي شورا د غړیتوب مسئولیت هغه چاته وسپاري چې کولای شي په بریالیتوب سره خپلې ورسپارل شوې دندې سرته ورسوي.
په اخر کې زه دګوند د ټولو هغو غړوځنې چې د ګوندي چارو د سرته رسیدو په کار کې له ستونزو څخه نه دي ډار شوي اوله هیڅ ډول هلو ځلو ځنې یې ډډه نه ده کړې مننه کوم او له خپل خدا ( ج ) نه یې خوښ ، نیکمرغه ، بریالی او سرلوړی غواړم.

*- دا لیکنه د ۱۳۸۷کال د تلې د میاشتې په ۲۴نیټه د افغانستان ملي یووالي ګوندد دویمې لوی شورا په غونډه کې ولوستل شوه .

## تر څو چې د افغانانو پر ضد ټولې پخوانۍ او اوسنۍ استعماري توطیې شنډې نه شي ، نه یوائې په افغانستان کې ، بلکې په سیمې اونړۍ کې سوله او ثبات نه شي ټینګیدای *

پر افغانانوباندې خدای پاک ( ج ) ډیر ښکلی د طبیعي شتمنیو ډک اودنورو هیوادونو په پرتله د یووتلي جیوستراتیژیک وړتیا لرونکې هیواد پیرزو کړی دی . د دې هیواد ( افغانستان ) اوسیدونکي ( افغانان ) په خپل هیواد مین ،زړور ، میړني ، مستعد ، پتمن او دټولو نورو لوړو انساني صفاتو لرونکي سپیڅلي خلک دي. په طبیعي ډول د ستونزو سره روږدي ، سرلوړي اودخپلې خپلواکۍ لپاره د سر اومال نه تیر ،نه ایل کیدونکي او د استعماري ، پراختیا غوښتونکو تیري کوونکو ځواکونو اوهیوادونو د سترګو د اغزو او دښمنانو په ښه پیژندل کیږي.
له همدې کبله ده چې د افغانانو په ټول تاریخ کې یرغلګرو تیري کوونکو د دوئ د ځپلو لپاره له هیڅ ډول وحشت ، بیرحمیو او توطیوځنې ډډه نه ده کړې. کله چې دښمنان پوه شوي دي چې په زور افغانان هیچاته نه په ګونډو کیږي ، له خپل سر ځنې تیریږي ، خو د چا غلامي نه مني ، نوبیا یې هڅه کړې ده چې په توطیوسره افغانان کمزوري کړي اوخپلې غوښتنې پرې ومني . د افغانستان دخلکو دښمنانو تر هر څه لومړی د "بیل یې کړه ، ایل یې کړه ! "توطیې ځنې کار اخستی دی . لکه دهرې بلې ټولنې په څیر په افغاني ټولنه کې هم ځینې کسان پیدا کیږي چې د ملت له ګټوځنې ورته خپلې شخصي ګټې ډیر ارزښت لري. نو ددې لپاره چې یوڅه شخصي ګټې لاس ته راوړي د بهرنیوتیري کوونکو دلاس اله شوي دي اوپه افغانانو کې یې د بې اتفاقۍ او بیلوالي اور ته لمن وهلې او خپل

هیواد یې د پردیو په غوښتنه د سترو بدمرغیو او کمزوریو سره مخامخ کړی دی.
د افغانستان خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا ډیر ځلې د بهرنیو استعماري ځواکونو ، په خاص ډول د انګریزانو د استعماري سیاستونو د یرغل لاندې راغلي دي. کله چې یې په مستقیم ډول پر افغانانو د حکومت کولو هلې ځلې د ماتې سره مخامخ شوي دي ، نو دافغانانو په مقابل کې یې په نورو سترو توطیو لاس پورې کړی دی ، چې تر اوسه د دغو توطیو د ناوړه اغیز څخه نه شو خلاصیدای . انګریزانو نه یوازې د کم زورو او دخلکو څخه بیلو امیرانو سره په پټه د افغانانو ، په خاص ډول دملي وطنپالو شخصیتونو په ویشلو او ځپلو کې له هیڅ ډول توطیو، ګواښ ، ډارولو اوتطمع کولو څخه ډډه نه ده کړې ، بلکې د یوبل استعماري ځواک ( روسانو ) سره د افغانستان د وروسته پاتې والي او کمزوري ساتلو لپاره په ګډه توطیوته دوام ورکړی دی.
داچې : استعمار دځواکمنو هیوادونو په واسطه د کمزورو هیوادونو نیول ، تر حاکمیت لاندې راوستل اولوټ کول دي . نو استعماري هیوادونو تل دا هڅه کړیده ، چې هغه هیوادونه چې غواړي مستعمره یې کړي او ټول انساني ځواک او طبیعي زیرمې یې د خپل لاپسې ځواکمن کیدو او شتمن کیدو لپاره په کار واچوي دکمزورۍ ، بې اتفاقۍ او بې ثباتۍ لور ته ټیل وهي ، ترڅویې د خپل حاکمیت لاندې راولي او شتمنۍ یې لوټ کړي.
څرنګه چې د لوی او ځواکمن افغانستان څخه نه یوازې دا تمه نه شوه کیدای چې ګنې انګریزي استعمارچیان دې پرې واکمن شي ، بلکې د انګریزانو د پراختیا غوښتنې اوهندوستان باندې واکمنۍ ته ګواښ ګڼل کیده، نوځکه یې د ځینو افغانانو ، په خاص ډول حکمرانانواوشهزادګانو د کمزورتیاوو:څخه ، چې هغه ځان ځاني اویوبل څخه ځان لوړ ګڼل ،

شخصي ګټو اود مال دولت اودنيوي جاه اوجلال سره مينه وه ، ناوړه ګټه واخسته. ورور يې د ورور ، زوی يې د پلار او يوافغان يې د بل افغان سره په جنګ واچول . او په دې ډول يې په هندوستان باندې نه يوائې خپلې واکمنۍ ته يوډير نژدې ګواښ له منځه يووړ ، بلکې خپلې پراختيا غوښتنې ته يې پر افغانستان د يرغل کولو ، لاندې کولو او حاکميت چلولو شرايط هم برابر کړل.

انګريزي استعمار چيانو نه يوائې دهمدې کمزورتياوو له کبله د افغانانو نفوذ په نيمه وچه کې له منځه يووړ، بلکې د تيمورشاه داولادې د خپلمنځي بې اتفاقيو ، جګړو او يوورور بل ورور ته د نه غاړې کسښودو له امله يې د افغانستان د نيولو په خاطر د مستقيم يرغل څخه نيولې د ګوډاګيواو لاسپوڅوحکومتونو منځته راوړلو هڅې پيل کړې. لومړی خو انګريزان د افغانستان د ځواکمنۍ اوپه هندوستان کې د ډير نفوذ د لرلو ځنې په ويره کې تدافعي چلند غوره کړی و. خو کله چې يې وکړای شول د ايران له لارې شهزاده محمود د زمانشاه د ځواکمن مر کزي دولت په مقابل کې کورنيو مخالفتونو اوجګړوته ولمسوي اوتر دې اندازې يې ورسوي چې نه يوائې يې د انګريزانو د استعماري ګټو په وړاندې د ګواښ اومقابلې مخنيوی وکړي ، بلکې په کورنيو جګړوکې ښکيل او د زمانشاه په مشرۍ د افغانانو ځواکمن مرکزي دولت واکداري پای ته ورسوي نويې پر افغانستان د يرغل کولو اولاندې کولو هلې ځلې پيل کړې .

انګريزانواونورو ټولو استعماري قوتونو تل په افغانستان کې د ملي ځواکمن مرکزي دولتونو سره دښمني ښودلې اوهڅه يې کړې ده چې کمزوري ، له خلکوځنې ليرې ، فاسد او د ملي ګټو ضد حکومتونه منځ ته راوړي تر څو د خپلې بقا لپاره تل استعماري ځواکونو ته اړ وي اوهر څه چې استعمار ګران ترې وغواړي سرته يې ورسوي . له همدې کبله

استعمارګرانو تل په داسې کسانوتکیه کړې ده او ځان سره یې د خپلو موخو د ترسره کولو لپاره ملګري کړي دي ، چې زموږ قهرمان ولس ته وښايي ګنې چې د افغانانو خپل حکومت دی. خوواقعیت بل ډول وي. اوهغه دا چې داسې لاسپوڅي حکومتونه یوائې د هغه چا په خدمت کې وي ، چې قدرت ته یې رسولي وي. داسې لاسپوڅي حکومتونه دخپل هیوادګټوساتلو اودخلکو خدمت کولوته ځان ژمن نه بولي.
د لاسپوڅوحکومتونوله لارې خپلو ګټواوموخو ته کار کول د استعماري سیاستونو نوې بڼه ده ، چې موخې یې د زاړه استعمار په څیر زموږ د هیواد وروسته پاتې والی ، دملي شتمنیو لوټول ، خلک په احتیاج اوفقر کې ساتل او دژوند دنورو اسانتیاوو نه محرومول دي . استعماري ځواکونه اولاسپوڅي یې دخلکوحقوقو او ملي مذهبي ارزښتونو ته سپکاوی کوي او دخلکو دسیاسي ټولنیز شعور د سطحې د لوړېدو دمخنیوي په غرض د درواغجنوتبلیغاتو له لارې خلکوته خپل دوستان اوخدمتګاران ( داستعمار ضد ملي وطنپال شخصیتونه اوځواکونه ) د دښمنانوپه بڼه ، اودښمنان یې ( استعماري ځواکونه اوتالي څټي اجیرکسان او ډلګۍ ) د دوستانو په څیر تبلیغوي اوداقتصادي ، نظامي او سیاسي پلوه خپل لاسپوڅي په خلکو تپي.
خودافغانستان خلکو ، د یوڅولاسپوڅوځنې پرته ، تل دخپلو ملي نوامیسو ( خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ) څخه ددفاع په خاطر دخپل منځي یووالي په مټ داستعماري توطیومخه نیولې او شنډې کړې یې دي. د افغانستان دخلکو په مقابل کې هیڅ یرغلګر او استعماري ځواک د جګړې په ډګر کې ستراتیژیک بری نه دی تر لاسه کړی . خو استعماري توطیې نه یوائې په نظامي ډګر کې ، بلکې په سیاسي ، اقتصادي اوټولنیزوډګرونو کې هم باید شنډې شي . چې دا کار بې د

خلکوله ملاتړ څخه ، چې دملي وطنپالو شخصیتونو او روڼ اندو له خوا ورته د توطیو په بربنډولو لاس ته راځي ، سرته نه شي رسیدلای .

داستعماري توطیو ځینې بیلګې:

کله چې د زمانشاه دپراخ مرکزي دولت پر ضد دانګریزانو توطیې بریالۍ شوې اوپه پایله کې له قدرت څنې لیرې ، بندي اوړوند شواوپر ځای یې شهزاده محمود اووزیر فتح خان قدرت ته ورسیدل ، نوورپسې کورنۍ جګړې ، بې اتفاقۍ اوګډوډۍ پیل شوې اودکمزورې واکمنۍ پایلې دا شوې ، چې د قاجار حکومت خراسان ونیو او د پنجاب سیکانو ځان مستقل اعلان کړ. بیا پیښور ، دیره اسماعیل خان ، دیره غازي خان ،بنو اوکشمیر له لاسه ولاړل . دې کورنیو جګړو اوبې اتفاقیو دافغانستان ځواکمن دولت او امپراتوري ټوټه ټوټه کړه . په دې توګه نه یواځې دانګریزانوداستعماري دولت په مقابل کې یوستر ګواښ له منځه ولاړ ، بلکې د انګریزي استعمارچیانو پراختیا غوښتنې ته یې لاپسې لار خلاصه کړه.

له دې څخه وروسته ، کله چې په شرق کې انګریزي واکمنۍ ځان خوندي احساس کړ ، نوبې د سیکانو په ملګرتیا د شاشجاع سره دمرستې تر پلمې لاندې د ۴۵ زره کسیزې منظمې اردو په واسطه په ۱۸۳۹زیږدیز کال کې پر افغانستان یرغل وکړ او دزیاتو سیمو له نیولو وروسته ، کله چې بیرته هند ته ستنیدل سند اوبلوچستان یې هم له افغانستان څنې بیل اود انګلیس حکومت پورې وتړل . بیا وروسته یې دسیکانو پواسطه له افغانستان څنې نیول شوي شرقي ولایتونه هم د برطانوي هند سره یوځای کړل.

د لاهور معاهده د ۱۸۳۸کال د جولای په ۲۵نیټه په داسې حال کې د انګریزانو د توطیې له کبله د شاه شجاع او رنجیت سنګ تر منځ شویده چې تر دغه وخته پورې شاه شجاع افغانستان ته نه و راوړل شوی

اوپادشاه نه و. شاه شجاع په دې معاهدې کې د انګریزانو په غوښتنه او ټینګار د رنجیت سنګ د خوشحالۍ اود هغه سره د دوستانه اړیکو د ټینګیدو په خاطر هغه ته کشمیر ، اټک قلعه ، چچ ، هزاره ، امب ، پیښور یوسفزي ، خټک ، اشنغر ، کوهاټ ، هنګو تر خیبر درې پورې ، بنوداوړ ، وزیرو علاقه ، ټانک . کالاباغ، خوشال ګړ ، دیره اسمعیل خان ، دیره غازي خان ، حاجي پور ، راجن پور ، کچه علاقه اوملتان صوبه پرېښودل اود رنجیت سنګ ځنې یې په بدل کې د دوستانه راکړې ورکړې پر بنسټ **۵۵**شالونه ، ۱۱لوپټې ، **۵** تانه کیمخواب ، **۵۰**څادرې ،**۲۵** تانه ململ ، **۵۰** پټکي او **۵۵** باره دباړې وریجې وغوښتل.

همدارنګه انګریزي استعمارچیانو په یوبل کمزوري ، انګریزانو ته تسلیم شوي ډارن محمدیعقوب خان باندې په کال **۱۸۷۹**کې بله معاهده د ګندمک د معاهدې په نوم وتپله ، چې پواسطه یې نورې سیمې له افغانستان څخه بیلې اوبرطانوي هند پورې وتړلې .

د دیورند کرغیړنه کرښه په داسې وخت کې په۱۲ د نومبر په کال**۱۸۹۳** کې پر امیر عبدالرحمن خان وتپل شوه چې افغانستان د برطانیې د نیمه مستعمرې حیثیت درلود اوامیر عبدالرحمن خان د برطانیې د بشپړ سیاسي نظامي او اقتصادي اغیز لاندې و . ددې کرښې په تپلوسره نه یواځې ډیرې سیمې له افغانستان ځنې بیلې کړی شوې ، بلکې ددې کرښې پواسطه بیلې کړې شوې سیمې یې لاپسې په ټوټو وویشلې. څه برخې یې یاغستان ونومولې ، څه برخې یې د ازادو قبایلو په نوم یادې کړلې اونورې برخې یې د شمال غربي سرحدي صوبې په نوم په ډیلي پورې وتړلې. د یاغستان اوازادو قبایلود سیمو افغانان یې دټولو معاصرو علمي- تخنیکي پرمختګونو او ښیګڼوځنې محروم وساتل اوهڅه یې وکړه چې سیمې یې په خپله ګټه د خپلوسیاسي غرضونو په خاطر د خپل منځي دښمنیو ، بنسټپالنې اومخدره موادو مافیایي فعالیتونو سیمې

جوړې اودنورو افغانانو اونړۍ ځنې تجرید وساتي . د شمال غربي سرحدي صوبه یې هم دخپلو طبیعي شتمنیو د ګټې اخستوڅخه محرومه اوهر ډول سیاسي خوځښت یې په بیرحمۍ وځاپه اوهڅه یې وکړه چې د خپل ځانګړي هویت ، ژبې او فرهنګ ځنې یې بیغمه کړي . هغومره بیرحمۍ ، وحشت اوتوطیې چې د باچاخان په مشرۍ د خدایې خدمتګارانو ازادي بښونکي غو رځنګ په مقابل کې سرته ورسول شوې تر اوسه دنړۍ په هیڅ ګوټ کې نه دي لیدل شوي.
روسانو هم په مختلفوو ختونو کې د تیري اوتوطیوځنې ډډه نه ده کړې. تزاري روسیې د برطانوي امپراتورۍ سره ، دنوروهیوادونو د ځمکو د لاندې کولو په سیالۍ کې له افغانستان څخه مروه بیله کړه . انګریزانو اوروسانو ، دواړو ، د خپلو امپراتوریو په مقابل کې د افغانستان د ځواکمن دولت موجودیت ګوابښ ګڼلو او له همدې کبله یې زموږ د هیواد د وروسته پاتې والي اوکمزوري ساتلو لپاره د توطیو په جوړولو کې یو شان برخه درلوده.
کله چې په افغانستان کې ملي وطنپال ځواکونه سیاسي قدرت ته رسیدلي دي اوددولتي قدرت څخه په ګټې اخستوسره یې هلې ځلې پیل کړې دي چې د افغانانو رښتینې خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا د پردیو له تیریو او لاسوهنو ځنې خوندي کړي او داسې شرایط منځته راوړي چې خلک دمودو مودو وروسته پاتې والي ځنې ځانونه راوباسي ، نو استعماري ځواکونو سمدستي تر مختلفو پلمولاندې دخپلو روزل شوو اجنټانو په واسطه د توطیو له لارې اویا نیغ په نیغه د نظامي یرغل پواسطه د دغو هلوځلو مخه نیولې اوزموږ هیواد یې د جګړو ،کړاوونو اونورو ډول ډول ستونزو او بدمرغیو سره مخامخ کړی دی.

پر افغانستان باندې د شورويانو د ۱۹۷۹کل د دسمبر د ۲۷نيټې تيری دهمدې موخې لپاره سرته ورسيد چې شورويانو په خپل ګاونډ کې يو ځواکمن ، ربښتيانی خپلواک ، دملي واکمنۍ او کاملې ځمکنۍ بشپړتيا لرونکی افغانستان ، چې دنړۍ د ټولو هيوادونو سره د متقابلو ګټو ، درناوي اويوبل په کورنيو چاروکې د نه لاسوهنې د اصولو پر بنسټ، دوستانه اړيکي ولري نه شو زغملی. شورويانو د خپل پراختيا غوښتنې سياست په مقابل کې د حفيظ الله امين په مشرۍ ملي حکومت ستر خنډ ګاڼه ، نوځکه يې لومړی په ګوند او دولت کې د خپلواجنټانو پواسطه بې اتفاقيو ته لمن ووهله اوبيايې د خپل لاسپوڅي ببرک کارمل قدرت ته د رسولو لپاره پر افغانستان له شرمه ډک تيری سرته ورساوه . خو څرنګه چې د افغانستان خلک لاسپوڅي حکومتونه نه مني ، نوځکه دافغانانو په بې انډوله سرښندنو اود يرغلګرو په مقابل کې دخپل هيواد اوملي نواميسوڅخه د دفاع په نتيجه کې شورويان مجبور شول چې په خپلې ماتې منلو سره زموږ له هيواد ځنې ووځي اود شوروي په شپاړسم جمهوريت باندې دافغانستان د بدليدو خوب يې ، چې کارمل يې د ربښتياينې لپاره قدرت ته راوست ، د خاورو سره خاورې شو.

ايران لا له پخوا څخه په افغانستان کې يو ځواکمن مرکزي حکومت د ځان په تاوان ګاڼه اود انګريزانوپه لار ښوونه يې شهزاده محمود ( دتيمور شاه ديوې ايرانۍ ښځې زوی اود زمانشاه ناسکه ورور ) تل دزمانشاه په مقابل کې لمساوه اوزمانشاه يې نه پريښود چې د انګريزانو د پراختيا غوښتنې پلانونه شنډ کړي. ايران د انګريزانو سره يوځای تر هغه وخته پورې توطيوته دوام ورکوي ، تر څو زمانشاه له قدرت څخه ليرې اوړوند شي اود شهزاده محمود په پاچاکيدوسره د افغانانو ځواکمن مرکزي حکومت کې د شهزادګانوتر منځ کورنۍ جګړې پيل شي اود ايران اوانګريزانو تيري ته لار خلاصه شي.

ایران نه یوائې د افغانستان په حساسو شرایطوکې د خراسان ولایت غصب کړی دی ، بلکې هرات ته یې هم څو ځلې ګوابنونه کړي دي . پر افغانستان باندې دشوروي له تیري څخه وروسته یې چې څومره افغان مهاجرینو ته په خپله خاوره کې ځای ورکړی و، له هغوئ ځنې یې دخپلونار وا موخو لپاره ګټه اخستې او اوس هم دهغولاسپوڅوکسانو اوډلګیو پواسطه ، چې دایران استخباراتي شبکوسره تړلي دي ، د افغانانو ترمنځ د ملي یووالي دله منځه تلو ، دافغانانو دفرهنګ پر ځای د ایراني فرهنګ د رواجولو اود افغاني هویت دورکیدو لپاره هلې ځلې کوي.

ایران په ډیر مهارت سره د افغانانو د ستونزمن حالت ځنې ناوړه ګټه اخلي او افغانستان یې د اقتصادي ، سیاسي اوفرهنګي پلوه د خپلو اجنټانو په واسطه دومره تر اغیز لاندې راوستی دی ، چې د افغاني مهاجرینو په مقابل کې هر ډول ناوړه غیر اسلامي اوغیر انساني د سپکاوي ډک چلند اوزمور په کورنیو چاروکې په بنکاره لاسوهنې او د جګړې په اور دتیلو شیندلو فعالیتونه یې تل د رسمي ګوډاګیانو له خوا د نیکو اوورور ګلویزو اړیکو په حیث ستایل کیږي .

ایران تر دې اندازې په افغانستان کې د خپلو لاسپوڅو په واسطه اغیزمن رول لوبوي ،چې له افغانستان ځنې خپل اصیل هویت چې هغه ( افغان هویت ) دی ، غواړي غلا کړي او پر ځای یې پرې خپل هویت وتپي او افغانستان د خپلې سپوږمکی په څیر د ایران سره وتړي او د پارسي ژبې هیواد په څیر یې نړۍ ته وروپیژني . افغاني هویت ضد دا توطیه یې لومړی د رباني پواسطه عملي کړه او اوس یې دکرزي پواسطه عملي کوي.

پاکستان خولا خپل منځته راتګ د انګریزانو د هغو استعماري توطیو مرهون بولي ، د کومو په نتیجه کې ، چې پکې په سلګونو زره بیګناه مسلمانان اوهندوان د مسلمان اوهندو په نومونو د مذهبي جګړو د اور په

هغو لمبوکې له منځه ولاړل ، کوم چې انګریزانو د خپل استعمار لاندې د هند دنیمې وچې د ساتلو لپاره بل کړی وه . انګریزان هم پاکستان د خپلواستعماري توطیو د پلي کیدولپاره په سیمه کې تر بل هرهیواد ځانته نژدې اوپه ګټوکې شریک هیواد ګڼي . کومې توطیې چې د افغانانو په مقابل کې انګریزانو په کار اچولي دي پاکستان یې نه یواځې پلي کیدو ته ځان ژمن بولي ، بلکې هڅه یې کړې ده چې دا توطیې لاپسې پراخه او ژورې کړي .

انګریزانو دخپلو استعماري ګټو د ساتلو په خاطر د افغانانو هیواد په ټوټو وویشه ، خو پاکستان د ټولونړیوالو نورمونو پر خلاف د هغوئ د ملکیت دعوه کوي . انګریزانو د بیلوشوو سیمو لپاره دمعاصر علم اوتخنیک ځنې دمحروم ساتلو لار خپله کړې وه ، خو پاکستان ترې په لوې لاس د خپلو سیاسي غرضونو په خاطر او د پښتنو د ځپلولپاره د بنسټپالنې ، تروریزم اومخدره موادود کاروبار مرکز جوړ کړی دی.

پاکستان نه یواځې پخپله د طالبانواو القاعدې په نوم دهوایي اوځمکنیوبمباریو په واسطه په وزیرستان ، خیبر ، مومندو ، باجوړ اوسوات کې په زرګونو بیګناه خلک ، دښخو ،ماشومانواوبوډاګانوپه ګډون له منځه یوړل اوبشپړې سیمې یې په کنډوالو اړولې دي ، بلکې د شواهدوله مخې د امریکائیانوسره په مصلحت کې یې د بې پیلوټه الوتکو د راکټونو سره مخامخ کړي دي . حتی په وروستیو وختونو کې خوپه ښکاره لوړ پوړي دولتي مقامات یې امریکائیانو ته مشوره ورکوي چې که قبایلي سیمې په راکټونوولئ وه یې ولئ،خودپاکستان دنوروسیموسره غرض مه کوئ . پاکستان هڅه کړېده چې د انګریزانوپه څیر د اشغال لاندې سیموکې د پښتنوژبه ،فرهنګ اوقومي هویت له منځه یوسي اود انګریزانو اوپنجابیانو ژبه اوفرهنګ پرې وتپي .

پر افغانستان باندې دشورویانود تیري څخه راوروسته په میلیونونو افغانان له خپلوټاټوبو ځنې کډې کولو ته اړویستل شول . پاکستان د آی. اس. آی. پواسطه لومړی افغانان پرې نه ښودل چې د شورویانوپه مقابل کې دمقاومت یوواحد افغاني ځواک منځته راوړي ، چې د شورویانو له ماتې اووتلو څخه وروسته په منظم ډول د هیواد ټولې چارې په لاس کې واخلي ، بلکې افغانان یې په مختلفو ډلووویشل اوبیایې یوبل سره واچول ، تر څو د دغې جاسوسي شبکې په لارښوونه د توطیو د پلي کیدو او د افغانستان د ورانیدو پلانونه په ډاډه زړه عملي کړای شي.
پاکستان د افغانستان په کورنیوجګړوکې برخه درلوده او په لوی لاس یې دخپلواجنټانو په واسطه د افغانستان ټولې تولیدي او تعلیمي مؤسسې له منځه یوړې ، ترڅوافغانان له هر اړخه وروسته پاتې ، بې وزله ،دوئ ته اړ اوهیواد یې د پاکستان دمالونو د خرڅلاو په بازار بدل شي اود دیورند دکرښې پواسطه ټوټې شوی افغانستان د تل لپاره ټوټې ټوټې پاتې شي اود افغانانوپرضد د انګریزي استعماردغه کرغیړنه توطیه لاپسې ژوره کړي . اوپه دې ډول په دې سیمه کې د یوځواکمن ، په خپلوپښوولاړ ، خپلواک ، دملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا لرونکي افغانستان د موجودیت مخه ونیسي.
امریکا اونورو غربي هیوادونو پر افغانستان باندې د یرغل څخه وروسته په خپلوتیروکړنو پښیماني ښودله او افغانانو ته یې وعده ورکوله چې د دوئ د راتګ سره سم به په افغانستان کې سوله اوټیکاو منځته راشي. نه یواځې به د دوئ له هیواد ځنې د جګړو ،تروریزم ، مخدره موادو ، فقر ، بې وزلۍ ، بې عدالتۍ ، استبداد او ظلم لمن ټوله شي ، بلکې د دموکراسۍ د اصولو سره سم ، بې له هرډول بهرنیولاسوهنو څخه ، به د افغانانوپه خوښه د دوئ خپل ملي حکومت منځته راشي. د جګړو ځنې راپیدا شوې د تیروکلونو ټولې ستونزې به اوارې شي اوافغانستان به د

نړیوالې ټولنې په هر اړخیزو مرستو د اقتصادي ، ټولنیز اوفرهنګي پرمختګ لوړو پړاوونوته ورسیږي . اوپه دې ډول به افغانان یو ملي ، دموکراتیک ، دخلکو استازی ،خپلواک ، دملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا څخه په ټینګه ساتونکی دولت ولري.
دا خودامریکې اومتحدینو خبرې اووعدې وې ، چې د افغانانوسره یې کړې وې . خو په واقعیت کې دوئ ټولو په خاص ډول امریکائیانواوانګریزانو خپلې موخې درلودې اوتر هرڅه لومړی خپلوموخو ته رسیدل ورته غوره ښکاره کیدل . نوځکه دې موخو ته یې د رسیدو لپاره په هغوکسانو او ډلګیو حساب کاوه چې دیولړ څه امتیاز په بدل کې یې کولای شول د تل په شان دبهرنیوهیوادونو د ګټوسره خپلې ګټې وتړي . امریکې او متحدینولپاره لومړنۍ موخه د طالبانو د حکومت راپرزول و . دې موخې ته د رسیدولپاره یې د طالبانوپر مخالفینو ( شمالي ټلوالې ) تکیه وکړه . امریکائیانو باور درلود چې دې ټلوالې ته تر بل هر څه خپلې اود امریکائیانو ګټې لوړې دي ، په ډیروکمو شخصي اوګروپي ګټو کولای شي له سترو ملي ګټو څنې تیر شي او ددوئ په چوپړ کې ودریږي. نوځکه یې ددغې ټلوالې سروالۍ ته په میلیونونو ډالر ورکړل ، لوړ دولتي پوستونه او لقبونه یې وروبښل اونژدې ټول سیاسي نظامي واک یې دوئ اونوروورسره تړلو کسانوته وروسپاره اوپر افغانستان باندې په یرغل کې یې له ځان سره ودرول .
همدا سبب دی چې دامریکې اومتحدینو په واسطه قدرت ته رسول شوي دمال دولت اونظامي قدرت خاوندان اود سرمایه دارانو اومیلیونرانو دغه نوی قشرګوټی دافغانستان خلکوته ځان په خدمت کولو ژمن نه بولي. له همدې کبله دولتي دستګاه د اداري فسادونو څخه ډکه او دخلکو څنې په کافي اندازه تجرید شویده اوکیدای شي ووایو چې د نړیوالې

اختاپوت ډولې مافیا په پنجو اوخړتمونو کې راښکیل د دولت په نوم یوه نا دولتي دستګاه ده.
همدارنګه د ناټواو ائتلافي ځواکونو، په خاص ډول امریکایي ځواکونو خپلسرۍ او ړانده عملیات، چې ډیر بیګناه خلک دښځو،ماشومانو او بوډاګانو په ګډون پکې هره ورځ له منځه ځي اودخلکو ملي او مذهبي ارزښتونو ته سپکاوی کیږي، نه دخلکو دستونزو اومرګ ژوبلې پروا کوي اونه هغه تش په نامه دولت ته چې د دوئ په مرسته اوملاتړ جوړ شوی دی کوم ارزښت ورکوي، افغانانو ته دغه بهرني ځواکونه په پرله پسې ډول د نیواک ګرو ځواکونو په څیره کې راڅرګندیږي.
دولت هم دخلکو په نظر یو بیواکه،کمزوری، د نورود لاس الې او فاسدې دستګاه په څیر، چې نه دخلکو له ګټوڅخه دفاع کولای شي، نه نړیواله ټولنه کوم ارزښت ورکوي، نه د افغانانو دملي نوامیسو اوملي هویت څنې په د فاع کولو ځان ژمن بولي اونه ورسره کومه مینه لري، یوپردی جوړښت ښکاري اوپه پرله پسې ډول ترې واټن نیسي. همدا سبب دی چې د سلګونو زره کورنیو اوبهرنیو نظامي ځواکونو په موجودیت کې په هیواد کې سوله اوثبات ټینګ نه شول. مخالفین په پرله پسې ډول ځواکمن کیږي، جګړې، قانون ماتونې، بې عدالتي، انارشي، نه مصئونیت، ظلم، استبداد، فساد، دمخدره مواد کرکیله اود عاموخلکو فقر، بیوزلي اوستونزې ورځ په ورځ ډیریږي اودا ټول د اوسني دولتي نظام، چې د پردیو په پښو ولاړ دی، د ناوړه پایلو وړاند وینه کوي.
اوس چې داسې ده نو څه باید وشي؟
لومړی - باید په دې پوه شو، چې استعماري توطیې، دتوطیو سره مخامخ ټولنو کې تل د توطیه ګرانو دخاصو اجنټانوپه واسطه، چې دځینو امتیازونوپه ورکولو سره یې پیداکړي وي، پلې کیږي. دغو

خرڅو شوو اجنټانوته ډيرې ورې شخصي ګټې دهيواد اوخلکو له ستروملي ګټو ځنې لورې ښکاري اوپه هغو ټولنو کې د استعماري توطيو دا کورني پلي کوونکي اغيزمن کار کولای شي ، چې خلک يې د سياسي شعور له پلوه وروسته پاتې وي اونه شي کولای خپل دوست او دښمن وپيژني . نوځکه ضرور ده چې ملي دموکرات شخصيتونه اوځواکونه ، ددې تر څنګ چې خپل يووالی ټينګ کړي ، خپلو خلکوته دخپل هيواد اوخلکو دوستان اودښمنان ور وپيژني اوپه دې توګه استعماري توطيې شنډې کړي .

دويم - د افغانستان خلک بايد پوه شي چې يواځې دوئ کولای شي په هيواد کې سوله اوټيکاو منځته راوړي د خپل هيواد دخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه او دفاع وکړي . حکومتونو ډير ځلې دکورنيو اجنټانو دخيانت اويا ددښمن دوسلواووسله والو ځواکونو د پياوړتيا له کبله ماتې خوړلې اونسکور شوي دي. خو د افغانستان زړورو خلکو تل دستروسر ښندنو په منلوسره بهرني تيري کوونکي د ازادۍ ښمونکو جګړو په ډګر کې د ماتې سر ه مخامخ کړي دي اودخپل هيواد د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه يې کړيده . يانې دملي نواميسوګټونکي اوساتونکي يواځې د افغانستان خلک دي اودخلکو څخه په ربتيا سره جوړ وسله وال ځواکونه.

دريم - دکمزورو ، دنورو هيوادونو سياسي ، اقتصادي اونظامي مرستو ته اړ اود خپلوخلکو د ټينګ ملاتړ ځنې دبې برخو حکومتونو له واکه پوره نه ده چې د بهرنيوهيوادونو د لاسوهنو ، تيريو اوتوطيو مخه ونيسي او د افغانستان ربښتيانۍ خپلواکي ،ملي واکمني اوځمکنۍ بشپړتيا خوندي کړي اووه يې ساتي . په خاص ډول له سياسي پلوه تيري کوونکو اوپراختيا غوښتونکو ، له اقتصادي پلوه د شتمنو اوپرمخ تللو او له نظامي پلوه ځواکمنو اوجګړه مارو ګاونډيانو په منځ کې د کمزو ري

افغانستان ، نه یواځې خپلواکي، سوله اوثبات د ګوابن اوتیري سره مخامخ دي ، بلکې پخپله شتون اوبقايې هم د پوښتنې سره مخامخ ده . یواځې یو ځواکمن افغانستان کولای شي خپل ژوند ته دوام ورکړي ، له بهر ځنې دتیریو اولاسوهنو مخه ونیسي او د خپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا دفاع او ساتنه وکړي . یواځې یو ځواکمن دخلکو دټینګ ملي یووالي څخه برخمن متحد اویوموټی افغانستان کولای شي د نړۍ د ټولو هیوادونو سره د متقابل درناوي اوګټوپر بنسټ دوستانه اړیکې ټینګې کړي او بې له بهرنیو لاسوهنو ځنې پخپله دخپلې خوښې سره سم د افغانانو د ملي ګټو ساتونکی ملي - دموکراتیک یوموټی ځواکمن دولتي نظام ولري او د افغانانو د سوکالۍ اوپرمختګ لار پرانیزي .

څلورم- باید ومنو چې یوځواکمن افغانستان ، نه موږ ته بهرني هیوادونه راجوړوي اونه دبهرنیولاسپو څي اوګوډاګیان . بهرنیو استعماري توطیه ګرانو د کورنیو لاسپوڅو سره په شریکه افغانستان ټوټه کړ . په خاص ډول انګریزي استعما رچیانو د دوئ سره ترلو په ځان مینو امیرانو د کمزورتیا له امله یوواحد او ځواکمن افغانستان دړې وړې کړ . اوبیا یې د بل استعماري ځواک ( روسیې ) سره دنورې نړۍ څخه د رابیلولو ،وروسته پاتې او کمزوي ساتلو لپاره توطیې اوپلانونه جوړ کړل . د افغانستان کمزورتیا ، بې ثباتي ، په کورنیو جګړوکې ښکیلتیا او بربادي ټول دهمدې هیوادونو اوددوئ په خیر نورو پراختیا غوښتونکو هیوادونو او حریصو ګاونډیانو د تیریو ،لاسوهنو اوتوطیو نتیجه ده . افغانستان د ټولونړیوالونورمونو او بشري حقوقو سره په ضدیت کې ټوټې ټوټې او کمزوری شوی دی . خوهغومره چې استعماري ځواکونه د افغانستان په ټوټه کیدوکې مسئولیت لري ، همدومره پخپله هغه افغانان چې دخپلو حقوقو ځنې یې دفاع نه ده کړې اونه یې کوي اود بهرنیوتیري کوونکو

توطیوته تسلیم شوي دي اوتسلیمیږي ، له خپلو حقوقو څخه تیر شوي او تیریږي او ځانونه یې غلي نیولي وو او دي ، هم مسئولیت لري . بیا په خاص ډول هغه کسان چې ځانونه افغانان بولي اود پردیو په لمسون د افغانستان ټوټه کیدو ته دلیلونه لټوي او د دیورند د کرښې په رسمیت پیژندوباندې ټینګار کوي ، افغانان نه ، بلکې د افغانانود ملي ګټو ، خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا دښمنان دي ، چې په افغاني ټولنه کې د بهرنیو د لاسپوڅو په څیر ژوند کوي ، چې باید رسوا تجرید اوهیواد ته د خیانت په تور تر پوښتنې لاندې راشي او په سزا ورسیږي .

پنځم - د ټولو نړیوالونورمونو ،بشري حقوقو ، تاریخي شواهدو ، قومي ژبني ، کلتوري اودیني ارزښتونو پر بنسټ طبیعي افغانستان له امو څخه تر اباسینه پورې دی . د بهرنیونیواکګرو پواسطه د افغانستان ویشل او ټوټې کول ، په هرنوم اوپلمه چې وي ، هیڅ یو رښتیني افغان ته دمنلو وړ نه دی . همدارنګه د پردیو ځنې تمه کول ،چې زموږ طبیعي افغانستان به موږ ته راکړي هم دناپوهو خلکو کار او ځان غولول دي . دا چې خدای پاک ( ج ) افغانانو ته په خپلې پادشاهي کې یوه ټوټه ځمکه ( هیواد ) د ژوند کولولپاره ورکړی دی باید افغانان ترې دفاع وکړي اوپه خپل هیواد ( دې ټوټې ځمکې ) باندې د نورو تیري کوونکو ، غاصبینواو یرغلګرو ځواکونو مخه ونیسي . د افغانستان دخلکو ملي اواسلامي دنده ده چې د خپل هیواد ( له طبیعي او تاریخي افغانستان ) څخه دفاع وکړي . ټول ملي وطنپال شخصیتونه ، سیاسي ډلې ، روښانفکران ، قومي مشران ، علما او روحانیون مکلفیت لري چې ددې لوړ ملي ارمان د رښتیاینې لپاره د افغانستان ټول خلک له واقعیتونو ځنې خبر اود خپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع اود بهرنیوتیري کوونکو د تیریواوتوطیود شنډولو په خاطر مبارزې ته چمتوکړي . د

افغانستان ټولو خلکو د تاریخ په اوږدو کې په ګډه دخپل هیواد ځنې ددفاع په خاطر سترې قربانۍ ورکړې دي اواوس هم د خپل هویت خپلواکۍ او ملي واکمنۍ څخه د دفاع په خاطر اوپه خپل هیواد کې د خپل برخلیک دټاکلولپاره باید خپل ملی یووالی ټینګ کړي اوهر ډول سرښندنوته تیار اوسي. افغانان دهیچا پر حقوقو تیری نه کوي ،خودنده لري چې د خپلو حقوقو ځنې دفاع وکړي اوټولې هغه توطیې شنډې کړي چې د دوئ خپلواکي ، ملي واکمني ، ځمکنۍ بشپړتیا ، ملي یووالی اوملي هویت له منځه وړي .

لنډه دا چې نړیواله ټولنه باید پوهه شي ، چې په افغانستان ، سیمې اونړۍ کې سوله اوټیکاو ( ثبات ) هغه وخت منځ ته راتلای شي ، چې لومړی تر هر څه د افغانانو په مقابل کې د استعماري سیاست ټولې توطیې ،په خاص ډول د دیورند کرښه ، له منځه لاړه شي اوله اموځنې تر اباسینه پورې افغانستان کې دټولو افغانانوپه خپل اصلي هویت باندې د راټولیدوڅخه ملاتړ وشي. افغانان نه بنسټپالان دي او نه تروریستان. بنسټپالنه او تروریزم له بهر څخه افغانستان ته راوړل شوي دي. افغانان په طبیعي ډول سوله غوښتونکي اوپه خپل هیواد اوخپلواکۍ مین خلک دي . که څوک یې پر دې ارزښتونو تیری نه کوي د هغوئ سره د زړه له کومې دوستي غواړي ، خوکه څوک ورته په سپکه وګوري ،تیری پرې وکړي اوټګي ورسره وکړي ،نوپه نه پخلا کیدونکو دښمنانو یې اوړي. له همدې کبله د انګریزانو اوروسانو په مقابل کې بې باوري ، مقاومت اوکرکه یې هر چاته معلوم دي. نوځکه امریکائیان اودناټو اوایتلاف نور ځواکونه باید په دې پوه شي ، چې د افغانانو مادي اومعنوي ارزښتونوته په سپکه کتل اویاورته زیان رسول ، بې دافغانانو له دښمنۍ ځنې نور څه نه شي لاس ته راوړای. که نړیواله ټولنه غواړي چې په افغانستان ،سیمې اونړۍ کې سوله اوټیکاومنځته راشي ، نو باید د افغانانو پرضد ټولې

پخوانۍ او اوسنۍ استعماري توطيې ،تيري او لاسوهنې پای ته ورسيږي او پريښودل شي چې خپل برخليک په خپل طبيعي اوتاريخي افغانستان کې افغانان پخپله وټاکي. دا د ټولو افغانانو غوښتنه ده ،بايد دنړيوالې ټولنې دپام وړ وګرځي. همدا يوا ځينۍ لار ده چې د افغانانو په هيواد او سيمه کې دنړيوال تروريزم ، بنسټپالنې اومخدره موادو دمافيا جرړې له منځه وړي.

---

*-داليکنه د ۱۳۸۸ کال د حمل په ۲۵ نيټه ليکل شوې او د انترنت له لارې خپره شويده.

# دامریکې متحده ایالتونو جمهور رئیس بارک اوباماته پرانستی لیک*

ښاغلی جمهور رئیس !
دجمهوري ریاست لپاره د ټاکنوپه سیالیو کې یوه کلیمه ستاسې د کمپاین د ویناګانوله منځ څخه ستاسې د بریالیتوب سبب وګرځیده . دا کلیمه د بدلون یا (change ) کلیمه وه . تاسې د امریکې خلکو ته وعده ورکړې وه که چیرته جمهور رئیس شوئ د امریکې دحکومت په کورني اوبهرني سیاست کې به بدلون راولئ . تاسې به دبوش د جګړه مار ، دنورو هیوادونو دخلکوپر انساني حقوقو د تیري اوپښواینبودو له سیاست ځنې لاس اخلئ اودسولې ، دنوروهیوادونو خلکوسره دمرستې اودوستانه اړیکو د ټینګولو اود دوئ حقوقوته د درناوي سیاست به خپلوئ . تاسې همدارنګه دامریکې خلکوته وعده ورکړې وه چې نور به په نړۍ کې د جګړو داور دبلولو لپاره د میلیاردونو ډالرو له لګښت څخه لاس اخلئ اوپر ځای به یې د امریکې ویجار شوی اقتصاد بیرته رغوئ اودخلکواقتصادي ستونزې به له منځه وړئ .
له عراق ځنې د امریکایي سرتیرو د ویستلو او په افغانستان کې د سولې د ټینګولو اود نړۍ په نورو ځایونو په خاص ډول په منځني ختیځ کې د فلسطینیانو او اسرائیلو تر منځ د دښمنۍ اوکړکیچ د له منځه وړلو لپاره هلې ځلې کولو موخه هم همدا پورتني دلیلونه وو . اوس چې تاسې د امریکې د جمهور رئیس په حیث په کار پیل وکړ، هیله ده خپلې ژمنې چې موخلکو سره کړي دي هیرې نه کړئ . وخت اوفرصت له لاسه ورنه کړئ ، خپلو ژمنوته په درنه سترګه وګورئ ، د جګړه مارو ،حریصواوغاصبوعناصرو اوکړیوتر اغیز لاندې رانه شئ اود امریکې او

نړۍ خلکوته ورکړل شوې ژمنې په عمل کې پلې کړئ . د نړۍ دنورو خلکوسره ددوئ دحقوقو په سپارلوکې د مرستې کولو له لارې دټولې نړۍ دخلکوتر منځ د انساني دوستانه اړیکو د ټینګولو لپاره هلې ځلې وکړئ او په دې ډول د امریکې سیاست ته نوې بڼه ورکړئ.
په دې کې شک نه شته چې د ټولو ژمنو پوره کول اسان کار نه دی. خو که دهغوخلکو چې د بدلون پلویان دي په مرسته او ملاتړ تکیه وشي اود سولې اوبدلون دمخالفینو د فشار له امله دژمنوپه سرته رسولو کې اراده کمزورې نه شي اود پوهې په رڼاکې په غړیدلو سترګو بڼه اوبد سره بیل کړل شي ، نوبیا ددې ټولو کارونو سرته رسول ناشونی نه بریښي. په دې شرط چې واقعیتونه په نظر کې ونیول شي ، دنړیوالوقوانینو اوبشر د حقوقو سره سم د هر چا له حقوقو څخه یوشان ، بې له هر ډول تبعیض څنې دفاع وشي .
که تاسې غواړئ چې د نړۍ دخلکو ، په خاص ډول اسلامي هیوادونو خلکوباور، ملاتړ اودوستي وګټئ ، نو باید د استعماري سیاستونو ټولې پاتې شونې اونښې له منځه ولاړې شي اونور دداسې سیاستونو مخه ونیول شي. دهر هیواد دخلکو ملي ګټو ،عنعنواوعقیدوته درناوی وشي. دهر هیواد خلک حق ولري چې خپل حکومتونه پخپله وټاکي ، ګوډاګي اولاسپوڅي حکومتونه پرې ونه تپل شي. د هیڅ هیواد دخلکو حقوق تر پښولاندې نه شي او د بنسټپالنې اوتروریزم سره دمبارزې تر پلمې لاندې په زرګونو بیګناه اوبې دفاع خلک له منځه ولاړ نه شي اوضرر ونه ویني . که چیرته په منځني ختیځ ،فلسطین ،عراق اوافغانستان کې د تیرو استعماري توطیو اوتیریوځنې راځیرېدلې ستونزې په عادلانه ډول اوارې شي ، دا به په سیمې اونړۍ کې د سولې ثبات اواسلامي هیوادونو او غربي هیوادونو ،په خاص ډول د امریکې متحده ایالتونو سره پر یوبل باندې د باور او دوستانه اړیکو په ټینګیدو

اود خصمانه چلندونو په لمنځه تلوکې ستر رول ولوبوي او د بنسټپالنې اوجګړه ماری منخته راتګ اوودې لارې به وتړل شي .
که چیرته اسرائیلي ځواکونه له هغو ځمکونه چې په ۱۹۶۷ کال کې یې د عربوځنې نیولې وې ووځي ، د فلسطینیانو د ځمکو اشغال اوغصبول پای ته ورسوي ، دهوایي اوځمکنیو یرغلونو اود فلسطینیانو اقتصادي محاصرې ته د پای ټکی کیښودل شي اوپریښودل شي چې د فلسطین خلک په خپله خوښه خپل حکومت جوړ کړي ، کیدای شي چې نه یوا ځې د فلسطینیانوپه کورونو کې دجوړو شوو راکټونوګوزارونه په بشپړ ډول پر اسرائیلو ودریږي ، بلکې د اسرائیلو او فلسطینیانو مستقل حکومتونه څنګ تر څنګ شتون اویوبل سره نورمال اود ښه ګاونډیتوب اړیکي ولري. خوکه چیرته دبې اتفاقه اوپه مختلفوډلوویشل شوو، داسرائیلوتر اشغال لاندې فلسطینیانو په کورونوکې دجوړوشوو راکټونوپه نوم ، چې یوا ځې د ځینو کسانو دستونزمن ژوند څخه د پړسیدلوزړونو بړاس پرې وباسي ، په مقابل کې زرګونه بیګناه خلک وژل کیږي ،ټپیانیږي او په زرګونو کورونه ، جوماتونه ،کارخانې ، روغتونونه ، کلینیکونه ، ښوونځي او حتی دملګروملتونو ودانۍ بمباریږي اوپه کنډوالو بدلیږي اودا ټول دامریکا د دولت له خوا داسرائیلوحق اوله ځان څنې دفاع بلل کیږي. نوفکر نه کیږي که دامریکې نوی دولت دبوش دزژیم څخه دنړۍ د خلکو ، په خاص ډول اسلامي هیوادونو د خلکو، په ذهنیتونو کې کوم توپیر ولري . همدارنګه کیدای شي دامریکې په دې ډول ملاتړ سره په اسرائیلوکې مذهبي بنسټپالنه ، لوړتیاغوښتنه اودعربو ،په خاص ډول فلسطینیانو په مقابل کې دکرکې اودښمنۍ روحیه لاپسې قوي شي اوپه دې ډول د سولې اوثبات پر ځای به نورو جګړو او بې ثباتۍ ته لمن ووهل شي.
ښاغلی جمهور رئیس !

پر عراق باندې دبوش د حکومت د تيري سره ستاسې مخالفت د امريکې دمتحده ايالتونو دخلکو دګڼوسره بشپړ سمون لري. دغه تيری چې دعراق دتيلو دزيرمودنيولو لپاره سرته رسيدلی دی ، يواځې دتيلودکمپنيو د خاوندانو د ګټولپاره سرته ورسيد ، چې پکې په سلګونو زره بيګناه عراقيان په قتل ورسيدل اود دوو ميليونو په شاوخواکې خپلوکورونو پريښودوته اړويستل شول اونورستر مادي اومعنوي تاوانونه يې ورواړول اوعراق يې په کنډوالو بدل کړ. له دې تيري څخه د امريکا خلکوته نه يواځې دا چې کومه ګټه ونه رسيدله ، بلکې ډير ځاني ،مادي اومعنوي تاوانونه يې ور واړول اود امريکې په مقابل کې يې مخالفتونه او ستونزې زياتې کړې اواقتصاد يې ورله د بحران سره مخامخ کړ. له عراق څنې دامريکايي پوځونوويستل ، د جګړو د کنډوالو څخه دراوتلوپه خاطر دعراقيانوسره مادي اوتخنيکي مرسته کول اوعراقيانوته واک ورکول چې خپل حکومتونه د دموکراتيکوټاکنوله لارې پخپله منځته راوړي اوله بهر څنې پرې لاسپوڅی حکومتونه ونه تپل شي ،کيدای شي په عراق اوسيمه کې سوله ټينګه شي اود امريکائيانوپه مقابل کې د دوستۍ احساس زيات شي.

خوپه افغانستان کې دبوش جګړه ايز دوکتورين تعقيبول اودجګړوله لارې په افغانستان کې دسولې اوثبات منځته راوړلولپاره په نظامي لاروټينګار کول اوله همدې کبله د ديرش زره اضافي امريکايي سرتيرو افغانستان ته ليږل ستاسي دسوله ايز سياست سره سمون نه لري. بل دا چې افغانان هيڅکله په زور دهيڅچا غوښتنې نه مني. لکه چې وايي : افغانان په خوښه ددوست سره دوزخ ته ځان غورځوي ،خوپه زور بيا د چاسره جنت ته هم نه ځي. په افغانستان کې پر جګړه ايز دوکتورين باور درلودل ،چې دجګړو له لارې به د امريکا اوناټو ځواکونه خپلومو خو ته ورسيږي ، له واقعيت څنې ليرې کار دی. دافغانانو په ټول تاريخ کې

داسې نه دي شوي ،چې په زور دې دوئ په ګونډوشي اوپه زور پرې څوک خپلې غوښتنې وتپي . دا چې دانګريزي استعمارچيانو پواسطه د ديورنددتپل شوې کرغيړنې کرښې دواړوخواوو ته پرتو افغانانوباندې امريکايانو انګريزانواوپنجابيانو قيامت جوړکړی دی اوهره ورځ په سلګونو افغانان د طالب اوالقاعدې په نوم وژل کيږي اوپه سلګونوزره نور بيګناه افغانان ،ښځې اوماشومان ، ناروغ اوبوډاګان له خپلوکورونو ځنې دهوايي بمباريو ،توپونو او ټانکونو د ډزوپواسطه دمرګ ژوبلې له ويرې د خپلوکورونواوسيمو څخه کډه کولوته اړويستل کيږي اوهر څه ترې اخستل کيږي په لوی لاس مقاومت اومخالفت ته ددوئ ټيل وهل دي

.

ښاغلی جمهور رئيس !

بايدومنئ ، چې د ديورند د تپل شوې کرښې دواړوخواوو ته پراته افغانان دي ،چې د انګريزي استعمارچيانود استعماري ګټوپه خاطر يوبل ځنې بيل شوي دي اوبيا په توطيه ايزه توګه دهر ډول معاصرو علمي اوتخنيکي اسانتياووڅخه ليرې ساتل شوي دي . دا چې دنړۍ د نورو هيوادونوځنې يوشمير بنسټپالو عناصرو دا سيمه د ځان لپاره د فعاليت کولو خوندي سيمه ګڼلې ده ، تر ټولوملامت لومړی هم هغه دانګريزانو استعماري سياست دی چې د ديورند د منحوسې کرښې په واسطه يې افغانستان ټوټه ټوټه کړ او د "ازادوقبايلو "سيمه يې منځته راوړه . اوبيا پنجابيان دي چې پر افغانانوباندې د دې کرښې دتپلوپه خاطر له هيڅ ډول توطيوځنې ډډه نه کوي اود انګريزي استعمار چيانو د توطيوپه پلي کولوسره په سيمه کې د جګړو ، بنسټپالنې اوترهګرۍ د ودې اوخپريدو سبب شويدي .

د بيګناه افغانانو وژنه او بربادي د سولې او ثبات د ټينګيدو اودتروريزم پر ضد د جګړې دبرياليتوب لپاره هيڅ ډول ګټه نه لري . پيښنو وښوده

چې د جګړې ،وژلو اوله منځه وړلو دوکتورین لاپسې ډیر مخالفتونه او جګړې ځیرږوي اود دموکراسۍ ضد او سولې ضد کړیو او عناصرو ، چې نه غواړي په افغانستان کې سوله او ثبات ټینګ شي ، شیطاني لاسونه اوږدوي اونړیواله ټولنه د نړۍ د سولې اوثبات په ټینګیدو اوبشري ټولنې د خیر ښیګڼې په چارو کې د افغانانو د فعالې برخې اخستو ځنې محروموي . لا اوس هم کیدای شي چې د بیګناه خلکو د بمبارولو ، جګړو وژلو او ځپلو د دکتورین پر ځای د سولې ، مرستې ، بیا رغاونې ، ولسواکې اوسیاسي لارو څخه د افغانانو په سیمه کې د ترهګرۍ په مقابل کې بریالیتوب لاس ته راشي . په دې شرط چې د انګریزي استعمار چیانو د توطیو ټولې نښې د دیورند دکرښې په شمول له منځه ولاړې شي . دافغانانو دځپلواکۍ حق ، عقیدې اوعنعنې ته درناوی وشي . دجګړو اوځپلوپر ځای دمرستې او دوستۍ لاس ور اوږد شي . اوله دې نه وروسته د افغانانو روانې غمیزې ته ، چې دبشري ټولنې په سولې او ثبات مستقیم اغیز کولای شي د پای ټکی کیښودل شي.

په افغانستان کې سوله اوثبات هغه وخت ټینګیدای شي ، چې تر ټولو لومړی د هر ډول استعماري توطیو اغیز اوپاتې شونې له منځه ولاړې شي . په خاص ډول د افغانانوپه هکله د ( بیل یې کړه – ایل یې کړه ) سیاست څخه نور کار وانه خستل شي . د نړیوالو قوانینوسره سم دافغانانو دارادې درناوی وشي او د تاریخي واقعیتونو په رڼا کې له آمو څخه تر ابا سینه پورې پر یوواحد ملي هویت باندې د ټول افغان ولس د راټولیدو په مخکې خنډونه له منځه ولاړ شي . دسولې اوثبات په راوستو او دځپلو ستونزو په لیرې کیدو کې ورسره بې غرضه مرسته وشي اوپه دې ډول د بنسټپالنې او ترهګرۍ جر ړې ، چې د اقتصادي اوعلمي وروسته پاتې والي اودنورې نړۍ ځنې د تجرید له کبله د افغانانو په دې برخه خاوره کې له بیرون نه ځغلیدلې دی ، وچې شي .

د ډ يرو سرتيرو په ليږلو سره جګړې زياتيږي ، دملکي خلکو مرګ ژوبله لاپسې ډير افغانان د مخالفينو لور ته ټيل وهي اود سولې اوثبات پر ځای د ناامنۍ او بې ثباتۍ کچه لوړيږي. چې د ا ټول د بنسټپالنې او ترهګرۍ سره مبارزه لاپسې پيچلې کوي. په ازادو قبايلو کې د بمباريو اونظامي جګړه ايزو فعاليتونو له لارې د جګړه مارو دټولو ځالو د لمنځه وړل ناشونی کار دی. د امريکايي بې پيلوټه الوتکو بمباريو اود پاکستان د اردو هوايي اوځمکنيو يرغلونو ، چې په اصطلاح د ترهګرو پر ضد روان دي ، تر اوسه په زرګونو بيګناه خلک له منځه وړي او ژوبل کړي دي. همدارنګه په سلګونو زره نور يې د ښځو ،ماشومانو ، ناروغانو او بوډاګانو په ګډون د خپلو کورونو اوسيمو پريښودوته اړ کړي دي اوپه سوونو کلي يې په کنډوالو بدل کړي اوټوله سيمه يې له اصلي اوسيدونکو څنې خالي اوخپلو ګومارل شوو بنسټپالو اوترهګرو اجنټانو د فعاليتونو په سيمه بدله کړې ده. نو ځکه د تيرو ترخو تجروبو څخه په ګټې اخستو سره پر جګړه ايزوفعاليتونو د زور اچولو پر ځای سياسي لارې چارې ولټول شي او د جګړو پر ځای د جرګولار غوده شي. يوائې جرګې کولای شي چې د افغانستان د ستونزو سوله ايز حل راوباسي اود هر ډول ترهګريزو فعاليتونو مخه ونيسي.

په افغانستان کې د يو لاسپوڅي حکومت د تپلو پر ځای ، چې هيڅکله د افغانانو دملاتړ وړ نه دي ګرځيدلي د هرډول فسادځنې خلاص ديوملي دخلکو دباور وړ دوست حکومت دمنځته راوړ لپاره د افغانانو د هلوځلو مرسته وشي. اود تلپاتې سولې اوثبات د ټينګيدو په خاطر د پخوانيو جګړه مارو ډلو پر ځای ، پر ملي سوله غوښتونکو دموکراتو ځواکونو ، د افغانستان پر خلکو او د دوئ پر رښتينو مشرانو حساب وشي . د افغانستان په کورنيو چاروکې د بهرنيو ، په خاص ډول د ګاونډيو هيوادونو د لاسوهنو مخنيوی کول او تر هر څه لومړی د افغانانو ملي

حاکمیت ته درناوی اوپر یوواحد افغاني هویت باندي له امونه تر اباسینه پورې د ټولو افغانانو د راټولیدو ملاتړ کول او د دموکراسۍ ، ترقۍ ، پرمختګ اوتمدن په لور ددغه واحد افغانستان سره بې غرضه سیاسي ، اقتصادي او تخنیکي مرسته کول په افغانستان ،سیمې او نړۍ کې د تر هګرۍ د له منځه وړو اودسولې اوثبات د ټینګیدولپاره بنسټیز کار دی.
همداسې افغانستان به د دې جوګه شي چې دبنسټپالنې او ترهګریزو فعالیتونو لپاره دبې مالکه تجرید شوې سیمې ( ازادو قبایلو ) پر ځای یوخپلواک ، دخپلې ملي واکمنۍ خاوند ، سوله غوښتونکی ،متمدن افغانستان ، چې نړیوالې سولې اوثبات ته ژمن اودمعاصر علمي - تخنیکي پرمختګ ځنې برخمن وي منځته را شي. همداسې افغانستان به د نړۍ دټولو هیوادونو ، په خاص ډول د امریکې متحده ایالتونو دوست هیواد وي ، چې د نړۍ دسولې اوثبات په ټینګیدوکې به د پام وړ رول لوبولای شي.

*-دالیکنه د ۲۰۰۹کال دمارچ په ۸ نیټه کښل شوې او په کابل کې دامریکې سفارت ته هم سپارل شویده.

# آیا اوسنۍ ټولټاکنې دافغانانو په ژوند کې کوم بدلون راوستلای شي ؟*

په دې ټول پوهیږو چې په افغانستان کې نه یوائې پخواني جنګسالاران د خپلو بهرنیو ملاتړ کوونکو ، استخباراتي شبکو ، دمخدره موادو مافیایي ډلې اود نړیوال زور زیاتي سره په تړاوکې وسله وال بدماشان په قدرت کې دي ، بلکې دعامو افغانانو لپاره عادي سوله ،امنیت او مصئونیت هم وجود نه لري. هغه قوانین چې دوئ پخپله منځته راوړي دي پخپله د دوئ پواسطه تر پښنولاندې کیږي . ددولت لوړ رتبه مامورین د قانون په پلي کیدواوخپلو دندو دسرته رسیدو په وړاندې په هیڅ ډول ځان ژمن نه بولي.

نوځکه هیڅ یود قدرت خاوند د خپل هیڅ ډول غیر مشروع عمل په خاطر لکه زور زیاتی ، قانون ماتونه ، رشوت ، اختلاس ، دشخصي اودولتي ځمکو غصبول ، دمخدره موادو کرکیله اوقاچاق ، دمعدنې قیمتي توکو ، د ځنګلونولټول اوانسانانو دقاچاق ، قوم پرستۍ، سمت پرستۍ او قومي ،ژبنیز اومذهبي تعصباتو په مقابل کې له هیڅ ډول ځواب ورکونې څخه ویره او ډار نه لري او په خلاص لاس خپلوجنایاتو ته دوام ورکوي .

دپردیوپه زور سیاسي ،اقتصادي اونظامي لوړوصلاحیت لرونکو پوړیو ته رسیدلی دا نوی قشر ، چې د افغاني اصیل فرهنګ ځنې بیخي پردي اوخپلواک ژوند څخه د اجنتورۍ پر ژوند ویاړي په هیڅ صورت حاضر نه دي ، دغه امتیازات ،چې په سر ټیټۍ سره یې موندلي دي له لاسه ورکړي. دوئ کټ مټ د دې لپاره چې دا امتیازات تر ې وانه خستل شي د خپلوهیوادوالو دملي ګټو پر ضد د پردیود ګټولپاره کار کوي . دوئ د دې لپاره چې په واک کې پاتې شي د هیڅ ډول ناولو هلو ځلو څخه ډډه نه

کوي. د پردیو د لاسپوڅو په خیر هلې ځلې کوي ، تر څو افغانان خپله خپلواکي ،ملي واکمني ، ځمکنۍ بشپړتیا او خپل ملي هویت ونه لري.
دا قشر نه غواړي چې په هیواد کې یوه تلپاتې سوله ټینګه شي او یو رښتیانی خپلواک ملي دموکراتیک دولتي نظام ، چې د هر ډول فساد ځنې پاک وي اود خپلو ملي نوامیسو څخه دفاع اودخپل هیواد دپرمختګ اودخلکو سوکالۍ لپاره هلو ځلو ته ژمن وي ، منځ ته راشي.
همدا سبب دي چې دوئ په تلپاتې سولې اورښتیانۍ دموکراسۍ کې ، چې د پردیو پر ځای به پخپله افغانان د واک خاوندان وي ، خپل زوال ویني. نوځکه هلې ځلې کوي چې په لوی لاس په خپل زور غره اود افغانانو د تاریخ اوملي ار زښتونو څخه ناخبره بهرنیان داسې کارونوته وهڅوي ، چې په کولو سره یې خلکوته د ډار پر ځای کرکه پیداکیږي اوله خپلو دښمنانو ځنې کسات اخستو ته ملاتړې . دکورنیو اجنټانو د ناسمو راپورونو او دبهرنیو ځواکونو د بې سنجشه ، بې پروا اوله وحشت ډکو هوایي بمباریو او په شخصي کورونو باندې یرغلونو اودخلکو عنعنو اومذهب ته په سپکاوي سره خلک مجبور شول د بهرنیو ځواکونو په مخالفت کې ودریږي او دخپلې بقا او ارزښتونو څخه د دفاع په خاطر وجنګیږي . جرګې ، دجنازو مراسم ، ختمونه ، بې دفاع کلي اوبانډې د کورنیو اجنټانو د ناسمو راپورونو اوبهرنیو ځواکونو ،په خاص ډول امریکایي او برتانوي ځواکونو ، د وحشت ځنې ډکو بمباریو اوعملیاتو له کبله د خاورو سره خاورې شوي دي. په زرګونو بیګناه خلک ، د ښځواو ماشومانو په ګډون ، پکې له منځه تللي دي اوهره ورځ دا لړۍ دوام لري .
له همدې کبله جګړې ورځ په ورځ پراخیږي اوهر څومره چې د دولت اوبهرنیو ځواکونو شمیر زیاتیږي ، خو پایله یې بې د جګړو د سختیدو او لاپسې ډیرې مرګ ژوبلې څخه نور څه نه دي لاس ته راغلي.

په افغانستان او پښتونخواه کې د روانې جگړې دهر اړخيزو څيړنو څنې وروسته ډير څيړونکي دې نتيجې ته رسيدلي دي ،چې دا جگړې په واقعيت کې د طالب او القاعدې سره د مبارزې تر پلمې لاندې د پښتون قوم د ځپلواود بشري حقوقو د ټولو اصولو پر خلاف ددې قوم د سيستماتيک له منځه وړلو او جينوسايد جگړه ده.
په دې جگړه کې د پښتون قوم په مقابل کې ټولو زړو او نوو دښمنانو په مختلفو سطحو برخه اخستې ده . پرديو پورې تړلو کورنيو دښمنانو د ايرانيانو ، انگريزانو ،پنجابيانو اوروسانو سره يوځای پر پښتنو دنيغ يرغل څخه نيولې تر خصمانه تبليغاتو په سرته رسولو سر ه هڅه کړې ده چې دا قوم بې فرهنگه ، د تمدن ، علم او هنر ضد ،يواځې يو جگړه مار ، بنسټپال او وحشي قوم نړيوالو ته معرفي کړي . د پښتنو دښمنان پروپيگنډې کوی چې د نړۍ تروريزم ، بنسټپالنه او د مخدره موادو کر کيله او قاچاق د دې قوم ( پښتنو ) په اډانه کې منځ ته راغلي ، وده يې کړې اوملاتړ اوساتنه يې کيږي.
په داسې حال کې چې دتروريزم ، بنسټپالنې اومخدره موادو د مافيا زيږونکی اوملاتړ کوونکی په واقعيت کې استعماري سياست دی . په خاص ډول د ملي دموکراتو او چپوحکومتونو په مقابل کې د برتانيې استعماري سياست . انگريزانو د سياسي موخولپاره له مذهب څخه د ناوړه گټې اخستوپه خاطر دملي ازادي بښونکو جنبشونو په مقابل کې ، په وروسته پاتې هيوادونو کې ، ډيرې مذهبي ډلې منځته راوړې دي ،چې د دوئ له خوا به تمويليدلې او لار ښوونه به يې کيدله. ليرې به نه ځو ، د غازي امان الله خان په مقابل کې ، چې يو ملي دموکرات پادشاه و او له انگريزانو څخه يې دخپل هيواد خپلواکي وگټله ، انگريزانوپورې تړلو ملايانو اوروحانيونو پواسطه توطيه وکړه او د دموکراتيکو اصلاحاتو له کبله يې پرې د کفر ټاپه ولگوله . د انگريزانو څنې دخپلواکۍ لپاره

دهند دازادۍ غورځنګ يې د هندو اومسلمان ترمنځ مذهبي جګړو ته په لمن وهلو سره د وينو په سيلاب کې ډوب کړ. په دې جګړوکې د انګريزانو په مرسته جوړې د جناح په مشرۍ د مسلم ليګ مذهبي ډلې فعال رول ولوباوه اود اسلام په نوم دپاکستان په جوړولو سره يې نيمايي افغانستان د اسلام ترنامه لاندې د پاکستان سره وتاړه او يوځل بيا يې د افغانانو په مقابل کې توطيې اوخيانت ته دوام ورکړ.
استعماري سياستونه تل دوه مخی چلندلري. کله چې د دوئ سره په تړاو کې او يا د دوئ په ګټه حکومت نه وي ، نوکه چپ دموکرات حکومت وي دستي پرې د کمونيزم ، ديکتاتورۍ اود بشرله حقوقو څخه دسرغړولو ټاپې وهل کيږي او له ستونزو سره يې مخامخ کوي. اوکه ښي اړخی مذهبي حکومت وي ،نود بنسټپال او القاعدې سره په تړلتيا اويا دتروريزم د ملاتړ کوونکي نوم ورکول کيږي . خوکه د دوئ د خوښې حکومت وي ، نو بيا دمتحدپه نوم ، چې د تروريزم سره مبارزه کوي تبليغيږي. ښه مثالونه يې د پاکستان او ايران اسلامي جمهوريتونه دي. په سوات ،باجوړ او وزيرستان کې د پاکستانۍ اردو وحشت ، چې په زرګونو بيګناه پښتانه ، دښځو – ماشومانو او بوډاګانو په ګډون پکې له منځه ولاړل او د دريوميليونو څنې زيات نور کډې کولو ته اړ ويستل شول اوکورونه ، باغونه اوکروندې يې په کنډوالو اوشاړو بدل شول ، د طالب اوالقاعدې پرضد مبارزه بلل کيږي اوپه متحدينوکې راځي.
د ايران پر بربنډو لاسوهنو سترګې پټيږي نه يواځې په متحدينو کې شمارل کيږي ، بلکې دپراختيا غوښتنې لپاره يې په سيمه کې مخالف رژيمونه يوپه بل پسې له منځه وړل کيږي. چې ښه مثالونه يې د صدام حسين سيکيولر دولت او د طالبانو اسلامي سني مذهبه دولت و، چې دايران سره يې مخالفت درلود له منځه يوړل شول. پر افغانستان باندې د ايران په فرهنګي يرغل ، جګړو ته په لمن وهلو او د پښتنو په سيمو کې په

ایران کې تربیه شوو اجنټانو او تروریستانو پواسطه د ښوونځیو سیزلو ، فرهنګي شخصیتونو او قومي مشرانو په لمنځه وړو سترګې پټې شوې دي او پټیږي.
نو ځکه کله چې په افغانستان او پښتونخواکې د ۲۰ میلیونه پښتنو پرضد ټول ځایي ، سیمه ایز او نړیوال جګړه مار ځواکونه د قوم وژنې په جګړه کې یوځای شوي دي او د طالب او القاعدې په نومونو یې په سیستماتیک ډول له منځه وړي ، ګومان نه کیږي چې په هیواد او سیمه کې سوله ټینګه شي او هغه کارونه ، چې یواځې په سوله کې شوني وي ، په اوسنیو شرایطو کې سرته ورسیږي . دولسمشرۍ لپاره ټولټاکنې به یواځې فرمایشي بڼه ولري. دا ځکه چې د جګړوله امله ډیر خلک به دا وس ونه لري چې په دې ټولټاکنو کې برخه واخلي. اوهم به له بیرون څخه لاسوهنې اودرغلۍ دومره زیاتې وي ، چې د ټولټاکنو مشروعیت له سوال سره مخامخ کړي. نو ځکه اوسنۍ ټولټاکنې د افغانانو په ژوند کې کوم بدلون منځته نه شي راوړای اویواځې به د دې لپاره سرته رسیږي چې قدرت ته رسول شوي قشرګوټي لپاره ، دزور واکانو په اند ، یو مشروعیت پیدا کړي.
غوره به وي چې د جګړو په شرایطو کې د ټولټاکنو د سر ته رسیدو پر ځای په جګړه کې د ښکیلو اړخونو تر منځ سوله ټینګه شي. د ملګرو ملتونو دسازمان ، ناپییلو هیوادونو د غورځنګ اواسلامي هیوادونو کنفرانس د استازو تر څارنې لاندې دافغانانو یوه رښتیانۍ عنعنوي لویه جرګه جوړه شي ، چې یو بیطرفه مؤقت او انتقالي حکومت منځ ته راوړي ، ترڅود رښتیانیو رڼو اودموکر اتیکوټولټاکنولپاره بشپړ سوله ایز شرایط منځته راشي اوپه دې ډول د ټولو افغانانو د تائید وړ راتلونکی منتخب جمهور رئیس اوحکومت یې بې له هرډول بهرني فشار او لاسوهنو څنې منځته راشي.

*- دالیکنه د ۱۳۸۸ کال د چنگاښ په ۳۰ نیټه د ټولټاکنو په اړوند شویده.

# د ۱۳۵۸ کال د جدي د ۶ نیټې تیري څخه راپاتې کنډوالوکې د امریکا او ناټو د وسله والو ځواکونو مانورې*

سره د دې چې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد دتیري ځنې دیرش کاله تیریږي ، خو د دغه تیري او د تیري دعاملینو په مقابل کې د افغانانو کرکه هیڅ وخت نه ده کمزورې شوې اودا ځکه چې د افغان ملت وروستنۍ ټولې بدمرغۍ د دغه تیري سره په یوډول نه یوډول اړیکي لري . سره د دې چې د افغانانو د بې ساري میړانې اوسرښندنو له امله تیري کوونکي له ماتې سره مخامخ اوله افغانستان څخه وتلوته اړویستل شوي دي ،خود دوئ هغو اعمالوچې د اشغال په وخت کې یې سرته رسولي دي اود دوئ پورې تړلو کسانو او ډلګیو اعمالواغیز دومره زیات دی ،چې د افغانانو غمیزه یې د راتلونکي وخت لپاره له یوې ورځې ځنې بلې ورځې ته ژوره اوپراخه کړیده.

دافغانانو دملي یووالي پر ضد توطیې د شوروي اشغال په وخت کې د دوئ د لاسپوڅو له خوا په پوره قوت سره پیل شوې اوتر اوسه پورې دوام لري . شورویانو غوښتل لومړی په زور او بیا په توطیو ، رشوتونو اوخپل منځ کې په جنګ اچولو سر ه ځان او لاسپوځي په افغانانو ومني . نوکله چې داسې ونه شول ، دوئ د افغانستان د ویشلواو په دوامداره جګړوکې د افغانانو د ښکیلولو لپاره پلانونه جوړکړل ، چې تر ټولو لومړی یې د خپلو ګوډاګیانو په واسطه د ملګر وملتونود سولې پروګرام په مقابل کې کودتا وکړه اوپه دې ډول یې په افغانستان کې د سولې د ټینګیدو مخه ونیوله .

دا چې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد تيري افغانانو ته څومره غمونه ، کړاوونه او ستونزې راوړي دي کيدای شي په لنډ ډول يې داسې يادونه وکړو :
لومړی ترهر څه ديوهيواد پر بل هيواد تيری ،هغه هم پر يوبيوزله هيواد بې له کومې لمسونې اوپلمې څخه چې د تيري سبب شي ، دټولو نړيوالو نورمونو اوانساني ارزښتونو ضد جنايتکارانه اواستعماري نظامي عمل دی چې دتيري لاندې هيوادونوته يې تل ستر غمونه ، بربادۍ اوستونزې په ميراث پريښې دي . پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد دتيري په لومړي سرکې يوملي دخلکو دملاتړ وړ ترقي غوښتونکی دولت د حفيظ ا لله آمين په مشرۍ له منځه يوړل شواوپر ځای يې د روسانو يولاسپوڅی حکومت د ببرک کارمل په مشرۍ په افغانانو وتپل شو . د شوروي پوځونوله خوا د افغانستان اشغال اود ګوډاګي حکومت د تپلوپه مقابل کې دخلکو له پاڅون ځنې د نړۍ دهيوادونو دملاتړ له امله زموږ هيواد د تيري کوونکو په واسطه د هغه وخت دساړه جنګ دتضادونو د ټکر په ډګر واړول شو او دسترو ځاني ، مالي اومعنوي تاوانونو سره مخامخ کړل شو .
پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد تيري نورو پراختيا غوښتونکو اوحريصو ګاونډيوهيوادونو تيريواو لاسوهنو ته لار پرانسته اوبهانه يې په لاس کې ورکړه چې دخپلوناولو موخو لپار ه افغانستان په پرله پسې ډول په جګړو اوله جګړو ځنې رازيږيدلو ناخوالو اوفسادونو کې ښکيل کړي . دترقۍ اواقتصادي تخنيکي پرمختګ په وړاندې يې خنډونه پيدا کړي اودخپل سياسي نفوذ لاندې يې وساتي اودخپلومحصولاتو د تجارتي توکو د خرڅلاو په بازار يې بدل کړي.
پر افغانستان باندې دشوروي اتحاد په تيري سره د افغانانو ملي يووالي په مقابل کې توطيې پيل شوې . په خاص ډول د پښتنو په مقابل کې د

شوروي اتحاد د لاسپوڅو پروپیګنډې ،چې نور قومونه مخالفت اودښمنیو ته ولمسوي ، بربنډې او قوي شوې . دقومي اوتنظیمي ملیشو جوړول ، تمویلول اوتجهیزول د روسانو ،ایرانیانو او پاکستانیانو نفوذ اولاسوهنه تر دې پولې پورې زیاته کړه چې دافغانستان خپلواکي ، ملي واکمني اوځمکنۍ بشپړتیا یې حتی د روسانو له ماتې او وتلو څنې وروسته نه یواځې د پوښتنې سره مخامخ کړل ، بلکې دهیواد دتجزیې ویره یې منځ ته راوړه.
دهیواد دتجزیې ویره هغه وخت ډیره شوه چې د پردیو په غوښتنه اومرسته سیمه ایزو قومي ملیشو، تنظیمونو او ډلو ، چې د نورو له خوا تمویلیدل د افغانستان ملي اردو له منځه یوړه ، دملګروملتونو د سولې پروګرام یې ناکام کړ اود یومرکزي حکومت پر ځای دمحلي جګړه مارانو واکدارۍ منځته راغلې اوهر تنظیم ، ډلې اوجګړه مار هڅه کوله چې د خپلې بقا اوپیاوړتیا لپاره د نورو هیوادونو د استخباراتي شبکو دافغان ځپلو او بربادۍ پلانونه په خپلو هیوادوالو عملي کړي.
په دې تنظیمي جګړوکې چې دنوروله خوا ورته لمن وهل کیده نه یواځې د حاضر وخت ،بلکې دتیر اوراتلونکې ټولې شتمنۍ چې هغه د یوملت دبقا اوپرمختګ لپاره ضرور دي له منځه ولاړې. نه یواځې د هیواد دخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا څخه ددفاع په خاطر ملي اردو له منځه ولاړه ،بلکې د یو متمدن ملت د بقا ، پرمختګ ، نظم اوانسجام دپاره اداري سیستم له منځه ولاړ اوپر ځای یې مطلقه انارشي پاټک سالاري اوزور واکي رامنځته شول. دښووني او روزنې سیستم له منځه ولاړ او د ښوونځیو دروازې وتړل شوې. د اوبولګولو شبکې نژدې ټولې له منځه ولاړې اودمالدارۍ اووترنر ۍ خدمتونو دنشتوالي اود میلیونونوافغانانو د کډوالۍ له کبله دکرنې اومالدارۍ سیستم د ربنتینې بربادۍ سره مخامخ شو . دپیړیو علمي ، تخنیکي ،فرهنګي

اوهنري لاسته راوړني دخاورو سره خاورې شولې. دهیواد دخلکو د ژوند سطحه د ټولې نړۍ دهیوادونو دخلکو د ژوندد سطحې په پرتله تر ټولو ټیټه سطحه باندې بدله شوه.

په دې ډول افغانستان دکورنیو نه پای ته رسیدونکو جګړو ، دبهرنیوهیوادونو دزور ازمویلو ، دمخدره موادو دکرکیلې ،بنسټپالنې تروریستي شبکواو دبشري هر ډول حقونو تر پښولاندې کیدو په مرکز بدل شو. ملګري ملتونه اودنړۍ هغه هیوادونه چې دبشر د حقوقو اصولوته د ژمنتوب او درناوي لاپې یې کولې اوځانونه یې متمدن دموکر ات اوبشر دوست بلل دخیر په غونډۍ کیناستل تر څود علامه اقبال دغه بیت چې: آسیا یک پیکر اب وګل است ملت افغان در آن پیکر دل است

از فساداو فساد آسیـــــــا از ګشاد او ګشاد اسیـــــــا

خپله رښتیاینه په اثبات ورسوله.

دشوروپانوتیری ټول افغان ملت ته ، چې پښتون قوم یې مطلق اکثریت جوړوي ، سپکاوی اوتوطیه وه. تیري کوونکو ګڼل چې د پښتنو په مقابل کې دنورو قومونو اختلاف اوضدیت ته په لمن وهلوبه په افغانستان کې پښې ټینګې کړي ، ځان اولاسپوڅي به په افغانانو ومني چې حکومت پرې وکړي. خودوئ غلطه کړې وه ، ځکه چې د افغان ملت سره په دښمنۍ کې ښیګڼه اوبریالیتوب لاس ته نه شي راتلای. اوکله چې افغان ملت ژوبل وي هیڅکله په ژوبل وجود افغانستان اوسیمې کې سوله اوثبات منځ ته نه شي راتلای اوپه افغانستان کې بې ثباتي اونا آرامي د سیمې اونړۍ سوله اوثبات ګډوډولی شي.

دافغانستان غوره جیوستراتیژیک موقعیت او د افغانانو مکلفیت:

په دې کې شک نه شته چې د افغانستان جیوستراتیژیک موقعیت د نړۍ ډیر ځبر ځواکونه اوحریص ګاونډیان تر اوسه لمسولي دي اولمسوي یې ،

چې د افغانستان د جیوستراتیژیک موقعیت څخه دخپلو ځانونو لپاره ګټه واخلي. چې له همدې کبله ډیر ځله د تیریو اولاسوهنو په واسطه یې دا هڅې جاري ساتلې دی . خوافغان ملت باید دخپل دې غوره جیوستراتیژیک موقعیت څخه دفاع وکړي ، پرې نه ږدي چې افغانانو ته د خدای پاک (ج ) دغه غوره ډالۍ اوپیرزوینه دنورو پراختیا غوښتونکو حریصو استعماري ځواکونو دیرغلونو او تیریوسره مخامخ شي. افغان ملت باید د خپلې خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ ، ځمکنۍ بشپړتیا او خپل ملي تاریخي هویت څنې دفاع وکړي.
خودا دفاع په تش لاس اوتپي وجود اوله ځان او جهان څخه دناخبرۍ په صورت کې ناشونی کار دی. لومړی تر هرڅه افغانان باید پوه وي چې دوئ څوک دي اودا ډیر قومیز واحد افغان ملت باید څه وکړي چې وکړای شي له خپلو شخصي. قومي ، سیمه ایزو او ملي ګټو څخه د پردیو د تیریو ، لاسوهنو او توطیو په وړاندې دفاع وکړي. په افغانستان کې د میشتو قومونو تر منځ بې اتفاقۍ کې نه شخصي ،نه قومي ، نه سیمه ایزې اونه ملي ګټې ، یوه هم ، نه شي لاس ته راتلای . د یوازاد ، خپلواک اوسر لوړي انسان او افغان په حیث ژوندکول او دخپلو حقوقو څخه د دفاع ځواک یواځې د ټولو افغانانو په ټینګ ملي یووالي کې نغښتی دی. په دې یووالي سره افغانان کولای شي د خپلو ملي نوامیسو څخه دفاع وکړي. اود استعماري ځواکونو په واسطه د دوئ غصب شوي حقوق بیرته خپل کړي .
د دیورند کرښه د افغانانو د دې وړتیا په وړاندې چې له ځان څخه دفاع وکړي بنسټیزه نیمګړتیا ده:
تر څوافغانان خپله رښتیانۍ خپلواکي اوملي واکمني لاس ته را نه وړي او دافغانانو دکمزورتیا اوخپل نفوذ لاندې ساتلو لپاره د انګریزي استعمارچیانو ستره توطیه ، د دیورند کرښه ، له منځه یونه سي اوبیرته

د تاريخي اوطبيعي افغانستان خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا لاس ته را نه وړي ، افغانان به دا وړتيا و نه لري چې د بهرنيو هيوادونو د تيريو اولاس وهنو مخه ونيسي اود اوسنۍ غميزې اوستونزو څخه ځان وژغوري.
د کمزوري او د پرديو د اشغال اونفوذ لاندې افغانستان کې دهيڅ افغان خير او ګټه نه شته . دټولو افغانانو پت ،عزت او ګټه په يو ځواکمن افغانستان کې خوندي کيدای شي. په داسې افغانستان کې چې دخپلې خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ ، اوځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع وکړي اودخپلو خلکو دملي ګټوپر ضد ټولې توطيې په بريالیتوب سره شنډې کړي .
افغانان بايد خپل دوست او دښمن وپيژني اودا ومني ، هرهغه څوک چې کمزوری افغانستان غواړي ، بهرني وي که کورني ، دافغانستان دخلکو دښمنان دي. خوپوښتنه پيدا کيږي چې آيا داسې کسان به وي چې د افغانستان وي او ځواکمن او لوی افغانستان ، چې دټولو افغانانو ازادي ،خپلواکي ، سرلوړي ، پت ، عزت ، پرمختګ ، ترقي اونيکمرغي پکې نغښتې وي اودبهرنيو هيوادونو دتيري ، سپکاوي ،ظلم اولاسوهنو مخه نيسي ونه غواړي ؟په رښتيا هيڅ داسې اصيل افغان به چې افغانستان د خپلو پلرونو اونيکونو ټاټوبی ،کور او ګور ګڼي پيدا نه شي چې د ځواکمن اوخپلواک افغانستان پر ځای دې دنوروتر واک لاندې کمزوری افغانستان وغواړي . خو کيدای شي ځينې کسان چې د پرديو تر سياسي اوفرهنګي اغيز لاندې خپلې ګټې د پرديو تر واک لاندې په کمزوري افغانستان کې ويني د خپلې ناپوهۍ له کبله د استعماري هيوادونو په واسطه د ويشلي ، ټوټې ټوټې او کمزوري افغانستان پلويان وي ، خو هيله ده چې داسې کسان ډير لږ او د ټولو افغانانو سپيڅلو هيلو ته د رسيدو په لار کې خنډ نه شي.

په دې کې شک نه شته چې زموږ بهرني دښمنان ، په خاص ډول هغه هیوادونه ، چې د افغانانوحقونه یې غصب کړي دي اوپراخه افغاني سیمې یې نیولي دي ، غواړي افغانان تل تر تله دخپلوناولو هیلو څخه قربان اود انساني خپلواک ژوند څخه یې بې برخې کړي ، ملي هویت ، ژبه اوفرهنګ یې له منځه یوسي اوخپله ژبه اوفرهنګ پرې وتپي اوهر څه ترې لوټ کړي. طبیعي ده چې داسې هیوادونه د کمزوري ، ویشل شوي اود دوئ د سیاسي ، اقتصادي ، نظامي اوفرهنګي نفوذ لاندې افغانستان غوښتونکي دي . دا هیوادونه به هیڅکله ونه غواړي چې یوغښتلی، خپلواک ، پرمختللی اود پردیو له احتیاج څخه خلاص افغانستان منځته راشي . ځکه چې په داسې افغانستان کې دوئ خپله ګټه نه ویني . انګریزي استعمارچیانو چې تل یې د افغانانو په مقابل کې له هیڅ ډول توطیو څخه ډډه نه ده کړې ، د بشري حقونو او نړیوالو ټولو نورمونو سره په مغایرت کې د دیورند د کرښې په واسطه افغانستان په ۱۸۹۳کال کې دوه ټوټې کړ . اوبیا پاکستان غواړي چې زموږ دهیواد بیله کړای شوې ټوټه د خپل استعماري واک لاندې وساتي . نوځکه دا دواړه هیوادونه به هیڅکله د یوغښتلي ،خپلواک او په خپلو پښو ولاړ افغانستان پلویتوب ونه کړي او نه به په خپله خوښه دې ته غاړه کیږدي چې له اموڅخه تر اباسینه پورې طبیعي اوتاریخي افغانستان منځته راشي . دا کار باید پخپله افغان ولس ، چې ددې توطیې قرباني اودا توره کرښه پرې تپل شوې ده سرته و رسوي ، نه هغه څوک چې دا کر ښه یې پر افغانانو تپلې او تر اوسه ساتلې ده .
ځواکمن ، غښتلی اوخپلواک افغانستان به پخپله افغانان جوړوي ، نه بل څوک:
که چیرته افغان روښانفکران ، په خاص ډول پوه وطنپال شخصیتونه او ډلې دې لوړ ملي ارمان ته د رسیدو لپاره خپلې متې راونغاړي ، کیدای

شی په نه ډيري اوږدي مودي کي د کرښي دو اړو خو اوو خلک ، ددي لپاره چې د استعماري سياستونو څخه راځيږيدلو ډول ډول ستونزو ،تنګسو سپکاويو ، محروميتونو او وروسته پاتې والي څخه خلاص شي د يووالي په اړتيا اوهرو مرو توب پوه شي اود استعماري سياستونو دا توره کرښه تر پښو لاندې کړي او د افغانانو پشپړ يووالی منځته راوړي .
خلک چې راپاڅيږي اوپه يو اواز ووايي نوردې نه منو ويشاکه ! د ديورند کرغيږن مزيه ! تور نښان له تور ښکيلاکه ! . نوبيا به کوم داسې ځواک وي چې د افغانانو ددې هوډ ، غوښتني اوملي ازادي غوښتونکي بهير په وړاندې ودريږي او تم يې کړي . د ديورند د کر غيږنې کر ښې دواړو خواوو ته پراته ولسونه اوټول افغانان بايد پوه شي چې دا کر ښه د انګر يزي استعمار چيانو په واسطه په زور اوتوطعه يوه تپل شوې کرښه ده اوهيڅ ډول حقوقي ارزښت نه لري . هيڅوک حق نه لري چې افغانان يوبل څخه بيل کړي اوهيواد يې وويشي . افغانان حق لري دخپل يووالي او ځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع وکړي . هر څوک چې ځان افغان بولي اوددې يووالي په وړاندې بې توپيره وي اويا داسې ذهنيت خپروي چې ګني اوس ددې وخت نه دی چې دا ستونزه اواره شي ، ځکه چې نورې ستونزې زياتې دي او دولت کمزوری دی ، ځان اونور غولوي . ځکه چې ددې ملي داعيې تر شا ولاړ ځواک د افغانستان خلک دي نه دولت .
دافغانانو ديووالي او ځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع په واقعيت کې د ملي ناموس څخه دفاع ده . دا يوه ستره ملي ستونزه ده چې بايد لاډيره مخکې اواره شوي وای . د افغانانو په کورنيو چاروکې د بهرنيوهيوادونو لاسوهنو اونورو ستونزو بنسټيز عامل د ديورند دکرغيږنې کرښې ستونزه ده . ددې ملي ستونزې د اواري په اړوند بې تفاوتي اوخنډونه منځته راوړل د افغان ملت په وړاندې جفا او د ملي ګټو سره خيانت دی .
بله دپام وړ خبره دا ده چې دا ستونزه د سياسي سوله ايزې لارې پواسطه

اواریدای شي اوتر شايې د افغانانو پوهه ،يووالى ،غوښتنه او ملي ازادي ښنونکی غورځنګ د حل بنستيزعامل اوځواک جوړوي .
د ديورند کرښه هيڅکله دافغانستان اوپاکستان تر منځ طبيعي اود نړيوالو معيارونو سره سم بريد نه و. دا کرښه د دوو هيوادونو تر منځ نه ده تيره شوې ،بلکې دافغانانو ديوقوم ( پښتنو ) پر سينه تيره شوې ده ، چې نه يوائې دغه قوم په زور او توطيه ايز ډول بيلوي ،بلکې دکورنيو غړي يوبل څخه بيلوي . چې دا کار دبشري حقونو دټولو نورمونو سره ضديت لري اوهيڅکله ديونړيوال بريد په حيث دهيوادونو تر منځ دنړيوالو قوانينو اواصولو پر بنسټ د پيژندلووړنه ده. دا دانګريزي استعمارچيانو په واسطه تپل شوې منحوسه کرښه ،نه يوائې دافغانانو له خوا نه ده پيژندل شوې اونه به وپيژندل شي ، بلکې دنړۍ دټولوهغوهيوادونوله خوا چې بشري حقونوته درناوی لري اوورته متعهد دي نه ده پيژندل شوې . له همدې کبله دديورند کرښه نه په لښکرو کنتروليدای شي ،نه دماينونوپه ښخولو اونه د اغزي لرونکوسيمونو په غزولو . ددې لپاره چې د افغانستان او پاکستان تر منځ پوله وتړل شي اوکنترول شي ،تر څو دپاکستان په مدرسوکې تربيه شوي کسان افغانستان ته راوا نه اوړي بايد ددې دواړو هيوادونو تر منځ پوله دنړيوالونورمونوسره سمه طبيعي اوتاريخي پولهوي اودا پوله يوائې اويوائې اباسين دی اوبس.
پر افغانستان باندې دتروريزم سره دمبارزې تر پلمې لاندې دامريکې اوناټويرغل:
کله چې ناټودامريکې په مشرۍ اته کاله مخکې افغانستان د تروريزم دمرکز په توګه وپيژاند اوپه ډير کبر او غرور يې ديرغل لاندې ونيو اوپه ځوورځوکې يې هرډول مقاومت له منځه يووړ اوټول افغانستان يې دخپل واک لاندې راوست . امريکې اوناټووکړای شول د دوئ په وينا د القاعدې تروريستي شبکه اوددې شبکې د ملاتړ کوونکو

طالبانو بنسټپال حکومت له منځه يوسي او پر ځای يې ددوئ سره په تړاو اودافغانستان په اشغال کې شريکه شمالي ټلواله اويوشمير په غرب کې روزل شوي تکنوکراتان سياسي قدرت ته راولي. خو دا برياليتوب يولنډ مهاله برياليتوب واوډير ژر دکورنيوقدرت ته راوستل شوو کسانو د ځان غوښتنې ، تعصب ، تنګ نظريو اوناپاکوهيلوله کبله دستونزوسره مخامخ شو. دافغانانوپه هکله دبهرنيوځواکونو دناپوهۍ اوعقيدواوعنعنو ته يې نه درناوی اوپر بيګناه خلکودوحشيانه بمباريوله کبله مرګ ژوبله تېل او له خپلوکورونواو سيموڅخه کډې کولوته مجبورول بل هغه عامل دی ،چې خلک دبهرنيوځواکونو اوددوئ په اوږوبار بې صلاحيته اوبې کفايته رژيم څخه زړه توري شول اودهغه چاسره يې خواخوږي زياته شوه چې غرب اوافغاني انډيوالانويې په ډير ځواک سره دترهګر ،بنسټپال اومخدره موادودتوليد اوتجارت پروپيګنډې ورپسې کولې.

د امريکې اوناټو ستره اشتباه په دې کې وه چې دافغانستان يوستر قوم ،پښتانه ، يې دترهګريزو بنسټپالو اعمالودعاملينوپه توګه په ګوته کړل اود دغه ستر قوم دځپلو هلې ځلې يې پيل کړې . دديورنددکربنې دواړو خواووته پرتې دپښتنوسيمې دترهګريزو فعاليتونو مرکز ونومول شو اوپه ټول توان يې د دې سيموپه ځپلو لاس پورې کړ. دختمونو ،جنازو ، جرګو ، ودونو اواخترونو دمراسموپه ګډون کوونکو يې بمونه وغورځول اودخلکو ښادۍ يې په غمونو واړولې . دا خولا پريږده چې پوره کلي اوسيمې يې دطالبانودځپلو په نوم دخاورو سره خاورې کړل. په زرګونوبيګناه ښځې ،ماشومان ،بوډاګان اوناروغان يې له منځه يوړل او کورونه ، کروندې اوباغونه يې ورله په کنډوالواوشاړوبدل کړل اوپه سلګونو زره عام خلک يې له خپلوکورونو

څخه تیښتي ته اړویستل. دا د دیورند دکرښې دیخوا پښتانه ووچې دامریکې او ناټو پرې د زور زیاتي څه وسه رسیده ډ ډه یې ترې ونه کړه.
څرنګه چې دامریکې اوناټوددې وحشیانه بمباریو او جګړه ایزوفعالیتونو په وړاندې دافغانانو کرکه اومخالفت لا زیات شو ،نو دا ځل پروپیګنډې پیل شوې چې دترهګرۍ اوبنسټپالنې اصلي مرکز د دیورند د کرښې څخه اخوادی. نودالقاعدې دځالو د لمنځه وړلو په نوم نه یواځې د بې پیلوټه الوتکو د بمباریواوکروز توغندیو په واسطه د زرګونو بیګناه پښتنو دمرګ ژوبلې سبب شول اولا دوام لري ،بلکې پاکستاني نظامیګر لاسپوڅوته یې دمیلیاردونوډالرو دورکولو په بدل کې امر وکړ چې داشغال لاندې پښتنوسیمو باندې نظامي عملیات اویرغلونه سرته ورسوي. په زرګونو بیګناه پښتانه د مرګ کومي ته وغورځوي او په میلیونونو نورو ته ، چې ډیر یې ښځې ، ماشومان ، بوډاګان او ناروغان جوړوي د خپلو کورونو ، کروندو او سیمو څخه د شړلوجزا ورکړي.
آیا د سوات ، وزیرستان ، کرمې ، خیبر ، باجوړ ، مومند او نورو سیمو باندې د پاکستاني اردو هوایي او ځمکنۍ درندې بمبارۍ اوپه لسګونو زره د منظمې پاکستانۍ اردو عملیات د ترهګروپه ضد عملیات وو او که د دغو سیمو د خلکو پر ضد عملیات ؟ دا عملیات بل څه نه و بې د دغو پاکستان د اشغال لاندې سیمو د پښتنو د ځپلو عملیات. دا چې د دې عملیاتو بهیر په بشپړ ډول د نړیوالو څخه پټ ساتل شوی دی ، بله مانا نه ورکوي بې له دې څخه چې پاکستاني اردو د دغوسیمو د بیګناه خو په ازادۍ مینو پښتنو د ځپلو لپاره خلاص لاس ولري . د هیڅ ډول بشري حقونو پابند نه اوسي او هر ډول وحشت او د بشر ضد اعمال چې سرته رسوي نړیوال ترې خبر نه شي. او که خبر هم شي ، خودملګرو

ملتونو د سازمان په شمول پټه خوله ونيسي او وو ايي چې نه يې څه ليدلي دي اونه يې څه اوريدلي دي.

زور زياتی اود نظامي پوځونو زياتوالی نه شي کولای په افغانستان او سيمې کې د سولې او ثبات سره مرسته وکړي:

د امريکې او ناټو ستر اتيژي د دوئ د خپلو تبليغاتو او اعمالو پر بنسټ د سولې اوثبات د ټينګولو ستراتيژي نه ده . بلکې په نظاميګرۍ اوزور زياتي ولاړه ستراتيژي ده . د امريکې جمهور رئيس بارک اوباما ته د نوبل د سولې نړيواله جايزه کيدای شي د نړۍ د نورو هيوادونو سره د اړيکو د ښوکولو په خاطر يوڅه اړخ ولګوي ، خوپه افغانستان کې د نظامي فعاليتونو د سختولو په ترڅ کې د ډيرو بيګناه خلکو د لمنځه وړو او د پښتونخوا د ځپلو په خاطر د پاکستاني جنرالانو د هڅولو لپاره په ميلياردونو دالر ورکول د سوله ايز سياست سره سمون نه لري . په افغانستان کې د امريکايي اوناټو دځواکونو ډيرول د تجروبو له مخې د سولې او ثبات د راوستلو سره مرسته نه کوي ، بلکې د سولې د ټينګولو لپاره د نورو لارو چا رو د لټولو په وړاندې خنډونه زياتولی شي.

ترهر څه لومړی امريکا اود ناټو نور غړي هيوادونه بايد د افغانستان اوافغانانو په هکله خپله پوهه بشپړه کړي ، د مخالفينو سره بې له قيد او شرط څخه خبرو ته کښيني او ځان پوه کړي چې دوئ څه غواړي . دوئ بايد پوه شي چې افغانان ( پښتانه ) ترهګر نه دي. دوئ بايد پوه شي چې د پښتنو سيمې چا اوپه څه ډول د نورو هيوادونو د بنسټپالو ترهګرو عناصرو د پټيدو په ځايونو اړولي دي ؟ ولې د پښتنو دغه سيمې د تاو تريخوالي په سيمو بدلې شوې دي او چا بدلې کړې دي ؟ امريکا اوناټو بايد پوه وي او دا وه مني چې د افغانستان طبيعي پولې په شمال کې د آمو سيند او په جنوب کې ابا سين دی . دا طبيعي پولې کيدای شي په اسانۍ سره کنترول او افغانستان ته د ترهګرو د ننوتو مخه ونيول شي. د

شرق او غرب له خوا هم پولې د کنترول وړ دي. یواځې د دیورند کرښه چې طبیعي پوله نه ده او یو قوم او حتی کورنۍ یې په تیریدو سره ویشل شوي دي اویواځې د افغان ملت په وړاندې یوه استعماري توطیه ده ، نو ځکه هیڅکله د افغانستان او پاکستان تر منځ د یوې طبیعي پولې ، چې دنړیوالو نورمونو سره سمون ولري اود اعتبار وړ وي ، ځای نه شي نیولی.

د امریکا دولت اونور غربي دولتونه د دې واقعیت په منلو سره ، چې د دیورند کرښه یوه تپل شوې غیر طبیعي اودمنلو وړ کرښه نه ده ، کولای شي د ټولو افغانانو اوپه خاص ډول د دې کرښې دواړو خواووته پرتو خلکو خواخوږي وګټي . په دې سیمه کې د سولې اوثبات د ټینګولو لپاره د جګړو ، مرګ ژوبلې ، زور زیاتي او ځپلو پر ځای د سولې ، مرستې او بیا جوړونې لار غوره کړي . متل دی ،چې وایي: په زور کلي نه کیږي . د افغانانو حقوق وه منل شي ، حق ورکړل شي چې د دیورند دکرښې پواسطه د بیلو شوو خلکو یووالی بیرته ټینګ شي او په خپله خوښه د ټولو افغانانو استازی حکومت منځته راوړي . افغانان باید په زور د استعمار تر جیغ لاندې رانه شي او په پاکستان پورې ونه تړل شي . همدا د زور استعماري توطیې دي چې افغانان یو له بل څخه د دیورند دکرښې پواسطه ، چې د کرښې هیڅ یوې غاړې ته د منلو وړ نه ده ، بیلوي او یوه غته برخه یې پاکستان پورې تړي. د دیورند دکرښې په واسطه بیلو شوو افغانانو ته هیڅکله د پاکستان واکداري د منلو وړ نه وه اونه ده.

د پښتونخوا د ازادو قبایلو سیمه د انګریزي اوپاکستاني استعماري سیاست د دسیسو په نتیجه کې د نړۍ د نورو هیوادونو د بنسټپالانو او ترهګرو د پټیدو په یوې تجرید شوې سیمې بدله شوې ده . که امریکااوناټو غواړي چې دا ځای نور د نړۍ د بنسټپالانو او ترهګرو د پټیدو ځای نه وي ، نو ددې خلکو د ځپلو او بربادولو پر ځای دې د

مرستې او اقتصادي ټولنيزې ودې او جوړيدو لاس ور اوږد کړل شي . د پاکستان استعماري تور لاس دې ترې لنډ کړل شي او حق ورکړل شي چې د افغانستان د نورو سيمو د خلکو سره په ګډه له آمو نه تر آباسينه پورې د نړيوالو نورمونو سره سم د يو خپلواک ، سوله ايز ، متمدن او پر خپلو پښو ولاړ افغان دولت په جوړيدو کې برخه واخلي.

د ديورند دکرښې په لمنځه تلو سره د بهرنيو ترهګرو پټنځايونه هم له منځه ځي :

د افغانستان هر دولت چې د خپلو خلکو ملي ګټوته وفا دار او د افغانستان خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا ساتلو ته ژمن دولت وي بايد په پرله پسې ډول د ديورند د کرښې موضوع ، چې تپل يې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړ تيا او ټولو نړيوالو نورمونو سره بشپړ ضديت لري ،د افغانانو غوږونو ته ، د دوئ ملي ناموس ته د يو ګوابښ په توګه او د نړيوالې ټولنې ، په خاص ډول دملګرو ملتونو غوږونو ته ، د هيوادونو تر منځ حقوقو او په ټوليز ډول بشري حقونو ته د سپکاوي په توګه ورورسيږندل شي . که چيرته امريکا اوناټو په رښتيا سره په دې سيمه کې سوله او ثبات غواړي او د ازادو قبايلو له سيمې څخه نورو سيمو اوهيوادونو ته د بې ثباتۍ او نارامیو ليږديدلو سره مخالفت لري ، نو ددې کار بنسټيزه چاره داده چې د ديورند کرښه له منځه ولاړه شي ، د کرښې دواړو خواوو خلکو دا حق ورسيږندل شي چې له امونه تر اباسينه پورې خپلمنځي يووالی ټينګ کړي او په شريکه ټول هغه نابللي ميلمانه ، چې د افغانستان ، سيمې اونړۍ سوله اوثبات په خطر کې اچوي له خپل هيواد څخه وکاږي . همدا د ديورند غيرعادلانه تپل شوې کرښه ده ، چې په سيمه کې د کړکيچ سبب شوې ده. عادلانه نه ده چې په زور پښتانه له پښتنو څخه بيليږي اود ټولو بشري نړيوالو حقونو او نورمونو پر خلاف د پنجابيانو سره تړل کيږي . پښتانه چې پرخپلواکۍ مين دي د پنجابيانو

تر واک لاندې ژوند نه مني او داچې په زور زیاتي او توطیې سره لومړی د انګریزانو او بیا د پنجابیانو تر واک لاندې راوستل کیږي ، د دې سیمې د کړکیچن کیدو اونا ارامۍ اصلي علت جوړوي اودې ته زمینه مساعدوي چې له بهرڅخه د سیمې د سولې اوثبات ضد کسان پکې نفوذ وکړي. که افغان اداره او نړیوال هغه ځواکونه چې په افغانستان کې اوس شته ، غواړي چې داسیمه د امن په سیمه واوړي ، نوباید مرسته ورسره وکړي چې د پاکستاني توطیو اوفشارونو څخه ځان وژغوري اوهغه ورانکار ي چې د پاکستاني استخباراتو په واسطه د ور انکاریو لپاره ځای پر ځای شوي دي له خپلې سیمې څخه وکاږي . تر څو له آمونه تر اباسینه پورې ټوله دا سیمه د سولې ، دموکراسۍ ، ټینګ ملي یووالي په ټاټوبي اود فساد ، مخدره موادو اوتر هګرۍ څنې په پاکې سیمې بدله کړي .

په پایله کې د امریکې او ناټو ځواکونو د عملیاتو په ترڅ کې همدا اوس په کونړ ، هلمند ، لغمان ،کندز او د افغانستان په نورو ځایونو کې د بیګناه ملکي کسانو دوژلو خبر هره ورځ تر غوږو رسیږي او په مقابل کې د امریکې او ناټود ځواکونو په وړاندې د خلکو له کرکې څخه ډک غبرګون دا واقعیت په ګوته کوي چې په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد ترخې تجربې تکراریږي . مخکې له دې چې ډیر ناوخته او وار له وار څخه تیر شي امریکا اودناټو نورو غړو ته په کار دي چې دوسله والو ځواکونو په ډیرولو سره په افغانستان کې د جګړه ایزې ستراتیژۍ پر ځای د سوله ایزې ستراتیژۍ د پلي کولو په فکر کې شي ، نور ځانونه ونه غولوي او عملي ګامونه واخلي. په دې ډول چې:

ټول نظامي عملیات ودرول شي . دسولې د ټینګیدو په موخه دې د ټولو مخالفینو سره ، بې له دې چې منځ لاري اوتوند لاري وبلل شي ، خبرې اترې پیل شي. د ملي روغې جوړې د یوې مؤقتې ادارې د جوړیدو لپاره

دې يوه شريكه افغاني عنعنوي لويه جرګه جوړه شي . تر څو د يوې ټاكلې مودې په ترڅ كې په افغانستان كې د بهرنيو ځواكونو د برخليک په هكله پريكړه وكړي . اود يودټولو خلكو دملاتړ وړ انتخابي دولت دمنځته راتګ لپاره د دموكراسۍ د اصولو اود اسلام دمقدس دين د ارزښتونو سره سم د ټاكنو مهال ويش معلوم كړي . اوپه دې ډول په افغانستان او سيمې كې يوه تلپاتې سوله ټينګه شي . كه چيرته په صداقت سره د يو د خلكو له خوا منځته راغلي ، دفسادڅخه پاک ، د خلكو د رښتيني استازي اوټاكل شوي دولت سره د افغانستان په بيا جوړېدو اودملي اردو اوملي پوليسو په پياوړتيا كې د نړيوالې ټولنې له خوا مرسته وشي كيداى شي په كم وخت كې زموږ هيواد د هر ډول بهرنيو تر هګرو اومافيايي شبكوله شتون څخه خلاص شي او افغان زيار كښ ملت په سوله ايز ډول د خپل هيواد دپر مختګ په خاطر خپله وړتيا ټولې نړۍته جوته كړي .

*-دا ليكنه د ۲۰۱۰كال د حمل دمياشتې پر ۴ نيټه ليكل شوې ده .

## په هیواد کې تر ټولو بده او ترخه پېښه *

د افغانستان په تاریخ کې ډیرې تر خې پیښې تیرې شوي دي ،چې نه یوائې تاریخ پوهانو د راتلونکو نسلونو د پوهاوي لپاره لیکلي اود ټولنې راتلونکو نسلونو ته وړاندې کړې دي ، بلکې عامو خلکوهم ډیرې پیښې خوله په خوله راتلونکونسلونو ته په شفاهي ډول رسولي دي. چې په ټولو دغوپیښو کې د بهرنیو یرغلګرو او تیري کوونکو هیوادونو اوځواکونو تیري اویرغلونه تر هر څه ناوړه او د افغانانو د سر،مال ، عزت فرهنګ او هویت د تباه کیدو لپار ه د پردیو پواسطه تپل شوې ترخې اوبدې پیښې نومول شوې دي . هیڅ داسې افغان به پیدا نه شي چې د افغانانوملي ګټوته زمن وي اود پردیو په چوپړ کې نه وي ، دهغوغمیزو څخه چې د بهرنیو تیري کوونکو دتیریو ځنې راځیږېدلي دي سترګې پټې کړي اوکورني بدلونونه او پیښې دهیواد تر ټولو ترخو پیښو په حیث ونوموي .
یوائې ځینې تش په نامه افغانان چې د خپلوشخصي ناڅیزو ګټو په خاطر یې پردي غړوندي په خپلو غاړو کې اچولي دي اود پردیو ګټو ته کار کوي اودهغوئ د ګټولپاره حتی د افغانانو پر استقلال ،ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا باندې تیري اویرغل سره نه یوائې دا چې مقابله نه کوي بلکې هڅه کوي چې د خپل هیواد د خپلواکۍ په خاطر د میلیونونو افغانانو د سپیڅلووینوپر توئیدو او شهادت ، دپنځومیلیونوڅخه زیاتو افغانانو کډوال کیدلو اودمیلیونونوکونډو ،یتیمانو ،معیوبینو اومعلولینو په منځ ته راتګ ، ددوئ په غمونو ،کړاوونو اوستونزو اود هیواد په بربادۍ سترګې پټې کړي . دا هغه څه دي چې د ۲۰۱۰ کال د جنوري پر ۸ نیټې د اریانا تلویزیون د "نوبت شما "پروګرام دچلوونکي دیوې پوښتنې په ځواب کې د کارمل د ډلې یوپخواني غړي اوپر

افغانستان باندې دشورويانو دتيري دکورنيو عاملينو اوغوښتونکو يو استازي څرګند کړل.
د"نوبت شما "د پروګرام د چلوونکي د دې پوښتنې په ځواب کې چې: به نظر شما تلخ ترين حادثه در کشور کدام ميباشد ؟دشورويانو دغه اجنټ په ډير سپين سترګتوب د ټولو وطنپالو افغانانو ، چې دهيواد ژوندی تاريخ جوړوي ، په سترګوکې خاورې اچوي او پر افغانستان باندې دشورويانو د جدي دشپږ مې نيټې دتيري پر ځای وايي : کودتای ثور . ددې لپاره چې د پرديو اجنټانو د دروغو څخه ډکې دملي ګټوضد پروپيګنډې اوددوئ بيګانه توب ښه بربنډ شي ، راځئ چې دثور انقلاب اوپر افغانستان باندې د شورويانو خاينانه تيری يوځه وڅيړو او پرتله کړو چې کومه يوه پيښه په افغانستان کې ترټولو بده اوترخه پيښه وه ؟
دثور انقلاب يوه کورنۍ پيښه وه ، چې پخپله د افغانانو له خوا د افغانستان دخلکو دسوکالۍ ، پرمختګ اوترقۍ په خاطر سر ته ورسيد . د ثو ر انقلاب په بريالیتوب سر ه ، په خاص ډول کله چې د دولت له مشرتابه څخه کارمل دانقلاب ضد ډلې غړې ليرې کيږي ، د انقلاب په نتيجه کې منځته راغلی دولت د افغانستان د بې وزله خلکو په خذمت کې ستر بريالیتوبونه لاس ته راوړي . ټولو دولتي کارکوونکو ته له چپړاسي نه تر وزيره پورې ، يوشان ماکولات اوکوپوني توکي بې له کوم ځنډ څخه رسيدل. د کارمل د انقلاب ضد ډلې د سبوتاژ سره سره هيڅ ډول تورم ، د ضروري موادو قيمتي او کمی نه دی احساس شوی . د افغانستان په تاريخ کې داسې د فسادنه خلاص دولت ، چې نه پکې څوک رشوت واخلي او نه اختلاس وکړي اوبيت المال ته د تقدس په سترګه وګوري ، تر دغه وخته پورې نه و راغلی . د ثور انقلاب په بريالیتوب سره داسې يوه دولتي واکداري منځته راغله چې د افغانستان خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتيا ته دملي نواميسو په سترګه

په کتوسره د هيڅ بهرني هيواد په وړاندې نه ده تسليم شوې . له دې ملي نواميسو څخه يې ځان قربان کړی دی ، خومعامله يې پرې نه ده کړې.
همدارنګه د افغانستان د ترقۍ ، پرمختګ اود خلکو د سوکالۍ په خاطر يو زيات شمير عام المنفعه پروژې د لاس لاندې ونيول شوې. ځرنګه چې فساد نه و ، نو ځکه نوموړې پروژې د خپل ټاکلي وخت څخه مخکې سرته رسيدې اود خلکو دګټې اخستو وړ ګرځيدې . د مثال په ډول بې کوره مستحقو خلکوته د کورونو د پيدا کولو پروژه ، چې دخيرخانې په سيمه کې د پنځه سوه فاميلۍ پروژې په نوم مشهوره وه ، د دريو مياشتو په ترڅ کې بشپړه شوه او مستحقو بې کوره خلکو ته يې کورونه وويشل شول . په کم وخت کې د ښوونځيو سلګونه تعميرونه جوړ اوګټې اخستل تر ې پيل شول .
د ثور انقلاب څخه وروسته په افغانستان کې د ټولنيز ژوندپه ټولو برخو کې بنسټيز بدلونونه منځته راغلل . دښوونې اوروزنې په برخه کې د لومړي ځل لپاره د ټولو افغانانو ځامنواو لوڼوته د ښوونې اوروزنې دروازې وازې شوې او په خپلو مورنيو ژبو باندې زده کړه د ټولو ماشومانو يوشان حق وګڼل شو . د پښتواو دري ژبو تر څنګ په ازبکي ترکمني ، بلوڅي اونورو ژبو کتابونه وليکل شول اوپه عمل کې په ښوونځيو کې په مورنيو ژبو زده کړې پيل شوې. په همدې ډول په نوموړو ژبو د راديو – تلويزيون خاصې خپرونې پيل او مجلې اواخبارونه چاپ شول . چې دا ټول د افغانانو تر منځ د ملي يووالي او ورور ګلوۍ دټينګيدو سبب وګرځيدل . د سواد زده کړې په برخه کې دولت کوټلي ګامونه واخستل او په يوکال کې په زرهاوو نالوستي افغانان دليک او لوست له نعمت څخه برخمن شول ، چې له کبله يې د يونسکو له خوا د هغه وخت د ښوونې او روزنې وزارت ته ستاينليک ورکړ شو . د نسبي سوله ايزو شرايطو او د دولت له پلانونو څخه دخلکو دملاتړ له کبله د کرنې ،

مالداری ، میوو اونورو محصولاتو د تجارت په برخه کې د پام وړ پر مختګ منځته راغی. د کرنیزو چارو د مکانیزه کولو لپاره په سلګونو د بزګرانو کوپراتیفونه جوړ او دماشین الاتو ،سرې او اصلاح شوو تخمونو مرستې ورسره پیل شوې.

دنورو هیوادونو سره داړیکو په برخه کې ، افغانستان دې ته ژمن و چې د ټولې نړۍ دهیوادونو سره یوشان دوستانه سیاسي اودیپلوماتیک اړیکي ولري . چې په دې ډول افغانستان د یورښتیاني ،مستقل اوخپلواک سیاست په لرلو سره د ملګروملتونو دسازمان ، ناپییلو هیوادونو د غورځنګ اواسلامي کنفرانس د غړو په منځ کې د لوړ اعتبار خاوند و او د دې سازمانونو دچارو په سرته رسولو کې یې تل کارنده برخه اخستله ، چې له همدې کبله ددې سازمانونو د فعال غړي په حیث پیژندل کیده.

که چیرته دثور انقلاب په وړاندې دشوروي کارملي اجنټانو ، لکه د نوبت شما دمیلمه په څیر دغود لستوني مارانو توطیې اوسبو تاژ سرته نه رسیدای ، کیدای شول دخلکو په بشپړ ملاتړ سره په ډیر کم وخت کې د ثور انقلاب له بریالیتوب څخه وروسته د افغانانو په ژوند کې ستر مثبت بدلونونه منځته راغلي وای. خو په ګوند اودولت کې د کارملي پرچمیانو د انقلاب ضد توطیو ، سبوتاژ اوورانکاریو له امله ، چې په مستقیم ډول د شورویانو د استخباراتي شبکو له خوا ورته لار ښوونه کیده: په دې ډول چې په ښکاره دانقلاب څخه د ملاتړ په نوم خوپه واقعیت کې د انقلاب اوانقلابي دولت دبدنامولو لپاره داسې کارونه سرته رسول وچې موخه یې دانقلاب څخه دخلکو دملاتړ کمزوري کول اوداسې شرایط منځته راوړل و چې د نظامي کودتاګانو له لارې ، دخلکو دملاتړ وړ اودخلکو ملي ګټو ته ژمن اووفادار دولت له پښو وغورځوي .

خوله دولت څخه دخلکو دملاتړ له امله ددې ټولو توطیو اوکودتاګانو مخه ونیول شوه اوشنډې شوې. په دې ډول د ثور انقلاب د ټولو کورنیو دښمنانو په مقابل کې له ځان څخه دفاع وکړه. دولت په هیواد کې د سرتر سري سولې د ټینګیدو په خاطر د غولیدلو مخالفینو سره جرګې پیل کړې چې له کبله یې کیدای شول ډیر ژر په ټول هیواد کې بشپړه سوله ټینګه شي. زه نه وایم چې د ثور انقلاب په نتیجه کې منځته راغلي دولت ، نیمګړتیا او ستونزې نه درلودې . په کارونو کې پوره تجربه نه لرل ، په ګوند اودولت کې دکارمل دډلې سره په تړاوکې کسانو موجودیت دهغه وخت د دولت ستونزې وې . د وخت په تیریدو سره د بې تجربې خلکو تجربه ډیریده اود دولت داستونزه اواریده. خو په ګوند او دولت کې د انقلاب او دولت ضد کارملیانو د موجودیت ستونزه دوخت په تیریدو سره نه یواځې دا چې اوا ره نه شوه ، بلکې دیوبهرني هیواد ( شوروي اتحاد ) سره په تړاو کې دا ستونزه لا پسې ژوره ، پیچلې او خطر ناکه شوه.

کله چې د شوروېانو کارملي اجنټانو ولیدل چې په توطیو او کودتاګانو نه شي کولای د خلکو له ملاتړ څخه برخمن خلقي دولت له پښو وغورځوي ، نوله خپلو بادارانو څخه ، چې لا پخوا یې پناه ور وړې وه ، وغوښتل چې افغانستان اشغال کړي او دوئ ( دکارمل ډله ) د خپلو وفادارو نوکرانو په حیث سیاسي قدرت ته ورسوي . شوروېانو چې داسې بې وطنه نوکران پیدا کړل چې دافغان په نوم یادیږي اود افغانستان د اشغال او لاندې ایستلو غوښتنه کوي ، دافغانانوتاریخ هیر کړ اوفکر یې وکړ ، چې که چیرته د افغانستان ملي وطنپال دولت د حفیظ الله امین په مشرۍ له منځه یوسي او پر ځای یې خپل وفادار بې وطنه ګوډاګی ( ببرک کارمل ) قدرت ته ورسوي ، نو دافغانستان په نیولو سره به یې د اسلافو خوبونه تر سره شي.

نوځکه يې دهر ډول نړيوالو نورمونو او د بشر دحقوقو سره په ضديت کې د دوو ګاونډيو هيوادونو ترمنځ د اړيکو د ساتلو له اصولو څخه سر غړونه وکړه او پر افغانستان باندې يې د ۱۳۵۸کال د جدي د ۷ نيټې په تور ماښام له شرمه ډک وحشيانه تيری وکړ اوپه دې تيري سره يې د افغانستان استقلال ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا تر پښولاندې کړل اوافغان ملت ته په سپکاوي سره يې د افغانستا برحال جمهور رئيس (حفيظ الله امين ) د خپلوزامنو اوګڼ شمير افسرانو اوسر بازانوسره د تيري په لومړيو شيبو کې په قتل ورسول او افغانستان يې اشغال کړ . چې افغانان به د روسانو اوددوئ د لاسپوڅو دا جنايت هيڅکله هير نه کړي اووه به يې نه بښي.
سره ددې چې دثور انقلاب په نتيجه کې منځته راغلي دولت وکړای شول تر ډيرې اندازې پورې د کورنيو دښمنانوتوطيې او کودتاګانې شنډې کړي اودولت له سقوط څخه وژغوري ، خوبيا هم يوشمير پرچميانو او خلقينما کارمليانو چې په ګوند اودولت کې يې ځانونه غلي کړي وو وکړای شول داسې ناوړه کارونه سرته ورسوي چې بيګناه خلکوته پکې تاوان ورسيږي اوپړه يې په انقلابي دولت واچوي . همدا دکارمل د ډلې توطيې اوسبوتاژو ، چې د کارمل د ګوډاګي رژيم منسوبينو ( لکه دنوبت شما ميلمه) پر افغانستان باندې د شورويانو له تيري څخه مخکې ملي دولت پسې ترې پروپيګنډې جوړې کړې.
د حفيظ الله امين په مشرۍ افغان ملي دولت په دې کې پاتې راغی چې د افغانستان د خلکو د خپلواکۍ او ملي ګټو ضد کورنيو دښمنانو او بهرنيو تيري کوونکو د اړيکو ژورتيا په خپل وخت بربنډه کړي اوپه خپل وخت د سترې توطيې ( پر افغانستان باندې دشورويانو دتيري ) مخه ونيسي . که چيرته د افغانستان ملي دولت د دې سترې توطيې په بربنډولو کې پاتې نه وای راغلی اوپه خپل وخت يې د افغانستان ميړني

او پر خپلې خپلواکۍ مین خلک ترې خبر کړي وای ، روسانو هیڅکله دا نه شول کولای چې د کارمل ګوډاګۍ حکومت پر افغانانو وتپي او افغانستان اشغال کړي .
د روسانو په واسطه د افغانستان اشغال او د ببرک کارمل په مشرۍ د پرچم د ګوډاګۍ ډلې قدرت ته رسول ، د افغانانو په معاصر تاریخ کې دډیرې ناوړې اوبدې پیښې په حیث لیکل شوې او د جدي ۶ نیټه د هغې تورې ورځې په حیث ګڼل کیږي ، چې د افغانانو دیرش کلنه غمیزه ترې ځیږیدلې اوپیل شوې ده . دجدې پر ۶ نیټې د شورویانوپه تیري سره افغانستان خپله خپلواکي اوملي واکمني له لاسه ورکړل اود یو بهرني پراختیا غوښتونکي هیواد پورې وتړل شو ، چې نه افغانانو ته د منلو وړ و اونه نړیوالو ته.
د شوروي تیري کوونکو او ګوډاګي رژیم پر ضد په ټول افغانستان کې ملي پاڅون سرته ورسید اوپه نړۍ کې یې بې د شوروي اوپه شوروي پورې تړلو یو څوهیوادونو نه پرته دټولې نړۍ سره خپل اړیکي له لاسه ورکړل. هیواد په سیاسي ، اقتصادي اونظامي ډګرونو کې په بشپړ ډول شوروي پورې وتړل شو. تولیدي مؤسسې نژدې ټولې یا له منځه ولاړې اویا سختې زیانمنې شوې . ګوډاګي حکومت هڅه کوله چې دملي فرهنګ اوکلتور پر ځای د شورویانو فرهنګ اوکلتور په خلکو ومني اود اسلام دمقدس دین د ارزښتونو سر ه په ضدیت کې ځوانه طبقه شراب خورۍ ، بې بندوبارۍ او فحشا ته وهڅوي . د خپلو بادارانو دخوښ ساتلو لپاره ګوډاګي حکومت د افغانانو د ملي یووالي کمزوري کولو په خاطر قومي دښمنیو ته لمن وهل خپله رسمي پالیسي وګرځوله او په ښکاره یې د پښتنو په مقابل کې د نورو قومونو لمسولو ته دوام ورکړ.
ګوډاګي حکومت دشورویانو د غلامۍ په منلوسره د هر ډول ملي مفکورې اوملي شخصیتونوسره نه پخلا کیدونکې دښمني پیل کړه .

شوروي تيري كوونكو او د دوئ ګوډاګيانو ډيره وسه وکړه چې افغان قهرمان ملت په ګونډو کړي ، د زرګونو کلونو تاريخ ، پت ، عزت اوهويت يې لوټ کړي ، تل تر تله د غلامۍ کړۍ ور په غاړه کړي او د شوروي سره يې وتړي. خوکله چې داسې ونه شول ، نو يې د شمال اوجنوب په ويشلو لاس پورې کړ . اوپه دې ډول يې پر افغانستان باندې د شورويانو دتيري سره پيل شوې غميزه لاپسې ژوره اوپراخه کړه.

سره ددې چې د افغانستان ميړنيو اوپه خپل وطن مينوخلکو د شوروي تيري کوونکو اود دوئ د ګوډاګيانو (کارمليانو ) په مقابل کې د خپل هيواد ، دين او هويت څخه د دفاع په خاطر د تيري په لومړيو شيبو کې راپاڅيدل او د اوږدو کلونو جهاد په تر سره کولو او د ميليونونو افغانانو په شهادت اوبيساري نورو ځاني ، مالي اومعنوي سرښندنو سره يې تيري کوونکو او لاسپوڅو ته په نظامي ډګر کې ماتې ورکړه. تيري کوونکي يې له خپل هيواد څخه وشړل او د کارمليانو واکداري يې پای ته ورسوله ، خو همدغه غميزه چې پر افغانستان باندې د شورويانو په تيري سره پر افغانانو وتپل شوه ، د روسانو او د دوئ د لاسپوڅو د توطيو په نتيجه کې لا اوس هم دوام لري.

که د "نوبت شما ميلمه "خپلو بادارانو ته په وفادارۍ سر ه ، له دوئ څخه د امتيازونو اوشخصي ګټو په مقابل کې له واقعيتونو څخه سترګې پټوي او د ۱۳۵۸کال د جدي ۶ نيټې پيښې پر ځای ، چې په خپلواک افغانستان باندې د شورويانو تيری او د افغانستان اشغال دی ، د بدې پيښې په نوم نه يادوي اوپر ځای يې د ثور انقلاب بده اوتر خه پيښه بولي ملامت نه دی. دا ځکه چې دی اوس هم د روسانو سره ژور اړيکي لري دهغوئ په چوپړکې ولاړ سړی دی او دافغانانو له ملي ګټوڅخه ورته د خپلو روسي بادارانو ګټې غوره ښکاري .

*- دالیکنه د ۲۰۱۰ کال د جنوري پر ۱۴ نیټه د "نوبت شما دمیلمه" د دې ثرګندونې ، چې د هیواد په تاریخ کې ډېره بده پیښه د ثور کودتا ده ، کښل شوې او په انترنت کې هم خپره شویده.

# ټینګ، یوموټی ، سرتاسري ، ملي دموکرات او اصولي ګوند ته ضرورت دی*

ډیرو محترمو ملګرو !

مخکې تر هر څه اجازه راکړئ چې په هالند کې د یوشوي ګوند د لومړۍ غونډې دجوړېدو مبارکي درکړم اوتاسې ټولو ته دې درنې غونډې ته د ر اتګ په خاطر ښه راغلاست وایم .

ډیر خوښ یم چې نن بیا ټول هغه ملي وطنپال شخصیتونه ، چې ټول عمر یې دخپلو خلکو د سوکالۍ اوپه خپل هیوادکې دسولې اوثبات د ټینګیدو لپاره حتی په ډیرو سختو شرایطو کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي اوله هیڅ ډول سرښندنو څخه یې ډډه نه ده کړې ، بیرته دصمیمیت اوورورۍ په فضا کې یوځای وینم . هیله کوم چې ټول هغه وطنپالونکي شخصیتونه او ډلې ، چې یوشان دنظر ټکي اوشریک دوست او دښمن لري اولاتر اوسه یوبل سره نه دي یوشوي ،یوځای شي . اوپه دې ډول د خپلو ملي اهدافو د لاسته راوړو لپاره داسې یو سرتاسري ملي ځواک جوړ کړي ، چې هیڅوک یې د مخنیوي وس ونه لري .

محترمو ملګرو !

د واحد ګوند دجوړیدولپاره هلې ځلې ان د داکتر نجیب د واکمنۍ د پای ته رسیدوسره یوځای ، چې یوشمیر ملګري د ځرخي پله له جیل څخه راووتل ، پیل شوې. ددې هلو ځلو لومړۍ غونډه کابل ته دتنظیمونو د راننوتلو څخه یواځې دوه ورځې مخکې جوړه شوه . د نوي واحد ګوند د جوړیدو لپاره ځینې اصولي ټکي په ګوته اود غونډې دټولو ګډون کوونکو ډ تائیدوړ وګرځیدل اوپریکړه وشوه چې په راتلونکې کې به بیا سره کښیني او د تائیدوړ دا ټکي به په لیکلي ډول منځته راوړو او دیو

سند په توګه به يې ټول لاسليک کړو . خو څرنګه چې کابل ته د تنظيمونو د راننوتلو سره سم په کابل کې د قدرت دنيولو جګړې پيل اودکابل ښار امنيتي وضعه ، په خاص ډول د روښانفکرانولپاره ، ستونزمنه شوه نوځکه موونه شول کړای چې بيرته سره کښينو اودواحدګوند دجوړيدو کارونه په نورمال ډول سرته ورسوو .
په پيښور کې هم ځوځلې دکابل دناستې په ادامه تګ راتګ اوخبرې اترې سرته ورسيدې ، خو کله چې ديوشمير نظامي ملګرو له خوا د ملګري شهنواز تنې په مشرۍ ،بې له دې چې د کابل دغونډې ګډون کوونکي په جريان کې وي ، دسولې غورځنګ ګوندجوړ شو ، نو دواحدګوند د جوړيدو لپاره دکابل دغونډې د ګډون کوونکو هلې ځلې يوځه سستې شولې . څرنګه چې د سولې غورځنګ د جوړيدو په غونډه کې د واحد ګوند لپاره د غونډې ګډون کوونکو برخه نه درلوده ،نو له دې کبله د سولې په غورځنګ کې د ټولو راټوليدل دستونزو سره مخامخ شو.
له دې څخه وروسته نور ګوندونه ، لکه د افغانستان ملي يووالي ګوند ، دافغانستان ملي ګوند ، د افغانستان دملي وحدت ولسي تحريک ، دافغانستان د خلکو انقلابي ګوند او نورې کړۍ اومحفلونه د ورته کړنلارو، تګلارو ،عملي چار چلند او کړنوسره منځته راغلل . خو د پخواني شريک کور ډير غړي د يوه واحد ګوند دجوړيدو په هيله له دې ګوندونو څخه بيرون پاتې شول اوهمدا يې غوښتنه وه ، چې که دابيلې بيلې ډلې سره يوځای کيږي ، نودوئ به هم په واحد ګوند کې برخه اخلي .
سره د دې چې دې ګوندونو ځانګړې تشکيلات درلودل اوخپلې ګوندي چارې يې يوله بل څخه بيلې مخکې بيولې ، خو هيڅکله دې ګوندونو يو د بل پر ضد نه کومه ناوړه خبره کړيده اونه يې کوم عمل سرته رسولی دی. دې ګوندونو ډير وخت ګډ دريځ درلود ، اوپه خاص ډول يې ، دافغانانو دملي ګټو څخه په شريکه دفاع کوله.

ورته کړنلارې اوتګلارې ، عملي ګډ دریځ او ددې ګوندونو ورته ټولنیزې اوشخصي اړیکې اوځانګړتیاوې ددې سبب شوي دي چې دا ګوندونه په پرله پسې ډول یوبل سره نژدې شي او دیو واحد ګوند په چوکاټ کې سره یوځای شي . همدا سبب و،چې په ۱۳۸۴ کال کې دافغانستان دسولې غورځنګ ګوند ، دافغانستان ملي ګوند اودافغانستان ملي یووالي ګوند وروسته له یو لړ خبرو اترو وپتیله چې سره یوشي . ددې ګوندونو دیووالي په خاطر یولړ کارونه سرته ورسیدل ، خو مخکې له دې چې تشکیلاتي یووالی منځته راشي دیووالي پروسه د ځینو نیمګړتیاوو له امله دستونزو سره مخامخ شوه او سرته ونه رسیده . خودیووالي د پروسې دې ځنډیدو ددې ګوندونو تر منځ دراشه درشه اویوبل سره داړیکو نیول زیانمن نه کړل. د وخت په تیریدو سره ټولو دې ګوندونو دشرایطو د پیچلتیا په درک کولوسر ه د دې ګوندونو یووالی ضروري وګاڼه او دیووالي د اوسني بهیر په هکله د مقدماتي خبروسرته رسیدو لپاره دافغانستان د سولې غورځنګ ګوند ، د افغانستان ملي یووالي ګوند ، دافغانستان ملي ګوند ، دافغانستان دملي وحدت ولسي تحریک اود افغانستان دخلکو انقلابي ګوند دمشرانو تر منځ خبرې اترې پیل شوې.

د مقدماتي خبروڅخه څرګنده شوه چې د سولې غورځنګ ګوند په موجوده حالاتوکې د نوموړو ګوندونو تر منځ یواځې د ګډدریځ پلوي و او د اورګانیک یووالي څخه یې ډډه کوله . د خلکو د انقلابي ګوند د مشرتابه له خبرو څخه څرګنده شوه ، چې ددې ګوند د ځینوغړو د مخالفت له کبله په اوس وخت کې دا ګوند د یووالي جوګه نه دی. خو د مقدماتي خبرو په نتیجه کې د افغانستان ملي یووالي ګوند ، د افغانستان ملي ګوند او د افغانستان ملي وحدت ولسي تحریک داسې عقیده درلوده چې د اوسنیو ستونزمنو شرایطو په پام کې نیولو سره ، دا ګوندونه هغه وخت

خپل ملي دین سرته رسولی شي چې د یوواحد ګوند په توګه خپلې سیاسي مبارزې ته دوام ورکړي . پته دې پاتې نه شي چې دیووالي لپاره د دې دریوګوندونو له موافقې څخه وروسته یو ځل بیا دسولې غورځنګ مشرتابه سره اړیکې ونیول شوې اودیووالي په خاطر د دې دریوګوندونو له موافقې څخه خبر کړل شول اوترې وغوښتل شول چې دیووالي له اوسني بهیر سره یوځای شي. خو دسولې غورځنګ ګوند بیا هم ونه شول کړای دیووالي داوسني بهیر سره یوځای شي.

ددې لپاره چې دنوموړو دریوګوندونو تر منځ د یووالي پروسه په بریالیتوب سرته ورسیږي ، پریکړه وشوه چې د انسجام مرکزي کمیسیون جوړ شي . ترڅو د راتلونکي واحد ګوند د جوړیدو په خاطر ګډه اعلامیه د ګوندونو دیوکیدو مکانیزم او د مکانیزم دپلي کیدو پلان منځته راوړي اود یووالي پروسه بشپړه کړي. ګډه اعلامیه ، چې په واقعیت کې زموږ دګوندونو د یووالي شریک پلاتفورم د ی ، د ۱۳۸۹ کال د سرطان په ۱۴ نیټه د انسجام دمرکزي کمیسیون له خوا درایو په اتفاق ومنل شوه. نوموړې اعلامیه چې تاسې ته ولوستل شوه ، د یووالي دمکانیزم اودمکانیزم دپلي کیدو پلان سره یوځای ستاسې په وړاندې پراته دي ، ترڅو ملګري دیووالي په هکله له هر څه څخه خبر اوسي . باید ډاډ درکړم چې په افغانستان اوله هغه څخه بهر ، چیرته چې د یووالي په پروسه کې شاملو ګوندونو سازمانونه اومینه وال شتون لري ، دیووالي پروسه په بریالیتوب سره په مخ روانه ده .په ډیرو ځایونو کې تشکیلاتي یووالی سرته رسیدلی دی او ګډې غونډې د جوړیدو په حال کې دي. باید وویل شي چې په ډیر کم وخت کې دیووالي په خاطر دومره زیات کار شوی دی ، چې کیدای شي دیووالي انقلابي بهیر نوم ورکړل شي . هیله ده چې دیووالي پروسه په بریالیتوب سره سرته ورسیږي اوکه کوم ځای وړې وړې ستونزې وي ، هغه هم په کم وخت کې اوارې شي. ترڅودکنګرې په

جوړېدو سره داسې يوملي وطنپال سرتاسري ګوند منځته راشي ، چې د ټولو وطنپالونکو ، ملي دموکراتو شخصيتونو اوډلو د راټوليدو بنسټ جوړکړي .
د کنګرې يا لوې شورا دجوړيدو اود استازو دټاکلو لپاره به د انسجام مرکزي کميسيون اړوند لار ښود جوړوي اودګوندټولو غړوته به يې رسوي، ترڅو د هغه له مخې د کنګرې د غونډې لپاره استازي وټاکل شي.
د واحد ګوند د جوړيدولپاره هلې ځلې به د ۱۳۹۰ کال دجوزا په مياشت کې د لوې شورا يا کنګرې په جوړيدو سره بشپړتيا مومي.په کنګره کې به دواحد ګوند کړنلار اوتګلار تصويبيږي اودتګلار سره سم به دګوند نوم دمشرتابه اورګانونه اودګوند مشر په دموکراتيک ډول ټاکل کيږي.
ديووالي دمکانيزم سره سم د واحدګوند د کنګرې په جوړيدو سره دانسجام دمرکزي کميسيون دنده پای ته رسيږي . د کنګرې په واسطه د مرکزي تشکيلاتو دمنځته راتګ څخه وروسته به په ټول ګوند کې د ګوند ومحلي اورګانونو د منځته راتګ لپاره ټاکنې سرته رسيږي . اوپه دې ډول به بيخي يو نوی ګوند ،چې وکړای شي خپلې ملي ورسپارل شوې دندې سرته ورسوي اودخپلوخلکو دهيلو اوغوښتنو سره سم د افغانانو دملي نواميسو ، ملي ګټو ، ملي يووالي او ملي هويت څخه دفاع وکړي ، د سياست ډګرته راووځي.
په افغانستان کې د يو ريښتياني ملي زعامت د نشتوالي له کبله ، چې وکړای شي د خپلو خلکوباورلاس ته راوړي او د خپلو خلکو په مټ د پرديو د تيريو او لاسوهنو مخه ونيسي اود يو سرلوړي مستقل هيواد په څير د خپلو خلکو له حقوقو او ملي ارزښتونو څخه دفاع وکړي ، زموږ هيواد د سترو ناورينونو ، بد مرغيو ، سپکاوي ، بربادۍ ، لوټ اوتالان سره مخامخ دی. نه يوازې دنړۍ ځبر ځواکونو او مافيايي قوتونو له افغان ملت څخه هر څه برمته کړي دي ، بلکې د دوئ لاسپوڅو ، ګاونډيو

هیوادونو ، په خاص ډول پاکستان او ایران ، هم د افغان ربنتیا نې ملي زعامت د نشتوالي له کبله افغانستان ته د یوې داسې مستعمرې په سترګه ګوري ، چې خپل هیڅ شی ونه لري ، ملي ارزښتونه یې تر پښو لاندې کړي ، اصیل افغاني هویت څخه یې بې برخې کړي او خپل اقتصادي او فرهنګي استعمار پرې وتپي . د دې کار لپاره ایران زموږ په هیواد کې بربنډه لاسوهنه کوي او د پیسو په زور یې اجیران نیولي دي ، چې په افغانانو کې قومي ، ژبني او مذهبي نفاق ته لمن ووهي او د دوئ دې لاسوهنو او سپکاویو ته د دوستۍ نوم ورکړي او په دې ډول د ایران سیاسي ،اقتصادي او فرهنګي واکداري په افغانانو وتپي .

پاکستان ، چې پخپله د برطانیې او امریکې لاسپوڅی رژیم دی او د هغوئ د توطیو څیرېنده ده او د هغوئ په مالي او نظامي مرستو ژوندکوي ، غواړي چې پر افغانانو په دې ۲۱ پیړۍ کې خپل استعماري واک ته دوام ورکړي . ډیر د اریانتیا او شرم ځای دی چې ځینې افغانان د پنجابیانو استعماري واک د ابدي کولو لپاره د دیورند د کر غیړنې کرښې د په رسمیت پیژندلو سره په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینګیدل تړي . دوئ نه پوهیږي ، چه په ټوټې شوي ، بې اتفاقه او بې زعامته افغانستان کې د سولې او ثبات ټینګیدل ناشوني دي ، نه دا چې ګنې د دیورند د کرښې نه پیژندلو سوله او ثبات له منځه وړي دي . همدارنګه پنجابیان غواړي چې افغانستان د دوئ د تولیداتو د خرڅلاو بازا ر او د اومو موادو منبع وي او افغانان یې د کلاسیک استعمار لاندې د تل لپاره ژوند وکړي. لکه چې شورویانو په خپل تیري او استعماري سیاست سره افغانان د اوږدې غمیزې سره مخامخ کړل ، امریکائیانو او متحدینو یې هم د تروریزم سر ه د مبارزې تر پلمې لاندې پر افغانستان باندې د خپل یرغل له لومړیو شیبو څخه را په دیخوا هره ورځ په لسګونو بی بیګناه افغانان له منځه وړي . دا لسم کال دی چې امریکایي او دناټو ځواکونه زموږ په

غمځپلي هیواد کې په جګړو اووینو تویولو او دکورونو اوکروندو په ویجاړولو بوخت دي . دوئ دسولې، امنیت ، سوکالۍ ، دموکراسۍ اوترقۍ پر ځای د افغانستان خلکو ته نه خلاصیدونکې او ویجاړونکې جګړې له ځان سره راوړې اوپر افغانانو یې داسې دولتي نظام وتاپه ، چې د افغانستان په ټول تاریخ کې دومره فاسد اوبې کفایته نظام کله نه و تیر شوی.

د دولت اکثره لوړ پوړي چارواکي دمخدره موادو او وسلونړیوالې مافیا اودبهرنیوهیوادونواستخباراتي شبکوسره تړلي دي او د هغوئ معاش خواره دي . دوئ په افغانستان کې د هغوئ له ګټوڅخه دفاع کوي اود خپلو خلکو پر ځای دپردیو په چوپړ کې دي . د دولت اکثر لوړ رتبه کارکوونکي په رشوت ، اختلاس او د خلکو دملي شتمنیو په لوټیدوکې یوبل سره سیالي کوي او دهر ډول غیرقانوني اود ملي ګټوضد اعمالو په سرته رسولو کې ازاد لاس لري . هیڅوک یې دمه مکې نه شته . په دې وروستیو ورځو کې له هیواد څخه د لسګونو میلیونو ډالر زمور دکړیدلو خلکو له سرمایې څخه په غلاویستل اود بهرنیوهیوادونوځنې په پټه د پیسو دبوجیو د اخستلو رسوایي څخه ، د یووړوکي مثال په توګه ، د اوسني رژیم دفساد ،په بهرنیو هیوادونو پورې یې تړل توب اودافغاني غوره خصلتونو څخه لیرې والی اودبهرنیوهیوادونو تر اغیز لاندې اوسیدل اټکل کیدای شي.

ددې پر خلاف د عاموخلکو ستونزې ،کړاوونه ، فقر ، لوږه اوناروغۍ له یوې ورځې څخه بلې ته ډیریږي او په سلګونو زره کونډې او یتیمان اودهوایي ړندو بمباریو ځنې دځان ژغورلو په خاطر بې ځایه شوي کسان په غیر انساني شرایطوکې وږي ، بربنډ اوناروغه په کنډوالو اوڅپریو کې مرګ ته شپې سبا کوي. نوځکه له یولږ شمیر کسانو څخه پرته ، چې دبهرنیوهیوادونو سره تړلي دي اودهغوئ سره یوځای دهیواد دملي

شتمنيو په لوټولو اود بيګناه خلکو په ځپلو اوله منځه وړلو کې لاس لري په اوسنۍ وضعه خوښ دي اودد ې ادامه غواړي ، نور ټول افغانان دبهرنيووسله والو ځواکونو اوکورنيو زور واکانو اوجګړه مارانو څخه کرکه لري او دسولې اوثبات ارمانجن دي .

څرنګه چې بهرني هيوادونه اود هغوئ لاسپوڅي د خلکو په وړاندې په سياسي درغليو ،توطيو ،ظلم ، استبداد اوغلاتورن دي ،نو ځکه يې پر ې خپل باور له لاسه ورکړی دی . اوس تر ډيرې کچې دخلکو سياسي پوهه لوړه شوې اوخپل دوست اودښمن پيژني . خلک پر هغه چا باور کوي چې د دوئ له ګټو څخه دفاع وکړي دروغ ورته ونه وايي اوله اوسني ناورين ځنې ورته دوتلو عملي لارې چارې وښايي . په دې کې شک نه شته چې دخلکو دباور لاس ته راوړل اوله اوسني ناورين ځنې ورته دوتلولارښوونه کول دکوم ځانګړي شخص اويا کومې محدودې ډلې کار نه دی. ددې کار لپاره يورښتياني ملي سرتاسري سياسي ځواک ته ، چې دهيواد ټول په وطن اوخلکو مين ملي وطنپال شخصيتونه اوډلې پکې برخه ولري ، ضرورت دی . يواځې دوطن پالونکو يوستر سرتاسري ګوند ياځواک کولای شي چې دخلکو باور وګټي ، خلک پوه کړي چې د دوئ ځواک په يووالي اونظم کې دی. کله چې خلک پوه شي اوخپل دباور وړ سياسي ګوندیا ځواک ولري ،نوبيا به څوک وي چې ددوئ په وړاندې ودريږي. هيڅ د خلکو ضد کورني او بهرني مخالفين اودخلکو دښمنان نه شي کولای چې دپوهه ولس دغوښتنو پر خلاف جګړو ته دوام ورکړي اويا سوله ايز ژوند يې په خطر کې واچوي. يا پرې لاسپوڅي حکومتونه وتپي اوپه خپل هيواد کې پرې مفسدين مسلط او حقوق يې تر پښو لاندې کړي. پوهه اوپه اتفاق افغان ولس کولای شي د بهرنيو تيريو اولاسوهنو مخه ونيسي اودخپل هويت ، ملي ارزښتونو او شتمنيو څخه دفاع وکړي.

د پورتنیو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره ، په دې هیله چې یو سرتاسري د ټولو په خپلو خلکو اوهیواد مینو افغانانو یو ربښتیانی ملي د خلکو د باو ر وړ سیاسي ځواک منځته راشي ، موږ دریو ګوندونو وپتیله چې په پوره صداقت سره خپل اورګانیک یووالی بشپړ کړو او په دې ډول په دې حساسو شیبو کې چې د افغانانو ملي هویت د نشت له خطر سر ه مخامخ دی خپل ملي او اسلامي دین سرته ورسوو. نوځکه موږ ټولو تیر هیر کړی او په هرډول تاویلو ماویلو، ذهني ګریو او بې اتفاقیو مو خاورې اړولې دي او په دې ارمان راپاڅیدلي یو ، چې دخپلو خلکو سره یو ځای شو او دخلکو په زور په افغانستان کې یوه تلپاتې سوله منځته راشي او د ټینګ ملي یووالي په موجودیت کې افغانان پخپله خپل برخلیک وټاکي. هیواد وال مو د بهرنیو مستبدینو ، لوټمارانو ، توطیه ګرانو ، نفاق اچوونکو او د دوئ د لاسپوڅو د ظلم ، استبداد ،توطیو اولاسوهنو څخه وژغورل شي. په هیواد کې یورښتیانی ملي دموکر اتیک دولتي نظام ، چې دټولو افغانانو له ګټو ،حقوقو او یووالي څخه دفاع وکړي اوله هر ډول فساد څنې پاک وي منځته راشي او ټینګ شي. تر څو د نړی د نورو هیوادونو سره د متقابل درناوي ، متقابلو ګټو اوپه کورنیو چار و کې د نه لاسوهنو پر بنسټ سیاسي دیپلوماتیک اړیکي ټینګ کړي اوپه دې ډول موهیواد دنورو سیالو هیوادونو سره سیال شي.
موږ به هله په خپلو هیلو کې بریالي اوسو، چې په ربښتیا سره یو سرتاسري ملي دموکرات ګوند ، چې د بهر نیو له نفوذ څنې پاک ، توطیو څخه خوندي اوله فرکسیون بازیو نه بیزا ره وي ، منځته راوړو. همداسې یوګوند کولای شي چې دنورو ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو سره پر یو شر یک پلاتفورم راټول شي او په ګډه په هیواد کې دملي زعامت تشه ډکه کړي. که افغانان خپل زعامت ولري ، بیا به هیڅوک دې ته زړه ښه نه کړي چې په لوی لاس د افغانانو دښمني واخلي اولکه چې اوس

ورته ګوري په داسې سپکه ورته وګوري. نوی ګوند باید د ټولو افغانانو ګوند وي ، هر افغان پکې ځان ووینې او دخپلو ګټو او حقوقو مدافع ګوند یې وبولي باور پرې وکړي او ملاتړ ترې وکړي. یانې نوی ګوند باید د ټول ملت دملي ګټو مدافع ګوند وي.
نوی ګوند هغه وخت کولای شي د خپلو خلکوباور او ملاتړ ترلاسه کړي ، چې دخلکو په خیر ژوند وکړي او نه یوائې دخلکو غوره عنعنو ، دود او دستور اوعقیدې ته درناوی وکړي ، بلکې پخپله پرې پابند او ټینګ اوسي. هر هغه عمل چې د اسلام د مقدس دین داصولو ، دخلکو د غوره عنعنواوملي ګټو سره مغایرت ولري ، نوي ګوندته به دمنلو وړ نه وي.
دتیرو ترخو تجروبوځنې په عبرت اخستو سره نوی ګوند باید د هر ډول ځان غوښتنې ، تعصب ، تبعیض ، فساد او فرکسیون بازیو څخه پاک ګوندوي ، سیاسي تقوا ولري ، د خپلو خلکو ملي ګټې تر هر ډول شخصي اوګروپي ګټو څخه لوړې وګڼي او په عمل کې ثابته کړي ، چې د خپلو ملي نوامیسو ،ملي یووالي اوملي هویت ځنې د دفاع په لار کې هر ډول قربانۍ او سر ښندنې ته تیار دی .

---

*- دا لیکنه د ۱۳۸۹ کال د قوس پر ۲۱نیټې د نوي یوشوي واحدګوند په لومړۍ غونډې کې چې دهالند په امستردام ښار کې جوړه شوې وه ولوستل شوه .

## وايي: موچي ته هغه ځي چې پښې يې سوزي*

په دې ۳۲ کاله ناورين کې ، چې پر افغانستان باندې د شورويانو له تيري څخه راوزيږيد ، افغانانو هرڅه له لاسه ورکړل . که د ميليونونو د مرګ ژوبلې څخه تير شو ، نو افغانانو نه يوازې د تير تاريخ ټولې لاسته راوړنې او ملي شتمنۍ له لاسه ورکړې ، بلکې خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا يې د پرديو ستراتيژيکو موخو لپاره د تيريو ، لاسوهنو ګواښونو او سپکاويو سره لاس او ګريوان دي.

ځبر ځواکونه او ګاونډيان د افغان ملت په برخليک لوبې کوي . پر افغانستان لکه د يوې لامالکه ځمکې په څير نور هيوادونه يوبل سره سيالي کوي او چنې وهي . هر ټړون چې تر اوسه پورې د افغانستان د چارواکو سره شوی دی او يا تر لاس لاندې دی د اسارت ناتوانۍ او بيوسۍ بوی ورکوي. حتی ګاونډي ايران او پاکستان موږ ته د اسيرانو او داسې بيواکانو او بيوسانو په سترګه ګوري چې خپلواک نه يو ، تل نورو ته د دوئ په شمول محتاج يواو خپل هيڅ شی نه لرو . دا چې ولې دا په سيمه کې د جيوستراتيژيک تر ټولو غوره موقعيت لرونکی شتمن افغانستان او افغان باتور ، په خپلې خپلواکۍ مين ملت درې لسيزې کيږي ، چې د پرديو د تيريو او توطيو سره مخامخ دی او ځان ترې نه شي خلاصولی ، څو بنسټيز علتونه لري:

لومړی- د ځان څخه د دفاع وس لا هغه وخت افغانانو له لاسه ورکړ چې افغانستان د ۱۹ پيړۍ په اخر کې د انګريزانو د استعماري توطيو ښکار شو . چې له کبله يې طبيعي افغانستان په دريو ټوټو وويشل شو او تر اوسه دغه استعماري توطيې دوام لري او لاپسې پراخيږي او ژوريږي.

دويم-د افغانستان د خلکو دښمنانو د خپلو پراختيا غوښتونکو موخو ته د رسيدو په خاطر د افغانانو تر منځ تل قومي ، ژبني ، مذهبي او سيمه

ایزو توپیرونو ته لمن وهلې ده او تر هر بل وخت په دې وروستیو دریوولسیزوکې دافغانانو د ملي یووالي د کمزوري کیدو لپاره ډیر کار شوی دی . په منظم ډول د دې توطیې د پلي کیدو لپاره د ګاونډیو هیوادونو له خوا ډیرې پیسې په کار لویږي او یو شمیر په دې پیسو اخستل شوي افغانان د خپلو ناځیزو شخصي ګټو لپاره د افغانستان د خلکو ګټې تر پښو لاندې کوي او د افغاانانو د سوله ایز ژوند او نیکمرغۍ د دښمنانو د توطیو د پاره کار کوي . چې په دې ډول ، ددې پر ځای چې افغانان د یوواحد ملت په توګه د خپلو ملي نوامیسو او ګټو څخه دفاع وکړي ، افغان ملت د بې اتفاقۍ او پر یو بل باندې د بې باورۍ په پلندۍ کې ننښلوي.

دریم-بهرنې تیري کوونکي هیوادونه د خپلو پراختیا غوښتونکو پلانونو په وړاندې هیڅ ډول خنډ نه شي زغملی. د افغانانو د بې اتفاقۍ او نورو کمزورتیاوو څخه په ګټې اخستو سره یې تل د ملي وطنپالو ځواکونو او شخصیتونو په وړاندې توطیې په کار اچولي او هر ملي خوځښت او بدلون یې ځپلی او ملي حکومت یې نسکور کړی او پر ځای یې خپل ګوډاګی حکومت په خلکو تپلی دی . څرنګه چې افغانان ګوډاګي حکومتونه نه مني ، نو ځکه د تیري کوونکو ځواکونو او افغانانو تر منځ جګړې نښتې دي او په دې جګړو کې د بې اندولۍ له کبله افغانانو ته تل زیاته مرګ –ژوبله او بربادۍ په برخه شویدي . دا درې لسیزې په همدې ډول تیرې شوې چې د افغانستان مظلوم خلک یې د یوې نه پای ته رسیدونکې غمیزې سره مخامخ کړي دي .

څلورم-د ملي شخصیتونو او ځواکونو نه یووالی ، بل هغه عامل دی چې په افغانستان کې د داسې ملي زعامت ، چې د خلکو د باور او ملاتړ وړ وګرځي ، یوه تشه منځته راوړې ده. د اوسنیو ستونزو څخه د خلکو د وتلو د پاره خلک خپل رښتیاني ملي زعامت ته اړتیا لري . د باور وړ ملي

زعامت د نشتوالي په صورت کې تيت پرک ، بې اتفاقه ،د دښمنانو د شيطاني پلانونو ځنې غافله او له خپل زور څخه ناخبره خلک نه شي کولای د پرديو او د دوئ د لاسپوڅو له توطيو څخه ځان وژغوري. نو ځکه بايد د دې ټولو علتونو په پام کې نيولو سره د اوسنيو ستونزو څخه د افغانانو د وتلو لارې چارې ولټول شي او د پلي کيدو دپاره يې هلې ځلې پيل شي.

خو بايد ومنو چې هيڅ بهرنی هيواد او وسله وال پوځ نه شي کولای او يا نه غواړي چې افغانان دې د اوسنيو ستونزو څخه ووځي او سوله ايز سوکاله او خپلواک ژوند ولري. بهرنيو هيوادونو پورې تړلي حکومتونه چې د خپلو خلکو له ملاتړ څخه برخمن نه وي هم په دې هکله څه شی نه شي کولای. تړلي حکومتونه د خپل هيواد او خلکو د ګټو پر ځای تل دخپلو بهرنيوملاتړ کوونکو ګټې او غوښتنې په پام کې نيسي. همدا سبب دې چې هيڅ ګوډاګی حکومت د افغانستان د خلکو په منځ کې ځای نه لري او ملاتړ يې نه شي تر لاسه کولای. تاريخ ثابته کړيده چې بهرنيوهيوادونو ، په تيره بيا ، کله چې د وسله والو ځواکونو سره افغانستان ته راغلي دي ، بې له جګړو ، غمونو او برباديو څخه يې نور څه افغانانو ته نه دي راوړي. دوئ يوائې د دوستۍ او مرستې لاپې وهي ، خو هيڅکله يې د افغانستان خلکو ته د دوستۍ په سترګه نه دي کتلي او مرسته يې ورسره نه ده کړې. بهرنيو هيوادونو د خپلو لاسوهنو او راتلونکو توطيولپاره د افغانانو په منځ کې اجنټان په پيسو اخلي او د هغوئ پواسطه د افغانانو تر منځ د قوم ، ژبې او مذهب په نومونو بيلوالي ،بې اتفاقۍ او دښمنۍ ته لمن وهي ، تر څو افغانان دا وړتيا او وس ونه لري چې له خپل ځان څخه دفاع وکړي. د افغانانو د ټولو غمونو ، کړاوونو ، وروسته پاتې والي او بدمرغيو عاملين بهرني تيري کوونکي او د دوئ په پيسو اخستل شوي اجنټان دي.

هغه توطيې چې انګريزي استعمارچيانو د خپلو استعماري ګټو او په راتلونکي کې دافغانانو پرضد د شيطاني پلانونو د پلي کولو لپاره په ۱۸۹۳ کال کې د ډيورنډ د کرښې په تپلو سره دجګړې په ډګر کې له ماتې څخه وروسته سرته ورسولې ، لا تر اوسه ترې ځان نه شو ژغورلی .
انګريزانو د دې کرغيړنې کرښې د تلپاتې والي لپاره نه يواځې دافغانانومنځ کې د قوم ، ژبې او مذهب په نومونو بې اتفاقيو ته لمن ووهله ، بلکې د دې کرښې د مشروعيت لپاره يې ټنګه سري پردي پال ډنډورچيان پيدا کړل ،چې د استعمار پواسطه د افغان واحدملت دا غاصبانه او غير مشروع ويش د افغانانو په خپله خوښه وښايي او د کوزو او برو نومونه پرې کيږدي . په هغه اندازه چې استعماري ځواکونو د افغان واحد ملت د ويشلو لپاره شيطاني پلانونه جوړ کړل او جوړوي يې ، له هغه څخه زيات د دوئ تالي څټي په پيسو اخستل شوي اجنټان ، د قوم ژبې او مذهب په تعصب کې ډوب ليونيان د افغانانو د ويشلو لپاره د استعماري پلانونو د برياليتوب لپاره کار کوي او په ډيرې بيشرمۍ د انګريزي استعمار په واسطه د افغانستان او افغانانو ويشلو ته په خپلو ناولو ذهنيتونو سره مشروعيت ورکوي او په دې ډول دخپل هيواد ( له آموڅخه تر اباسينه پورې تاريخي او طبيعي افغانستان ) د ځمکنۍ بشپړتيا سره خيانت کوي . دې پردي پالو عناصرو ته د خپلو افغانانو سره سرلوړي خپلواک ژوند کولو څخه د بهرنيو استعماري ځواکونو تر واک لاندې د اسارت او سرټيټۍ ژوند خوند ورکوي او په دې ډول ويلای شوچې دوئ د افغانانو ټول صفتونه ، وياړونه او حقوق له لاسه ورکړي دي ، خبرې او څرګندونې يې اعتبار نه لري.
د انګريزي استعمارچيانو دې سترې توطيې چې د پنجابيانو تر سلطې لاندې د پاکستان په وجود کې دوام لري له افغانانوڅخه د خپل هيواد ځنې د دفاع وس اخستی دی . نوځکه په ټوله نړۍ کې به داسې ولس پيدا

نه شي چې دومره اوږدې جګړې پرې وتپل شي ، دومره سترو ځاني ، مالي او معنوي زیانونو سره مخامخ شي او په ټوله نړۍ کې د خپلواکۍ سره د مینې له کبله مشهوروي ، خو په ۲۱ پیړۍ کې هم د آستعمار څخه د خلاصون لار ترې ورکه وي. دا چې ولې افغانان تل له بهرڅخه د تیریو ، لاسوهنو او استعماري توطیو سره مخامخ دي او د دوستۍ پر ځای ورسره دښمني کیږي څو علتونه لري:

اول دا ، چې په افغانانو کې دوئ ( بهرنیان ) د تابعیت او اسارت د منلو استعداد نه ویني او فکر کوي چې په زور سره به یې د ځان تابع کړي او په ځپلو سره به پرې اسارت ته غاړه کیږدي.

دویم دا ، چې خدای پاک (ج ) په خپلې سترې پادشاهي کې افغانانو ته د اوسیدلو ډیر غوره ځای ورکړی دی او د نړۍ په سر نور حریص او ظالم ځواکونه د افغانانو ټاټوبی ( افغانستان ) د خپلو ګټو لپاره په خپله ولکه کې راوستل غواړي. خو افغانان هم ورسر ه ډیره مینه لري او په خپله خوښه او اسانۍ یې بل چا ته نه پریږدي. نو ځکه خونړۍ جګړې منځ ته راځي ،چې افغانانو ته پکې زیات وخت ډیر ځاني ،مالي او معنوي زیانونه اوړي ،خو هیڅ یرغلګرهم بیرته روغ رمټ نه دی تللی.

دریم دا ، چې استعماري ځواکونه په دې اند دي چې په اوسنیو شرایطو کې افغانان د تیرو استعماري توطیو له کبله ټوټه ټوټه او کمزوري شوي دي او هم داسې کسان پکې پیدا شوي دي ، چې د خپلو ناځیزو شخصي ګټو لپاره ځانونه خرڅولای شي اود دې پر ځای چې د خپلو ملي نوامیسو ( خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ) څخه دفاع وکړي ، د خپل هیواد او خلکو په وړاندې خیانت کوي ، ځانونه په پردیو خرڅوي او د هغوئ د غلامۍ غړوندې په خپلو غاړو کې اچوي.

څلورم۔ځینې کسان بیا د غمیزې څخه د ژغورلو لار د غمیزې د عاملینو ترحم ، مرسته ترلاسه کول ګڼي او د تیري کوونکو سره سازش او

تسلیمیدل له مبارزې څخه په ګټه بولي . که ملي ضد کړی د بهرنیو تیري کوونکو سره د افغانستان په اشغال کې خپلې ګټې شریکې ګڼي ، نو اپورچونستان هم د پردیو له تیري او اشغال نه ترڅو یې وسه کیږي ځانونو لپاره د ګټو په لټه کې وي. چې دا دواړه ډلې د بهرنیو تیري کوونکو د پام وړ ګرځي او د خپلو موخو د لاسته راوړو د پاره ترې ګټه اخلي.
باید ومنو چې هیڅ بهرنی هیواد او د دوئ وسله وال ځواکونه نه شي کولای اونه غواړي چې افغانان دې له اوسنیو ستونزو څخه ووځي او سوله ایز ، سوکاله او خپلواک ژوند ولري. بهرنیو هیوادونو پورې تړلې حکومتونه ، چې د خپلو خلکو له ملاتړ څخه برخمن نه وي ، هم خلکو ته د سوله ایز سوکاله ژوند د شرایطو د منځته راوړو جوګه نه دي. یواځې خلک کولای شي او دا وس لري چې په خپل ټینګ یووالي او خپل ملي زعامت په منځته راوړو سره د پردیو له خوا د پردیو د ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره پر افغان ولس تپل شوې جګړې ، کمزورتیاوې او توطیې ، چې اوسنی ناورین یې منځته راوړی دی له مخې لیرې کړي او ځان پخپله له اوسنیو ستونزو او غمیزې نه وژغوري. ځکه چې : « موچي ته هغه ځي چې پښې یې سوزي » . هغه څوک چې په اوسنیو ستونزو کې ښکیل دي هرو مرو ترې ژغورل غواړي. هر څوک چې وي – روښانفکر وي که قومي مشر ، دیني عالم وي که روحاني شخصیت ، سیاست پوه وي او که د طبیعي علومو متخصص ، بزګر وي که کارګر ، هر څوک چې وي او د اوسنۍ ستونزمنې وضعې او ناخوالو څخه ضررویني او ترې وتل غواړي دا ټول مجبور دي چې له اوسنۍ غمیزې څخه د وتلو لار ولټوي. همدا یوه وړه جمله چې: نور باید موږ پخپله له اوسنۍ غمیزې څخه ځان وژغورو ! بس ده چې پرې د ټول افغانستان خلک راټول شي. هغه خلک چې د بل چا له خوا او ګټو د پاره بل شوي اور کې یې هرڅه له لاسه ورکړل. په دې ډول

به د سوله غوښتونکو افغانانو څخه د ژغورنې داسې یو سر اسري ملي ځواک جوړ شي چې هیڅوک به یې د مقابلې توان نه لري.
له آمو څخه تر اباسینه پورې سیمې کې ټول میشت خلک ، چې د جګړو ، تروریستي اعمالو ، پاکستاني او ناټونظامي عملیاتو او بې پیلوټه امریکایي الوتکو بمباریو کې ستر ځاني ، مادي او معنوي زیانونه ګاللي دي افغانان دي . دوئ یو د بل ورونه او ټول یوشان د بهرنیو او کورنیو دښمنانو د ظلم ، جبر او توطیو سره مخامخ دي . که ددې سیمې ټول خلک خپل ملي یووالی ټینګ کړي او د یو واحد ملت په توګه ( چې بې له دې څخه د ژغورنې بله لار نه شته ! ) د شریکو دښمنانو په وړاندې په یوه چیغه ووایي چې نور مو نه پرېږدو چې مو رېبیل ، مړه او وطن مو وران کړئ نو بې شکه چې د اوسنۍ غمیزې څخه د وتلو او خپلو سپیڅلو هیلو ته ، چې په خپلواک ، لوی او سر لوړي افغانستان کې د سرلوړو افغانانو په خیر اوسیدل دي ، د رسیدو شعار خپل کړ او د افغان واحد ملت پر دښمنانو او لاسپوڅو یې د بریالیتوب بیرغ جګ کړ.
په دې کار سره چې د دې سیمې ( له امو څخه تر اباسینه پورې ) ټول خلک د افغان په نوم خپله چیغه وباسي ، د انګریزانو د استعماري توطیو څخه نیولې تر اوسه پورې د افغانانو د بیلتون او بې اتفاقۍ اور ته د لمن وهلو ټولې توطیې له منځه ځي او زموږ د خلکو دښمنان ،کورني وي که بهرني مختوري کیږي او تیښتې ته مجبوریږي . په دې ډول که له یوې خوا د خپلو ژغورلو لپاره افغانان په خپل طبیعي لوی افغانستان کې یو کیږي ، نو له بلې خوا پر افغانانو باندې د بهرنیو هیوادونو تیریو ، لاسوهنو او نورو توطیو تر څنګ د لاسپوڅو حکومتونو تپل له منځه ځي.
همدارنګه د افغانانو د یووالي د پاره د مبارزې په پروسه کې رښتیني ملي وطنپال شخصیتونه او ډلې د عمل په میدان کې د خلکو د باور او ملاتړ وړ ګرځي ، چې په دې سره د ملي زعامت اوسنۍ تشه ډکیږي . نو

کله چې افغانان یو شي او خپل ملي زعامت ولري بیا « تاریخ جوړوي » . نو ځکه باید ومنو چې یواځې د افغانستان خلک کولای شي په خپل یووالي او د ملي زعامت په منځ ته راوړو سره خپل هیواد د بهرنیو هیوادونو د تیریو او لاسوهنو ځنې د راځیرېدلې غمیزې څخه وژغوري ، نه بهرني هیوادونه ، د دوئ وسله وال ځواکونه اویا دوئ پورې تړلي لاسپوڅي حکومتونه.
ځینې تش په نامه « سیاست پوهان » او تنخواه خواره ، چې تر ډیرې اندازې د افغانانو د غمیزې له اغیز څخه بچ پاتې دي اوحتی امتیازونه یې لاسته راوړي دي او ګټې یې کړې دي ، نه یواځې د اوسنیو ستونزو څخه د افغانانو د وتلو سمه لار نه شي ښودلای ، بلکې هڅې کوي په یو ډول نه یو ډول خپلو امتیازونو او ګټو لاسته راوړو ته دوام ورکړي. دوئ له اوسنیو ستونزو څخه د افغانانو دژغورلو چارې د افغانانو پر ځای په بل چا پورې تړي. دوئ غواړي چې د افغانانو د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه د افغانانو پر ځای د بهرنیو هیوادونو وسله وال ځواکونه د خپلو دایمي پوځي اډو په جوړولو سره ساتنه وکړي. دا کسان غواړي په هغو پوځونو زموږ د ملي نوامیسو څخه دفاع وکړي ، چې په خپل تیري او اعمالو سره یې زموږ ځنې هر څه لوټ کړي او یو رښتیانی ناورین یې پر افغانانو تپلی دی.
خو هغه ملي وطنپال شخصیتونه او ډلې چې یو ځای یې د خپلو خلکو سره له بهر څخه د تپل شوې غمیزې مزه څکلې ده او په رښتیا سره غواړي چې د خپلو خلکو او هیواد د ژغورلو د پاره مبارزه وکړي باید پوه شي چې دا ژغورنه یواځې او یواځې د ټولو افغانانو ، له امو څخه تر اباسینه پورې ، د یو متحد ستر ویښ ملت په وجود کې شونې ده او بس. دې ارمان ته د رسیدو په خاطر باید ټول ملي وطنپال شخصیتونه او ډلې سره یو شي او د ټول افغان ملت د راویښولو او یو کولو لپاره متې راونغاړي . د ستر

افغانستان ټولو ملي وطنپالو شخصیتونو او ډلو ته وړاندیز کیږي ، چې د « افغانستان او افغانانو د ژغورلو دپاره » د مبارزې تر عنوان لاندې په یوې جبهې کې راټول شي او د خپلو خلکو او هیواد په وړاندې خپله ملي او اسلامي دنده او فریضه سرته ورسوي.

و من الله التو فیق

*ـ دا لیکنه د ۱۳۹۰ کال د ځمري په ۲ نیټه په کابل کې د واحد ګوند دلوې شورا په غونډه کې لوستل شوې او د ۱۳۹۰ کال د ځمري په ۲۲ نیټه د « یووالي » په جریده کې خپره شوې ده.

# د افغانستان او امریکې تر منځ ستراتیژیک تړون په هکله*

په افغانستان کې د دولتي او خصوصي رسنیو د خبرونو له مخې ډیر ژر به په کابل کې یوه عنعنوي لویه جرګه جوړه شي ، چې بنسټیزه موخه به یې په افغانستان کې د امریکې د وسله والو پوځونود دایمي اډو په اړوند د یو ستراتیژیک تړون څیړل او په هکله یې پریکړه کول وي. همدارنګه د لوې جرګې د اجندا دپاره د سولې د ټینګیدو مکانیزم ، د نړیوالو ځواکونو څخه افغان لوري ته د امنیتي چارو د مسؤلیت لیږدول او د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د نورو هیوادونو سره د افغانستان د اړیکو څرنګوالی ښودل شوی دی. بې ګټې به نه وي چې په دې اړوند یو څه رڼا واچول شي ، چې د دغه ستراتیژیک تړون له مخې په افغانستان کې د امریکې د دایمي پوځي اډو جوړول افغانانو ته څه ګټه او څه تاوان لري ؟. مخکې له دې چې وروستنۍ پایلې راوباسو ښه به دا وي چې دا لاندې واقعیتونه په کلکه په پام کې ونیول شي :

لومړی : ټول ځبر ځواکونه د وروسته پاتې هیوادونو سره یواځې د خپلو ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره نابرابر اړیکي ټینګوي. یو ځبر ځواک به هیڅکله د یو وروسته پاتې هیواد لکه افغانستان سره د متقابلو ګټو ، متقابل درناوي او په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې پر بنسټ کوم تړون لاسلیک نه کړي ، بلکې د یو ځبر ځواک سره ستراتیژیک تړون به یواځې د ځبر ځواک د ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره وي او هیڅکله پکې مساوي ګټې او حقوق په پام کې نه نیول کیږي. د یو ځبر ځواک سره د یو وروسته پاتې کمزوري هیواد په تړون کې په ټول تاریخ کې هڅه دا سې وي چې د کمزوري هیواد په خلکو کې د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ ، ځمکنۍ

بشپړتیا ، ملي یووالي ، ملي هویت ، ملي اقتصاد ، ملي ژبې او ملي فرهنګ ارزښتونو ته د درناوي کچه د بې تفاوتۍ تر سطحې راټیټه شي او د ځبر ځواک د سیاست ، اقتصاد او فرهنګ تر اغیز لاندې د خپل مستقل پرمختګ او شتون وړتیا له لاسه ورکړي او په دې ډول تل په ځبر ځواک پورې تړلي وي. د یو ځبر ځواک او وروسته پاتې کمزوري هیواد تر منځ هیڅ داسې یو ستراتیژیک تړون نه شته ، چې له هغه څخه د دیکتې او تابعیت او حاکمیت او محکومیت بوی لاړ نه شي.

دویم : د امریکې د متحده ایالتونو او افغانستان تر منځ ستراتیژیک تړون د یو ځبر ځواک او بیوزله جګړو ځپلي هیواد ، چې هر څه یې له لاسه ورکړي دي ، تړون دی. د دغه ستراتیژیک تړون د مسودې له موادو ځنې څرګندیږي ،چې دا تړون یوائې د امریکې د ستراتیژیکو موخو او ګټو لپاره سرته رسیږي. د دې تړون له متن څخه څرګندیږي چې د دې تړون د یوشمیر موادو په عملي کیدوسره د افغانستان ملي حاکمیت د پوښتنې لاندې راځي . د مثال په ډول د افغانستان هوایي حریم او قلمرو به د امریکایانو له خوا تر څارنې او کنترول لاندې وي . امریکایي ټولې الوتکې او ځمکنۍ وسیلې ضرورت نه لري چې افغانستان ته د ننوتلو او بیرون تللو په وخت کې افغان لورى خبر کړي او یا اجازه ترې وغواړي او یاولټول شي. همدارنګه هر هیواد چې د خپل ملي حاکمیت څخه برخمن وي باید د هغه هیواد قوانین په ټولو اوسیدونکو یوشان پلي شي . کورني او بهرني اتباع باید یو شان د قانوني چلند سره مخامخ شي. خو په دې تړون کې داسې نه دي. که یو امریکایي د یو جنایت مرتکب هم شي ، افغان محاکم حق نه لري چې هغه محاکمه او یا تر پوښتنې لاندې ونیسي. هغه به امریکایي مقاماتو ته سپارل کیږي. نه یوائې د امریکایي پوځیانو په هکله باید داسې وشي ، بلکې هر څوک چې دامریکاد پوځیانو سره وي او یا یې په خدمت کې وي ،که څه هم هغه افغان وي، باید ورته چلند

ورسره وشي. امریکایان حق لري د دې تړون له مخې په مستقل ډول په هر ځای کې چې وغواړي اډې جوړې کړي ،پراخه یې کړي ، بې له دې چې افغان لوری ترې خبر وي. همدارنګه امریکایان د خپلو ټولو تاسیساتو د مالیې له ورکولو څخه معاف دي. په تړون کې هیڅ ډول د افغانستان د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د خوندي توب څخه د ملاتړ ژمنه نشته. امریکایي وسله وال ځواکونه په خپلو عملیاتو کې ، د شپې له خوایې کوي او که دورځې له خوایې کوي ،خلاص لاس لري. یوازې که چیرته کومه پیښه منځته راشي،نو په اصطلاح «مشترکه کمیټه» به پرې خبروي ، چې د دې کمیټې مشري به د امریکایانو سره وي. داسې نور ډیر مواد شته ،چې د ستراتیژیک تړون منځپانګه د افغانستان د ملي ګټو او حاکمیت سره سمون نه لري.

دریم: په داسې وخت کې چې د امریکې پوځي اډې به یوازې د امریکې د ستراتیژیکو موخو د پاره خپل شتون ته دوام ورکوي او د افغانستان خلکو ته به یې هیڅ ډول سوله ایز پیغام او کومه مادي او معنوي ګټه نه رسیږي ، نو بیا په افغانستان کې د یو بهرني ځبرځواک د پوځي دایمي اډو شتون کوم سیاسي ، اقتصادي ، دفاعي او معنوي ارزښت لري ، چې د « لو یې جرګې غړي» به قانع کړي ، چې مثبته رای ورکړي. په خاص ډول کله چې په تیرو لسو کلونو کې د لویې جرګې غړو په خپلو سترګو د امریکایي پوځونو بیرحمۍ لیدلي دي ،چې د بیګناه خلکو په ودونو ، جرګو او جنازو یې بمونه ورولي دي او په زرګونو بیګناه ښځې ، ماشومان او بوډاګان یې په خپلو کورونو کې په توره شپه په ګولیو غلبیل کړي او یا یې ژوندي د تروریستانو په نوم زندانونو ته اچولي دي. امریکایانو د افغانانو دود دستور ، ملي غرور او معنوي ارزښتونه په ډیر کرغیړن ډول تر پښولاندې کړي دي او د افغانستان د خلکو د ملي یووالي او سولې د ښمنان ، جنګ غوښتونکي ، د مافیایي شبکو غړي ، قاچاق وړونکي او

مفسدين يې په افغانانو تپلي دي. نو بیا به هم د لویې جرګې غړي هیله لري ګنې د امریکې پوځي اډې به د افغانسان خلکو ته کومه ښېګڼه راوړي ؟. همدارنګه کله چې د ۱۵۰۰۰۰ امریکايي او ناټو وسله والو پوځونو په موجودیت کې په افغانستان کې جګړې اونا امنۍ ، د مخدره موادو کاروبار، اداري فساد او د عامو افغانانو فقر ، بې کوري او بیکاري زیات شول او د ګاونډیانو لاسوهنې او تیري دوام لري ، نو آیا د امریکاد دایمي اډو په موجودیت کې به دا موجوده وضع دوام ونه لري ؟.
څلورم: افغانستان له ډیر وخت راهیسې ،حتی په دویمه نړیواله جګړه کې د یو ناپییلي هیواد په څیر د دغه جګړې د ناوړه پایلو څخه خوندي پاتې شواو د هغه وخت د دولت دا دریځ د افغانانو د تایید وړ وګرځید او په نړۍ کې هم د یو ناپییلي مستقل هیواد په څیر یې د ناپییلو هیوادونو په لیکه کې خپل وړ ځای وموند . تر څو په افغانستان کې پخپله کورنۍ ستونزې منځته را نه غلې او د افغانستان دریځ یې د عنعنوي ناپییلتوب نه د ځینو بهرنیو هیوادونو سره په نژدیوالي کمزوری نه کړ ، له بیرون څخه د نورو هیوادونو له خوا د لاسوهنو او توطیو سره نه شو مخامخ کیدای. په افغانستان کې د امریکې په مشرۍ د ناټود هیوادونو وسله والو پوځونو شتون افغانستان ، چې د اسیا په زړه کې پروت دی ، دامریکا او اروپا سره په یوې شلیدلې ، په ښکاره پیړې خوپه منځ کې شړیدلې ، رسۍ تړلی څرګندوي. خو واقعیت داسې دی ،چې نه غربیا ن دا رسک قبلولی شي چې د افغانستان د ګټو د پاره لږ څه ستونزې ومني او نه د افغانستان مطلق اکثریت خلک دې ته تیار دي چې خپلې ستونزې په بل چا اواري کړي. او نه څوک د افغانانو د ستونزو د اوارولو دپاره دلته راغلي دي. د افغانستان ټول نژدې او لیرې ګاونډیان پوهیږي چې امریکا او متحدین د خپلو ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره افغانستان ته راغلي دي. نو ځکه د سیمې هیوادونه یې دې ته را پارولي دي چې د افغانستان

ستونزې څخه د شادو ټپ جوړ کړي. ټول پکې د خپلو موخو د پاره ګوتې ووهي او په يو ناسور يې واړوي، چې روغيدل يې ناشونی وي. هر څومره چې د خپلو موخو دپاره د بهرنيو هيوادونو لاسوهنې کميږي په هماغه اندازه په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټينګيدو امکانات ډيريږي. څرنګه چې په افغانستان کې د دايمي اډو جوړول نژدې او ليرې د سيمې هيوادونه لاسوهنو ته راپاروي او د ستونزو د اوارۍ دپاره د افغانانو خپلواکي د سوال لاندې راځي نو ځکه دا ډول اډې په افغانستان کې د سولې او ثبات منځته راتلو او ټينګيدو سره هيڅ مرسته نه شي کولای.

پنځم: د افغانستان له خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه تل پخپله د افغانستان خلکو دفاع کړيده، نه بهرنيو ځواکونو. د تاريخ په اوږدو کې، کله چې زموږ خپلواکي، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا د بهرنيو له خوا د تيري او خطر سره مخامخ شوي دي، د افغانستان خلک دفاع ته راوتلي دي او تر هغه جنګيدلي دي چې دښمن يې په شا تګ ته مجبور کړی دی. ځينې کسان وايي چې که امريکايان له افغانستان څخه ووځي زموږ هيواد به دبهرنيانو، په تيره بيا د پاکستان او ايران د تيري سره مخامخ شي. خو آيا د افغانانو له خواهغه خپلواکي ګټل کيږي چې د افغانانو پر ځای يې بهرنيان ورته وګټي او ويې ساتي ؟. د افغانستان له خپلواکۍ ځنې تل پخپله افغانانو، د افغانستان عام ولس دفاع کړې ده، نه بهرنيو ځواکونو او ددې ځواکونو په زور قدرت ته رسيدلو ګوډاګيو حکومتونو. د افغانستان خلک، چې بايد د خپلو ملي نواميسو ساتنه وکړي، د لاسپوڅو حکومتونو څخه ډير يو ملي زعامت ته اړتيا لري، چې منځته يې راوړي، باور پرې وکړي او ملاتړ يې وکړي. د املي زعامت کيدای شي په اوسنيو مغلقو شرايطو کې د افغان وطن پالونکو له خوا د يوې جبهې په شکل منځته راشي. البته په يوې جبهې کې که په شريکو

ټکو مختلف ملي شخصيتونه ، ډلې او ګوندونه راټول شي ، کيداى شي د ټول هيواد په کچه يوه سراسري ملي جبهه جوړه شي ، تر څو په افغانستان کې په ګډه سوله او ثبات منځته راوړي ا و د خپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه د يو رښتياني ملي اسلامي دولتي نظام په ټينګيدو سره دفاع وکړي.

شپږم : لويه جرګه يو ستره تاريخي عنعنوي مؤسسه ده ،چې تل د سترو ملي مسالو د څيړلو او اوارولو د پاره جوړيږي . د دې سترې عنعنوي مؤسسې مخالفين تل هڅه کوي ،چې د دې سترې عنعنوي تاريخي مؤسسې ملي ارزښت ته تاوان ورسوي . هغه دا چې د خپلې خوښې ځينې داسې پريکړې پر ې وکړي ، چې د ملي ګټو پر بنسټ نه وي او يوا ځې د يو وړوکي حاکم قشر د ګټو څخه دفاع وکړي ، په دې ډول به لويه جرګه د ټول ملت استازولي نه کوي او ملي ارزښت به نه لري. لويه جرګه بايد د ټول ملت د خوښې او ګټو سره سمې پريکړې وکړي . د افغانستان سرلوړۍ په خپلواکۍ مين ملت هيڅکله د پرديو او په خاص ډول د هغو ځواکونو په دايمي شتون نه خوښيږي ، چې د دوئ عقيدو ، دود دستور او عنعنوته يې په سپکه کتلي وي او يا يې مرګ ژوبله ور اړولې او زور زياتى يې ورسره کړی وي. دا خو لاڅه چې خپلواکي ، ملي واکمني او ملي يووالى يې ورله د ګواښ سره مخامخ کړي وي. لويه جرګه بايد د امريکې د دايمي اډود شتون پر ځاى په هيواد کې د سولې او ثبات د منځته راتلو او ټينګيدو په خاطر د مخالفينو سره د سولې پر يو مکانيزم او خبرو اترو ټينګار وکړي . که اوسنۍ دولتي اداره د سولې د خبرو د کولو جوګه نه وي ،کيداى شي يوې مؤقتي ناپييلې ادارې ته واک وسپارل شي ، ترڅو مخالفين هم حاضر شي چې د سولې خبرې پرمخ بوځي. که په دولت کې ځيني چارواکي د مخالفينوسره د سولې د خبرو اترو پر ځاى پر جګړو ټينګار کوي او د جګړو په دوام او د بهرنيو وسله والو پوځونو په شتون کې خپله بقا او

ګټې لټوي ، باید د افغانستان د خلکو د ملي ګټو د دښمنانو په څیر ملت ته وروپیژندل شي او له خپلو دندو څخه ګوښه کړل شي . په دې ډول به د لویې جرګې تاریخي ملي ارزښت خوندي پاتې شي .
پایلې:
ـ که امریکااو متحدین یې د افغانستان د جګړو ځپلو خلکو سره خواخوږي لري ، نو نور دې زمونږ هیواد د خپلو ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره د دایمي اډو په جوړولو سره د سیمې د کړکیچ په مرکز نه بدلوي.
ـ افغانان تروریستان نه دي ، نور باید د تروریزم په نوم په جګړو کې زمونږ د هیواد له ویجاړولو او بې ګناه افغانانو له وژلو څخه ډډه وشي.
ـ لویه جرګه باید د نړۍ د ټولو هیوادونو سره د افغانستان د دوستانه اړیکو په لرلو او د ناپییلتوب د دریځ په غوره کولو سره زمونږ په هیواد کې د کړکیچ د دوام احتمالي عواملو : بهرنیو دایمي پوځي اډو د جوړولو مخه ونیسي .
ـ لویه جرګه باید د امریکې متحده ایالتونه او متحدین وهڅوي چې په افغانستان کې د سولې د ټینګیدو په خاطر د جنګسالارانو او مافیایي شبکو پورې تړلو جنګ غوښتونکو له ملاتړ څخه لاس واخلي .
ـ ښه به داوي چې د امریکې د پوځي اډو د جوړیدو پر ځای ، نړیواله ټولنه د افغانستان رښتیانی ملي وسله وال پوځ په ضروري عصري وسلو سمبال کړي او د افغانانو سره د اقتصادي پروژو او بې غرضه مرستو تړون لاسلیک کړي. غوره به وي چې نړیواله ټولنه د افغانستان د ناپییلي دریځ او زمونږ په هیواد کې د امنیت ، سولې او ثبات د ټینګیدو او د بهرنیو هیوادونو د لاسوهنو د مخنیوي په غرض د سیمې او امنیت شورا د غړو هیوادونو د تضمین په ترلاسه کیدو کې د افغانانو مرسته او ملاتړ وکړي.

---

*ـ دا لیکنه د ۱۳۹۰کال د «رښتیا» جریدې د لړم په ګڼه کې خپره شویده ..

# د بن دويم کنفرانس*

له دې واقعيت څخه څوک سترګې نه شي پټولی ، چې استعماري سياستونه تل د خپلو ګټو د پاره په نړۍ کې د کړکيچ ، د نورو هيوادونو په کورنيو چارو کې د لاسوهنو او د تيريو او جګړو د تپلو ، په تيره بيا ، د کورنيو جګړو د منځته راوړو ، نا امنيو او بې ثباتيو اصلي سببونه او عوامل جوړوي. يوائې دا نه ده ، په نړۍ کې د کړکې ،تبعيض، تعصب ، تروريزم اوبنسټپالنې زيږنده همدا استعماري سياستونه دي. استعماري سياستونه چې د پرمختللو او له نظامي اقتصادي پلوه ځواکمنو هيوادونو له خوا د نړۍ د کمزورو او وروسته پاتې هيوادونو په وړاندې پرمخ بيول کيږي ډير ځلې د استعماري سياستونو د عاملينو ،پرمخ تللو ځواکمنو هيوادونو، تر منځ د نورو هيوادونو د زيرمو د لاندې کولواو تالان په سيالۍ کې د دوئ د خپلمنځي ټکر او ډلبنديو سبب کيږي او د ټولې نړۍ د خلکو د پاره د بشري ناورينونو شرايط او خطر منځته راوړي.
د دوارو نړيوالو جګړو بنسټيز عامل د نورو کمزورو هيوادونو د طبيعي زيرمو د لاسته راوړو په سيالۍ کې د ځواکمنو هيوادونو استعماري سياستونه ګڼل کيږي. که د نړۍ کړکيچنو سيمو ته ښه ځير شو، بې له دې چې د استعماري سياستونو هڅې د نورو هيوادونو د طبيعي زيرمو، په تيره بيا د ګاز او تيلو زيرمو، د لاسته راوړو د پاره وبلل شي بل څه نه دي.
د دويمې نړيوالې جګړې څخه وروسته د امريکې په مشرۍ د ناټو او شوروي په مشرۍ د وارسا ډلبنديو ترمنځ سړه جګړه همدې طبيعي زيرمو ته د رسيدو د پاره پيل شوه. يو پر بل باندې تورونه ، چې د يو بل د ګوښه کيدو او ځان د پاره د نړۍ په نورو هيوادونو کې د نفوذ د زياتيدو د پاره لګيدل ، تر ډيرې اندازې پورې اوس ګورو چې ، سم راووتل. د دواړو سيستمونو ښکې په افغانستان کې وختې او د بشر دوستۍ، د نورو

هیوادونو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې او د خلکو خپلواکیو او حقوقو ته د درناوي ټولې دعوې یې دروغ شولې.
شوروي اتحاد د امریکې او متحدینو سره یې په سیالۍ کې د خپلو ستراتیژیکو موخو او ګټو لاسته راوړو دپاره پر یو خپلواک ګاونډي هیواد ، افغانستان ، بربنډ تیری وکړ او غوښتل یې چې زموږ د هیواد په نیولو سره او ددې هیواد د جیو ستراتیژیک موقعیت څخه په ګټې اخستو سره په سیمه کې د طبیعي زیرمو لاسته راوړو د پاره له امریکې او متحدینو څنې میدان یوسي او خپل سیاسي ،اقتصادي او نظامي نفوذ او شتون ټینګ کړي. خو څرنګه چې د افغانستان خلک دپردیو تر واک او حاکمیت لاندې ژوند نه شي کولای ، نو ځکه یې د خپلې خپلواکۍ د پاره د تیري کوونکو په وړاندې بې سارې جګړه پیل کړه. کله چې امریکایانو او ملګرو یې ولیدل ، چې افغانان د خپلې خپلواکۍ د پاره حاضر دی چې د شورویانو سره تر اخره وجنګیږي ، نو یې د افغانستان خلکوسره د خواخوږو په څیره کې د افغانانو سره په دې جګړه کې د مرستې په نو م میدان ته راودانګل ، ترڅو د دوئ پیاوړی رقیب ( شوروي اتحاد ) کمزوری او له پښو ولویږي.
تر څو شورویان له پښو نه وو لویدلي ، امریکایانو افغانانو سره ژوره خواخوږي ښودله او هرډول مرستو ته چمتو وو . خو کله چې شورویانو وروسته له لسوکلونو مرک ژوبلې او بربادیوڅخه چې افغانانو ته یې واړول او ایل یې نه کړل ، نو مجبور شول چې افغانستان پریږدي . له افغانستان څخه د شورویانو د وتلو سره سم امریکې او متحدینو هم ، کله چې پوه شول چې ستر رقیب یې په پوره ډول کمزوری شوی دی ، د افغانانو له ملاتړ څخه لاس واخیست. نه یواځې دا چې افغانان یې په وچ میدان پریښودل ، بلکې په لوی لاس یې د قدرت لپاره د خپلمنځي جګړو

اور ته ټیل وهل ، چې یې پکې د جهاد دوخت ټولې لاسته راوړنې او د بې ساري سرښندنو له امله لاسته راوړي ویاړونه له منځه ولاړل.
د افغانانو سره په جګړو کې د شوروي اتحاد په ماتې خوړلو او بیا ورپسې دړې وړې کیدلو ، د امریکایانو تلوسه نوره هم د منځنۍ اسیا د سیمې طبیعي زیرمو ته د رسیدو د پاره زیاته شوه . کله چې د امریکې متحده ایالتونو ولیدل چې په ټوله نړۍ کې د یواځیني ځبر ځواک په څیر پاتې دی ، نود دیموکراسۍ پر ځای یې د دیکتاتورۍ چلن غوره کړ . د نورو هیوادونو د طبیعي زیرمو د خپلولو د پاره یې په لښکر کشیو ، بې له دې چې کومه د منلو وړ پلمه جوړه کړي ، لاس پورې کړ. هر ځای یې چې خوښ شوهغه یې ونیو او هرڅوک چې یې بدې راغی په بیرحمۍ یې له منځه یوړ. هر چا چې د دوئ د موخو او ګټو د پاره کار کاوه هغوئ یې په ډالرو واخستل او سیاسي قدرت ته یې ورسول. هرڅوک چې په ډالرو خرڅ نه شول او د خپلو خلکو او هیواد سره یې خیانت ونه کړ ، هغوئ یې په ډول ډول نومونو له منځه یوړل او دښمني یې ورسره پیل کړه . د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یولسمې نیټې پیښو د امریکې امپراطورۍ ته د « تروریزم » په نوم داسې یوه ټاپه په لاس ورکړه ، چې تعریف نه لري ، خو په هر چا یې وهلی شي او بیا یې د تروریزم سره د مبارزې په نوم له منځه وړلی شي.
د ډیرو باوري سر چینو پر بنسټ امریکایانو د سپتمبر له پیښو څخه مخکې د افغانستان د غوره جیو ستراتیژیک موقعیت په پیژندلو سره د هغه د نیولو پلانونه او پلمې جوړولې او تیارۍ پیل شوې وې . لا د سپتمبر پیښه هیڅ نه وه منځته راغلې چې د امریکې متحده ایالتونو د طالبانو پر حکومت باندې تورونه لګول ، چې د بشر له حقوقو څخه سر غړونه کوي ، د ښځو حقوق نه مني ، بنسټپال دي آو .... په داسې حال کې چې همدا طالبان د رباني د حکومت غړي او مجاهدین وو ، چې د شوروي پر ضد جنګیدلي وو . د رباني حکومت هم بنسټپال و او ښځې پکې نه

يواځې په کورونو کې کيناستې،بلکې ځينې يې د چارواکو او ټوپکيانوله خوا د بې عفتۍ سره مخامخ شوې . د بنسټپالنې تر څنګ د رباني حکومت کې فساد ، تعصب ، توکم پرستي ، د بيګناه خلکو له منځه وړل او په مال او ناموس يې تيری کول او د ملي پانګو او شتمنيو غصبول لوړې کچې ته رسيدلي وو . طالبان خو هغه کسان وو ، چې د رباني په حکومت کې د فساد او فحشا په وړاندې راپاڅيدل او د افغانستان د خلکو په ملاتړ سره يې په ډير کم وخت کې د رباني حکومت نسکور او **۹۵** په سلو کې يې د افغانستان په خاوره خپل واک ټينګ کړ او سوله او ثبات يې منځته راوړ . خو بيا هم امريکې او متحدينو د طالبانو حکومت په رسميت ونه پيژاند او پر ځای يې د رباني تش په نامه او تل په مهاجرت کې حکومت په رسميت پيژندلو ته دوام ورکړ . دا ځکه چې امريکايانو د خپلو موخو او ګټو لاسته راوړو د پاره د رباني د حکومت په چارواکو کې د استعماليدو وړتيا ليدلې وه .
په تيره بيا ، کله چې د طالبانو حکومت د يونيکال ( امريکايي ) کمپنۍ پر ځای د بريډاس (ارجنتايني ) کمپنۍ سره په هيواد کې د ګازو د نل ليکو د تيريدو شرايط د افغانستان په ګټه وګڼل او مينه يې ورسره وښوده ، د امريکې امپراطورۍ ترې دا نتيجه واخسته چې طالبان د دوئ د ګټو او موخو د پاره کار نه کوي او خپلې موخې او ګټې لټوي . همدارنګه امريکايان پوه شول چې د طالبانو په وجود کې د منځنۍ اسيا د سون د موادو طبيعي زيرمو ته نه شي رسيدای او په سيمه باندې د واک او نفوذ د ټينګيدو د پاره د افغانستان د جيو ستراتيژيک موقعيت څخه ګټه نه شي اخستلای نو يې ځکه په داسې کسانو او ډلو ټپلو کار پيل کړ چې هغوئ د پيسو او شخصي ګټو په بدل کې له هرڅه څنې تيريدای شي . د خپلو خلکو او هيواد په وړاندې هر ډول جفاته چمتو او د بربادۍ په وړاندې يې بې تفاوته دي . د شخصي ګټو د پاره د خپلواکۍ ، ملي

واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع پر ځای د پردیو تر واک لاندې ژوند کولو کې خوښ او حتی پرې ویاړي.
همدا سبب و ، چې د امریکې د جاسوسۍ سازمان په داسې کسانو او ډلو کار پیل کړ چې هغوئ روسانو ، ایرانیانو او پنجابیانو ته په جاسوسۍ کولو ، د ملي ګټو پر ځای د شخصي ګټو پر پاللو او پول پرستۍ او شخصي قدرت لپاره د هرڅه په سرته رسولو کې زیات شهرت او تجربه درلوده. او اوس چې د طالبانو له خوا د ماتې او تیښتې سره مخامخ شوي وو ، نو په ډیره کمه بیه اخستل کیدای شول. د ا د شمال ټلواله وه چې د امریکایانو د ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره یوائې د یوڅو میلیونو ډالرو په بدل کې پر افغانستان باندې د امریکې د متحده ایالتونو د یرغل په ورځو کې د امریکایي هوایي ځواکونود بمباریو په وخت کې د امریکې د پلیو ځواکونو دنده سرته رسوله. امریکایان د شمال ټلوالې د دې چوپړ په سرته رسولو سره دې پایلې ته ورسیدل چې د امریکاد ستراتیژیکو موخو او ګټو د لاسته راوړو د پاره باید داسې یو ګوډاګی حکومت منځته راوړي چې چې شمال ټلواله پکې پوره بر لاسی ولري. دا کار، چې شمال ټلواله پکې قدرت ته ورسول شوه، د بن د لومړي کنفرانس په غونډه کې تر سر ه شو . په دې غونډه کې نه یوائې پر طالبانو د « تروریزم » د ټاپې په وهلو سره دوئ د ګډون کولو څخه لیرې وساتل شول ، بلکې هیڅ یو رښتیانی ملي شخصیت اویا د کومې ملي ډلې استازي ته پکې د ګډون کولو بلنه ور نه کړل شوه . نو ځکه د بن لومړی کنفرانس د استعماري سیاست داسې یوه کرغیړنه بیلګه ده ، چې پر افغانانو باندې د بهرنیانو له خوا د داسې کسانو حکومت وتپل شو ، چې افغانانو ته د منلو وړ نه وو.
د بن لومړی کنفرانس د امریکې د ستراتیژیکو ګټو د پاره په ډالرو اجیر شوو خلکو ته پر افغانانو د حکومت کولو دپاره د مشروعیت ورکولو هڅه وه. د بن د لومړي کنفرانس څخه وروسته د نړۍد ټولو هغو هیوادونو

چې د امریکې سره په موخو او ګټو کې شریک وو افغانستان ته د تروریزم سره د مبارزې په پلمه یوسل او پنځوس زره ( ۱۵۰۰۰۰ ) وسله وال پوځونه راوستل او پوره لس کاله یې د تروریزم په نامه ، د افغانستان مطلق اکثریت خلک ، په خپلو بمباریو ، جګړه ایزو فعالیتونو او په کورونو ورختلو ، وژلو ، بندي کولو او توهینولو د غم په تغر کینول او بې له کرکې او د ښمنۍ یې بل څه لاسته رانه وړل. د امریکې او ناټو ځواکونو تر اوسه پورې د سلو زرو څخه زیات افغانان له منځه یوړل ، په لسګونو زره اباد کورونه یې د خاورو سره خاورې کړل ، په لسګونو زره هکتاره کروندې او باغونه یې په شاړو بدل کړل ، په سلګونوزره بیګناه افغانان یې د خپلو کورونو ، کروندو او باغونو پریښودو ته اړویستل او د کونډو او یتیمانو لښکرې یې جوړې کړې. په همدې ډول د نړۍ د ټولو جاسوسي شبکو اجنټانو د کورنیو او بهرنیو مافیایي شبکو غړو ، قاچاقبرانو زموږ د هیواد طبیعي زیرمو ، ملي او شخصي شتمنیو په لوټ او تالان لاس پورې کړ . د ګاونډیو هیوادونو د لاسوهنو او تیریو په وړاندې د امریکې او ناټو د ځواکونو بې تفاوتي دا لاسوهنې لاپسې هڅوي ، تر څو په افغانانو کې د خپلو ملي نوامیسو څخه د دفاع احساس وځپي. په تش نامه دولت کې ګډوډي او فساد اخري پړاو ته رسیدلی دی. بهرنیان او لاسپوڅی دولت خلکو ته د سولې او ثبات په ټینګیدو کې د پاتې راتلو له کبله سپک او بې باوره دي. په دې شرایطو کې یوائې د ګوتو په شمار څو بې وطنه د پردیو ګوډاګیان میلیاردران شول او عام بیګناه افغانان په لوږې ، فقر، بیکارۍ ، بیکورۍ او ډول ډول نورو بد مرغیو محکوم دي. دا وې د استعماري سیاستونو او د بن د لومړي کنفرانس پایلې ، چې یو رښتیانی بشري ناورین یې منځته راوړی دی.

د بن په دویم کنفرانس کې بایدد بن د لومړي کنفرانس د پریکړو ارزونه وشي. د امریکې او متحدینو له خوا د مرستو او د سولې ،ثبات او امنیت

د ټينګولو د وعدو ارزونه وشي ، چې څومره يې پلي کړي دي . په افغانستان کې د امريکې او ناټو د وسله والو ځواکونو د بمباريو او جګړه ايزو عملياتو او چاپو پواسطه د بېګناه افغانانو د مرګ ژوبلې او بربادېو ارزونه وشي ، چې د «تروريزم» سره د مبارزې په نوم بېګناه افغانانو ته اوښتي دي . بايد دا ارزونه وشي ، چې د امريکې او ناټو وسله والو ځواکونو په افغانستان کې سوله او ثبات منځته راوړي دي او که يې د افغانانو سوله او ثبات له منځه وړي دي . په همدې ډول بايد ارزونه وشي چې په تيرو لسو کلونو کې دوئ افغانانو ته خوښۍ او نيکمرغۍ راوړې دي او که غمونه او بد مرغۍ . په دې کې هيڅ شک نه شته چې د بن دويم کنفرانس کې به دا پوښتنې ونه ارزول شي . څه شی چې به ارزول کيږي ، هغه به داوي ، چې په افغانستان کې د بهرنيو وسله والو ځواکونو کړنې د امريکې او متحدينو ستراتيژيکو موخو او ګټو د پاره څومره اغيزمنې واقع شوي دي او نور څه وکړي ، چې د دوئ او د دوئ د اجنټانو ګټې خوندي اوسي . چې په دې ډول به د بن دويم کنفرانس يو لړ څه هم په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټينګيدو په خاطر کومې پايلې ونه لري او د اوسني ناورين د لا اوږديدو سره به مرسته وکړي.

---

*ـ دا ليکنه د ۱۳۹۰ کال د « رښتيا » د جريدې د لړم دمياشتې په ګڼه کې خپره شويده.

# پر افغانستان د ۲ او ۷ نیټو د یرغلونو ورته والی او توپیرونه*

د ا یرغلونه په دې سره یو بل څخه توپیر لري چې په مختلفو نیټو او د مختلفو ځبر ځواکونو له لارې سر ته رسیدلي دي. یو یې د ۱۳۵۸ کال د جدي په ۲ نیټه د پخواني شوروي اتحا له خوا سرته ورسید او بل یې د ۲۰۰۱کال د اکتوبر پر ۷ نیټه د امریکې متحده ایالاتونو له خوا پیل شو. یو یې شوروي اتحاد ، چې دعوه یې کوله چې د نړۍ د زیار کښانو مشري ور په غاړه ده ، او چیرته چې د زیارکښانو ګټې په خطر کې وي ، دوئ باید ترې ملاتړ وکړي. بل یې ( د امریکې متحده ایالات ) دعوه کوي ، چې د بشر د حقوقو او دموکراسۍ د اصولو څخه په ټوله نړۍ کې د دفاع ټیکه دار دی. نه یواځې د خپلو خلکو د امنیت او بشري حقوقو ، بلکې په ټوله نړۍ کې د خلکو د بشري حقوقو ، په خاص ډول ، د ښځود حقوقو څخه دفاع او ساتنه خپله دنده بولي. خو شورویانو چې ځان یې د نړۍ د زیار کښانو د حقوقو مدافع ګاڼه ، داسې حکومت له منځه یووړ چې په کم وخت کې یې نه یواځې د افغانستان د زیار کښانو په ګټه ډیر کارونه وکړل ، بلکې ځان یې د افغانستان د زیارکښانو استازی حکومت باله. شورویانو داسې څوک قدرت ته راوستل چې د دوئ لاسپوڅي او د افغانستان د زیارکښ ولس د کړاوونو او تنګسو عاملین وو. شورویانو د خپل تیري د سرته رسیدو د پاره داسې پلمې جوړې کړې ،چې ګنې جنوبي سرحدونه یې د خطر سره مخامخ وو ،خلقي دولت د بشر حقوقو ته درناوی نه درلود ، ډیر خلک یې د عقیدې په خاطر زندانونو ته اچول ، د دوئ پلویان یانې د افغانستان د خلک دمو کراتیک ګوند کې د شورویانو دوستان ( د کارمل ډلې پورې مربوط پرچمیان او یو شمیر خلقي ډوله

کارملیان ) یې د کارونو څخه لیرې کړي دي. د حفیظ الله آمین څخه دویم تیتو ( د یوګوسلاویا د هغه وخت جمهور رییس ) جوړ شوی و. امین د امریکې د سفارت غړو سره په پټه کتلي و اود شورویانو پر ضد یې د خلکو ذهنیت خراباوه، د انقلاب ضد ډلو سره یې غوښتل سوله وکړي او داسې نورې پلمې، چې د شورویانو د تیري د پاره ترې هیڅ ډول توجیه لاس ته نه شي راتلای. همدا رنګه شورویانو ادعا کوله چې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د دوستۍ د تړون له مخې، چې په ۱۳۵۸ کال کې لاسلیک شوی و، افغانستان ته راغلي دي. په داسې حال کې چې د دغه تړون په لومړي سرکې لیکل شوي ؤ، چې د یوبل په کورنیو چارو کې به لاسوهنه نه کوي. آیا په تړون کې داسې ویل شوي وو، چې شوروي کولای شي په خپلواک افغانستان یرغل وکړي، برحال جمهور رییس ( حفیظ الله امین ) دې په شهادت ورسوي او دده په مشرۍ ملي حکومت نسکور او پر ځای یې د ببرک کارمل په مشرۍ یو ګوډاګی حکومت منځته راوړي؟.
دا یواځې د استعماري سیاستونو زیږنده پلمې دي، چې پر نورو هیوادونو د تیري د پاره په کار وړل کیږي.
همدا رنګه امریکایانو د ستراتیژیکو موخو د پاره د مجاهدینو په منځ کې د ډیرو کلکو مسلمانانو او با تقوا طالبانو حکومت د تروریزم سره د مبارزې په نوم نسکور کړ، په زرګونو طالبان یې په هوایي بمباریو او حتی د اسارت په وخت کې له منځه یوړل او پر ځای یې په فساد مشهور خدای ناترسه جنګسالاران قدرت ته ورسول. په همدې ډول د امریکې متحده ایالتونو په سیمې کې خپلو ستراتیژیکو موخو ته د رسیدو د پاره غوښتل د افغانستان د غوره موقعیت څخه ګټه واخلي. په داسې حال کې چې هیڅ یو افغان د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټې پیښنو کې برخه نه درلوده او هیڅ ترهګر په افغانستان کې روزنه نه وه لیدلې او له افغانستان څخه امریکې ته نه و تللی. خو بیا هم د امریکې متحده ایالتونو ځبر ځواک، بې

وزله جګړو ځپلی افغانستان په دې پلمه تر برید لاندې ونیو ، چې اسامه بن لادن د سبتمبر ۱۱ نیټې پیښنو کې لاس درلود او په افغانستان کې اوسیږي ، د طالبانو حکومت یې باید امریکې ته وسپاري او یا د امریکایي ځواکونو یرغل ته ځان ټینګ کړي. امریکې د دې غوښتنې په وړاندې د طالبانو د حکومت ځواب ته هیڅ ډول پاملرنه ونه کړه او د اکتوبر پر ۷ نیټه یې پر افغانستان یرغل پیل کړ ، چې پکې په زرګونو بیګناه ملکي افغانان د ښځو او ماشومانو او بوډاګانو په ګډون دزرګونو طالبانو سره یوځای په شهادت ورسیدل. خو دې یرغل ته یې د تروریزم پر ضد د جګړې نوم او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړې له لارې ، د دوئ په ذهن « مشروعیت » ورکړ او د ناټو نور هیوادونه یې هم په دې جګړې کې ، چې د افغانستان د نیولو او افغانانو د ایل کولو د پاره پیل شوې وه ، ښکیل کړل .

پر افغانستان باندې د شورویانو او امریکایانو یرغلونه په هیڅ ډول نه شي توجیه کیدلی. د دې دواړو ځبر ځواکونو یرغلونه په مختلفو پلمو د استعماري سیاستونو د پراختیا غوښتنې یرغلونه وو. چې د نورو هیوادونو د طبیعي زیرمو د لاندې ایستلو د پاره یې غوښتل د افغانستان د جیو ستراتیژیک موقعیت څخه د بشپړې ګټې اخستو د پاره د وسله وال یرغل له لارې لاسپوځي حکومتونه منځته راوړي. نه یوازې د افغانستان طبیعي زیرمې او شتمنۍ لوټ کړي ، بلکې په سیمه کې خپلې استعماري موخې لاسته راوړي. که څه هم د میلیونونو افغانانو په لمنځه وړو او د افغانستان په ورانولو تمام شي.

شورویانو د استعماري سیاست پر بنسټ د خپلو ستراتیژیکو ګټو د لاسته راوړو او د افغانانو د ایل کولو د پاره په بشپړې بیرحمۍ نژدې لس کاله د افغانانو ځپلو او د افغانستان ویجاړولو ته دوام ورکړ. نژدې دوه میلیونه افغانان له منځه ولاړل او په همدې ډول معیوب او معلول شول .

له شپږ میلیونو څخه زیات له خپل هیواد څخه کډې کولو ته اړویستل شول او د افغانستان ملي شتمنۍ د بهرنیو او کورنیو لوټمارانو په واسطه لوټ او برباد شوې او هیواد مو په کنډوالو واوښت. شورویانو د خپلو ستراتیژیکو استعماري ګټو د پاره په افغانستان کې تر څو وسه کیده ، د یوشمیر وطن پلورونکو په واسطه ، چې تل د پردیو غلامي د ازاد ژوند څخه غوره ګڼي ، قومي ، ژبني ، مذهبي او سمتي اختلافونو ته لمن ووهله او زموږ ملي یووالی یې د ستونزو سره مخامخ کړ. شورویانو ، چې هرڅومره وسه وکړه چې افغانستان اشغال او د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوریت بدل کړي ، افغانان ایل کړي او خپلو استعماري ناروا موخو ته ورسیږي ، خو د افغانانو د کلک مقاومت سره مخامخ شول. نه یوازې دا چې ماتې یې وخوړه ، بلکې د امپراطوریو په هدیره کې یې استعماري ځواک په ګونډو او اوبه شواو شوروي اتحاد تجزیه او له منځه ولاړ او ورسره سم ډیر هیوادونه خپلواکۍ ته ورسیدل .
همدارنګه د امریکې متحده ایالتونو امپراطوري د یو څو جنګي جنایتکارانو او وطن پلورونکو په ډاډ دومره زړوره او خپل ځواک ته مغروره شوه ، چې د دې پر ځای چې د برطانوي او شوروي امپراطوریو د ماتې او زوال څخه عبرت واخلي ، استعماري نیشه یې په سر کې وګرځیده او د تروریزم سره د مبارزې تر پلمې لاندې یې پر افغانستان ، چې د تروریزم سره یې هیڅ ډول اړیکي نه درلودل ، یرغل وکړ او دا لس کاله کیږي چې د پښتنو پرضد په قومي جینو ساید اخته ده . امریکې د ناټو نور هیوادونه هم په افغانستان کې په جګړه کې ښکیل او ځان سره د اقتصادي بحران په غړنه کې ډوبیدو ته نژدې کړل . افغانستان یې د نوو جوړو شوو وسلو د ازمیښت ډګر وګرځاوه او د جګړو د اوږدوالي او سختوالي له کبله یې تلفات د عراق له جګړو څخه چې زیات نه وي ، کم نه دي . یانې د تیرو لسو کلونو په موده کې امریکایانو اومتحدینو یې د

جګړو د سختوالي له کبله افغانانو ته دومره تلفات ورسول ، چې د عراق په جګړوکې د عراقیانو د تلفاتو څخه زیات نه وي ، کم نه دي. یانې د تیرو لسو کلونو په موده کې د یو نیم میلیون په شاوخواکې افغانان ، په تیره بیا پښتانه په شهادت ورسول او په همدې شمیر معیوب او معلول شول او په میلیونونو نور خپلوکورونو او کروندو ځنې وتلو ته اړویستل شول. امریکې او متحدینو یې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د لاسته راوړو دپاره د تروریزم سره د مبارزې تر پردې لاندې په افغانستان کې په ډیر کرغیړن ډول د بشرضد جنګې جنایتونه سرته ورسول. خو پایله یې د استعماري سیاستونو د ناکامۍ او په ۲۱ پیړۍ کې د امپراطورۍ د زوال پرته بل څه نه شي کیدای.

باید وویل شي چې پر افغانستان باندې د شوروي امپراطورۍ د ۱۳۵۸ کال د جدي د ۶ نیټې تیری په بشپړ ډول یو استعماري پراختیا غوښتونکی تیری ؤ، چې د افغانستان د اشغال د پاره سرته ورسید. افغانانو ته یې زښت زیات ځاني ، مادي او معنوي تاوانونه واړول ، خو بشپړه ماتې د شورویانو په برخه شوه. همدارنګه په افغانستان باندې په ۲۰۰۱ کال کې د اکتوبر پر ۷ نیټې د امریکایي امپراطورۍ تیری یو استعماري پراختیا غوښتونکی تیری ؤ ، چې د امریکې د ستراتیژیکو ګټو د پاره سرته ورسید. په دې تیري کې افغانانو، په خاص ډول پښتنو ته ، زښت زیات ځاني، مادي او معنوي تاوانونه واوښتل ،خو امریکې او متحدینو نه یواځې ونه شول کړای ، چې خپلې غوښتنې په افغانانو ومنې او خپل لاسپوڅي پرې وتپې ، بلکې پخپله په سترو مالي بحرانونو کې ښکیل او ډیر خلک یې د امپراطورۍ د زوال وړاند وینه کوي.

---

*ـ دا لیکنه په ۱۳۹۰ کال کې د « رښتیا » جریدې د لیندې د میاشتې په ګڼه کې خپره شویده.

# تر څو د افغان واحد ملت ویش او بیلوالی دوام لري ، په سیمې او نړۍ کې به سوله او ثبات د ستونزو سره مخامخ وي*

افغانستان د خپل پنځه زره کلن تاریخ په اوږدو کې تل د اسیا د زړه په څیر غوره ځای درلود . په هغه اندازه چې یې د علم او فرهنګ، تجارت ، هنر او مذهب په وده او پرمختګ کې رول لوبولی او د مختلفو سیمو او هیوادونو د نښلونکې کړۍ دنده سرته رسولې او د سولې او ثبات په ټینګیدو کې یې اغیز درلود ، په هم هغه اندازه کله چې پخپله د ستونزو او له بهر څخه د تیري ، جګړو او بې ثباتۍ سره مخامخ شوی دی ، سیمه ورسره سمه کړکیچنه شویده . هیڅکله داسې نه دي شوي ، چې په افغانستان کې دې جګړې ، کړکیچ او بې ثباتي وي او د سیمې خلک دې په سوله او امن کې ژوند وکړي.

کله چې انګریزي استعمارچیانو د خپلې ماتې د منلو او په دې پوهیدلو ، چې پر افغانانو په زور حکومت نه کیږي ، د افغانانو څخه د غچ اخستلو او راتلونکو توطیو د پلي کولو او په هند کې د خپلو استعماري ګټو د خوندي توب د پاره د افغانانو واحد ملت د « ډیورنډ» دتورې استعماري کرښې په واسطه په ټوټو وویشه ، له هم هغه وخت څخه راپه دې خوا افغانستان له ځان څخه د دفاع وس له لاسه ورکړی دی او تل له بهر څخه د تیریو ، لاسوهنو او توطیو سره مخامخ وي. چې په دې ډول ډیر ځله یې سوله او ثبات د ګوابښ لاندې وي او د جګړو او کړکیچونو ډګر ګرځي. که کله یې د لږ وخت د پاره نسبي سوله په یوې برخې کې ټینګه شي ، خو بله برخه د ناخوالو سره مخ وي او په دې ډول هیڅکله ټول افغانستان سوله او ثبات نه دی لیدلی . د افغانستان د خلکو دښمنان هڅه کوي ، چې د

افغانانو تاټوبی نه یواځې تل ویشلی او کمزوری وساتي ، بلکې لاپسې یې ټوټې ټوټې او له خپل هویت څخه محروم کړي . د تاریخ په اوږدو کې جوته شوې ده چې ځبرځواکونو او ګاونډیانو د افغانستان د غوره جیو ستراتیژیک موقعیت له کبله ، د دوئ د حرص او حسدله مخې تل د افغانانو سره دښمني کړې ده او د دوئ د هیواد د لاندې کولو د پاره یې د ډول ډول پلمو او توطیو څخه کار اخستی او خپلو تیریو او لاسوهنو ته یې دوام ورکړی دی.

د افغانستان او افغانانو د یووالي دښمنانو د نورو توطیو تر څنګ د شخصي ګټو لیونیان پیداکوي چې د ناڅیزو مؤقتي امتیازونو په وړاندې د پردیو ګټو د پاره د دوئ د شیطاني پلانونو د پلي کیدو اجنټ ګرځي. او په دې ډول د خپل هیواد او هیوادوالو د یووالي په وړاندې د استعماري سیاستونو د دوام د پاره کار کوي او د افغان واحد ملت د یووالي په وړاندې د نه بښونکې ګناه او خیانت سبب کیږي. باید په ډاګه شي چې د داسې پردي پالو عناصرو ، چې د خپل هیواد اوخلکود ملي ګټوسره خیانت کوي او د پردیو له ګټو څخه یې قربانوي ، د شمیر له پلوه ډیر کم دي او په خلکو کې ځای نه لري. دا ځکه چې افغانان د هر ډول ظلم او دیکتاتوریو په وړاندې زغم لري ، خو د پردیو ګوډاګیان او لاسپوځي نه مني. نو ځکه د استعمار لاسپوځو او پردي پالو پسې ځوک نه ځي. خو د استعماري سیاستونو پلي کوونکوهیوادونو ته همداسې کسان په کار دي چې په خپلو خلکو کې ځای ونه لري او تل په همدوئ پسې منډې ووهي او تر مرګه پورې یې په چوپړ کې وي.

د برطانیې د استعماري سیاست بنسټ په همدې اینبودل شوی و، چې څرنګه د تیري لاندې هیوادونو کې ځیني سست عنصره پردي پال کسان پیدا کړي ، چې په کم امتیاز او پیسو ځانونه خرڅولای شي او د بهرنیو دشمنانو د توطیو په پلي کیدو کې د کورنیو لاسپوځو په ځیر عمل کوي

او د بهرنیو تیري کوونکو په مقابل کې د خلکو د ملي مقاومت د کمزوري کیدو د پاره کورنیو قومي ، ژبني ، مذهبي او سمتي ستونزو ته لمن وهي او په دې ډول د ملي وطنپالو ځواکونو او شخصیتونو د یووالي مخه نیسي. نو ځکه دا بیخي طبیعي ده چې انګریزي استعمار چیانو د ډیورنډ د کرښې دواړو خواوو ته ځیني اجنټان لا د توطیې څخه مخکې د افغانانو د ویشلو او کمزوري کولو د پاره د قوم ،ژبې او مذهب په نومونو پیدا کړي وو ، تر څو د ملي خوځښتونو مخه پرې ونیسي . د شاه شجاع لاسپوڅی حکومت د دې د پاره په خلکو وتپل شو ، چې په ښکاره به افغانان په دې وغولوي ، چې خپل افغان پرې حکومت کوي ، خو په واقعیت کې به ټول واک د انګریزانو وي او په دې ډول به افغانان ایل کړي او خپلو استعماري موخو ته به ورسیږي. خو افغان باتور ملت د پردیو او د دوئ د ګوډاګیو واک کله مني ، نو ځکه افغانان راپاڅیدل شاه شجاع یې له انګریزانو او انګریزان یې له شاه شجاع تیر کړل.
وروسته له ډیرو جګړو ، تلفاتو او رسوایي څخه انګریزان پوه شول ، چې نیغ په نیغه د ټول افغانستان نظامي اشغال او په زور د ټول واحد افغان ملت ایل کول ناشونی کار دی ، نو دې پایلې ته ورسیدل چې د افغانستان کورنۍ خپلواکي ومني او د نظامي زور ازمویلو پر ځای د سیاسي توطیو له لارې مخکې ولاړ شي. ددې د پاره چې افغانان خپل واحد ملي زعامت ونه لري او د واحد ملي سراسري حکومت د جوړیدو په وړاندې ورته خنډونه جوړ کړي ، نو یې د مصنوعي مشرانو په جوړیدو لاس پورې کړ ، چې ځیني یې سیاسي واک ته ورسول شول . خو د افغانانو پر ضد د انګریزانو ډیره ستره او ناولې توطیه د افغان پر خپلواکۍ مین ملت څخه پټه د افغانستان ویشل و. دا توطیه په داسې وخت ( ۱۸۹۳ ع ) او شرایطو کې سرته ورسیده ، چې افغانستان د نیمه مستعمرې حیثیت درلود .

پادشاه یو اځې د خپلې پادشاهۍ د واک د ټینګیدو په فکر کې و ، نه د ټول افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو په فکر کې.
کله چې امیر عبدالرحمن خان د انګریزانو د ډیر دوړ او دباب او د مرستو د ژمنو په پایله او د خوف او رجا په حالت کې ځان ولید او د کورنیو او بهرنیو ستونزو په وړاندې یې د اوارولو بې وسي احساس کړه ، نو یې د افغانستان د خلکو څخه په پټه د ډیورنډ د کرښې په واسطه د سلو کلونو د پاره د افغان واحد ملت ویشلو ته سر وخوځاوه ، چې هیڅکله د افغانستان خلکو ته د منلو وړ نه و او نه دی. کله چې د ډیورنډ د کرښې اخوا خلک خبر شول ، سپین ګیري او مشران راټول شول او امیرعبدرالرحمن ته یې وویل ، چې زموږ پادشاه خوته یې نو انګریزانو ته دې ولې پرېښودلو ، امیر بل ځواب نه درلود ، نو یې ورته وویل چې زما خبره مو نه منله ، نو ځکه ماهم پرېښودۍ. خلکو ځادرونه څنډ وهل او تر هغې پورې انګریزانو سره وجنګیدل ،تر څو انګریزان له هند څخه نه وو وتلي . خلکو تر اخره پورې د انګریزانو واک نه دی منلی او له همدې کبله یې انګریزانو سره تر څو نه وو تللي جګړې روانې وې . همدارنګه تر اوسه پورې د یو واحد هیواد په توګه د دیورند د کرښې دواړو خواوو خلکو تګ راتګ ، راکړه ورکړه ، خپلولۍ ، قومي او ټولنیز ټول اړیکي په خپل حال پاتې دي او هیڅوک یې مخه نه شي نیولی.
کله چې امان الله خان د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ اعلان وکړ ، نو د خپلواکۍ په دې جګړو کې د افغانستان ټولو خلکو برخه واخسته . د خپلواکۍ په دې جګړو کې د کرښې اخوا افغانانو ستره ونډه درلوده او ژر و ، چې انګریزان د پرله پسې او سترې ماتې سره مخامخ شي . نو ځکه انګریزان پوه شول چې که د افغانانو سره سوله ونه کړي او غوښتنې یې ونه مني کیدای شي د افغانانو سره په جګړه کې د سترې او شرموونکې ماتې سره مخامخ شي او ټولې هغه سیمې له لاسه ورکړي ،چې د ډیورنډ د

کرښې په تپلو سره يې غصب کړې وې. نو ځکه انګریزان حاضر شول د دې تورې کرښې په اړوند د پخواني تړون په ساتلو سره ، چې د امير عبدا لرحمن خان له خوا د سلوکلونو دپاره هوکې شوی و ، د افغانستان خپلواکي په رسميت وپيژني . دابه په واقعيت کې بياهم د افغانانو خپلواکي بشپړه نه وي او نيم نور افغانستان به د برطانوي هند له خوا اداره کيږي. انګریزانو په دې کار سره د افغانانو پر ضد سياسي توطيه وکړه او د ازادۍ ښبونکو ولولو څخه ډکو ولسي لښکرو د يرغلونو څخه يې د امان الله خان سره د سولې په کولو سره ځان وژغوره .

د افغانستان خلکو د خپلې خپلواکۍ څخه په دفاع کې انګریزانو ته د ازادي ښبونکو جګړو په ترځ کې پرله پسې ماتې ورکړې ، نو ځکه افغانانو سره يې جګړو ته نور زړه نه ښه کاوه . خو د دولتي چارواکو سره په سياسي ډګر کې د افغان واحد ملت د ويشلو په دوام سره يې افغانان دومره کمزوري کړل ، چې حتی د امير امان الله خان دولت ته يې د « سقاو» د ځوی په واسطه سقوط ورکړ . که چيرته امان الله خان د انګریزانو په وړاندې د خپلواکۍ جګړې ته ، چې د ټول افغانستان د ولسونو په مټ مخکې بيول کيده ، د ټول افغانستان ( له امو څخه تر اباسينه پورې ) تر خپلواک کيدو پورې دوام ورکړی وای او په پخوانيو تپل شوو او د جبر او ظلم لاندې تش په نامه قرار دادونو په نظر کې نيولو سره مشروط د سولې وړانديز نه وای منلی ، نو انګریزان مجبور وو ،چې له امو څخه تر اباسينه پورې ، د ټول افغانستان خپلواکي په رسميت وپيژني. دا به داسې ستر او ځواکمن افغانستان وای ، چې په دنننه کې به يې سوله ، ثبات او ملي يووالی ټينګولای شوای او له بيرون څخه به چا نه شوای کولای چې په خيرنو سترګو ورته وګوري ، لاسوهنې ته زړه ښه کړي او يا تيری پرې وکړي.

همدارنګه کله چې د انګریزانو استعماري واک د هند پر نیمې وچې پای ته ورسید او ووتل ، ورسره سم ټول هغه قراردادونه ، چې د برطانوي هند د حکومت سره شوي وو ، هم باطل او له منځه ولاړل. چې په دې سره باید د ډیورنډ د کرښې لوزنامه هم باطله شوې وای او افغانستان له امو څخه تر اباسینه پورې د یوواحد ملت په توګه خپله خپواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا لاس ته راوړې وای . داسې ځکه ونه شول چې د افغانستان د خلکو پر ځای ، چې د خپلو حقوقو او خپلواکۍ څخه دفاع وکړي او لاسته یې راوړي ، انګریزي استعمارچیانو څخه هیله او تمه کیده چې د افغانانو خاوره او خپلواکي چې یې غصب کړې ده بیرته افغانانو ته ورکړي . دا خولاڅه کوې چې د ډیورنډ د منحوسې کرښې په اړوند لوزنامه د سلو کلونو د پاره د اعتبار وړ ګڼل شوې وه ، چې د سلو کلونو په تیریدو سره باید بې له کومې پلمې څخه ویشل شوی افغانستان بیرته یوشوی وای ، چې اوس له دغې لوزنامې څخه ۱۱۹کلونه تیر شوي دي ، خو لا تر اوسه افغان غمځپلی ملت د انګریزانو پر ځای د پنجابي استعمار لاندې ویشلی او ټوټې ټوټې پروت دی . واقعیت داسې دی چې : « حق نه ورکول کیږي ، بلکې اخستل کیږي » .

د باچا خان په مشرۍ د « خدایي خدمتګارانو » اوږدو او بیساري سرښندنو ځکه په زړه پورې پایلې نه درلودې ، چې په کابل کې محافظه کارو واکدارانو دا خبره هیره کړې وه ، چې : « د خیبر دره خو لار د تلو راتلو ده – په کابل او پیښور کې افغان یودی » . که د کابل او پیښور څخه په یووخت د یو واحد افغان ملت په نوم د خپلواکۍ اواز جګ شوی وای ، نو هیڅکله به هیچا ، نه انګریزانو اونه پنجابیانو ، دا ځواک نه درلودای چې د افغانانو په طبیعي حق سترګې پټې کړي او د افغانستان ویشلو ته دوام ورکړي .

اوس هم د استعمار د پاتې شونو لمنځه تګ او له امو څخه تر اباسينه پورې د افغانانو د واحد ملت يووالی او خپلواکي په دې پورې تړلي دي ، چې ټول افغان ستر ملت په يووخت او يو اواز ووايي : چې موږ يوواحد خپلواک ملت يو ، د هيچا له خوا ويشل نه منو او د هيچا تر واک لاندې ژوند نه غواړو او نه کوو . د افغانانو د خپلواکۍ او برياليتوب راز په همدې کې دی ، چې کله به ټول افغان ولس له امو څخه تر اباسينه پورې خپل اواز يو کوي او د بهرنيو دښمنانو او د دوئ د تالي څټو توطيې ، چې نه غواړي افغانان يوشي ، خپلواک ، سوکاله او سرلوړی سوله ايز ژوند ولري ، شنډې کړي.

د ډيورنډ د کرښې په واسطه د افغان واحد ملت ظالمانه ويش له دې ملت څخه ډير شيان اخستي دي او که دا ويش لانور هم دوام وکړي ، نو کيدای شي چې نه يوائې به د تيريو ، لاسوهنو ، جګړو ، بې ثباتۍ ، وروسته پاتې والي ، بيوزلۍ او نورو ډول ډول ستونزو سره مخامخ وي ، بلکې ژبه ، فرهنګ او حتی خپل ملي هويت به هم له لاسه ورکړي . او تل به د پرديو د تيريو ، سپکاويو ، ذلت ، فقر ، ناپوهۍ او بيسوادۍ له کبله ځان پخپله د نشت کندې ته ټيل وهي.

افغانانو ته د دوئ يووالی ، چې د ټولو برياليتوبونو ، ځواکمنتوب او نيکمرغيو بنسټ دی ، بل څوک نه ورکولی شي او نه يې ورکوي. افغانان حق لري چې د ټولو نړيوالو نورمونو ، حقوقو ، غوښتنو او ضرورتونو سره سم د يو واحد ملت په توګه له امو څخه تر اباسينه پورې په خپلواک تاريخي افغانستان کې ژوند وکړي . دا حق په سوال نه ورکول کيږي ، بلکې بايد افغانان د خپلې بقا د پاره دا حق پخپله لاس ته راوړي . ځکه چې له امو څخه تر اباسينه پورې د يو واحد ملت په توګه د افغانانو يووالی د دوئ د شتون او نه شتون سره تړاو لري : « يا به يو کيږي – ګنې ورکيږي ».

په همدې ډول له امو څخه تر اباسینه پورې د افغان واحد ملت په توګه د نړیوالې ټولنې له خوا د افغانستان په رسمیت پیژندل به په دې هیواد کې سوله او ثبات منځته راوړي ، چې دا سوله او ثبات به نه یواځې د افغانانو د سوکالۍ ، اقتصادي–ټولنیزو او فرهنګي پرمختګونو د پاره ګټور وي بلکې د سیمې او نړۍ سولې او ثبات په ټینګیدو کې به اغیزمن رول ولري. نو ځکه نړیواله ټولنه باید له واقعیتونو څخه دفاع او ملاتړ وکړي او د افغان واحد ملت د منځته راتګ له ښیګڼو او ضرورت څخه ، چې د افغانستان ،سیمې او نړۍ سولې او ثبات کې ستر رول لوبوي سترګې پټې نه کړي. د افغان واحد ملت د بیلتون کرښه ( د ډیورنډ کرښه ) رد کړي او له امو څخه تر اباسینه پورې د افغانانو د یووالي څخه ملاتړ وکړي. تر څو د افغانانو اوسنۍ غمیزه پای ته ورسیږي او د افغانستان ، سیمې او نړۍ د بې ثباتۍ یو ستر عامل ، چې د ډیورنډ د تورې کرښې په واسطه د افغان واحد ملت ویش دی له منځه ولاړ شي.

---

*ـ دا لیکنه په ۱۳۹۰ کال کې د « رښتیا » جریدې د مرغومي د میاشتې په ګڼه کې خپره شویده.

# ولې په افغانستان کې فدراليزم د تجزيې مانا لري ؟ *

په دې کې شک نه شته چې د فدرال دولتي سيستم د نړۍ په ډيرو هيوادونو کې خلکو ته د منلو وړ او بريالی دولتي سيستم دی . د نړۍ يوشمير ډير پرمختللي هيوادونه لکه د امريکې متحده ايالتونه ، کاناډا او جرمني يې ښې بيلګې دي ، چې د فدرالي سيستم په درلودلو سره د فعال او ثابتو دولتونو او قانون له حاکميت څخه برخمن دي. ددې سبب دا دی ، چې په دې هيوادونو کې سيمه ييزو نسبي خپلواکو ادارو د دې د پاره واحد فدرال دولتي سيستمونه منځته راوړل ، چې په سياسي ، اقتصادي ، ټولنيزو او دفاعي ډګرونو کې داسې لوړو پوړيو ته ورسيږي چې په يوائې ډول دا ځانګړې ادارې نه شوې رسيدای.
همدارنګه د لوړ سياسي ټولنيز شعور لرونکي خلک خپلې ګټې د خپلې ټولنې په ګټو کې لټوي او د خپلې ټولنې ګټې د زياتو سياسي ، اقتصادي دفاعي او ټولنيزو امکاناتو تر څنګ د نړۍ پر سر په يو خپلواک ملي هويت کې ، چې د ټولنې ټول خلک پرې راټوليږي او په نړۍ کې د هر ملت خپله ځانګړې پته ده ، ګوري . په نوموړو هيوادونو او د دې په څير نورو هيوادونو کې فدرالي سيستمونه د همداسې خلکو په واسطه منځته راغلي دي . په دې هيوادونو کې فدرالي سيستم د يوبل څخه د ليرې پرتو بې هويته وړو ټولنو يا ادارو د يووالي څخه منځته راغلي دي او د يو ځانګړي غوره ملي هويت لرونکي لويه ټولنه يې جوړه کړې ده .
خو په افغانستان کې د فدرالي سيستم غوښتونکي په نورو هيوادونو کې د فدرالي سيستم د پلويانو په څير نه دي . دوئ په واقعيت کې د شخصي ګټو او قدرت ليونيان دي او د شخصي ګټو او پيسو د پاره د افغانانو له ملي ګټو او وياړونو څخه تيردي . څرنګه چې د سياسي او ټولنيز شعور سطحه يې ټيټه ده ، نو ځکه د نژدې او ناڅيزو ګټو د پاره د لوړو ملي ګټو

او ویاړونو څخه په اسانۍ تیریږي او کولای شي د سترو ملي ګټو په وړاندې بې له کومې اندیښنې خیانت ته ملا وتړي. دوئ د خپلې تنګ نظرۍ او بې شعورۍ له کبله د افغانستان د خلکو ملي یووالی په خپل تاوانویني او خپله لویي او ګټه د یو ستر واحد ملت په دننه کې د سرلوړي خپلواک ژوند څخه بهر، په کوچني تبریز تعصب او د پردیو په چوپړ کې، ویني. ښه به وي چې یو څه په دې ټکو رڼا واچول شي:
۱ـ په افغانستان کې د فدرالیزم د غوښتونکو څخه ډیر یې د خپل ملي هویت څخه کرکه لري او د افغان په نوم د افغانانو هویت یوائې په یو قوم پورې تړي. دوئ داسې ګڼي، چې ګڼې افغان او پښتون یو دی او کله چې وایې چې زه افغان یم مانا ورکوي چې زه پښتون یم. نو ځکه کله چې تر ې پوښتنه وشي چې څوک دی، نو وایي چې افغانستاني یم، یانې په افغانستان کې ژوند کوم. دوئ د هم دغسې تعصب له کبله د ویاړه ډک د افغان په نوم هویت د ځان نه ګڼي. بل هویت ځان ته ورکولی نه شي، نو ځکه د یو بې هویته انسان په څیر د افغانانو د واحد هیواد په ټوټې کولو یې زړه نه خوږیږي، بلکې خوښیږي او ارمان یې تر سره کیږي.
۲ـ په افغانستان کې د فدرالیزم غوښتونکي په دموکراسۍ عقیده نه لري او د اکثریت او اقلیت اصل نه مني. دوئ چې په غیر مشروع ډول د بهرنیو هیوادونو، په تیره بیا د امریکې په مټ د بې سارو پانګو خاوندان او د سیاسي، نظامي او اقتصادي امتیازاتو او قدرت مزه څکلې ده، غواړي تل دا امتیازات ولري او په قدرت کې اوسي. هرشی چې د خپلو امتیازاتو او قدرت په وړاندې ګواښ ګڼي د هغه سره مخالفت کوي. سوله او ثبات د افغانستان د خلکو د لومړنیو ضرورتونو څخه شمیرل کیږي، خو دوئ ځکه د سولې د ټینګیدو سره مخالفت کوي او د طالبانو سره د خبرو اترو او د سولې له لارې د ستونزو د اوارید و سره ضدیت لري، چې خپلې ګټې په جګړو کې ویني، نه په سوله کې. حتی دوئ خوښ دي

چې د پردیو لاسوهنې او تیري پر افغانستان دوام ولري ، خو دوئ دې د ګوډاګیانو په توګه سیاسي قدرت ته ورسیږي . د خپلو شخصي ګټو اوقدرت د پاره د یو ځواکمن او متحد افغانستان په وړاندې ملي خیانت ته ملاتړي او د ډیورنډ د توري کرښې د په رسمیت پیژندلو چغې وهي . دوئ د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع ملي وجیبه نه پیژني او له امو څخه تر اباسینه پورې د واحد ځواکمن افغانستان منځته راتګ نه شي زغملی . د دې دپاره چې پښتانه په افغانستان کې غوڅ اکثریت جوړ نه کړي ، د پنجاب د اجنټانو په څیر د پنجاب د استعماري ګټو د پاره کار کوي او د خپل هیواد د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د لاسته راوړو پر ځای د تسلیم طلبۍ وړاندیزونه کوي . ایا تر دې اندازې بیګانه پرستي به په فدرالي سیستم کې د هیواد د تجزیې په مانا نه وي ؟.
۳ـ په افغانستان کې د فدرالي سیستم غوښتونکي هغه کسان دي ، چې ډیر یې د بشرله حقوقو څخه سر غړوونکي جګړه ماران او د زرګونو افغانانو ، په تیره بیا پښتنو ، قاتلین دي . دوئ د جنګي جنایاتو تر څنګ قومي ، ژبني او مذهبي تبعیضونو او تعصباتو ته لمن وهي او د پښتون قوم په وړاندې په تعصب او دښمنۍ کې د بهرنیو دښمنانو څخه مخکې دي . دوئ د خپلو دې جنایاتو په وړاندې د حساب ورکولو څخه ډاریږي او ځان په جګړو ، د بهرنیو ځواکونو په چوپړ او قومي تعصباتو ته په لمن وهلو کې خونديویني . دوئ له دې ډار څخه ، چې که چیرته په هیواد کې سوله ټینګه شي او یو مرکزي نسبتا ثابت دولتي نظام منځته راشي ، نو به هرو مرو د خپلو جنایاتو په سزا رسیږي ، نو ځکه « د فدرالیزم » له لارې ځان ته د مرکز څخه په تښتیدو کې د پټیدو ځای لټوي .
۴ـ د فدرالي نظام غوښتونکي د بهرنیو هیوادونو ، په خاص ډول ګاونډیو هیوادونو سره ژور اړیکي لري . دوئ د ګاونډیو هیوادونو د قومي ، ژبني او فرهنګي اغیز لاندې په افغانستان کې د دې هیوادونو د لاسوهنو لپاره

زمینه برابروي. په افغانستان کې د ګاونډیو هیوادونو د لمسون پر بنسټ قومي ، ژبني او مذهبي اختلافونو او د دغو هیوادونو ، په تیره بیا د ایران ، فرهنګي یرغل اوترویج ته منظم کار کیږي . د همدغو بهرنیو هیوادونو په لمسون او لار ښوونه ، چې په افغانستان کې د سولې او ثبات او ځواکمن مرکزي حکومت ټینګیدل د ځان په ګټه نه ویني ، د فدرالي سیستم د منځته راتلو د پاره هلې ځلې پیل کیږي. چې دا په واقعیت کې د اوسنیو ستونزمنو شرایطو په موجودیت کې د هیواد د تجزیې د پاره د هلو ځلو مانا لري.

**۵-** په افغانستان کې د فدرالي سیستم غوښتونکي وسله والې ډلې لري ، چې ډیرو یې د منظم پلان له مخې د دولت په نوم جزو تامونه جوړ کړي ، خو قومانده یې د دوئ په لاس کې ده او هم د دولت د وسله والو ټولګیو څخه په ډیرو نوو او عصري وسلو سنبال دي. دې وسله والو ډلو د قومونو ترشا ځانونه پټ کړي دي او د بهرنیو هیوادونو سره د دولتي چوکاټ څخه بیرون ټینګې اړیکې لري. دوئ د هر یو بهرني یرغلګر سره پر افغانستان باندې یرغل کولواو د افغانانو په ځپلو کې برخه درلوده او بهرنیو وسله والو ځواکونو ته په جاسوسۍ کولو ، ناسمو راپورونو په ورکولو او شیطانۍ اولمسون ډیر بیګناه افغانان ، په تیره بیا پښتانه ، له منځه تللي دي . د فدرالي سیستم غوښتونکي د بهرنیو هیوادونو د استخباراتي شبکو له لارو پیسو او په هیواد کې د شخصي اوملي شتمنیو د لوټ اوتالان له کبله میلیاردران شوي دي . دوئ د خپلو دې نامشروعو او بې اندوله شتمنیواولوړو نظامي اوملکي دولتي پوستونو څخه په ناوړه ګټې اخستو سره دافغانانو د ملي یووالي د ټینګیدو پر ضد کارکوي . نه یواځې د ځینو بهرنیوهیوادونو ، په تیره بیا ایران د فرهنګي یرغل په وړاندې د پښتو ژبې شتون یې په فرهنګي او تعلیمي مؤسساتو کې له منځه وړی دی ، بلکې د دې ژبې ویونکي او لیکونکي یې د ډیرو ستونزو

سره مخامخ کړي دی. ډیر پښتانه د دوئ له ویرې په پښتوژبې ، چې د
اکثریت او د هیواد ملي ژبه ده ، خبرې نه شي کولای او که څوک بیا هم دا
زړورتوب وکړي او په پښتو ژبې ولیکي او خبرې پر وکړي ، د ډول ډول
ستونزو سره یې مخامخ کوي. د پښتو ژبې په وړاندې دومره خصومت او
دښمني په واقعیت کې د پښتون قوم په وړاندې خصومت اودښمني ده ،
ځکه وایې چې یو قوم غواړې له منځه یې یوسې ، نوژبه یې له منځه یوسه.
د فدرالي سیستم غوښتونکي نه یواځې قومي ،ژبنې او مذهبې
تعصوبونو ته لمن وهي ، بلکې د هیواد په بې ثباتۍ او قانون ماتونې کې
ستره ونډه لري. دوئ چې د بهرنیو په مرسته د سیاسي ، اقتصادي او
نظامي قدرت خاوندان دي ، کیدای شي په داسې بې مسؤلیته چلند او
طرحو هیواد د سترو ستونزو او ګډوډیو سره مخامخ کړي.
د دې ټولو پورتنیو واقعیتونو په پام کې نیولو سره په برلین کې د
امریکایي سناتورانو او جرمني چارواکو سره د فدرالي سیستم په اړوند
خبرې کول او په دې هکله یې ملاتړ غوښتل ، دشمالي ټلوالې د پلاوي
هغه هڅه ده ، چې د مرکزي دولت په کمزوري کولو سره د هیواد دتجزیې د
پاره د هڅو بوی ترې راځي. خو باید زیاته شي چې « افغان » د داسې یو
باتور «ملت » او « هویت » نوم دی ، چې په افغانستان کې ټول میشت
قومونه پرې ویاړي اوهیڅکله به هیچا ته اجازه ورنه کړي ، چې دا ویاړ
ترې واخلي.

---

*ـ دا لیکنه په ۱۳۹۰ کال کې د « رښتیا » جریدې د سلواغې د میاشتې په
ګڼه کې خپره شویده.

## د نړۍ خورو او تالي ځتو په تندي يو بل تور داغ *

اوس بيخي جوته شويده چې د افغانستان د خلکو د غميزې او بد مرغۍ عاملين څوک دي. چاپې سوله او ثبات له منځه وړی او په خپل هيواد او کور کلي کې يې هوسا ژوند کولو ته نه پريږدي. چا ورله د پلار نيکه څخه راپاتې ټاټوبی لوټې لوټې او کور کلي يې ورته په اديرو او کنډوالو بدل کړل. چا په څه ګناه پرې شپه او ورځ باټونه وچلول او بمونه وه وورول. د چا د لاسه په زرګونو بيګناه ښځې ماشومان او بوډاګان هر کال له منځه ځي. چاد افغانانو عقيدو ، دود دستور ، احساساتو او ارزښتونو سره لوبې کړيدي. چا د افغانانو په جنازو ، ودونو او جرګو د ترهګرو په نوم بمبارۍ کړې دي ، په کورونو ورختلي دي او د پت او عزت سره يې ورله د وحشت څخه ډک چلند کړی دی. څوک د بې پيلوټه الوتکو په بمباريو کې هره ورځ بې د جرم له ثبوت او محاکمې څخه ، په بمونو او راکټونو ټوټه ټوټه کيږي او بيا پرې د پاسه د تروريستانو نوم ايښودل کيږي . دا څرنګه نړيوال قضاوت او عدالت دی چې د تيري او ستم لاندې ولسونه د تروريزم په تور په خپل هيواد کې له منځه ځي او غندل کيږي ، خو تيري کوونکي او ستمګر تروريستي ځواکونه ، چې ټوله نړۍ يې د وحشت او ډار سره مخامخ کړې ده د سولې ،دموکراسۍ او د بشرد حقوقو د مدافعينو په څير ستايل کيږي.

اوس بيخي جوته شويده ، چې د ملګرو ملتونو سازمان هم د ځبر ځواکونو په خاص ډول د امريکې متحده ايالتونو تر اغيز لاندې فعاليت کوي . د ملګرو ملتونو سازمان، چې د کومو موخو د پاره منځته راغلی ود ځبرځواکونو ، په تيره بيا د امريکې متحده ايالتونو د لاسوهنو له کبله ، نه شي کولای ښه ته ښه او بد ته بد ووايي. د ملګرو ملتونو سازمان بايد په نړۍ کې د سولې او ثبات څارونکی وي او هيڅوک پرې نه ږدي ، چې د

نړۍ د سولې او ثبات په وړاندې ګواښ منځته راوړي. څرنګه چې سوله او ثبات د نورو هیوادونو او خلکو پر حقوقو د تیریو په نتیجه کې له منځه ځي، نو ځکه ملګري ملتونه باید هیچاته اجازه ور نه کړي، چې په نورو هیوادونو تیری وکړي او د نورو هیوادونو د خلکو سوله ییز ژوند له منځه یو سي. خو په خواشینۍ سره نه یوازې دا چې ملګري ملتونه دا کار نه شي کولای، بلکې ډیر ځلې د استعماري ځواکونو ناروا او نا مشروعو تیریو او کړنو ته «مشروعیت» ورکوي.

له همدې کبله استعماري سیاستونو د نړۍ د سولې او ثبات د تینګیدو ټولې لارې چارې له منځه وړې دي او په نړۍ کې یې یو خطر ناک حالت منځته راوړی دی. د نړۍ د نورو هیوادونو طبیعي زیرمو ته د رسید و د پاره د لښکر کشیو او وسله والو یرغلونو په شمول له هیڅ ډول توطیو څخه ډډه نه کوي، تر څو خپلو کرغیړنو موخو ته ورسیږي. د امریکې متحده ایالتونه او نور ځبر ځواکونه د خپلو استعماري موخو او ګټو د پاره د نړۍ د فاسد ترینو رژیمونو څخه، چې د دوئ د ګټو د پاره خپلې ملي ګټې تر پښنو لاندې کوي، ملاتړ کوي او ساتي یې. خو هغه رژیمونه او حکومتونه، چې د خپلو ملي ګټو څخه د دوئ د ګټو د پاره نه تیریږي په ډول ډول لارو، د مستقیم وسله وال یرغل په شمول، له منځه وړي او خپل لاسپوڅي او ګوډاګیان قدرت ته رسوي.

په سیمه کې خپلو ستراتیژیکو موخو ته د رسیدو په خاطر د امریکې متحده ایالتونو او متحدینو، په تیره بیا برطانیې، د افغانستان د غوره موقعیت د لاسته راوړو د پاره طالبانو حکومت ته پلمه جوړه کړه، چې د اسامه بن لادن او القاعدې سره اړیکې لري. څرنګه چې د نیو یارک او واشنګټن په پیښو کې القاعده ګرمه ګڼل شویده، نو طالبان یا په بله وینا افغانان، چې د پیښنو سره یې هیڅ ډول اړیکي نه دي ثابت شوي باید د دغو تروریستي پیښنو کفاره ورکړي. پر افغانستان باندې یرغل ته لا له

پخوا څخه تیاری نیول شوی و او د خپلو استخباراتي شبکو له لارې یې یو شمیر پردیپال پیدا کړي وو تر څو د هوایي ځواکونو د یرغل تر څنګ د پلیو ځواکونو د شتونه تشه ډکه کړي ، نو ځکه یې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر پر ۷ نیټه د ب- ۵۲ الوتکو او نورو ډیرو موډرنو وژونکو وسلو په مټ او د شمالي ټلوالې اړوند په ډالرو اخستل شوو اجیرو ملیشو په ډاډ پر افغانستان یرغل پیل کړ. د تیري له لومړۍ ورځې څخه جوته شوه چې دا جګړه، چې امریکې او متحدینو یې پیل کړې ده ، د تروریزم او یا تروریزم سره په لوی لاس تړل شوو طالبانو پرضد نه ده ، بلکې د ټول افغان ( پښتون ) ملت پر ضد جګړه ده .نو ځکه امریکایانو د خپلو په ډالرو اخستل شوو اجیرانو په اجنټورۍ د افغان (پښتون ) ملت د ځپلو جګړه پیل کړه ، تر څو د افغانستان د غوره ستراتیژیک موقعیت څخه په ګټې اخستو سره په سیمه کې هم خپلې ستراتیژیکې ګټې لاس ته راوړي . امریکایانو او متحدینو فکر کاوه ، چې د پښتنو په ځپلو سره به په خلاص لاس په افغانستان او سیمه کې واک چلوي او هر څوک چې یې واک نه مني د « تروریست» په نوم به یې له منځه وړي.
امریکایانو په دې جګړه کې پخپله هم ډیر ځاني او مالي تاوانونه وګالل او هم یې افغانانو ته د دموکراسۍ په تور کالبوت کې دومره غمونه او کړاوونه راوړل چې اټکل کول یې شونی نه دی. د امریکې چاپ ( ایوننګ پوست ) خپرونې د ۲۰۱۲کال د فبروري د ۱۵ نیټې د احصایې له مخې په دې جګړه کې تر اوسه پورې د امریکې ۲۷۴ میلیارده ډالر لګیدلي دي او ځاني تلفات یې ۲۰۰۰ څخه زیات مړه او ۲۰۰۰۰ نه زیات ټپیان دي. په خپرونه کې د طالبانو د مړو شمیر ۳۹۲۰۰۰ او د ټپیانو شمیر ۷۹۲۰۰۰ ښودل شوی دی. په دې تپل شوې جګړې کې تر اوسه پورې د بیګناه ملکي کسانو مړینه ۲۵۰۰۰کسان ښودل شوي دي. او د ۱۲۰۰۰ څخه زیات کلي ، د خپرونې د معلوماتو له مخې ، د یرغلګرو د بمباریو په واسطه په کنډوالو بدل

شوي دي. باید وویل شي چې دا خو د امریکایي خپرونو له خوا د تلفاتو اندازه ده ، ربښتیاني تلفات له دې څخه څو ځلې زیات دي.
په افغانستان کې دا لس کلونه کیږي ، چې امریکایان او د ناټو ځواکونه د بیګناه افغانانو په ځپلو بوخت دي. امریکایانو او ملګرو یې پروپیګنډې کولې چې د افغانستان د سولې او ثبات په ټینګیدو او بیا رغاونه کې به فعاله برخه اخلي او د دموکراسۍ د اصولو سره سم به د افغانانو په خپله خوښه حکومت جوړیږي ، د مخدره موادو دکاروبار مخه به نیسي او افغانستان به د دوئ په مرسته په یوې سوکالې، پرمختللې او متمدنې ټولنې بدلیږي. خو ایا د امریکایانو موخو د دوئ د ژمنو سره سمون درلود یانې څه ژمنې چې یې کړې وې په ربښتیا سره یې د هغوئ د سرته رسیدو د پاره کار کاوه او که نه ، په ژمنو یې افغانان غولول او کاریې د خپلو ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره کاوه.
خو په عمل کې جوته شوه چې امریکایانو او متحدینو چې کومې ژمنې کړې وې هغه ټولې هسې د افغانانو د غولولو د پاره وې او دوئ چې افغانستان ته راغلي دي یواځې د خپلو ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره راغلي دي. دوئ په خپل راتګ سره افغانانو ته غمونه ، کړاوونه ، لوږه ، فقر ، فساد ، پول پرستي ، پردیپالنه ، او د فاسدو پول پرستو پردیپالو حاکمیت پر افغانانو تپلی دی . پر افغانستان باندې د امریکایانو او متحدینو په یرغل سره ، افغانان  نه یواځې د سترو ځاني او مادي تاوانونو سره مخامخ شول ، بلکې ستر معنوي زیانونه یې هم ولیدل. هیواد یې د بهرنیو پوځونو په اشغال سره ملي حاکمیت له لاسه ورکړ. د پردیپالو فاسدو دموکراسۍ او ملي یووالي ضد عناصرو قدرت ته رسول په هیواد کې د فساد کچه تر بل هر وخت لوړه کړه او د درغلیو ، رشوت ، اختلاس ، احتکار ، شخصي او دولتي ملکیتونو غصبول ، نا امنۍ ،

غلا ، سړي تښتونو ، ترور ، او مخدره موادو کرکيلې او قاچاق لړۍ تر بل هر وخت چټکه شوه...

سربيره پر دې ، چې د « تروريزم » سره په جګړو کې امريکايانو او متحدينو په سلګونو زره بيګناه افغانان ، چې ډير يې ښځې ،ماشومان او بوډاګان جوړوي ، له منځه يوړل او د داسې بيګناه خلکو مرګ ژوبله لا دوام لري . حتی په شپوکې په خپلسرو عملياتو او د خلکو پر کورونو باندې په چاپو اچولو او د افغانانو دود او دستور ته سپکاوی او مقدساتو سره يې کرکه ښودل په واقعيت کې د افغانستان ملي حاکميت تر پښو لاندې کولو ته دوام ورکوي . د بهرنيو ځواکونو او د لاسپوڅو د لاپو سره سره د ژمي په وخت کې په کابل کې د لسګونو ماشومانو ، ښځو او بوډاګانو مړينه د نړۍ خورو او تالي څټو په تندي يو بل تور داغ دی چې هيڅکله به يې پاک نه شي کړای . د افغانستان د خلکو سره د مرستې په نوم د ميلياردونو ډالرو په تر لاسه کولو سره نړيو الو او کورنيو لوټمارانو ځانونه نور هم وپړسول او د خلکو فقر ، لوږه ، کړاوونه او تنګسې نورې هم زياتې شوې.

په دې وروستيو ورځو کې په کونړ ، تګاو او پروان کې د لسګونو ماشومانو په شهادت رسول د ناټو او ايساف د ځواکونو وحشت ، بې پروايي او بيرحمي ثابتوي ، چې د افغانانو د ځان ، مال او ګټوڅخه د دفاع په نوم يې څومره ډير غمونه ، کړاوونه او زيانونه زموږ د هيواد والو په برخه کړي دي . د امريکايانو له خوا د افغان مسلمان ملت مذهبي عقايدو سره په ضديت کې په مړو متيازې کول او د نورو مذهبي کتابونو سربيره د قران مجيد سوزول ،چې د ټول افغان ملت کرکه يې د ځان په وړاندې راپارولې ده ، په افغانستان کې د امريکايي او ناټو ځواکونو د کرغيړنو کړنو څخه پرده پورته کوي او افغانانو ته ثابتوي ، چې هيڅکله

هم نړۍ خواره او د دوئ لاسپوڅي د افغانستان خلکو ته د ښیګڼې رسولو جوګه نه دي.
اوس افغانان پوهیږي ، چې یواځې ملي خپلواک حکومتونه چې پخپله د دوئ له خوا منځته راغلي وي کولای شي د خلکو په ملاتړ سره په هیواد کې سوله او ثبات منځته راوړي ، اداري او نور فسادونه له منځه یوسي ، د هیواد بیا رغاونه او پرمختیایي کارونه په بریالیتوب سره سرته ورسوي د خلکو اړتیاوو او غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړي . د بهرنیو تیریو او لاسوهنو مخه ونیسي او د خپل هیواد د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او ساتنه وکړي . د افغانانو د ملي یووالي په ټینګیدو سره افغانان دا ورتیا مومي چې نه یواځې بهرنۍ ټولې توطیې شنډې کړي ، بلکې په دننه کې هم د بهرنیو هیوادونو د لاسپوڅو ظلم ، درغلیو ، زورواکۍ او قانون ماتونو ته د پای ټکی کیږدي . تپل شوي لاسپوڅي حکومتونه د دې وړتیا نه لري ، چې د خپلو خلکو او هیواد په ګټه کوم کار سرته ورسوي ، دا ځکه چې د شخصي ناڅیزو ګټو د لاسته راوړو د پاره یې د پردیو د اسارت غړوندي په خپلو غاړو کې اچولي دي او مجبور دي چې د هغوئ د ګټو د پاره کار وکړي. استعماري سیاستونه په زور او زرو چلیږي ، زور یې د وسله والو ځواکونو په شتون کې د پلي کیدو وړ وي او د زرو په واسطه لاسپوڅي اخلي او د خپلو موخو د لاسته راوړو د پاره یې په کار اچوي. لاسپوڅي تل د خپل هیواد او خلکو څخه پردي وي ، پردي پالي او د پردیو د ګټو د پاره کار کوي ، دا ځکه چې د پردیو په ګټو کې خپلې شخصي ګټېویني. همدا سبب دی چې دوئ د خلکو ملاتړ لاسته نه شي راوړای او نه دا وسه لري چې د خلکو باور وګټي نو په دې ډول نړۍ خواره او د دوئ لاسپوڅي یواځې خلکو ته غمونه او ستونزې زیږوي او بس.

*ـ دا لیکنه د ۱۳۹۰ کال د دلوې د «رښتیا» په ګڼه کې خپره شویده.

# زموږ ستراتیژیکه موخه*

د نړۍ په سر هیڅکله داسې نه دي شوي چې یو هیواد او ملت دې د نورو هیوادونو ، په تیره بیا ځبر ځواکونوچې د نوروکمزورو او بیوزلو هیوادونو سره د استعماري سیاستونو پر بنسټ چلند کوي، په واسطه د سولې ، ثبات ، خپلواکۍ ، ملي یووالي ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه برخمن شي . دا نعمتونه او نیکمرغۍ یوازې د هر هیواد د خپلو خلکو د هوښیارۍ ، سرښندنو ، یووالي ، غوښتنو ، کار او فعالیت زیږنده دي . هیڅ بهرنی هیواد ، په تیره بیا ځبر ځواکونه نه شي کولای د خپلو ګټو نه تیر شي او د بل هیواد د ګټو ، پرمختګ او ترقۍ د پاره بې غرضه مرستې او هلې ځلې وکړي.

یوازې د هر هیواد خپل خلک کولای شي د خپلو ارزښتونو څخه دفاع وکړي ، خپلې ستونزې اوارې کړي او خپلو هیلو ته ورسیږي . د افغانستان د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ، یا په بله وینا خپلو ملي او اسلامي ارزښتونو څخه یوازې د افغانستان خلک کولای شي دفاع او ساتنه وکړي ، نه بل څوک . هغه سوله به تلپاتې وي چې د افغانستان خلک یې ټینګه کړي او وه یې ساتي . د هرهیواد ریښتیني مالکان د هغه هیواد خلک دي. د هرې پام وړ ملي پیښې په هکله چې پریکړه کیږي ،دا پریکړه باید د دغه هیواد دخلکو په فعال ګډون او خوښه وشي. د یو هیواد دخلکو ( ملت ) له ګډون او خوښې پرته هیڅ ډول پریکړه د منلو وړ نه ده او اعتبار نه لري .

د افغانستان د ټولو خلکو د ګډون او خوښې پرته هیڅ ډول د پام وړ پریکړه ، د هرچاله خوا چې وي – پاد شاه وي که جمهور رییس او یا کوم بل مقام ، د منلو وړ نه ده او قانوني اعتبار نه لري . دا ځکه چې د دې هیواد اصلي مالکان د دې هیواد خلک دي او همدا خلک دي چې د خپل

هیواد خپلواکي ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا لاس ته راوړي او ساتي یې. یواځې خلک کولای شي او واک لري ستړې ملي دندې سرته ورسوي نه بل څوک.
د برطانوي هند استعماري واکدارانو او د دوئ د استعماري واک لاندې د نیمه مستعمرې امیر تر منځ د ۱۸۹۳کال د تش په نامه قرار داد له مخې د افغان ملت څخه په پټه د « ډیورنډ د کرښې » په واسطه د افغانستان ویشل ، د افغانانو په وړاندې د انګریزي استعمارچیانو یوه کرغیړنه توطیه ده چې هیڅ ډول مشروعیت او اعتبار نه لري او هیڅ ربښتیني افغان ته د منلو وړ نه دی .
دا چې د دې غیر مشروع تورې کرښې په واسطه لا تر اوسه افغان واحد ملت ویشلی او دوه ټوټې پروت دی علتونه لري او هغه دادي:
۱ ـ د افغانستان د خلکو ( ملت ) ځان نه پیژندنه او نه پوهیدنه ، چې ولې تل له بهر څخه د لاسوهنو ، تیریو ، تېل شوو جګړو ، غمونو ، کړاوونو او بربادیو سره مخامخ دي او څه وکړي ،چې د دې ټولو ناخوالو څخه وژغورل شي . خلک باید پوه شي ، چې د ټولو ناخوالو د مخنیوي ځواک یواځې همدوی سره دی او دا ځواک د ویشل شوي واحد ملت په بیرته یووالي سره منځته راتلای شي او بس.
۲ ـ د ځبر ځواکونو او ګاونډیو هیوادونو استعماري سیاستونه او توطیې چې د خپلو استعماري موخو او ګټو په خاطر نه پریږدي افغانان د یو واحد ملت په توګه په دې سیمه کې داسې یو ځواکمن مقتدر دولت منځ ته راوړي ، چې هیڅوک ورته په خیرنو سترګو ونه شي کتلای او د لاسوهنو او تیریو سره یې مخامخ نه شي کړای.
۳ ـ د افغانستان په دواړو ویشل شوو برخو کې د ځینو ځانغوښتونکو ، پردیپالو او د شخصي ګټو لیونیانو شتون ، چې د ناځیزه شخصي ګټو په

خاطر د لوړو ملي ګټو په وړاندې خیانت کوي او د پردیو په لمسون هلې ځلې کوي د افغان ملت ویش دوام و مومي.
**۴**- د یو ملي زعامت د تشې شتون تر ټولو لویه او د پام وړ ستونزه ده ، چې تر اوسه یې د واحد ملت د بیلتون دوام شونی کړی دی. که کله هم په خپل هیواد او خلکو مین شخصیت او یا حکومت د لږ وخت د پاره منځته راغلی دی ، نو د خلکو د وروسته پاتې والي او د افغانانو د بهرنیو ښمنانو او د هغوئ د لاسپوڅو د توطیو له کبله له منځه تللي او ټولې لاسته راوړنې یې د خاورو سره خاورې شوي دي. د دې د پاره چې ټولې نورې ستونزې اوارې شي د زعامت د ستونزې اواري ته تر هرڅه لومړی پام اړول په کار دی.
هرکله چې د ملي زعامت تشه ډکه شوه او د خلکو د باور وړ یو زعامت منځته راغی ، د خلکو د سیاسي پوهې سطحه په کم وخت کې لوړیدای شي. چې پایله به یې له امو څخه تر اباسینه پورې د ټولو افغانانو ملي یووالی وي. د افغانانو دا واحد ملت د خپل ملي زعامت په لرلو سره کولای شي په دموکراتیک ډول داسې یو واحد ځواکمن ملي دولت منځته راوړي ، چې وکړای شي د افغانستان د خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع وکړي ، له بهر څخه د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنو او تیریو مخه ونیسي ، په هیواد کې سوله ،ثبات او ملي یووالی ټینګ کړي او جګړو ځپلو افغانانو د سوکالۍ او پرمختګ د پاره مناسب شرایط منځته راوړي.
همدې موخې ته د رسیدو په خاطر ټولو هغو روښانفکرانو او سیاسي فعالینو ته ، چې د دې دریځ پلویان وي وړاندیز کیږي چې خپل منځي اړیکي ټینګ کړي ، تر څو د شرایطو سره سم یوه غونډه جوړه شي. په غونډه کې به د راتلونکي کار مکانیزم منځته راشي او د غونډې د برخې اخستونکو دندې به په ګوته شي.

اوس تر ډیرې اندازې جوته شوې ده ، چې د دیورند د کرښې په واسطه د ویشل شوي افغانستان دواړه برخې د استعماري سیاستونو د دوام له کبله تل د تیریو ، لاسوهنو ، جګړو ، بې ثباتۍ او نورو ډول ډول ستونزو سره لاس او ګریوان دي او له دې کبله یې ستر ځاني ، مادي او معنوي زیانونه لیدلي اوویني.

اوس دا هم ټولو ته څرګنده ده ، چې تر څو ویشل شوی افغانستان بیرته یو نه شي ، دا هیواد د بهرنیو لاسوهنو ، تیریو او توطیو څخه نه خلاصیږي. د ښمنان غواړي افغانستان تل کمزوری ، بې ثباته ، فقیراو دوئ ته اړ او وروسته پاتې وي ، تر څو پرې دوئ خپل واک وچلوي ، طبیعي زیرمې یې لوټ کړي او خلک یې د خپلو استعماري موخو او ګټو د پاره استعمال کړي.

اوس دا هم بیخي جوته شوې ده ، چې ځبر ځواکونه ، ګاونډیان او د دوئ لاسپوځي او ګوډاګیان د افغانانو په یووالي او د یو ځواکمن ، ستر او واحد افغانستان په جوړیدو کې خپلو استعماري ګټو ته خطر او د لاسپوڅو زوال ویني. نو ځکه دوئ هیڅکله هم د یو خپلواک ، ستر او واحد افغانستان د جوړیدو پلویان نه دي. له همدې کبله دا بیخي ناسمه او نامعقوله خبره او غوښتنه ده ، چې د ځبر ځواکونو ، ګاونډیانو او د دوئ د لاسپوڅو حکومتونو څخه هیله ولرو ، چې دوئ به افغانانو ته د ویشل شوي افغانستان یووالی بیرته ورکړي. دوئ به هیڅکله داسې ونه کړي. ځکه چې دوئ د افغانانو په یووالي او له امو څخه تر اباسینه پورې د یو واحد ځواکمن افغان دولت په جوړیدو کې دخپلو استعماري ګټو تاوان او د لاسپوڅو زوال ویني.

یوازې د افغانستان خلک ، پراخه پرګنې ، کولای شي د افغانانو دې سترې ملي غوښتنې او وجیبې ته د عمل جامه واغوندي. د خلکو پراخه پرګنې هغه وخت دا کار کوي ، چې پوه شي چې د ټولو غمونو ، کړاوونو

او بدمرغیو څخه د خلاصون لار د برطانوي استعمارچیانو له خوا د ډیورنډ د منحوسې کرښې په واسطه د ویشل شوي افغانستان یووالی دی . خلک باید په دې هم پوه وي ، چې که دوئ ټول په یوه خوله ووایي ، چې مونږ یوملت یو د هیچا له خوا دا ویشل نه منو ، نو بیا به هیڅوک نه وي چې د افغانانو د دې ملي سراسري غورځنګ په وړاندې ودریږي.
نور د دې شرایط راغلي دي ، چې د افغانانو خپلواکې ښسونکی ملي غورځنګ منځته راشي. تر څو په ۲۱ پیړۍ کې د استعماري سیاست څخه رازیږیدلې د افغان واحد ملت د ویشلو توطیه شنډه شي او په دې ډول د افغانانو د ټولو ستونزو بنسټیز عامل له منځه ولاړ شي. دا کار باید په څو پړاوونو کې سرته ورسیږي:
۱. په ټول افغانستان کې ( له امو څخه تر اباسینه پورې ) د دې غوښتنې تر شا د ملي وطنپالو شخصیتونو ، کړیو او ګوندونو تشخیصول او د هغوئ سره د دې مکانیزم شریکول. په سیاسي ټولنیز ډګر کې دې ستراتیژیکې موخې ته د رسیدو په خاطر د عامه ذهنیت د خپلولو د پاره په ټوله نړۍ کې ، هم د افغانانو سره او هم د نړیوالو سره ، فعال توضیحي کار سرته رسول.
۲ ـ د افغانستان په دواړو برخو او ټوله نړۍ کې د توضیحي کار او ددې طرحې د پلویانو د پیژندلو څخه وروسته د پلویانو تر منځ د عملي اړیکو ټینګول . په دې پړاو کې د طرحې د پلویانو تر منځ لیدنه کتنه ، راشه درشه او د تجربې او یوبل د نظریاتو پوهیدل او په سیمه ایز ډول د شریکو غونډو جوړول .
۳.د دې ستراتیژۍ د پلویانو ترمنځ د اړیکو ټینګیدو ، یوبل د پیژندلو او ارزولو څخه وروسته د ټولو پلویانو د استازو یوه شریکه غونډه جوړول ، په غونډه کې د خوځښت د منظم کار د پرمخ بیولو د پاره د داسې مشرتابه ،چې د افغانستان د ټولو برخو او په خوځښت کې د ټولو ګډون

کوونکو استازولي وکړي ، منځ ته راوړل ، د ستراتیژۍ د بنسټیزو ټکو په ګوته کول او دا پریکړه کول چې د خوځښت ټول ګډون کوونکي شخصیتونه ،کړۍ ، ټولنې ، شورا ګانې او ګوندونه به یواځې او یواځې د خوځښت د ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړو د پاره کار کوي.
۴ ـ په دې پړاو کې به په فعال او منظم ډول د ستراتیژۍ موخې او د خوځښت غوره ټکي د افغانستان په دواړو برخو کې د خلکو پراخو پرګنو ته رسول کیږي او د افغانانو د یووالي د ښیګڼو او ضرورت څخه به خبریږي. د خلکو په پراخه پرګنو کې دا توضیحي کار به په فعال او منظم ډول پرمخ وړل کیږي.
۵ ـ د خلکو د پراخه پرګنو په منځ کې د توضیحي کار په نتیجه کې د یووالي د پاره د یو منظم ملي–ازادي بښونکي خوځښت پړاو رارسیږي. په دې پړاو کې به د ټول افغانستان ( له امو څخه تر اباسینه پورې ) خلک په یو اواز د یو واحد افغانستان د جوړیدو غږ پورته کوي او د ډیورنډ د منحوسې کرښې نه منل به اعلانوي. د افغانستان د ټولو خلکو د دې ملي ازادي بښونکي خوځښت پریکړه به هیڅوک نه شي رغړولای او په پایله کې به د افغان واحد ملت یووالی له امو څخه تر اباسینه پورې منځته راځي.
۶ـ له امو څخه تر اباسینه پورې د افغان واحد ملت د یووالي په اعلان او منځته راتګ سره کیدای شي بې له هر ډول بهرنیو لاسوهنو څخه یو ځواکمن رښتیانی افغان ملي سرتاسري دولت ، د ټولو افغانانو د هیلو او غوښتنو سره سم منځته راشي. په دې ډول چې لومړی به د ټول یو شوي افغانستان د خلکو د استازو څخه یوه لویه جرګه جوړیږي. لویه جرګه به لومړی لنډ مهاله حکومت منځته راوړي ، چې د ستر یو شوي افغانستان اساسي او د ټاکنو قانون جوړ کړي او د نوي اساسي او ټاکنو قانون سره سم په ټول افغانستان کې ټاکنې سرته ورسیږي. دا ټاکنې به د خلکو د

غوښتنو او دموکراسۍ د اصولو سره سمې ټاکنې وي ، چې په پایله کې به یې یو ځواکمن واحد سرتاسري د خلکو استازی دولت منځته راشي.
یادونې:
الف - ترڅو د ډیورنډ د کرښې په واسطه د افغانانو ویش دوام لري ، تر هغې پورې به د افغانانو بدمرغۍ لکه له بهر څخه دسترو استعماري ځواکونو او ګاونډیانو لاسوهنې ، تیري ، تپل شوې جګړې او له جګړو څخه ځیرېدلي کړاوونه او ستونزې ، هره ورځ د لسګونو بېګناه افغانانو مرګ ژوبله ، مذهبي ،ملي او معنوي ارزښتونو ته سپکاوی ، فقر ، لوږه ، بې کورۍ ، بې کارۍ ، بې سوادۍ، خپل منځي بې اتفاقۍ ، فتنې او دښمنۍ دوام لري . په تیره بیا افغانان به هیڅکله د یوې ربښتیانۍ خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا له نعمتونو څخه برخمن نه وي او ژبه ، فرهنګ او هویت به یې په پرله پسې ډول د تیري او له منځه تلو سره مخامخ وي.
ب - پوره باور دی چې د دې ستراتیژۍ پلویان به په پوره صداقت ، زړورتوب او ځیرکتیا سره دالیکنه نورو سپیڅلو وطنپالو شخصیتونو، قومي مشرانو ، علماوو،روښان فکرانو،دسیاسي– ټولنیزواوکلتوري شوراګانو،سیاسي کړیو اوسیاسي ګوندونو غړو او پلویانو سره شریکوي او په دې ډول به د دې ستراتیژۍ د غني کولو لپاره کار کوي .
ج- د دې ستراتیژۍ په پلي کیدو سره منځته راغلی خوځښت به په بشپړ ډول یو سوله ایز خوځښت وي او ټولې کړنې به یې د سیاسي سوله ایزو لارو پر بنسټ سرته رسیږي .

---

*-دا لیکنه د ۲۰۱۲ کال د مارچ په لسمه نیټه سرته ورسیده .

# څرنګه افغانستان غواړو ؟*

د هر افغان څخه که دغه پوښتنه وشي ، نو بې له دې چې فکر وکړي دستي به ووايي چې داسې افغانستان غواړي چې جګړې پکې نه وي. خو يوازې سوله نه ځوک خوړلی شي ، نه اغوستلی شي او نه بيشماره غوښتنو او ضرورتونو تشه ډکولای شي . افغانان خو تر هرڅه لومړی پرخپلې خپلواکۍ مين خلک دي . نو ځکه هيڅ افغان به پيدانه شي چې هغه خپلواکي ونه غواړي . خپلواکي ، بې ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا مانا نه لري . هر کله چې خپلواکۍ او ملي واکمنۍ ته زيان ورسيږي ورسره سم نور ټول ارزښتونه زيانمن کيږي . نو ځکه تر هر څه لومړی بايد افغانستان د پرديو له يرغلونو او لاسوهنو څخه وساتل شي ، تر څو ملي واکمني ولرو ، ځمکنۍ بشپړتيا مو خوندي وي او خلک مو د سولې اوثبات څخه برخمن وي او ملي – اسلامي ارزښتونوته مو ضرر ونه رسيږي.

که زموږ د هيواد تاريخ وڅيړو ، په ډاګه به دې پايلې ته ورسيږو ، چې زموږ هيواد په خپل اوږد تاريخ کې ډير ځلې د لوړو ژورو سره مخامخ شوی دی . کله چې له بهر څخه تيری او لاسوهنې شوي دي او تيري کوونکو وس موندلی دی چې زموږ هيواد لاندې کړي ورسره سم نه يوازې حال او راتلونکی مو د ډول ډول ناخوالو سره مخامخ شوی دی بلکې تاريخي لاسته راوړنې او ارزښتونه مو هم يا له منځه تللي او يا ډير زيانمن شوي دي. يرغلګر هيوادونه تر هر څه لومړی د خپلو پښو او واک د ټينګولو په خاطر په نيول شوو هيوادونو کې داسې کسان سياسي واک ته رسوي چې د تيري کوونکو له خبرې څخه نه تيريږي ، هره خبره يې په پټو سترګو مني او د تيري کوونکو د ګټو د پاره کار کوي . په خپلو خلکو کې منفور وي ، بې کفايته او په فساد مشهور وي ، تر څو په خپلو خلکو

کې اعتبار او ملاتړ ونه لري او تل په تيري کوونکو هيوادونو او ځواکونو پورې يې ځان تړلی وي . يرغلګر هيوادونه او ځواکونه تل د ملي وطنپالو شخصيتونو او ډلو څخه ، چې د دوئ استعماري سياست سره نه جوړيږي له کچې زياته ناغيرې او کر که ښکندوي او په وړاندې يې له هيڅ ډول توطيو جوړولو او درواغجنو پروپيګنډو له کولو څخه ډډه نه کوي .
استعماري يرغلګر ځواکونه تل د دموکراسۍ ، د بشر له حقوقو څخه د دفاع په نوم نور هيوادونه تر يرغل لاندې راولي . خو نه يوازې دا چې دوئ پخپله د محکومو ، تيري او يرغل لاندې راغلو خلکو سره د دموکراسۍ د اصولو او بشر د حقوقو سره سم چلند نه کوي ، بلکې د اشغالګرو ځواکونو د بشر د حقوقو ضد وحشيانه کيسې د اشغال لاندې خلکو په ذهنيتونو کې تر مودو مودو پاتې کيږي . نو ځکه د اشغالګرانو پر ضد د اشغال لاندې هيوادونو د خلکو کرکه تلپاتې وي . په همدې ډول د استعماري اسغالګرو ځواکونو غچ اخستونکی غبرګون هم د هغو خلکو پر ضد ډير ژور ، پراخ او سخت وي ، چې د استعمار او اشغال سره ضديت لري او د استعماري سياستونو له منلو څخه سر غړوي او پر ضد يې جګړه کوي .
که چيرته د افغانستان تاريخ ته وګورو ، نو په ښکند ډول به ووينو چې استعماري يرغلګرو ځواکونو په ځومر ه کرغيړن ډول د افغانانو د وطنپالنې په وړاندې د غچ اخستو توطيې سرته رسولي دي . د ټولو يرغلګرو ځواکونو لومړنۍ هڅې دا وي ، چې ځان پورې تړلي د شخصي ګټو ليونيان ، بې کفايته فاسد په ټولنه کې تجريد کسان سياسي قدرت ته ورسوي او د دوئ په واسطه د افغانانو ملي ګټې د خپلو استعماري ګټونه لوګی کړي . برطانوي استعمارچيانو د خپلو استعماري ګټو د ساتلو په خاطر په افغانستان کې د شهزادګانو تر منځ خپلمنځي جګړو ته لمن ووهله او د دوئ تر منځ يې هغه شهزادګان د خپلو يارانو په ځير غوره

کړل ، چې د شخصي ګټو او قدرت د پاره د انګریزانو د تیري سره یې یو ځای پر افغانستان یرغل وکړ. انګرایزانو د خپلو استعماري موخو د پاره د افغانانو تر منځ د قوم ، مذهب او ژبې له توپیرونو څخه د افغانانو د یووالي د کمزوري کیدو د پاره له هیڅ ډول توطیو څخه ډډه ونه کړه او په پیسو اخستل شوو فرمایشي قومي مشرانو ، ملایانو او ځینو مشکوکو روحاني څیرو څخه د وطنپالو رښتیانیو قومي ملي مشرانو ، ملایانو او روحانیونو په وړاندې یې ډیرې ستونزې پیدا کړې او په خپلو خلکوکې د بې اعتباره کولو د پاره له هر ډول درواغجنو پروپیګنډو ځنې کار واخست .

برطانوي استعمارچیانو چې هر څومره د زور او تطمع څخه کار واخست او وسه یې وکړه چې افغانان ایل کړي ، خو پر خپلواکۍ مین افغانان کله دبهرنیو یرغلګروتر واک لاندې ژوند کولای شي ؟ هرڅومره چې دښمنانو یې د ځپلو هڅه او وسه کړې ده ، په هم هغه اندازه یې د افغانانو مقاومت او کرکه لیدلې ده . نو ځکه یې د ډیرو مرګ ژوبلو او ملي مشرانو ته د توطیو په کولو سره د افغانانو د قوم ، ژبې او مذهب په نوم بې اتفاقیو ته په لمن وهلو او عام قتلونواوبربادیو په سرته رسولو نه وروسته یې د افغانستان او افغانانو د ویشلو او افغانستان د ټوټې کیدو توطیه سرته ورسوله. په تیره بیا د دیورند د کرښې په واسطه د افغانستان ویشل ، چې لا تر اوسه دوام لري ، افغانان دومره کمزوري کړل ، چې له بهر څخه یې په خپلو کورنیو چارو کې د لاسوهنو او پر هیواد د تیریو په وړاندې د دفاع وس له لاسه ورکړی دی. چې له کبله یې په سمه توګه خپله خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا نه شي ساتلی او تل د ځبرځواکونو او ګاونډیو هیوادونو د ګواښونو ، لاسوهنو او تیریو سره مخامخ وي. د افغانستان له ویشلو څخه وروسته هم که دا هیواد د لږ وخت د پاره د سولې او ثبات څخه برخمن و، له دې کبله نه و ، چې ګڼې دې هیواد

ځواکمن دولتونه درلودل او د خپل هیواد د سولې او ثبات څخه یې دفاع کوله. دا د لنډ وخت سوله او ثبات د یرغلګرو په مقابل کې د خلکو په ډیرو سترو قربانیو او یا د ډیرو کمزورو حکومتونو ، چې ایله یې د ګاونډیو او نورو هیوادونو سترګوته کتل او هیڅ کار یې د خپلو خلکو د سوکالۍ او د هیواد د بیا یووالي د پاره نه تر سره کاوه ترلاسه شوی و. د افغانستان په ویشل شوي حالت پټه خوله نیول د دې د پاره و ، چې استعماري ځواکونه او د دوئ تالي څټي ترې راضي وي او د دوئ شخصي ګټو او جعلي قدرت ته تاوان ونه رسیږي.
د برطانوي استعماري توطیو له کبله ټوټه ټوټه شوی او کمزوری افغانستان تل د بهرنیو او کورنیو تیریو او بغاوتونو سره مخامخ و. د نړۍ سترو استعماري هیوادونو او ګاونډیو فاسدو رژیمونو پټیلې وه چې افغانستان د تل د پاره وروسته پاتې ،کمزوری او د خپلو خلکو او حکومتونو په شخړو کې ډوب ، فقیر او محتاج هیواد وي. نو ځکه هر ډول مثبت بدلون چې پکې راغی په مختلفو نومونو او توطیو له منځه وړل شوی او دې ته نه دی پریښودل شوی چې د نورو سیالو هیوادونو په لیکه کې ودریږي. دلته ځینې بیلګې کولای شود لوستونکو د قناعت د پاره ولیکو. یوه یې د امیر امان الله خان په مشرۍ د افغانانو په ګټه بدلون و ، چې د انګریزانو او د دوئ د اجنټانو په واسطه د خلکو د سیاسي پوهې د وروسته پاتې والي له کبله ، د مذهب په نوم له قدرت څخه لیرې او داسې څوک قدرت ته ورسول شو ، چې په شوکې او ناپوهۍ مشهور و. دلته یو ملي وطنپال حکومت ، چې د هیواد د ترقۍ ، پرمختګ او د خلکو د سوکالۍ د پاره یې هلې ځلې کولې ، د داسې یو جاهل او د استعمار د الې په واسطه له منځه ولاړ ، چې خلکو دغه منفي بدلون باندې د اړودوړ نوم کیښود.

بله بیلګه یې د ۱۳۵۷ کال د ثور د ۷ نیټې بدلون و ، چې د بیوزلو خلکو د پاره یې په ډیر کم وخت کې ډیر مثبت کارونه سرته ورسول . که چیرته یې په وړاندې توطیې نه وای شوې کیدای شول په ډیره کمه موده کې د یو خپلواک ځواکمن افغان دولت د جوړیدو په وړاندې د ډیورنډ د تورې کرښې په واسطه د افغانستان د ویشلو ستره استعماري توطیه پای ته رسیدلې وای او ستر افغانستان د خپلو خلکو د سوکالۍ او پرمختګ لار غوره کړې وای. خو په ډیرې خواشینۍ سره دا ځل بیا هم د افغانستان د خلکو دښمنانو ، دد ې د پاره چې د افغانستان د خلکو په ګټه دا بدلو ن بریالی نه شي ، د خپلو اجنټانو په واسطه په سبوتاژ او توطیو لاس پورې کړ . په ګوند او دولت کې د ببرک کارمل سره تړلي کسان په داسې کړنو د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د غړو په جامه کې د نوي سیاسي بدلون ( د ثور انقلاب ) پر ضد داسې کارونه سرته ورسول ، چې د خلکو په ګټه د چارو د پرمختګ مخه ونیسي او د خلکو او ملي دولت تر منځ بې باوري او واټن منځته راوړي. د دې د پاره چې د ثور پاڅون له دننه څخه تخریب کړي شوروي استخباراتو په ګوند او دولت کې یو شمیر بې ظرفیته د شخصي ګټو لیونیان او پردیپال پیدا کړل ، چې یې د ملي وطنپال دولت پر ضد د هیڅ ډول ناوړه پروپیګنډو ، کړنو او کودتاګانو او ډول ډول توطیو څخه ډډه نه کوله . خو کله چې دا ټولې کرغیړنې هڅې شنډې شوې ، شورویانو په ډیر خاینانه غلچکي ډول پر افغانستان د ۱۳۵۸ کال د جدي د ۶ نیټې په تور ماښام تیری سرته ورساو. شورویانو فکر کاوه ، چې ګنې د حفیظ الله امین ملي وطنپال دولت په لمنځه وړو او د ببرک کارمل ګوډاګي دولت په جوړولو سره به د افغانستان خلک ځان ته ایل کړي او د کارملي وطنپلورونکو په مرسته به پر دغه هیواد خیټه واچوي . خو ډیر ژر د یرغلګرو او ګوډاګي رژیم په وړاندې د خلکو عمومي پاڅون سرته ورسید . افغانانو د خپلواکۍ په دې مقدس جهاد کې

ډیرې قربانۍ ورکړې ، خو یرغلګرو ته یې ماتې ورکړه او له خپل هیواد څخه یې وتلو ته مجبور کړل.
شورویانو ماتې وخوړه او له افغانستان څخه ووتل ، خو د خپلو لاسپوڅو له لارې یې لاسوهنو ته دوام ورکړ او د افغانانو د ملي یووالي د کمزوري کولو د پاره یې د خپلو ګوډاګیانو په واسطه د قوم ژبې ، مذهب او نورو توپیرونو او بې اتفاقیو ناروغتیا په افغاني ټولنه کې خپره کړه .
همدارنګه د اشغال او ګوډاګي رژیم په وخت کې ټولنیز فسادونه د فاسد پردیپال ګوډاګي دولت په وجود کې ورځ تر بلې زیات شول. د شورویانو د تیري څخه مخکې د خلقي دولت په وخت کې داسې د فساد بیلګې یا له منځه تللې وې ، هیڅ نه لیدل کیدلې او یا ډیرې کمې وې ، چې نه احساسیدې. رشوت ، اختلاس ، احتکار ، قاچاق او نور ټولنیز فسادونه په ډیره ټیټه کچه کې وو . د شورویانو د یرغل سره سم د نورو بهرنیو هیوادونو ، په تیره بیا ګاونډیو هیوادونو ، لاسوهنې زیاتې شوې .
همدارنګه دا چې د ببرک کارمل ګوډاګی رژیم د افغانستان د خلکو له ملاتړ څخه برخمن نه و ، نو ځکه په کم وخت کې په ټول افغانستان کې د یرغلګرو او د دوئ د ګوډاګیانو پر ضد عمومي پاڅون سرته ورسید . د امریکې او شوروي تر منځ د ساړه جنګ ډګر افغانستان وګرځول شو ، چې په دې جګړه کې افغانانو ستر ځاني ، مالي او معنوي زیانونه وزغمل. د امریکې او متحد ینو په مرسته ګاونډي هیوادونه په افغانستان کې لاسوهنو ته وهڅول شول. داسې جګړه ایزو تکتیکونو څخه کار واخستل شو ، چې افغانانو ته پکې د سترو ځاني ، مالي او معنوي زیانونو د اوښتلو امکان موجود و. د شوروي ماتې خوړلو یرغلګرو د غچ اخستلو په موخه ، د دوئ ګوډاګیانو د ملګرو ملتونو د سولې پلان سبوتاژ او ناکامۍ سره مخامخ کړ. د ملګرو ملتونو د پلان په وړاندې د شورویانو او لاسپوڅو د دسیسو په مقابل کې د امریکې او متحدینو بې تفاوتي او

سترګې پټول په لوی لاس افغانستان د سولې او ثبات پر ځای کورنیو جګړو ته ټیل واهه. چې افغانانو پکې ډېر ستر تاوانونه دا ځل نیغ په نیغه د بهرنیو له خوا نه ، بلکې د پردیو په لمسه پخپله د افغانانو له لاسه ولیدل .

په دې موده کې ، چې د شورویانو د یرغل څخه تر اوسه پورې ( ۲ / ۱۰ /۱۳۵۸ـ ۲ / ۱ / ۱۳۹۰ ) وخت په غیږ کې نیسي ، افغانان د جګړو اوبې ثباتۍ د یو نه پای ته رسیدونکي ناورین سره مخامخ دي. د بهرنیو هیواد ونو د تیریو ، لاسوهنو او لمسونو په نتیجه کې افغاني ټولنه د بشپړ سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیز او فرهنګي بحران په غږنه کې ښکیل شوه ، چې هرڅه یې له لاسه ولاړل او افغانان په خپل هیواد کې بې واکه او له ځان او هویت څخه پردي شول. د دې تر څنګ چې هر ډول سیاسي ، افتصادي ، نظامي ، اداري ، تعلیمي ، ټولنیز ، فرهنګي او نور جوړښتونه ویجاړ شول ، زموږ په هیواد کې ځینې سیاسي او روښانفکري کړۍ دومره پردیپالې شوې ، چې د خپلو افغانانو څخه په پردیو ډیر باور لري او خپل برخلیک یې په همدې پردیو پورې غوټه کړی دی. د خپلو خلکو پر ځای د پردیو څخه غواړي چې سیاسي قدرت ته یې ورسوي او په قدرت کې یې وساتي.

پر افغانستان باندې د امریکې او متحدینو یرغل د همداسې پردیپالو کړیو په مرسته سرته ورسید . امریکایانو هم لکه د انګریزانو په څیر د بیل یې کړه ایل یې کړه توطیو څخه کار واخیست. روسانو هم ورته توطیې په کار اچولې وې . امریکایانو په افغانانو کې یوڅو هیواد پلورونکي د شخصي ګټو لیونیان د استخباراتي شبکو په واسطه ډیر ارزانه په ډالرو واخستل او د خپلو نوکرانو په څیر یې د افغانانو د ملي یووالي د کمزوري کیدو اوبیلوالي د پاره په کار واچول . ټول یرغلګر ځواکونه په دې پوهیږي ، چې که افغانان یووي څوک ترې میدان نه شي

ګټلی ، نو ځکه د دې د پاره چې افغانان مات کړي ، لومړی یې باید بیل او کمزوري کړي.
د افغانانو د بیلوالي د پاره د قوم ، ژبې او مذهب د توپیرونو څخه په ناوړه ګټې اخستو سره انګریزانو د افغانانو سره د جګړو په وخت کې د خپلې تاریخي ماتې د غچ اخستو په موخه د ډیورنډ د کرغیړنې کرښې په واسطه داسې توطیه په پر افغان واحد ملت وتپله ، چې له کبله یې دا ملت ټوټې ټوټې شو او ټولې ټوټې یې د خپلو ځانګړو ستونزو سره لاس او ګریوان دي . خپلواکه برخه یې تل د تیریو ، لاسوهنو ، بې ثباتۍ او خپلمنځي بې اتفاقیو سره مخامخ او لاس او ګریوان وي. «ازاده» برخه یې د هر ډول علمي – تخنیکي پرمختګونو د ښیګڼو او اسانتیاوو څخه محرومه او له بهر څخه د ډول ډول افراطي او مافیایي کړیو ، چې د استعماري سیاستونو په خدمت کې استخباراتي شبکو سره نیغ په نیغه اړیکي لري د ځایي خلکو ملتپال مشران وژني ، په منځ کې یې دښمنیو ته لمن وهي او هم یې د بهرنیو دښمنانو توپونو ، پیلوټ لرونکو او بې پیلوټه الوتکو بمباریو ته په ګوته کوي . چې له کبله یې په زرګونو بیګناه افغانان د مرګ کومي ته لویدلي او سلګونو زره نور یې د خپلو کور ونو څخه کډې کولو ته اړ شوي دي.
د استعمار لاندې ژوند کول خو څه ژوند نه دی او تر هر څه لویه ستونزه ده . ازادي د انسان د پاره ستر نعمت دی ، چې د پردیو تر واک لاندې له دې نعمت څخه برخمن کیدل ناشونی کار دی. استعماري ځواکونه د خپلو مستعمر و خلکو ته تر هغې کچې پورې حق ورکوي ، چې د دوئ د ګټو سره سمون ولري . که چیرته د مستعمرو خلکو ته سیاسي ، اقتصادي ، فرهنګي او نورې خپلواکۍ ورکړل شي ، نو بیا د استعماري ځواکونو واک په چا چلیږي ؟ استعماري ځواکمني تر هغې پورې دوام کوي چې د مستعمرو خلک د خپلو حقوقو څخه محروم وي. طبیعي او نور منابع یې

د استعماري ځواکونو د ګټو او سو کالۍ د پاره په کار لویږي ، د خپلې ژبې پر ځای د استعمار چیانو په ژبه خبرې کوي او خپل دود او دستور او فرهنګ ته په سپکه ګوري او د استعمارچیانو د ګټو د پاره خپله ژبه او فرهنګ هیر او قربان کړي او د بې هویته انسانانو په څیر د پردیو په هویت ژوند وکړي. خوښۍ ، ښادۍ ، سوکالۍ ، پرمختګونه او ویاړونه د نورو په برخه وي او ستونزې ، ناخوالې ، غمونه ، پر شاتګ او پیغورونه د دوئ برخه وي .
د دې ښه بیلګه د بې اتفاقه، ټوټې ټوټې ، غمځپلي اویا میلیوني ( ۷۰۰۰۰۰۰۰)افغان ملت برخلیک دی . له کومې نیټې څخه چې دا ملت د انګریزي استعمارچیانو د توطیو له کبله ټوټې ټوټې شوی دی ، له هم هغې نیټې څخه تر اوسه پورې دا ملت د پرمختګ ، ودې او خپلواکۍ پر ځای تل د پردیو د تیریو ، ظلمونو ، محکومیتونو او ډول ډول ستونزو او محرومیتونو سره لاس او ګریوان دی. نه یوازې انګریزانو د دې ملت سره دښمني اخستې ، بلکې روسانو او امریکایانو هم ورسره د سترو دښمنانو چلند کړی او کوي یې. ګاونډي هیوادونه هم ورته تل په کمین کې ناست وي. پنجابیانو خو یې پر خپلواکۍ او نیمایي خاورې خیټه اچولې او تل په دې هلو ځلو کې دي چې څرنګه خپل استعماري واک ته دوام ورکړي.
ایرانیان هم غواړي افغان ملت تل بې اتفاقه ، کمزوری او د خپلې ژبې ، فرهنګ او اقتصاد څخه محروم وي ، خپل اصیل افغاني هویت له لاسه ورکړي ، چې په دې توګه د ایرانیانو لوړتیا غوښتنې او اقتصادي او فرهنګي یرغل په وړاندې د ودریدو وس ونه لري. سره د دې چې افغان ستر ملت ویشلی او ټوټې ټوټې پروت دی ، خو بیا هم یې د یرغلګرو په وړاندې په شریکه مقاومت کړی او ماتې یې ورکړې دي . نو ځکه ټول دښمنان دې باتور ملت ته په یوه سترګه ګوري او له اموڅخه تر اباسینه پورې ټول افغان ملت سره یوشان دښمني پر مخ بیایي . ټول ورپسې یو

شان پروپیګنډې کوي او ټول افغانستان يې له امو څخه تر اباسينه پورې د ناولواستعماري افغان ځپنې جګړو ډګر ګرځولی دی . دا ځکه چې دښمنان پوهیږي چې د افغانستان اصيل هويت بنسټ له امو څخه تر اباسينه پورې ميشت خلک په ګډه جوړوي او پښتون قوم پکې د ملاد تير حيثيت لري . که دا قوم کمزوري ، ټوټې ټوټې او وځپل شي ، نو افغانستان هيڅکله روغ نه پاتې کيږي او په اسانۍ له منځه تلای شي . نو ځکه ټول دښمنان ، يرغلګر استعماري ځواکونه د پښتنو د ځپلو دپاره يو په بل پسې په دې قوم وردنګلي دي ، خو د افغان ملت د شاځلمو د قربانۍ له امله بيرته ټيټ سرونه په شا تلوته اړويستل شوي دي.
د دې د پاره چې نور افغانستان د امن او سولې هيواد وي او هيڅوک پرې يرغل کولو ته زړه ښه نه کړي ، بايد د انګريزي ښکيلاکګرو او نورو استعماري ځواکونو ټولې توطيې شنډې شي او د افغانستان او افغانانو ويشل پای ته ورسيږي . له آمو څخه تر آباسين پورې واحد ملت د خپل ځان څخه دفاع وکړي، خپله خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا خوندي کړي او د تپل شوو جګړو او خپل منځي بې اتفاقيو نه ځان وژغوري. په دې بايد پو شو چې داسې افغانستان ، چې خلک پکې هوسا او سوله ايز ژوند ولري، هيڅوک موږ ته نه شي راکولی بې له خپل ولس نه چې د خپل خدای (ج) د رضا دپاره د ظالمانو د ظلمونو، استعماري ځواکونو له ځنځيرونو څخه ځان خلاص کړي، خپل سپيڅلی هيواد د پرديو له غلامۍ نه وژغوري. خپلواک افغانان بيا کولای شي په خپل هيواد کې د دښمنانو د لاسوهنو او تيريو څخه پرته د سولې او ورورۍ سياست غوره کړي ، يو رښتيانی عادل اسلامي دولت ، چې د ټولو اتباعو حقوق پکې يوشان په عادلانه ډول هر چاته ورکړل شوي وي، منځ ته راوړي.

موږ داسې افغانستان غواړو، چې خلک پکې د جګړو پرته په سوله کې ژوند وکړي، نه پکې پخپله جګړې جوړې کړي او نه پکې د بل چا په لمسون او ګټه لپاره جګړې جوړې شي. موږ داسې افغانستان غواړو چې هیڅوک ورته په کږه سترګه و نه شي کتلای، نه پرې تیری وشي او نه پکې لاسوهنې وشي. په خپلو پښو ولاړ وي، هیچا ته د هیڅ شي اړتیا و نه لري او نه د پردیو په خیراتونو وچلیږي او منتونه یې ومني. موږ داسې افغانستان غواړو، چې خلک یې سوکاله او سرلوړی ژوند ولري، استعدادونه پکې وغوړیږي، هر چا ته د زده کړو شرایط برابر شي، بې له هر ډول تبعیض او تعصب څخه د ټولو افغانانو د ژوند د ښه کولو دپاره یو شان هلې ځلې وشي او د ټولو میشتو ورونو قومونو، ژبو او فرهنګ د ودې او پر مختګ دپاره کار وشي. موږ داسې افغانستان غواړو چې قانون پکې حاکم وي، هر څوک د قانون په وړاندې یو شان مکلفیت ولري او هیڅوک قانون تر پښو لاندې نه کړای شي. د رشوت، اختلاس، احتکار او قاچاق، په تیره بیا د مخدره موادو قاچاق او نورور فسادونو اغیزمن مخنیوی وشي.

لنډه دا چې موږ داسې ستر، ځواکمن، خپلواک او سرلوړی افغانستان غواړو چې له خپلې خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه پخپله دفاع وکړي. خپل ملي یووالي ټینګ کړي او د افغانانو اصیل ملي هویت وساتي او نړۍ ته یې وروپیژني. د بهرنیانو د تیریو او لاسوهنو څخه خوندي وي او پردي پال، کورني اجنټان پکې د سر جګولو وس و نه لري. موږ داسې افغانستان غواړو چې په خپلو متو د آبادیدو او پرمختګ وس ولري او د نړیوالو سره د متقابل درناوي او متقابلو ګټو پر بنسټ خپل اړیکي ټینګ کړي. موږ داسې افغانستان غواړو چې د اسلام د مقدس دین د لارښوونو سره سم داسې یو عادل اسلامي دولتي نظام ولري چې د افغاني ټولنې په ټولو چارو کې د هر افغان په وړاندې د

عدالت څخه کار واخیستل شي او له هر ډول افراط او تفریط څخه پاک وي.
آیا د داسې افغانستان منځ ته راتګ ناشونی کار دی ؟ او څوک به داسې افغانستان موږ ته جوړوي ؟ نه ! د داسې افغانستان منځ ته راتګ ناشونی کار نه دی. دا ځکه چې داسې افغانستان پر موږ افغانانو خدای پاک (ج) پیرزو کړی او راکړی دی . یوازې د استعماري سیاستونو د توطیو شنډول پکار دی چې خپل طبیعي – تاریخي افغانستان منځ ته راوړو . دا کار زموږ دپاره بل څوک نه کوي . نه یې ځبر ځواکونو او نور نړیوال ځواکونه کوي او نه یې ګاونډي هیوادونه کوي، او نه د خلکو څخه پردي لاسپوڅي حکومتونه او نه نړیوالو استخباراتي شبکو پورې تړلي اجنټان. دا کار یوازې او یوازې د افغانستان خلک کولای شي. خلک باید پوه شي چې د خپل هیواد د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او ساتنه فرض ده. دا فرض هغه وخت سر ته رسیدای شي چې له آمو څخه تر آباسینه پورې خپل تاریخي او طبیعي افغانستان د پردیو غاصبینو، تورو استعماري منګولو څخه وژغورل شي.
د دې کار سر ته رسیدو دپاره باید له آمو څخه تر آباسینه پورې د خلکو آزادي بښونکی غورځنګ منځ ته راشي . دا د ټولو ملي وطنپالو شخصیتونو، ډلو او روښانفکرانو دنده ده چې لومړی خپلې هلې ځلې همغږې کړي او بیا په ټول ستر افغانستان کې د خلکو په منځ کې توضیحي کار وشي. یقین دی چې په ډېر کم وخت کې جګړو ځپلي، خو ښکیلاک ماتوونکي افغانان داسې یو ځواکمن آزادي بښونکی سیاسي غورځنګ منځ ته راوړي چې هیڅ څوک به یې په وړاندې د ودریدو وس و نه لري.

*- دا لیکنه د ۱۳۹۰ کال د «رښتیا» د کب د میاشتې ګڼه کې خپره شویده .

# پرچمیان او د دوئ ټلواله: د افغانانو د غمونو او کړاوونو ربښتیاني عاملین*

یو انسان ته ،چې اشرف المخلوقات دی ، نه دي پکار چې دروغ ووايي او په خپل لاس ځان له هغه مقام څخه چې خدای پاک ( ج ) ده ته ورکړی دی راوغورځوي. دا که په شخصي اړیکو کې وي یا په ټولنیزو اړیکو کې ، په سودا ګری کې وي او که په سیاست کې دروغ ویل په دنیا کې د نورو انسانانو تر منځ د بې باوری او په اخرت کې د صادقو مومنانو د غولولو په خاطر د دوزخ په کنده کې د غورځیدلو او د خدای (ج ) د غضب سره د مخامخ کیدلو سبب ګرځي . که چیرته د ثور ۷ او ۸ نیټو پیښو ته ځیر شو نو هر کال د درواغجنو ریاکارو سیاسي ډنډور چیانو بازار ګرم وي. چې په ښکاره ډول لمر په دوو ګوتو پټوي او هڅه کوي چې د تیر تاریخ څخه راتلونکي نسلونه نه یوائې بې خبره وساتي ، بلکې تور سپین او سپین ورته تور وښایي . سیاسي مداریان او د خلکو د غمونو او کړاوونو ربښتیاني عاملین ، چې دولتي او نادولتي رسنی یې هم په واک کې دي شور او ځوګ جوړ کړي ، چې دا خو د ثور د اوومې او اتمې نیټې پیښې دي ، چې د افغانستان خلک یې په دې اوږدې غمیزې اخته کړي دي. دوئ هڅه کوي په دې درواغجنو پروپیګنډو د خلکو پام د هغو جنایتونو څخه بل لورته واړوي ، چې دوئ د بهرنیو تیري کوونکو سره په ګډه د افغانستان د خلکو په وړاندې سرته رسولي دي . دا سیاسي مداریان او د افغانانو د بدمرغی عاملین باید دومره عقل ولري او فکر وکړي ، چې دا دواړه پیښې اوس اوس تیرې شوي دي او کیدای شي د افغانستان اکثریت خلک د دوئ درواغجنې پروپیګنډې ونه مني ، ځکه چې خلک پخپله د دې پیښو عیني شاهدان دي او پوهیږي چې د افغانستان د خلکو

غمیزه په څه ډول منځته راغله ، څوک یې رښتیاني عاملین دي او څرنګه وغزول شوه .
خو په ډیرې خواشینۍ سره دغه شمیر خلک د خپلو شخصي او ګروپي ګټو په خاطر په دروغ ویلو روږدي شوي دي او د رښتیا ویلو او واقعیتونو منلو څخه سترګې پټوي او دا هم ګڼي چې د دوئ په خبرو نور خلک هم باور وکړي . په سیاست کې لا له پخوا څخه دروغ ویلو رواج درلود او ویل کیدل چې « سیاست یانې دروغ » . په تیره بیا په دې وروستیو دریوو لسیزو کې ، چې افغانستان د بهرنیو هیوادونو د تیریو ، لاسوهنو څخه د راځیږیدلې غمیزې سره لاس او ګریوان دي . په افغانستان کې له بده مرغه له بهر څخه د راوړل شوو منفي اخلاقو ، په تیره بیا په واکمنو کړیو کې ، چې د بهرنیو هیوادونو سره هر اړخیز نژدې اړیکې لري ، ډیر اغیز شتون لري . د سیاست په ډګر کې اوس هم ډیر کسان شته ، بې له دې چې فکر وکړي ، چې د دې وروستیو دریوو څلورو لسیزو د پیښو په اړوند ډیر نور ژوندي شاهدان شته که دروغ ووایي څوک به یې نه مني او خلکو کې به بې باوره شي او یا هم دوئ پوهیږي چې ډیر خلک د دوئ په خبرو باور نه لري ، خو دوئ ځان مجبور ګڼي چې د خپلو شخصي ګټو او د خپلو بادارانو له ګټو څخه د دفاع په موخه د دروغ ویلو ګناه په غاړه واخلي او په تیټو سترګو او لویدلي وجدان تور ته سپین او سپین ته تور ووایي او لمر په دوو ګوتو پټ کړي. د دې کړنو ډیر تاوان ځوان نسل ته متوجه دی ، چې د خپل هیواد د رښتیاني تاریخ او واقعیتونو څخه بې خبره پاتې کیږي .
که چیرته ډیر لیرې ولاړ نه شو او د محمد ظاهر شاه له وختونو را په دې خوا د حکومتونو او سیاسي رژیمونو لړ څه ناپییلې ارزونه وکړو ، نو له یو پلوه به د واقعیتونو په څرګندولو کې خپله دنده سرته ورسوو او له بل پلوه به مود راتلونکو نسلونو د لار ورکیدو مخه نیولي وي. د استعماري

سیاستونو او د دغو سیاستونو د پلي کولو کورنۍ اجنتوري کړې تل هڅه کوي چې خپلو د بشر د حقوقو ضد کړنو ته په درواغجنو پروپیګنډو سره انساني بڼه ورکړي او د خپلو مخالفینو روا غوښتنې او کړنې په ډول ډول تورونو د خلکو په ذهنیتونو کې وټکوي ، د مچ وزر څخه غر جوړ کړي او بیا استعماري موخو ته د رسیدو د پاره ترې ګټه واخلي . واقعیتونه په مؤقت ډول کیدای شي پټ او یا بل ډول وښودل شي ، خو د تل دپاره د ربښتیاوو پټول او یا بل ډول ښودل ناشونی کار دی او هر څوک چې داسې هلې ځلې کوي هرو مرو به یې د خلکو په وړاندې دروغ رسوا کیږي او مخ به یې توریږي.

د دې دپاره چې ډیر لوستونکي په عیني ډول په نوموړې موده کې د پیښو شاهدان دي ، نو ځکه یواځې ربښتیا ویل به ټولو ته د منلو وړ وي او په دروغو ویلو باید خپل او د نورو وخت ضایع نه شي او چا ته به د منلو وړ هم نه وي. یو بل واقعیت باید په کلکه په نظر کې ونیول شي او هغه دا چې دیو چا په ګناه کې بل څوک مسؤل نیول د اسلام د مقدس دین د لار ښوونو او د مدني ټولو قوانینو د اصولو سره مغایرت لري او هیچا ته د منلو وړ نه دي. په یو کور کې د کور یو غړی د بل غړي په تور نه نیول کیږي ، نو په ټولنیزو سیاسي سازمانونو او حکومتونو کې هر څوک د خپلو اعمالو ځواب ورکوي او یو څوک د بل چا په تور نه نیول کیږي. بیا خو لا څه چې د یو حکومت یا رژیم د نیمګړتیاو او غیر قانوني کړنو مسؤلیت په بل حکومت او رژیم واچول شي . او په دې ډول د خلکو پام د خپل ځان څخه بل لورته واړول شي . د دې دپاره چې د حکومتونو او رژیمونو په اړوند په قضاوت کې یو څه مرسته شوې وي ، په لنډ ډول د محمد ظاهر شاه د حکومت څخه نیولې تر اوسه پورې د حکومتونو او رژیمونو د کړنو او نیمګړتیاوو یادونه کیږي ،تر څو د ناسمو او دروا غجنو پروپیګنډو مخه ونیول شي او ځوان نسلونه د خپل هیواد د

تاریخ په هکله له ټولو خوږو او ترخو واقعیتونو څخه سمه پوهه ولري .
باید ومنو چې د افغانانو په دې اوږد ناورین کې تر ډیرې کچې د بهرنیو
هیوادونو تیري او لاسوهنې ډیره ونډه لري . خو دغوبهرنیو هیوادونو
پورې تړلي کسان او کړی وسه کوي ، چې د افغانانو پام په ناسمو
پروپیګنډو سره بل لور ته واړوي. نو ځکه ضرور دي ، چې په دې هکله
واقعیتونه بربنډ شي ، تر څو خلک د پردیپالو په پروپیګنډو ونه غولیږي.
اوس به په ډیر لنډ ډول د ځینو تیرو واقعیتونو په هکله یادونه وشي ، تر
څو د غرض خاوندان په لوی لاس له واقعیتونو سترګې پټې نه کړي او پر
ځای یې ناسمې او د غرض ډکې پروپیګنډې په خلکو ونه مني . که د
محمد ظاهر شاه د ۴۰ کلنې واکدارۍ څخه یې پیل کړو ، نو ویلای شو چې
دا تر ټولو هغو کسانو چې په افغانستان کې سیاسي واک ته رسیدلي دي
د واک اوږده موده ده . نه یواځې اوږده موده ، بلکې د کارکولو د پاره
مناسبه د سولې او ثبات موده وه. په دې دومره اوږدې مودې کې کیدای
شول د هیواد د پرمختګ د پاره ډیر کارونه سرته ورسیږي ، خو په
خواشینۍ سره ډیره دا موده یې له سیاسي پلوه د اختناق دوره او مطلقه
شاهي رژیم مسلط و. یواځې شاهي کورنۍ پکې واک او امتیاز درلود او
که بل څوک د کورنۍ څخه بیرون په کوم لوړ دولتي پوست مقرر شوی و ،
هغه هم باید د کورنۍ د ګټو او خوښۍ د پاره کارونه سرته رسول . د
افغانستان خلک په دې دومره اوږده موده کې د نړۍ د ډیرو وروسته
پاتې ، محرومو او فقیرو خلکو په لیکو کې شمیرل کیدل. د وچکالیو په
کلونو کې د هیواد په یوشمیر ولایتونو کې د زرګونو افغانانو ، په تیره
بیاد ماشومانو ، مړینه او د حکومت بې وسي ، چې دغو مرستو ته اړو
خلکو سره مرسته وکړي ،د شاهي نظام په وړاندې د خلکو ناخوښي زیاته
کړه . سره ددې چې د شاهي نظام په وروستیو لسو کلونو کې د نوي
اساسي قانون پر بنسټ د سیاسي ګوندونو فعالیت ته په اجازې ورکولو

سره مختلف سیاسي ګوندونه منځته راغلل ، خو د شاهي نظام تر اخره پورې د سیاسي ګوندونو د فعالیتونو د قانوني کولو قانون راونه ووت او سیاسي ګوندونو د کوم قانوني چوکاټ پرته خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ. شاهي نظام تر ډیرې اندازې پورې د شاهي کورنۍ په دننه کې د اختلافونو او سیالیو له کبله د هیواد د پرمختګ او خلکو د سوکالۍ د پاره د کار کولو وړتیا ته زیان رسیدلی و. په تیره بیا د محمد ظاهر شاه د تره زوی ، سردار محمد داود او د بل تره زوی او زوم سردار عبدالولي ترمنځ مخالفتونه او سیالۍ د دې سبب شوې ، چې سردار محمد داود د شاهي نظام په وړاندې کودتا وکړي ، شاهي نظام ړنګ او جمهوري نظام منځته راشي. د شاهي نظام په وړاندې د داود خان په مشرۍ کودتا کې د ببرک کارمل په مشرۍ د پرچم ډلې پوره ونډه درلوده. یانې د محمد ظاهرشاه شاهي نظام د نسکوریدو په کودتا کې پرچمیان د کودتا اصلي عاملین وو. یا په بله وینا په افغانستان کې د کودتایي نظام په منځته راوړو او د کودتا له لارې د محمد داود خان قدرت ته رسولو کې پرچمیانو د شورویانو په خوښه او اشاره فعاله ونډه درلوده. له همدې کبله خو د داود خان د جمهوریت لومړنۍ بیانیه « خطاب به مردم » د پرچمیانو د مشرتابه له خوا لیکل شوې وه او د دولت د پام وړ ډیر لوړ پوستونه ، لکه د وزیرانو ، والیانو او ولسوالانو او په نظامي برخه کې غوره او د باور وړ پوستونه د دوئ په برخه شوي وو. ویلای شو ، چې په سرکې سردار محمد داود ، خو لاندې د دولت واګې ټولې د پرچمیانو او د دوئ د خواخوږو په لاسونو کې وې. نو ځکه د پرچم مشرتابه د یوې اعلامیې په ترڅ کې د پرچم ډله منحل اعلان کړه او له نورو سیاسي ډلو څخه یې هم وغوښتل چې ځانونه منحل کړي او د جمهوري نظام څخه ملاتړ وکړي. خو کله چې نورو ګوندونو، په تیره بیا خلقیانو ، خپل ګوند منحل اعلان نه کړ نو پرچمیانو هم د خپلې اعلامیې پر خلاف د شورویانو سره په نږدې

اړیکو کې ګروپي فعالیت ته دوام ورکړ او هڅه یې کوله چې داود خان د نورو سیاسي ډلو ( خلقیانو ، میوندوال ډلې « مساوات» ، اخوانیانو ) په وړاندې ودروي او په دې توګه یې د نورو سیاسي ډلو څخه لیرې باسي ، خپلې غوښتنې پرې ومني او شورویانو سره یې دومره نژدې کړي ، چې د بیرته لیرې کیدو وسه ونه لري.

پرچمیانو د محمد ظاهر شاه شاهي رژیم په وخت کې په اردو کې نفوذ درلود . زیات پرچمیا ن د ببرک کارمل په ګډون د اردو او پولیسو د لوړ رتبه افسرانو ، قوماندانانو سره کورني اړیکي درلودل او له دې اړیکو څخه په ګټې اخستو سره په اردو کې پرچم پورې اړوند سازمان منځته راوړی و. په اردو او پولیسو کې همدې پټ پرچمي سازمان په لار ښوونه او یو نیم نورو ټیټ رتبه افسرانو ، چې د داود خان سره یې خواخوږي درلوده ، د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ د ۲۶ نیټې کودتا سرته ورسوله . تر دغه وخته پورې خلقیانو په اردو او پولیسو کې هیڅ ډول سازمان نه درلود .

خو کله چې یې د داود خان په دولتي دستګاه کې د پرچمیانو زیات نفوذ او له دې نفوذ څخه په ناوړه ګټې اخستو د ځینو سیاسي مخالفینو ، لکه د محمد هاشم میوندوال او ملګرو له منځه وړل او بندي کول ولیدل ، نو د ځان څخه د دفاع په موخه یې د حفیظ الله امین په واسطه په اردو او پولیسو کې سیاسي سازماني کار پیل کړ ، چې په لږه موده کې یې په وسله والو پوځونو کې پټ خلقي سازمان منځته راووړ . پرچمیانو د دې تر څنګ چې د سردار محمد داود په دولت کې یې د فساد او اختناق کچه ډیره لوړه کړه ، چې رشوت خوړل ، اختلاس او د خپلو سیاسي مخالفینو ځپل یې غوره بیلګې دي ، هڅه کوله چې سردار محمد داود د شورویانو سره وتړي . همدارنګه دا پرچمیان وو ، چې له کودتا څخه وروسته یې د یوې اعلامیې په ترڅ کې د ټولو سیاسي ګوندونو څخه وغوښتل چې ځانونه منحل او د جمهوري نظام سره مرسته وکړي او ورپسې یې

داودخان وهڅاوه چې یوګوندیز سیستم جوړ او د نورو سیاسي ګوندونو فعالیت غیر قانوني اعلان کړي . یانې دا د ببرک کارمل په مشرۍ پرچمیان وو چې په جمهوري نظام کې یې د سردار محمد داود څخه دیکتاتور جوړ کړ.
دا چې ویل کیږي ، چې داود خان د « کې. جې. بې . په لمو کې » نښتی و رښتیا ده. دا ځکه چې ببرک کارمل او یوشمیر نور د پرچم د مشرتابه غړي د شوروي استخباراتي سازمان غړیتوب درلود او ددغه سازمان په لارښوونه یې د داود خان په دولت کې نفوذ کړی و او هڅه یې کوله چې داود خان د نورو ملي دموکراتو ډلو په وړاندې ودروي او په ملي او نړیواله کچه یې د خپلو او شورویانو سیاسي موخو د پاره استعمال کړي.
په دې ډول جمهوري نظام د شورویانو د ګوډاګي ببرک کارمل په مشرۍ د پرچم ډلې د نفوذاو کړنو له امله د ډیر ګوندیز جمهوري نظام پر ځای پر یو ګوندیز دیکتاتوري نظام واوښت. د نورو سیاسي ډلو په وړاندې اختناق پیل شو ، چې د دې اختناق په ترڅ کې هڅه وشوه چې سیاسي رقیبان په فزیکي ډول د سیاست له ډګر څخه ووځي . میوندوال اود ډلې ځیني غړي یې مړه او بندیان شول ،اخوانیان هم د جمهوري نظام سره د مخالفت له کبله تر یرغل لاندې راغلل او په لغمان ، پنجشیر او ځینو نورو ځایونو کې یې د دولت په وړاندې وسله وال غبرګون وښود . خلقیانو سره ددې چې د جمهوري نظام او د « خطاب به مردم » بیانیې څخه یې ملاتړ کړی و او د پلې کیدو د پاره یې د داود خان په مشرۍ یوه جبهه ، چې خلقیان به هم پکې برخه لري وړاندیز کړی و ، خوبیا هم یو زیات شمیر کدرونه یې د سیاسي فعالیت له کبله زندان ته ولویدل او له دې کبله د ګوند ټول کارونه پټ سرته رسیدل. سره ددې ټولو بیا هم خلقیانو په اردو او پولیسو کې خپل اړوند سازمان ته لارښوونه کړې وه ،چې د داود خان په مشرۍ د جمهوري نظام څخه تر هغه وخته پورې ملاتړ وکړي ، چې ترڅو یې د

خلقیانو پر ګوندي مشرتابه یرغل نه وي کړی . خو پرګوندي مشرتابه باندې د یرغل په صورت کې بیا له خپل ګوند څخه دفاع وشي.
کله چې شورویانو ولیدل ، چې پرچمیان د داود خان په رژیم کې زیات نفوذ لري او د هیواد په کچه د دوئ د اغیز له کبله د ملي د موکراتیکو سیاسي ځواکونو څخه نه یوازې واټن نیولی ، بلکې په ټکر کې واقع شوی دی او په نړیواله کچه هم د شورویانو سره په ډیر نژدې کیدو سره د سور شهزاده نوم ګټلی او له غربي هیوادونو او نورو غربي پلوو هیوادونو په تیره بیا ګاونډیو هیوادونو سره دومره تاوده اړیکي نه لري ، نو یې د همیشني چلند پر خلاف د متقابل درناوي او یوبل په کورنیو چارو کې دنه لاسوهنې له اصل څخه سرغړونه وکړه او شوروي اتحاد ته په وروستني سفر کې د شوروي اتحاد د مشر ، بریژنف ، د دیکتې او ګواښ سره مخامخ شو . بریژنف داود خانه ته په امرانه لهجه وویل : چې دافغانستان په شمال کې د غربي هیوادونو متخصصینو ته ، چې متخصصین نه ، بلکې د دغو هیوادونو د جاسوسي سازمانونو استازي دي د کار کولو اجازه ورکول د شوروي اتحاد د امنیت او ملي ګټو سره سمون نه لري ، په دې هکله موږ غوښتنه کوو چې د شوروي لوري سره تر مشورو ورسته داسې کارونه سرته ورسیږي . په داود خان د بریژنف خبرې ډیرې بدې ولګیدې او په ځواب کې یې ورغبرګه کړه چې : افغانستان یو خپلواک هیواد دی ، له هر چا څخه چې هر چیرته وغواړو کار ترې اخلو او په دې هکله موږ د هیچا مشورو ته ضرورت نه لرو . په دې ډول د شورویانو اړیکي د داود خان سره خرابیږي او داود خان بیرته افغانستان ته له شوروي اتحاد څخه ناخوښه راستنیږي . شورویان ، چې داود خان د پرچمیانو له لارې ښه پیژني ، دې نتیجې ته رسیږي چې د داود خان پر ځای ، چې بیرته د راګرځیدو نه دی ،خپل ګوډاګی ببرک کارمل قدرت ته ورسوي. داود خان هم دې پایلې ته رسیږي چې د شوروي سره په دې ډول

د یوبل ملي واکمنۍ ته د درناوي او کورنیو چاروکې د نه لاسوهنې پر بنسټ د دوستانه اړیکو ساتل ناشونی کار دی ، نو ځکه د نوروهیوادونو څخه د مرستو د تر لاسه کو لو د پاره ایران ، سعودي عربستان او نورو هیوادونو ته ځي او د مرستو وعدې تر لاسه کوي. خو یوشی چې د یادولو وړ دی ، هغه د داود خان په دولت ، په تیره بیا په اردو او پولیسو کې د پرچمیانو شتون و ، چې د شورویانو هره خبره یې منله او ببرک کارمل خو یې د استخباراتو سره اړیکي درلودل. خو داود خان د خپلو لستونیو د مارانو څخه خبر نه درلود . پرچمیانو د داود خان په وجود کې دومره ځانونه قوي کړل ، چې اوس یې د شورویانو په لارښوونه د داود خان څخه د قدرت د لاسته راوړو پلان جوړ کړی و .

شورویانو غوښتل ببرک کارمل د یوې پوځي کودتا له لارې قدرت ته ورسیږي ، نو ځکه یې هڅه پیل کړه چې ددې پلان په وړاندې ټول خنډونه له مخې لیرې شي . لومړی دا چې په اردو کې د خلقیانو د موجودیت له کبله ، چې د داود خان له نظام څخه یې دفاع کوله ، د پرچمیانو د کودتا بریالیتوب ناشونی کار و. نو ددې ستونزې د اواري د پاره د خلقیانو مشر ، نور محمد تره کی ، وهڅول شو تر څو چې د پرچم سره یوځای شي او د داود خان د ځپونکي یرغل څخه ځان وژغوري . په دې سره د شورویانو په اند کیدای شول په اردو کې د دواړو ګوندونو سازمانونه په ګډه ببرک کارمل بې له کومې ستونزې قدرت ته ورسوي . همدارنګه په خلق او پرچم دواړو کې د کارمل په وړاندې دوه د پام وړ شخصیتونه ، حفیظ الله امین او میر اکبر خیبر ولاړ وو ، چې تر ډیرې کچې یې د ببرک کارمل مخه ډب کړې وه چې د یوې پوځي کودتا له لارې قدرت ته ور سیږي . حفیظ الله امین چې کارمل ته یې د شوروي د یو اجنټ اویو منافق په سترګه کتل او هیڅ باور یې پرې نه درلود د پرچمیانو سره د خلقیانو د یووالي سره مخالفت درلود ، چې له همدې کبله په اردو کې د خلقي او

پرچمي پټو سازمانونو يووالی سرته ونه رسيد او بيل بيل پاتې شول. مير اکبر خيبر بيا په داود خان باندې د پوځي کودتا پلوي نه و ، نو ځکه ببرک کارمل او خواخوږو يې وپتيله چې دا دواړه شخصيتونه له مخې څخه ليرې کړي. د حفيظ ا لله امين پر ضد خويې د يووالي څخه لږ وروسته د يووالي ضد عنصر په توګه له ګوند څخه د ويستلو هلې ځلې پيل کړې. د کارمل په دې هلو ځلو کې د هغه وخت د خلقيانو د مشرتابه يوشمير غړو لکه دستګير پنجشيري او نورو هم ګډون درلود. د حفيظ الله امين پر ضد د کارمل اوډلې توطيه يې ډيره خطرناکه وه او ددې د پاره په کار لويدلې وه ، چې حفيظ الله امين په فزيکي ډول د داود خان په نوم يا واسطه له مخې څخه ليرې کړي. د دستګير پنجشيري په کتاب ( ظهور و زوال حزب دموکراتيک خلق افغانستان ) کې هم ددې توطيې په هکله چې په څه ډول يې د داود خان دکابينې د غړي « خرم » قتل په حفيظ الله امين ور اړاوه ، ليکل شوي دي. که چيرته وضع بل ډول شوې نه وای ، نو دا ډيره خطرناکه توطيه پر حفيظ الله امين پلې کيدله. دا خو د ګوند په دننه کې کيدای شي د خلقيانو پام د اصلي توطيې څخه بل لور ته اړول و. او هغه دا چې د ببرک کارمل قدرت ته د رسيدو د پاره داسې پلان د کې. جې. بې . او د دوئ د کارملي اجنټانو له خوا جوړ شوی و، چې:

د ببرک کارمل د تروريستي باند او کې. جې. بې. د اجنټانو له خوا د پرچم په ډله کې د کارمل رقيب مير اکبر خيبر په فزيکي ډول له منځه يوړل شي او بيا د يو شوي ګوند له خوا د قدرت نيودلو مارش وشي او د داود خان د دولت پر ضد د ببرک کارمل له خوا له ګوانيه ډکې خبرې وشي ، تر څو داود خان د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند په مشرتابه يرغل کولو او بندي کولو ته ولمسوي. څرنګه چې د يرغل کولو ، نيولو او تحقيقاتو ټولې چارې د پرچمي پوليسو په لاس کې وې ، نو ببرک کارمل به تش په نوم بندي او له هيڅ ډول خطر سره نه مخامخ کيده ، خو خلقي مشران ، په

تیره بیا حفیظ الله امین به د پرچمي پولیسي افسرانو په لاسونو کې کیووت او ځرګنده وه ، چې د میوندوال د برخلیک سره به مخامخ کیده. پلان داسې و چې خلقي مشران ، په تیره بیا حفیظ الله امین باید په دې ډول د پرچمي پولیسانو له خوا د داود خان د رژیم په نوم له منځه وړل شوي وای او په دې ډول به یې په اردو کې خلقیان هم د داود خان د رژیم پر ضد پاڅون ته راپارولي وای. چې د پاڅون د بریالیتوب څخه وروسته به یې ببرک کارمل د یو قهرمان په څیر له زندان څخه راویستلای او ټول نوی یو شوی ګوند ، چې د کارمل ټول رقیبان به پکې نه وای ، د کارمل تر شا ولاړ وای. خو د کې. جې. بې. او کارمل د ډلې دا پلان هغه وخت د ناکامۍ سره مخامخ شو ، چې په اردو کې خلقي سازمان د حفیظ الله امین په قومانده د خلقیانو د مشرانو څخه د دفاع په خاطر وسله وال پاڅون وکړ. مخکې هم ورته اشاره شوې ده ، چې په اردو کې خلقي سازمان ته لارښوونه شوې وه ، چې د داود خان له رژیم څخه تر هغه وخته پورې دفاع وکړي چې تر څو یې د خلقیانو په مشرتابه یرغل نه وي کړی. او کله چې د ګوند مشرتوب تر یرغل لاندې راځي نو بیا له ګوند څخه دفاع وشي. د خلقیانو مشران ، په تیره بیا حفیظ الله امین پوهیده ، چې په خلقي مشرتابه باندې د داود خان د حکومت یرغل په واقعیت کې پر خلقي مشرتابه د پرچمیانو یرغل دی ، چې که دا یرغل بریالی کیږي نو د خلقیانو په تیره بیا د حفیظ الله امین او خواخوږو ځیل او له منځه تګ حتمي دی. نو ځکه یې بې له هر ډول زړه نا زړه توب څخه په اردو کې خلقي سازمان ته قومانده ورکړه چې د خپل ګوند څخه دفاع وکړي . دا چې د اریانا تلویزیوني شبکې د « نوبت شما » پروګرام کې د یوې پوښتنې په ځواب کې د پرچم د ډلې پخوانی غړی ، کبیر رنجبر، د خپلې ډیرې بدې خاطرې په څیر د « ثور کودتا» یادوي ګرم نه دی. ځکه چې د ثور د پاڅون په سرته

رسیدو سره د کې. جې. بې. او د کارمل د ډلې دغه کرغیړن پلان شنډ شوی دی.
په اردو کې د خلقي سازمان په وسله وال پاڅون سره د داود خان رژیم نسکور او د کې. جې. بې. او کارمل د ډلې پرچمیانو توطیه شنډه شوه او دولتي قدرت د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند خلقیانو لاس ته ورغی. نور محمد تره کی د ګوند عمومي منشي ، جمهور رییس او صدراعظم وټاکل شو او ببرک کارمل یې په دواړو ګوندي او دولتي پوستونو کې مرستیال وټاکل شواو وزارتونه او نور لوړ رتبه پوستونه په مساوي ډول وویشل شول. په خپلو خلکو او وطن مینو خلقیانو چې هرڅومره په وس پوره وه د خپلو خلکو د هوساینې او د خپل هیواد د پرمختګ د پاره یې په ډیر کم وخت کې ډیرکارونه سرته ورسول ، چې هیڅوک ترې سترګې نه شي پټولی. اداري فسادونه تر ډیرې کچې له منځه ولاړل او د بیوزله بزګرانو او ټیټ رتبه مامورینو په ګټه یو لړ سمونې وشوې ،چې تر ډیرې کچې د خلکو ستونزې اوارې شوې. د خلقیانو د مشرتابه ددې وړتیا څخه چې په یواځې توګه د ټولوبهرنیو او کورنیو مخالفتونو او ورانکاریو سره سره یې د سولې او ثبات د ټینګیدو په چارو کې پرمختګ لیدل کیده سترګې نه شي پټیدی. خو له بل پلوه یې ځینې نیمګړتیاوې هم درلودې چې تر ډیر کچې پورې یې دوئ پخپله اوبیا خلک او هیواد د ستونزو سره مخامخ کړل. د خلکو د بې ساري ملاتړ سره سره دوئ ونه شول کړای د سپیڅلو او تجربه لرونکو غیر خلقي شخصیتونو څخه د چارو په سرته رسولو کې مرسته تر لاسه کړي او په دې ډول د ګوند د ځوانو او بې تجربې غړو د تیروتنو مخه ونیسي. همدارنګه د پرچمیانو او ځینې خلقي نما کارملیانو محدود کسان د دولت پرضد د دوئ د توطیو له امله د حساسو ګوندي او دولتي پوستونو څخه لیرې کړای شول ، خو دوئ پورې تړلي کسان او خواخوږي ټول په ګوند او دولت

کې د خلقي دولت پر ضد په توطیو بوخت وو . د خلقي مشرتابه تر ټولو ستره او مرګوني تیروتنه دا وه ، چې دوئ تر اخره پوري خپل اصلي دښمن چې د نورو ټولو توطیو تر شا ولاړو وه نه پیژاند او تر اخره یې په کمین کې ناست دښمن ، شوروي اتحاد ، باندې د یو ډیر ښه دوست په څیر باور درلود . وروسته څرګنده شوه ، چې د شورویانو کې . جې . بې . په مستقیم ډول د خلقي دولت پرضد د پرچمیانو اوددوئ د خواخوږو دفعالیتونو لارښوونه کوي ،چې د دوئ له لارې خلقیان له قدرت څخه لیرې او پرچمیان د کارمل په مشرۍ قدرت ته ورسوي . په همدې ډول څرنګه چې ببرک کارمل عمومي منشي ، جمهور رییس او صدراعظم نه شو ، نو ځکه یې د خلقي دولت پر ضد څومره چې یې د لاسه کیدل ، هغومره توطیې یې د شخصي ګټو اوقدرت د پاره سرته ورسولې. نه یې په سبوتاژ، توطیو او کودتاګانو اسره وکړه او نه یې د وطن په خرڅولو او د شورویانو د لاسپوڅو او ګوډاګیانو په څیر پر افغانستان باندې د شورویانو د تیري په وخت کې د اردلیانو په څیر د یرغلګرو په مخکې په منډې وهلو ، تر څو سیاسي قدرت لاس ته راوړي.
پرچمیانو د ببرک کارمل په مشرۍ د خپلو پښو د ټینګولو او شخصي ګټو د پاره نه یوائې د شورویانو د غلامۍ پړي په خپلو غاړو کې واچول ، بلکې د خپلو خلکو په وړاندې ودریدل او د یرغلګرو سره یو ځای یې د میلیونونو افغانانو په شهادت رسولو ، معیوبولو او له خپل هیواد څخه په کډوال کولو د افغانانو د غمیزې د کورنیو عاملینو په څیر مسؤلیت په غاړه واخست. له دې واقعیت څخه هیڅوک سترګې نه شي پټولی چې د پرچم ګوډاګی ډله د دې دپاره چې په له شرمه ډکې واکدارۍ پاتې شي ، غوښتل زموږ سرلوړی افغانستان د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوریت بدل کړي او زموږ دا له ویاړه ډک افغان هویت له منځه یوسي او خلک مو هم د پرچم د ګټو د پاره د غلامۍ کړۍ په غاړه کې واچوي . خو د

افغانستان په خپلواکۍ مینو خلکو د یرغلګرو او ګوډاګي حکومت په وړاندې ملي سراسري پاڅون سرته ورساوه او د بې ساري سربښندنو په قبلولو یې یرغلګرو ته ماتې ورکړه او له افغانستان څخه یې وتلو ته اړ ویستل .
د شوروي یرغلګرو ځواکونو په ماتې او له افغانستان څخه په وتلو سره باید په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پروګرام سره سم باید سیاسي قدرت یوې ملي ناپییلې او د ټولو خواوو د تایید وړ مؤقتې ادارې ته لیږدیدلی او سوله ټینګه شوې وای ، چې دلته بیا د ملي ګټوضد د پرچم ډلې د کې . جې . بې . سره په تړاو کې د ملګروملتونو د پروګرام پرضد کودتا وکړه او د افغانانو د بې ساري سربښندنو په واسطه ټول لاسته راغلي ویاړونه یې د خاورو سره خاورې کړل . د جهادي تنظیمونو تر منځ د قومي ، ژبني او مذهبي مخالفتونو او توپیرونو ته په لمن وهلو سره یې وسله والې ډلې په خپلمنځي کورنیو جګړو اخته کړې ، چې پکې افغانانو زښت زیات ځاني ، مالي او معنوي زیانونه ولیدل او په دې ډول د افغانانو هغه تراژیدي ، چې د شورویانو په تیري او د پرچمیانو په ګوډاګیتوب سره پر افغانانو تپل شوې وه ، په پلان شوي ډول لاپسې وغځول شوه . د پرچم ملي ګټو ضد ډلې د پښتنو په وړاندې د تاجکو ، هزاره ګانو او اوزبکو څخه جوړ شوي ایتلاف ( شمالي ټلوالې ) په منځته راوړو سره د افغانانو ملي یووالي ته سخت زیان ورساوه او د افغانستان تجزیې ته یې په لمن وهلو سره د سیمې او ګاونډیو متخاصمو هیوادونو ستراتیژیکو موخو ته د بې شماره بیګناه افغانانو د وینو په قیمت خدمت وکړ . د پرچم لاسپوڅې ډلې چې هم هغومره د خپلو شخصي ګټو دپاره د کې . جې . بې . نوکري کوله ، همدومره یې د ډالرو او نورو امتیازونو په بدل کې د سیا (سي . آی . ای ) په خذمت کې د ډیرو افغانانو ، په تیره بیا دپښتنو ، د تباهۍ سبب شوه . چې دا تباهي لا هم روانه ده او د افغانانو یو رښتیانی ،

نه پای ته رسیدونکی ناورین یې منځته راوړی اوزموږ په بیګناه خلکو تپلی دی.
خو کله کله سړی دې پایلې ته رسیږي چې له ځینو افغانانو څخه د غمیزې رښتیاني عاملین ورک دي. ان دا ،چې د سیاست خاوندان ، ژورنالستان ، ناپییلي روښانفکران د پرچمیانو د درواغجنو تبلیغاتو او هم د بهرنیو افغان دښمنو ، ملي ځواکونو ضد کړیو د پروپیګنډو تر اغیز لاندې راغلي دي او راتلونکو نسلونو ته د افغانستان د خلکو د غمیزې د رښتیانیو عاملینو پر ځای په ناسمه توګه کله د ثور ۷ په ګوته کوي او کله د ثور ۸ . ایا دا پرچمیان نه وو ، چې د محمد ظاهرشاه پرشاهي نظام ، هغه هم د دموکراسۍ په لسیزه کې ، پوځي کودتاوکړه او د کودتا له لارې سیاسي قدرت ته د رسیدو فرهنګ یې افغانستان ته راووړ ؟ ایا دا پرچمیان نه وو چې د داود خان په دولت کې یې د دولتي قد رت څخه د خپلو مخالفینو د ځپلو د پاره ناوړه ګټه واخسته او په رشوت ، اختلاس او فحشاوو یې د داود خان رژیم بدنام کړ ؟ایا دا پرچمیان نه وو چې هڅې یې کولې داود خان د ملي دموکراتیک سیاست څخه دیکتاتورۍ سیاست ته وهڅوي او د ډیر ګوندیز جمهوري نظام پر ځای پرې یو ګوندیز دیکتاتوري نظام منځته راوړي او په دې ډول یې د افغانستان ملي دموکراتو شخصیتونو ، ډلو او ځواکونو څخه لیرې باسي او مقابل کې ودروي ؟ایا دا پرچمیان نه وو چې هڅه یې کوله داود خان د کې. جي. بي. په لمو کې ونښلوي او د شورویانو یو ګوډاګی ترې جوړ کړي ؟ ایا دا پرچمیان نه وو چې د کې. جي. بي. سره په تړاو کې یې پلان درلود د یوې کودتا له لارې د داود خان د خپلواک سیاست مخه ونیسي او پر ځای یې د کې. جي. بي. اجنټ ببرک کارمل قدرت ته ورسوي ؟ایا دا پرچمیان نه وو چې د خلقي دولت په دننه کې یې د خپلو دولتي او ګوندي پوستونو څخه په ناوړې ګټې اخستنې سره د خپل هیواد او خلکو ته د خدمت پر ځای د

روسانو سره په تړاو کې د خلقي نظام په وړاندې په توطیو لاس پورې کړ او هڅه یې کوله په خپلو کړنو سره خلک د دولت په وړاندې ودروي ؟ ایا دا پرچمیان نه وو چې هڅه یې کوله د کې. جې. بې. په لارښوونه د کودتا له لارې خلقي ملي دولت نسکور او د ببرک کارمل په مشرۍ ګوډاګی رژیم پر افغانانو وتپي ؟ کله چې د خلقي دولت پر ضد دا ټولې توطیې ناکامې شوې بیا هم دا پرچمیان نه وو چې شورویان یې وهڅول پر افغانستان یرغل وکړي او دا سرلوړی هیواد ونیسي او دوئ د خپلو ګوډاګیانو په څیر قدرت ته ورسوي ؟ ایا دا پرچمیان نه وو چې د روسي یرغلګرو سره په ګډه د خپلو پښو د ټینګولو د پاره یې په میلیونونو افغانان په شهادت ورسول ، معیوب کړل او له خپل هیواد څخه کډې کولو ته اړ ویستل ؟ ایا دا پرچمیان نه وو ، چې افغانستان د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوریت بدل کړي او په دې ډول د افغانانو ملي هویت ، خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا له منځه یوسي ، یواځې د دې د پاره چې په قدرت کې پاتې شي ؟ ایا دا پرچمیان نه وو ، چې د ملګرو ملتونو د پروګرام په وړاندې یې کودتا وکړه ، د نجیب الله له حکومت څخه یې یوې ناپییلې مؤقتې ادارې ته د قدرت انتقال د ناکامۍ سره مخامخ کړ او په دې ډول یې د قدرت د پاره د وسله والو تنظیمونو تر منځ د کورنیو جګړو شرایط منځته راوړل ؟ ایا بیا هم دا پرچمیان نه وو ، چې د قوم ، ژبې او مذهب پر بنسټ یې د افغانانو تر منځ د ملي یووالي ټینګیدو پر ځای قومي اختلافونو او دښمنیو ته لمن ووهله او د پښتنو پر ضد یې « شمالي ټلواله » منځته راوړه ؟ ایا بیا هم دا پرچمیان او ملګري یې نه وو ، چې د روسانو په لارښوونه یې د خپل قصور اختسواوشخصي ګټو پر پنسټ د میلیونونو ډالرو لاسته راوړو دپاره امریکایان او نور غربي هیوادونه وهڅول پر افغانستان یرغل وکړي ، ناټو او امریکایان په افغانستان کې ښکیل ، خپل مخالفین ( طالبان ) دبهرنیو هیوادونو په واسطه له پښو

وغورځوي او پر پښتنو بیا د امریکایانو او ناټو په واسطه یو ربښتیاني ناورین وتپي اوپه سلګونو زره افغانانو، په تیره بیا د پښتنو، د له منځه تګ سبب شي؟ایا له دې ټولو نوموړو بیلګو څخه سترګې پټیدای شي او کیدای شي د پرچم د لاسپوڅې او پردیپالې ډلې ، چې اوس یې هم د شمالي ټلوالې په منځ کې ځان پټ کړی دی او په قدرت کې د پاتې کیدو د پاره هر ډول معاملې او توطیو ته تیاره ده ، بل څوک د افغانانو د غمیزې د منځته راتلو او اوږدیدو د عاملینو په توګه په ګوته شي؟نه ! بل څوک نه شي په ګوته کیدای. کیدای شي نورو کسانو او ډلو تیروتنې کړې وي ، خو د افغانانو د غمیزې د کورني عامل په څیر یواځې د پرچم ډله ده او بس.

همدارنګه د افغانانو د غمیزې د بیروني عامل په توګه پخواني شوروي اتحاد د افغانانو د غمیزې په منځته راتګ، ژوریدو او اوږدیدو کې تر بل هر بهرني هیواد لومړنی او بنسټیز رول لو بولی دی . شوروي اتحاد لومړنی هیواد و ، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې یې لاسوهنې پیل کړې او لومړنی هیواد و ، چې پر افغانستان یې وسله وال تیری وکړ . خلکو ته د منلو وړ ملي حکومت یې له منځه یوړ او پر ځای یې ځان پورې تړلی ګوډاګی حکومت پر افغانانو وتاپه ، د افغانانو هیواد یې اشغال کړ او په دې ډول افغانستان د ساړه جنګ د تضادونو د ټکر ډګر وګرځید ، چې پکې افغانانو ته زښت زیات ځاني ، مالي او معنوي تاوانونه واوښتل او د یوې پای ته نه رسیدونکې غمیزې سره مخامخ شول. شورویانو او بیا روسانو په افغانستان کې د خپلې ماتې غچ له افغانانو څخه کورنیو جګړو ته په لمن وهلو ، بې ثباتۍ او د قوم ، ژبې ، مذهب او سیمې پر بنسټ د اختلافونو زیاتولو ، د ملي یووالي کمزور تیا او شمال او جنوب د جنګولو د پاره د خپلو پر چمي لاسپوڅو سره شپه او ورځ په کار بوخت وو او دي. که چیرته شورویانو د حفیظ الله امین مشروع حکومت له منځه

نه وای وړی او لاسوهنې او توطیې یې نه کولای او د ببرک کارمل لاسپوڅی حکومت یې پر افغانانو نه وای تپلی ، نو کیدای شول په افغانستان کې نه یواځې سوله او ثبات منځته راغلی وای ، بلکې د انګریزانو د توطیو له امله ټوټې شوی افغانستان بیرته یو شوی وای او په دې سره په ټوله سیمه کې سوله او ثبات منځته راغلي وای او هیڅ ځای له بیرون څخه د تروریستي او مافیایي کړیو د نفوذ د پاره شتون نه درلودای . دا د شورویانو غلچکی یرغل و، چې په پایله کې یې افغانستان د تروریستي او مافیایي شبکو مرکز وګرځید ، د بهرنیو هیوادونو ، په تیره بیا د ګاونډیو هیوادونو لکه ایران او پاکستان ته پلمه په لاس ورغله چې خپلې لاسوهنې زیاتې کړي ، ځان پورې تړلې ډلې وسله والې کړي او وه یې هڅوي ، چې د قدرت د پاره خپلمنځي جګړې وکړي. ایران او پاکستان هم د افغانانو د غمیزې په اوږدیدو او ژوریدو کې د ځان ګټې لټوي او د د ریو لسیزو څخه زیات وخت کې ، چې د افغانستان خلک د تیریو او جګړو سره مخامخ دي ، دې دوو هیوادونو هم د لاسوهنو او کړکیچونو د منځته راوړو څخه ډډه نه ده کړې. دوئ تل لاپې د دوستۍ کوي ، خو نه پریږدي چې په افغانستان کې سوله او ثبات منځته راشي او په خپلو پښو ودریږي . دې هیوادونو تل هڅه کړې ده چې په افغان حکومتونو کې ځان پورې تړلي کسان ولري او په دولتي دستګاه کې د خپل سیاسي نفوذ د پاره ترې ګټه واخلي. د افغان مهاجرینو په بیه دې دوو هیوادونو د ژوند په ټولو برخو ، په تیره بیا نظامي برخه ، کې ډیر پرمختګ کړی دی او افغانستان څخه یې د خپلو مصرفي توکو د خرڅلاو بازار جوړ کړی دی. ایران بیا د نورو ستونزو تر څنګ زموږ په هیواد کې قومي ، ژبني او مذهبي شخړو ته هم لمن وهي او پر افغانستان باندې فرهنګي یرغل یې ډیر ناوړه جوتیدای شي ، چې که مخه یې ونه نیول شي د افغانانو هویت به د پوښتنې سره مخامخ کړي. همدارنګه پاکستان د

افغانستان په سوله او ثبات او پرمختګ کې خپل شتون ته خطر ويني .
پاکستان ، چې د افغانستان په يوې سترې برخې خاورې د انګريزي استعمار د ميراث په څير خيټه اچولې ده ، نه غواړي په دې اسانۍ يې پريږدي. پاکستان خپله سلامتي د افغانستان په کمزورۍ ، بې ثباتۍ او بربادۍ کې ويني ، نو ځکه په افغانستان کې د سولې او ثبات پر ضد چې يې څومره د وسې کيږي توطيې کوي ، تر څو افغانان د خپل يووالي ، خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه د دفاع وس ونه لري.
د ګاونډيو هيوادونو او د نړۍ د نورو هيوادونو لاسوهنې هغه وخت زياتې شوې ، چې شوروي اتحاد پر افغانستان تيرى وکړ . د امريکې او متحدينو يرغل ته په پرله پسې ډول د شوروي اتحاد له يرغل څخه وروسته د پلي کيدو ډګر منځته راغى . امريکايانو او متحدينو يې کيداې شي په دې سيمه کې خپلو موخو ته د رسيدو دپاره په افغانستان کې پوځي شتون اړين ګاڼه ، چې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته يې زموږ په هيواد کې د سولې او ثبات په منځته راتګ کې ونډه وانه خسته او په لوى لاس يې د کورنيو جګړو او بې ثباتۍ لور ته ټيل واهه. يا په بله وينا افغانستان د ځبر ځواکونو د ستراتيژيکو موخو قرباني شو . شورويانو فکر کاوه چې د افغانستان په نيولو سره به ددې هيواد د غوره ستراتيژيک موقعيت څخه د خپلو ستراتيژيکو موخو : چې هغه د هند د سمندر تودو اوبو ته رسيدل ، د خليج د تيلو زيرمو ته نژدې کيدل او له نظامي پلوه د خپلو نظامي تاسيساتو څارنه وه ، رسيدل و . همدارنګه امريکې او ناټو هم فکر کاوه چې د افغانستان په نيولو او د دې هيواد د ستراتيژيک موقعيت څخه په ګټې اخستو سره کيداى شي په دې سيمه کې تلپاتې نظامي شتون ولري. د افغانستان د طبيعي زيرمو سربيره به د منځنۍ اسيا طبيعي زيرمو ته لاس رسى پيداکړي او تر ټولو سربيره به د چين د پراختيا غوښتنې او د چين او

روسیې د نژدې کیدو له امله په نړۍ کې د ځواکونو توله همداسې د ځان په ګټه درنه (یوه قطبي) وساتي او په خلیج کې به هم د خپلو ګټو څخه مؤثرې دفاع ته دوام ورکړي. خو امریکایانو د تاریخ له درسونو او په تیره بیا د شوروي اتحاد له ماتې څخه عبرت نه و اخستی او پر افغانستان یې ، چې د دوئ د دفاع د وزیر په وینا چې د امپراتوریو په هدیرې مشهور دی ، یرغل وکړ او د اشغال په وخت کې یې داسې کړنې وکړې چې انسانیت ته توهین او خپل کرغیړن د استعماري سیاست ماهیت یې ټولې نړۍ ته بربنډ کړ. سره ددې چې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد تیري نورو هیوادونو ته پلمه په لاس ورکړه ، چې خپلې لاسوهنې زیاتې کړي او د افغانانو په جنګ ځپلي هیواد د تیري جرات وکړي ، خو تر ډیرې اندازې پورې په افغانستان کې هغه هیوادونه لاسوهنې کوي او تیری پرې کوي ، چې د پراختیا غوښتنې استعماري سیاست یې خپل کړی وي.

پر افغانستان باندې د تروریزم سره د مبارزې په پلمه د امریکې او متحدینو یرغل ، په داسې وخت کې ، چې یو تروریست هم دوئ ونه ښود چې د افغانستان دی یواځې یو ه پلمه وه ، چې غوښتل یې د خپل ستراتیژیک غوره توب له کبله دغه هیواد لاندې کړي. د امریکې متحده ایالتونو د شوروي اتحاد له ماتې او ټوټې کیدو څخه د عبرت اخستو پر ځای د نړۍ د یواځیني ځبر ځواک په څیر د استعماري سیاستونو د پلي کیدو په امکاناتو مست ، پر جګړو ځپلي او فقیر افغانستان له کبره ډک یرغل وکړ. د یو میلیون په شاوخوا کې بیګناه غمځپلي افغانان ، پښتانه د ښځو ،ماشومانو او بوډاګانو په ګډون یې په خپل هېواد ، په خپلو کورونو کې په قتل ورسول او نوم یې پرې کېښود چې تروریستان یې وژلي دي. امریکایانو د تروریزم سره د جګړې په پلمه په افغانستان کې داسې د ځناورتوب چلند وکړ ، چې د کلاسیک استعمار له ځواکونو څخه چا نه ولیدلی. د بشر د حقوقو په نوم په افغانستان کې امریکایانو داسې

کارونه وکړل چې بشریت پرې شرمیږي. یو ځل نه ، دوه ځلې نه ، څو ځلې نه ... هره ورځ د پیلوټ لرونکو او بې پیلوټه الوتکو په بمباریو کې بیګناه افغانان له منځه وړي ، کورونه ،کلي او بشپړې سیمې یې په کنډوالو اړولي دي او بیا پرې نوم ږدي چې د القاعدې غړي اوتروریستان یې له منځه وړي دي. ډیر ځلې امریکایي سرتیري حتی په ډله ایزه توګه کورونو ته ننوتلي او له ځیلمې یې ټول لوی - واړه ، ښځې او نارینه له منځه وړي دي او نوم یې پرې د تروریستانو ایښی دی. حتې د ځارویو څخه په ټیټه سویه یې د شهیدانو د جسدونو سپکاوی کړی دی ، چې ډیره کرغیړنه بڼه یې په جسدونو د یوشمیر حیوان صفته امریکایي سرتیرو متیازې کول دي ، چې هیڅکله به یې افغانان ونه بښي.
امریکایانو د یو میلیون څخه زیاتو افغانانو وینې په خپل کور او کلي کې د تروریزم سره د مبارزې په پلمه توی کړې . په ډالر و اخستل شوي پردیپال لاسپوځي یې پر افغانانو د ټوپک او ټانک په زور تپلي دي ، خو بې له ماتې او رسوایي څخه بل هیڅ شی لاس ته رانه وړل . سوله اوثبات یې منځته را نه ووړ او د فساد او مخدره موادو د کرکیلې او قاچاق کچه یې څو ځلې زیاته کړه. بې د یو څو اجنټانو څخه چې د نامشروعو لارو څخه میلیونران او میلیاردران شوي دي ، د اکثرو افغانانو د ژوند سطحه تر بل هروخت ټیټه ساتل شوې او ستونزې یې ډیرې شوې دي. په افغانستان کې امریکایانو او متحدینو نه یوازې د جګړو په ډګر کې د پام وړ کوم بری تر لاسه نه کړ ، بلکې د اقتصاد په ډګر کې یې هم د ماتې ننبې لیدل کیږي او دمالي بحران سره مخامخ دي . په ۱۹۷۹ کال کې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد په تیري او د جګړو او اقتصاد په ډګرکې په ماتې زغملو سره د شوروي ځبر ځواک له پښو ولوید او یوازې امریکایي ځبر ځواک په یوې قطبي نړۍ کې خپل نیلی په ډیرې بې پروایي هر لور ته وځغلاوه. خو په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان د امریکې د یرغل په

پایله کې امریکا او متحدین دومره په شاتګ ته مجبور شول ، چې د چین او روسیې د اړیکو د نژدې کیدو په سبب نړۍ دوه قطبي توب لور ته روانه ده او هرڅومره چې امریکا هلې ځلې وکړي مخه یې نه شي نیولی.
په لنډ ډول: د افغانستان د خلکو د دریوو لسیزو په غمیزه کې د نړۍ ځبر ځواکونه ، شوروي اتحاد او د امریکې متحده ایالتونه ، تر بل هر چا د بیروني عاملینو په څیرډیر مسؤلیت لري . دې هیوادونو پر افغانستان باندې په تیریو سره د خپلو ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړو د پاره مافیایي لاسپوڅي حکومتونه په خلکو د ټوپک په زور وتپل او زموږ له هیواد څخه یې د جګړو ډګر او مخدره موادو د کر کیلې ، فساد ، سرې تنبتونې ، ترور ، بې ثباتۍ او بې قانونۍ مرکز او نمونه جوړه کړه. د ځبر ځواکونو له تیریو څخه په ناوړه ګټې اخستنې نوروهیوادونو ، په تیره بیا ګاونډیو هیوادونو د افغان غمیزې په ژوریدو او اوږدیدو کې له هیڅ ډول لاسوهنو او توطیو څخه ډډه ونه کړه او نه یې کوي.
د افغانستان د خلکو د غمیزې د کورنیو عاملینو مسؤلیت د هغه چا په غاړه پروت دی ، چې د نړۍ د ځبر ځواکونو د اجنټانو په توګه یې شوروي اتحاد او د امریکې متحده ایالتونه وه لمسول ،چې پر افغانستان تیری وکړي. دوئ د خپلو شخصي او ګروپي ګټو په خاطر ځانونه په ډالرو او دولتي قدرت لاسته راوړلو خرڅ کړل او د تیري کوونکو په وړاندې یې د اجیرانو دنده سرته ورسوله . په دې کې شک نه شته چې ډیرو نورو شخصیتونو او ګوندونو ځینې تیروتنې کړي دي چې د غمیزې په ژوریدو کې یې اغیز درلود ، خو د غمیزې کورني رښتیاني عاملین یوازې هغه کسان او ډلې دي چې د تیري کوونکو سره یې د افغانانو په ځپلو کې لاس یو کړی واو له دې لارې سیاسي قدرت ته رسیدلي او پانګوال شوي دي. چې په دې ډول د افغانستان د خلکود غمیزې کورني عاملین بې د « پرچم» د ګوډاګۍ ډلې او د دوئ په هلو ځلو جوړې شوې « شمالي ټلوالې » په

تیره بیا د « نظار شورا » ، چې د شورویانو او امریکایانو د تیري هڅوونکي او مرسته کوونکي وو ،بل څوک نه شي کیدای. په دې ډول د افغانستان ټول خلک ، په تیره بیا روښانفکران ، مکلفیت لري ، چې راتلونکي نسلونه په افغانستان کې د تیرو او اوسنیو واقعیتونو څخه په سمه توګه خبر کړي او پرې نه ږدي چې د واقعیتونو پر خلاف سپین تور او تور سپین وښودل شي.

---

*ـ دا لیکنه د ۱۳۹۱ کال د ثور په میاشت کې شوې اوپوه برخه یې د «رښتیا » په جریده کې خپره شوې ده.

# دافغانستان په هکله د امریکې استعماري سیاست لاپسې بربنډ شو

استعماري سیاست، په کلاسیکه بڼه و او که په نوې بڼه ، دحق اوعدالت سره په ټکر کې دولسونو دبدمرغیواو انساني ارزښتونو ته د سپکاوي سیاست دی . دا سیاست دیوځوحریصو شتمنود لاشتمن کیدودپاره د نوروخلکو په شتمنیو وردانګل دي او په میلیونونو خلک په وینو کې لمبول دي ،تر څویې شتمنۍ او زیرمې لوټ کړي او ژوندو ته یې داسارت کړۍ په غاړه کړي. دنړۍ په سر یواځې یوڅو هیوادونو اوپه هر هیواد کې یوڅوکمپنیو او شرکتونو په تیره بیا د وسلو او تیلو شرکتونو د نړۍ د نژدې ټولو انسانانو ژوند د ستونزو اوخطر سره دهمدې استعماري سیاستونو په خپلولو اوپراخولوسره مخامخ کړی دی. د دې د پاره چې د نړۍ د خلکو څخه خپل بد رنګ کرغیړن ماهیت او د ټول بشریت سره په دښمنۍ کې اعمال پټ کړي، ډول ډول ماسکونه اغوندي اود دجال دخره هڼار او ډرار ته ورته د نړیوالو دغولولو د پاره درواغجنې پروپیګنډې سر کوي. کله ځان د بشر دحقوقو مدافع بولي ، کله د دموکراسۍ ټیکه داروي او کله دبیوزله مظلومو خلکو د مرستندوی په نوم د« استبدادي» رژیمونودلمنځه وړو په خاطر د پوځونو سرلښکر او جنګسالار .

خوواقعیت داسې دی چې دخپلواستعماري ګټو اوموخوته درسیدو په خاطر هر ډول بشري ضد اعمالو ،جرم اوجنایت ،ناروا کړنو دبیګناولسونو په ځپلواو دلاسپوځوپه روزلو اوفسادپه منځته راوړو او ډیرولو کې له هیڅ شي نه ډډه نه کوي. هرچیرته چې یې منحوس دوزخي تور لاسونه رسیدلي دي ، هلته یې بدمرغۍ ، بربادۍ ،غمونه ،کړاوونه ، ستونزې اومصیبتونه ځیږولي دي. په تیر وخت کې و او که په اوس وخت کې، دنړۍ په سر دټولو جګړو ، بربادیو ،ظلم اوبې عدالتیو، ستونزواو

نا امنيو ،لوږې او ناروغيو ،فقر اوبې وزليو مسؤليت دهمدې استعماري سياستونو په غاړه دی . استعماري ځواکونه دځان حق ګڼي چې په نوروهيوادونو يرغل وکړي ،وه يې نيسي، شتمنۍ يې لوټ کړي اوخلک يې ايل کړي، په ايل شوو خلکو خپل اجنټان او لاسپوڅي وتپي اوکه نه ايل کيږي د ټول عمر کينه اودښمنۍ ورسره واخلي . دا د استعماري ځواکونو او استعماري سياستونود شتون او دوام ننښه اوضرورت دی .
که داسې نه وای ،نواستعمار به نه وای . دنړۍ په سر هر هيواد به دخپلوبريدونو په دننه کې په سولې او امن کې ژوند کولای.
دنوروهيوادونوسره به يې علمي – تخنيکي ،تجارتي ، کلتوري اوفرهنګي اړيکي درلودل، نه به ددې دومره وژونکواوبربادوونکووسلو د جوړيدو ضرورت وای اونه به په نړۍ کې دجګړونه دراپيداشووغمونو نارې سورې وای، نه به لوږه وای اونه به دا دومره زياتې ناروغۍ اوکړاوونه .
انګريزي استعماري ځواکونودبرطانيې د استعماري سياست پر بنسټ دبر طانيې څخه په زرګونو کيلومتره ليرې لومړی په هندوستان خپله استعماري واکمني وتپله اوبيا يې دافغانستان پاکې خاورې ته خپل ناولي لاسونه را اوږده کړل. هرڅومره مکر اوفريب چې يې وه چلاوه او د قوم ،ژبې اومذهب په نوم بې اتفاقيوته يې لمن ووهله ، تر څويې وسه کيده د زر اوزور نه يې کار واخيست ، خوافغانان يې نه يوائې دا چې ايل نه کړل ،بلکې پخپله ژوبل ژوبل ماتې خوړلي اوسرټيټي له افغانستان څخه وتلوته مجبورشول. پر افغانستان داستعماري واک د ټينګولو څخه ناهيلي استعمارچيان پوه شول ،چې پر افغانانو په زور خپل استعماري واک نه شي تپلای ،نويې په بل ډول دافغانانو په وړاندې له توطيې اودښمنۍ څخه کار واخيست او په نامشروع ډول يې د ډيورنډ استعماري کرښه په افغانانو وتپله. بيادغې نړۍ خور استعماري غاصب

ځواک دافغانانو څخه دخپلوبې کچې شرموونکو ماتو په غچ کې غصب شوې برخه افغانستان خپل ځيږولي پاکستان ته ډالۍ کړ . د افغانستان خلکوهيڅکله د استعمار منحوس سياست ته سر نه دی ټيټ کړی. د پيل نه تر اوسه پورې يې داستعمارچيانو پر ضد ،دا انګريز و او که پنجابي، خپلو ازادۍ غوښتونکو جګړوته دوا م ورکړی دی. دا ځل به که خدای کول دخپلې ازادۍ دپاره دافغانانو داسې يوپاڅون منځ ته راځي چې هيڅ ځوک به يې په وړاندې د ودريدو وس ونه لري. په دې کې شک لرل د تاريخ څخه منکريدل دي.

په ۲۱ پيړۍ کې د افغانستان په غصب شوې برخه باندې د پنجاب دواکمنۍ دوام د بشردحقوقو او ټولو نړيوالو نورمونو سره په ضديت کې په واقعيت کې د استعماری سياست دوام دی. يواځې يوڅو د پنجابي غاصبينو په څير حکومتونه به د دغه غاصبانه استعماري سياست دوام ته سر خوځوي ، خو په دې سره به دافغانانو په اراده کې دخپلې خپلواکۍ ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتيا دخونديتوب په اړوند کوم بدلون منځته رانه شي . په دې سره به افغانانو او نړيوالو ته داستعماري سياستونو دپلي کوونکو اوپلويانو دتوطيوډکې منحوسې څيرې لاپسې بربنډې شي. ټول افغانان به خپل دوست او دښمن ښه وپيژني، له دوستانوسره به يو او د دښمنانوپه وړاندې به خپلې ليکې ټينګې کړي ،ترڅويې په مکر اوفريب ونه غوليږي اوتوطيې يې شنډې کړي.

برطانوي استعماري سياست تر ډيرې اندازې په مکر ،فريب ، غولولو او توطيو ولاړ و ،خودخپلوګټو لاسته راوړو او موخو ته د رسيدو دپاره يې دوسله والو ځواکونو څخه دکار اخستلو نه هم ډډه نه ده کړې . چې پرافغان واحد ملت باندې د ډيورنډ دمنحوسې کرښې تپل يې هم زور و او هم توطيه. خوامريکايي استعماري سياست د دافغانستان او پاکستان تر منځ دنړيوال بريد په څير د ډيورنډ دکرښې په پيژندلوسره افغانانو ته

لاپسې بربنډشو، چې دافغانانو په وړاندې د دوستۍ او حق اوعدالت څخه د دفاع پرځای دیو جابر استعماري دولت ،پاکستان، په څنګ کې دامریکې دمتحده ایالتونو ودریدل دي. دا چې امریکا به دافغانانو په وړاندې د پنجاب د استعماري سیاست نه څه ګټه تر لاسه کوي ، دا به امریکایانوته معلومه وي ، خو یوشی چې افغانانو ته جوت شو، هغه د افغانانو سره دامریکې نه دوستي اودافغانستان سره د دوستۍ ستراتیژیک تړون ته سپکاوی دی.

هغومره چې دامریکې په انحصاري رسنیوکې امریکا دبشر حقوقو ته په درناوي ،دموکراسۍ په اصولو ولاړه او نړیوالوټولو جاري قوانینواونورمونو ته متعهده ښودل کیږي او تبلیغات ورته کیږي ، په هم هغه اندازه امریکایي سیاسي پوځي نظام نه یوازې د بشر له حقوقو څخه سرغړونه کوي ، بلکې سپکاوی ورته کوي . په هرهغه هیواد کې، چیرته چې امریکایي پوځیانو شتون موندلی ،هلته یې په ډیر کرغیړن ډول د بشر له حقوقو څخه سرغړونه کړې ده . تر دې اندازې پورې امریکایان د بشر له حقوقو څخه سر غړوونکي دي ، چې حاضر نه دي د بشر دحقوقو په اړوند د نړیوالې محکمې دغړیتوب سره موافقه وکړي. په افغانستان کې څه نه وو، چې دوئ دبشر حقوقو ته دسپکاوي په ښه سرته و نه رسول. په ودونو،جنازو اوجرګوباندې بمونه ورول او د زرګونو بیګناه افغانانو ، دښځو ،ماشومانو او بوډاګانو په ګډون له منځه وړل ،یوځل نه ، دوه ځلې نه ، لس ځلې نه ، .... دا یولس کاله کیږي چې د امریکایي پوځیانو له خوا سرته رسیږي. ډیر ځلې داسې شوي دي ،چې د طالبانو د لټولو په پلمه دامریکې وسله والو ځواکونو ټولګي د افغانانوکورونو ته بې له اجازې ننوتلي ،عنعنو ،پت اوعزت ته یې سپکاوی کړی اوبیګناه ملکي کسان یې دطالبانو په نوم په شهادت رسولي دي . که دا د بشر ضد اعمال نه دي، نو څه دي ؟ د قندهار په پنجوایي کې په ښکاره او قصدي ډول

دښځو اوماشومانو په ګډون ۱۲ تنه بیګناه افغانان په قتل و رسول شول او مړو ته یې اور واچول شو، قاتلین وپیژندل شول ،خو دبشر حقوقو ته دامریکایي مقاماتو درناوی ایله دومره و ،چې دټولو قاتلینو له ډلې څخه یې یواځې یوتن دپیښې دمسؤل او روحي ناروغ په نوم روغ رمټ له افغانستان څخه وویست. په خوست کې دامریکایي پوځیانو په واسطه دمخالفینو په مړو تشې متیازې کول ، هغه څه دي چې یواځې دامریکایانو له خواد بشر حقوقو ته د « درناوي » په صورت کې سرته رسیږي.

دامریکې متحده ایالتونه دخپلو انحصاري رسنیو له لارې تل پروپیګنډې کوي ، چې دفکر ،بیان او عقیدې د ازادۍ پر بنسټ دامریکایي ټولنې هر غړی له دې حقوقو او نعمتونو څخه برخمن دی.

خودفکر ، بیان او عقیدې ازادي تر هغه وخته او حدودو پورې رښتیاینه مومي ،چې دبل چا پر فکر ، بیان او عقیدې تیری ونه کړي او زیان وروه نه رسوي. ایا د امریکې متحده ایالتونو کې دغه ډول ازادي ،چې د اسلام دمقدس دین ارزښتونو او پخپله دامریکې اونړۍ د مسلمانانو عقیدو ته پکې سپکاوی وي ازادي وبلل شي او که دیوې امپراتورۍ د کبر او بې بندوبارۍ نښې ؟ دامریکایي کشیش په واسطه دمسلمانانو دمقدس کتاب، دقران عظیم الشان ، سیزل او یا دمسلمانانودمبارک پیغمبر محمدرسول الله ( ص ) ته د سپکاوي نه ډک فیلم جوړول په امریکې کې د ازادۍ نښې نه ،بلکې دنوروخلکو عقیدو او مذهبونو ته د سپکاوي بیلګې دي چې دامریکې متحده ایالتونه ورته د فکر ،بیان او عقیدې ازادي وایي. خو نړیوال ،په تیره بیا، مسلمانان ورته دنورو په حقوقو، عقیدې او مذهب تیری ، داخلاقو بحران او بې بندوباري وایي ، چې دیوې رښتیانۍ دموکراسۍ او ازادۍ سره هیڅ سمون نه لري.

پورتنیو بیلگوته په پام سره د امریکې متحده ایالتونه د افغانستان سره دبشر دحقوقو او دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ د یو دموکراتیک دولت په څیر نه ، بلکې دیوې امپراتورۍ په څیر دزور او دیکتې پر بنسټ اړیکې ټینګوي او خپلې غوښتنې پرې تپي او ګڼي ګنې امپراتوري چې څه وایي هغه به کیږي . خوافغانانو هیڅ جابر استعماري ځواک ته سرنه دی ټیټ کړی او له دې وروسته به یې هم ټیټ نه کړي . ملتونه په زور ، توطیو او قراردادونو نه جوړیږي . ملتونه د خدای پاک (ج) په اراده او غوښتنه دځمکې په سر په یوې ټاکل شوې بر خې دتاریخ په اوږدو کې منځته راځي اوشتون ته دوام ورکوي. له اموڅخه تر اباسینه پورې افغان واحدملت ته دځمکې پر سر دغه ټوټه خاوره خدای پاک ( ج ) برخه کې ورکړې ده . افغانان ځان نیکمرغه ګڼي چې داسې ستر اوله هر ډول نعمتونو اوشتمنیو څخه ډک هیواد یې په برخه رسیدلی دی.
ډیرواستعماري جابرو ځواکونو هلې ځلې کړي دي ،چې ددې هیواد شتمنۍ لوټ او له غوره موقعیت نه یې دخپلو ناولو موخو دپاره ګټه واخلي ، خو افغانانوتل د خپل هیواد د دښمنانو په وړاندې دبې ساري سربښندنو په منلو سره مقاومت کړی او دښمنانوته یې ماتې ورکړې ده .
اوس افغانان پوه دي ، چې په څه ډول داستعماري سیاستونو د توطیو ښکار شوي دي. تر هرڅه ستره اوکرغیړنه توطیه د افغان واحدملت دټوټې کیدو توطیه ده ، چې دوخت دجابر استعماري ځواک ، برطانیې ، له خوا په افغانانو وتپل شوه . دهمدغه استعماري ځواک له خوا بله توطیه دافغانانو پرضد د پاکستان سره دافغانستان دغصب شوې برخې یوځای کول و چې یواځې برطانیې اوامریکې ترې دخپلواستعماري سیاستونوپربنسټ ملاتړ وکړ . افغانانوددغه توطیې پرضد له هم هغه پیل څخه خپل مخالفت اومقاومت پیل کړ، چې له دې کبله ګڼ شمیر افغانان دپاکستان جیلونو ته واچول شول . دبیلګې په توګه یواځې

باچاخان د پاکستان دمنځنه راتلو په لومړیو ۲۳ کلونو کې ۱۸ کاله ددغه استبدادي ګوډاګي رژیم په زندانونو کې تیر کړل اوخان عبدالصمدخان دافغانانودخپلواکۍ دپاره دمبارزې په خاطر په شهادت ورسول شو .
امریکااو برطانیې دخپلو استعماري سیاستونو پر بنسټ حتی په ۲۱ پیړۍ کې دډیورنډ دکرښې دوام اوپه رسمیت پیژندلوسره خپله دښمني افغانانو ته ثابته کړه. دافغانستان دټوټې کیدلو او وروسته پاتې والي ، بې ثباتۍ او دوامداره جګړو اصلي عامل همدا استعماري توطیه ده. خوداستعماري سیاستونو پر ضد دافغانانو په وړتیاکې شک راوړل چې ګنې د خپل هیواد له ملي نوامیسوڅخه به دفاع ونه شي کړای ، داستعمارچیانوځان غولونه ده . دپنجابیانوداستعماري سیاست څخه د امریکې په ملاتړ سره افغانانو ته بله لار نه ده پاتې،بې له دې چې له اموڅخه تر اباسینه پورې ټول د یوواحد ملت په څیرد ټولو استعماري توطیوپر ضد راپاڅیږي اوپه خپل ټینګ ملي هوډ ځان داستعمار دتورو منګولو نه وژغوري . افغانان به هرومرو دخپل موجودیت اوهویت په خاطر دټوټې شوي افغانستان دیووالي دپاره راپاڅیږي ،ځکه چې دوئ ښه پوهیږي چې ټوټې ټوټې افغانستان نه شي کولای نور له ځان څخه دفاع وکړي. ټول افغانان دافغانستان اوافغاني هویت څخه دفاع ته ژمن دي . له اموڅخه تر اباسینه پورې ټول افغانان ،په هر قوم پورې چې تړلي وي دډیورنډ توره کرښه نه مني او د ویشل شوي افغانستان بیا یووالی غواړي. یواځې یوڅه وخت ته اړتیاده ،چې ټول ملي وطنپال شخصیتونه او ځواکونه دې ستر ملي ارمان ته د رسیدو دپاره یو بل ته لاسونه ورکړي ،د افغانانو دیووالي او ازادۍ ،له اموڅخه تر اباسینه پورې ، سراسري ملي خوځښت منځته راوړي ،تر څوپه یوه اواز ووایي استعماره نور دې نه منو !

له اموڅخه تر اباسینه پورې دیوواحد ستر افغانستان موجودیت نه یوازې دافغانانو په ګټه دی ،بلکې دسیمې اونړۍ دخلکو په ګټه دی. په ستر واحدافغانستان باندې له بیرون څخه دتیریواولاسوهنو سرته رسولوته به څوک زړه نه ښه کوي او افغانان به دیورښتیني خپلواک ملت په څیر خپل برخلیک پخپله ټاکي. دپردیو له خوا به د لاسپوڅو ګوډاګیو رژیمونو تپل له منځه لاړ شي. افغان واحدملت به دیوخپلواک ډیرقومیز ملت په توګه د دولت جوړولو داسې یومکانیزم منځته راوړي ،چې دټولو قومونو حقوق او ټولنیز عدالت پکې خوندي وي. هرڅوک به دخپل هیواد په غیږکې ځان دقانون په وړاندې یوشان اوخوندي وګڼي اوپه دې ډول به سراسري سوله ،ثبات او ټینګ ملي یووالی منځته راشي. افغانان به وکړای شي دخپل هیواد د غوره موقعیت څخه پخپله ګټه واخلي او دهیواد طبیعي زیرمې،شتمنۍ اواستعدادونه اونوښتونه به دخپل واحدملت دسوکالۍاو پرمختګ دپاره په کار ولویږي. په دې سره به په افغانستان کې د لوږې ، بیکارۍ ،بیکورۍ،فقر ، ناروغتیاوواو بې سوادۍ اونورو ټولو ستونزو او بدمرغیو لمن ټوله شي او یوسرلوړی ،هوسا او دنورو هیوادونو سره سیال ، دجګړو ،ترووریزم او مخدره موادو څخه پاک سوله ایز افغانستان به منځته راشي. داسې افغانستان به وکړای شي دنړۍ دټولو هیوادونو سره خپل دوستانه اړیکي ټینګ کړي او دساینس اوتکنالوژۍ تجارت ،کلتور اوفرهنګ دپراختیا اوپرمختګ دپاره د پام وړ کړنې سرته ورسوي.

د نومبر ۸ ، ۲۰۱۲ کال

# د افغانستان ملي نواميسو څخه د دفاع اړتيا*

ټولو هيواد والو ته څرګنده ده ، چې افغانستان په ښکاره ډول د امريکې او ناټو وسله والو ځواکونو او په پټه د پاکستان ، ايران او نورو ګاونډيو هيوادونو د استخباراتي او اجنتوري شبکو له خوا اشغال شوى دى . دا بهرني ځواکونه اوشبکې د خپلو ستراتيژيکو موخو او ګټو د پاره کله يو بل سره په همغږۍ او کله يو د بل سره په ټکر کې په افغانستان کې خپل شتون او فعاليتونو ته دوام ورکوي . دوئ افغانستان ته د دې د پاره نه دي راغلي چې د افغانانو د ګټو او حقوقو څخه د فاع وکړي ، بلکې دې د پاره راغلي دي ، چې د دې سرلوړي هيواد جيو ستراتيژيک موقعيت څخه د خپلو پراختيا غوښتونکو موخو د پاره ګټه واخلي او دا نه ايل کيدونکي خلک ايل کړي.

بايد پوه اوسو چې ټول دغه هيوادونه ، چې د افغانستان په وړاندې د تيري ، لاسوهنې او توطيې سياست پرمخ بيايي هيڅکله به د افغانانو د ملي ګټو او نواميسو لکه خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا په لاسته راوړو ، ساتنه او دفاع کې له مونږ سره مرسته ونه کړي . له دوئ څخه د دې تمه کول د هوښيارتيا خبره نه ده . دا خو په عمل کې ثابته شوې ده چې افغانستان ته د امريکې او ناټو ځواکونو په راتګ سره زمونږ ملي نواميس خوندي نه ، بلکې د ګواښ او خطر سره مخامخ شوي دي . د ناټو په تيره بيا د امريکايي ځواکونو خپلسريو ، خشونت او د افغانانو عقيدو او مقدساتو ته نه درناوى ، د افغانانو د اخلاقي معيارونو څخه په ډيره ټيټه کچه چلند ، د هوايي او ځمکنيو عملياتو په ترڅ کې په خپلوکورونو کې د بيګناه ښځو ، ماشومانو او بوډاګانو په ګډون د بې شميره افغانانو وژل اونوم پرې د طالب او تروريست اېښودل هغه څه دي

چې د امریکایي ځواکونو په وړاندې یې د افغانستان د خلکو کرکه راپارولې ده . د ملي اردو او پولیسو منسوبین ، چې په امریکایي پوځیانو وخت په وخت وسله وال بریدونه کوي د دې خبرې ثبوت دی. د امریکایانو په راتګ سره په افغانستان کې د سولې او ثبات پر ځای بې ثباتي او جګړې په ټول افغانستان کې د خلکو ژوند د کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کړی دی . د امریکایانو او ناټو د ځواکونو په موجودیت کې افغانستان په ټوله نړۍ کې د مخدره موادو د تولید مرکز وګرځید . د امریکایي او ناټو د وسلوالو ځواکونو په موجودیت کې د ګاونډیو هیوادونو لاسوهنې او تیري په بربنډه توګه سرته رسیږي. د دې ښه مثال د افغانستان په ځینو ولایتونو ، په تیره بیا کونړ کې ، چې د ډیورنډ د تورې تپل شوې کرښې ته څیرمه پراته دي زموږ په بې دفاع خلکو د توغندیو هره ورځ ورول دي . چې بیا هم امریکایان ورته د ستراتیژیک تړون له لاسلیک کیدو نه وروسته دومره په بې تفاوتۍ ګوري ، چې سړي ته شک پیدا کیږي ، چې ښایي پاکستان د امریکایانو سره په تفاهم کې له جنایت نه ډک دا تیري سرته رسوي. له دې ټولو څخه دا پایله لاس ته راځي چې امریکایان او د ناټو نور پوځونه چې افغانستان ته راغلي دي د خپلو ستراتیژیکو موخو او ګټو د پاره راغلي دي ، نه د دې د پاره چې د ګاونډیو او نورو هیوادونو په وړاندې د افغانانو له حقوقو په تیره بیا ملي نوامیسو څخه دفاع وکړي.

په ګاونډیو هیوادونو کې پاکستان ، چې په ۱۹۴۷ کال کې د انګریزي استعمارچیانو د ستراتیژیکو استعماري پلانونو سره سم منځ ته راغی ، د انګریزانو په واسطه په زور ، توطیې ، شانتاژ او رشوت سره د دیورند د کرغیړنې کرښې په تپلو سره په ۱۸۹۳ کال کې غصب شوې افغان خاورې باندې د انګریزانو له وتلو څخه وروسته خیټه واچوله او د خپل منځته راتګ له لومړۍ ورځې څخه یې د افغانانو سره نه پخلا کیدونکې دښمني

پیل کړې ده . د پاکستان نظامیګر حکومت د انګریزانو د استعماري سیاست په پیروۍ د پراختیا غوښتنې سیاست ته دوام ورکوي . نه یوائې یې د انګریزانو د استعماري واک لاندې افغاني سیمو باندې خېټه واچوله ، بلکې د « ازادو قبایلو » په سیمه کې یې هم لاس وهنې زیاتې کړې او د انګریزانو سیاست « بیل یې کړه ایل یې کړه » سیاست ته یې دوام ورکړ. په محکومو او ازادو سیمو کې یې د استخباراتي شبکو جال خپور کړ ، سست عنصره او ټنګه سري یې تطمیع کړل او ملي وطنپالو مشرانو او روحانینو ته یې ډول ډول توطیې او ستونزې جوړې کړې ، ترڅو پرې د پنجاب استعماري واکمني ومني . ډېر شمیر پښتانه قومي او سیاسي مشران چې د پنجاب څخه یې د خپلواکۍ لپاره مبارزه کوله په جیلونو کې واچول او یا د خپلو اجنټانو پواسطه یې له منځه یوړل . په پاکستان کې په واقعیت کې د پنجاب واکمني ده . د نورو صوبو اشخاص او افراد ، چې د پنجاب د ګټو په وړاندې د خپلو خلکو له ګټو څخه تېر وي کولای شي د یو څه امتیازاتو خاوند شي او په واک کې هم برخه واخلي ، خو دصوبو د عامو خلکو ژوند د مستعمرو د خلکو له ژوند څخه توپیر نه لري . د همدې کبله چې د نورو صوبود محصولاتو زیاته برخه ، په تیره بیا اومه توکي، په پنجاب کې په وړیا ډول او یا په ډېرکم قیمت سره مصرفیږي او د پنجاب محصولات ،صنعتي توکي ، په ډېره لوړه بیه په نورو صوبو کې پلورل کیږي او ډېر وخت په ضروري توکو لکه وړه، وریجې او نورو باندې بند یز لګیږي او نه پریښودل کیږي چې د نورو صوبو خلک ترې په مناسبه بیه ګټه واخلي . بریښنا او غاز په پښتونخوا او بلوچستان کې لاسته راځي ، خو ګټه ترې پنجاب اخلي او د پښتونخوا او بلو چستان خلک نه د ضرورت وړ بریښنا لري او نه غاز . د پنجاب استعماري سیاست د دې صوبو د خلکو د هویت ، ژبې ، دود او دستور د لمنځه وړو د پاره له هیڅ ډول توطیې او زور زیاتي څخه ډډه نه ده کړې او

هلې ځلې کوي ، چې دا خلک خپله ژبه او کلتور ونه لري او د بې هويته وګړو په څير د پنجاب استعماري سياست ومني او سرغړونه ترې ونه کړي . پاکستان لکه د انګريزانو په څير هر ډول ازادي ښونکي خوځښت ، د خپل استعماري واک پرضد يو ګواښ ګڼي نو ځکه يې پر وړاندې توطيې کوي او د ځپلو د پاره يې له هيڅ ډول وحشت څخه ډډه نه کوي . د پښتونخوااو بلوچستان په صوبو کې داسې خونړۍ پيښې کمې نه دي تيرې شوي. په ازادو قبايلو کې د پاکستان پوځي عمليات او نه يواځې پخپله ، بلکې د امريکايي بې پيلوټه الوتکو په واسطه د قبايلي ازادي غوښتونکو مشرانو د القاعدې په نوم له منځه وړل او خلک په دې ډول د ويرې او وحشت سره مخامخ کول د پاکستان د استعماري چلند بيلګه ده. په همدې ډول يې د صوات په پښتنو کې د خپلو استخباراتي شبکو پواسطه په دې وروستۍ موده کې ډرامه جوړه کړه او د توپونو او ټانکونو په کار اچولو سره يې داسې د بيرحمۍ او وحشت نه ډک عمليات وکړل ، چې په زرګونو صواتيان پکې مړه او په لکونو نر، ښځې ، ماشومان او بوډا ګان مجبور شول خپل کورونه پريږدي او نورو ځايونو ته کډه وکړي.
اوس چې د ديورند د کرغيړنې کرښې دواړو خواوو افغانانو کې د يووالي احساس ورځ په ورځ ځواکمن کيږي او د پنجاب د استعماري کړۍ ماتول غواړي ، نو پاکستان ( پنجاب ) ليونی شوی دی او غواړي د ټوپک په زور په خلکو خپلې استعماري واکمنۍ ته دوام ورکړي ، نو نه يواځې په خيبر پښتونخوا او بلوچستان کې يې خلک د ډول ډول ستونزو ، تنګسو او کړاوونو سره مخامخ کړي دي ، بلکې په ازادو قبايلو کې يې هم د خپلو وسله والو پوځونو په واسطه د ويجاړوونکو جګړو اور بل کړی دی او هم د خپلو جاسوسي شبکو په واسطه د قبايلو د ډيروهغو مشرانو کورونه ، چې د پاکستان واکداري نه مني امريکايي بې پيلوټه الوتکو ته ښايي ، چې د القاعدې په نوم يې له منځه يوسي. د پاکستان نظامي واکداران

نور په رښتیا سره د خپلې بقا په اړوند شکمن شوي دي او له همدې کبله یې له ځانونو څخه بدماشان جوړ کړي دي او په لوی لاس افغانانو په وړاندې یې د دښمنۍ او تیري لار خپله کړې ده . په کونړ باندې په پرله پسې ډول د پاکستاني پوځیانو راکټونو ورول پاکستان د افغان ولس د قهر او کرکې سره مخامخ کړی دی . پنجابیان دې دا فکر نه کوي چې ټول افغان ملت لکه د کرزي د حکومت په څیر کیدای شي د دوئ د تیریو په وړاندې تر ډیرې مودې چوپ پاتې شي او یا د پاکستاني پوځیانو تیري بې ځوابه پریږدي . افغانان هیڅکله د پردیو واک نه مني ، دوئ دې د انګریزانو ، روسانو او امریکایانو سره مشوره وکړي او افغانانو ته دې په سپکه نه ګوري . د افغان ملت حوصله نوره سرته رسیدلې ده ډیر ځنډ به نه وي چې ټول افغان ملت له اموڅخه تر اباسینه پورې په یوې کړیکې راپاڅیږي چې نور دې نه منم پاکستانی استعماره او د تور پنجاب تور واک د دوئ د اجنټانو سره یو ځای د اباسین په مست سین کې لاهو کړي .
د تاریخ په اوږدو کې ایران تل د افغانانو په بې اتفاقۍ کې خپلې ګټې لټولې دي او چې وسه یې شویده په افغانستان کې یې د خپلو اجنټانو په واسطه قومي ، ژبني او مذهبي بې اتفاقیو ته لمن وهلې او افغانان یې د خپلو ناروا ګټو د پاره په خپل منځ کې په جنګ اچولي دي . ایران لا له پخوا وختونو را په دې خوا په افغانستان کې د فرهنګي استعمار لاندې د افغانانو د ښکیلاک د پاره له هیڅ ډول هلو ځلو څخه ډډه نه ده کړې او په تیره بیا اوس چې ورسره مذهبي تعصب هم ملګری شوی دی ، نو د ایران ورځنی سیاست ګرځیدلی دی ،چې په ښکاره په افغانستان کې سیاسي او مذهبي کړۍ او ډلې جوړې کړي ، په ښکاره ترې دفاع وکړي او په دولتي دستګاه کې د خپل نفوذ د لرلو د پاره تر هر بل قومي جوړښت یې د امتیازاتو خاوندان کړي. ایران د افغانستان په دولتي دستګاه کې دومره نفوذ لري ، چې هیڅ داسې دولتي پریکړه به نه وي شوې ، چې له هغې څخه

ایران خبر نه وي او یا د ایران سره په توافق کې نه وي شوي. ایران چې د خپل بشپړ نفوذ په وړاندې پښتانه خنډ ګڼي، نو ځکه د دوئ د بې هویته کیدو لپاره د مختلفو لارو چارو نه کار اخلي. د سیاسي او فرهنګي ډګرونو څخه د پښتو ژبې په ویستلو سره غواړي دې متل ته د رښتیا جامه واغوندي، چې: «که غواړې یو قوم مړ کړې، نو ژبه یې مړه کړه!». دا ځکه چې یو قوم چې خپله ژبه او فرهنګ ونه لري په واقعیت کې هغه مړ دی. ایرانیان هڅه کوي، چې په افغانستان کې د پښتون قوم په اکثریت سترګې پټې کړي او د خپلو اجنټانو په واسطه یې داسې تبلیغاتي جګړه پیل کړې ده چې له یو پلوه پښتو ژبه یوه ډیره سخته ژبه وښایي، چې د یادولو وړ نه ده او ضرورت هم نه شته چې یاده شي. او له بل پلوه په پښتو خبرې کول یو ډول تعصب ګڼل کیږي او څوک چې په پښتو خبرې کوي د ملي یووالي ضد عمل یې ګڼي او متعصب یې بولي. دا پروپیګنډه او د پښتو ضد احساس دومره قوي دی، چې حتی ډیر داسې کسان چې پښتو یې مورنۍ ژبه ده هم نه شي کولای په ډاډه زړه په پښتو خبرې وکړي او دا یره یې په زړه کې تیره نه شي چې متعصب ونه بلل شي. دولتي چارواکي خو د دولت د پالیسۍ سره سم باید په پښتو ژبه خبرې ونه کړي، تر څو متعصب او د ملي یووالي ضد عنصر ونه ګڼل شي او امتیازات یې په خطر کې ونه لویږي. ښاغلي کرزي خو د پښتون جمهور رییس په نوم څومره یې چې له وسه کیده د دولتي دفترونو او ښوونیزو او روزنیزو مرکزونو څخه د پښتو ژبې په ایستلو او ورکیدو کې هیڅ ډول سستي نه ده کړې. د کرزي د پاره افغانانو په تیره بیا پښتنو ته له دې نه زیات د سپکاوي او بې هویته کولو بله بیلګه نه شي لاسته راتلای، چې د ایران د مستقیم نفوذ لاندې یې افغانستان په فارسي ژبو هیوادونو کې د ایران او تاجکستان سره وتاړه او په همدې نوم یې په افغانستان کې د ایران نفوذ ته لا پسې رسمیت ورکړ. ایران تل هڅه کړې ده چې د افغانستان په دولتي

دستګاه کې نفوذ ولري ، خو هغه نفوذ چې اوس يې ايران په افغانستان کې په پټه او ښکاره ، په رسمي او غير رسمي ډول په دولت کې لري او له کبله يې زموږ خپلواکي ، ملي واکمني ، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي يووالی د سوال او خطر سره مخامخ کړي دي ، هيڅکله پخوا نه و ليدل شوی.

انګريزان او روسان به هيڅکله د افغانانو د لاسه د خپلو امپراطوريود استعماري سياستونو او يرغلونو په وړاندې مقاومت او په پايله کې د خپلو ماتې خوړلو او په افغانستان کې د دغو دواړو امپراطوريود ځواک او دبدبو د ښخيدلو پيښې هيرې نه کړي او تل به له افغانانو څخه د غچ اخستلو په فکر او هڅه کې وي. انګريزان په ۲۰۰۱ کال کې افغانستان ته د دې دپاره نه دي راغلي ، چې په افغانستان کې سوله ثبات او سوکالي منځته راشي او د افغانستان په بيا رغاونه کې برخه واخلي. دوئ د دې د پاره راغلي دي چې د افغانانود وياړ او د انګريزانو د ماتې يادګارونه لکه د شير پور نظامي قلعه ړنګ ، طبيعي ارزښتناک د ځمکې لاندې توکي لکه په هلمند کې يورانيم لوټ او د پخوانيو غازيانو بچي د غچ اخستو په موخه وځپي او له منځه يې يوسي. انګريزان اوس هم په دې هلو ځلو کې دي ،چې د اشغال شوي افغانستان اشغال ته د پاکستان په وجود کې دوام ورکړي . اوس هم نه پريږدي چې د دوئ په توطيو په ظلم او جبر سره ويشل شوی افغان ملت بيرته يو ځای شي او په شريکه له امو څخه تر اباسينه پورې د خپلو ملي نواميسو ساتنه او دفاع وکړي . انګريزان د ډيورنډ د کرغيړنې کرښې په واسطه د افغان واحد ملت د ويشلو او له دې ويشلو څخه د راپيداشوو ټولو ستونزو او کړاوونو د راپيدا کيدو مسؤليت په غاړه لري. په تيره بيا د ازادو قبايلو په سيمه کې د نړۍ د مختلفو هيوادونو د استخباراتي ترويستي شبکو ځای پر ځای کول ، چې زموږ د قبايلو ورونو ، په تيره بيا د قومي مشرانو ژوند يې د خطر سره مخامخ کړی او د سيمې سوله او ثبات يې له منځه وړي دي مسؤليت د

انګریزانو او دوئ پورې تړلې پاکستاني استخباراتي شبکې په اوړو پروت دی. انګریزانو د ډیورنډ د کرښې په اړوند د امیر عبدالرحمن خان سره دسلو کلونو د قرارداد په هکله چې په ۱۹۹۳کال کې پای ته رسیدلی دی هم غداری، ته ملا تړلې ده او نه یوائې په دې هکله یې چوپه خوله نیولې ، بلکې هڅه کوي په غصب شوي افغانستان باندې د پاکستان استعماري واک ته دوام ورکړي.
روسان په افغانانو باندې د ۳۳ کالو اوږدې غمیزې ، چې لا تر اوسه روانه ده او بې انډوله ځاني ، مالي او معنوي زیانونه یې زموږ خلکو ته اړولي دي ، د تېلو مسؤلیت په غاړه لري. پر افغانستان باندې په ۱۳۵۸کال کې د جدي پر ۶ نیټې تیری او دحفیظ الله آمین په مشری، د یو ملي قانوني حکومت ، چې د افغانانو د اکثریت ملاتړ ورسره و ، نسکورول اود ببرک کارمل په مشری، د یو ګوډاګي حکومت واک ته رسول د دې سبب شو ، چې په ټول افغانستان کې د یرغلګرو ځواکونو او ګوډاګي حکومت پر ضد سراسري ملي پاڅون سرته ورسیږي. د شورویانو پر ضد د افغانانو په دې جګړه کې د شورویانو د ساړه جنګ رقیبانو ، په تیره بیا امریکې اود افغانستان ګاونډیو هیوادونو د خپلو موخو د پاره ځانونه راګډ کړل. په دې ویجاړوونکې جګړې کې افغانانو د خپلې خپلواکی، تر څنګ د نوموړو هیوادونو د موخو د پاره هم جګړه کوله ، چې له کبله یې ستر ځاني مالي او معنوي زیانونه وګالل او هیواد یې په کنډوالو بدل شو . د دې د پاره چې شورویان دا جګړه وګټي ، نو د هیڅ ډول توطیې او زور زیاتي څخه یې ډډه ونه کړه ، دخپلو لاسپوڅو په واسطه یې د افغانانو د ویشلو د پاره قومي ، ژبني ، مذهبي او نورو ډول ډول بې اتفاقیو ته لمن ووهله ، خو نه یوائې دا چې ماتې یې وخوړه ، بلکې د شوروي امپراطوری، زور هم لکه دنورو امپراطوریو په څیر ، چې پر افغانستان یې تیری کړی و ، د امپراطوریو په هدیره کې اوبه او تر خاوړو لاندې شو. روسان هم لکه د

نورو ځبر ځواکونو په څېر د اوښ کینه لري ، هیڅکله به په افغانستان کې خپله شرمیدلې ماته هیره نه کړي ، او لکه چې په عمل کې لیدل شوي دي ، تل به د افغانانو د کمزورتیا ، بې اتفاقۍ او بې وسۍ د پاره هر څه چې یې په وس پوره وي ونه سپموي . په دې لړ کې څو ځلې یې د خپلو اجنټانو پواسطه د افغانستان د تجزیې هڅې کړې دي ، خو د افغانستان د ملي نوامیسو د مدافعینو له خوا د تجزیې ټولې توطیې شنډې شوې دي .
په لنډ ډول د پورتنیو بیلګو په نظر کې نیولو سره دې پایلې ته رسیدای شو چې هیڅ بهرنی هیواد ، هغه ځبر ځواک وي او که ګاونډی هیواد ، د افغانستان د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا په لاسته راوړو او دفاع کې د افغانانو سره نه مرسته کولای شي او نه یې کوي . افغانان پخپله مجبور او مکلف دي خپل ملي نوامیس خوندي کړي او دفاع ترې وکړي . په دې کې هیڅ شک نه شته چې یو شمیر کسان د پردیو تر حاکمیت او واک لاندې یو څه شخصي ګټې او امتیازات لاسته راوړي چې په دې کار سره د خپلواک ژوند څخه د بل واک لاندې په ژوند کولو خوښ وي او د خپلپالنې او وطنپالنې څخه ورته پردي پالنه غوره ښکاري او په دې ډول د افغان او افغانیت ټولې ځانګړتیاوې له لاسه ورکوي او په داسې بې هویته موجود بدلیږي چې د هیڅ ډول ارزښت وړ نه وي . په افغانستان کې داسې کسان شته ، خو شمیر یې ډیر کم دی او په ټولنه کې یې اغیز دومره د اندیښنې وړ نه دي . افغانان په ټول کې وطنپالونکي او په خپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا مین خلک دي او د دفاع د پاره یې هر ډول سرښندنې او قربانۍ ته تیار دي . دا ضرور ده چې پوه شو چې خپلواکي او ملي واکمني بې د ځمکنۍ بشپړتیا دخوندیتوب څخه نه شي تر لاسه کیدای . افغانستان په هغه وخت کې رښتیانۍ خپلواکي او ملي واکمني لاسته راوړای شي،چې په رښتیا سره د خپل تاریخي او طبیعي افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا خوندي کړي او دفاع ترې وکړي . کله

چې دانګریزانواستعماري واکدارانو په واسطه غصب شوی نیم افغانستان لاتراوسه د پاکستان استعماري ولکې لاندې وي، نو څرنګه ویلای شو، چې افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا خاوند دی . تر څو د انګریزانو په واسطه د افغانستان ټولې غصب شوې برخې بیرته د خپلې طبیعي برخې سره یو ځای نه شي د افغانستان خپلواکي او ملي واکمني لاسته راوړل او ساتل هیڅ د پوهیدو خبره نه ده. یا په بله وینا د افغانستان د ملي نوامیسو څخه دفاع به یوائې تشې خبرې وي او بس. شته ځیني کسان ،چې د تعصب او تنګ نظرۍ له کبله چې دانګریزانو په واسطه د افغانستان د غصب شوو برخو یووالی به په افغانستان کې پښتانه په مطلق اکثریت بدل کړي ، له خپلې خاورې څخه تیریږي او پر ځان د پردیو واکمني مني . همدارنګه ځیني کسان بیا په ډیرو کمو امتیازاتو ځان پلوري د پردیو غړوندي په غاړو کې اچوي او د افغان واحد ملت دبیلتون کرښې ډیورنډد په رسمیت پیژندلو د پاره اوتې بوتې وایي . خو د افغانستان مطلق اکثریت خلک ، له امو څخه تر اباسینه پورې ټول افغانان د پنجابي استعمار څخه د غصب شوې برخې د ازادۍ د پاره هر ډول سر ښندنو ته چمتو دي. یوائې یو ملي زعامت په کاردی چې د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا د خوندیتوب ، ساتنې او دفاع د پاره د خلکو هلې ځلې او مبارزه همغږې او لار ښوونه یې وکړي. د افغانستان په اوږد تاریخ کې افغانانو څو ځلې ثابته کړې ده چې په ډیرو ستونزمنو شرایطو کې هم کله چې افغانان د خپل ملي زعامت په لرلو سره په یو اواز راپاڅیدلي دي ، نه یوائې ځانونه یې د موجوده ستونزو څخه ژغورلي دي ، بلکې تاریخي سترې د پام وړ چارې یې سرته رسولې دي او ستر تاریخي بدلونونه یې منځته راوړي دي. دا ځل به هم افغانان د خپل رښتیاني ملي زعامت په لرلو سره خپل رښتینی تاریخ جوړوي اوپه افغانستان کې د سولې او ثبات په ټینګولو سربیره به خپل ملي نوامیس ،

چې هغه رښتیانی خپلواکي ، رښتیانی ملي واکمني او رښتیانی ځمکنی بشپړتیا دي خوندي کوي او له امو څخه تر اباسینه پورې افغان واحد دولت به جوړوي اود هرډول بهرنیو تیریو او لاسوهنو په وړاندې به دفاع ترې کوي.
د ځینو کسانو په آند به داخبرې عملي نه معلومیږي ، خو دا تاریخي جبر دی ، بې له دې څخه بله لار وجود نه لري . افغانان که دا کار ونه کړي ، د خپل منځي بې اتفاقیو ، بهرنیو توطیواو دې توطیو ته د بې تفاوتیو له کبله د تاریخ په کنده کې لویدو ته نژدې دي .اوسنی افغانستان په هیڅ ډول دافغان په ا صیل هویت د بقا وړتیا نه لري . یوازې متحد ستر افغانستان له امو څخه تر اباسینه پورې کولای شي په خپل اصلي هویت سره خپل موجودیت ته دوام ورکړي او د پردیو په وړاندې د خپل ځان څخه دفاع وکړي . ټول ملي وطنپال افغانان په هر ځای کې چې دي ملي او اسلامي دنده لري ، چې د خپلو ملي نوامیسو د خوندیتوب او دفاع په خاطر د سلیقوي او شخصي اختلافونو څخه تیر شي، په داسې یو مکانیزم فکر وکړي چې د افغانستان د ملي نوامیسو د دفاع پلویا ن شخصیتونه او ځواکونه په ګډه د یو رښتیاني ملي زعامت په منځته راوړلواو د خلکو په ویښولو او د خپل ستر هیواد څخه دفاع ته چمتو کولو کې بریالي شي . که د بهرنیو یر غلګرو په وړاندې د خپلو ملي نوامیسو او خپل اصیل افغاني هویت څخه دفاع ونه شوکړای ، نو بې هویته د محکومیت ژوند څخه به بله کومه لویه بلا وي چې په ۲۰ ملیونو څخه زیاتو افغانانو را پریوزي او د نشت کندې ته یې وغورځوي .
راشی ، چې نور ځان د تاریخي شرم ، محکومیت او زوال څخه وژغورو ، یود بل لاس ونیسو او خپل برخه لیک پخپله په خپل لاس کې ونیسو!

* - دا ليکنه د «رښتيا» په ويب پانه کې د ۲۰۱۲ کال د دسمبر په **۵** نيټه خپره شويده.

# دافغانستان خلک باید پخپله له ځان څخه دفاع وکړي

هرچا چې داستعماري سیاستونو پر بنسټ پر افغانستان تیری کړی دی افغانانو ته یې یواځې بدمرغۍ او غمونه په برخه کړي دي .په بهرنیو ځبرځواکونو باندې ځان ساتل یواځې د دوئ دګوډاګیانو ،چې دهمدغو بهرنیو ځبرځواکونو د ګټود پاره کارکوي ، غوښتنه ده . ځکه چې دا ګوډاګیان دخپلو خلکو څنې ډارلري او باورپرې نه شي کولای .

همدارنګه د یوبیوزله ،جګړو ځپلي اوفقیر هیواد لکه افغانستان او د یو ځبر ځواک ، چې پر ټولې نړۍ د حکومت کولو فکر لري لکه دامریکې متحده ایالتونه ، دهمکارۍ او دوستۍ عادلانه ستراتیژیک قرار داد منځته راوړل یواځې دخلکو غولول دي. نه یواځې د امریکې سره، بلکې د ټولو هغو ځبرځواکونو سره چې د استعماري پراختیا غوښتونکو سیاستونو پر بنسټ یې پر افغانستان یرغل کړی دی، دافغانانوخپلواکي یې له منځه وړې ، دافغانستان خاوره اوشتمنۍ یې غصب کړې ، هیواد یې په کنډوالواړولی ، په میلیونونو بیګناه افغانان یې په خپل هیوادکې چې هیڅ ډول تیری یې پر چانه دی کړی، له منځه وړي یا دخپل کور کلي څخه تیښتې ته مجبور کړي دي او زموږ هیواد یې په کلونو کلونوشاته تمبولی او دلوږې او فقر سره مخامخ کړی دی، دافغانستان دامن دپاره عادلانه تړون نه شي منځته راتلای.

که چیرته ډیر لیرې لاړ نه شو او یواځې د دریو ځبر ځواکونو( برتانیې ،شوروي اتحاد اوامریکې ) استعماري پراختیا غوښتونکي یرغلونه پر افغانستان وڅیړل شي نو جوته به شي چې څومره بدمرغۍ ، غمونه ، ستونزې او بربادۍ ددغو استعماري ځواکونو په واسطه دافغانانوپه برخه رسیدلي دي. یواځې دخپلوشخصي ګټو لیونیان ،یوڅو پردیپال

ګوډاګیان نه شي کولای دافغانانو بې شمیره ستونزې او کړاوونه و ویني او په ډیرې بیشرمۍ سره داشغال تورې مودې ته دپرمختګ اوترقۍ، لاسته راوړنو او دموکراسۍ دوره وایي. ایا سرتر پایه په فساد کې ډوب هیواد کولای شي پرمختګ وکړي او لاسته راوړنې ولري ؟ ایا هغه نظامونه چې دپردیو له خوا په درغلیو ، دیکتې او رشوتونو جوړ شوي وي ، کیدای شي دموکراتیک وبلل شي ؟ په داسې حال کې چې دافغانستان خلک یې په جوړیدو کې برخه نه لري او نه دافغانانو دښیګڼې دپاره جوړ شوي وي. ځینې د استعمار غلامان ، امان الله خان په دې ملامتوي چې ولې له انګریزانو څخه خپلواکي واخسته ؟ دوئ وايي که چیرته له انګریزانو څخه خپلواکي نه وای اخستل شوې ، نو اوس به افغانستان یو پرمختللی هیواد وای. ایایو غلام او محکوم هیواد ، په تیره بیا دیو استعماري حریص نظام محکوم ، چې ټولې مادي او معنوي شتمنۍ یې استعمار ګران لوټوي ، پرمختګ کولای شي ؟ همدارنګه دامریکې اومتحدینو داشغال په دوره کې د افغانانو ستره لاسته راوړنه دموکراسي تبلیغیږي . خو دموکراسي بې دقانون له حاکمیت اوپه دولتي چاروکې دخلکو دپراخ ګډون او ارادې په پام کې نیولو څخه پرته، دموکراسي نه شي بلل کیدای . ایا په داسې هیواد کې چې چارواکي سرترپایه په فساد کې ډوب وي اود قانون پر ځای زور حکومت کوي، دموکراسي کوم مفهوم لري ؟ د دې دپاره چې واقعیتونه ښه بربنډ شي پر افغانستان باندې د دریو یرغلګرو ځبرځواکونو په اړوند چې افغانانوته یې څومره ستونزې او کړاوونه په میراث پریښي دي ، ځغلنده نظراچوو. نو بیا به پایله راوباسوچې ځبرځواکونه دافغانانودګټو اوحقوقو څخه په رښتیا دفاع کوي او که موخه یې په سیمه کې دخپلو ستراتیژیکو ګټو او افغانانو ایل ساتل دي ؟

یوې خبرې ته پام اړول پکار دی او هغه دا چې پر افغانستان باندې د یرغل په وخت کې ځبرځواکونو تل دهغو افغانانو څخه کار اخستی دی چې په خپل هیواد کې دخپلو رقیبانو له خوا یې ماتې خوړلې او دخپلو خلکو دملاتړ څخه نه برخمن وو اونه خپلواک . د دوئ پریکړې هم افغانانو ته دمنلووړ نه وې اونه یې پریکړو او تړونونو کومه قانوني بڼه درلوده . نو ځکه هره پریکړه چې د دوئ له خواشوې ، افغانانو دهغوئ په وړاندې غوڅ مخالفت ښودلی اونه یې دي منلي . د بیلګې په توګه انګریزانو شاه شجاع سره په لاهور کې ده ته د تاج اوتخت دلاسته راوړو په وعده کې دافغانستان پراخه سیمې د تش په نوم قرارداد پواسطه زموږ له هیوادڅخه بیلې اوغصب کړې . همدارنګه له بند څخه د راویستل شوي دماغي ناروغه محمد یعقوب خان سره دګندمک دقرارداد په واسطه یې نورې ډیرې سیمې له افغانستان څخه بیلې اوغصب کړې . همدارنګه پر امیر عبدالرحمن خان باندې د دیورنډ دکرښې د تپلو په وخت کې عبدالرحمن خان خپلواک پادشاه نه واو دانګریزانو له مشورې پرته هیڅ بهرني هیواد سره اړیکي نه شول ټینګولای او هم یې په میاشت کې له انګریزانو څخه پیسې ترلاسه کولې . له همدې کبله د افغانستان خلکو هیڅ یو دغه غیر قانوني او تپل شوي قراردادونه نه دي منلي .

روسانو هم له کار څخه ګوښه شوی بې وطنه ببرک کارمل ، چې په خلکو کې یې هیڅ ډول ښه نوم او شهرت نه درلود په غیږ کې ونیو تر څو پرې ځان ته بلنه ورکړي چې افغانستان ونیسي ، اصیل تاریخي افغان هویت یې له منځه یوسي او د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوریت یې بدل کړي . همداسبب و ، چې دافغانستان خلک دخپل هیواد دخپلواکۍ اوخپل دین او هویت د ژغورلو په خاطر راپاڅیدل او یرغلګرواو ګوډاګیانو ته یې وښوده چې لاسپوڅي نه شي کولای دافغانانو په ملي نوامیسو ملنډې ووهي . امریکایانو هم دټول افغانستان

څخه ځانله شوې دپنجشیر په ولسوالۍ کې ایساره دنظار شورا سره د میلیونونو ډالرو دورکولو اوواک ته رسولو په بدل کې فکر کاوه چې دافغانستان ستراتیژیک موقعیت څخه به د سیمې دشتمنیو په لوټیدو کې ګټه واخلي. امریکې ګڼله چې دیوڅوپه پیسو اخستل شوو اجیرو پردیپالو عناصروپه قدرت ته رسولو ، وطنپالو شخصیتونو او ځواکونوپه ځپلو سره به دوئ ته زمینه برابره شي چې په افغانستان اوسیمه کې د استعماري سیاست پر بنسټ دافغانستان اوسیمې د شتمنیو لوټولو ته دوام ورکړي.
اوس به په لنډ ډول پر افغانستان باندې د دې دریو ځبرځواکونو د یرغلونو اواستعماري سیاستونو له کبله افغانانو ته د اوښتو تاوانونو او دافغانستان دګټو څخه د دفاع ، پرمختګ اوترقۍ په چارو کې د دې ځبر ځواکونو په رول باندې رڼا واچول شي.
۱ ـ برتانیې له بل هر یرغلګر استعماري ځبر ځواک څخه افغان ملت ته زښته زیات کړاوونه او ستونزې په میراث پریښې او د بدمرغیو ، وروسته پاتې والي اوکمزوریو سره یې مخامخ کړی دی او تر اوسه د افغانانو په وړاندې هم هغه زوړ استعماري سیاست ته دوام ورکوي.
برتانیې دخپل استعماري سیاست پربنسټ د وسله والو یرغلونو په ترڅ کې په ۱۹ پیړۍ کې ، بې له دې چې افغانان یې ګټوته ګواښ منځته راوړي ، افغانستان لاندې ویست. د ډیرو بیګناه افغانانو د وژلو عامو قتلونو اوبربادیو څخه وروسته یې ډیره برخه ځمکه ترې بیله اوغصب کړه. څه یې ایرانیانوته دافغانانو پرضد دځان سره دودرولو دپاره ډالۍ کړه اوڅه یې روسانو ته په استعماري سیاست کې د شراکت دپاره پریښوده .
دانګریزانو دې استعماري توطیې په پلې کیدو سره دافغانانو کمزوري او بې ثباتي او بهرنیانوپه وړاندې دخپلوملي نوامیسوڅخه ددفاع کولو

ناتواني پېيل شوه. دافغانستان ويشل او دې ويشلو ته دپاکستان په وجود کې تر اوسه دوام ورکول افغانان د سترو بدمرغيو سره مخامخ کړي دي. دويشلو همدې استعماري سياست ته دوام ورکول دي ، چې د بهرنيو دښمنو استخباراتي شبکو د پاره يې شونې کړې ده ،چې په افغانانو کې اجير ملکان ، ملايان ، قومي مشران منځته راوړي ، تر څو دربښتيانيو ملي شخصيتونو ، ملکانو ، ملايانو او قومي مشرانو په وړاندې توطيې جوړې کړي، دقوم ، ژبې ، مذهب او سيمې په نوم بې اتفاقيو ته لمن ووهي اويو افغان دبل افغان سره و جنګوي اويو په بل يې له منځه يوسي.

انګريزانو نه يواځې په هغه وخت کې ، کله چې دهند له نيمې وچې څخه وتل، دافغانانو په وړاندې يې استعماري توطيه سرته ورسوله او دافغانستان غصب شوې ځمکې يې چې بايد افغانانو ته پريښې واى، د پنجاب سره وتړلې ، بلکې تر اوسه يې د افغانانو پرضد خپلو استعماري توطيو ته د پاکستان په وجود کې دوام ورکړى دى .

دافغانستان په وړاندې د انګريزانو د استعماري سياست دوام ، چې د ډيورنډ د کرښې په واسطه يې د پاکستان په وجود کې عملي بڼه غوره کړې ده ، له افغانستان څخه د خپلې خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا دخوندي کولو ، اقتصادي پرمختګ او د بهرنيو تيريو او لاسوهنو په وړاندې له ځان څخه د دفاع وړتيا اخستې ده . نوځکه هميشه زموږ هيواد د تيريو ، لاس وهنو کورنيو کړکيچونو او بې ثباتۍ سره لاس او ګريوان وي او په نړۍ کې د ډيرو بې وزلو وروسته پاتې هيوادونو په ليکه کې لومړى مقام لري . تر څو د انګريزانو اوپنجابيانو په واسطه دافغانستان دويشلو دا ستره توطيه شنډه نه شي او افغنستان بيرته يو نه شي، زموږ هيواد به هيڅکله دنوموړو ستونزو څخه وه نه وځي .

۲ـ پرافغانستان باندې د شوروي اتحاد تيرى د دغه هيواد د استعماري پراختيا غوښتونکي سياست پر بنسټ د سرو پوځونو په غلچکي يرغل

سره سرته ورسید. دا یرغل بې له کومې مخکینۍ خبرتیا ، پلمې او لمسونې پر یو دوست ګاونډي هیواد باندې د غدارۍ ډک یرغل و. په دې یرغل سره یې د تیري په لومړیو شیبوکې د یوخپلواک ، ناپییلي سوله غوښتونکي هیواد برحال جمهور رییس ،حفیظ الله امین ، دخپلو زامنو او ګڼ شمیر افسرانو اوسربازانو سره په قتل ورسول. دګوند او دولت هغه مشران چې د شورویانو دتیري او لاسوهنو سره یې ضدیت درلود په زندان کې واچول . څه یې اعدام او څه یې دبند په اوږدو مودو محکوم کړل . داسې یو دولت یې رانسکور کړ چې په جوړیدو کې یې هیڅ یو بهرني هیواد برخه نه درلوده ، د افغانانو دمطلق اکثریت د ملاتړ څخه برخمن و او دنړۍ ګڼ شمیر هیوادونو سره یې دوستانه او دیپلوماتیک اړیکي درلودل . د ملګروملتونو دسازمان ، ناپییلوهیوادونو دغورځنګ اواسلامي هیوادونو دکنفرانس فعال او بشپړ غړی و . شورویانو د یوملي خپلواک دولت دنسکوریدو څخه وروسته پرافغانانو دیو لاسپوڅي ګوډاګي دولت په تپلوسره غوښتل د افغانستان غوره جیوستر اتیژیک موقعیت څخه د شوروي اتحاداستعماري سیاست په ګټه کار واخلي او دې موخې ته د رسیدو دپاره د ببرک کارمل لاسپوڅی حکومت ، چې د شوروي د شپاړسم جمهوریت په توګه افغانستان د شوروي اتحاد سره یوځای کړي ، قدرت ته ورسوي. دا هسې دعوه او احساساتي خبرې نه دي بلکې دهغه وخت د شوروي اتحاد دلوړ پوړ و چار واکو د لیکنو او شوروي اتحاد د نقشې له مخې یوه ربښتیا خبره ده . خود روسانو او د دوئ د لاسپوڅو په وړاندې دافغانستان دخلکو سرتاسري پاڅون د دې ستړې توطیې مخه ونیوله.

څرنګه چې افغانان نه یوازې دپردیو تر واک لاندې ژوندکول نه غواړي ، بلکې دپردیو دلاسپوڅو تر واک لاندې هم ژوند کول ورته عار او شرم ښکاري. نو ځکه نه یوازې د تیري کوونکو ،بلکې دلاسپوڅوحکومتونو

په وړاندې هم مقاومت او جګړه ضروري ګڼي . شورويانو دخپلو او لاسپوڅو دپښوټینګولو په خاطر په ډیر وحشت سره د دوه میلیونه افغانانو په شاوخوا کې له منځه یوړل ، همدومره یې معیوب او معلول کړل او د شپږو میلیونو افغانانو په شاوخواکې یې خپلو کو ر اوکلي پریښودو ته اړویستل اوافغانستان یې په کنډوالواو شاړو بدل کړ ،خو دافغانانو مقاومت یې مات نه کړ.
تیري کوونکو دخپلواو خپلو لاسپوڅو دپښو ټینګولو دپاره له ډیرو ناوړه توطیو څخه کار واخیست اودخپلو اجنټانو په واسطه یې دقوم ، ژبې ، مذهب اوسیمې په نومونو دافغانانو د بې اتفاقه کولو دپاره هلې ځلې وکړې ، خو پښې یې ټینګې نه شوې. تیري کوونکواولاسپوڅو هلې ځلې وکړې چې نور قومونه دپښتون قوم سره په خپل منځ کې په قومي جګړواختو او بوخت کړي اوپه دې ډول ددوئ په وړاندې دافغانانو مقاومت کمزوری کړي. خو تر څو تیري کوونکي له افغانستان څخه وتلو ته نه وو مجبور شوي ، دغه توطیه یې هم ونه چلیده.
د شورويانو په تیري سره افغانانو ته ستر مصیبتونه اوستونزې وروپه برخه شوې ، چې لاتر اوسه څلور دیرش کاله وروسته هم ځان له دغو ستونزو ، کړاوونو اومصیبتونو څخه نه شي ژغورلای. د شورويانو په تیري سره افغانستان دمختلفو ځبر ځواکونو او سیاسي-اقتصادي سیستمونو په منځ کې دساړه جنګ په ډګر بدل شو او دځبر ځواکونو دګټودپاره ،په تیره بیا دامریکې اوشورو ي اتحاد دګټودپاره په میلیونونو بیګناه افغانان له منځه ولاړل اوهیوادیې په شاړو او کنډوالو ، چې لا تر اوسه نه شي جوړیدای ، واوښت.
دشورويانو په تیري او پر افغانانوباندې دیو ګوډاګي حکومت په تپلو سره په هیواد کې دملي زعامت تشه منځ ته راغله او افغانستان

دنوروهیوادونو ، په تیره بیا دګاونډیو هیوادونو دتیریو، لاسوهنواواستخباراتي سازمانونو دفعالیتونو ډګروګرځید ، چې لاتر اوسه دجګړو ، نا امنۍ، بې ثباتۍ سره لاس او ګریوان دي.

دا پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال تیری و، چې افغانستان یې دنړیوالو ترهګریزو فعالیتونو او مخدره موادو دکرکیلې او قاچاق مرکز باندې بدل کړ. له تیري څخه مخکې ترهګریزوفعالیتونو او مخدره موادو کاروبار وجود نه درلود او افغاني ټولنه د داسې او نورو ټولنیزو ناروغیو لکه رشوت ، اختلاس او احتکار څخه روغه او پاکه ټولنه وه .

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد په تیري سره نورو تیري کوونکو هیوادونو او ځواکونو ته پلمه په لاس ورغله چې د افغانستان په کورنیو چاروکې لاسوهنې زیاتې کړي او تیری پرې وکړي. د شورویانو په واسطه پر افغانانو باندې دیو ګوډاګي حکومت په تپلو سره د ملت او حکومت ترمنځ واټن منځته راغی او له دغه واټن څخه بهرنیو هیوادونو ګټه پورته کړه او په نړیواله کچه دحکومت تجریداو بهرنیو ، په تیره بیا ، ګاونډیو هیوادونو لاسوهنو ته شرایط برابر شول .

په لنډ ډول دا پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد خاینانه تیری و، چې پر افغانستان باندې یې دنوروهیوادونو ، په تیره بیا دامریکې متحده ایالتونو او متحدینو لاسوهنو او تیري ته زمینه برابره کړه او افغانستان یې د دریو لسیزو څخه زیات د جګړو په اور کې وسیزه او دبې ثباتۍ او فسادپه بحران کې یې هر څه له لاسه ورکړل او اوس دډیرو محرومو اوبیوزلو هیوادونو په لیکه کې شمیرل کیږي.

**۳.** پر افغانستان باندې د امریکې دمتحده ایالتونو او ناټودنوروهیوادونو یرغل ، چې دتروریزم سره د مبارزې په پلمه او افغانانو ته دسولې اوثبات په منځته راوړو ، دموکراسۍ ، ترقۍ او ښه

ژوند ته د رسیدو تر شعارونو لاندې سرته ورسید. دا یرغل د افغانستان او افغانانو دپاره ډېر ستونزمن ،له غمونو ،کړاوونو او مصیبتونو څخه ډک یرغل تمام شو . پر افغانستان باندې دامریکایانوپه یرغل سره دجګړو نوې بڼې په مظلوم افغان ولس باندې وتپل شوې او له ډېرو مغلقو وسلو او جګړه ایزو لارو چارو څخه کار واخستل شو . پیچلو استخباراتي فعالیتونو ، پیلوټ لرونکو او دبې پیلوټه امریکایي الوتکو څخه کار اخستل او ځان مرګي چاودنو د ډېرو بیګناه افغانانو د له منځه وړو ، ټپي کیدو اوپه سلګونو زره بیګناه افغانانو دخپل کور کلي اوسیمې څخه د کډوال کیدو سبب شول او افغانان یې دیوې ربښتیانۍ غمیزې سره مخامخ کړي دي.

پر افغانستان باندې دامریکې متحده ایالتونو تیرې دتروریزم سره دمبارزې تر پلمې لاندې ، په داسې حال کې چې هیڅ یو افغان د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په پیښو کې ګډون نه در لود ، یواځې د امریکې د استعماري پراختیا غوښتونکي سیاست پر بنسټ سرته ورسید . امریکا ځان ته حق ورکوي چې د خپلو استعماري ګټو لاسته راوړو دپاره دیوې امپراتورۍ په څیر عمل وکړي. هر ځای په هر هیواد اوسیمه کې چې شتمنۍو ویني ، هغه د خپلو ګټوساحه وګڼي ، ځان وروررسوي ، پلمې جوړې کړي او یرغل پرې وکړي. پرافغانستان باندې دیرغل د پاره دامریکې پلمه دالقاعدې سره دطالبانو اړیکي ښودل شوي دي . امریکا القاعده د سپتمبر د پیښو مسؤله ګڼي ،چې په ټولې دنیا اوپخپله په امریکاکې یې هم شبکو شتون درلود ، خویرغل په مظلوم افغانستان کوي. دا په واقعیت کې دتروریزم پر ضد یرغل نه و ، بلکې دافغانستان دغوره جیوستراتیژیک موقعیت دلاسته راوړو او له افغانستان څخه دمنځنۍ اسیا او منځني ختیز دتیلو اوګازو ذخیرو ته د لاس رسي دپاره یرغل و. چې له همدې کبله یې بې له ځنډه دعراق دتیلو دخپلولو دپاره استعماري پراختیا غوښتونکې جګړه

پیل کړه. نو ځکه هغه څه چې امریکایي یرغلګرو دافغانستان خلکوته ورکړل په غوخ ډول د دوئ د استعماري ګټودپاره وو نه دافغانانو دګټودپاره. د دوئ کړنو له یرغل څخه مخکې د دوئ د پروپیګنډو سره بشپړ ضدیت درلود. لکه:
په زرګونو بیګناه افغانان یې د تیري په لومړیو ورځو کې د ب-۵۲ الوتکو د درنواو ځواکمنو بمونو په بمباریو کې له منځه یوړل او په سوونو کورونه یې په کنډوالوبدل کړل. همدارنګه د هوایي الوتکو په ملاتړ سره یې د دوستم اوزبک ملیشې او نظار شورا ته زمینه مساعد کړه چې په زرګونو طالبان د نړۍ دټولوبشري قوانینو اوحقوقو سره په مغایرت کې دلیلې په دښته، دمزار شریف په جنګي قلا او له کندز څخه تر مزار شریف د لارې په اوږدو کې په کانتینرونو کې دنسل وژنې او جنګي جرمونو په سرته رسولو سره له منځه یوسي اوله دې وروسته په شمال کې ډیر پښتانه د طالب په نوم وځپي.
یواځې په دې معیار چې په امریکایانویې په ډالرو ځانونه خرڅ کړي وو او عام وژنه کې یې دامریکایانو په ملاتړ دجنګي جنایتکارانو رول لوبولی و، امریکې خپل لاسپوڅي او ګوډاګیان، چې په قتل، غصب او فساد کې یې بشپړ شهرت درلود دحکومت دډیر صلاحیت لرونکو چاروا کو په څیر پر افغانانو وتپل. ددې کسانو په تپلو سره چې تل یې په قانون ماتونه، ظلم او زور کې وخت تیر شوی دی، په هیواد کې قانون ماتونه او فساد خپلې لوړې کچې ته ورسیدل.
پر افغانستان باندې له یرغل څخه مخکې امریکایانو، انګریزانو او نورو متحدینو یې افغانانوته وعدې ورکولې، چې تیرې تیروتنې به سمې کړي او د افغانستان په بیا رغاونه کې به دافغانانو سره بې غرضه مرستې وکړي. په افغانستان کې به سوله اوثبات منځ ته راشي او د دموکراسۍ نظام به ټینګ شي او دافغانانو د ژوند سطحه به لوړه شي. خو

دامریکایانو او متحدینو دوعدو سره په مخالفت کې په افغانستان کې د سولې او ثبات پرځای جګړې ، ناامنۍ ،بې ثباتي اودجګړه ایزو فعالیتونونوې بنې رامنځته شوې ،چې په کې سلګونوزره افغانان مړه ،ټپیان او دخپلو کورونو اوکروندو څخه کډې کولو ته اړویستل شول . په خپل وطن کې بې وطنه ، لوږې ، ناروغیو اونورو بې شمیره ستونزو ، غمونو ،کړاوونو او بدمرغیو سره مخامخ شول.
یوائې یو څو لاسپوڅي ، د هیواد او خلکو دملي ګټواوملي یووالي دښمنان دملی اوشخصي شتمنیو په غصبولو او د بهرنیو لوټمارانو سره په فساد او غلاکې دشریکیدو له کبله میلیاردران شول. همدا د امریکې د استعماري سیاست یوه ستره موخه جوړوي چې یو لږ شمیر د دوئ لاسپوڅي او اجنټان د افغاني ټولنې سیاست ، اقتصاد او نظامي واک په خپل لاس کې ولري او نور مطلق اکثریت خلک په تنګسه ، غربت ، محرومیت او احتیاج کې وساتي. همدا سبب دی چې زموږ په هیواد کې دامریکې په مرسته ددلالو سرمایه دارانو ، چې دامریکایي کمپنیو دپاره کار کوي او نړۍ او سیمې د نورو وینو څښونکوسره دافغانانو په لوټولو کې شریک دي، په فساد اخته یوقشر منځته راغلی دی. ددوئ پانګه اچول یوائې په تجملي شیانو دپیسو د ډیرولو دپاره ده ، نه د هیواد دبیخبناد تقویې او افغانانو ته په خپل هیواد کې د کارونو دپیدا کولواو د نورو هیوادونو له احتیاج څخه دافغانانو دژغورلو اواړتیاوو دپوره کولو دپاره.
په افغانستان کې دامریکې او ناټودوسله والو ځواکونو د شتون په موده کې دمخدره موادو کر کیله او قاچاق دبل هر وخت څخه زیات دافغانستان په ټول تاریخ کې خپلې لوړې کچې ته ورسید اوپه نړۍ کې یې لومړی مقام غوره کړ. له یومیلیون څخه زیات افغان ځوانان په مخدره موادو معتاد دي او دا شمیر ورځ په ورځ زیاتیږي . دا په واقعیت کې د

استعماري سياستونو يوه ډالۍ ده چې دافغانانو په نصيب کيږي . په افغانستان کې دمخدره موادود کر کيلې اوقاچاق په زياتيدو کې نړيواله مافيا ،چې زمونږ په هيواد کې د بهرنيو هيوادونو د وسله والو پوځونو دمرستې او امکاناتو څخه برخمنه ده ،پوره لاس لري. همدارنګه ددولت لوړ پوړي ځينې چارواکي چې دنړيوالې مافيا سره اړيکي لري، دافغان ملت سره په دښمنۍ کې بې برخې نه دي. دګاونډيو هيوادونو ،په تيره بيا ايران او پاکستان ، چې دافغانانو په وړاندې له دښمنۍډک دريځ لري ، دافغان ځوان نسل په معتاد کولو کې بې برخې نه دي .

د ملګرو ملتونو دبشر دحقوقو داصولوسره سم هيڅوک بې ديوې عادلانه محکمې او دجرم د اثبات نه پرته مجرم نه ګڼل کيږي او بې دمحکمې له حکم څخه په سزا نه رسيږي. هر څوک چې د ملګرو ملتونو د اصولو څخه په مغايرت کې بې د محکمې دحکم څخه خلک په قتل رسوي، دا په ښکاره جنګي جرم او تروررول دي. دولس کاله کيږي چې د امريکې جنګي جټ پيلوټ لرونکې الوتکې او بې پيلوټه الوتکې د محکمې دحکم څخه پرته د بيګناه افغانانو په وژنه لګيا دي . چې په نتيجه کې په زرګونو بيګناه افغانان دښځو او ماشومانوپه ګډون د ډيورنډ دکرښې دواړو خواوو ته له منځه تللي دي او د بيګناه خلکو دا مرګ ژوبله هم داسې روانه ده. خوامريکايان پروپيګنډې کوي چې د تروريزم پرضد مبارزه کې دوئ حق لري چې له دا ډول بمباريو څخه کاروا خلي. ياني د تروريزم سره مبارزه په تروريزم وکړي او کله چې دخپلو جاسوسانو په واسطه ورته يومشکوک څوک وښودل شي ،نو لس نور بيګناه ښځې او ماشومان ورسره يوځای دمرګ کومې ته سپاري . دغه دی امريکايي عدالت او په افغانستان کې دتروريزم پرضد د يو ځبر ځواک( دامريکې دمتحده ايالتونو ) مبارزه.

دامريکې او ناټو د ۱۵۰ زره نه زيات وسله والو ځواکونوپه موجوديت کې نه يوائې دا چې دګاونډيو هيوادونو ، په تيره بيا ، د پاکستان او ايران

لاسوهني ، تيري اوپر افغانانو باندې د ډول ډول ستونزو او سپکاويو تپل بند نه شول ، بلکې لا پسې زيات او درسوايي کچې ته ورسيدل.
خو امريکايانو او متحدينو يې سترګې پټې کړې او هيڅ يې ونه ليدل ،نو په څه ډول بيا افغانان به دا تمه ولري چې امريکا به د افغانانو سره ددوئ دحقوقو په ساتلو او لاسته راوړو کې مرسته وکړي.
امريکايانو په ډاګه کړه چې د انګريزانو او پنجابيانو په واسطه پر افغان مظلوم ملت تپل شوي د ډيورنډ توره کرښه، چې دافغانستان د ويشلو او ديوې لوې برخې دغصبولو د پاره راښکل شوې ده ، دافغانستان اوپاکستان تر منځ د يو نړيوال بريد په څير پيژني . دا په واقعيت کې ديو استعماري سيستم پربنسټ دافغانانو سره دامريکې چلنددی ، چې د دوست له خوا نه ،بلکې دښمنان يې پر مخ بيايي. نوبيا په کوم منطق له امريکايانو څخه غوښتل کيږي چې د افغانستان له ګټو څخه دفاع وکړي او دخپلوژمنو سره سم له افغانستان څخه خپل ځواکونه ونه باسي . په دې کې تر هرڅه زيات هغه کسان ډيرې چيغې وهي چې د امريکايانو په مرسته يې سياسي واک لاسته راوړ ، دخلکو شخصي او ملت عامه شتمنۍ يې غصب کړې اوپه ظلم او فساد کې يې په نړۍ کې لومړی ځای ونيو ، نورهم غواړي دامريکايانو په زور لاسته راغلې واکمني او شتمنۍ وساتي.
د تروريزم سره دمبارزې تر پلمې لاندې دپښتنو سره ښکاره دښمني او ددې قوم عام وژنه هيڅ يوافغان ته دمنلو وړ نه ده . افغانستان يو ډير قوميز هيواد دی او ټول قومونه يکې تل د ورونو په څير اوسيدلي دي.
ددې قومونو تر منځ دښمنيو ته لمن وهل دبهرنيو استعمارچيانو او د دوئ دګوډاګيانو کار دی ، چې افغانان ورته دکرکې په سترګه ګوري. دا هيڅ شونې نه ده چې د يو قوم په بربادۍ سره دې نور قومونه ابادشي.

افغانستان دټولو افغانانو شريک کوردی . ټول افغانان مکلف دي چې دخپل شريک کورځخه دفاع وکړي . په دې شريک کور کې ديوقوم بربادي دټول کور بربادي ده او دهر قوم ابادي دټول کورپه ابادۍ کې ده. نوځکه دپښتون قوم بربادي دافغانستان بربادي ده . له همدې کبله امريکا اوياران يې بايد د پښتنو له بربادۍ نه لاس واخلي، داستعمار ،ايل کولو او ځپلو سياست دې پريږدي ، ټولو افغانانو ته دې په يوه سترګه وګوري او د متقابل درناوي او متقابلو ګټو پر بنسټ ټولو افغانانو سره يوشان چلند وکړي .دافغانانو ترمنځ د توپيري او تعصبي چلندڅخه ،چې دافغانانو ترمنځ د بې باورۍ سبب کيږي، ډډه وکړي . دابه دټولو په ګټه وي.

څه بايد وشي چې په افغانستان کې تلپاتې سوله او ثبات ټينګ شي.

افغانان لکه د پخوا په څير يوبل باندې دباور په لرلوسره په ګډه د خپل هيواد دخپلواکۍ ،ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع وکړي .

افراط اوتفريط څخه خلاص يو ربښتيانی عادل اسلامي نظام منځته راوړي . تر څو له بهر څخه تيل شوې د جګړو دا اوږده غميزه پای ته ورسيږي اودافغان ملت په وړاندې ټولې کورنۍ اوبهرنۍ توطيې شنډې شي او دپرمختګ اوسوکالۍ ټول شرطونه منځته راشي . نو هله به په خپلوپښوولاړ دهر ډول بهرنيو لاسوهنو او تيريو مخه نيولو کې يوځواکمن افغانستان منځته را شي ، چې دبل چا په پښو نه ، بلکې په خپلو پښو ولاړ وي او له ځان څخه دفاع وکړای شي. نوځکه:

- تجروبو ښودلې ده ،چې دبهرنيو وسله والو ځواکونو دشتون په صورت کې زموږ په هيواد کې د سولې اوثبات ټينګيدل اود يو ځواکمن په خپلو پښو ولاړ ملي وسله وال پوځ منځته راتلل ستونزمن کاردی . دبهرنيو وسله والو ځواکونو شتون يواځې په سياسي واک باندې د هغوچارواکو دپاتيکيدومانا لري ، چې په فساد مشهور او د شخصي اوملي شتمنيو

غاصبین دي اوله بهرڅخه په افغان ولس تپل شوي دي . د ناټو او امریکې وسله والو ځواکونو خپلسریو او ړندو بمباریو په زرګونه بیګناه افغانان ، چې ډیر یې ښځې او ماشومان وو،په شهادت رسولي دی اودافغانانو عنعنو ،ملي اومذهبي ارزښتونوته په نه درناوي کولو تورن دي . له همدې کبله دافغانستان خلک په خپل هیواد کې دبهرنیو هیوادونو د وسله والو ځواکونو په شتون خوښ نه دي. یواځې هغه کسان او ډلې په افغانستان کې دبهرنیوهیوادونو وسله وال ځواکونه غواړي ، چې د همدې ځواکونو په مرسته قدرت ته رسیدلي دي ، دخلکو اوملت شتمنۍ یې غصب کړې دي ، دخپلو شخصي ګټو او په سیاسي قدرت کې دپاتې کیدو د دوام په خاطر نه غواړي په هیواد کې جګړې پای ته ورسیږي او تلپاتې عادلانه سوله او ثبات منځته راشي.

- ټول هغه دولتي چارواکي او جنګسالاران چې د بهرنیووسله والو ځواکونو له لارې پر افغانانو تپل شوي دي او د فساد او بې کفایتۍ بوی یې ټول هیواد نیولی دی په خپله خوښه نور د دولتي چارو سرته رسولو څخه ځانونه په ډډه کړي او د اشخاصواوملت ټولې غصب کړې شتمنۍ دې پخپله ملت ته وسپاري. ترڅوبیا د جبري مصادرې اوسزا سره مخامخ نه شي. هغه ورځ راتلونکې ده چې دوېښ ملت له خوا به ظالمان ، مفسدین او غاصبین دقانون منګولو ته سپارل کیږي.

- کیدای شي چې دافغانستان خپل وسله وال پوځونه په افغانستان کې د سولې او ثبات په ټینګیدو او له بهر څخه د هر ډول تیري په مخنیوي کې خپله ورتیا جوته کړي. په دې شرط چې دا پوځونه په ملي روحیه او د خپلو ملي دندودسرته رسیدو په مکلفیت باندې په پوهیدو سره وروزل شي. دهر ډول تنظیمي ، قومي ، ژبني او مذهبي تعصباتو اوتمایلاتو څخه پاک او یواځې دافغانستان دملي ګټو پربنسټ او داسلام مقدس

دین د ارزښتونو سره سم دافغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړ تیا څخه ددفاع په لار کې هر ډول سرښندنو ته چمتووي.
ملي وسله وال پوځ باید دټول ملت استازی او دافغانستان دخلکو ملي ګټو څخه دفاع ته ژمن پوځ وي اودافغانستان دکورنیو زیرمو څخه تمویل شي.
- له افغانستان څخه دبهرنیووسله والو ځواکونو د وتلو په صورت کې په افغانستان کې داوږدو جګړو دپای ته رسیدو په خاطر دجګړې ټول اړخونه په سیاسي قدرت کې دپاتې کیدو اویا سیاسي قدرت ته درسیدو دپاره جګړوته دوام ورنه کړي اوټول اختلافونه د سوله ایزو لارو په واسطه اوار کړي. دافغانانو دملي نوامیسوڅخه د دفاع په خاطر دې دجګړې ټول اړخونه دخپلوټولووسلو اومهماتوسره دافغانستان واحدپوځ کې دیوځانګړي مکانیزم پر بنسټ سره یوځای شي اوپه ګډه دې د خپل هیواداوخلکو څخه دفاع وکړي. دهر ډول تخریب اوورانکاریو مخه ونیسي، ټول بهرنیان دې په هرنوم چې وي، د دیورند دکرښې دواړو خواووسیمو څخه وباسي اویایې بې وسلې کړي ، تر څو دهر ډول بې مسؤلیته کړنواو توطیو جوړولو، لکه دښونځیو سوزیدو اوقومي مشرانو اوملي اشخاصو د وژل کیدو، مخه ونیول شي .
- دډیورنډ دکرښې دواړو خواوو طالبان ، کوم چې ځانونه خپلواک افغانان بولي ، کولای شي د طالبانو په یوواحد تحریک کې راټول شي .
د ډیورنډ دکرښې ډواړو خواووطالبانو یووالی به د دې کرښې په واسطه د انګریزانواو پنجابیانوله خوا دافغان واحد ملت د ویشلو توطیې په شنډیدو کې اغیزناک تمام شي اوهم به دوئ په خپل طبیعي ،ستر او تاریخي افغانستان کې د یو رښتیاني، دهر ډول افراط او تفریط څخه خلاص، یو عادل اسلامي نظام په ټینګیدو کې خپلې موخې ته ورسیږي .
دا موخه کیدای شي د ټاکنو له لارې، چې دټاکنوداوسني کمیسیون تر

سرپرستۍ لاندې نه بلکې دډیورنډ دکرښې دواړوخواووافغانانو دیوې
نوې دعلماوو ،روحانیونو ، قومي مشرانو ،ملي شخصیتونواو
روښانفکرانودااستازو څخه جوړې شوې شورا تر سرپرستۍ لاندې سرته
و رسیږي ،تر لاسه شي . یقین دې چې دیو رښتیاني عادل اسلامي
خپلواک نظام ، چې دهر ډول تعصب ،فساد ، افراط او تفریط څخه پاک
وي ، دمنځته راتلواوټینګیدو په خاطر به دافغانستان ټول مسلمان او
متدین ملت دداسې نظام د ټینګیدو ننګه وکړي .
-له هغه وخت څخه چې انګریزي استعمارچیانو افغانستان په زور ، مکر
اوفریب او توطیو سره په ټوټو وویشه ، افغانان د بهرنیوهیوادونو ، په
تیره بیا د ځبر ځواکونو ، د لاسوهنو ،تیریو او توطیوسره لاس اوګریوان
دي اوجابرانو په پرله پسې ډول یو په بل پسې د دې مظلوم ملت د ځپلو
دپاره له هیڅ ډول ظلم زور څخه ډډه نه ده کړې . انګریزانو د ویشلو له
لارې زموږ هیواد دومره کمزوری کړ چې د بیرته یو کیدو او دنورو
دتیریو ، لاسوهنو او توطیو په وړاندې یې له ځان څخه د دفاع وړتیا له
لاسه ورکړه . ترڅو افغان سترملت له ځان څخه د دفاع وړتیا بیرته لاسته
رانه وړي له اوسنۍ غمیزې څخه د وتلو بله لار نه لري . دا وړتیا یواځې د
ډیورنډ د کرښې په واسطه د ویشل شوي افغانستان د ټولوخلکو په بیرته
یوکیدو کې نغښتې ده.
- په ویشل شوي افغانستان باندې د لاس پوڅو حکومتونو په تپلو ، په
پیسو او نورو امتیازونو سره د ځانغوښتونکو په اخستلو ، دافغانانو
دنوروکمزوریو لکه دقوم ،ژبې او مذهب بې اتفاقۍ او دسیاسي پوهې
دکمزورتیا له کبله د دوست او دښمن په نه پیژندلو، تر اوسه پورې
انګریزانو او پنجابیانو وکړای شول افغانان په دې یوویشتمې پیړۍ کې
هم په اسارت کې وساتي او دنورو افغان دښمنه ځواکونوسره په ګډه
افغان سترملت د ډیر وروسته پاتې ، بې هویته، دنړیوال مدنیت څخه

ليرې ،دمخدره موادو او تروريزم د ځالې په څير د نړۍ خلکوته وروپيژني اوپه دې دول هغه وحشت او د بشريت ضدکړنې چې انګريزانو ، روسانو امريکايانو ، ګاونډيانو او نورو افغان دښمنه يرغلګرو ځواکونو ددې ستر ملت د ځپلو اوبې هويته کولو دپاره سر ته رسولي دي، دنړۍ دخلکو له نظر څخه پټې کړي.

- دافغانستان په ټول معاصر تاريخ کې رښتيانيو ديني عالمانو ، روحانيونو ،قومي مشرانو او دسياست اوقلم په ډګرکې ملي شخصيتونو او روښانفکرانو پر افغانستان باندې د بهرنيو هيوادونو ديرغلونو ، لاسوهنو او توطيوپه وړاندې دافغانستان دخلکو په مقاومت او له ځان څخه ددفاع په پاڅونونو کې دمخکښانو او لار ښوونکو رول لوبولی دی . دافغانانو له روانې غميزې څخه د ژغورلود پاره ،چې دستر طبيعي او تاريخي افغانستان په ټولو برخوکې افغانان ورسره يوشان مخامخ دي ، د دوئ هيوادپال دريځ به د ويشل شوي افغانستان په بيرته يووالي کې چې له غميزې څخه د وتلو دپاره لومړنی شرط دی ، غوڅ رول و لوبوي . همدارنګه دويشل شوي افغانستان دبيرته يووالي ، په اسلامي اوملي روحيه باندې د افغانانو د ځوان نسل روزلو او زموږ په بيرته يوشوي ستر او واحدافغانستان کې ، دهر ډول افراط او تفريط څخه پاک عادل اسلامي نظام د ټينګولودپاره د ډيورنډ دکرښې دواړو خواو افغانستان کې دعلماوو ، روحانيونو ، طالبانو، قومي مشرانو ، سياسي او ملي شخصيتونو او روښانفکرانو ديووالي په مرسته د ټولوخلکويووالي ته اړتيا ده . د ډيورند دکرښې دواړو خواو خلکو په يووالي سره به ويشل شوی افغانستان بيرته يوشي اوپه يوشوي افغانستان کې به دهر ډول ناپوهی، مخدره موادو کرکيلې اوقاچاق، خپلمنځي دښمنيو ، ځانځانيو ،ترهګريزوفعاليتونو مخه و نيول شي اوپه دې ډول به له بهر څخه د استخباراتي شبکو په واسط د توطيو جوړول او

د عالمانو اوقومي مشرانو له منځه وړل پای ته ورسیږي . زموږ په دې ستر ، تاریخي او طبیعي افغانستان کې به دبهرنیو لاس وهنو مخه ونیول شي او دټولو افغانانو دهیلو سره سم به درنو ټاکنو له لارې یو ربښتیانی عادل اسلامي نظام، چې هیڅ ډول فساد ، تعصب او افراط اوتفریط پکې شتون ونه لري ، ټینګ شي .

- زموږ په بیرته یوشوي ستراوځواکمن افغانستان کې دخلکو دهیلوسره سم د ټاکنو له لارې دیو ربښتیاني عادل اسلامي نظام په ټینګیدو سره به په ټول هیواد کې تلپاتې سوله او ثبات منځته راشي اواسلامي قانون به حاکم وي . نوربه د نورو هیوادونو اتباعو ته ضرورت نه وي اونه به شي کولای چې په افغانستان کې بې مسؤلیته وسلې وګرځوي او داسې کارونه سرته ورسوي چې د اسلام دمقدس دین د ارزښتونو، افغانانو دملي ګټو اوخلکو دسوله ایز ژوند سره مغایرت ولري . دوئ به یاخپلو خپلو هیوادونو ته ځي اویا به بې وسلې کیږي او دقانون سره سم به دمهاجرینوپه څیر په افغانستان کې په سوله کې اوسیږي . افغانستان به په کم وخت کې نه یواځې په سیاسي برخه کې یو خپلواک هیواد وي بلکې په نظامي او اقتصادي برخو کې به هم په خپلو پښو ودریږي او په دې سره به زموږ افغاني ټولنه په ټوله نړۍ کې دسولې او ثبات په لرلواو دهرډول فساد څخه په پاکوالي سره دنړیوالو پام ځانته واړوي . چې بیا نور هیوادونه به دنړیوالو او افغانستان د قوانینو سره سم دمتقابلو ګټو ، متقابل درناوي اویوبل په کورنیو چارو کې دنه لاسوهنې د اصولو پر بنسټ سیاسي- دپلوماتیک او دوستانه اړیکي ټینګ کړي ، زموږ په هیواد کې پانګې واچوي او بې غرضه مرستې سرته ورسوي .

- که امریکا، نورځبر ځواکونه او ګاونډي هیوادونه غواړي چې په افغانستان ، سیمه اونړۍ کې سوله او ثبات منځته راشي او په افغانستان کې دجګړو بل شوی اور دې هیوادونو ته خپور نه شي ، نو

دافغانستان خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا ته دې درناوی وکړي. زموږ دهیواد په چاروکې دې د لاسوهنو څخه ډډه وکړي او نور دې دافغانستان ویشلو ته دوام نه ورکوي . غاصبین دې دافغانستان غصب شوې ځمکې په خپله خوښه افغانانو ته پرېږدي او په دې یوویشتمې پیړۍ کې دې پر افغانانو باندې د استعماري سیاست له تپلو څخه تیر شي.
پاکستان دې نور د افغانانو دمحکوم ساتلو او ځپلو څخه لاس واخلي او ځان دې دافغان ولس دقهر او کرکې سره نه مخامخ کوي . د امریکې اونورو ځبر ځواکونو په ګټه ده چې دافغانانو سره د دښمنۍ پر ځای یوبل ته د درناوي او متقابلو ګټوپر بنسټ اړیکي پیاوړې کړي او دافغانانوله ځپلو په تیره بیا د پښتنو له عام وژنې څخه لاس واخلي. نور دې هلې ځلې نه کوي چې داسې کسان پر افغانانو د واکدارانو په څیر وتپي چې په ټوله نړۍ کې په فساد او بې کفایتۍ مشهور دي . د امریکې او نورو ښکیلو هیوادونو په ګټه ده چې پرافغانانوباندې د خپلو لاسپوڅود تپلو پر ځای د ټو ل افغان ملت سره بې غرضه مرستې وکړي او دافغانانو په اړوند د استعماري سیستم پر بنسټ له چلند څخه تیر شي. دا د افغان ستر ملت سره دوستي نه ده چې دامریکې متحده ایالتونه د د دیورند دکرښې په واسطه د افغانستان د ویشلو توطیه، چې دانګریزانو او پنجابیانو داستعماري سیاستونو دموخو سره سمه دوام لري ، تایید او ملاتړ ترې وکړي . افغانان به خپله خپلواکي پخپله ګټي ،خو دخپل حق دپاره د مبارزې په ترڅ کې به دوستان او دښمنان هم پیژني. که د ستر افغانستان د ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو د یووالي په نتیجه کې ستر افغان ویشل شوی ملت بیرته یوشو، پورتنۍ ټولې هیلې به هرومرو سرته رسیږي . د ډیورنډ دکرښې دواړو خواوو ملي وطنپال شخصیتونه او ځواکونه نور په دې پوهیږي چې تر څو دانګریزانو او پنجابیانو په واسطه دافغان ستر ملت د ویشلو توطیه شنډه نه شي او دا ویشل شوی ملت بیرته

یونه شي تر هغې پورې پر افغانانو باندې دبهرنیو جابرانو او تیري کوونکو تیري ،ظلمونه ، توطیې او د محرومیتونو تپل پای ته نه رسیږي.
له دې کبله ټول وایي چې نشت دې وي د ډیورنډ کرښه ! یو او ژوندی دې وي افغان سترملت ! ورک دې وي د افغانانو دیو والي دښمنان !
د مارچ ۲۲ ، ۲۰۱۳ کال

# حامد کرزي ته پرانیستی لیک:

د پیل خبره:

زموږ تاریخي او طبیعي افغانستان د پنځو زرو کلونو په ترڅ کې د ډیرو لوړو ژورو څخه راوتلی او خپل شتون ته یې دوام ورکړی دی . ډیرو پراختیا غوښتونکو استعماري ځواکونو په مختلفو وختونو کې پر افغانستان تیری کړی ، عام وژنې یې سرته رسولي او دلنډ وخت دپاره یې زموږ هیواد لاندې ویستلی او افغانان یې د ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کړي دي. خوپه پایله کې هر یرغلګر، دافغان واحد ملت د بیسارې میړانې ،مقاومت او سرښندنو له کبله ، هرڅومره چې زورور او ځواکمن و ، دجګړو په ډګرکې له افغانستان څخه سرټیټی او ماتې خوړلی وتلی دی. افغانانو چې ډیر تاوانونه لیدلي او د ستونزو سره مخامخ شوي دي ، هغه د بهرنیو یرغلګرو ځواکونو پټې توطیې او پلانونه وو، چې یوه یې د« ډیورنډ » د کرښې په واسطه په ۱۸۹۳ کال کې د افغانستان دخلکو څخه په پټه ، په داسې وخت کې چې بهرنی سیاست دانګریزانو تر کنترول لاندې و ، پر امیر عبدالرحمن خان باندې دافغان واحد ملت دویشلو د توطیې تپل و . دغه توطیه چې دافغان واحد ملت څخه په پټه د فریب ، رشوت ، ګواښ او زور له لارې دخپل استعماري واک لاندې امیرسره د «لوزنامې» په نوم په نامشروع ډول دافغانستان په خلکو تپل شوې ده ، له هم هغه لومړي سر څخه هیڅکله نه خلکو او نه حکومتونومنلې ده، هیڅکله به یې ونه مني او هر څوک چې یې دمنلو هڅه وکړي دافغانانو د کرکې او دښمنۍ سره به مخامخ شي.

ښاغلی جمهور رییس!

دا چې ویل کیږي چې د پاکستان اشغالګر پوځونه ۴۵ کیلو متره د ګوشتې په ولسوالۍ کې له خپل برید څخه رامخکې شوي دي او باید

خپل برید ، ډیورنډ کرښې ته بیرته پرشاشي، دپاکستان سره دستونزې د اواري خبره نه ده . ځکه چې پاکستان دګوشتې په ولسوالۍ کې یواځې ۴۵ کیلومتر ه دافغانستان خاوره نه ده لاندې ویستلې ، چې که پر شا شي نو افغانستان به یې له شر څخه خلاص شي . ددې دپاره چې افغانستان د پاکستان له شرڅخه خلاص شي ، باید له پاکستان څخه وغوښتل شي چې دافغانستان خپلواکۍ اوځمکنۍ بشپړ تیا ته درناوی وکړي او د ډیورنډ تورې کرښې څخه تر اباسینه پورې دافغانانو ټولې غصب شوې ځمکې پریږدي . پاکستان باید نور په دې یوویشتمې پیړۍ کې دنیم افغانستان استعماري نیواک پای ته ورسوي او د دوو مسلمانو ګاونډي هیوادونو په خیر د یو بل په کورنیو چاروکې دنه لاسوهنې او پر یوبل دنه تیري پر بنسټ دوستانه اړیکې ټینګ کړي.

دا چې ځینې پردیپال د افغانستان دخلکو ملي ګټو ته خاین عناصر د سرلوړي خپلواک ژوند څخه د بهرنیو استعماري ځواکونو تر حاکمیت لاندې د ذ لت او محکومیت ژوند غوره ګڼي او د « ډیو رنډ » کرښې د په رسمیت پیژندلوناروا پروپیګنډې کوي ، د افغانانو استازیتوب نه شي کولای . د افغانستان ټول خلک ، په هر قوم پورې چې تړلي دي ، په خپلې خپلواکۍ مین خلک دي او د انګریزي استعمارچیانو په واسطه دافغان واحد ملت د بیلتون کرښه ( ډیورنډ ) نه مني اوهیڅکله به یې ونه مني . له امو څخه تر اباسینه پورې افغان واحد ملت په طبیعي ډول د تاریخ په اوږدو کې منځ ته راغلی دی او د استعماري توطیو پر بنسټ د دې واحد افغان ملت ویشل نور په افغانانو نه شي تپل کیدای . دا چې د یو څه وخت دپاره دا توطیه وچلیده ، هغه د استعماري سیستم د توطیو ژوروالی او پراخوالی او په افغانستان کې د ځان ساتو له بیرون څخه تپل شوو حکومتونو شتون و، چې د افغانانو په خاوره یې د پنجاب استعماري واکمنۍ ته دوام ورکړ. خو نور په دې یوویشتمې پیړۍ کې د ډیورنډ

داستعماري کرښې په واسطه دافغان واحد ملت بيلتون بايد پای ته ورسيږي او له امو څخه تر اباسينه پورې افغانستان خپله خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتيا خوندي کړي. له امو څخه تر اباسينه پورې ټول افغانان په خپلې خپلواکۍ مين دي او د خداي پاک ( ج ) د دې ستر نعمت لاسته راوړو دپاره هرډول سرښندنو ته تيار دي . نو ځکه دې لاندې ټکو ته پام اړول پکار دی:

۱ ـ د افغانستان په ټول تاريخ کې د افغانستان دخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه يواځې دولتي وسله والو ځواکونو ساتنه او دفاع نه ده کړې ، بلکې د دې ملي ارزښتونو د ساتنې او دفاع درونند بار تل دافغانستان خلکو او ولسونو په خپلو اوږو وړی دی . دا د بهرنيو يرغلګرو استعماري ځواکونو په وړاندې دافغانستان دخلکو مقاومت دی چې له افغانستان څخه يې دامپراتوريو هديره جوړه کړې ده ، چې پاکستاني اشغالګران به هم که دافغانانو دځمکو اشغال ته دوام ورکړي پکې ښخيږي.

۲ ـ د يو څوپرديپالو ملي خاينانو پرته ، له آموڅخه تر اباسينه پورې د افغانستان ټول خلک د ډيورنډ استعماري کرښه نه مني او دپنجابيانو په واسطه داشغال شوې برخې دازادۍ دپاره هر ډول سرښندنو او قربانۍ ته تيار دي. نو ځکه د هيواد د ملي وطنپالو شخصيتونو او ځواکونو په هلو ځلو سره کيدای شي په ډير کم وخت کې داسې يو ځواکمن ملي ازادي بښونکی غورځنګ منځته راشي چې پنجابي اشغالګران دکورنيو پرديپالو سره يوځای په اباسين کې ډوب او خپل هيواد ترې پاک کړي .

۳ ـ د پاکستان له دولت څخه په غوڅ ډول وغوښتل شي چې د ډيورنډ د تپل شوې کرښې څخه تر اباسينه پورې دافغانستان اشغال پای ته ورسوي او د ستر تاريخي او طبيعي افغانستان سره دلمسونو او جګړو پر ځای لکه د دوو مسلمانو ګاونډيو هيوادونو ترمنځ چلندغوره او

اړیکي ټینګ کړي او په دې ډول په سیمه کې د سولې او ثبات سره مرسته وکړي .
۴ ـ افغان دولت نور باید د ډیورنډ دکرښې څخه د راولاړو شوو ستونزو او د پاکستان په واسطه دافغانستان دخاورې اشغال د دوام په هکله په رسمي ډول دملګرو ملتونو دامنیت شورا څخه د دې ستونزې د اواري غوښتنه وکړي او له دوستو هیوادونو څخه وغواړي چې د پاکستان استعماري واک پای ته رسیدو او یرغلګر لمسوونکي چلند په وړاندې د افغانانو ملاتړ وکړي.
۵ ـ د « ډیورنډ » دکرښې په اړوند له شرمه ډک ناسم تبلیغات ، چې دخلکو ذهنیتونو اود واقعیتونو په اړوند دخلکو پوهې ته زیان رسوي، باید پای ته ورسیږي . دولتي او نادولتي ټولې رسنۍ « د پاکستان شمالي وزیرستان ، دپاکستان جنوبي وزیرستان ، دپاکستان پیښور ، د پاکستان مردان او داسې نورو » پر ځای شمالي وزیرستان ، جنوبي وزیرستان ، پیښور او مردان وویل شي او په پاکستان پورې ونه تړل شي. دا ځکه چې دغه ځایونه د لوی افغانستان برخې دي ، نه دپاکستان . پاکستان دافغانستان دغه ځایونه د برتانوي استعمارچیانو په مرسته اشغال او غصب کړي دي ، چې باید ازاد کړل شي.
۶ ـ هر بهرني هیواد سره چې افغانستان د دوستۍ او همکارۍ ستراتیژیک یا امنیتي تړون لاسلیک کوي، باید د ډیورنډ د کرښې په اړوند یې دریځ روښانه او د استعمار ضد دریځ وي او د « ډیورنډ » کرښه دافغانستان او پاکستان تر منځ دنړیوال برید په توګه په رسمیت ونه پیژني . که دامریکې متحده ایالتونه خپل دې دریځ ته چې « دډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ دنړیوال برید په توګه پیژني » ، تغیر ورنه کړي او دافغانانو خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا

ته درناوی ونه کړي ، نو ددغه هیواد سره ستراتیژیک او امنیتي تړو ن لاسلیک نه شي .
۷ ـ یوشمیر پردیپالو وطنپلورونکو دپاکستان داجنټانو په څیر ملي خیانت ته ملا تړلې او له پاکستاني چارواکو څخه دوئ زیات دپاکستان په ګټه او د افغانستان په تاوان ناوړه پرو پیګنډې سرته رسوي . دوئ په دې پروپیګنډوسر ه غواړي د « ډیورنډ » د استعماري تورې کرښې په اړوند واقعیتونو سره په ضدیت کې افغانانو اونړیوالو ته دروغ ووایي اوپه دې ډول دخپلې خپلواکۍ دلاسته راوړو او ځمکنۍ بشپړتیا دخوندي کولو دپاره دافغا ن زړور ملت اراده کمزورې کړي . نو ځکه ضرور ده چې د افغانستان دملي ګټو ضد داسې عناصرو او رسنیو د پرو پیګنډو مخه ونیول شي ، تر څو د دموکراسۍ له نوم څخه په ناوړه ګټې اخستو سره دافغانستان ملي ګټې زیانمنې نه کړي . همدارنګه دوئ باید د پاکستان داجنټانو په څیر افغانانو ته وروپیژندل شي ، تر څو زموږ په خپلواکۍ مین خلک د دوئ په ناولو پروپیګنډو ونه غولیږي او د توطیو مخه یې ونیسي.
۸ ـ باید په دې باور ولرو چې د افغانستان دملي نوامیسو اصلي مدافع د افغانستان مسلمان متدین ملت دی . دا دافغانستان خلک دي چې تل یې د بهرنیو یرغلګرو تیري کوونکو په وړاندې دافغانستان له خپلواکۍ ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع کړې او تیري کوونکو ته یې ماتې ورکړې ده . دافغانستان ملي وسله وال ځواکونه هغه وخت د خپلواکۍ په سپیځلې جګړه کې بریالي وو ، چې دخپلو خلکو له ملاتړ څخه برخمن وو. د دې دپاره چې دافغانستان ملي وسله وال پوځونه دخپلو خلکو باور او مرسته لاسته راوړي او دخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع وړتیا پیداکړي ،ضرور ده چې وسله وال پوځونه دهر ډول مشکوکو اوملي ګټوضد عناصرو له شتون څخه پاک

شي. دوسله والو ځواکونو موخه یواځې او یواځې دافغانستان دخلکو له ملي ګټو او ملي نوامیسو څخه دفاع وي او په دې ډول دافغانستان دخلکو نه ماتیدونکی ملاتړ لاسته راوړي او په نه ماتیدونکو وسله والو پوځونو بدل شي.

۹ـ د دې دپاره چې د بهرنیو تیري کوونکو او ښکیلاکګرو په وړاندې د خپلې خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه په بریالیتوب سره دفاع او ساتنه وشي، ضرو ر ده چې په هیواد کې ټول ملي وطنپال ځواکونه په همغږۍ سره د تیري کوونکو په وړاندې مبارزه وکړي. له بهر څخه د تروریزم په نوم پر افغانانو باندې په تپل شوې جګړه کې له یو میلیون څخه زیات افغانان له منځه تللي دي. د دغې جګړې قربانیان که ملکي خلک دي، که طالبان دي او که د دولت وسله وال منصوبین دي، دا ټول افغانان دي. د بهرنیو ځواکونو له وتلو څخه وروسته نور باید افغانان د خپل منځي جګړو پر ځای د پنجابي ښکیلاک څخه د خپلو غصب شوو سیمو د آزادولو دپاره خپله ملي او اسلامي دنده سرته ورسوي .

د پای خبره:

دخپلو حقه حقوقو د لاسته راوړلو او ساتلو دپاره زموږ بنسټیز ځواک زموږ په خپلواکۍ مین خلک دي . موږ ټینګ باور لرو چې د پنجاب استعمارګروغاصبینو څخه دخپلې خاورې دازادۍ په مبارزه کې زمو ږ ربنتیاني ملي وسله وال پوځونه دخپلو خلکو سره یو ځای دخدای پاک ( ج ) په مرسته هرومرو بریالي کیږي . دا چې موږ دخپلو حقوقو دپاره د غاصبینو په وړاندې مبارزه کوو، دا د استعمار او بهرنیو غاصبینو په وړاندې جهاد دی چې دافغانستان ملي وطنپال ربنتیاني علما به هم دا خبره تایید کړي . په دې جهاد کې دخدای پاک ( ج ) مرسته دافغان مجاهدملت ، چې له غاصبینو څخه دخپلې خپلواکې دلاسته راوړو دپاره جګړه کوي ، په برخه ده . همدارنګه ټول ملي وطنپال شخصیتونه او

ځواکونه خپله ملي او اسلامي دنده ګڼي چې له آمو څخه تر اباسینه پورې ټول په خپلې خپلواکۍ مین افغانان په یو سرتاسري ملي ازادي بښونکي غورځنګ کې راټول او د خپلې غصب شوې برخې افغانستان د خپلواکۍ مبارزې دپاره چمتو کړي . افغانان سوله غوښتونکي خلک دي . له پاکستان څخه به وغواړي چې په سوله ایز ډول د افغانستان څخه د غصب شوو برخو اشغال پای ته ورسوي او له اباسین څخه دیخوا افغاني خاوره باندې له تیریو ، لاسوهنو او اشغال څخه لاس واخلي. پاکستان له نظامي پلوه د برطانیې ، روسیې ، امریکې او ناټو څخه ډیر ځواکمن نه دی چې دا تیروتنه وکړي چې د سولې پرځای جګړه غوره کړي او په لوی لاس د امپراتوریو په هدیره کې ځان دپاره قبر وکیني .

د مې ۱۱، ۲۰۱۳ کال

# د ملي وطنپالو شخصيتونو او ځواکونو په وړاندې ملي او اسلامي دندې

له آمو څخه تر اباسينه پورې د افغانستان دخلکو د بدمرغيو ، کړاوونو ، کمزوريو ، وروسته پاتې والي ،بې اتفاقيو ، جګړو او بې وزلۍ اصلي عوامل د استعماري ځواکونو توطيې ، لاسوهنې او تيري دي چې نه پرېږدي افغانان لکه دنورو هيوادونو دخلکو په څيرپه سوله کې ژوند وکړي او دخپل هيواد دغوره جيو- ستراتيژيک موقعيت څخه دخپلې سوکالۍ او پرمختګ دپاره کار واخلي.

استعماري ځواکونه نه يواځې پر افغانانو په خپلو تيريو اولاسوهنو سره ويجاړونکې نابرابرې جګړې تپي چې د سترو ځاني ، مادي او معنوي زيانونو سبب کيږي ، بلکې لاسپوڅي ،فاسداو پرديپال حکومتونه تپي چې د خلکو د باور وړ نه وي او هيڅ ډول ملي -وظيفوي مسؤليت سرته نه شي رسولی . له همدې کبله خلکو ته دخدمت کولو پر ځای خلکو ته دستونزو دمنځته راتلو سبب کيږي.

د ستر واحد تاريخي او طبيعي افغانستان په وړاندې داستعماري توطيو تر ټولو کرغيړنه توطيه دانګريزي استعمارچيانو توطيه وه او ده چې د « ډيورنډ » دکرښې په واسطه يې افغان واحد ملت په ټوټو وويشه او په دې ډول يې له افغانانو څخه دبهرنيو تيري کوونکو په وړاندې له ځان څخه د دفاع او مخنيوي وړتيا واخسته . چې له کبله يې يوه برخه نيغ په نيغه داستعمارتر واک لاندې د «صوبه سرحد » په نوم راغله ، بله برخه يې د « ازادو قبايلو » په نوم دخپلو جاسوسي او تروريستي شبکو د فعاليتونو سره مخامخ کړه او بله برخه يې د افغانستان په نوم په کورنيو بې اتفاقيو اخته او دبهرنيو تيريو او لاسوهنو سره روبرو دې ، وروسته پاتې برخې باندې واړوله.

د ویشل شوي افغانستان درې واړه برخې داستعماري توطیو سره یوشان مخامخ دي اود ځپلو ،بې وزله ساتلو ، بې هویته کولو او بې علمه ساتلو پلانونه یې جوړ او پلي کوي. د درې واړو برخو خلک یوشان د استعماري استخباراتي او تروریستي شبکو له خوا د تروریزم سره دمبارزې په نوم په ډیرې بې رحمۍ له منځه ځي او ځپل کیږي . د انګریزانو استعماري یرغلګرو ځواکونو افغانستان وویشه او دبهرنیو تیریو په وړاندې یې ددفاع وس ترې واخیست . د ویشلو استعماري توطیې چې انګریزي استعمارچیانو پیل کړې وې د پنجابیانو په وجود کې دوام وموند . دهمدغو توطیو دوام دافغانستان ټول خلک له اموځخه تر اباسینه پورې دبې هویتۍ او د یوواحد ملت په توګه له ځان ځخه د دفاع او دنړۍ په سر دنورو هیوادونو سره له سیالۍ ځخه محروم اوبهرنیو تیریو او لاسوهنو سره مخامخ کړل.
که انګریزي استعمارچیانو دتاریخي او طبیعي افغانستان په وړاندې د ویشلو توطیه سرته نه وای رسولې او دې توطیې داستعماري نورو هیوادونو په ملاتړ او دافغان ځان ساتو واکدارانو دشخصي ګټو او قدرت په ساتلو سره دپنجاب په وجود کې دوام نه وای کړی ، نو روسانو نه شول کولای د ۱۳۵۸ کال دجدي پر ۶ نیټه پر واحد افغانستان یرغل ته زړه ښه کړي او بې ساري ځاني ،مادي او معنوي زیانونه افغانانو ته واړوي او اوږدې کورنۍ جګړې پرې وتپي . که روسانو دا تیری نه وای کړی او افغانان یې دخپلو استعماري ګټو دپاره دقوم ، ژبې او مذهب په نومونو دخپلواجنټانو په واسطه ځان ځانۍ او بې اتفاقۍ سره نه وای ویشلي ، نو امریکایانو نه شول کولای یو شمیر افغانان په ډالرو واخلي او دخپل یرغل اردلیان یې وګرځوي او د روسانو په واسطه تازه شوی دجګړو اور لاپسې تازه او اوږد کړي او دافغانانو هر څه پکې وسوځوي.
د ټولو تاریخي شواهدو له مخې د درې واړو استعماري

یرغلگروځواکونو ( انګریزانو ،روسانو او امریکایانو ) سره کورنیو پردیپالو اجنټانو اوملي خاینانو مرسته کړې ده ، چې دغه استعماري ځواکونه په دې بریالي شوي دي چې افغان خاوره ونیسي ، نیولو او ښکیلاک ته دوام ورکړي او افغانانو ته ستر ځاني مادي او معنوي زیانونه ورسوي . دغه پردیپال دبهرنیویرغلګرو نوکران تل په کمین کې ناست وي . هرکله چې ورته د یرغلګرو له خوا اشاره شوې ده دخپل هیواد اوخلکو په وړاندې یې خیانت کړی دی. دپردیو په اشاره تل دافغانانو تر منځ دبې اتفاقۍ اور ته لمن وهي. له خپلواک ژوند څخه د پردیو دغلامۍ غوړندي په غاړه د ذلت په ژوند خوښ دي. دافغانستان خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ته خاین ، د « ډیورنډ » دکرښې په رسمیت پیژندلو باندې ټینګارکوي او دافغان واحد ملت دبیرته یووالي پر ځای دپنجابي استعمارچیانو په دریځ کې ولاړ ملي خیانت سرته رسوي.

ویشل شوی افغانستان نه شي کولای داستعماري توطیو په وړاندې خوندي اوسي . دویشل شوي افغانستان هیڅ یوه برخه نه شي کولای په ځانګړې ډول خپلواکه ،سوکاله اوپرمختللې اوسي او دبهرنیو تیریو ، لاسوهنو اوتوطیو مخه ونیسي. یواځې له اموڅخه تر اباسینه پورې واحد افغان ملت کولای شي دهرډول یرغلګرو مخه ونیسي . دخپلې خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع وکړي او دخپل ښکلي او شتمن هیواد ښکلاوې او شتمنۍ دخپلوخلکو دنیکمرغۍ او پرمختګ دپاره دخپل استازي دولتي نظام په وجود کې په کار واچوي . د افغانستان په ویشلو سره استعمارچیانو غوښتل افغانان ایل کړي او دخپلوموخو او ګټودپاره یې ټولې انساني ،مادي او معنوي زیرمې لوټ کړي.

له اوسنۍ وضعې څخه افغانان هغه وخت وتلی شي چې د اوسنۍ وضعې دمنځته راتلو علتونه له منځه ولاړ شي. پر افغانستان د اوسنۍ وضعې

تپل داستعماري توطیو په پایله کې پلې شوي دي . دغه توطیه چې انګریزانو د « ډیورنډ » د تورې کرښې په واسطه له آمو څخه تر اباسینه پورې طبیعي او تاریخي افغانستان په ټوټو وویشه یواځې هغه وخت شنډیدی شي چې د دې کرغیړنې کرښې په واسطه ویشل شوی افغانستان بیرته یو شي . یواځې بیرته یوشوی واحد ملت کولای شي له اوسنۍ غمیزې څخه ځان وژغوري ، دبهرنیو هیوادونود تیریواو لاسوهنو مخه ونیسي او له خپلې خپلواکۍ ،ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړ تیا څخه دفاع وکړي او په سوله کې د پرمختګ لار پرانیزي.
څوک کولای شي چې دانګریزانو په واسطه د ویشلو دغه توطیه ، چې د پنجابیانو په وجود کې یې تر اوسه دوام موندلی دی شنډه کړي او ویشل شوی افغان واحد ملت بیرته یوکړي ؟ په داسې حال کې چې په افغان ستونزه کې ښکیل استعمارچیان لکه انګریزان ، روسان ، امریکایان ، پنجابیان ، ایرانیان او کورني دبهرنیو نوکران د دې یوکولو سره نه یواځې مخالفت لري ، بلکې په دې لټه کې دي چې اوسنی افغانستان لاپسې د قوم ،ژبې او مذهب په نومونو په وړو بې هویته ټوټو وویشي . د ټوټې شوي افغانستان بیرته یووالی نه دکوم ځانګړي شخص ، نه کومې ځانګړې ډلې ، نه دبهرنیو له خوا دتپل شوو چارواکو ،نه د حکومت اونه کوم بل دولتي مقام له وسې پوره دی.
د « ډیورنډ » دکرښې په واسطه د ویشل شوي افغانستان بیرته یووالی یوه ملي مساله او دټول ستر افغان ملت دنده ده چې استعماري توطیې شنډې اوخپله خپلواکي اویووالی لاسته راوړي . له آموڅخه تر اباسینه پورې ټول افغانان هم کولای شي او هم یې ملي اسلامي دنده ده چې ځان دپنجاب له استعمارڅخه خلاص کړي. ترڅو له آموڅخه تر اباسینه پورې افغانان په یوه خوله دیوسرتاسري ملي ازادي بښونکې غورځنګ په ډول

ونه وايي چې موږ يوملت يو ! د بل چا واکمني نه منو ! ، خپل برخليک پخپله ټاکو ! د پنجابي استعمارچيانو څخه ځان ژغورل ناشونی کاردی.
دويشل شوي افغانستان د بيرته يووالي په وړاندې نه يوازې پنجاب مقاومت کوي ، بلکې نور استعماری ځواکونه او ددغو ځواکونو سره تړلي يوشمير کورني پرديپال هم د ويشل شوي افغانستان د بيرته يووالي سره ښکاره مخالفت کوي او دپنجابيانو په دريځ کې ولاړ دي. خو افغان په خپلې خپلواکۍ مين ملت به هيڅکله بهرنيو تيري کوونکو ته په ګونډو نه شي او کورني ملي ګټوته خاينين به هم له کاره لويدلو بويناکو توکو په څير د افغان ملت له پاکې لمنې څخه ايسته وغورځوي.
خو د ملت دمنظم اوپه يووخت عمل کولو دپاره لومړی بايد له آمو څخه تر اباسينه پورې ټول ملي وطنپال شخصيتونه اوځواکونه دافغانستان دبيرته يووالي ملي ارمان ته د رسيدلو په خاطر په يو سرتاسري ملي ازادي ښنونکي غورځنګ کې راټول شي . په دې ازادي ښنونکي غورځنګ کې بايد ټول ملي وطنپال شخصيتونه اوځواکونه ، ديني عالمان ، روحانيون ، قومي مشران ،روښانفکران ، ګوندونه ، شورا ګانې ،کلتوري ټولنې او نور دپوهې اوقلم خاوندان او رسنيو چلوونکي فعاله برخه واخلي او ديو منظم پروګرام پر بنسټ ددې ستر ملي ارمان دلاسته راوړو دپاره د پراخه پرګنو ذهنيتونه روښانه او په يو واحدملي دريځ کې ودروي.
ددې ټولو ستونزو دشتون او دوام په صورت کې ، او دا چې استعماري ځواکونه دافغانانو دبيخي بربادۍ دپاره نور پلانونه جوړوي ، بايد دويشل شوي افغانستان دبيرته يووالي او له بربادۍ څخه دافغان ملت دژغورلو دپاره مبارزه ګړندۍ او اغيزمنه شي. ددې واقعيت په نظر کې نيولو سره چې دويشل شوي افغانستان دبيرته يووالي دپاره مبارزه د ټولو ملي وطنپالو شخصيتونو او ځواکونو دنده ده چې بايد سرته

ورسيږي ، آيا دافکر کيدای شي چې دافغانستان ملي يووالي ګوند بايد په دې لارکې هم خپله ملي او اسلامي دنده سرته ورسوي او د يوپراخ ملي ازادي ښنونکي غورځنګ دمنځته راتلو دپاره دنورو افغان شخصيتونو او ځواکونوسره اړيکي ټينګ او خپلې هلې ځلې زياتې کړي . که داسې فکر کيږي ، نو ځومره دګوند په چارو کې مرسته کولای شو چې له بربادۍ څخه دافغانانو دژغورلو دپاره يواځينۍ وسيله ،چې ويشل شوی افغانستان بيرته يوشي تر لاسه کړو .

د ۲۰۱۳کال د مې ۲۲

## په افغانستان کې د بهرنیو هیوادونو د نظامي اډو شتون د افغانانو د ملي ارزښتونو او ملي ګټو سره سمون نه لري

تر هرڅه لومړی سوله او د افغانستان خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا د افغانستان د خلکو د ټولو ملي ګټو څخه لوړې او د ډیر ارزښت وړ دي ، چې له همدې کبله یې د ملي نوامیسو نوم او ځای غوره کړی دی.
د غه ستر ملي ارزښتونه هغه وخت د افغانانو په برخه وو چې افغانستان د پردیو یرغلونو او تیریو څخه خوندي واو افغانانو کولای شول په خپل ټینګ ملي یووالي سره دخپل هیواد له خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه ساتنه او دفاع وکړي . دا ارزښتونه هغه وخت د ګواښ او خطر سره مخامخ شول چې د نړۍ سترو یرغلګرو ځبرځواکونو دخپلو استعماري پراختیا غوښتونکو موخو او ګټو لاسته راوړو دپاره زموږ هیواد د تیري او یرغل لاندې راوست.
لومړی برطانوي استعمارچیانو خپل تور لاسونه زموږ پاکې خاورې ته راوغځول او د افغانانو دخپلمنځي بې اتفاقیو څخه په ناوړه ګټې اخستو سره یې افغانستان ونیو او بیایې ترې د ډیورنډ دکرغیړنې استعماري کرښې په واسطه یوه ډیره برخه خاوره دخپل استعماري واک لاندې راوستله ، چې تر اوسه پورې دغه استعماري توطیه د پاکستان په وجود کې دوام لري . دانګریزي استعمارچیانو په واسطه ویشل شوی افغانستان نه یوازې لا اوس هم ویشلی پروت دی ، بلکې استعمارچیان غواړي چې د افغان واحد ملت د ویشلو دا توطیه چې دوئ په ۱۸۹۳ کال کې پر افغانانو تپلې ده د تل د پاره پاتې وي ، تر څو افغانان ونه شي کړای د یو خپلواک واحد ملت په څیر د خپل اصیل هویت او ملي ارزښتونو څخه دانګریزانو او نورو بهرنیو یرغلګرو په وړاندې دفاع وکړي . همدا اوس د تروریزم سره د مبارزې په پلمه انګریزي یرغلګر

ځواکونه د بې پیلوټه الوتکو په شمول پیچلي او ډیر عصري وسلې په کار وړي او هره ورځ په لسګونو بیګناه پښتانه د ښځو ، ماشومانو او بوډاګانو په ګډون له منځه وړي.
پر ویشل شوي افغانستان د نړۍ بل استعماري ځبرځواک ، شوروي اتحاد ، دکبر او غدارۍ څخه ډک دخپل پراختیا غوښتونکي سیاست پر بنسټ د ۱۳۵۸ کال د جدي پر۶ نیټه یرغل وکړ او دیو شمیر پردیپالو وطنپلورونکو په مټ یې نه یو اځې د انګریزي استعمارچیانو د « بیل یې کړه ! ایل یې کړه ! » توطیې ته دوام ورکړ،بلکې دانګریزانو له وحشت څخه لا پسې ډیروحشیانه یې دافغانانو ، په تیره بیا پښتنو د ځپلو دپاره د سکاد توغندیو په ګډون له ډیرو پیچلو او عصري وسلو او جګړه ایز مکانیزم څخه کاروا خیست . د روسي ځبر ځواک او افغان مظلوم ملت ترمنځ نابرابره جګړه کې له دوه میلیونو په شاوخواکې افغانان په شهادت ورسیدل، همدومره ټپیان معیوب او معلول شول او له پنځو میلیونو څخه زیات افغانان له خپل کور کلي او هیواد څخه کډې کولو ته اړویستل شول . افغانستان په کنډوالو بدل شواو د روسانو د اجنټانو له خوا قومي ژبني او مذهبي تعصبونو ته په لمن وهلو او دبهرنیو هیوادونو په تیره بیا روسانو ، ایرانیانو او پنجابیانود لاسوهنو او نړیوالې ټولنې د بې تفاوتۍ له کبله افغانان په کورنیو جګړو کې د نه جبرانیدونکو مادي او معنوي زیانونو او بربادیو سره مخامخ شول. د روسي یرغلګرو ځواکونو او افغان ملت ترمنځ جګړه کې د افغانانو دسترو قربانیو او اتلولیو له کبله روسي یرغلګر ځواکونه په ګونډو شول او له افغانستان څخه دانګریزانو په څیر زړه خوړیني او له کینې ډک ووتل . خو په خواشینۍ سره دانګریزانو او روسانو له ماتې نورو یرغلګرو استعماري ځواکونو عبرت وانه خیست او دا ځل تر دې دووستر ځبر ځواک ،امریکې ، چې دروسانو دتیري په وړاندې یې افغانانو سره د دوستۍ او مرستې سینه

ډبوله زمونږ دجګړو ځپلي هيو اد دنيولو اوافغانانود ايل کيدو دپاره دخپلو ټولو ناټوبې ملګرو سره د تروريزم سره دمبارزې په پلمه تيری سرته ورساوه.
د شوروي يرغلګرو پوځونو سره په جګړو او کورنيو خپلمنځي جګړو کې ځپل شوو افغانانو د لاځپلو دپاره دنړۍ تر ټولو ستر ځبر ځواک ، دامريکې متحده ايالتونو ، بډې راووهلې او په افغانستان او سيمه کې دخپلو استعماري پراختيا غوښتونکو ګټو او موخو لاسته راوړو د پاره يې پر افغانستان د يرغل کولو دپاره دتروريزم سره مبارزه پلمه کړه او د ملګرو ملتونو دامنيت شورا تاييد او د ناټو دنورو هيوادونو ملاتړ يې تر لاسه کړ. امريکايانو د انګريزي او روسي يرغلګرو ځبر ځواکونو هم پښه واړوله او دافغانانو د ايل کيدو او ځپلو دپاره يې له هيڅ ډول بيرحمۍ ځخه ډډه ونه کړه . په تيره بيادافغان ملت دملاتير پښتون قوم په لمنځه وړو او ځپلو کې له هرې لارې او وسيلې ځخه کار واخيست. نه يواځې په سياسي ، اقتصادي ، ټولنيزو او فرهنګي ډګرونو کې د پښتون قوم دمحکوميت دپاره هلې ځلې وشوې او دوام لري ، بلکې په فزيکي ډول پښتون ځينه او وژنه دښځو ،ماشومانو او بوډاګانو په ګډون دقومي جينوسايد بڼه غوره کړې ده .ډير خلک دې پايلې ته رسيدلي دي چې امريکايان ګڼې افغانستان ته د تروريزم سره دمبارزې تر پلمې لاندې د پښتنو له منځه وړو او ځپلو د پاره راغلي دي.
ځرنګه چې پښتانه دافغان ملت دملا تير جوړوي ، نو ځکه د پښتنو ځپل په واقعيت کې د ټول افغان ملت ځپل او ايل کول دي . همدارنګه دامريکې متحده ايالتونه د افغانستان ملي نواميسو ته په نه درناوي سره د « ډيورنډ » تپل شوې استعماري کرښه چې افغان واحد ملت يې د ټولو نړيو الو قوانينو سره په ضديت کې ويشلی دی ، دافغانستان او پاکستان تر منځ د نړيوال بريد په ځير پيژني . چې دامريکايانو دا کارنه يواځې د

افغانانو دملي ګټو او ارزښتونو پر ضد عمل دی ، بلکې ټول افغان ملت ته سپکاوی دی . ترڅو چې دامريکې متحده ايالتونه دغسې چلند او دريځ لري ، نو ددغسې دريځ اونورو ټکو په نظرکې نيولو سره دامريکې متحده ايالتونو سره دامنيتي تړون لاسليک کول او په افغانستان کې دايمي نظامي اډې ورکول دافغانانو دملي ارزښتونو او ګټو سره نه يواځې سمون نه لري ، بلکې د دې ارزښتونو او ګټو په وړاندې ضد عمل او خيانت ګڼل کيږي . ځينې دپام وړ ټکي چې د امريکې سره د امنيتي تړون لاسليک اوپه افغانستان کې د امريکايي نظامي اډو شتون د افغانانو دملي ارزښتونو او ګټو ضد عمل ثابتوي لاندې په لنډ ډول وړاندې کيږي:

۱. امريکايانو دانګريزانو او روسانو په څير د « بيل يې کړه ايل يې کړه » پاليسۍ څخه کار واخيست او دپښتون قوم پر ضد دشمالي ټلوالې په وجود کې د تاجک ، اوزبک او هزاره قومونو په استازيتوب ځينو متعصبو کسانو ته په امتياز ورکولو سره قومي اختلاف او تعصب ته لمن ووهله او په دې سره يې د افغانانو ملي يووالی د ستونزو او خطر سره مخامخ کړی دی.

۲ ـ افغانان تر هر څه لومړی سولې ته ضرورت لري ، خو دامريکې سره دامنيتي تړون په لاسليک کيدو سره چې په افغانستان کې امريکايي دايمي نظامي اډو شتون ته لار پرانيزي دغه موخه نه يواځې نه ترلاسه کيږي ، بلکې د تروريزم سره د مبارزې تر پلمې لاندې به جګړې او افغان وژنه دوام لري.

۳ ـ دافغانستان خپلواکي ، ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړ تيا به نيمګړې او د « ډيورنډ » دکرښې ، چې امريکايان يې دافغانستان او پاکستان ترمنځ دنړيوال بريد په څير په رسميت پيژني دافغانستان ويشل دوام ولري. خپلواک ناپييلی افغانستان به دامريکې سره په يو تړلي هيواد بدل

شي او په دې ډول به د امریکې سره دمخالفو هیوادونو اوګاونډیو هیوادونو حساسیتونه او لاسوهنې زیاتې شي . خو تیرو تجروبو ښودلې ده چې امریکایان به هیڅکله د نورو هیوادونو او ګاونډیانو د تیریو او لاسوهنو په وړاندې د افغانانو ملاتړ ونه کړي.

۴ ـ په افغانستان کې د امریکې د دایمي نظامي اډو په موجودیت کې به په قدرت کې د پردیپالو فاسدو چارواکو ساتلو او اداري او ټولنیزو فسادونو شتون او زیاتوالي دوام وي . دا ځکه چې دغه چارواکي دامریکایانو په واسطه قدرت ته رسیدلي دي او تر اوسه د امریکایانو او نورو بهرنیو ملاتړ کوونکو په مرسته په قدرت کې پاتې دي . همدا چارواکي خپلې ګټې او قدرت دامریکایانو په شتون کې ویني ، نوځکه غالمغال یې جوړ کړی دی چې که امریکایان نه وي ،نو افغانستان به دګاونډیانو په وړاندې په دې کمزورو اوبې وسلو وسله والو پوځونو له ځان څخه په څه ډول دفاع وکړي . دوئ په دې سترګې پټوي چې په تیرو دولسو کلونو کې امریکایانو دبهرنیو تیریو او لاسوهنو په وړاندې هیڅکله هم له افغانستان څخه دفاع او ملاتړ نه دی کړی اوپه راتلونکې کې به یې هم و نه کړي. له افغانستان څخه تل دافغانستان زړور ملت دفاع کړیده او له دې وروسته به هم ترې دفاع وکړي ، نه بهرني وسله وال پوځونه .

۵ ـ دامریکایانو او دنړیوال ایتلاف وسله والو پوځونو په موجودیت کې ملي وطنپال شخصیتونه او ځواکونه نه یوازې په سیاسي ډګر کې له فعال سیاست څخه ګوښه کړل شول ، بلکې ډیرشمیر ملي وطنپال شخصیتونه او قومي مشران دبهرنیو هیوادونو استخباراتي شبکو پورې تړلو اجنټانو له خوا په قتل رسیدلي دي او دا قتلونه به دنظامي اډو دشتون په صورت کې دوام ولري.

۶ ـ دولس کلنو تجروبو وښودله چې د امریکایي پوځونو په شتون کې
واردې شوې امریکایي دموکراسۍ اوازاد بازار افغانستان ته انارشي ،
زور واکي ، اداري او ټولنیزو فسادونو بې کچې لوړوالی ،دملي او
شخصي شتمنیو لوټ اوتالان بې عدالتۍ او ظلمونه ، خپلسرۍ او
دعامو خلکو بې کچې محرومیتونه ، فقر ، لوږه ، بې کوري او بې کاري له
ځان سره راوړي دي . په افغانستان کې د امریکایې نظامي اډو دایمي
شتون به افغانانو ته دغه نوموړي سوغاتونه تلپاتې او لاپسې پراخه او
وپړسوي.
۷ـ په تیرو دولسو کلونو کې امریکایانو او نورو بهرنیو هیوادونو دوسله
والو ځواکونو په شتون کې امریکې او انډیوالانو یې هڅه کړیده چې
دافغانانو په خپله خوښه دیوځواکمن مرکزي دولت دمنځته راتلو مخه
ونیسي او پرځای یې نه یواځې یوکمزوری او د دوئ لاسپوڅې حکومت
دافغانستان پرخلکو وتپې ، بلکې دخپلو لاسپوڅو سیمه ایزې واکدارۍ
وهڅوي او په دې ډول د فیدرال ډوله واکمنیو منځته راوړو د پاره
کاروکړي . دامریکې دایمي نظامي اډې به د همدې موخې په لور تګ ته
دوام ورکوي.
۸ ـدا چې ځینې کسان د افغان او پښتون نومونه یو له بل څخه بیل نه ګڼي
تر ډیرې اندازې سم فکر کوي . داځکه چې پښتون د افغان واحد ملت
دملاتیرجوړوي او هویت اوپیژند ګلوي ورکوي. خود امریکایې پوځونو
داشغال په موده کې د کرزي لاسپوڅي حکومت دافغاني اصیل هویت د
کورنیو او بهرنیو دښمنانو په غوښتنه دافغنستان بې هویته کولود پاره
هلې ځلې کړې دي او په دې موخه یې پښتوژبه د دولتي ادارو ، فرهنګي
او ټولنیزو ډګرونو څخه ویستلې ده . دا خولا څه چې افغانستان یې د
پاړسي ژبې هیواد په نوم دایران او تاجکستان سره تړلی او په دې ډول یې
دایرانیانو فرهنګي یرغل ته لار پرانیستې ده . د امریکایې دایمي نظامي

اډو په شتون کې به دافغانستان د بې هویته کولوهڅې لاهم دوام ومومي .
۹ ـ دامریکې سره د امنیتي تړون په لاسلیک او د دایمي نظامي اډو په ورکولو سره به په افغانستان کې د سولې پرځای د افغانانو ترمنځ جګړې دوام مومي او له امو څخه تر اباسینه پورې به په ټولو پښتون میشتو سیمو کې د « تروریزم » سره د جګړې په پلمه د پښتنو مرګ ژوبله او قومي جینوساید او ځپل ، چې تر اوسه پورې پکې په لسګونو زره بېګناه افغانان د ښځو ، ماشومانو اوبوډاګانو په ګډون له منځه وړل شوي دي ، روان وي.
۱۰ ـ ټول اشغالګرځواکونه خپلې ګټې او پایښت د اشغال لاندې خلکو په بې اتفاقۍ او بیلوالي کېویني . نو ځکه دامریکې سره دامنیتي تړون په لاسلیک سره به امریکایان د تل د پاره دافغانانو ترمنځ قومي ، ژبني او مذهبي توپیرونو او نفاق ته لمن وهي او دافغانستان دخلکو ملي یووالی به لاپسې د ستونزو او خطر سره مخامخ وي . خپل منځ کې بې اتفاقه افغانان به دا وس نه لري چې دبهرنیو هیوادونو د لاسوهنو او تیریو مخه ونیسي ، ځانونه دنورو له احتیاج او سپکاویو څخه وژغوري او په خپلواک ډول د پرمختګ په لور ګامونه واخلي.
۱۱ ـ د ټولو لاپو او ژمنو سره سره چې افغانستان به د امریکایانو او ناټو نورو هیوادونو په مرسته د پرمختګ لوړو پړاوونو ته رسیږي ، زموږ هیو اد دامریکې او ناټو دوسله والو ځواکونو د دولس کلن اشغال اوشتون څخه وروسته لا اوس هم د نړۍ تر ټولو وروسته پاتې او فقیر هیواد شمیرل کیږي . کله چې دامریکې او نړۍ نورو هیوادونو له خوا د افغانستان خلکو ته د مرستې په نوم په میلیاردونو ډالر دبهرنیو او کورنیو غلو او لوټمارانو له خوا لوټ او غلاشول ، نو له دې وروسته به « دیوالي » امریکادافغانستان خلکو سره څه مرسته وکړي . د امریکې د

ولسمشر مرستیال ، جوبایډن ، لاپخوا په ډاګه کړې وه چې دوئ افغانستان ته د دې وران ویجاړ هیواد د ابادولو دپاره نه دي راغلي ، بلکې خپلې موخې لري . دا چې ځیني چارواکي او په افغانستان کې د امریکې پخوانی سفیر او استازی ، زلمی خلیلزاد ، وایې چې که د امریکې سره امنیتي تړون لاسلیک نه شي او نظامي اډې ورنه کړل شي، نو دی ډاریږي چې افغانستان سره به د امریکې امنیتي او اقتصادي مرستې کمې او یا ودرول شي . خو پوښتنه دا ده چې تر اوسه پورې د افغانستان خلکو سره امریکې څه مرسته کړې ده چې هغه به کمه کړي او یابه یې ودروي . دا چې خپلو اجنټانو او دافغانستان دملي شتمنیو په لوټ کې خپلو شریکانو ته رشوت او اجوره ورکوي ، دا که سبا ودروي نو ښه ده چې همدا نن یې ودروي.

۱۲ ـ د امریکې په واسطه جوړې شوې اجیرې اردو څخه ،چې سل کمزورۍ او ناروغتیاوې پکې شتون ولري یوه ربنتیانۍ ملي اردو چې په خپلو افغاني امکاناتو جوړه شوې وي زر ځله د افغانستان دخلکو دملي ارزښتونو اوملي ګټو سره سمون لري او کولای شي دخپلو خلکو په مرسته او باور دهر ډول تیریو او لاسوهنو مخه ونیسي ، دخپل هیواد او خپلو ملي نوامیسو څخه دفاع وکړي.

یوائې دامریکې په واسطه سیاسي قدرت ته رسول شوي او په ناروا لارو شتمن شوي فاسد جګړه ماران خپله بقا د امریکې سره د امنیتي تړون په لاسلیک او امریکایي نظامي اډو شتون کېویني:

افغانستان ته د امریکایي او ناټو وسله والو ځواکونو په راتګ سره چې د شمالي ټلوالې په اردلیتوب سرته ورسید ، د افغانستان دخلکو غمیزه چې پر افغانستان باندې د شورویانو په یرغل سره پیل شوې وه لاپسې ژوره شوه . هغو وطن پلورونکو چې پر افغانستان باندې دیرغل په وخت کې یې دشوروي اتحاد سروپوځونو په وړاندې اردلیتوب کړی و ، یو څو

نور وطن پلورونکي له ځان سره یوځای کړل او پر افغانستان باندې دامریکې او ناټووسله والو ځواکونود یرغل په وړاندې یې هم دوطن پلورني او اردلیتوب دنده سرته ورسوله. یواځې همدې پردیپالو اردلیانو او ورپورې تړلو کسانو دامریکایې پوځونوپه یرغل او دافغانستان په اشغال کې شخصي ګټې وکړې او لوړ رتبه دولتي چارواکي او دبهرنیو استخباراتي شبکو په پیسو ، رشوت ، اختلاس ، دشخصي او دولتي ملکیتونو او ځمکودغصب اونورو نا مشروعو کړنو له لارې میلیونران او میلیارډران شول. خو نور دافغانستان اکثریت خلک دبهرنیو ځواکونو د جګړه ایزو عملیاتو ، بمباریو ، ظلمونو او زور واکانو دزور زیاتیو په واسطه د ډول ډول ستونزو ، غمونو او بدمرغیو سره مخامخ شوي دي.
چې په دې ډول دغه یو څو دبهرنیو هیوادونو تالي څټي دامریکې سره دامنیتي تړون په لاسلیک او په افغانستان کې د امریکې دنظامي اډو په شتون ټینګار کوي او د درغلیو او فساد څخه ډکو ټاکنو له لارې غواړي خپلو زورواکیو او دملت لوټ اوتالان ته دوام ورکړي. ددوستم په کورکې دشمالي ټلوالې دمشرانو او خواخوږو دغونډې په پایله کې د ټولټاکنو د پاره د شریک نوماندوړاندې کولو ایتلاف دهمدې موخې لاسته راوړو دپاره هلې ځلې دي.
په اوسنیو شرایطو کې رښې ، عادلانه او دموکراتیکې ټولټاکنې سرته نه شي رسیدای:
د بهرنیو وسله والو ځواکونو په واسطه سیاسي واک ته رسیدلو فاسدو چارواکو اوناروغ حاکمیت په موجودیت کې ، چې تیرو تجروبو هم ښودلې ده ، بې درغلیو ، رښې او عادلانه ټولټاکنې سرته نه شي رسیدی.
لومړی باید یو روغ دولتي حاکمیت په ټول هیواد کې شتون ولري ، ترڅو دقانون سره سمې ټولټاکنې سرته ورسیږي. د ټاکنو دټولو مرکزونو او نوماندانو او رای ورکوونکو د پاره سوله ایز شرایط شتون ولري. له دې

څخه پرته به هم هغه زاړه لوټماران او جګړه ماران چې دخلکو د رایو پرځای په زور یا پیسو باندې د ټاکنو څارونکي اخلي او خپل صندوقونه پرې ډکوي بل څه نه وي. ترڅو ټولو افغانانو ته دټاکنو سوله ایز شرایط برابر نه شي ، په بل ډول ټاکنې به ایله دشراوفساد ، جګړو او دافغانستان دمظلومو خلکودغمونو اوکړاوونو دوام وي چې عام ولس ته به یې بې له بربادۍ کومه ګټه نه رسیږي . هرڅومره چې پروپیګنډې وشي چې راتلونکې ټاکنې باید رڼې ، عادلانه او دموکراتیکې وي ، خو د هم هغې فاسدې دستګاه او هم هغو لوټمارانواو زورواکانو د شتون له امله هیڅکله هم نه شي کیدای دا ټاکنې رڼې وي ، عادلانه وي او یا دموکراتیکې .هغه دموکراسي چې امریکایانو افغانستان ته راوړې ده یواځې د زورواکانو ، غاصبینو او پردیپالو اجنټانو په ګټه ده ، نور افغانان ترې ګټه نه شي اخستلای او نه دټولو افغانانو دګټو دپاره راوړل شوې ده.

دامریکې سره دامنیتي تړون دلاسلیک پرځای چې د جګړو د دوام وړاندوینه کوي ، په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګیدو دپاره کار او هلې ځلې وشي:

- په دې توګه چې ټول بهرني وسله وال ځواکونه په ټاکل شوې نیټې په بشپړ ډول له افغانستان څخه ووځي او د اوسنۍ دولتي دستګاه او مخالفینو په تایید دملي وطنپالو ،متدینو ، په کارپوه ،ناپییلو او سوله غوښتونکو شخصیتونو دسولې او پخلاینې یوه واکمنه جرګه جوړه شي .
- په جګړو کې ښکیلې ټولې خواوې به دافغانانو د تاریخي دود او دستور سره سم دغې جرګې ته بشپړ واک ورکوي او ټولې پریکړې به یې مني .
- جرګه به لومړی تر هرڅه د تلپاتې سولې د ټینګیدو په موخه په جګړو کې ښکیلو خواوو ترمنځ اوربند ټینګوي اوجګړې به پای ته رسیږي.

ـ له دې وروسته به جرګه د افغانستان د ستونزې د تلپاتې اواري په موخه په جګړه کې ښکیلو خواوو سره خبرې اترې سرته رسوي او دهغوئ دنظر ټکي به معلوموي.
ـوروسته له دې چې جرګې ته د ټولو خواوو دنظر ټکي او د دې ټکو تر منځ توپیرونه څرګند شول بیابه جرګه د اسلام دمقدس دین د لارښوونو او افغانستان دخلکو دغوره دود او دستور پر بنسټ او دافغانانو دملي ارزښتونو اوګټو سره سم عادلانه پریکړې کوي . دجرګې پریکړې به هرومرو پلې کیږي او هیڅوک به ترې سرغړونه نه کوي .
ـ جرګه به په افغانستان کې د تلپاتې سولې دټینګیدو او افغان ستونزې دتلپاتې اواري دپاره یوځانګړی مکانیزم منځته راوړي او دغه مکانیزم به دټولو ښکیلو ډلو له خوا منل کیږي او پلي کیدل به یې دټول افغان زړور او سوله غوښتونکي ملت ملاتړ له ځان سره لري.
ـ هرڅوک چې دجرګې له پریکړو او مکانیزم څخه سرغړونه کوي ، ټول ملت به یې په وړاندې ودریږي او سرغړونوته به یې نه پریږدي.
ـ په جرګه کې به له اموڅخه تر اباسینه پورې د ټولو جګړو ځپلو سیمو د افغانانو استازي ، په تیره بیا ملي وطنپال سوله غوښتونکي په جرګو پوه او مجرب دیني عالمان ، روحانیون ، قومي اوسیاسي مشران ګډون کوي او په دې ډول به ټول افغان ملت دجرګې تر شاودریږي .
ـ په افغانستان او سیمې کې دیوې تلپاتې عادلانه سولې د ټینګیدو او پورتني پروګرام دپلي کیدو تر شامحرک ځواکونه.
۱ ـ له امو څخه تر اباسینه پورې ټول جګړو ځپلي او ځوریدلي په خپلې خپلواکۍ مین ولسونه . افغانان نوردبهرنیو ځواکونود بمباریو اوجګړه ایزو عملیاتو، ظلمونو اوسپکاویو او د پردیپالوفاسدو کورنیو غلو ،لوټمارانو ،غاصبینو او ظالمانو څخه تر پوزې رسیدلي دي . دبهرنیو تیري کوونکو او د دوئ د اجنټانو ظلمونه ، زور زیاتي ، سپکاوي ، لوټ

تالان او ناوړه چلند له یوې خوا او بې کچې محرومیتونه ، لوږه ، فقر ، بیکاري ، بې کوري ټولنیز او اداري فسادونه له بل پلوه ، افغانان دې ناتار او غمیزې څخه دخلاصون په خاطر دعمومي پاڅون تر پولې رسیدلي دي. که یرغلګر او لاسپوځي فکر کوي چې ګنې افغانان به تل تر تله د دوئ د ظلمونو او زور زیاتیو په وړاندې غلي ناست وي ، نو خطا وتلي دي.خوبې نظمه پاڅون او اړودوړ جوړول به لاپسې د زیاتو بربادیو سبب شي. په بې نظمۍ سره نه د ولسونو هیلې ترسره کیدای شي او نه له اوسنۍ غمیزې څخه د ژغورلو لارده . نوځکه دافغانستان ټول ملي وطنپال شخصیتونه او ځواکونه ملي او اسلامي دنده لري چې نور خپلمنځي توپیرونه ، بې تفاوتۍ ، ځان ځانۍ او ځان غوښتنې له منځه یوسي . په شریکوټکو راټول شي ،خپلوولسونو ته ورشي ، له اوسنۍ غمیزې څخه د ژغورلو لار ورسره شریکه کړي او په منظم ډول بې له هر ډول ګډوډیو او خپلسریود ښمنانو توطیې شنډې کړي اوپه غوڅ ډول د سولې او پخلاینې دجرګې له پریکړو څخه ملاتړ وکړي. په دې ډول به افغانان پخپله دخپل هیواد دخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا دخوندي کولو او ساتلو د پاره راپاڅیږي او بې له هر ډول بهرنیو لاسوهنو څخه به داسې یوملي اسلامي دولتي نظام منځته راوړي چې هیڅ یوپردیپال د پردیو اجنټ ، جګړه مار ، زورواکی ، فاسد ، غاصب اولوټمار پکې ځای ونه لري. دا به یو رښتیانی ملي اسلامي دولت وي چې د نړۍ دټولو سوله غوښتونکو هیوادونو سره به دمتقابل درناوي ، متقابلو ګټو او دیوبل په کورنیو چاروکې دنه لاسوهنو پر بنسټ دوستانه سیاسي دیپلوماتیک اړیکي ټینګوي او هر ډول بې قید او شرطه مرستو ته به ښه راغلاست وایي.

۲ـ دنړۍ سوله غوښتونکي هیوادونه ، سازمانونه اوشخصیتونه. دنړۍ ټول سوله غوښتونکي هیوادونه ،سازمانونه او شخصیتونه چې په

افغانستان ، سیمې اونړۍ کې د سولې اوثبات پلویان دی ، په دې باور چې په افغانستان کې سوله او ثبات د سیمې او نړۍ په سولې او ثبات اغیز ښندلی شي ، په افغانستان کې د سولې دټینګیدو ملاتړ کوي . هغه ګاونډي او د سیمې هیوادونه چې په افغانستان کې د جګړو او بې ثباتۍ نه په اندیښنه کې دي چې ددوئ‌هیوادونو ته هم ونه غزیږي باید په افغانستان کې د سولې اوپخلاینې د جرګې له پریکړو څخه ملاتړ وکړي او دهغو عواملو په لمنځه وړو کې چې په افغانستان کې د جګړو او بې ثباتۍ سبب شوي دي دافغانانو سره مرسته وکړي. ګاونډي هیوادونو ، په تیره بیا پاکستان اوایران چې هر څومره په افغانستان کې لاسوهنې وکړې ،یواځې یې دبیګناه افغانانو مرګ ژوبله زیاته کړه او د افغانانو سره په دښمنۍ کې یې د خپلو خلکو سوله ایز ژوند په خطر کې اچولي دی او اچوي یې . دپاکستاني چارواکو دا خوبونه چې له افغانستان څخه د بیلوشوو او غصب شوو برخو اشغال ته به دوام ورکوي او دافغانستان په جګړو او بې ثباتۍ کې به خپلې موخې لاسته راوړي په واقعیت کې د افغانانو سره دښه ګاونډیتوب په لار کې کوهی کیندل دي چې پخپله به هرومرو پکې رالویږي . ایران هم باید په دې باور ولري چې افغانان خپل دوستان او دښمنان پیژني او په دې هم پوهیږي چې یواځې د دوئ بیلوالي دبهرنیو او کورنیو دښمنانو توطیې چاغې کړې دي اویووالی به یې د ټولو دښمنانو هرډول توطیې شنډوي او خپلواک ،سرلوړی ،ستر او ځواکمن افغانستان ،چې هیڅوک پکې لاس وهنو او پرې تیریو ته زړه ښه نه کړي ، په پښووډروي .

# د پښتون/ افغان قامي جرګه

د مې پر ۲۹ او ۳۰ د پښتنو د يو درونډ مشر محمد افضل خان په بلنه او مشرۍ د پېښور په نشترهال کې د پښتنو قامي جرګه جوړه شوه. د جرګې ويناوالو په څلورو پړاوونو او دوو ورځوکې د جرګې د خبرو په دوو ټکو خپل نظرونه څرګند کړل. دا ټکي دادي:

۱- ولې د شوروي اتحاد او امريکې متحده ايالتونو ځبرځواکونو ترمنځ د افغانانو په خاوره د پهلوانۍ مسابقه ترسره شوه، په داسې حال کې چې افغانانونه د دوئ په خاوره تيرى کړى و، نه يې د ځبر ځواکۍ دعوه کوله! ددې دواړو ځبر ځواکونو په ډغروکې ۳۰ لکه افغانان له منځه ولاړل.

۲- د پښتنو دا وينه توئيدل تراوسه دوام لري، څه بايد وشي چې د اوينې ودريږي؟

ويناوالو پردې دوو ټکو د خپل اند سره سم خپلې ويناګانې واورولې. د ټولو ويناوالو خبرې ورته وې او ټولو ويل، چې ترڅو پښتانه يونه شي د پرديو له تيريو، سپکاويو او توطيو څخه ځان نه شي خلاصولی. په خپل وطن کې به بې وطنه، خداى پاک(ج) له لوري ورکړل شوو شتمنيو او نعمتونوکې به د ظالمانو پواسطه فقير، نوروته اړ، وږي، تږي، بې تعليم او بې سواده، له ځان او جهان څخه به ناخبره، بې نوم او نښانه ساتل کيږي.

په ډير قوميز ستر افغانستان کې پښتانه چې د ملت مطلق اکثريت جوړوي د نورو قومونو سره د خپل نه يووالي ،بې اتفاقۍ او بې تفاوتۍ له امله د سيالۍ جوګه نه دي. تل د بهرنيو استعماري ځواکونو او هغو پورې تړلو کورنيو ګوډاګيانو د تيريو، ظلمونو، تبعيض، تعصب او سپکاويو سره مخامخ وي. تل پرې په يو نوم او بل نوم او پلمه نا برابرې جګړې تپل کيږي او په دې ډول له ځان څخه د دفاع په خاطر د بې ساري سرښندنو او مرګ ژوبلې سره مخامخ کيږي.

له شپیته میلیونو څخه زیات پښتون ملت د خپلو نیمګړتیاوو او کمزورتیاوو د کبله د تاریخ په یوویشتمې پیړۍ کې د استعمار د لمو څخه لاهم ځان نه شي خلاصولي او د سیاسي، اقتصادی، ټولنیز او فرهنګي استعمار ټولې لمې یې په غاړه کې پرتې دي، چې له امله یې سا تر ستوني رسیدلې ده. په ډیرې بیړې د پښتنو د دښمنانو له خوا هلې- ځلې روانې دي چې د پښتون ملت ویشل او تقسیمول دایمي کړي ترڅو ددې ستر ملت محکومیت تلپاتې شي او په دې سره یې بې هویته او نوم او نښان د تاریخ له پاڼو پاک کړي. په دې کارکې ترډیرې کچې د پښتنو هغه روښانفکران او مشران چې د خپلو شخصي ګټو په خاطر یې خپلې ملي ګټې تر پښو لاندې کړې دي، د پردیو په چوپړکې ولاړ او د غلامۍ غړوندي په خپلو غاړو کې اچولي دي ګرم ګڼل کیږي، چې د پښتنو په محکومیت او محرومیت یا خوښ دي او یا بې تفاوته دي. هغه پښتون روښانفکر او مشر چې د پښتون ملت له محکومیت، محرومیت او بربادۍ نه خبرنه وي او د پښتنو د جاري غمیزې په اړوندیې بې تفاوتي غوره کړې وي نه یواځې دا چې د پښتون په نوم ونه پیژندل شي، بلکې د پښتنو د محرومیتونو او کړاوونود منځته راتلو د یو عنصر په توګه وپیژندل شي. پښتون ملت پرغمیزې باندې خوښي او بې تفاوتي د بښنې وړ نه ده.

دا ځکه چې د پښتون ملت په مقابل کې د تیریو او توطیو له کبله منځته راغلو غمونو، کړاوونو، بربادیو او محرومیتونو نه یواځې دا ملت د ستر بحران او بې ثباتۍ سره لاس او ګریوان کړی دی، بلکې د ستر افغانستان ټول ملت یې د بحران او بې ثباتۍ سره مخامخ کړی او د سیمې او نړۍ سوله او ثبات یې کمزوري کړي دي. نوځکه د پښتون ملت په وړاندې تیري او توطیې نه یواځې د پښتنو څخه سوله، ثبات او د سوله ایز ژوند ټولې ښیګڼې له منځه وړي، بلکې د ستر افغانستان دټولو خلکو سوله، ثبات

او سوله ایز ژوند او ځمکنۍ بشپړتیا د خطر سره مخامخ کوي. هرڅوک چې د پښتون ملت سره دښمني کوي، هغه په واقعیت کې د افغانستان او سیمې د سولې او ثبات سره دښمني کوي. استعماري سیاستونو، له انګریزانو څخه نیولې بیا تر روسیې او امریکې پورې وسه کړیده چې پښتانه وویشي، بیل یې کړي او ایل یې کړي. او که نه ایل کیږي وه یې ځپي،له سیاسي، اقتصادي او فرهنګي پلوه یې په نورو پورې وتړي او د خپل ملي سیاست، اقتصاد او فرهنګ څخه یې محروم کړي. همدا اوس د ویشل شوي ټوټې ټوټې افغانستان هویت یې ترې اخستی او د افغان ملت خپل اصیل هویت او نوم یې تر خاورو لاندې کړیدی. د حامد کرزی په مشرۍ موجود دولت د نورو قومونو، په تیره بیا له شپیته میلیونه څخه زیات پښتون ملت پرژبې، فرهنګ او هویت سترګې پټې کړیدي او افغانستان یې د ایران او تاجکستان سره د فارسي ژبو هیوادونو په نوم د فرهنګي پروتوکول پواسطه تړلی دی. دا ټولې ستونزې د پښتنو د ستونزو څخه سرچینه اخلي. په افغانستان کې پښتو ژبه د دولت له ادارو، د ښوونې او روزنې مؤسسو، ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګرونو څخه ویستلې شوې ده. افغانستان د ایران پلوه فرهنګیانو پواسطه د ایراني فرهنګي یرغل لاندې راغلی دی او په څرګند ډول د پښتو ژبې پرضد تبعیض او تعصب ته نه یواځې بد نه ویل کیږي، بلکې متعصبینو ته درناوی کیږي او امتیازات ورکول کیږي. د ځینو ادارو په سرکې یې داسې بې پته او بیغیرته د شخصي ګټو لیونیان ټومبلي دي چې په نوم پښتانه، خو د پښتو سره مینه او خواخوږي نه لري او د ځان د ساتلو د پاره د پښتو ضد کسانو په خیر د پښتنو د بچو ستونزې نه ویني. د مثال په ډول په کابل کې هیڅ وړکتون او یا ښوونځی په پښتو ژبه شاګردانو ته تدریس نه کوي. یو وخت یې د خلکو دغولولو د پاره په کابل کې په ځینو ښوونځیو کې د پښتنو د پاره د پښتو ژبې ټولګي منځ ته راوړل، خو د

کتابونو او ښوونکو د نه شتون لپاره د زده کوونکو مور او پلار مجبور شول خپل ماشومان د پښتو ژبې له ټولګیو څخه دري ژبو ټولګیو او ښوونځیو ته بدل کړي. ځکه د پښتو ژبې په نوم ټولګي او ښوونځي نه د پښتو ژبې کتابونه لري او نه د پښتو ژبې ښوونکي. هڅه کیږي چې پښتانه په خپل وطن کې بې وطنه، بې واکه، د علم او فرهنګ د پرمختګونو څخه لیرې، بې تعلیمه، بې سواده، په خیټه وږی، په تن بربنډ او له نړۍ او ځان څخه ناخبره، ناروغه، یو بل سره دښمن، د خپلو شتمنیو څخه محروم وساتل شي. پر استعداد او حقوقو یې خاورې واړول شي، د یو وحشي جنګ غوښتونکي ترهګر قوم په څیر نړیوالو ته وروپیژندل شي او په فزیکي ډول داسې وځپل شي، چې بیا سر راپورته نه کړي.
د ځبر ځواکونو استعماري سیاستونو سره د پښتون سایکالوژي سمون نه لري، نو ځکه تل د ځبر ځواکونو د تیریو تیره څوکه د پښتنو پر ضد وي. که انګریزان وو، که روسان او بیا امریکایان دې ټولو یرغلګرو استعماري ځواکونو په یو او بل نوم د پښتنو سره خپله دښمني نه ده پټه کړې. همدا اوس هم هره ورځ په لسګونو پښتانه د طالبانو او مخالفینو په نوم د ناټو او امریکایې ځواکونو پواسطه له منځه ځي. له یو میلیون څخه زیات پښتانه تراوسه د ناټو او امریکایي وسله والو پوځونو له خوا د مرګ کومي ته لویدلي او په سلګونو زره نور د ناټو او امریکایي پوځونو د جګړه ایزو عملیاتو او بمباریو له ویرې او د خپلو کورونو او کروندو او باغونو د لمنځه تلو له امله د کابل شاوخوا او نورو ښارونو شاوخواکې په ډیر ناوړه او غیر انساني شرایطوکې مرګ ته شپې سبا کوي. خو امریکایان او د دوئ لاسپوځي فاسد افغاني بیوروکرتان، چې لاپې د بشر د حقوقو او دموکراسۍ وهي ځانونه کاڼه او ړانده اچولي دي او حتی هغه لومړنۍ ضروري مرستې هم د دوئ د ظلمونو او وحشیانه کړنو له لاسه کډوال شوو مهاجرینو سره نه کیږي. هیڅ پښتون د نیویارک او واشنګټن

د سپتمبر د ۱۱ په پیښو کې برخه نه درلوده، خو امریکایانو او متحدینو یې پر افغانستان یرغل وکړ او پښتانه یې په نښه کړل. د امریکا د یرغل په لومړیو ورځوکې د امریکې په ډالرو اخستل شوو لنډاکو اردلیانو خو حتی پښتانه د افغانستان نه بلل او پاکستان پورې یې تړل. په پښتو ژبه خبرې کول ګناه ګڼل کیده او همدا اوس هم څوک چې په خپلې مورنۍ ژبې پښتو خبرې کوي هغه ته متعصب ویل کیږي. ډیر پښتانه له همدې ډار نه چې متعصب ونه بلل شي په خپلې مورنۍ ژبې پښتو خبرې نه کوي. ځینې پښتانه بیا د خپل مقام د ساتلو په خاطر په پښتو خبرې نه کوي. له همدې کبله د جمهور رئیس څخه نیولې بیا تر ټیټ رتبه مامور پورې یا باید ټولې خبرې په دري وکړي او یا باید په دواړو ژبو، دري او پښتو وګړیږي. همدا سې پښتانه چې په دري ژبه خبرې کوي او یا کولای شي، په دري ژبوکې شمارل کیږي. چې پایله یې داسې راوکاږي چې افغانستان د اقلیتونو هیواد دی. خو دري ویونکي پکې ډیر دي، نوځکه د دولت چارې باید په دري ژبه ترسره شي او پښتو ژبه ډډې ته شي. د پښتو ژبې ضد دریځ تر شا ډیر بهرني هیوادونه په خاص ډول ایران ولاړ دی. ځکه دوئ پوهیږي چې د یو قوم او ملت د لمنځه وړو اغیزمنه لار د هغه قوم او ملت د ژبې له منځه وړل دي. ژبه د یو ملت هویت دی، چې ځینې ځان غوښتونکي، په خپلو شخصي ګټو مین پښتانه چاروا کي پرې نه پوهیږي او یا نه غواړي ځان پوه کړي.

د مې د میاشتې پر ۲۹ او ۳۰ د پښتون قامي جرګې ګډونوالو د پښتنو پرضد د ځبرځواکونو د دښمنۍ څخه ډک چلند د غندلو ترڅنګ د پښتنو سره د انګریزي استعمارچیانو تاریخي دښمني چې پښتون قوم یې د زور، زر او توطیو په واسطه ټوټې ټوټې او خپلواک ژوند څخه محروم او ډول ډول ستونزو او بدمرغیو سره مخامخ کړ وخیرله او د پښتنو په ویشلو، محکومیت او بدمرغیو کې یې د ځینو ټنګه سرو تش په نامه مشرانو ونډه

چې د بهرنیو تیریو ، لاسوهنو او توطیو په وړاندې بې تفاوته ناست دي او د قوم د ویشلو په دوام کې خپلې ګټې ویني، د خواشینۍ وړ وبلله. په جرګه کې د ډیورند د استعماري تورې کرښې پواسطه د افغانستان ویشل او د "ازادو قبایلو" په نوم سیمه له هرډول معاصر نظم او ادارې پرته منځته راوړل په واقعیت کې په راتلونکې کې د پښتنو پرضد د انګریزي استعمارچیانو له دښمنیو ډکو توطیو د پاره د یوې داسې سیمې منځته راوړل و، چې بهرنۍ ځارګرې شبکې په اسانۍ سره وکړای شي په هغې کې د ځایي پښتنو او ټول پښتون ملت پرضد ویجاړونکې فعالیتونه سرته ورسوي. لکه چې تجربو وښودله په ازادو قبایلوکې په سوونو ملتپال پښتانه مشران د بهرنیو ځارګرو شبکو په تیره بیا د I.S.I د اجنټانو له خوا په قتل ورسیدل او هم په افغانستان کې سوله او ثبات له نورو هیوادونو څخه د I.S.I ، C.I.A او نورو ځارګرو شبکو له خوا راوړل شوو کسانو پواسطه د ستونزو سره مخامخ شوي دي.
په دې ډول ټوټې شوی بې اتفاقه پښتون ملت لکه د یو ناروغ وجود په څیر پخپله د افغانستان، سیمې او نړۍ په سولې او ثبات کې د مثبت رول پرځای منفي رول لوبولی دی. ددې د پاره چې په افغانستان کې سوله ټینګه او یو ځواکمن مرکزي دولت منځته راشي، چې د بهرنیو هیوادونو د تیریو او لاسوهنو مخه ونیسي او په هیواد کې ټیکاو منځته راشي د یو داسې پښتون قوم یا ملت منځته راتګ ضرور دی چې د ستر افغانستان د نورو قومونو سره یو ځای یو ستر ملت جوړ کړي، چې د خپلې خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع وس ولري او د سیالو هیوادونو په لیکه کې ودریږي. د نړۍ د ټولو هیوادونو سره د متقابلو ګټو، درناوي او یو بل په کورنیو چاروکې د نه لاسوهنې پربنسټ سیاسي دیپلوماتیک اړیکې ټینګ کړي او د خلکو د سوکالۍ او پرمختګ لار غوره کړي. ددې کار دپاره د ټول پښتون ملت یووالی او اتفاق هرومرو

دی ترڅو د افغانستان په ستر قلمروکې په خپل اصیل هویت سره د خپلو حقوقو او وجایبو خاوند شي او د نورو قومونو سره یو ځای په ورورۍ او دوستۍ کې ژوند وکړي. روغ پښتون نورو افغانانو ته د ښیګڼې جوګه کیدی او د خپل هیواد په وړاندې خپل مکلفیتونه سرته رسولی شي. ناروغ ټوټې ټوټې او ټپي پښتون چې د خپلو حقوقو څخه دفاع نه شي کولای،نو بیا به د ستر افغانستان په وړاندې څرنګه د خدمت وړ وګرځي. نو ځکه باید د افغانستان ټول خلک د پښتون ملت په رغاوي او یووالي کې له هیڅ ډول هلو- ځلو څخه ډډه ونه کړي، بیا خو لاڅه چې خنډ یې وګرځي. په ډیرې خواشینۍ سره شته ځینې کسان چې د یو ستر ځواکمن افغانستان د منځته راتګ څخه په ویره کې دي. ځانونوته افغانان وایي، خو په بهرنیو په خاص ډول ګاونډیو هیوادونو پورې تړلي دي. د شخصي ګټو په خاطر خپلې ملي ګټې تر پښو لاندې کوي، د پردیو ګټو لپاره هلې –ځلې کوي چې د ډیورنډ استعماري کرښه په رسمیت وپیژندل شي. او په دی ډول د ستر ځواکمن با ثباته، پرمختللي افغانستان د منځته راتلو مخه ونیسي او د کمزوري، بهرنیو تیریو او لاسوهنو سره تل مخامخ ، بې ثباته او وروسته پاتې افغانستان موجودیت په ګټه بولي. دا چې تراوسه پورې پښتانه د استعمار په لموکې بند پاتې دي او نه شي کولای د خپلواکۍ له ښیګڼو څخه برخمن شي، د ځینو ټنګه سرو په پیسو اخستل شوو تش په نامه مشرانو، ملکانو، ملایانو او ..... شتون دی. دوئ د خپلو شخصي ناڅیزو ګټو او امتیازاتو په خاطر د استعمار غړوندي په غاړه کې په ذبون ژوند خوښ دي او د خپلو شخصي ګټو په خاطر یې پښتون ملت ټوټې ټوټې او محکوم ساتلی دی. پرژبې ، فرهنګ او هویت یې ملنډې وهل کیږي او په پرله پسې ډول د نشت کندې ته نژدې کیږی. خو دا د ټولو په خپل هیواد او خلکو مینو ملتپالو روښانفکرانو، قومي مشرانو، دیني عالمانو او روحانیونو ملي او اسلامي دنده ده چې خپلو

خلکو ، پراخه پرګنو ته د استعماري توطیو څخه د ژغورلو لار ، چې هغه د ډیورنډ د کرښې په واسطه بیلو شوو پښتنو بیا یووالی او د یو ستر، خپلواک ځواکمن افغانستان، چې پکې هرچاته خپل حقوق ورسیږي او خلک یې د هرډول بهرني یرغل لاسوهنو او توطیو څخه خوندي وي، منځته راوړل دي. په ستر افغانستان کې به هرډول قومي، ژبني او مذهبي تبعیض او تعصب نه وي. هرچاته به د خپل استعداد او استحقاق سره سم خپل حق رسیږي او خپلواک او سرلوړی ژوند به د هرچاپه برخه وي. د یو خپلواک ستر او ځواکمن افغانستان ټولې شتمنۍ به پخپله د افغانستان د خلکو د سوکالۍ او پرمختګ د پاره په کار وړل کیږي او د ترقۍ ټولې دروازې به یې پرمخ پرانیستې وي. د هرقوم ژبه او فرهنګ به د ټول ملت ژبې او فرهنګ ګڼل کیږي، خو ملي او د ټولو افغانانو د تفاهم ژبه به هغه وي چې د اکثریت ژبه وي او خبرې پرې کوي. افغانان به خپل اصیل افغاني هویت لري او په خپل هویت به هر چیرته چې وي ویاړي او په نړۍ کې به د یو ستر ملت د هویت ( افغان ) په توګه د منلو او پیژندلو وړ وي.

# ولې د امپراتوريو هديره لا تر اوسه د پنجابي استعمار په لمو کې نښتې ده؟*

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د نړۍ د سترو امپراطوريو د تيري او يرغل لاندې راغلی دی ، چې که ډير ليرې لاړ نه شو نو برطانيه او شوروي اتحاد يې ښه مثالونه دي. وايي ، چې د برطانيې په امپراطورۍ کې لمر نه پريواته ، خو کله چې يې د خپل نظامي بې انډوله ځواک په مټ د افغانستان د نيولو او افغانانو د ايل کولو د پاره پر افغانستان تيری وکړ ورته ژر جوته شوه چې د افغانستان نيول اسان و ، خو ساتلو پسې يې زړه تړل پکارنه دی . دا ځکه چې افغانان په خپل ځان او خپل هيواد کې د بهرنيو واکمني نه مني ، غاصبينو ته نه تسليميږي . تر څو ژوندي وي د تيري کوونکو سره خپړې لګوي ، نو ځکه هر څومره چې تيري کوونکي ځواکمن وي په اوږدو پای ته نه رسيدونکو جګړو کې يې زور اوبه کيږي ، اقتصاد يې کمزوری کيږي ، مورال يې ټيټيږي ، د تيښتې لار لټوي ،خو پرې ناوخته شوی وي ، ځواک او پرتم يې په افغانستان کې د خاورو لاندې شوی وي او بيا ټيټ سر او خړې سترګې کمزوری او له کينې ډکه زړه له هيواد څخه وتلو ته مجبور شي. د افغانانو د دې مقاومت او د امپراطوريو د بې وسۍ څخه چې دا مقاومت مات کړي، د نړۍ نور محکوم ولسونه هم عبرت اخلي او داستعمار نه د خلاصون د پاره راپاڅيږي او خپلو موخو ته رسيږي. چې په دې ډول د دوو امپراطوريو ، برطانيې او شوروي اتحادزوال پر افغانستان باندې د تيري څخه وروسته پيل شوی دی . نو ځکه افغانستان ته د امپراطوريو د هديرې نوم ورکړ شوی دی . افغانان د بهرنيو يرغلګرو په وړاندې د مقاومت په جګړو کې ځکه نه ستړي کيږي ، چې دې جګړو ته ، چې د اسلام د مقدس دين د

ارزښتونو او د خپل هیواد دخپلواکۍ څخه د دفاع د پاره یې سرته رسوي الهي امر( جهاد )پرځای کوي او په مړ کیدلو او ژوندي پاتې کیدلو دواړو کې د شهادت او غازي توب درجې یې په برخه کیږي . دوئ دیرغلگرو په وړاندې په وچو توتانو ، دغنمو او جوارو په نینواو د ولس په خواخوږۍ او مرستې تر هغې پورې جگړې ته دوام ورکوي ، چې دښمن له پښو وغورځوي.

انگریزان چې کله پوه شول چې افغانان یې په وړاندې د سپیڅلي جهاد په مینه مست جگړې ته دوام ورکوي او په زور سره نه شي کولای چې ایل یې کړي ، نو په ډیرو خطرناکو توطیو یې لاس پورې کړ . د توطیو پیل د افغانانو په منځ کې د قوم ،مذهب، ژبې او سیمو تر منځ د بې اتفاقیو د اور بلول و. په دې کار کې په پیسو اخستل شوو اجنټانو په مختلفو شکلونو ډیر ناوړه رول ولوباوه . چا دملاپه جامه ، چاد جوړشوي قومي مشر په جامه او چا د جوړ شوي روحاني په جامه کې د ربښتیانیو ملایانو ، ربښتیانیو قومي مشرانو او ربښتیانیو روحانینو د بې اعتباره کولو د پاره د انگریزانو په گټه کار کاوه . د خلکونه تجرید د کمزورو چارواکو گواښل تطمیع کول او د قدرت څخه په لیرې کولو ډارول انگریزانو ته دا موقع په لاس ورکوله چې د افغان واحد ملت په وړاندې ستري توطیې سرته ورسوي . په تیره بیا د ډیورنډ د کرښې په واسطه د افغان واحد ملت په دوو برخو ویشل د اسې یوه ستره توطیه وه ، چې افغانان یې تر او سه پورې له شره ځان نه شي ژغورلی . انگریزانو د جگړې په میدان کې د افغانانو څخه د ماتې غچ په سیاست کې واخست. د ډیورند د کرښې په واسطه ویشل شوی افغانستان یې په ځان یا برطانوي هند پورې وتاړه ، خو د خپلواکۍ د پاره د انگریزانو پرضد د افغانانو جهاد غلی نه شو او تر هغه وخته پورې روان و ، تر څو انگریزان د هند له نیمې وچې څخه نه وو وتلي . کله چې انگریزان له نیمې وچې ځنې وتل ، نو بله توطیه یې د

سیمې او په تیره بیا د افغانانو پرضد سرته ورسوله او هغه دا چې هندوستان يې د هندو او مسلمان په نو م وویشه او د پاکستان په نوم یو نوی هیواد یې منځته راوړ. په دې کار سره انګریزانو د افغانانو پر ضد د سترې دښمنۍ نه کار واخست او د هند له نیمې وچې څخه بیخي بیل د منځنۍ اسیاد هیوادونو په ډله کې د افغانستان غصب شوې برخه یې هم په پاکستان پورې وتړله. افغانستان د منځنۍ اسیا د پنځه زره کلن تاریخ لرونکی ځانګړی هیواد دی چې د هند دنیمې وچې سره هیڅ تړاو نه لري ، خو انګریزي استعمارچیانو د برطانوي هند د تجزیې په ترځ کې د افغانستان څخه غصب شوې برخه هم د اسلام په نوم نوي جوړ شوي پاکستان سره د پښتنو څخه د غچ اخستو له کبله وتړله . د ګاندي په مشرۍ هندو مشرتابه ، چې کله ولیدل چې هندوانو ته د یو مستقل دولت د جوړیدو واک ورکړ شوی او کیدای شي د پاکستان په جوړیدو سره تر یوې اندازې پورې دکورنیو مذهب په نوم د مسلمانانو او هندوانو تر منځ دښمنیو څخه،چې د انګریزانو په واسطه یې اور بل شوی و، خلاص شي نو په دې تجزیې یې ځانونه غلي ونیول او د خپل واک د ټینګولو او له انګریزانو څخه د لاډیرو امتیازاتو په لاسته راوړلو کې مصروف شول. له بل پلوه محمد علي جناح او ملګري یې ، چې د پاکستان د جوړیدو د پاره د انګریزانو له خوا ګومارل شوي وو او د انګریزانو پلانونه یې ټکي په ټکي پلي کول ، په پاکستان کې د انګریزانو په واسطه د ټولو غصب شوو ځمکو د ګډیدو د پاره انګریزي چالونه پلي کول ، نیمایي د انګریزانو په واسطه غصب شوی افغانستان یې هم د پاکستان سره وتاړه . د انګریزانو ددې توطیې په وړاندې افغانانو څه وکړل ؟ باچاخان ( خان عبدالغفار خان ) ، چې تر دې وخته پورې یې د افغانانو د خپلواکۍ د پاره د خدایي خدمتګارانو د مشر په توګه د پښتنو د راویښولو ، پوهولو او راغونډولو د پاره ستر کارونه سر ته رسولي وو او په دې لار کې یې ستر بر

یالیتوبونه هم لاس ته راورې وو ، چې له دې جملې نه د اویا زره څخه زیات د خدایي خدمتګارانو د منظم تحریک منځته راوړل و ، د پښتنو په ازادۍ غوښتونکو جګړو کې غوڅ رول لوبولی شو . خو د پاکستان په جوړېدو سره انګریزانو د هندوانو او مسلمانانو تر منځ د جګړو داسې اور بل کړ چې پکې په لکونو مسلمانان او هندوان په ډیر وحشیانه ډول له منځه ولاړل او د هندو او مسلمان ترمنځ کرکه او دښمني دې حد ته ورسول شوه او د مسلمانانو بیلتون له هندوانو څخه دومره اړین تبلیغ شو ، چې د انګریزانو د چل وټو او سیاست سره نابلدو ځینو پښتنو هم د پاکستان جوړیدل د اسلام او مسلمانانو په ګټه بلل . په همدې ډول انګریزانو د خپلو اجنټانو په واسطه د پیسو په شیندلو هلې ځلې پیل کړې چې تش په نوم ملایان ، قومي مشران او د پاکستان د جوړیدو مبلغین د باچاخان او خدایي خدمتګارانو پرضد پروپیګنډې پیل کړې ، چې د پاکستان سره مخالفت د اسلام سره مخالفت وښایي . له بل پلوه ګاندي ، نهرو او د کانګرس ګوند نورو مشرانو د باچاخان په مشرۍ د خدایي خدمتګارانو تحریک چې د انګریزانو په وړاندې مقاومت کې یې ستره برخه درلوده او د هند د کانګرس ګوند سره یې نژدې اړیکې درلودې او د عدم تشدد د مبارزې ډول په اختیارولو سره یې باچاخان د سرحد ګاندي باله، د انګریزانو او د هغوئ د اجنټانو په وړاندې په مبارزه کې یوازې پریښود او پر انګریزانو باندې پښتنو ته د خپلواکۍ حق د ورکولو د پاره د فشار څخه لاس واخیست . په همدې ډول په افغانستان کې په دغه وخت کې د محمد ظاهر شاه محافظه کارې کورنۍ دحکومت واګې په لاس کې درلودې ، چې د انګریزانو سره د ښو اړیکو تر څنګ یې نه غوښتل خپله واکمني د ستونزو سره مخامخ کړي . یانې له یو پلوه د انګریزانو سره خپل اړیکي په دې خراب کړي چې د هغوئ د پلان سره په مخالفت کې د خپلې غصب شوې برخې افغانستان د بیرته لاسته راوړو ټینګه غوښتنه وکړي

او له بل پلوه دباچاخان په مشرۍ د خدايي خدمتګارانو د تحريک سره چې په سياسي مبارزه کې پاخه شوي وو د حکومت واګې شريکې کړي او خپله مطلقه واکداري په مشروطه واکدارۍ واړوي او يامطلقه شاهي په جمهوري نظام بدله کړي. نو ځکه د انګريزانو په واسطه د افغانستان د غصب شوې برخې د ازادۍ د پاره يوائې باچاخان او نور خدايي خدمتګاران او خواخوږي په کلکه ودريدل ، خو انګريزانو د تش په نامه رفرندم د پکار اچولو په واسطه ، چې يوائې دوه لارې په کې ښودل شوې وې ،چې يابه د پاکستان اسلامي جمهوريت غوره کوي او يا به د هندوانو سره ځي او هندوستان به غوره کوي ، د باچاخان او د خدايي خدمتګارانود تحريک په وړاندې د غصب شوې برخې افغانستان د بيرته يوځای کيدو او يا خپلواکۍ د پاره غوښتنه په رفرنډم کې رايو ته نه وه وړاندې شوې . باچاخان په مشرۍدخدايي خدمتګارانو تحريک او نورو پښتنو په رفرنډم کې برخه وانه خستله ، خود انګريزانودپلان سره سم د افغانستان غصب شوې برخه هم د پاکستان سره وتړل شوه اوپه دې ډول پاکستان منځته راغی.

د پاکستان د منځته راتګ څخه وروسته ،انګريزانو او غربي نورو هيوادونو ، په تيره بيا امريکا، پاکستان د سيمې د جاندارم په توګه په نظامي او استخباراتي برخو کې د خپلو ستراتيژيکو موخو د پاره په يو پياوړي نظامي هيواد تبديل کړ. چې د موجوديت زيات وخت يې د نظامي واکدارۍ لاندې تير شوی دی او که کله ملکي حکومتونه هم منځته راغلي دي ،خو واک د نظاميانو سره دی. په تيره بيا آ ی. اس. ای. بايد د حکومت په ټولو پريکړو او چلند کې برخه واخلي او حتی لار ښوونه يې وکړي . دا نظامي استخباراتي سازمان د پاکستانيانو د ژوند ټول اړخونه څاري او د هيواد په دننه کې يې پرخلکو د حکومت کولو څارګر نظام تپلی دی . د څارګر نظام په موجوديت کې د هر ډول دموکراتيکو او

ازادي ښښونکو غوښتنو مخه په کلکه نیول کیږي . د پاکستان دا څارګر سازمان (ای. اس. ای. ) ، چې د امریکې د څارګر سازمان ( سي. آی. ای. ) او د برطانیې د څارګر سازمان ( انټلیجنټ سرویس ) سره ټینګ اونژدې اړیکي لري ، د انګلستان ، امریکې او پاکستان دګټودټولومخالفو شخصیتونو اوډلو ، په تیره بیا په پښتونخوااو بلوچستان کې ملي ازادي ښښونکوشخصیتونو او ډلوپر ضد په ګډه د ځپلو پلانونه جوړوي او عملي کوي يې . دا چې کله ناکله د یوبل پرضد مصنوعي پروپیګنډې کوي یواځې د خلکو د غولولود پاره دي او رښتینولي پکې نه شته. د بیلګې په توګه په وزیرستان کې د امریکې د بې پیلوټه الوتکود بمباریو په وړاندې د پاکستان کله ناکله ناخوښي، چې په قلمرو يې تیری شوی دی ، یواځې د خلکو د غولولود پاره دي ، رښتینولي پکې نه شته. د امریکې بې پیلوټه الوتکې د پاکستاني مقاماتو په غوښتنه او خوښه پر وزیرستان بمباري کوي ، دا ځکه چې پاکستان په دې پوهیږي چې وزیرستان د پاکستان په قلمرو کې نه راځي ، اوبل په وزیرستان کې د مخالفینو ځپل هغومره چې د امریکې او انګلیس د ګټو سره سم ګڼل کیږي ، پاکستان يې هم د ځان په ګټه بولي. د پاکستان دې څارګر سازمان هڅه کړیده چې د ټولنې په ټولو فعالیتونو کې د خپلو اجنټانو له لارې اغیز ولري. ویل کیږي چې عادي خلک، دوکانداران ،ټیکسي چلوونکي کسبګران ، بزګران او کارګری مؤسسې ، واړه مامورین ، ټولنیز او سیاسي شخصیتونه او ټولنې، سیاسي ګوندونه او سازمانونه او تنظیمونه د آی. اس. آی. د اغیز او ضررنه خوندي نه دي. په تیره بیا د دې څارګر سازمان د کړنو ډیره برخه يې په پښتونخواه او بلوچستان کې ملي ازادي ښښونکو شخصیتونو ، ګوندونو او فعالینو پر ضد سرته رسیږي. نه یواځې دا چې تورن کسان د ګواښونو ، جیل او ترور سره مخامخ کیږي

بلکې د دې سازمان د پټو اجنټانو له خواپه ډول ډول پلمو او نومونو تخريبيږي او له منځه وړل کيږي .
د بيلګې په توګه ،ځينې کسان او تنظيمونه پاکستان يو اسلامي خلافت بولي او پر ضد يې د پښتنو او بلوڅو هر ډول ازادي غوښتونکې مبارزه د اسلام ضد عمل بولي . دا خو لاڅه چې د« صوبه سرحد» پر ځای د پښتونخواه د نوم ايښودل د پاکستان اسلامي هيواد څخه د يو ډول بيليدو هڅه ګڼل کيده . د دغو تنظيمونو مشران ، چې په پټه د پاکستان ، امريکې او انګليس د جاسوسي سازمانونو سره په همغږۍ کې کار کوي د انګريزانو او بيا پنجابيانو په واسطه د سوچه مسلمان افغانستان دنيمايي خاورې غصبول د اسلام پر ضد عمل نه ګڼي ، خو که چيرته د انګريزانو او پنجابيانو په واسطه د غصب شوي افغانستان خپلواکي او د خپلې اصلي برخې سوچه مسلمان افغانستان سره بيرته يووالی غوښتل کيږي ، بيا يې د اسلام پر ضد عمل ګڼي . ټول دا کسان او ډلې چې د اسلام له نوم څخه دداسې سياسي موخو د پاره کار اخلي د پاکستان او انګريزانو د څارګرو سازمانونو سره نژدې اړيکي لري او د هغوئ د پلان سره سم پروپيګنډې کوي. په خواشينۍ سره چې ډير خلک بيا د دوئ له داسې اړيکو څخه خبر نه وي او د دوې د پروپيګنډو تر اغيز لاندې راځي.
همدارنګه ځينې کسان د افغانانو د يووالي د دښمنانو په خبرو او د محافظه کاروحکومتونو په دريځونو تکيه کوي او هڅه کوي چې د افغان ملت په اړوند ټولو تاريخي ، قومي ، ژبني ، فرهنګي ، اقتصادي او د ځمکې په يوې ځانګړې برخې اوواحدټاټوبي کې په او سيدلو او شريکو رواجونو سترګې پټې کړي او د استعمار د يو ګوډاګي په څير ، استعماري ټولې توطيې حق وبولي او د پنجابي استعمار ي سياست څخه د دفاع په خاطر د ډيورنډ د کرښې په واسطه د افغان واحد ملت بيلتون سم وښايي او پښتو ن له پښتون څخه بيل او د پنجابي سره يې

وتړي . چې نه يې ورسره تاريخ شريک دی ، نه يې قوم ،نه يې ژبه ،نه فرهنګ، يا د استوګنې ځای او يا رواجونه . شته داسې کسان ، چې انګريزانو او پنجابيانو ته د يو څه اجورې په بدل کې يانورو موخود پاره د هغوئ د استعماري سياستونو د پلي کيدو په خاطر د افغانانو ، پښتنو د يووالي پرضد هلې ځلې کړې دي او کوي يې ، تر څو د افغان واحد ملت د بيلتون کرښې شتون او د افغانانوپه پاکه خاوره د پنجاب استعماري واکداری ته دوام ورکړي. دوئ تبليغات کوي چې ګنې د افغانستان د دې ادعا تر شا چې له امو څخه تر اباسينه پورې ټول اوسيدونکي افغانان او يوملت دی، نه کوم عملي کارونه شوي دي او نه کوم اسناد شته.
خو ملتونه په لښکر کښيو او اسنادو نه جوړيږي . ملتونه په طبيعي ډول د تاريخ په اوږدو کې منځته راځي . افغانستان يوه ادعا نه ده، بلکې يو واقعيت دی چې اسنادو ته ضرورت نه لري،داهيواد د خپل اوږده تاريخ په ترځ کې منځته راغلی دی .د ې ملت د خپل تاريخ په اوږدو کې ډيرې لوړې ژورې ليدلي او ډيرو استعماري ځواکونو پرې تيري او يرغلونه سرته رسولي دي او وسه يې کړې ده چې هضم يې کړي ، خو د خپلو ناولو ارمانونو سره يې استعماري ځواکونه هم په افغانستان کې د خاوړو لاندې شوي دي او انشاالله چې زموږ ميړني ولسونه به لکه د تير په څير چې يې د خپل خدای په مرسته د غاصبينو تيري کوونکو ککرۍ ماتې کړې دي او س به هم د پنجابي استعمار څخه خپل هيواد ازادوي او د انګريزانو په واسطه ويشل شوی افغانستان به له امو څخه تر اباسينه پورې بيرته په يو واحد خپلواک افغانستان کې يوکيږي . د ا کار به هرو مرو کيږي.
پنجابيان او اجنټان پرې خوشاليږي او که خپه کيږي . ځينې داسې پروپيګنډې هم شته ،چې له امو څخه تر اباسينه پورې د لوی افغانستان غوښتونکي يواځې پښتانه دي او د ټولو افغانانو غوښتنه نه ده . بايد په دې پوه شو ،چې د استعمار په واسطه د ويشل شوي افغانستان

بیرته یو کولو د پاره مبارزه له امو څخه تر اباسینه پورې د ټول افغان ملت ملي او اسلامي وجیبه ده. ټول افغانان د واحد افغان ملت دبیلتون توره د ډیورنډ کرښه نه مني او له امو څخه تر اباسینه پورې دغه هیواد د ټولو افغانانو شریک کور او ټاټوبی ګڼي. دا خو لا له پخوا څخه د استعماري ځواکونو اود دوئ د اجنټانو توطیې وې اودي ،چې افغانان د قوم ،ژبې او مذهب په نوم وویشي .خو په افغانستان کې مختلفو قومونو پورې تړلو افغانانو د تاریخ په اوږدو کې یوبل سره د ورونو په څیر اوسیدلي دي ، د خپلو ملي او اسلامي ارزښتونو څخه یې په ګډه دیرغلګرو په وړاندې دفاع کړیده او کوي یې .که چیر ته کوم تنګ نظری متعصب او د پردیو اجنټ پیدا شي چې دپردیو په دیکتې اویا د تعصب له امله د افغانانو ملي یووالی تر پښو لاندې کوي او له ملي ګټو څخه تیریږي ،نو دا کسان د شمیر له پلوه ډیر کم دي ، چې دغه ستر ملي ارمان ته د رسیدو په لار کې هیڅ ډول خنډ نه شي منځته راوړلای. همدارنګه شته ځینې کسان چې د ډیورند د کرښې د نه منلو پالیسي ورته تعجب ښکاري. خو باید وویل شي چې:
د ډیورنډ کرښې د نه منلو د پالیسۍ دوام د تعجب خبره نه ده. د تعجب خبره داده چې ولې په خپلواکۍ مین افغانان تر اوسه په دې ۲۱ پیړۍ کې د استعمار لاندې ژوند کوي . افغانانو باید ډیر پخوا خپله خپلواکي لاسته راوړې وای. که چیرته افغانانو خپله خپلواکي له هند څخه د انګریزانو د وتلو سره سم لاسته راوړې وای اوله امو څخه تر اباسینه پورې د افغانانو یوواحد دولت منځته راغلی وای ، نه یوائې د افغانستان په وړاندې به د علم او تخنیک د پرمختګونو څخه د ګټې اخستو ټولې دروازې پرانستې وای ، بلکې له امو څخه تر اباسینه پورې د یو ځواکمن واحد افغانستان په وړاندې به د نړۍ په سر هیڅ ځواک زړه نه وای ښه کړی ، چې تیری پرې وکړي ، په کورنیو چارو کې یې لاسوهنه وکړی او یا دومره اوږدې جګړې

او بې ثباتۍ پرې وتپي . د حاکمه کړیو ځان ساتنه ، معامله ګرۍ ، د شخصي ګټو په نسبت ملي ګټو ته ارزښت نه ورکول ، په هسې پوچو شعارونو د خپلو ولسونو تیر ایستل دا ټول ددې سبب شول ، چې تر اوسه پورې افغانستان ویشلی ، وروسته پاتې اود هرکس اوناکس د یرغل ، لاسوهنې او توطیې سره مخامخ شي . اوس د ټولو ملي ، وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو دا عقیده ده چې له امو نه تر اباسینه پورې د یو خپلواک او واحد افغانستان ازادي او جوړښت یواځې د دې هیواد د ولسونوله وسه پوره دی. ولسونه نور خپل دوست او دښمن پیژني ، ډیر ژر به دوستان د دوستانو سره د خپلو شریکو د ښمنانو په وړاندې یوکیږي ، خپل ځانونه او خپل هیواد به دمحکومیت او بربادۍ څخه ژغوري. په خپل ټول هیواد کې به سوله ، ثبات اوملي یووالی ټینګوي او د هرتیري کوونکي په وړاندې به دخپل هیواد له ځمکنۍ بشپړتیا څخه د فاع کوي.
ځینې کسان بیا د ډیورنډ د کرښې د مشروعیت او نه مشروعیت په هکله سوال کوي او د دې مسالې حل د هغه وخت سره تړي چې انګریزانو له هند څخه د وتلو تکل کړی و . داچې دا مساله دومره زیاته وځنډیده اوتر اوسه یې د حل لار نه ده موندلې ،نه چې مطرح کول یې مشروعیت له لاسه نه وي ورکړی. په دې هکله باید روښانه شي ، چې دهیڅ استعماري هیواد معاهدې د مستعمرو سره هیڅ ډول قانوني بنه نه لري او په زور او جبر پرې تپل شوي دي او تپل کیږي. د انګریزانو په واسطه د افغانستان اشغال د کوم قانون له مخې شوی و؟. همدارنګه ایا د افغانستان تجزیه او یوه غټه برخه یې ترې بیلول او په ځان پورې تړل او د بلې برخې ، نه یواځې بهرنی سیاست یې تر خپل کنترول لاندې ر اوستل ،بلکې همیشه ورته کورنۍ لانجې جوړول او لاسوهنه پکې کول قانوني وو؟ هیڅ داسې یو استعماري هیواد به پیدا نه شي چې د جګړو له لارې یې نور هیوادونه لاندې کړي نه وي او په مستعمرو یې نه وي بدل کړي . خو کله چې د مستعمرو خلک

وینې شي او د دې وړتیا پیدا کړي چې ځان د استعمار له منګولو څخه وژغوري ، نو د استعمار پر ضد راپاڅیږي او هیڅ دا پوښتنه ترې څوک نه کوي چې دا ستاسې پاڅون قانوني دی او که نه دی ؟ کله چې انګریزانو زموږ پر هیواد تیری وکړ لږ وروسته د افغانانو د مقاومت سره مخامخ شو او دې مقاومت ترهغې پورې په مختلفو شکلونو دوام وکړ ،چې تر څو انګریزان له هند څخه ووتل . که مخکې د انګریزانود ځواکونوپه موجودیت کې د افغانستان د خپلواکۍاعلان ستونزمن کار و، نو کله چې انګریزان مجبور شول له هند څخه ووځي ، افغانانو باید سمدستي خپله خپلواکي اعلان کړې وای او له امو څخه تر اباسین پورې د خپل هیواد یووالی یې لکه د پخوا په څیر د یو دولت په و جود کې منځته راوړی وای. دا چې داسې ونه شول او تر اوسه پورې افغانستان ویشلی او د پردیو تر واک لاندې دی، یوه تاریخي اشتباه وه او ده. خودا دا مانا نه ورکوي چې افغانانو د خپل هیواد د یووالي اوخپلواکۍ حق له لاسه ورکړی دی. افغانانو لکه چې په هغه وخت کې د انګریزانو په وړاندې د خپلواکۍ د لاسته راوړو د پاره د مبارزې حق درلو د ،اوس هم د پنجابي استعمار په وړاندې د افغانستان د خپلواکۍ او یووالي د پاره د مبارزې نه یوائې حق لري ، بلکې که دا مبارزه ونه کړي ، شتون اوبقایې په خطرکې دي.

د پنجابي استعمار اجنټان په ۱۹۴۹ کې پارلمان اوپه **۱۹۵۵** کې لوې جرګې له خوا د انګریزانو سره د ټولو معاهدو لغو کول د پاکستان سره په رسمي توګه د دښمنۍ په لار روانیدل ګڼي او پروپیګنډې کوي چې ګڼې باچاخان هیځکله د پښتون دیووالي اویا ډیورنډ د کرښې د نه منلو په هکله څه نه دي ویلي او لکه د نورو کانګرسي مشرانو په څیر یو « هندي ناسیونالیست » و،خو کله چې کانګرس هغه یوائې پریښود ،نو بیا پښتون قوم پرست شو. په دې اړوند باید وویل شي چې:

د انګریز سره تړول معاهدات په زور ، جبر او توطیې سره پر افغانانو تپل شوي وو او هیڅ ډول حقوقي ارزښت یې نه درلود . کله چې انګریزان په افغانستان او هند کې وو په هغه وخت کې هم د افغانستان خلکو د انګریزانو پرضد د یو جابر استعماري ځواک په توګه خپلو ازادي ښنونکو مبارزو ته دوام ورکړی و او هیڅ ډول معاهدې یې نه منلې .
داچې د اومې دورې پارلمان او بیا ورپسې لویې جرګې په ۱۹۴۹ او۱۹۵۵ کلونوکې د انګریز سره د تړولو معاهدولغوه کول اعلان کړل یوه فارملیتې وه ، ځکه چې معاهدې هیڅ ډول د خلکو استازو ارګانونو نه وې لاسلیک کړې او هیڅ ډول حقوقي ا رزښت یې نه درلو . دا افغانان نه وو ،چې د پاکستان سره یې دښمني پیل کړې ده ، بلکې پاکستان و چې دخپل منځته راتلو د لومړۍ ورځې څخه یې د افغانانو پرضد د انګریز انو د پلان سره سم د ډیورنډ د کرښې په واسطه د افغانستان د ویشلو توطیې ته دوام ورکړ او په نیم افغانستان یې خیټه اچولې ده او د واک لاندې افغانانو باندې له هیڅ ډول ظالمانه د ځپلو پالیسۍ له تپلو څخه یې ډډه نه ده کړې . همدارنګه دنیمې بلې برخې افغانستان په کورنیو چارو کې یې تل لاسوهنه کړې ده ، د جګړو او بې ثباتۍ په زیاتوالي او اوږدیدوکې یې غټه برخه درلوده ، پرتجارتي مالونو باندې بندیزونو اوتیریو ته یې دوام ورکړی دی. پر باچاخان باندې په دروغو د تورونو لګول څه نوی کار نه دی. باچاخان نه یواځې د پښتنو ، بلکې د ټولو افغانانو منلی مشر و ، چې له دې کبله ورته خلکو فخر افغان لقب ورکړی و. د افغانانو \پښتنو د بیدارۍ ، یووالي او خپلواکۍ دپاره د ده اوږدې هلې ځلې او مبارزواو په دې لار کې د جیلونو او کړاوونو له ګاللو څخه هیڅوک سترګې نه شي پټولی. د افغانانو دې ستر ملي مبارز ته د« هندي ناسیونالیست » نوم ورکول ، نه یواځې له واقعیتونو څخه سترګې پټول دي ، بلکې دافغانانو د ملي ارزښتونو سره په ټکرکې د پردیو د نوکرانو کار دی. همدارنګه دا

تور چې باچاخان د پښتنو د یووالي او د ډیورنډ کرښې د نفې ذکر نه دی کړی بې له دماغي ناروغ څخه ، چې د یاد ساتلو هیڅ وړتیا نه لري ، بل څوک نه شي لګولی. باچاخان نه یواځې خپل ټول ژوند د پښتنو یووالي او د ډیورنډ کرښې نفې د پاره وقف کړی و ، بلکې په عمل کې یې په خپل وصیت سره ، چې وروسته له مړینې یې جنازه په جلال اباد کې خاورو ته وسپارل شي دغه ارمان تر سره کړیدی.

اوس هم د پنجاب استعماري سیاست په چوپړ کې کسان دلوی افغانستان د پاره د مبارزینو د بې اعتباره کولو په خاطرپروپیګنډې کوي چې : داسې خو به نه وي چې د هغو خلکو دریځ ، چې د ډیورنډ کرښه نه مني او له اموڅخه تر اباسینه پورې ځمکه خپله خاوره ګڼي د پاکستان د حاکمې دستګاه د دې ادعا سره اړخ لګوي ، چې ګڼې په افغانستان کې د پښتنو د ګټو ساتونکي دي. چې له دې موقف نه په عمل کې داسې انګیر ل کیږي ، چې لر او بر یومسلمان او افغانستان د پاکستان دیفاکتوبرخه ده.

د تعجب خبره ده چې ځینې ډیر واړه امتیازات د ځینو کسانو سترګې دومره ړندې کړې دي چې د ځلانده لمر اویوې تتې ډیوې چې د سوال په تیلو نیم ژواندې بله وي توپیر نه شي کولای. د پنځه زره کلونو لرونکی د امپراطوریو هدیره، طبیعي افغانستان ،په هکله په خپلو ورستو مغزوکې انګیري چې ګڼې بې تاریخه په سوال جوړ شوی پاکستان به دومره ځواکمن او پراخه وي چې له امو څخه تر اباسینه پورې افغانستان به یې یوه دیفاکتو برخه وګرځي . پاکستان چې د انګریزانود توطیو پر بنسټ د لکونو مسلمانانو په وینو سور د اسلام په نوم منځته راغی، یواځې د ټوپک په زور خپل موجودیت ته دوام ورکوي . د انګریزانو د استعماري سیاست په پیروۍ بنګالیان ،سندیان ، بلوڅ او پښتانه یې د پنجاب د استعمار لاندې راوستل او په ډیر کرغیړن ډول یې د ټولو دغو

ملتونوځپل اوځبیښل پیل کړل . بنګالیان د پنجاب د استعمار پرضد راپاڅیدل په نره یې ځان ترې خلاص کړ او بنګله دیش یې جوړ کړ .
بلوڅان خولا پخوا دخپلو مشرانو او ګڼ شمیر ځوانانو د شهادت په بدل کې نوره د پنجاب واکمني نه مني او خپله خپلواکي غواړي . افغانان هم نور په دې باور دي ، چې په لر او بر ټول افغانستان کې د افغانانو غمیزه د ډیورنډ د کرښې په واسطه د افغانستان په ویشلو کې نغښتې ده . همدا ټوټې ټوټې افغانستان دی ، چې د بهرنیو تیریو ، لاسوهنو او توطیو په وړاندې له ځان څخه دفاع نه شي کولای . یواځې له امو څخه تر اباسینه پورې واحد افغان ملت کولای شي دخپلو ملي نوامیسو څخه دفاع وکړي او د افغانانو اوږدې غمیزې ته دتل دپاره د پای ټکی کیږدي . سپین سترګي او بې حیایي د ې هم دومره وي لکه چې د پاکستان حاکمان او د دوئ اجنټان یې لري . له یو پلوه یې د پښتون بربادۍ پسې بډې وهلې دي او له بل پلوه ځان په افغانستان کې د پښتنو د ګټو ساتونکي بولي !. ایا په نیم افغانستان کې استعماري واکمني ټینګول دپښتنو د ګټو ساتنه ده ؟ایاپه ازادوقبایلو کې د انګریزانو استعماري سیاست ته دوام ورکول او د پښتنو بچي د هرډول علمي تخنیکي پوهې لاسته راوړو څخه محروم او د ټولو نړیوالو پرمختګونو اوعلمي ښیګڼو څخه لیرې ساتل د پښتنو د ګټو ساتنه ده ؟ په صوات ، باجوړ ، مومندو او وزیرستان کې د پښتنو عام قتلونه ، د پښتنود مشرانو سیستماتیکه وژ ل او جیلونه پرې ډکول ، په کونړ باندې هره ورځ په لسګونو توغوندي ورول ، په افغانستان کې د ویجاړونکو جګړو د اور بل ساتلو د پاره توطیې کول ، د ای. اس. ای. په شیطانت د پښتنو مشرانو تر منځ د بې باورۍ منځته راوړل ، د مهاجرو پښتنو څخه د پاکستان جیلونه ډکول او په پای کې د امریکې د سي. ای. ای. سره د پښتنو د ځپلو د پاره د ای.اس. ای. ګډ پلانونه جوړول او داسې نورې ډیرې توطیې دپښتنو د ګټوساتل دي اوکه دپښتنوسره دښمني ده ؟

پاکستان د دې د پاره د ا د شیطانت شعار ورکوي ،چې د افغانانو د ملي يووالي روحیه کمزورې کړي او نور قومونه د پښتنو پر ضد ودروي. خو افغانان د پاکستان په منافقت پوهیږي او خپل دوست او دښمن پیژني.
د افغانستان د ویشلو په وړاندې دځینو حکومتي مشرانواو کړیو دریځونه:
د دې ملي مسلې په اړوند افغاني حکومتي مشرانو له خپل ځان څخه په مناسب وخت کې هیڅ ډول جدي ، پریکنده او سنجول شوی دریځ نه درلود. امیر عبدالرحمن خان د انګریزانو سره د افغان واحد ملت د بیلتون کرښه ( ډیورنډ ) د افغان ملت څخه په پټه منلې ده. ده کولای شول ملت د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا څخه په دفاع کې ودروي. خو د انګریزانو د دوړ دباب او په ملت کې د ځینو مخالفتونو له ویرې ، چې تاج او تخت یې له لاسه لاړ نه شي د افغانستان نیمولو او په نیم، هغه هم د ملي حاکمیت څخه محروم، افغانستان باندې قناعت وکړ او په ټول تاریخ کې یې ځان د پاره افغانانو په زړونو کې کینه او نه درناوی وګټل. تاریخ شاهد دی ، چې افغانانو د امیر دغه پریکړه نه یوائې نه ده منلې ، بلکې د انګریزانو پر ضد د خپلې خپلواکۍ اود امیرتر ولکې لاندې برخې سره د بیرته یوځای کیدو د پاره پرله پسې او اوږدې جګړې سرته رسولي دي او انګریزانو ته یې د سر او مال ډیر زیانونه اړولي دي. خو بې د ملي زعامت د درلودلو څخه ازادي بښونکې جګړې د ډول ډول ستونزو سره مخامخ کیدای شي او خپلواکۍ ته رسیدل ستونزمن او ډیرو تلفاتو سره ملګری وي. ځینې تاریخ پوهان امیر ته ورپاتې افغانستان کې د مرکزي دولت ټینګول ستایي ، خوانګریزانو ته د نیم افغانستان څخه تیریدل یې نه جبرانیدونکې اشتباه ، نیمګړتیا اوجفا ګڼل کیږي.
امیر حبیب الله خان ته د امیر عبدالرحمن خان ځنې ورپاتې نیم افغانستان د کورنیو جګړو او حکومتي ضد مخالفتونو نه پاک ، له هره

پلوه ارام هیواد په برخه ورسید . خو بنستېزه ستونزه او پر ملت باندې استعماري توره خپسه د انګریزانو په واسطه د نیم افغانستان غصب او د بل نیم افغانستان د بهرني سیاست د سرته رسولو څخه محروممول و . کیدای شول چې د پادشاه کیدو سره سم یې د دغې خپسې څخه د ژغورلو د پاره هلې ځلې پیل کړې وای. ځکه چې په دربار کې هم د امان الله خان په ګډون ډیر کسان د دې غوښتونکي وو او خلک هم په دې لار کې ،چې د استعمار له تورو منګولو څخه افغانستان وژغوري هر ډول سرښندنو ته چمتو وو .خو امیر د یوکم شمیر محافظه کارو درباریانو د مشورو په پام کې نیولو سره دې سترملي ارمان ته شاکړه او په موجوده نیم افغانستان کې د رغولو په کارونو یې بسنه وکړه. په لومړي سرکې یې یو څه مدرسې او ښوونځي جوړ کړل او یو شمیر نور کارونه سرته ورسیدل ، چې د خلکو په ژوند یې مثبت اغیز درلود ، خو د ملي زعامت وړتیا یې نه درلوده او د فیشن او عیاشۍ ژوند ته یې مخه کړه . چې له کبله یې نه یواځې دربار بلکې ټوله حکومتي دستګاه په فساد او بیوروکراسۍ کې ډوبه شوه ترڅو مړ او پرځای یې امان الله خان پادشاه شو.

امان الله خان د پادشاه کیدو سره سم د افغانستان خپلواکي اعلان کړه او په دې سره یې ټول ملت تر شا ودرید او د غازي لقب یې ورکړ. انګریزانو د خپلواکۍ د اعلان څخه وروسته سمدستي د افغانستان سره د جګړې ګواښ وکړخو امان الله خان دخپل پلار او نیکه په څیر د انګریزانو له دوړ دباب څخه ډار ونه کړ او د خلکو په ملاتړ باندې په ډاډ سره په خپله پریکړه ټینګ ودرید. افغانانو د پاره د خپلواکۍد لاسته راوړواو د یرغلګر انګلیس پرضد د جهاد د سرته رسولو جګړه پیل شوه . افغانانو د خپلو ملي نوامیسو او اسلام د مقدس دین د ارزښتونو څخه د دفاع په خاطر ، چې د انګریزانو له خوا د خطر او تیري سره مخامخ شوي دتیري کوونکو پر ضدجهاد پر ځان فرض ګڼلو او پرنګیانو د افغانانو د

ښکیلاک د پاره ناولې جګړې ته ملا تړلې وه . همدا سبب و، چې ټول افغان ملت په یو اواز راپاڅیداو په سر او مال یې جهاد کې برخه واخسته. نژدې و، چې انګریزان د بشپړې ماتې سره مخامخ او د افغانستان ټولې غصب شوې سیمې د جګړې له لارې ازادې کړي او دښمن له اباسین څخه تیر کړي. نو ځکه ددې د پاره چې ځان د دې شرمیدلې ماتې نه وژغوري انګریزانو امان الله خان ته د سولې وړاندیز وکړاو د سولې په خبرو کې یې د امان الله خان د حکومت په رسمیت پیژندلو او د بهرني سیاست واګې افغانانو ته د پریښودلو په بدل کې د امیر عبدا لرحمن خان او امیر حبیب ا لله خان سره د شوو موافقو په منلو سره بیرته نیم افغانستان د خپل غصب لاندې وساته. امیر امان ا لله خان د غه فرصت، چې د ملت په مټ یې د ټول افغانستان، له امو څخه تر اباسینه پورې ، خپلواکي ګټله له لاسه ورکړاود ستر ځواکمن افغانستان پرځای د کمزوري او ویشل شوي افغانستان پادشاه شو، چې له خپلو ملي نوامیسو او ځان څخه دفاع اود انګریزانو د توطیو مخنیوی ورته ستونزمن شول .

کله چې د نادرخان او ورونو په مشرۍ د سقاو د ځوی واکمني پای ته ورسیده او نادرخان پادشاه شو، نو ایله د نیم افغانستان د کورنیو چارو په سرته رسولو کې مصروف شول . سیاسي واک ته د رسیدو ورځ یې د خپلواکۍ ورځ و نوموله. د نادرخان په مرګ سره کله چې ظاهرشاه پادشاه شو اوسردار محمد هاشم خان لومړی وزیر و، نود دولتي واک په ټینګیدو کې د پخوانیو تجربو څخه په ګټې اخستو سره یې د امان الله خان تجربه تکرار نه کړه او د انګریزانو سره یې خپل اړیکي ښه کړل. همدا سبب و ، چې حتی په هغه وخت کې چې انګریزان د باچاخان په مشرۍ خدای خدمتګارانو سره په اخ و ډب اخته و افغان حکومت د انګریزانو د نه خفه کولو په غرض د خدایي خدمتګارانو سره د خواخوږۍ ، مر ستې اوګډ دریځ څخه ځانونه په ډډّه کړل او د هغه وخت له فرصت نه چې انګریزان له

هند نه وتل هیڅ ګټه وا نه خستل شوه ، چې د استعمار لاندې افغانستان د خپلواکۍ د پاره ټول افغانان ، له امو څخه تر اباسینه پورې، په یوه اواز راپاڅیږي او د خپل هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع وکړي او خوندي یې کړي . د دې د پاره چې د دغې ازادۍ بښونکې مبارزې د زعامت وړتیایې ځان کې نه لیدله ، نو د استعمار له منګولو څخه د محکومې برخې د ژغورلو او د خپلواکې برخې سره د یو کیدلو د غوښتنې پر ځای یې « پښتنو او بلوڅوورونو ته د خود ارادیت » غوښتنه رامنځته کړه او په دې ډول یې انګریزانو ته ، چې دافغانستان غصب شوې برخه یې په نه بښونکې توطیې سره پاکستان پورې تړله ، ځان له مدعي توب څخه منځګړیتوب ته راټیټ کړ. ځینې نور فرصتونه هم ، چې کیدای شول په اسانۍ سره د افغانستان غصب شوې برخه د پنجاب له استعمارڅخه وژغورل شي په یوه اوبله پلمه د ظاهرشاه د واکمنۍ په وخت کې له لاسه ولاړل . د نادرشاه په کورنۍ کې سردار محمد داود خان ، کله چې د ظاهرشاه صدراعظم و ، دې مسالې په اړوند یوڅه د پام وړ کارونه سرته ورسول ، چې د هغوئ له جملې څخه د پاکستان پر ضد د عمومي سفربرۍ اعلان و ، چې د څو ورځو په د ننه کې په لسګونو زره افغانان د هیواد له هرې برخې څخه په خپله خوښه او د لوړو احساساتو په ښودلو سره راټول شول ، چې که د ځینو محافظه کارانو له خوا د انتقاد او مخالفت سره نه وای مخامخ شوی ، کیدای شول له اموڅخه تر اباسینه پورې ټول افغانستان کې په یو ملي ازادي بښونکي سراسري غورځنګ تبدیل شوی وای او دافغانستان د غصب شوې برخې په ازادیدو او یو کیدو کې اغیزمن رول لوبولی وای.

د خلقیانو د واکمنۍ په وخت کې د افغانستان د غصب شوې برخې د ازادۍ او بیرته یووالي د پاره رښتیانۍ غوښتنې او هلې ځلې او مساعد عیني او ذهني شرایط موجود وو . که د خلقیانو واکمني د روسانو له خوا

پای ته نه وای رسیدلې ، کیدای شول له امو څخه تر اباسینه پورې د خلکو د یوملي ازادي بښونکي پاڅون په سرته رسیدو سره د افغانستان یو والی منځته راغلی وای او هیچابه یې د مخنیو ي وسه نه درلودلای . لومړی ځل و ، چې د تاریخ په اوږدو کې د دولت درباري ژبه پښتو شوه . جمهور رییس،نورمحمدتره کي تل په پښتو خبرې کولې ، صدراعظم او وزیرانو هم په پښتواو دري دواړو خبرې کولې . کله چې د ریاست جمهوري د دفتر ژبه پښتو شوه نو ورسره سم په رادیو تلویزیون او مطبوعاتو کې د پښتو ژبې برخه د خپل استحقاق په کچه زیاته شوه . همدارنګه کله چې جمهور رییس ، صدراعظم او وزیران د خپلو ښځو سره په ملي لباس کمیس ، پرتوګ او پوړني کې عام محضر کې څرګند شول ، بې له دې چې کوم فرمان موجود وي ، د مرکز او ولایتونو اکثرو ښځو کمیس، پرتوګ او پوړنی د ځانونو د پاره د لباس په توګه ومانه . د دې تر څنګ صدراعظم حفیظ ا لله امین به تل په خپلو خبرو کې تکراروله چې له امو څخه تر اباسینه پورې ټول خلک یو د بل ورونه دي ، دوئ کولای شي بې له کومې ستونزې هر چیرته چې وغواړي لاړ شي ، هیڅوک یې مخه نه نیسي . ټول دا او داسې نور کارونه و ، چې د ډیورنډ د کرښې اخوا افغانان د ډیورنډ د کرښې دې خوا افغانستان د خپل هیواد په څیر وګڼي او د ثور د پاڅون د لومړی کلیزې په مراسمو کې په یوه شپه کې له ۴۰ زرو څخه زیات کسان بې له دې چې له چا نه اجازه وغواړي د تورخم له لارې جلال اباد ته راشي ، په مراسمو کې ګډون وکړي او بیرته لاړشي . خو په خواشینۍ سره شورویانو ، چې له دې بهیر څخه د بهرنیو چارو د وزارت معین شاه محمد دوست د ببرک کارمل له لارې خبر کړي ول ، په خپل څنګ کې یې یو ځواکمن افغانستان نه شو زغملای ، نو دخپلو اجنټانو په واسطه یې د خلقیانو د مشرانو( نورمحمدتره کي او حفیظ الله امین ) تر منځ د بې اتفاقۍ اور بل کړ او په ډیر خاینانه ډول یې د دوستانو په جامه کې د

افغانستان د یووالي د داعیې کلک پلویان دتوطیې او بربنډ تیري په ترسره کولو سره له منځه یوړل او پر ځای یې خپل ګوډاګی ، د افغانانو د بیرته یووالي دښمن ، ببرک کارمل قدرت ته ورساوه.
د یو بهرني ځبر ځواک له خوا په یو اشغال شوي هیوا کې یوګوډاګی حکومت به د داسې یوې سترې ملي مسالې لکه د ډیورنډ د کرغیړنې کرښې په وړاندې ، چې افغان واحد ملت یې په دوو ټو ټو ویشلی دی ، څه دریځ وي . طبیعي خبره ده چې د کارمل ګوډاګي حکومت به هغه دریځ درلو د چې شوروي اتحاد درلود . شورویانو هیڅ وخت نه غوښتل چې په خپل څنګ کې داسې ځواکمن اوخپلواک افغان دولت ولري ، چې د هرډول تیري ، لاسوهنې او توطیې په وړاندې د مخنیوي جوګه وي. وایې چې د ببرک کارمل ګوډاګي حکومت پاکستان ته وړاندیز کړی و ، چې که د کارمل ګوډاګی حکومت په رسمیت وپیژني او پرضدیې له خصومت څخه لاس واخلي ،نو دوئ به هم د ډیورنډ کرښه په رسمیت وپیژني . خوپاکستان دامریکې اومتحدینو د فشار له امله د روسانو په واسطه قدرت ته رسول شوي حکومت له پیژندلو نه ډډه وکړه.
کله چې روسانو او د دوئ پواسطه جوړ شوي لاسپوڅي حکومت ماتې وخوړه او مجاهدین کابل ته راننوتل ، نو د تنظیمونو ترمنځ سیاسي قدرت ته د رسیدلو د پاره جګړه پیل شوه. په افغانستان کې د یو مرکزي دولت پر ځای تنظیم شاهي منځ ته راغله . کله چې په یوهیواد کې خپل منځي شخړې پیل شي ، نو د ملي مسالو د اواریدو خبره چې تر ډیرې اندازې پورې د بهرني سیاست او کورني ملي ځواکونو تر منځ یو منطقي تناسب ته اړتیاده شاته غورځیږي. په کابل کې د جمعیت او نظار شورا په مشرتابه د شمالي ټلوالې واکدارۍ هم د یوسرتاسري حکومت بڼه غوره نه کړه او که غوره کړې یې وای ، نو هم دا باور نه و ، چې دوئ به د ډیورنډ مساله د خلکو د غوښتنو سره سمه اواره کړې وای. په دې کې شک نه شته

چې د افغانستان ټول خلک په هر قوم پورې چې تړلې وي د افغانستان د ملي نواميسو ،په هغه جمله کې له امونه تر اباسينه پورې د ځمکنۍ بشپړتيا د خونديتوب او د ټولو افغانانوديووالي څخه په دفاع کې هر ډول سرښندنو ته چمتو دي .خوپه خواشينۍ سره شته يوشمير متعصب تنګ نظري سکتارستان ، چې د قوم او ژبې تعصب يې دومره سترګې ړندې کړې اوملي غرور يې ورله ټيټ کړی دی ، چې د ازاد سرلوړي ژوند څخه د پردو تر اسارت لاندې د غلامۍ په سرټيټي ژوند باندې خوښ دي . د ټول افغان ملت د هيلو او غوښتنو سره په ضديت کې له خپل ملي ناموس څخه تيريږي او د پنجابيانو او انګريزانو د اجنټانو دنده سرته رسوي او هلې ځلې کوي او ناروا دليلونه راوړي ، چې بايد د ډيورنډ کرغيړنه کرښه په رسميت وپيژندل شي تر څو د پاکستان له شر څخه افغانان خلاص شي . په داسې حال کې چې د ډيورنډ د کرښې په واسطه ټوټې شوي افغانستان د ځان څخه د دفاع وړتيا له لاسه ورکړيده اوتل د پرديو د تيريو او لاسوهنو سره مخامخ دی . له امو څخه تر اباسينه پورې متحد افغانستان کولی شي له ځان څخه د بهرنيو تيريو او لاسوهنو په وړاندې دفاع وکړي . څوک چې د ډيورنډ کرښه نه مني او باور لري چې يوائې خپلواک متحد له امو څخه تراباسينه پورې يوموټی افغانستان کولای شي خپل شتون ته دوام ورکړي ، دوئ بيا د متعصبو سکترستانو له خوا په دې تورن کيږي ،چې غواړي د ډيورنډ دکرښې په لغو کولو سره د کرښې اخوا پښتانه د کرښې دې خوا پښتنو سره يوځای شي ، تر څو په دومره اکثريت کې شي ، چې هميشه پادشاهي يا رياست جمهوري د پښتنو په لاس کې وي . څومره واړه خلک او څومره يې واړه او ټيټ فکرونه ! که باثباته ، سوله ايز او د پرديو د تيريو ، لاسوهنو اوتوطيو نه خلاص افغانستان جوړ شو ، نوهرومرو به داسې يو نظام لري ، چې د قوم ژبې او مذهب تعصب پکې نه وي ، هرڅوک چې وړتيا لري هغه به مخکې

کیږي او ټول افغانان به یوشان ویاړي چې افغانستان د دوئ وطن دی او دوئ د افغانستان بچي دي.
د طالبانو حاکمیت د افغانستان په دننه کې د ۹۰ په سلوکې څخه زیاتو برخو کې ټینګ شو. له همدې کبله سوله ټینګه شوه او ثبات منځ ته راغی. یواځې پاکستان ، سعودي عربستان او عربي اماراتو د طالبانو حکومت په رسمیت وپیژاند ، خو د نړۍ نورو هیوادونو یې له پیژندلو څخه ډډه وکړه. له همدې کبله هغوهیوادونو چې د طالبانو واکمني یې په رسمیت پیژندلې وه د دولتي کارونو په سرته رسیدو کې د طالبانوسره د مشاورینو له لارې مرسته کوله او په دې ډول یې پر حکومت اغیز درلود. څرنګه چې پاکستان هم یو له دغو هیوادونو څخه و، نو ځکه دا دومره اسانه مساله نه وه چې اواره شوې وای.
کله چې امریکایانو او ملګرویې افغانستان ونیو ، د بن د کنفرانس پر بنسټ لومړی مؤقت ، بیاانتقالي اوورپسې انتخابي حکومتونه د حامد کرزي په مشرۍ منځته راغلل . څرګنده شوه چې دمؤقت حکومت د جوړیدوڅخه نیولې تر انتخابي حکومت پورې ټول حکومتونه د بهرنیو هیوادونو د افغاني اتباعو ، چې د دغو هیوادونو د ګټو د ساتونکو دنده یې سرته رسوله او کورنیو زور واکانود استازو له خوا جوړ شول. په دې حکومتونو کې د ټولو ملي وطنپالو شخصیتونو، د هیواد په دننه کې وو او که د هیواد څخه بهر په نورو هیوادونو کې اوسیدل ،دبرخې اخستو مخه و نیول شوه . همدا سبب و ، چې د حامد کرزي په مشرۍ ټول حکومتونه لاسپوځي حکومتونه وو او ملي منځپانګه یې نه درلوده . له همدې کبله و، چې دپام وړ هیڅ ډول ملي مساله او د افغانانو ستونزه یې اواره نه کړه. په میلیونونو افغانان لاتر اوسه پورې په بهرنیو هیوادونو په تیره بیا پاکستان اوایران کې د ستونزو او سپکاویو ډک ژوند تیروي ، خو د حامد کرزي حکومت تر اوسه پورې د دې کډوالو خپل هیواد ته د

بیرته راستنیدو هیڅ ډول پروګرام تر لاس لاندې نه دی نیولی. همداسې د پردیو په اوږو ناست دي او د خپلې واکدارۍ شپې او ورځې شماري. همدارنګه په هیواد کې سوله او ثبات ټینګ نه شول ، فساد ،نا امني او بې قانوني لوړې ، بې کورۍ او بیکارۍ ، د کورنیو او بهرنیو ځواکونو ظلمونو د حکومت او بهرنیانو په وړاندې د خلکو کرکه لوړې کچې ته رسولې ده . د کرزي لاسپوڅی حکومت دومره له خلکو تجرید او د افغانانو په ملاتړ بې باوره دی ، چې د بهرنیو هیوادونو د تیریو او لاسوهنو په وړاندې حتی یو اعتراض هم نه شي کولای. په کونړ باندې د پاکستاني پوځیانو د راکټونو پرله پسې ورولو په وړاندې د کرزي دحکومت نه غبرګون او داسې نورې بیلګې دا په کلکه په ګوته کوي چې یوازې هغه حکومتونه د ملي نوامیسو د خوندیتوب او دفاع وس لري ، چې د خلکو په واسطه منځته راغلي وي ، خلک پکې ګډون ولري او د خپلو خلکو ملاتړ ورسره وي.

له دې ټولو بیلګو څخه څرګندیږي ، چې د ملي نوامیسو ( خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ) د خوندي کولو او ساتلو بنسټیز ځواک د هرهیواد خپل خلک دي. دا د افغانستان خلک دي ، چې تر اوسه یې د هر بهرني یرغلګر په وړاندې د خپل هیواد د خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع کړیده . خوخلک په هغه وخت کې په یو نه ماتیدونکي ځواک بدلیږي ، چې د یوملي زعامت په لرلو سره ځان د بې اتفاقۍ ،نه انسجام ، بې تفاوتۍ او بې هدفۍ له کمزورتیاوو نه وژغوري. هغه خلک په یونه ماتیدونکي ځواک بدلیږي ، چې دیو هدف دلاسته راوړو د پاره په میلیونونو کسان د بې تفاوتۍ له خپسې نه په راوتو سره په یو اتفاق په منسجم ډول راولاړ شي . دا کار چې په میلیونونو افغانان د یو ملي هدف تر شا ودرولی شي ، د یو شخص کار نه دی. ددې کار دپاره باید یوملي زعامت منځته راشي . ملي زعامت په دې مانا چې د

افغانستان د ټول ملت په کچه (له امو څخه تر اباسینه او له چتراله تر عرب بحیر پورې ) د خلکو استازی زعامت منځته راشي . دملي زعامت دغه جوړښت به د زعامت د چارو سرته رسولو د پاره یو مکانیزم منځته راوړي اوخپل اهداف به ټاکي . خو لومړنی هدف به د افغانستان د دوارو برخو ترمنځ د یووالی ټینګښت ، د ملي نوامیسو څخه دفاع او دهر ډول بهرنیو تیریو ، لاسوهنواو توطیو په وړاندې په ګډه دبیرته یو شوي ستر ملت مقاومت او مبارزه وي .

---

*- دا لیکنه د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۲۸ نیټه د «رښتیا» په ویب پاڼه کې خپره شویده.

## که د ډیورنډ د کرښې په واسطه ویشل شوی افغانستان بیرته یو نه شي ، نو د افغانستان په نوم هیواد به د موجوده توطیو څخه د وتلو او بقا وړتیا وه نه لري*

نه یوائې داچې افغانستان د بهرنیو هیوادونو له خوا د اشغال او لاسوهنو په واسطه د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ له نعمتونو څخه محروم کړل شوی دی ، بلکې هلې ځلې کیږي چې د مختلفو اړخونو ، ډلو او ټیمونو څخه داسې توطیې په کار ولویږي چې د افغانستان نوم بیخي دنړۍ له نقشې څخه ورک کړل شي . د یوهیواد خپل خلک د هغه هیواد د بقا او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع کوي ، نه پریږدي چې نور هیوادونه پرې تیری وکړي او ځمکنۍ بشپړتیا یې له منځه یوسي . یانې دا چې د یوهیواد خلک نه پریږدي ، چې د دوئ د هیواد یوه وړه ټوټه ځمکه ترې بل څوک واخلي او غصب یې کړي ،دا دهغه هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع ده . یا په بله وینا د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ تر څنګ د یو ملي ناموس څخه دفاع ده ، چې خلک یې د سر او مال په بیه ساتي او هیچاته یې نه پریږدي چې تیری پرې وکړي او یا زیان ورورسوي . دملي نوامیسو څخه دفاع د هر هیواد د ټول ملت فریضه ده . یا په بله وینا د هیواد هر وګړی ځان د خپل ناموس څخه په دفاع کې مکلف ګڼي . نو ځکه کله چې له بهر څخه کوم تیری کیږي ، نو ټول ملت یې په وړاندې مقابله کوي ، ځانونه قربانوي ، خو نه پریږدي چې ناموس یې د خطر سره مخامخ شي . په دې کار کې هغه ملت بریالی دی ، چې په یوه خوله وي او ټول خلک د خپل هیواد ملي ناموس ته د خپل ناموس په سترګه وګوري.
همدارنګه هغه ملت او خلک د خپلو ملي نوامیسو او یا په بله وینا په خپل اصلي هویت باندې د خپل هیواد د موجودیت نه دفاع کولای شي ، چې د

خپل ملي زعامت لرونکی وي. ملي زعامت اکثر د حکومتونو په بڼه وي ، چې نه یوازې په خپله ټولنه کې د خلکو د هوساینې د پاره د نظم او عدالت اړوند چارې پرمخ بیایي ،بلکې د ژوند اړونداقتصادي، د استوګنې ، روغتیایي ښوونیزې، روزنیزې ، مواصلاتي ،فرهنګي او نورو چارو لارښوونه کوي. د حکومت په ټولو چارو کې د ملت ګډون حتمي دی. د حکومت هیڅ کار باید له خلکو څخه پټ نه وي او هر کار چې کوي باید د هیواد اوملت په ګټه وي. خو یوازې هغه حکومتونه دا صفتونه لري چې د مشرتابه ټول غړي یې د خلکو له خوا ټاکل شوي وي ، له خلکو څخه ځانونه بیل و نه ګڼي او خپلې ګټې د ملت په ګټو کې ولټوي. همداسې حکومتونه ملي حکومتونه دي او د ملي زعامت تشه ډکوي. همدا ډول حکومتونه د خپل ملت باور لاس ته راوړی شي او په خپلو سیاسي دیپلوماتیکو او دفاعي چاروکې د خپلو خلکو ملاتړ ورسره وي چې بیا کولی شي د خپلو ملي نوامیسو او د هیواد دموجودیت څخه بریالۍ دفاع وکړي. که چیرته داسې کوم یو حکومت نه وي ، چې د ملي زعامت تشه ډکه کړي ، نو ملت مجبوریږي چې د خپلو دندود ښه سرته رسیدو دپاره په بله بڼه خپل زعامت منځته راوړي ، تر څو د دغه زعامت په لارښوونه خپله وړتیا زیاته کړي ، ستونزې له منځه یوسي ، خپل حکومت جوړ کړي او د دښمنانو د تیریو او توطیو په وړاندي د خپل هیواد له بقاو هویت څخه دفاع وکړي او ځان ته د سوکالۍ او پرمختګ شرایط منځته راوړي.

هغوهیوادونو کې چې حکومتونه له بهر څخه پرې تپل شوي وي او یا د ملت د خوښې پر خلاف د هیواد په دننه کې دملي ضد کړیو او یا ډلوپه واسطه پر ې د« بیل یې کړه ایل یې کړه » له پالیسۍ څخه په کار اخستوسره داسې حکومت تپل شوی وي، چې خپلو خلکو ته د خدمت پر ځای یوازې د ځان په ګټه کار کوي او دملت د غوښتنو پروا نه کوي او

ستونزې يې نه اواروي ، بلکې ورځ تر بلې يې ستونزې ډيريږي . نوملت بله لار نه لري ، بې له دې چې د خپلو ژغورلو په خاطر را پاڅيږي او تپل شوی ملي ګټو ضد حکومت نسکور او پر ځای يې د خپلې خوښې ملي ګټو ته وفادار حکومت منځته راوړي . هغه کارونه چې شخصيتونه ، ډلې او حکومتونه يې سرته نه شي رسولای ،کيدای شي ملتونه يې په ډيرې اسانۍ او کم وخت کې سرته ورسوي ، خو په دې شرط چې ملت ويښ وي او خپل زعامت ولری . دملت ويښول دملي وطنپالو روڼ اندو دنده ده . دا د هر هيواد روڼ اندي دي ، چې تر هرچا لومړی دهيواد او خلکو په ستونزو پوهيږي ، چې څرنګه منځته راغلي دي . بياهم دا روڼ اندي دي چې پوهيږي ، چې په څه ډول شته ستونزې له منځه تلای شي . که چيرته د يوهيواد ملي وطنپال روڼ اندي لومړی دستونزو په منځته راتګ او اواريدو په هکله خپله پوهه يوبل سره شريکه او بشپړه کړي او بيا همدا بشپړه شوې پوهه د ملت سره شريکه کړي ، باور دی چې ويده ملتونه راويښيږي اوبيا پوهيږي چې په څه ډول ځان له ستونزو څخه وژغوري . په اوسنيو شرايطو کې له شته ستونزو څخه زموږ د ژغورلو يواځينۍ لار له امو څخه تر اباسينه پورې د افغان واحد ملت راويښول او دخپل هيواد او ملي نواميسو څخه په دفاع کې يې ودرول دي اوبس . له دې لنډې سريزې نه وروسته اوس به راشو دې ته چې وګورو ايا دافغانستان په نوم اوسنی هيواد به وکړای شي ، چې پر خپل اصلي هويت باندې خپل شتون ته دوام ورکړي ؟ او څه وشي ، چې زموږ پنځه زره کلن د وياړونو ډک هيواد تاريخ او هويت راځنې څوک غلا نه کړي . په تيره بيا بې هويته او بې تاريخه په سوال جوړ شوی پاکستان ،چې نه يواځې پر نيم افغانستان د انګريزانو استعماري سياست ته د استعمار د بچي په څير دوام ورکوي ، بلکې دخپلو اجنټانو اواستخباراتي شبکو په مټ په نيم نور افغانستان کې د ژور ستراتيژيک نفوذ خوبونهويني او هره ورځ ، هر

ساعت او هره شیبه زموږ مظلوم ، خو مجاهد او قهرمان ملت له خپل ځان څخه د دفاع ازموینې سره مخامخ کوي.
لومړی باید دا وڅیړو ،چې له چا ځنې د اوسنیو ستونزو څخه د افغانانو په ژغورلو کې تمه کیدای شي ؟ له دولت څخه ؟ له سیاسي ګوندونو ، تنظیمونو او وسله والو ملیشو څخه ؟ له ګاونډیو هیوادونو څخه ؟ له نړیوالې ټولنې ، په تیره بیا امریکې اونورو هغو هیوادونو څخه چې په افغانستان کې په لسګونوزره وسله وال پوځونه لري ا و د کابل حکومت سره یې ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کړي دي ؟ او که د افغانستان د خلکو څخه ؟. اوس به هره کټګوري یوڅه په هر اړخیز ډول وڅیړو او له خپلو څیړنو وروسته به دې پایلې ته ورسیږ و چې د پورته نوموړو کټګوریو څخه له کومې کټګورۍ ځنې تمه کیدای شي ، چې په افغانستان کې د اوسنیو ستونزو او توطیو څخه د افغانانو د ژغورلو د پاره غوڅ او اغیزمن رول لوبولی شي.
د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت: دولت د هیواد اجراییه ، مقننه او قضا ییه ارګانونه په غیږ کې نیسي ، چې مشریې دهیواد جمهور رییس دی. دا یوولس کلونه کیږي ،چې د امریکې په مشرۍ نړیوالو وسله والو ځواکونو د تروریزم سر ه د جګړې په پلمه د طالبانو حکومت رانسکور کړ او د حامد کرزي په مشرۍ یې د شمالي ټلوالې او یوشمیر نورو د امریکې او متحدینو د باور وړ کسانو څخه مؤقت ، انتقالي او انتخابي دولتي دستګا وې منځته راوړې .
یوولس کلونه کیږي ،چې هم هغه کسان ، چې په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان د امریکې او متحدینو د یرغل نه وروسته قدرت ته رسول شوي وو ، په ډیر کم تفاوت ، لا تر اوسه په قدرت کې پاتې دي. شمالي ټلواله لا د طالبانود حکومت ترنسکوریدو مخکې دامریکې د جاسوسي سازمان ( سي . آی . ای. ) سر ه د یوې معاملې په ترڅ کې پر افغانستان

باندې د امريکې د يرغل د پلیو ځواکونو دنده په غاړه واخسته او له دې کبله د امريکايانو د بشپړ باور وړ وګرځېده او د امريکې د ګټو سره په سمون کې وګڼل شوه . يا په بله وينا دشمالي ټلوالې استازو ته په دولت کې د غوره ځايونو ورکول د امريکې د ګټو سره په سمون کې شوي دي ، نه د جګړو ځپلي افغانستان د ګټو سره په سمون کې . د دولت نور چارواکي دايتلاف په ډول په دولت کې ټومبل شوي دي . خو دا ايتلاف د هيواد په دننه کې د ګوندونو ايتلاف نه دی ، بلکې دبهرنيو هيوادونو د ګټوسره په سمون کې افغانان ، چې يا د دغو هيوادونو اتباع دي او يا ور سره نور نژدې اړيکې لري ، د استازو په توګه د حامد کرزي په دولت کې ګومارل شوي دي . له همدې کبله ده ، چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت دولتي دستګاه د بهرنيو هيوادونو په واسطه پر افغانانو تپل شوې ده او مجبوره ده چې د افغانستان پر ځای دنورو هيوادونو ګټو ته ډير پام واړوي . طبيعي خبره ده ، چې هغه چارواکي چې د بهرنيو هيوادونو په ټينګار او غوښتنه يې لوړ دولتي پوستونه نيولي دي ، د دغو دولتونو ګټو ته ژمن دي ، نه دافغانستان خلکو ته په خذمت کولو ، چې د دوئ لوړو پوستونو ته رسيدو کې يې هيڅ برخه نه درلوده . په همدې ډول کله چې د دولت اکثره لوړ پوړي چارواکي د بهرنيو هيوادونو د باور او ملاتړ څخه برخمن دي ، نو ځکه ځان په افغانستان کې هيچا ته ځواب ورکوونکی نه ګڼي او هر څه چې کوي يواځې دا په نظر کې نيسي چې ملاتړی هيواد ترې خوښ اوسي .له دې امله ميلياردونه ډالره مرسته چې د افغانستان د خلکو په نوم شوې وې د همدا ډول دولتي چارواکو او د دوئ ملاتړو بهرنيانو له خوا لوټ او غلا شوې . رشوت او اختلاس نه يواځې په دې يوولسو کلونو کې عام شول ، بلکې ډيرو ته د وياړ خبره شوه . د دولت ډير لوړ پوړي چارواکي پخپله اويا د نورو زور واکانو سره په شريکه د دولت ځمکې غصب کړې او ځانونه يې ميلياردران کړل . د

مخدره موادو په کرکیله او قاچاق کې د دولت لوړ پوري چارواکي د خپلو بهرنیوملاتړ کوونکو سره یوځای لاس لري او زموږ هیواد یې د مخدره موادو د تولید او قاچاق په مرکز بدل کړی دی. د حامدکرزي په دولت کې یو شمیر واکداران په هیواد کې د سولې د ټینګیدو سره مخالف دی او په جګړوکې خپل امتیازات ، شتمني او بقا ویني. د افغانستان د خلکو تر منځ د قوم ، ژبې ، مذهب او سیمې په نوم اختلاف ته لمن وهي او د افغانانو ملي یووالي په وړاندې خیانت کوي. همدا سبب دی چې په دې یوولسو کلونو کې د سولې او ثبات د ټینګیدو پر ځای جګړې ، ناامنۍ او د بیګناه خلکو وژل ،دمخدره موادو کر کیله اوقاچاق ، دولتي دستګاه کې فساد ، د بهرنیو شبکو پورې تړلو شتمنو کسانو لاپسې شتمن کیدل او دملت اکثریت خلک په فقر او بیوزلۍ محکومیدل ، د دولت په دستګاه کې خپلسري او انارشي ، قانون ماتونه ، سړي تښتونې او وژل او د بهرنیو، په تیره بیا ، د ګاونډیو هیوادونو تیري ،توطیې او لاسوهنې د افغانستان په ټول تاریخ کې له بل هر وخت څخه زیات لوړ پړاو ته رسیدلي دي. د امریکې او ناټو د وسله والوځواکونو عملیات او د بیګناه خلکو مرګ ژوبلې ، دګاونډیوهیوادونو په تیره بیا د پاکستان او ایران د لاسوهنو او تیریو په وړاندې د حامدکرزي د دولت چوپتیا اوبې تفاوتي د خلکو او دولت تر منځ بې باوري او واټن زیات کړی دی. نو په دې ډول د پورتنیوټولوستونزو په نظرکې نیولوسره د افغانستان اوسنی دولت د دې جوګه نه دی چې ستړې ملي مسالې اوارې او افغانان د اوسنیو ستونزو او کړاوونو څخه راوباسي او د خپلو ملي نوامیسو څخه دفاع وکړي.

ایاله تنظیمونو ، وسله والو ملیشو او سیاسي ګوندونو څخه د دې تمه کیدای شي ، چې له اوسنیو ستونزو څخه افغانان را وباسي او افغانستان د دښمنانو د توطیو او بربادۍ څخه وژغوري ؟ باید په ډاګه

شي چې تنظیمونه او وسله والې ملیشې ، چې او س د سیاسي ګوندونو په بڼه په افغانستان کې فعالیت کوي د حامد کرزي په مصلحتي دولت کې یې په خپلو منځونو کې قدرت ویشلی دی . جمهور رییس ، مرستیالان ، دکابینې غړي ، د ولسي او مشرانو جرګو ډیر غړي ، لوړ پوړي قاضیان والیان ، سفیران او نور لوړپوري چارواکي د همدې تنظیمونو او وسله والو ملیشو سره تړاو لري . هم په قدرت کې دي او هم د اپوزیسیون رول لوبوي . د همدوئ په وجودکې په افغانستان کې د بهرنیو هیوادونو له دښمنیو ډک پلانونه پلي کیږي ، او ملي یووالي ضد د قومونو پر بنسټ فدرالي سیستم رواجولو ته ، چې ډیرو کار پوهانو ته د هیواد د تجزیې د پیل مانا لري ، هلې ځلې کیږي. د تنظیمونو او ملیشو مشران د هیواد د طبیعي زیرمو او نورو دولتي او شخصي شتمنیو، په تیره بیا د ځمکوغصبولو کې اخته دي او له هر ډول قانوني جواز څخه پرته یې د خپلو پلویانو او یاخرڅلاو د پاره ښارګوټي جوړ کړي دي او له دې لارې په میلیاردرانو تبدیل شوي دي. د همدې تنظیمونو او ملیشو په وجود کې په خپلمنځي جګړوکې افغانانو ته ستر ځاني ، مادي او معنوي تاوانونه واوښتل او اوس هم دافغانانو ډیرې ستونزې له دوئ سره تړاو لري . له افغانستان څخه د شورویانو له وتلو څخه وروسته تر اوسه پورې افغاني تنظیمونو او ملیشوډیر وخت د قدرت واګې په لاس کې لرلې دي خو په خواشینۍ سره په دې موده کې چې د افغانانو ستونزې زیاتې شوې نه وي کمې شوې نه دي. سره ددې چې اوس د سیاسي ګوندونو اوجبهو په جامه کې قدرت ته د رسیدو په خاطر په دریو ډګرونو( دولتي پوستونو ، اپوزیسیون ، دنظام بدلولویا فدرالي کولو ) رولونه پر مخ بیایي ، او دا پوره باور دی چې په ماهیت کې ډیر فعالین یې دپخوانیو تنګ نظریو ، تعصباتو او شخصي اوګروپي ګټو ته ډیر ارزښت ورکولو له ناروغتیاوو څخه نه دي خلاص شوي . نوځکه په دې ډول د سترو ملي مسالو د اواري

وس نه لري او نه شي کولای افغانان اوافغانستان له ستونزواوبربادۍ ځنې راوباسي او وه يې ژغوري.
د نورو سياسي ګوندونو په هکله ، چې د سياسي ګوندونو د قانون په چوکاټ کې يې په افغانستان کې سياسي فعاليت پيل کړی دی ، دامريکايانو د پاره يوه تبليغاتي وسيله وه . چې ګنې افغانستان ته د دوئ په راتګ سره د موکراسۍ د اصولو سره سم ډير ګونديز سيستم منځته راغلی دی او د تنظيمونو سربيره نور ګوندونه هم ازادانه سياسي فعاليت کولای شي. خو واقعيت داسې دی ، چې نه امريکې او متحدينو اونه د افغانستان دولت هيڅ يو هم نه غوښتل ، چې له تنظيمونو پرته چې دوئ پرې کلونه کلونه سرمايه ګذاري کړې وه او په تيره بيا د هغو تنظيمونو سربيره چې امريکايانود يرغل په وخت کې يې مليشو د ځمکنيو پليو ځواکونو دنده سرته رسولې وه ، نور ګوندونه سياسي فعاليت وکړي او په خلکو کې د يو سياسي ځواک په توګه وپيژندل شي.
له هم هغه لومړي سرنه دهغو سياسي ګوندونو په وړاندې ، چې د کوم يو جنګسالار سره په تفاهم کې او يا کوم بهرني هيواد سره په تړاو کې منځته نه وو راغلي ، يوډول مقاومت او تبعيض موجود و .پارلمان ته په ټولټاکنو کې هم د دې دپاره چې سياسي ګوندونه وده وه نه کړي ، دګوند پر ځای شخص ته ووټونه واچول شول ، او که کوم سياسي ګوند استازي ووټونه وړي وو ، هغه هم ترې غلا په ډالرو خرڅ او د بل چاپه حساب کې وليکل شول . همدا سبب و ،چې ولسي جرګه د پخوانيو جنګسالارانو او د امريکې او ګاونډيو هيوادونو د پلويانو څخه ډکه شوه اوملي سوله غوښتونکو ګوندونو ته پکې غړيتوب ونه رسيد . نوځکه دغسې سياسي ګوندونه په هيڅ توګه د دې وس نه لري چې په يوائې سر د خپل هيواد او خلکو د برخليک په اړوند څه شی وکړای شي. خو دوئ کولای شي دټولو ناخوالو ،ستونزو ، محروميتونو او د استعماري سياستونوپربنسټ

دافغانانو او افغانستان د ژغورلو په خاطر د خپلو خلکو د پاڅون په بریالیتوب کې خپلې هلې ځلې سرته ورسوي. دا هلې ځلې به هغه وخت بریالیتوب ته ورسیږي ، چې ټول ملي وطنپال شخصیتونه او ډلې په ګډه دلیرې اونژدې دښمنانود توطیو شنډولو اود بربادۍ څخه دخپل هیواد د ژغورلو په خاطر د خپلو خلکو باور او ملاتړ لاسته راوړي او له اموڅخه تر اباسینه پورې د خپل هیواد خپلواکي ،ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا خوندي کړي او وه یې ساتې.

ګاونډي هیوادونه : سره د دې ،چې په افغانستان کې بې ثباتي، د دې هیواد د جیو ستراتیژیک موقعیت له کبله، د سیمې اوپه تیره بیاد ګاونډي هیوادونولکه ایران او پاکستان په بې ثباته کولو کې نیغ په نیغه اغیز لري،خو بیاهم د افغانستان ګاونډیوهیوادونو هیڅکله زموږ په هیواد کې د سولې او ثبات په ټینګیدو کې برخه نه ده اخستې ، بلکې تل یې له مختلفو لارو څخه کار اخستی دی ، چې په افغانستان کې سوله او ثبات له منځه ولاړ شي، ترڅو افغانان د خپل هیواد ، ملي نوامیسو او ملي یووالي او هویت څخه دفاع ونه شي کړاي. ګاونډیو هیوادونو په مختلفو وختونو کې پر افغانستان تیری کړی دی ، خاوره یې ترې غصب کړې ده او دخپلو استخباراتي شبکو په واسطه هڅه کړې ده ، چې افغانان په خپلو منځونو کې یوبل سره په جنګ کړي ، تر څو ترې د خپل هیواد او هویت څخه د دفاع وس له منځه یوسي . کله چې شوروي اتحاد د افغانسان ګاونډي هیواد و، پر افغانستان یې یرغل وکړاو یو لاسپوڅی حکومت یې پر افغانانو وتاپه او په دې ډول یې غوښتل افغانستان د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوریت بدل کړی او افغانان له خپل افغاني هویت څخه په بشپړ ډول محروم کړي. شورویانو دخپلو لاس پوڅو په واسطه د افغانانو تر منځ د قوم ، ژبې او مذهب په نوم اختلافونو ته لمن ووهله او د جګړو نه پای ته رسیدونکې غمیزه یې پر افغانانو وتپله.

ایران خو د تاریخ په اوږدو کې هیڅکله هم د دوستۍ او ښه نیت اړیکي دګاونډي افغانستان سره نه درلودل. تل یې په افغانستان کې د مذهب او ژبې له ورته والي څخه ناوړه ګټه اخستې ده او د افغان کمزورو دولتونو په کورنیو چارو کې یې ناروا لاسوهنې او بې اتفاقیو ته لمن وهل روا بللي دي. له خاصو مذهبي او قومي ډلو څخه یې بربنډ ملاتړ کړی دی او په دې ډول یې زموږ په هیواد کې د ټولو نړیوالو نورمونو سره په توپیر کې بې ثباتیو او قومي شخړو ته لمن وهلې ده. همدا اوس هم د افغانستان په لویدیځ کې بې دافغانستان ډیره خاوره غصب کړې ده او لا غصبوي یې. خو په دولت کې د پیسو او ژبني – مذهبي نفوذ له کبله چارواکي د غبرګون ښودلو وس نه لري. ایران د قومي ،فرهنګي او مذهبي هژمونۍ خوبونهویني ، نو ځکه د نورو قومونو ، مذهبونو اوفرهنګونو په وړاندې تل د تیري او یرغل څخه کار اخلي . پښتنو ته خو د خپلو دښمنانو په سترګه ګوري ، تل هلې ځلې کوي چې نور قومونه ، په تیره بیا هزاره قوم دپښتنو کوچیانو سره په جنګ واچوي ، اوبه خړې کړي او د ځان په ګټه پکې کبان ونیسي او د افغانانو یوبل سره د ګډ ژوند روحیه کمزورې کړي .
ایرانیان او دوئ پورې تړلي سکتارستان تل پښتنو پسې د بې فرهنګه ، جنګ غوښتونکي او بنسټپاله قوم پروپیګنډې کوي او هڅه کوي ، چې پښتو ژبه په افغانستان کې د خپلواجنټانو په واسطه د ټولو اداري ، تعلیمي او ټولنیزو ډګرونو څخه وباسي او پر ځای یې خپله ژبه او فرهنګ پر افغانانو وتپي . ایران تل هلې ځلې کړې دي ،چې په افغانستان کې دورونو قومونو ترمنځ د یووالي او ورورۍ په وړاندې دخپلو اجنټانو په واسطه توطیه وکړي او په دې ډول د افغانانو ملي یووالی کمزوری کړي. خو افغانان اوس په دې بشپړ باور لري ، چې د ټولو ورونو قومونو تر منځ د ورور ګلوۍ په روحیه ټینګ یووالی د ټولو په ګټه دی.

پاکستان ، چې په سیمه کې د انګریزانو دګټو ساتلو ، د ملي وطنپالو ازادي غوښتونکو ډلو او غورځنګونو د کمزوري کولواومخنیوي په موخه جوړ شوی دی ،دخپل منځته راتګ له اولې ورځې څخه افغانانو سره دخپلې غصب شوې برخې د خپلواکۍ په خاطر په ټکر کې دی. پاکستان نه یوازې په غصب شوې برخه کې پر افغانانوباندې هر ډول د ځپلو سیاست او چلند په عمل کې پر مخ بیایي او هر ډول ازادي بښونکي خوځښت ته له بیرحمۍ ډک غبرګون څرګندوي ، چې له کبله یې ډیر شمیر افغان روڼاندي سیاستوال او قومي مشران کلونه کلونه په جیلونو کې په یو او بل نوم پراته وي او یا له منځه وړل کیږي . پاکستان د افغانستان پر غصب شوې برخې د استعماري سیاست ددوا م په موخه د اوسني افغانستان دبې ثباتۍ او تباهۍ د پاره له هیڅ ډول توطیو څخه ډډه نه ده کړې . دسیاسي او اقتصادي ستونزو د زیاتولو د پاره یې بې له کومې معقولې پلمې پر تجارتي مالونو بندیزونه لګولي او تل یې په پر له پسې ډول افغانستان د اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړی او له شا څخه یې پرې ګوزار کړی دی . د پاکستان د جاسوسۍ سازمان د تخریبي فعالیتونو ډیره برخه افغانستان کې د تخریبي کارونو ، بې ثباتۍ ، دافغانانو بې اتفاقۍ او د ګډوډیو دمنځته راوړو د پاره سرته رسیږي . تل پاروونکي کارونه سرته رسوي ، چې پر جګړوځپلي او د کرزي د بې دفاع اسلامي جمهوریت په قلمرو باندې یرغل ته پلمه جوړه کړي . په ختیځوولایتونو تیری او راکټونه ورول افغان استعمار ماتوونکي ملت ته دپنجابیانو له خوا سخت سپکاوی دي ،خو په ډیرې خواشینۍ ، چې دا اتل ملت اوس د نړیوال استکبار او د دوئ د ډیرو ټیټو غلام صفته اجنټانو له خوا برمته شوی دی او یو څه وخت ته اړتیا لري ،چې پنجاب سره خپل حساب معلوم کړي . دا چې انګریزان او امریکایان تل دا ډنډورې ګډوي ، چې د پاکستان له مرستې پرته په افغانستان کې د

سولې ټینګیدل ناممکن دي ، غواړي په دې سره د کرزي لاسپوڅی حکومت وهڅوي چې پاکستان ته امتیازات ورکړي او خوشاله یې کړي. یانې دا چې د پاکستان په واسطه د نیمایي افغانستان غصب ، تیریو او سپکاویو په وړاندې چوپ پاتې شي او وه یې مني . د انګریزانواو امریکې په منځګړیتوب د پاکستان سره ستراتیژیک قرارداد لاسلیک کول هرو مرو ترشا د افغانستان د خلکو د ګټو او غوښتنو په وړاندې یوه توطیه نغښتې ده . په تیره بیا چې په دې هکله د ځینو تاریخي وطنپلورونکو ، چې د ازاد او سرلوړي ژوند څخه په غلامۍ خوښ دي ، هلې ځلې د اندیښنې وړ دي. خو کرزی هم باید پوه شي ، چې د خلکو او هیواد له ګټو څخه یوه ذره هم تیریدل خلکوته دمنلو وړ نه دي او د افغانانو د سخت غبرګون سره به مخامخ شي.

ایا له نړیوالې ټولنې، په تیره بیا امریکې اونورو هیوادونو څخه ، چې په افغانستان کې په لسګونو زره وسله وال پوځونه لري او د کابل حکومت سره یې ستراتیژیک تړونونه لاسلیک کړي دي ، دا تمه کیدای شي ،چې له اوسنیو ستونزوڅخه د افغانانو په ژغورلو کې مرسته وکړي ؟ په خواشینۍ سره د یوولسو کلونو تجربو وښودله ، چې دامریکې او نورو هیوادونو وسله والو ځواکونو په موجودیت کې د افغانانو ستونزې د کمیدو پر ځای لاپسې ډیرې شوې دي. دا چې ویل کیدل ،چې د امریکا او نورو هیوادونو په راتګ سره به په افغانستان کې سوله اوثبات منځته راشي ، دخلکود خوښې اوغوښتنو پر بنسټ به یو ملي دولتي نظام ټینګ شي ،افغاني ټولنه به د پرمختګ اوسوکالۍ په لور ګامونه واخلي، یواځې تشې وعدې او غولیدونکې پروپیګنډې وې. واقعیت داسې د ی، چې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد په یرغل سره د افغانانو غمیزه پیل شوه او د امریکې او متحدینو په یرغل سره دا غمیزه لاپسې و ه غزیده. که د افغانانو سره د شورویانو په جګړو د دوو میلیونو

په شا وخوا کې افغانان له منځه ولاړل او په همدې ډول معیوب او معلول شول او په میلیونونو افغانان نورو هیوادونو ته د کډوالو په توګه ولاړل ، خو د امریکې او متحدینو په جګړو کې هم له سلګونو زرو افغانانو څخه زیات له منځه تللي دي او جګړې لادوام لري. که شورویانو خپل لاسپوځی رژیم پر افغانانو وتاپه او له وتلو وروسته یې زموږ هیواد په کورنیو جګړو کې پریښود نو امریکایان اومتحدین هم له خپلو وتلو څخه وروسته د سوله ایز افغانستان خبرې نه کوي. که د شورویانو په یرغل سره د نړۍ یوشمیر هیوادونو په افغانستان کې د لاس وهنو لپاره پلمه لاسته راوړه ، نو د امریکایانو په یرغل سره د پنځوسو په شاوخواکې هیوادونه په افغانستان کې وسله وال پوځونه لري ، خو ګاونډیو هیوادونو ،په تیره بیا ، ایران او پاکستان د لاسوهنو او تیریو کچه رسوایي ته رسیدلې ده او زموږ خلک هره ورځ د دوئ د وسله والو بریدونو له لاسه خپل کورونه پریږدي او د ستر و ځاني او مالي زیانونو سره مخامخ دي. دامریکې په شمول بهرني ټول وسله وال ځواکونه ، چې پر افغانانو یې د هر ډول وسلو ازمیښت سرته ورساوه ، د پاکستان او ایران وسله والو تیریو ته خړ خړ ګوري او د افغانستان سره د خپلو اوسنیو ستراتیژیکو قرار دادونو څخه هم نه شرمیږي او د پاکستان او ایران د تیریو او ګواښونو په وړاندې هیڅ ډو ل غبرګون له ځانه نه څرګندوي. له دې ټولو تجروبو څخه په ښکاره جوته شوې ده چې امریکا او متحدین د دې لپاره افغانستان ته نه دي راغلي چې د افغانانو سره د سولې او ثبات په راوستو او د هیواد په بیا رغاونه او پرمختګ کې مرسته وکړی او یا د ګاونډیو هیوادونو د تیریو او ګواښونو په وړاند دافغانانو ننګه وکړي. امریکایانو اومتحدینو د خپلو ګټود پاره زموږ پر هیواد نورې جګړې وتپلې ، افغانان یې دغم په ټغر کښینول ، د افغانستان د خلکو کورني او بهرني دښمنان او بې پته ، بې غیرته ، بې وطنه پردیپال او وطنپلورونکي د ستر افغانستان دښمنان

يې د زر او ځواک خاوندان کړل او ولس يې هر څومره چې د لاسه کېدل وځپه . اوس بايد ټولو افغانانو ته څرګنده وي ،چې په هغه ډول چې د امريکې او متحدينو راتګ افغانستان ته د دوئ د خپلو موخو او ګټو د پاره سرته ورسيد ، ستر اتيژيک تړونونه هم يواځې او يواځې د بهرنيو هيوادونو د ګټو لپاره شويدي او اوسنی افغانستان د دې وړتيا نه لري چې د يو سيال په توګه له دغو تړونونو څخه ګټه پورته کړي . يانې دغه هيوادونه ،چې د افغانستان سره يې ستراتيژيک تړونونه لاسليک کړي دي په هيڅ ډول د دې جوګه نه دي چې افغانان دې د موجوده ستونزو څخه وژغوري او افغانان هم بايد دا تمه ونه کړي ،چې نور هيوادونه يې د شتون او بقا څخه دفاع وکړي . ځينې سرچينې لا اتکل کوي ، چې همدا ستراتيژيک انډيوالان ،په تيره بيا امريکايان او انګريزان ، هلې ځلې کوي ،چې اوسنی افغانستان د لانورې تجزيې ، کمزورتيا او بې ثباتۍ لور ته ټيل وهي.

ايا د افغانستان خلک کولای شي له اوسنيو ستونزو څخه ځان وژغوري ؟

د افغانستان په ټول تاريخ کې خلکو د ملي نواميسو څخه د دفاع په چاروکې فعاله برخه اخستې ده . همدا خلک وو ،چې د انګريزانو او روسانو سره يې د خپلې خپلواکۍ ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه د دفاع لپاره ازادي غوښتونکې جګړې کړي دي او پر تيري کوونکو يې بری موندلی دی . خلک څوک دي؟ خلک په ټولنه کې ټول هغه اوسيدونکي چې يوشان خپل هيواد ، ګران افغانستان خپل پت او عزت ګڼي او دتيري کوونکو په وړاندې ترې لکه دخپل ناموس په څير په سر او مال سره دفاع کوي. هم يې کور ګڼي هم يې ګوراو په دې وياړي چې افغان دی ، دا ټول خلک دي. هغه خان دی که ملک، ملادی که امي پيردی که مريد ، تجارت کوي که کوم بل کسب ،مامور دی که معلم ،کارګردی که بزګر ، قومي مشردی او که سياست پوه ، افسر دی که سرتيری او داسې

نور چې د خپل هیواد څخه په دفاع کې له سر او مال څخه تیریږي او ملي ګټې د شخصي او ګروپي ګټو څخه لوړې ګڼي د افغانستان یوشان سپیڅلي خلک دي. د افغانستان ټولو خلکوته د خپل هیواد د خپلواکۍ ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع لکه د خپل ناموس نه د دفاع په څیر مکلفیت ګڼل کیږي . نو ځکه هرکله چې ددښمنانو له خوا د افغانستان ملي نوامیسو باندې تیری کیږ ي ، ټول افغانان په خپل سر او مال سره د دفاع په سنګر کې ودریږي. د افغانستان ټول خلک خپل هیواد خپله مور ګڼي او د دې خوږې او درنې مورې په غیږ کې خپل حق بل هیچا ته نه ورکوي. د همدې مورې په غیږکې افغانان یوبل سره د شریکو ملي ګټو ، ملي ویاړونو او ملي ارزښتونو په واسطه دومره کلک تړل شوي دي چې د قوم ،ژبې ، مذهب ، سیمې او نورو توپیرونوله کبله یوبل څخه نه شي بیلیدای.هر څوک چې د ا هڅه کوي ،چې افغانان یوبل نه بیل کړي او د دیورند دکرښې پواسطه له افغانستان څخه بیله شوې د پنجاب تر استعمار لاندې برخه یواځې د پښتنو سره تړي او د خپلواکۍ د پاره مبارزه یې د نورو قومونو مکلفیت نه بولي ، په واقعیت کې هغه ملي خاینین دي ، چې د افغانستان د خلکو د دښمنانو د غلامۍ غړوندي یې په غاړو کې اچولي دي او د افغان په نوم د سرلوړي خپلواک ژوند نه د پردیو په غلامۍ او سپکاوي نه ډک ژوند کې خوښ دي. د افغانستان خلک د ډیورنډ کرغیړنه کرښه، چې افغانستان او افغانان یې په دوو برخوویشلي دي هیڅکله نه مني. دا په دې مانا چې د افغانستان د یووالي د پاره هر ډول سر ښندنو ته تیار دي. په تیره بیا چې پاکستان لکه « میږي ته چې خدای په غضب شي وزرې کوي» ، وزرې کړې دي. نه یواځې دا چې دخپل استعمار لاندې برخې افغانستان کې یې پر افغانانو ناتار راوستی دی ، بلکې په کونړ ،ننګرهار او ډیورنډ کرښې ته څیلمه نورو سیمو یې هم وسله والو تیریو ته دوام ورکړی دی. د پنجاب دا پارونکې کړنې به له امو

څخه تر اباسینه پورې په ټول افغانستان کې خلک د خپل یووالي او خپلواکۍ څخه د دفاع د پاره راپاڅوي او بیا به یې هیڅوک د مخنیوي نه وي . هر څوک چې دخپل هیواد د خپلو اکۍ ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتیا خوندي توب او دفاع ته ځان ژمن بولي ،هغه به په د ې ازادي غوښتونکي غورځنګ کې ګډون کوي او دا ګډون به سراسري وي . که چیرته له اموڅخه تراباسینه پورې د دې غورځنګ ګډون کوونکي په یوه خوله ووایي چې د پنجاب استعمار نور نه منو ،له اموڅخه تر اباسینه پورې ټول افغانستان یوموټی او خپلواک دی ! او د خپل دې شعار تر شا په کلکه ودریږي ، نو څوک به یې مخه ونیسي. اوس دداسې یو غورځنګ د منځته راوړو د پاره د ټولو ملي وطنپالو روښانفکرانو او د پوهې او قلم خاوندانو ملي اواسلامي دنده ده ، چې د داسې ازادي بښونکي ملي اسلامي غورځنګ په منځته راوړو کې له هیڅ ډول هلو ځلو څخه ډډه ونه کړي.

لومړی خپلمنځي اړیکې ټینګې کړي او بیا د خلکو پرګنوته ولاړشي او خپلو خلکو ته په ډاګه کړي، چې یواځې همدوئ کولای شي خپل ځانونه او هیواد له اوسنیو ستونزو او تباهۍ څخه وژغوري.

دا مه ګڼه خیالونه زه پرې ټینګ باور لرمه
افغانانو که هوډ وکړ بیا به ګورې چې همدا شي

---

*- دا لیکنه د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په **۱۵** نیټه د «رښتیا» په ویب پاڼه کې خپره شویده.

## له او سنۍ غمیزې څخه د افغانانو د ژغورلو په خاطر باید د دښمنانو ټولې توطیې شنډې او د خلاصون یوه معقوله لار غوره شي.

الله پاک ( ج ) افغانانو ته دځمکې پر سر یوډیر ارزښتناک ځای ( له اموڅخه تر اباسینه پورې افغانستان ) په برخه کړی دی. ددې ځای ارزښت او غوره توب په دې کې دی ، چې دهر ډول ښیګڼوڅخه برخمن دی: غوره ستراتیژیک موقعیت لري ،که افغانان ترې ګټه واخلي نو ستر سیاسي ، اقتصادي ،ټولنیز او فرهنګي بریالیتوبونه لاس ته راوړای شي .چې نه یوائې پخپله افغاني ټولنه به یوه سوکاله ،پرمختللې او بډای ټولنه وي ، بلکې دنړۍ دبیوزله خلکو او ملتونو سره به هم مرسته کولای شي. که سړی په غور سره وګوري ،نووبه ویني ،چې په دې هیواد کې د لمر دځلانده وړانګو د پریمانۍ اوڅپانده سیندونو دشتون له کبله هر ډول ونې ،بوټي، غلې دانې اومیوې ،چې دخوند ،ښه بوی اورنګ له کبله په نړۍ کې ساری نه لری شنه کیدای شي. ژوي یې په همدې ډول ، نه یوائې کورنۍ اړتیاوې په ډیره ښه توګه پوره کولای شي ، بلکې محصولات یې بهرنیو اسعارو لاسته راوړو دپاره دتجارت په پرمختګ کې کره رول لوبولای شي . د داسې تل شنه دلمر ځلانده وړانګو اواوبو د پریمانه زیرموپه موجودیت کې زمونږ پراخه کروندې کولای شي ،نه یوائې دخوراکي موادو کورنۍ اړتیاوې پوره کړي ، بلکې نوروهیوادونو ته یې هم ولیږ ي. ځنګلونه اود ځمکې لاندې شتمنیو راویستل او دملت په ګټه ترې کار اخستل کولای شي زمونږ خلکوته هوسا ،سوکاله او سرلوړی ژوند ور په برخه کړي اوپردیوته له اړتیاوو څخه یې په بشپړ ډول وژغوري.

دداسې شتمن هيواد په درلودو سره نن ګورو،چې افغانستان د ډېرو بيوزلوهيوادونو په ليکه کې ولاړدی. نژدې شپيته په سلو کې خلک يې دفقر تر کرښې لاندې ژوند کوي . داستعماري پراختيا غوښتونکو ځواکونو د جګړه ايزو فعاليتونو او جنګي جناياتوله کبله په لسګونو زره هيواد وال په خپل هيواد کې مهاجر او په ډېرو بدو شرايطو کې مرګ ته شپې سبا کوي. په ميليونونو بهرنيوهيوادونو ،په تيره بيا پاکستان او ايران ، ته کډوال شوي افغانان د محروميتونو اوسپکاويو څخه ډک ژوند تيروي . د تروريزم سره دمبارزې په پلمه دامريکې په مشرۍ دبهرنيوهيوادونو وسله والو ځواکونوله امو څخه تر اباسينه پورې پر افغانانو ناتار جوړ کړی او له هيڅ ډول بيرحمۍ څخه يې ډډه نه ده کړې. دبهرنيوهيوادونو دوسله والو ځواکونو په وجودکې له يوپلوه دافغانستان دخلکو ژونددنه اټکل کيدونکو ستونزواوکړاوونو سره مخامخ شوی دی. له بل پلوه د افغانستان دخلکو دښمنانوته داسې شرايط منځ ته راغلي دي ،چې په خلاص لاس دافغانانو لوټولو، زندۍکولو، ځپلو او وينې زبيښلو ته دوام ورکړي. دافغانستان دخلکو کورنيو دښمنانوته د دموکراسۍ تر پردې لاندې دټولوجناياتودسرته رسيدو ازادي ورکړل شوې ده. درشوت ،اختلاس اوقاچاق ، په تيره بيادمخدره موادو کر کيله اوقاچاق نه نيولې دشخصي او دولتي ملکيتونو لکه د ځمکو اوکورونو غصبول ، دځمکې لاندې ملي زيرمو راويستل اوله هيواد څخه بهر ته ليږدول ، په ټولنه کې فساد، احتکار قانون ماتونه اوزور واکي رواجول ، دخلکو تر منځ قومي ،ژبني اومذهبي تعصباتوته لمن وهل او داسې نور هغه څه دي چې يواځې دکورنيودښمنانو او د دوئ دبهرنيوملاتړ کوونکود ګټودپاره سرته رسيږي. دناټواو امريکې وسله والوځواکونوپه موجوديت کې دګاونډيو

هیوادونو ،په تیره بیا پاکستان او ایران پټې لاسوهنې په بربنډو تیریواولاسوهنو اوښتې دي . ګاونډي هیوادونو د افغانستان دخلکو دحقوقو او ګټوپه وړاندې له هیڅ ډول تیریو او توطیوڅخه ډډه نه ده کړې. ځمکې یې ترې غصب کړې دي ، دخپلو اجنټانو او جاسوسي شبکو په واسطه په افغانستان کې تل بې اتفاقی ،جګړې اونا امنی ، وروسته پاتې والی اوبیوزلی پر افغانانو ددې دپاره تپلي دي ، چې تل دوئ ته محتاج اوددوئ د بې کیفیته توکو دمصرف کوونکو په څیر ژوندوکړي. په لنډډول ویلای شو چې دې حریصو ګاونډیانو د افغان مسلمان ملت ځپلو او بربادی پسې متې رانغښتې دي او دامریکې او متحدینو، په تیره بیا انګریزانواود افغانانو دسوکالی ،خپلواک اوسرلوړي ژونددښمنانو کورنیوپردیپالو اجنټانوسره په ګډه دې ځپلو ته دوام ورکوي. اوس ټولو ملي وطنپالوشخصیتونو او ځواکونوته ، چې دخپلو خلکوسره یې برخلیک تړلی دی ، پکار ده ،چې له اوسنی غمیزې څخه د ځان ،خلکو اوهیواد د ژغورلودپاره متې راونغاړي ،خپلمنځي اړیکې ټینګې کړي او په ګډه داسې لارې چارې ولټوي ،چې په عمل کې شونې وي. یوائې هغه لارې چارې به کاري اوسمې وي ،چې دخلکو پراخه پرګنې پکې ګډون وکړي. یوائې خلک دا ځواک لري چې دخپلودښمنانو ټولې پخوانی او اوسنی دسیسې، چې افغان ملت یې دې غمیزې سره مخامخ کړی دی ، شنډې کړي. دخپلې خپلواکی ، ملي واکمنی اوځمکنی بشپړ تیا څخه دفاع وکړي او دیو خپلواک ملت په توګه دهر ډول بهرنیو لاسوهنوپرته دخپلې خوښې دولت منځته راوړي. نوځکه ټول ملي وطنپال شخصیتونه اوځواکونه دا ومني ، چې یوائې دخپلو خلکو په زور کولای شي ټولې پخوانی‌اواوسنی استعماري توطیې اوپر افغان ملت باندې د استعمار دګوډاګیانواو اجنټانوتپل پای ته ورسوي. خو خلک هغه وخت په ځواک بدلیږي او خپل زور ښودلی شي ،چې د تیت اوپرک حالت څخه ووځي،

پوه شي چې دڅه دپاره مبارزه کوي او له دې مبارزې څخه څه شی لاس ته راوړي . دا نو اوس د ټولو« په څه پوهو » ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو دنده ده چې د افغانانو دغمیزې ټول زاړه او نوي علتونه خپلو خلکوته په ګوته کړي او د دښمنانو ټولې پخوانۍ او اوسنۍ توطیې ورته بربنډې کړي . د دوست او دښمن په پیژندلوسره خلک په دوستانو باور کوي او د دښمنانو په وړاندې د دوستانو سره یوځای کیږي او دتیت اوپرک حالت نه راوځي ، دخپلو دښمنانو په وړاندې په مبارزه کې ددوستانو سره ودریږي او په دې ډول یو پراخ وګړنیز سیاسي ځواک منځته راځي ، چې خپلو موخو ته درسیدو په لار کې یې هیڅوک خنډ کیدلی نه شي.

دا په عمل کې ثابته شوې ده ، چې دخلکو دښمنان له هرې وسیلې ،پلمې او توطیې څخه کار اخلي تر څوخلک وغولوي ،بې اتفاقۍ پکې واچوي ، کمزوري یې کړي او له ځان څخه د دفاع وس ترې واخلي . افغانان باید له تیر تاریخ څخه زده کړي چې په څه ډول د دوئ بهرنیو دښمنانود هیواد په دننه کې دځینوپه شخصي ګټو مینو ، ځانغوښتونکو دقدرت لیونیانواوپردیپالو احمقانو څخه دافغانانودویشلو او کمزوري کولو دپاره ګټه اخستې ده ، تر څو زموږ په هیوادکې لاسوهنو اوتیریو ته شرایط برابر کړي ،ټول ملت ته داسارت غړوندي په غاړه کړي ،خاوره یې غصب اوشتمنۍ یې لوټ کړي . په تیر وخت کې هم دتاج او تخت دعوه کوونکو تر منځ دبې اتفاقیو او جګړو داور په بلولو سره ، افغانستان نه یوازې خپلواکي اوملي واکمني له لاسه ورکړه ، بلکې داستعماري غاصبینو له خوا په ټوټو وویشل شواو یوه زیاته برخه ترې جدا اولا تر اوسه غاصبینو پرې خیټه اچولې ده . اوس هم بهرني استعماري پراختیا غوښتونکي ځواکونه دهمدغسې دشخصي ګټو اوقدرت دلیونیانو څخه ناوړه ګټه اخلي ،ترڅونه یوازې دافغانستان ویشلو او زموږ دهیواد

ديوې لوې برخې غضب ته دوام ورکړي ، بلکې لا يې وويشي او بې هويته او بې قوته يې د احتياج لاندې وساتي. پاکستان د خپلو انګريزي استادانو په مرسته اولار ښوونه داسې پلانونه په کار اچوي ، په کومو چې د دوئ د استعماري سياست سره په ضديت کې شخصيتونه او ځواکونه خپل منځ کې بې اتفاقه او دښمن شي ،ترڅويې پرې دځپلووس ورسيږي. همدارنګه داسې چلونه په کاروړي ،چې خپلو جناياتو ته ديوشمير ساده خلکو خواخوږي تر لاسه کړي .د بېلګې په توګه د ای. اس. ای. د اجنټانو په واسطه په ملالۍ يوسفزۍ وسله وال بريد و، چې سرته ورسيد . په دې بريد سره د پاکستان وسله وال پوځونه غواړي چې په وزيرستان باندې د امريکې او انګريز دامر سره سم وسله وال پوځي يرغل سرته ورسوي ، اودا يرغل دوزيرستان د خلکو پر ازادۍ غوښتونکي غورځنګ سرته رسوي ، خو نوم پرې طالبان ږدي. له بل پلوه پر ملالۍ د بريد مسؤليت هم دپاکستان د جاسوسي سازمان اجنټان دطالبانو په جامه کې اخلي ،چې په هيڅ صورت رښتيني طالبان نه دي. دا د دې د پاره کوي چې پر وزيرستان باندې دپښتونخوا خلک ،که دپاکستان د دې عملياتو سره خواخوږي نه ځرګندوي ،نولږ تر لږه بې تفاوته پاتې شي او د پاکستان د استعماري ځپونکي سياست په وړاندې ټول افغانان يوځای نه شي.
د افغانستان اوافغانانو په وړاندې د انګريزانو او پاکستان سياست کټ مټ يو شی دی. انګريزانود ډيورنډ د کرښې په واسطه افغانستان وويشه خو ددې دپاره چې دډيورنډدکرښې په واسطه ويشل شوی افغانستان لاپسې وويشي ،نو دکرښې يوې خواته يې دخپلواک افغانستان نوم ورکړ او دکرښې بلې خوا افغانستان يې بيا هم دلاپسې کمزورتيا دپاره وويشه او د ازادو قبايلو او صوبه سرحد نوم يې ورکړ ، چې په دې ډول يې د خپل اصلي ( افغان ) هويت نه محروم کړل. د خپلواکې برخې افغانستان باندې داستعماري سياست په تېپلوسره انګريزانو بهرنی سياست په خپل لاس

کې ونیو او داسې حکومت یې ومانه ،چې دانګریزانو پر ضد دخلکو دپاڅون او یووالي نه یې ویره درلوده. چې بیا همدې حکومت دانګریزانو ستر نه ماتیدونکي دښمنان د خپلودښمنانو په نوم له منځه یوړل . د افغانستان په بلې برخې ،چې صوبه سرحدنوم یې ورکړی و دافغانستان نوم ددې له کبله ترې واخست چې له خلکوڅخه خپل هویت هیرکړي او د خپل هیواد دخپلواکۍ دپاره دټولو افغانانو دشریکې مبارزې اړتیا او احساس کمزوری کړي . دانګریزانو په واسطه جوړشوي خانان ،ملکان ملایان ، قومي مشران اوانګریز پلوه سیاستوال میدان ته راوباسي ،تر څو دخلکوپه منځ کې د رښتینوخانانو، ملکانو، ملایانو، قومي مشرانو او روحانیونو درناوي او باور ته زیان ورسوي. انګریزي تالي څټوته په افغانانوکې دبې اتفاقۍ داچولو دپاره منصبونه او امتیازات ورکړي اورښتیني مشران اودخپل قوم خدمت ګاران ،چې د قوم دبیدارۍ یووالي اوازادۍ دپاره یې مبارزه کوله په ډول ډول شکنجواوکړاوونو اخته کړي او کلونه کلونه یې په جیلونو کې وساتي اویایې له منځه یوسي. په باچا خان اودده دخدایي خدمتګارانو دغورځنګ په ملګرو باندې دانګریزانو وحشیانه ظلمونه او په کلونو کلونو ،په دې ګناه چې خپل حق( ازادي) یې غوښته په جیلونو کې ساتل اویا له منځه وړل هغه څه دي، چې هیڅ رښتینی افغان یې نه شي هیرولی . که د صوبه سرحد او ازادو قبایلو دسیمو افغانان یوځای پاتې شوي وای ،نونه انګریز اونه پنجابي واکدارانو ،یوهم ددغوسیمو پر افغانانودومره ظلمونه نه شول کولای او نه یې پرې دپاکستان د جوړیدو دپاره په دروغوجوړ شوی ریفرنډم تپلی شو. انګریزانواو دهغوئ لاسپوڅي پاکستان دخپلواستعماري سیاست ددوام دپاره تل د دې فارمول څخه کار اخستی دی چې: «بیل یې کړه !ایل یې کړه !».

ازادقبایل یې ددې د پاره دصوبه سرحدڅخه بېل وساتل چې له یوپلوه یې
د دوئ یو ځای کیدلوڅخه ویره درلوده اوله بل پلوه یې دافغانانواو
افغانستان پر ضد دتوطیودجوړولو امکانات کمزوري کیدل. انګریزانو
ازادقبایل دخپل استعماري واک لاندې په بل ډول ساتل. له یوپلوه یې
دخپلواجنټانوپه واسطه دازادي غوښتونکو مشرانوپه وړاندې پکې
توطیې جوړولې او له بل پلوه یې دخپلو لښکر کشیو د پاره ، چې د ازادي
غوښتونکو د ځپلودپاره دوئ ضروري ګټلې پلمې منځته راوړلې. اوس
هم په صوات ،باجوړ ، مومندواو وزیرستان باندې د پاکستان د وسله
والو ځواکونووحشیانه عملیات د خلکو او په تیره بیا د پاکستان
داستعماري سیاست په وړاندې دمقاومت پر ضدعملیات دي چې
دتروریستانواوطالبانوپرضد دعملیاتو نوم یې پرې ایښی دی .
دپاکستان استعماري سیاست کټ مټ د انګریزانو استعماري سیاست
دی ،چې دمسلمانانو دتیر ایستلودپاره یې داسلام په نوم یوه درواغجنه
بڼه ورکړې ده . خو په عمل کې دټولو سپیڅلو مسلمانانو (افغانانو)
پرضد ترې کار اخستل کیږي . انګریزانو ددې دپاره پاکستان منځته
راوړ،چې نور یې نه شول کولای په مستقیم ډول خپل ناولي استعمار ي
سیاست ته، چې په میلیونونو مسلمانان یې دخپلوګټونه قربان کړل ، دوام
ورکړي. پاکستان یې داسلام په نوم جوړ کړ ، خوواک یې خپلوګټوته دوفا
دارو پنجابیانو په وجود کې ستراتیژیکو انډیوالانو ته ورکړ .
دافغانانوپر ضد د انګریزانوهم هغه استعماري سیاست دپنجابیانوپه
وجود کې دوام لري . هغومره چې انګریزانو د خپلو استعماري موخو
دبریالیتوب او دوام د پاره داستعمار لاندې افغانانوسره یوبل سره په
جنګ کولو ، په محرومیت کې ساتلواوځپلوسیاست څخه کار اخستی
دی ، پنجابیانو دانګریزانو په پرتله په ډیر کرغیړن ډول دوام ورکړی دی
او ورکوي یې . انګریزانو داسلام په نوم څوک نه شول غولولای

خو پنجابیان دا کار دخپلو اجنټانو په واسطه په ډیر بریالیتوب سره پر مخ بیایي . په تیره بیا په پښتنو او بلوڅو کې د هرډول ازادي غوښتونکي غږ دغلي کولو دپاره یې د اسلام تر پردې لاندې د مسلمانانو ستوني خپه کړي دي . د « ازادو قبایلو » سیمه چې انګریزانو دخپلو ځانګړو موخو دپاره له « صوبه سرحد» څخه بیله ساتله ،پنجابیانو دغه توطیې ته دوام ورکړ . خوهغومره چې پاکستان وکړای شول له دغه سیمې څخه د خپلو جاسوسانو اونړیوالو بنسټپالو ځاله جوړه کړي ،انګریزانو دا کار په مستقیم ډول نه شو کولای. دا ټول کارونه د پښتنو د رښتیانیو مشرانو د لمنځه وړو د پاره سرته رسیږي . دپاکستان دجاسوسي سازمان له خوا ددغو جوړو شوو ځا لو څخه څوکارونه اخستل کیږي . یو ، دځایي خلکو ځپل اوپکې د ملي ازادي بښونکي احساس له منځه وړل . دویم، په خلکو کې لاره ورک کوونکې پروپیګنډې سرته رسول او دوست او دښمن ترې ورک کول. دریم ، په سیمه او تیره بیاموجوده افغانستان کې نا امنۍ او بې ثباتۍ ته لمن وهل . څلورم ، دنړیوالې مافیا دپلانونو سره سم د مخدره موادو کاروبار سرته رسول. پنځم ، په ازادو قبایلو کې دپاکستاني پوځ وسله والو عملیاتو ته په سیستماتیک ډول د پلمو په لاس ورکول. دا داسې کارونه دي ،چې پاکستاني واکدارانو ترې تل دخپل استعماري واک دټینګولو او پراخولو د پاره کار اخستی دی.

په لنډ ډول پوښتنه کولی شو ، چې ولې د داسې غوره جیوستراتیژیک موقعیت لرونکي هیواد خلک په پرله پسې ډول دنورو هیوادونو د تیریو اولاسوهنو سره مخامخ دي او د استعماري توطیو ټولې بیلګې پرې عملي کیږي او دومره اوږده موده د استعمار لاندې ژوند کوي او له خپلو ټولو حقوقو او نعمتونو څخه چې خدای پاک (ج) ورکړي دي ،محروم اوسي ؟ ځینې کسان لا اوس هم وایي ،چې د دې ټولو ناخوالو په وړاندې د مبارزې وخت نه دی رارسیدلی او یا وایي چې تر اوسه پورې مو داستعمار ټولې

ناکوبۍ منلي دي اوس يې هم بايد ومنو . خويوشى بايد په غور سره وڅيړو او هغه داچې جابر استعماري ځواکونه دومره په اسانۍ له خپلو استعماري ګټوڅخه نه تيريږي ، په تيره بيا دې ويشل شوو ، دخپلو حقوقو او زور څخه ناخبرو او د پرديو په پروپيګنډو غوليدونکو افغانانو ته خوهيڅکله نه تيريږي. نوځکه استعماري ځواکونه هلې ځلې کوي چې د افغانانو دحقه حقوقو او غوښتنوپه وړاندې د ډول ډول توطيواو وسيلو څخه کارواخلي اوپرې نه ږدي چې افغانان خپلوطبيعي حقوقو او موخو ته ورسيږي او ځانونه له اوسنۍغميزې څخه وژغوري . دښمنانو تل دافغانانو په وړاندې له لاندې توطيواو وسيلو څخه ګټه اخستې ده:

۱ـ افغانان له خپلوطبيعي حقوقو او ځواک څخه په بې خبرۍ او ناپوهۍ کې ساتل :- داستعماري ځواکونو پروپيګنډې تل په دې موخه کيږي ، چې افغانان له خپلوطبيعي حقوقو څخه په تورتم کې وساتي . کله داسې پروپيګنډې کيږي ،چې دويشل شوي افغانستان د يووالي دپاره کوم سند نه شته. کله وايې چې اوس خوډير وخت تير شوى دى ،نو اوس ولې د افغانستان او افغانانود يووالي غوښتنه راپورته کيږي. کله وايې ، چې يوځل دافغانستان په نو م دا اوسنۍ برخه جوړه شي نوبيا به دبلې برخې پوښتنه کوو . کله وايي چې افغانان کمزوري او نړيوال ملاتړ نه لري ،نو ددې قوي پنجاب سره چې د انګريزانو اوامريکايانو تر حمايې لاندې دى ډغرې نه شووهلى. کله وايي چې اوس خو افغانان په خپل منځ اوبهرنيو سره په جګړه بوخت دي ، بايدپاکستان دځان پرضد راوه نه پاروو. کله څه وايي ا و کله څه وايي ،خود ټولو پروپيګنډو موخه يوه ده اوهغه دا چې دخپلوحقه او طبيعي حقوقو د لاسته راوړو دپاره دافغانانو د يووالي غوښتنې او راپاڅيدو مخه ونيسي.

۲ـ دافغانانو په يواوبل نوم او پلمه خپلمنځي بې اتفاقيوته لمن وهل :- دقوم ،ژبې او مذهب په نومونو تل د بهرنيو هيوادونو اجنټانو لمن وهي تر

ځود ستروملي مسالو په وړاندې يونه شي او په يوسرتاسري ملي نه ماتيدونکي ځواک تبديل نه شي . حتی د پا کستان استخباراتي شبکوپورې تړلي اجنټان د ډيورنډ دکرښې دواړوخواو ته افغانان په يوواحدافغان ملت کې شريک افغانان نه بولي ، په دووملتونو يې ويشي اودا خولاڅه چې افغان له افغان څخه بيلوي اوپنجابي سره يې ،چې هيڅ شريک وجوهات نه لري ،تړي. بيا ځينې يې داسې ناروا پروپيګنډې هم کوي ، چې د پنجابي استعمار څخه دافغانانو د ازادۍ د پاره مبارزه د اسلامي هيواد او داسلام پرضدمبارزه بولي او داسلامي هيواد افغانستان نيمايي برخه بيا تر پنجابي استعمار لاندې پاتې کيدل روا او اسلامي ګڼي.

**۳.** د ای . اس . ای . د اجنټانو درواغجنې پروپيګنډې :که دافغانانودحقه حقوقو اوازادۍ دپاره ډير کمزوری اوټيټ اواز هم جګ شي ، نود ای . اس ای . اجنټان په يوه اوبله جامه د دروغو اوناروا پروپيګنډې جوړوي او هڅه کوي چې هر ډول ازادي بښونکی اواز خفه کړي يا لږ تر لږه يې دافغانانو تر منځ اغيزکم کړي ، تر څو د پنجاب استعماري ګټوته تاوان ونه رسيږي. ځينې خوبې ځان افغان بولي ،خو د پنجاب د نوکر په ځير د پنجاب د ګټو دپاره کارکوي. دبيلګې په توګه دازادو قبايلو خلکوته دا احساس ورکول ،چې تاسې خو اوس ازادياست اوکه د نورو افغانانوسره يوکيږئ نودا « طبيعي اوعنعنوي ازادي» موله منځه ځي . دا بل څه نه دي بې له دې چې افغانان د استعمار په وړاندې بيل او ايل وساتي. همدارنګه بيا يوشمير نور دافغانانو ټوله بدمرغي دبهرنيوهيوادونو د استعماري سياستونوپر بنسټ دلاسوهنو ،تيريواواشغال پرځای د ډيورنډ د کرښې په رسميت نه پيژندلوسره تړي اوهغه ملي وطنپال شخصيتونه او ډلې د افغانانو د اوسنۍ غميزې مسؤل بولي چې د ډيورنډ استعماري کرښه نه

مني او له اموځخه تر اباسينه پورې دخپل هيواد اوافغان واحد ملت يووالی غواړي.
۴ ـ دملي ازادي غوښتونکو شخصيتونو او ځواکونو په وړاندې توطيې جوړول اوتروريستي بريدونوسره مخامخ کول :- د پاکستان نظامي جاسوسي او تروريسي سازمان ( ای . اس . ای . ) د ټولو ملي وطنپالو ازادي غوښتونکو شخصيتونو ، قومي مشرانو او روښانفکرانو ترور او له منځه وړل خپله دنده بولي . په تيره بياد هغو ملي وطنپالو شخصيتونو او مشرانو ترور اوله منځه وړل ، چې د محکومې برخې افغانستان د بيرته يووالي دپاره مبارزه کوي . دهمدې ترور اوتوطيو څخه د ويرې په خاطر ډير ملي وطنپال شخصيتونه نه شي کولای خپل غږ اوچت کړي . نوځکه د دې داعيې د رښتيايني دپاره بې دخلکو د عموي پاڅون څخه دسياسي مبارزې نورې ټولې لارې کيدای شي ژر دخنډونو سره مخامخ شي . خوله اموځخه تر اباسينه پورې د ټولو افغانانو عمومي پاڅون په وړاندې دتوطيوجوړول او مخه يې نيول د هيڅ جاسوس او جاسوسي سازمان له وسه پوره نه ده.
۵ ـ ديو شميراغيزمنو خلکوتطمع کول اوامتياز ورکول :- دانګريزانود استعماري سياست اودپنجابيانود استعماری د استعماري سياست دا يوه ډيره معمول طريقه ده ، چې يو شمير مخورواو اغيزمنو کسانو ته يو څه امتياز ورکړي او شخصي ګټې وروړسوي ، تر څو پرې ټول ولس غلی کړي . خو دټول ولس تطمع بيا ناشونې ده . نو ځکه د افغانستان دبيرته يوکيدو د پاره له اموځخه تر اباسينه پورې دټولو خلکو سوله يز پاڅون ضروري ګڼل کيږي.
۶ ـ د تنګ نظرو ، شخصي اوګروپي ګټو ليونيانو ، دافغانانو دملي يووالي ضدپردېپالوکسانو ،کړيواو ډلو دملي ګټوضد دريځ څخه ناوړه ګټه اخستل :- په دې هکله ځينې کسان ، ډلې او کړی په ښکاره د پنجاب

داستعماري ګټو د پاره کار کوي . دوئ دویشل شوي افغانستان بیرته یووالی دافغانانویووالی نه ،بلکې د پښتنو یووالی ګڼي او د تعصب او تنګنظری له مخې دیوخپلواک ، ستر او ځواکمن افغانستان ،چې دهر ډول بهرنیولاسوهنواوتیریوپه وړاندې له ځان څخه دفاع کولای شي،سوله اوثبات ټینګولای شي اودخلکودسوکالۍ اونیکمرغۍدپاره اړین کارونه سرته رسولای شي، پرځای داسې افغانستان غواړي چې دنوروهیوادونو ، په تیره بیادګاونډیو هیوادونو دلاسوهنو،توطیواوتیریو له امله تل بې ثباته اوکړکیچ سره مخامخ ،وروسته پاتې ، کمزوری اونوروته محتاج هیواد وي .دوئ د ډیورنډ دکرښې په رسمیت پیژندلو باندې د پنجابیانونه هم ډیر ټینګار کوي . دې کسانو اوکړیو چې دپردیوتر واک لاندې یې دخپلوملي ګټو ضددریځ له کبله یوڅه ګټې اوامتیازات لاسته راوړي دي ، نه غواړي دغه شخصي اوګروپي امتیازات له لاسه ورکړي نوځکه دویشل شوي افغانستان دبیرته یوکیدو په وړاندې یې چې د لاسه وشي خنډونه منځته راوړي. خوددې کسانو تنګ نظره اوملي ګټو اوملي یووالي ضددریځ دمطلق اکثریت افغانانو له خوانه یواځې دا چې دتایید وړ نه دي ،بلکې غندل کیږي.

۷ـ استعماري ځواکونه تل هڅه کوي چې په موجوده افغانستان باندې لاسپوځي اوغیرملي حکومتونه وتپي:- تر څو دهغوئ د غوښتنو سره سم دپردیو دګټو په نظر کې نیولو سره دخپل هیواد اوخلکوملي ګټو ته شاواړوي ، خپل خلک له واقعیتونو څخه لیرې او په تورتم کې وساتي ، دبهرنیوتیریواولاسوهنو په وړاندې بې تفاوته اوغلي پاتې شي. خلکو کې ملي احساس له منځه یوسي اوپه ټولنه کې فساد لکه رشوت ،اختلاس احتکار ،دمخدره موادو کاروبار اوپول پرستي مروج کړي . دخلکو اکثریت په لوږه ،بې کورۍ ، بیکارۍ او فقر کې وساتي . لاسپوځي حکومتونه نه یخپله ددې جوګه دي ، چې دویشل شوي افغانستان د بیرته

یووالي دپاره هلې ځلې وکړي اونه نور ملي وطنپال شخصيتونه اوځواکونه پريږدي ،چې دغه ملي دين سرته ورسوي.
۸ ـ دانگريزي استعمار په واسطه د ويشل شوي افغانستان د بيرته يوکيدوپه وړاندې د نورو هيوادونو استعماري سياستونه هم يوخنډ دی:
د ډيروخلکو اټکل داو ،چې دانگريزانو او پاکستان استعماري سياستونو پلوي واکدارانو دخپلو گټو د پاره د دوئ تر حاکميت لاندې برخې افغانستان څخه د ډيورنډ دکرښې په واسطه دکړکيچ او بې ثباتۍ سيمه جوړه کړې ده ، چې دنړۍ په هغه جمله کې دامريکې پر سوله اوثبات يې هم ناوړه اغيز ښندلی دی. نوځکه کيدای شي ، چې امريکا به د بې ثباتۍ اوکړکيچ د لمنځه وړلو په خاطر له اموځخه تر اباسينه پورې ديوباثباته افغانستان دجوړيدو د پاره د ډيورنډ د کرښې دتپلود دوام سره مخالفت وکړي . خوپه خواشينۍ سره دامريکايي مقاماتو وروستنۍ څرگندونې په گوته کوي ،چې ټول استعماري ځواکونه خپلې گټې د نړۍ په سوله او ثبات کې نه ، بلکې په جگړو ، کړکيچ اوبې ثباتۍ کې لټوي. خوموږ باور لرو ،چې د استعماري ځواکونو ټولې توطيې به دخدای پاک ( ج ) په مرسته له اموځخه تر اباسينه پورې دافغانستان دټولو خلکو دملي پاڅون په څپوکې له منځه ځي.
د دې ټولو پورتنيو توطيواوخنډونو په نظر کې نيولو سره ، چې دملي ازادي غوښتونکو مبارزينو په وړاندې پراته دي ، د ويشل شوي افغانستان اوافغانانو دبيرته يوکولو دپاره بله لار نه شته بې له دې چې له اموځخه تر اباسينه پورې ټول افغانان راپاڅيږ ي او دډيورنډد تورې کرښې په واسطه ويشل شوی افغان واحد ملت بيرته يوکړی. په دې کې شک نه شته چې دا پاڅون به د افغان مشرانو د لار ښوونو سره سم سوله ايز او له هر ډول تشدد څخه پرته سرته رسيږي.افغانانو دنورو له خوا تپل شوو جگړوکې زښت زيات ځاني ،مادي او معنوي زيانونه ليدلي دي ،نور

نه غواړي چې دافغانانو په خاوره کې د جګړو اور بل پاتې شي اوله پاکستان څخه هم غواړي ،چې دافغانانو له حقه حقوقو څخه نورې سترګې پټې نه کړي او پر نیمايي افغانسان باندې داستعماري سیاست دپرمخ بیولو په خاطر د حکومت کولو نه لاس واخلي . خوکه چیرته پاکستان د افغانانو د دې حق او روا غوښتنو په وړاندې دزور او ځپلو څخه کار واخلي او د افغانانو حقه سوله ایزې غوښتنې په خشونت او ځپلوسره ځواب کړ ي ، نوبیابه افغانان حق لري دنورو لارو په هکله فکر وکړي،تر څودويشل شوي افغانستان د بیرته یووالي په هکله دباچاخان ،صمدخان اونوروافغان مشرانو ارمان پوره شي اوټول افغان ملت بیرته یوشي.
د ۲۰۱۲ کال د نومبر ۱۸

# يوائې افغان ستر ملت کولای شي استعماري توطيې شنډې اوله او سنيو ستونزو څخه ووځي

استعماري هيوادونو ، په تيره بيا برتانيې دافغانستان په ټوټې کولو او کمزوري کولو کې تر بل هر چا ډير رول لوبولی دی او د افغانستان پرخپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا باندې لومړی تيري کوونکی او غاصب هيواد دی، چې تر اوسه پورې افغانان له هغو توطيو سره لاس او ګريوان دي چې برتانيې ورته دخپلو استعماري ګټو په خاطر جوړې کړې وې او په ډول ډول پلمو دغو توطيو ته دوام ورکوي . دبرتانيې دهمدغو استعماري توطيو دوام دی ، چې زموږ ستر هيواد افغانستان يې ويشلی او دومره کمزوری کړی دی چې نه شي کولای دبهرنيو پراختيا غوښتونکو هيوادونو د لاسوهنو مخه ونيسي او سوله او ثبات ټينګ کړي.

پرافغانانودا نه پای ته رسيدونکې جګړې ، بې ثباتۍ ، ګډوډۍ ، بېکورۍ ، بيکارۍ ، دپرديو د لاسپوڅو او ملي ضدکړيو زور واکۍ ، ډول ډول ټولنيز فسادونه ، افغان اصيل فرهنګ ، هويت اوعقايدو ته سپکاوی او پرې تيری ، دا ټول هغه څه دي چې د افغانانو په وړاندې داستعماري سياستونو څخه رازيږيدلي دي . کله چې انګريزان ، له اموڅخه تر اباسينه پورې د افغان واحد ملت سره په جګړه کې په پرله پسې ډول د۱۹پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې، د شرموونکو ماتو سره مخامخ شول ، نه يوائې دا چې د دې واحد ملت ايل کيدل ورته ناشونی کار جوت شو ، بلکې داسې يې وګڼل چې کيدای شي افغانان يې هغو استعماري ګټو ته چې په هند کې يې لاسته راوړې وې ګواښ باندې بدل شي.

همدا سبب و ، چې هم د خپلې ماتې په غچ کې او هم خپلو ګټوته دګوابښ په مخنیوي کې دې نتیجې ته ورسیدل چې د زور له لارې وي او که د چال ،فریب ، توطیې اوګوابښ له لارې وي د ځینو افغانانو ، په تیره بیا د سلطنت او قدرت د دعوه ګیرو د کمزورتیاوواونیمګړتیاوو څخه په ناوړه ګټې اخستو سره زمونږ دا ستر هیواد په دریوټوټو وویشي او هره ټوټه بیا په ځانګړي ډول دخپلو استعماري موخود پاره د توطیوسره مخامخ کړي .

یوه برخه یې دخپلواک افغانستان په نوم د سیاسي ،اقتصادي او نظامي پلوه په ځان پورې تړلی او وروسته پاتې کمزوري واړه هیواد په بڼه منځ ته راوړه . د انګریزانو موخه داوه چې دا برخه افغانستان بایدیواځې په نوم خپلواکه وي ، خوپه عمل کې هیڅ داوړتیا لاسته رانه وړي چې ځان له هغوتوطیو څخه وژغوري چې دوئ ورته جوړې کړې وې. نه یواځې بهرنی سیاست یې د انګریزانو په لاس کې وي ، بلکې په نوم خپلواک ، خو په واقعیت کې دومره کورنۍ ستونزې او کړاوونه ولري ، چې هیڅکله ونه شي کړای ټینګ ملي یووالی ، سوله او ثبات منځته راوړي اوپه خپلو پښنو ودریږي.

د استعماري سیاستونودتوطیو پر بنسټ ددې هیواد خلک بایدد اقتصاد له پلوه خپله خپلواکي لاسته رانه وړي، تل بې وزلي و ساتل شي ، پرې نه ښودل شي چې خلک دخپلې خوښې اوباور وړ حکومت و لري. تل پکې شخړې او بې ثباتۍ وي او هلې ځلې وشي چې دافغانانو دبې اتفاقیوڅخه په ګټې اخستو سره د دوئ لاسپوځي او ګوډاګیان چې د پردیو د ګټودپاره کار کوي قدرت ته ورسول شي . نوځکه هرکله چې د ملي وطنپالو افغانانو کوم خوځښت رامنځته شوی دی دانګریزانواونورواستعماري هیوادونو له خوا ورته ډول ډول توطیې جوړې شوې او له پښنویې غورځولی دی.

اوسنی افغانستان ، چې زموږ دستر هیواد یو ه برخه ده،له ویشلوڅخه وروسته هیڅکله د یوې ربنتیانۍ سیاسي ، اقتصادي ، نظامي او فرهنګي خپلواکۍ خاوند نه واو که کله د داسې یوې خپلواکۍ د پاره یو وړوکی ګام هم پورته شوی دی هغه هم داستعماري هیوادونوله خوا په بې رحمۍ شاته تمبول شوی دی. همدا او س افغانستان د نړیوالې ، سیمه ایزې او کورنۍ مافیا په جال کې پروت دی . ټولې سیاسي ، اقتصادي نظامي او فرهنګي چارې یې د استعماري هیوادونو او د دوئ د اجنټانو له خو ا دلاسوهنو سره مخامخ او اداره کیږي . همدا سبب دی چې په دې دومره بې کچې شتمنیو کې افغانستان په ډیرو بې وزلو او وروسته پاتې هیوادونو کې شمیرل کیږي او تر ټولو فاسد دولتي نظام پرې تپل شوی دی.

دافغانستان خلک له هرډول سیاسي ، اقتصادي ، نظامي او فرهنګي چارو کې دګډون او امکاناتو څخه محروم کړل شوي دي. نوځکه دهیواد ټولې طبیعي زیرمې د بهرنیو لوټمارانواودوئ سره په لوټ کې شریکو کورنیوغاصبینو له خوا دنیستۍ له خطر سره مخامخ دي . د اوسني افغانستان د ټولو شتمنیو په لوټولوسره بهرنیان او د دوئ کورني اجنټان دنه باوریدونکو شتمنیو خاوندان شول ، خودافغانستان خلک دنه باوریدونکي فقر ، لوږې، ناروغۍ، بې کورۍ ، بې کارۍ ، بې خبرۍ او ډول ډول ستونزو او بدمرغیو سره لاس او ګریوان دي. دهمدې لوټمارانو دماټیو لاندې ډیر افغانان لکه د ځمکې د چینجو په څیر په داسې څپریو کې ژوند کوي ،چې انسان خوځه چې ژوي هم پکې ژوند نه شي کولای او ایله مرګ ته شپې سبا کوي .خو پردي پال ګوډاګي چارواکي سترګې نه لري چې د دوئ له حال څخه خبر شي .

دافغانستان له ټولو میشتو قومونوڅخه امریکایانو، انګریزانو ، متحدینو اوګاونډیانویې په داسې پردي پالو عناصرو تکیه کړې

او قدرت ته یې رسولي دي ، چې دهمدوئ دګټوڅخه دفاع کوي او خپلې ګټې دافغان ملت په ګټو کې نه ، بلکې دهمدې بهرنیو تیري کوونکو په ګټو کې ویني. نوځکه سیاسي قدرت ته رسول شوي واکداران ملت ته د هیڅ ډول مسؤلیت او ځواب ورکولو پروا نه کوي او د دولتي قدرت څخه په ناوړه ګټې اخستو سره د دولت قوانین تر پښو لاندې کوي او یوه مطلقه انارشي او ګډوډي یې جوړه کړې او ټولنه یې د فسادونو سره مخامخ کړې ده . اسلامیت او افغانیت خو څه ، چې انسانیت یې هم تر پښو لاندې کړی اوداسې کارونه کیږي ، چې حتی ځارویو کې هم لاتر اوسه چا نه دي لیدلي.

دغه فاسدزور واکان په هر قوم اومذهب پورې چې تړلي دي او په هره ژبه چې خبرې کوي په خپلو منځونو کې یودي او ټول د افغان ملت دمختلفو قومونو او مذهبونو دخلکو په ځپلواو وینو ځېښلو د خپلو بهرنیو بادارانو په مرسته او لارښوونه لګیادي. دوئ یوائې خپلې ګټې پیژني او چا چې قدرت ته رسولي دي دهغوئ دګټو او خپل قدرت د دوام د پاره کار کوي. د دې د پاره چې خپل او د خپلو بادارانو ګټې او قدرت وساتي هلې ځلې کوي افغانان په خپل منځ کې د قوم ، ژبې او مذهب په نوم په جنګ واچوي او یو له بل نه یې بېل کړي تر څو خلک په ګډه ورپسې راپانه څیږي او دخپلو جنایتونو په سزا ونه رسول شي.

اوس خو لا د افغانستان د خلکو دښمنان نورې دسیسې جوړوي، تر څو دا کمزورې اشغال او له فساد څخه بویناکه شوې برخه نوره هم ټوټې ټوټې او وویشي. ویل کیږي چې استعماري ځواکونه دکورنیو ګوډاګیو چارواکو سره یو ځای داسې پلان په کاراچوي ، چې نوم یې ورله دسولې ټینګول ږدي ، خو په واقعیت کې به افغانستان بیا هم په شمال او جنوب وویشي. جنوب به د طالبانو په واک کې وي او شمال به د شمالي ټلوالې په واک کې وي. دابه بله مانا ونه لري بې له دې چې افغانستان د دوو سیاسي ډلو

ترمنځ وویشي او د افغانانو ویشل اویوبل څخه لیرې کول لاپسې ژور کړي. د طالبانو سره سوله حتمي ده ، په جګړه کې ایله د بهرنیو نیواک ګرو او کورنیو زور واکانو ګټې پرتې دي ، جګړه خلکوته غمونه ، کړاوونه او محرومیتونه زیږوي . خوکه طالبانو سره سوله کیږي او په سیاسي واک کې برخه ورکول کیږي ، نو شمال او جنوب باید پکې نه وي ، په ټول افغانستان کې په هر ځای کې چې وي دافغانانو په توګه په سیاسي قدرت کې برخه واخلي ، نه یو خاص ټبر یا قوم پورې اړوند په نوم په جنوبي ولایتونو کې . طالبان هم باید له داسې ویش څخه ډډه وکړي ، داسې نه چې د افغانستان د لا تجزیه کیدو په مسؤلیت کې شریک شي .
دافغانستان دخلکو دیووالي او خپلواکۍ دښمنانو لا داسې پروپیګنډې هم په کار اچولي دي ، چې دا اوسنی افغانستان دیوواحدمرکزي دولت دمنځته راوړو وړتیا نه لري ، ځکه چې خلک یې ډیر ژور قومي ژبني او مذهبي اختلافونه لري . دوئ پروپیګنډې کوي چې که افغانستان په ۸ زونونو تقسیم او هر زون په مستقل ډول خپله اداره ولري او خپلې چارې په مخ بوزي ، کیدای شي په افغانستان کې سوله ټینګه شي . دا هم د افغانستان د لاټوټه کیدو نقشې دي چې دملک التوایفي بوی ترې راځي او د افغانستان دخلکو دخپلواکۍ د دښمنانو له خوا یې د پلې کیدو هلې ځلې کیږي.
انګریزي استعمارچیانو دافغانستان بله بر خه د « ازادو قبایلو » په نوم ونوموله او دافغانستان له نورو دوو برخو څخه یې بیله کړه . دلته دانګریزانو موخه دا وه چې دا برخه افغانان په بل ډول وځپي او دخپلې ماتې او دوئ ته دنه ایل کیدو په غچ کې یې په تلپاتې ځانله توب ، فقر ، له علمي او تخنیکي ښیګڼو څخه په محرومیت ، خپلمنځي دښمنیو ، ځان ځانۍ ، د نړۍ اونړۍ والو څخه په ناخبرۍ او دازادۍ په نوم په کلابندۍ کې وساتي . لومړۍ انګریزانو او ورپسې پنجابیانو له « ازادو قبایلو»

څخه د خپلو استعماري پراختيا غوښتونکو موخو د پاره له دغې سيمې څخه د تشدد ، ترور او ځايي خلکو د محکوميت دپاره د خپلو بهرنيو او کورنيو جاسوسي شبکوپورې تړلو اجنټانو ځاله جوړه کړه . تر څو دخپلو پروپيګنډو او تروريستي فعاليتونو په سرته رسولو سره د افغانستان په دې برخه خاوره کې دافغانانو ديووالي روحيه کمزورې او هغه افغانان چې دنورو دووبرخو سره د يووالي هيله لري په يوډول نه يو ډول تطميع اويا له منځه يوسي.

« ازادو قبايلو » ته يې نو م ازادورکړی دی ، خو د اوسني عصر په ټولو محروميتونو محکوم او بهرنيو استخباراتي شبکو داجنټانو پواسطه يې بې شميره قومي مشران او د خبرواو جرګوکسان له منځه تللي او دخطرونو سره مخامخ دي . ترټولو بده توطيه خودا ده چې د پاکستان، امريکې او انګريز استخباراتي سازمانونو له دې سيمې څخه دخپلو شبکو په واسطه دنورو هيوادونو څخه دراوړل شوو اجنټانو په واسطه د تشدداوترهګريزو فعاليتونو مرکز جوړ کړی دی ، خوپروپيګنډې په ځايي افغانانو پسې کوي ، چې ترهګروته يې پټنځايونه ورکړي دي.

د تروريزم سره د مبارزې په پلمه امريکايانو او پنجابيانو په ګډه دخپلو استعماري موخو دپاره د جيټ جنګي پاکستاني الوتکواوټانکونو او بې پيلوټه امريکايې الوتکو په بمبارۍ سره تر اوسه پورې په زرګونو کسان له منځه وړي او بشپړکلي او سيمې يې د ترهګرودپټنځايونو په نوم په کنډوالو بدل کړي او په لسګونو زره خلک يې له خپلوکورونو اوسيمو څخه تيښتې ته اړ کړي دي . دا بمبارۍ اوعمليات په مسلسل ډول تکراريږي او نوم پرې ږدي چې په دې ډول دترهګرو مرکزونه ورانوي.

امريکې او متحدينو يې په دې جګړه کې وروستنۍ ماډل وسلې وکارولې او په نظامي عملياتو کې يې د بشر هيڅ ډول حقوق په پام کې نه دي نيولي. بې له محاکمې څخه د جيټ جنګي اوبې پيلوټه الوتکو په واسطه

دافغانانو وژل ، بل څه نه دي بې له تعریف شوي تروریزم څخه ، چې دامریکې او پاکستان چارواکي یې سرته رسوي.
پنجابیانو کټ مټ دانګریزانو هغه چلند چې د « ازادو قبایلو » او « صوبه سرحد » سره کاوه ، اوس د « ازادو قبایلو » او «خیبر پښتونخوا» سره پرمخ بیایي. لکه چې په هغه وخت کې به انګریزانو په ازادوقبایلو کې د خپلو جوړو کړو شبکو له لارې هم په «ازادو قبایلو» کې خپل مخالفین ځپل او هم به یې پرې «صوبه سرحد» کې د ډاکو او ناامنیو تر څنګ خپل مخالفین له منځه وړل او دصوبې په حکومت پسې پروپیګنډوته پلمه جوړوله چې امنیت نه شي ټینګولی . اوس خو پنجابیان په قبایلو کې خپلو استخباراتي شبکوپورې تړلو اجنټانو په واسطه په مختلفو نومونو او پلمو هم ځایي ربنتیني دیني عالمان او مشران له منځه وړي او هم پرې په خیبر پښتونخوا کې تروریستي کارونه سرته رسوي. په دې سره غواړي چې « په ازادو قبایلو»کې د پنجاب د استعماري ځپونکي سیاست څخه دخلکو پام په بله واړوي او هم د« خیبرپښتونخوا» او« ازادو قبایلو» تر منځ بیلوالي او دښمنیو ته لمن ووهي او په دې سره د ډیورنډ دکرښې اخوا پرتو افغانانواوپه ټول کې د افغان واحد ملت د یووالي روحیه کمزورې او له منځه یوسي او خپل استعماري واک لاپسې وغزوي.
انګریزانو هغه برخه افغانستان چې د برتانوي هند سره په پوله پرته وه، دخپلې هندي مستعمرې سره وتړله او تر مستقیم استعمار لاندې یې راوسته. لومړی انګریزانو او ورپسې پنجابیانو دافغانستان د دې برخې خلک نه یوازې د ازادۍ څخه محروم کړل ، بلکې هڅه یې وکړه چې هویت ژبه او فرهنګ یې له منځه یوسي اوپر ځای یې خپله ژبه او فرهنګ پرې وتپي . انګریزانو د افغانستان دې برخه باندې چې یې نیغ په نیغه دخپل استعماري واک لاندې راوسته او دشمال غرب سرحدي ولایت نوم یې

ورکړ غوښتل نه یوائې د نورو دووبرخو سره یې اړیکي نه وي ،بلکې پخپله هم نه ژبه ولري ، نه خپل نوم ولري او نه هویت او فرهنګ .
انګریزانو دافغانستان دا غصب کړې برخه د ټولو افغانانو څخه د غچ اخستو په ټس کې دومره دظلم او ځپلو سره مخامخ کړه ، چې دنړۍ په سر بله داسې دخصومت بیلګه داستعمار لاندې خلکو سره نه وه لیدل شوې .
د افغانانو سره دانګریزانو د تلپاتې دښمنۍ نیت هغه وخت بربنډ شو ،کله چې دوئ نور نه شول کولای دهند په نیمه وچه خپل استعماري واک ته دوام ورکړي او مجبور ول دهند نیمه وچه خوشې کړي. له هند څخه د وتلو سره سم دوئ دهندیانو خپلواکي په رسمیت وپیژندله ،خود افغانانو په اړوند یې په توطیه ایز ډول دخپلې استعماري واکمنۍ کرغیړن میراث خپل نوي ځیږولي پاکستان ته ولیږدوه . څرنګه چې په کابل کې یو ځان ساتی حکومت د واک په ګدۍ ناست و او له بله پلوه انګریزانو په « ازادو قبایلو» او صوبه سرحدکې هم زیاتې پیسې خپرې کړې وې او د افغانانو او نورو مسلمانانو د غولولو دپاره یې دپنجاب نوی استعماري سیستم د اسلام په نوم رامنځته کړ ، نوځکه د انګریزانو دغه توطیه بریالۍ شوه.
خوداریانتیا خبره دا ده ، چې په ټوله نړۍ کې د استعمار او په تیره بیا د انګریزي استعمار لمنه ټوله شوه ، خو په خپلې خپلواکۍ مین افغانان لاتر اوسه دپخواني انګریزي او اوسني پنجابي استعمار په لمو کې نښتي دي او ځان ترې نه شي ژغورلی . دځینو افغان مشرانو ځان ځاني ، د شخصي قدرت او ګټو په خاطر د هیواد ملي ګټې تر پښولاندې کول ، د اسارت د ژوند سره دځینو کسانو روږدي کیدل اودخلکودپراخه پرګنو د سیاسي اوټولنیزې پوهې دکچې ټیټوالی هغه څه دي ، چې د خپلواکۍ دلاسته راوړو د پاره یې د ځینو افغان مشرانو دمبارزې وړتیا کمزورې کړې اوهسې په تشوخبرو او وعدو یې له اموځخه تر اباسینه پورې افغان واحد ملت تیر ایستلی او په ۲۱ پیړۍ کې یې د پنجاب استعماري

حاکمیت پرې تپلې دی. استعمار د افغانانو د رښتیانیو ملي مشرانو سره نه پخلاکیدونکې دښمني درلوده ، لري او په راتلونکې کې به هم ملي ایدیالوژۍ ،ملي واکمنۍ او ملي مشر تابه په وړاندې خپلو دښمنیو ته دوام ورکړي .
نوځکه د استعماري رژیمونو څخه د دې تمه کول چې ګنې د انګریزانوپه واسطه دافغان ویشل شوي هیوا د بیرته یووالي سره به مرسته وکړي ، له واقعیت څخه لیرې خبره ده . همدارنګه د هغونړیوالو ټولنو او سازمانونو څخه ،چې د استعماري رژیمونو دبشپړ اغیز لاندې کارکوي ، ددې تمه کول چې ګنې د افغانستان په بیرته یووالي کې به دافغانانو سره مرسته وکړي چې د استعمار له منګولو څخه ځان وژغوري هم بې ځایه تمه کول دي . په دې ډول دهغه افغان دولت څخه چې دافغانستان دبیرته یووالي مخالفین یکې غوره برخه لري او په بشپړ ډول د بهرنیوهیوادونو په تیره بیا د امریکې او برطانیې ، چې د پنجابي استعمارسره نژدې ستراتیژیک اړیکې لري ، په مرسته ژوند کوي څرنګه تمه کیدای شي چې له اموڅخه تر اباسینه پورې دافغانستان دبیرته یووالي دا ستره ملي مسله اواره کړي او دافغانانو اوسني ناورین ته د پای ټکی کیږدي.
له اموڅخه تر اباسینه پورې دویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي دنده یوازې د افغان ستر ملت په غاړه ده . له اموڅخه تر اباسینه پورې افغان واحدملت کولای شي ټول په یواواز سره راپاڅیږي او ووایي چې : د ډیورنډ کرښې نور دې نه منو ! د ۲۱پیړۍ پنجابي استعماره نور دې نه منو ! له اموڅخه تراباسینه پورې خپلواک او واحدملت دی ، ویشاکه نور دې نه منو !
خو په یواواز سره له اموڅخه تر اباسینه پورې د ټولو افغانانو راپاڅیدلو د پاره هلو ځلو او کارته ضرورت دی. دخلکو پوهولو ته ضرورت دی. ټول افغانان باید په دې پوه شي چې دافغانانو غمیزه له هغه وخت څخه پیل

شوې ده چې پيرنګيانو افغانستان باندې يرغل وکړ او له نيولو وروسته يې په ټوټو وويشه. افغانان لااوس هم د پيرنګيانو په استعماري لمو کې ټوټې شوي د پنجابيانو په استعماري لموکې همداسې ټوټې ټوټې پراته دي.تر څو ټوټې ټوټې ټوټې او ويشل شوی افغانستان بيرته يونه شي، افغانان به دپرديو له تيريو، لاسوهنو، توطيو، ستونزو او کړاونو څخه خلاص نه شي.

دا کار به په خپل هيواد او خلکو مين ملي مشران، ملي وطنپال روحانيون، ملايان، روڼ اندي او د پوهې اوقلم خاوندان دخپل ملي اسلامي دين په توګه سرته رسوي ترڅود ټول افغان واحدملت ازادي بښونکی غورځنګ منځته راشي. د ويشل شوي افغانستان په بيرته يووالي کې نه يواځې د مظلوم پښتون ولس په وړاندې د استعمار د کرغيړنوتوطيو څخه د ژغورلو لار پرته ده، بلکې دافغانستان دټولو ورونو قومونو د سرلوړي سوله ايز ژوند، ټينګ ملي يووالي، رښتيانۍ خپلواکۍ، ملي واکمنۍ اوځمکنۍ بشپړتيا لر ل، دبهرنيو تيريو، لاسوهنو، استخباراتي او مافيايي شبکود فعاليتونو مخنيوی اود تلپاتې سولې او ثبات ټينګول هغه څه دي چې زموږ دهيواد پرمختګ او دهيوادوالو سوکالي او نيکمرغي پکې نغښتي دي. د بيرته يو شوو افغانانو په خپله خوښه، بې له هر ډول بهرنيو لاسوهنو څخه، کيدای شي يو رښتيانی ملي وطنپال دولت رامنځ ته شي، ترڅوپه هيواد کې تلپاتې سوله او ثبات اوملي يووالی ټينګ، قانون حاکم، هرډول تبعيض او تعصب له منځه ولاړ او کارپه کار پوه خلکو ته وسپارل شي. په دې سره به افغانان دا وړتيا ولري چې دهر ډول فساد مخه ونيسي او خپلې ټولې زيرمې دهيواد د بيا رغولو او پرمختګ دپاره په کار واچوي.

له امو څخه تر اباسينه پورې افغان مستعدملت کولای شي دخپل رښتياني افغان ځواکمن ملي دولت په لرلو سره دهيواد بې ساري شتمنې

طبيعي زيرمې دملت دارتياوو دپوره کولو او د هيواد دهر اړخيز پرمختګ د پاره په کار واچوي. پرمختللی زراعت اوصنعت به دکارور افغانان په کار وګوماري اوملي عايدات به زيات شي ، چې دا به په خپل وار سره په تجارت کې دصادراتو او وارداتو انډول منځته راوړي . افغانان به نورضرورت نه لري چې نورو هيوادونو ته دکار د پيداکولودپاره ولاړ شي اويا دخپلو ضرورتونو د پوره کولو د پاره نورو ته لاس اوږد کړي.

له امو څخه تر اباسينه پورې دستر طبيعي او تاريخي افغانستان مرکزي دولت به دخپل سرلوړي ملت په باور او مرسته په خپلو پښو ولاړ دولت وي او دا وړتيا به لري چې د هر ډول بهرني سياسي ،نظامي ، اقتصادي او فرهنګي يرغل په وړاندې ودريږي او دخپل ملي هويت څخه دفاع وکړي. بيا به هر افغان په خپل ملي هويت وياړي او دغه نو م او هويت به په ټوله نړۍ کې خلکوته اشنا او ددرناوي وړ وي.

په خپلو پښو ولاړ ، پرمختللی د پريمانه مستعدو انساني او نه پای ته رسيدونکو طبيعي شتمنيو لرونکی افغانستان به په سيمه کې د سولې او ثبات په ټينګولو کې د پام وړ رول لوبوي. افغانستان به نور د مخدره موادو د توليد او کاروباردمرکز په څير نه ، بلکې دمتقابلو ګټو پر بنسټ به دګاونډيو ، سيمې او نړۍ دنورو هيوادونو سره د سياسي ،اقتصادي او فرهنګي همکاريو دپاره د څلور لارې په توګه کارکوي.

په ستر افغانستان کې د يو ځواکمن مرکزي دولت په منځته راتلو سره به د استعماري سياستونو پر بنسټ دمنځته راغلو استخباراتي ـ تروريستي شبکو ځالې له منځه ځي او په افغانستان او سيمه کې به تلپاتې سوله او ثبات ټينګيږي . په دې ډول به د افغانستان ټولې انساني ،مادي او معنوي زيرمې د افغان انسان د ښيګڼې او سوکالۍ د پاره په کار لويږي او د افغانانو له ستوني څخه به د مافيا او نورو کورنيو او بهرنيو لوټمارانو

او وینو زبیښونکو لاسونه لنډیږي . لنډه دا چې یو سیال ، سوله غوښتونکی اوپرمختللی افغانستان دټولې نړۍ د سولې او ثبات په ټینګښت اودنړیوالې ټولنې په پرمختګ اوترقۍ کې دارزښت وړ دنده سرته رسولای شي.

نوځکه دګاونډیو ،سیمې اونړۍ دټولو سوله غوښتونکو ځواکونو اوخلکوڅخه غوښتنه کیږي چې له پنجابي استعمار څخه د خپلې خپلواکۍ د لاسته راوړو په مبارزه کې د افغانانو ننګه وکړي. په تیره بیا د برتانیې ، امریکې او نړۍ دنورو هیوادونو د استعمار ضد ځواکونو او خلکو څخه هیله او غوښتنه کیږي ،چې په خپلو اړوندو دولتونو زور واچوي ، چې نور په دې ۲۱ پیړۍ کې د پنجاب د استعماري سیستم څخه ملاتړ ونه کړي .

دنړۍ خلک باید دنړیوالې سولې او ثبات په خاطر دافغانانو له خپلواکۍ ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه ملاتړ وکړي اوپرې نه ږدي چې د افغانستان ، سیمې اونړۍ دکړکیچ اصلي عامل یانې دپنجاب په واسطه دافغانستان دنیمې خاورې اشغال او غصب دوام وکړي.

له امو څخه تر اباسینه پورې د ویشل شوي افغانستان بیرته یووالی اوبې له هر ډول بهرنی لاسوهنې څخه د افغانانو په خوښه د یوواحد ستر مرکزي دولت منځته راوړل په افغانستان کې د سولې اوثبات د ټینګولو او ټولو کړکیچونو د له منځه وړلو لومړنی او بنسټیز شرط دی.

د جنوري ۱۸ ، ۲۰۱۳ کال

# د ويشل شوي افغانستان دبيرته يووالي د پاره له امو څخه تر اباسينه پورې د يو پراخ ازادي غوښتونکي ولسي غورځنګ د منځته راتلو اړتيا

څرنګه چې د استعمار سيستم  د ټولو نړيوالو انساني او اخلاقي نورمونو ضد سيستم دی ، نو ځکه يې د نړۍ له نژدې ټولو هيوادونو څخه ټغر ټول شوی دی. يوائې يو کم شمير خلک  لکه د افغانستان دخلکو په څير لا اوس هم د استعمار په تورو لمو کې ګير پاتې دي او ځان ترې نه شي خلاصولی. د ډيورنډ تورې استعماري کرښې په واسطه افغان  ستر ملت دانګريزي استعمار چيانو له خوا د ۱۹ پيړۍ په وروستۍ لسيزه کې وويشل شو چې لا تر اوسه دغه بيلتون د پاکستان په وجود کې دوام لري .
لکه چې د اوسني سمينارموضوع هم ده لومړی به په لنډ ډول د  « پښتنو د يووالي په وړاندې په بره او لره پښتونخوا کې سياسي او ټولنيز خنډونو» په هکله د نظر ټکي وړاندې کړم  او بيا به « د دې خنډونودحل لاروچارو » وړانديز وشي:
لومړی به د ويشل شوي افغانستان د بيرته يووالي په وړاندې پرستونزو او خنډونو خبرې وکړو . هغه دا چې:
- لا اوس هم استعماري ځواکونه دې پايلې ته نه دي رسيدلي  چې د ډيورنډ استعماري کرښې  په واسطه د ويشل شوي افغانستان بيرته يووالي ته غاړه کيږدي او دافغانانو په خاوره خپل نيواک پای ته ورسوي .له يو پلوه د افغانستان جيو - ستراتيژيک موقعيت چې نه يوائې پنجابي غاصبين ، بلکې انګريز ي او امريکايي نيواکګر ځواکونه هم غواړي له دغه موقعيت څخه ګټه واخلي د ويشل شوي افغانستان دبيرته يووالي په وړاندې لوی خنډ ګڼل کيږي. نو ځکه دوئ حاضر نه دي چې په خپله خوښه

د خپل دغه افغان دښمنه دریځ څخه تیر شي. دوئ پوهیږي چې یواځې د افغانانو په ویشلو کې دوئ کولای شي د افغانانو له خاورې څخه ناوړه ګټه واخلي. انګریزانو د ډیورنډ دکرښې په واسطه زمو ږ هیو اد په ډیر ظالمانه ډول وویشه، پنجابیانو دویشل شوي افغانستان په یوې سترې برخې خیټه اچولې ده او امریکایان وایې چې د ډیورند استعماري کرښه د نړیوال برید په توګه پیژني. نو په دې ډول ویلای شوچې د ویشل شوي افغانستان اود لراوبر پښتنو د بیرته یووالي په وړاندې دا تر هر څه سترې ستونزې دي چې اوارول یې ډیر کار او سرښندنو ته اړتیا لري.

ـ د سیمې او ګاونډي هیوادونو خصمانه او پراختیا غوښتونکي سیاسي دریځونه هغه څه دي چې د ډیورنډ دکرښې په واسطه د ویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي په وړاندې خنډونه منځته راوړي. دا هیوادونه ستر، متحد او ځواکمن افغانستان په خپله ګټه نه بولي او د خپلو پراختیا غوښتونکو سیاسي دریځونو په وړاندې یې خطر ګڼي. نو ځکه زمونږ د هیواد په ویشلو، کمزورتیا، بې اتفاقۍ او بې ثباتۍ کې خپلې ګټې ویني او ترڅو یې وسه کیږي زمونږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي دخپلو اجنټانو په واسطه دقوم، ژبې او مذهب په نومونو بې اتفاقیو ته لمن وهي. چې په دې ډول د ویشل شوي ا فغانستان د بیرته یووالي اویا دلراوبر پښتنو د یووالي په وړاندې دا هم لویه ستونزه بلل کیدای شي.

ـ د استعماري ځواکونو سره تړلو سکتاریستي او پښتو ن دښمنه متعصبو کسانو او کړیو شتون یوبل خنډدی چې تل دننه په هیواد او بیرون له هیواد څخه د سیمې او نړۍ په سویه په پښتنو پسې هر ډول ناوړه پروپیګنډې کوي او دویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي سره نه پخلا کیدونکی ضدیت لري. دوئ د دې د پاره د ویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي سره مخالف دي چې په دې یووالي سره به پښتانه په افغانستان کې غوڅ اکثریت ولري او په دې سره به د پښتون قوم او پښتو

ژبې حاکمیت په افغاني ټولنه کې تل پاتې شي . دهمدې قومي تعصب له کبله دوئ دویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي په وړاندې د پنجابي استعمارچیانو په دریځ او چوپړ کې ولاړ دي او دیو ستر، خپلواک او ځواکمن افغانستان پر ځای ، چې دهر ډول بهرنیو تیریو ، لاسوهنو او توطیو په وړاندې له ځان څخه دفاع وکړي او په خپلو پښو ولاړوي ، د یو کمزوري ویشل شوي بې دفاع او نورو ته محتاج افغانستان غوښتونکي دي. دوئ دناولي تعصب په لرلو سره د پردیو داسارت غړوندي په غاړه د ذلت په ژوند خوښ دي ، خو د پښتنو سره په ګډه په یو ځواکمن ، خپلواک او سرلوړي افغانستان کې ژوند نه خوښوي .

ـ د انګریزي استعمارچیانو په واسطه دویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي او یا د لرو او برو پښتنو دیووالي په وړاندې تر هر چازیات پخپله پښتنو خنډونه منځ ته راوړي دي . استعمارچیانو دپښتنو د ایل کیدو دپاره تل د پښتنو له کمزوریو څخه کار اخستی دی . د شخصي قدرت او جاه او جلال سره لیوالتیا ډیر ځلې پښتانه مشران دخپلو ګټو دلاسته راوړو او یا ساتلوپه خاطر د پښتون ملت د ملي ګټو په وړاندې ودرولي دي. د کبر اولویي په کمزورۍ اخته کسانو ډیر ځلې یوبل ته د تن نه ورکولو له کبله ځواکمن ملي دولتونه له پښو غورځولي دي . وړې شخصي ګټې او ځان غوښتنې د سر په دښمنیو اوښتي او له کبله یې قومي او ملي ناورینونه زیږولي دي . دخپلې ژبې ، فرهنګ او هویت سره د بې تفاوتۍ او نه مینې له کبله ډیر پښتانه د پردیو په چوپړ کې لګیادي او پخپله یې دځان بې هویتۍ ته ملاتړلې ده . نیواکګر تل هڅه کوي چې سست عنصره تنګه سري نیمګړي او کمزوري کسان تشخیص او دمشرانو په توګه په پښتون ملت وتپي او خپل کرغیړن پلانونه دهغوئ په واسطه د پښتنو دبربادۍ او ایل کیدو دپاره پکار واچوي . ډیر وخت له ښکاره دښمنانو څخه لاسپوڅو پښتنو تش په نامه واکدارانو د پښتون ملت ګټو

ته ستر او نه جبرانیدونکي تاوانونه اړولي دي . ځینوتش په نامه پښتنوملایانو ،ملکانو ، روحانیونو ، قومي او سیاسي لیډرانو په ډیرو ناڅیزو شخصي امتیازاتو د پښتون واحد ملت په کوز او بر باندې ویشلو اوبیل ساتلو کې د پښتون ملت پر ضد او د دښمن په ګټه کارونه کړي دي او کوي یې.

- په داسې حال کې چې ټول پښتانه مسلمانان او په خپلې اسلامي عقیدې ټینګ ولاړ خلک دي ، خود دښمنانو د توطیو له کبله په خپل منځ کې د اسلام پال او سیکیولر په نومونو ،چې بل هیڅ کوم قوم کې داسې بیلتون نه شته ، یواو بل وژني اویا لږ ترلږه د پردیو له خوا دیو بل د وژلو او ځپلو په وړاندې بې تفاوته دي . ټول همدا پښتانه دي چې له یو پلوه د امریکایانو او پنجابیانود الوتکو په په بمباریو او یرغلونو کې دتروریست او بنسټپال په نومونو له منځه وړل کیږي اوله بل پلوه دسیکیولر په نوم په ځان مرګي چاودنو کې له منځه ځي . له اموځخه تر اباسینه پورې په ټول افغانستان کې په زرګونو ملي وطنپال قومي مشران ، دیني عالمان او دپوهې او قلم خاوندان دبهرنیو استخباراتي شبکو داجنټانو له خوا په قتل رسیدلي او رسیږي . ویلای شو چې ټول پښتانه یوشان دیو رښتینې غمیزې سره مخامخ دي ، خو د دې پرځای چې ټول په ګډه راپاڅیږي او ځانونه دپنجابي استعمار له محکومیت ظلمونو ،ځپلو اوبربادۍ څخه وژغوري او ویشل شوی افغانستان او لر اوبر پښتون ملت یو کړي ، د دوست اودښمن په نه پیژندلو او بې اتفاقۍ سره دښمنانو ته وخت ورکوي چې د افغانستان ویشلو او لر اوبر واحد پښتون ملت ځپلو ته دوام ورکړي.

د حل لارې چارې:

د اویا میلیونو په شاوخواکې پښتو ن ملت تاریخي دنده لري چې نه یوائې خپل ځان له هر ډول اسارت ،بربادۍ او ذلت څخه وژغوري ، بلکې

دستر افغان ملت د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه په دفاع او ديو ي سوکاله او پرمختللي افغاني اسلامي ټولنې په منځته راوړو کې غوڅ رول ولوبوي. دشرم ځای دی چې داسې استعمار شکن ملت د استعمارچيانو په دوړ دباب اويا يو څو تنو ځان غوښتونکو ، ټنګه سرو ، پرديپالو لاسپوڅو پر اوتو بوتو تيروځي او له پردو څخه د ډار يا تمې له کبله دخپلو نيکونو په تاريخ ملنډې وهي او په دې ۲۱ پيړۍ کې د پنجابي او نړيوال استعمار په لمو کې ښکيل د اسارت ژوند تيرولای شي . که چيرته ټول ملي وطنپال رښتيني قومي او سياسي مشران ، روحانيون ، ملايان،روڼ اندي-دپوهې اوقلم خاوندان او د استعمار له ستم څخه ټول ازادي غوښتونکي ځوانان خپلې ټولې هلې ځلې شريکې او منظمې کړي کيدای شي په ډير کم وخت کې دا ستر افغان ملت د يو بيدار ملت په توګه خپل ټول کورني او بهرني دښمنان و پيژني او د استعمار په واسطه دافغانستان دويشلو او لرو اوبروپښتنو ديووالي په وړاندې پرتو خنډونو پرضد راپا څيږي. دخپلې خپلواکۍ د پاره مبارزه ، چې دغاصب استعمار دظلمونو څخه خپل مسلمان ولس وژغوري جهاد دی ،چې په هر افغان فرض دی. داستعمارګرو غاصبينو دحاکميت په وړاندې غلي پاتې کيدل او بې تفاوتي دغاصب سره په ظلم او دخلکو په زندۍ کولو کې مرسته ده ، چې هيڅکله د ښنلو وړ نه ده.

همدارنګه د ويشل شوي افغانستان دبيرته يووالي د پاره مبارزه په واقعيت کې د ډيورنډ د استعماري تورې کرښې دتوطيې دشنډولو او دميليونونوويشل شوو افغانانو دبيرته يووالي او ديوخپلواک ځواکمن په خپلو پښو ولاړ افغانستان دپاره مبارزه ده . په دې مبارزې کې فعاله برخه اخستل له امو څخه تر اباسينه پورې د هر افغان دنده او مکلفيت دی چې بايد ديوې ملي فريضې په توګه سرته ورسول شي . بې له يو څو پرديپالو متعصبو سکتارستانو او استعماري ځواکونو استخباراتي

شبکو پورې تړلو جاسوسانو څخه پرته د افغانستان ټول خلک د ډیورنډ دکرښې توطیه نه مني او د ویشل شوي افغانستان په بیرته یووالي کې د افغانانو له اوسنۍ غمیزې څخه د ژغورلو لار ویني . که چیرته د ویشل شوي افغانستان دبیرته یووالي دپاره له امو څخه تر اباسینه پورې یو پراخ ازادي غوښتونکي غورځنګ په منځته راتلو سره دمبارزې د زعامت تشه ډکه شي ، کیدای شي په لنډ وخت کې ټول لراوبر افغانان ، چې یو شان دامریکې او پنجاب استعماري ځواکونو او د دوئ دکورنیو لاسپوڅو له خوا په مختلفوپلمو او نومونو دتیریو ،توطیو او ځپلو سره مخامخ دي ، دخپلې خپلواکۍ او یووالي دپاره د مبارزې میدان ته راووزي. دانګریزي استعمارچیانو په واسطه د ویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي دپاره له امو څخه تر اباسینه پورې یوپراخ ازادي غوښتونکی ولسي غورځنګ کیدای شي په دې ډول منځته راشي:
۱ـ له امو څخه تر اباسینه اوپه بهر کې د ټولو ملي وطنپالو شخصیتونو ، کړیو او ګوندونو ، قومي مشرانو ، روحانیونو، دیني عالمانو، لیکوالانو او نورو هغو افغانانو چې د ویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي غوښتونکي وي تشخیصول او ترمنځ یې د اړیکو ټینګول. د دې کارسرته رسیدو دپاره کیدای شي داسې یو کمیسیون منځته راشي چې غړي یې په دې اړوند داشخاصواوکړیو په پیژندلواو داړیکو په ټینګیدوکې ورټیا ولري اوخپلې ورسپارل شوې دندې په مسؤلیت او جدیت سره سرته ورسوي. دکمیسیون ځیني غړي کیدای شي په اروپا او امریکاکې دیوې غونډې په ترڅ کې وټاکل شي او بیا په پرله پسې ډول دکمیسیون دغړو شمیرته په ستر افغانستان اونورو ځایونو کې میشت افغانانو له خوا پراختیا ورکړل شي.
۲ ـ دخلکو د پوهاوي او اړیکود ټینګیدو او دمبارزې له موخوڅخه د ولسونودخبرولو او پوهولو دپاره پراخه تبلیغاتي کار ته اړتیا ده . دا کار

باید دمنظمو او پرله پسې ځانګړو خپرونو له لار ې سرته ورسیږي. لاس په لاس تبلیغاتي پاڼې ، ورځپاڼې ، جریدې ، ویب پاڼې ، فیس بوک رادیویي او تلویزیو ني خپروني کیدای شي په منظم او پرله پسې ډول سرته ورسیږي . د استعمار په واسطه د ویشل شوي افغانستان دبیرته یووالي د پاره تبلیغاتي کار کیدای شي دنوموړو وسیلو د ډیرو چلوونکو له خوا په ویاړ سره سرته ورسیږي . د تبلیغاتي کارونو دسرته رسولو دپاره هم یو مجرب په کارپوه کسانو کمیسیون ته اړتیا ده ، چې کیدای شي ځینې غړي یې داړیکو ټینګولو دکمیسیون په څیرپه همدغه غونډه کې وټاکل شي.

۳ـ دټولو هغو ملي وطنپالو شخصیتونو او ځواکونو ،چې دویشل شوي افغانستان بیرته یوالي دپاره هلې ځلې کوي ، تر منځ د اړیکو ټینګیدو اویوبل پیژندلو او د ولسونو دپوهاوي دپاره په کافي اندازه د تبلیغاتي کارونو د سرته رسولو څخه وروسته یوه پراخه جرګه جوړه شي . په دې جرګه کې به دیوخاص مکانیزم پر بنسټ په ټول افغانستان او بهر کې د غورځنګ د فعالینو استازي ګډون کوي . جرګه به د راتلونکو کارونو د انسجام د پاره د غورځنګ تګلار اوکړنلار ، دمشرتابه غړي او مشر ټاکي چې وروسته له دې به دویشل شوي افغانستان دبیرته یووالي دپاره مبارزه دهمدې مشرتابه په لارښوونه سرته رسیږي.

۴ـ دویشل شوي افغانستان د بیرته یووالي دپاره له اموڅخه تر اباسینه پورې دیو پراخ ازادي غوښتونکي ولسي غورځنګ د مشر او مشرتابه په ټاکلو سره دنوموړي غورځنګ د زعامت تشه له منځه ځي او په دې ډول به دویشل شوي افغانستان دبیرته یووالي د پاره د ازادي غوښتونکي غورځنګ په مبارزې باندې دخلکو باور زیات شي اوملاتړبه ترې وکړي. که دستر افغانستان ټول خلک له اموڅخه تر اباسینه اوچتراله تر عرب بحیرې پورې په یوه خوله و وایي : چې نوردستر افغان واحدملدبیلتون

کرښه نه منو ! نوباور دی چې په دې ډول به د لرو او برو افغانانود یووالي په وړاندې هیڅ ډول خنډ وجود ونه لري چې دغه استعماري توطیه شنډه کړي.
په لنډ ډول:
۱ـ د ډیورنډ کرښه د افغان واحد ملت د ویشلو استعماري توطیه ده ، چې دافغانانو د ایل کیدودپاره د دغه ملت په ټټر تیره شوې ده . تر څو دا توطیه شنډه نه شي او ویشل شوی افغانستان بیرته یو نه شي ، د افغانانو غمیزه به روانه وي.
۲ ـ د ډیورنډ داستعماري کرښې د توطیې شنډول دکوم شخص ، ګوند دولت یا ولسمشر له وسې پوره نه ده . ددې کار سرته رسول یوائې له اموڅخه تر اباسینه پورې د یو سرتاسري ازادي غوښتونکي ولسي غورځنګ له وسې پوره دی.
۳ ـ له امو څخه تر اباسینه پورې ټول ملي وطنپال شخصیتونه او ډلې کولای شي په خپل یووالي سره دویشل شوي افغانستان دبیرته یووالي او خپلواکی دپاره یو سرتاسري ازادي غوښتونکی ولسي غورځنګ منځته راوړي.
د ۲۰۱۴ کال دمارچ دمیاشتې ۷

## وروستۍ خبرې

دافغانانو دغمونو ،کړاوونو ،محرومیتونو او وروسته پاتیوالي ټول مسؤلیت د بهرنیو یرغلگرو هیوادونو او د دوئ استعماري سیاستونو په غاړه دی . دهمدې بهرنیو یرغلگرو استعماري دولتونو ځارگرو سازمانونوپه افغانستان کې ځینوکمزورو، ځانغوښتونکو پردیپالو عناصرو او کړیو ته په بډو او سیاسي قدرت ته رسولو په وعدو سره د ځان په چوپړ کې ودرولي او په دې توگه یې پر خپلې خپلواکۍ مین افغان ملت باندې یرغل اوتیري ته لار جوړه کړې ده . او بیا په گډه بهرنیو یرغلگرو اود دوئ تالي ځټو دافغان ملت دځپلو اوایل کیدو دپاره ډول ډول توطیې جوړې کړې او افغانان ، په تیره بیا ملي وطنپال شخصیتونه او ځواکونه یې په وینو او اوښکو کې لمبولي اود هیوادټول خلک یې دغمونو ،کړاوونو او ناخوالو سره مخامخ کړي دي.
یرغلگرواستعماري ځواکونو تل خپلوموخو ته د رسیدو په خاطر په افغانانو کې دقوم ،ژبې ،مذهب او سیمې اختلافونو ته لمن وهلې او په دې ډول یې دخلکو مقاومت د ځان په وړاندې کمزوری کړی اودخپلو استعماري سیاستونو څخه رازیږیدلې غمیزه یې غزولې ده . د ډیورنډ دکرښې په واسطه دافغانستان ویشل او دې ویشلو ته دوام ورکول د دې دپاره دي چې افغانان خپل ځواکمن ملي دولت منځته رانه وړي او د دوئ د استعماري سیاستونو په وړاندې له خپل ځان څخه ددفاع توان ونه لري .
دافغانستان د ویشلو او کمزوری وروسته پاتې ساتلو په توطیه کې ټول استعماري ځواکونه او کورني هیواد پلورونکي ، د استعمار اجنټان شریک دي. دوئ ټول له اموڅخه تر اباسینه پورې د یوواحد ځواکمن افغانستان له شتون څخه په ویره کې دي. دوئ واحدځواکمن افغان دولت دخپلو استعماري گټو په وړاندې یو گواښ گڼي او مخه یې نیسي.

انګريزانو دخپل پراختيا غوښتونکي سياست دپلي کيدو په موخه شاه شجاع پادشاهي ته د رسولو په پلمه رامخکې کړ.افغانستان يې ونيو ،خو کله چې پوه شول چې افغانان د دوئ تر واک لاندې ژوندکول نه مني ،نو يې په زور ،ګواښ ، حيلو او نورو توطيو په تر سره کيدوسره افغانستان ټوټه ټوټه کړ اوپه دې ډول د ويشل شوي افغان ملت څخه د دفاع او پرمختيا وړتياله منځه ولاړه. له دې څخه وروسته دانګريزانو استعماري واک ،ظلمونو اوتوطيو تر ډير وخته پورې دوام وموند ، چې تر اوسه د ويشلو دغه استعماري توطيه دپاکستان په وجود کې دوام لري.
نورو يرغلګرو استعماري ځواکونو هم دخپلو استعماري موخو لاسته راوړو دپاره دانګريزانو په څير د افغانستان د نيولو دپاره ځينو وطن پلورونکو تش په نامه افغانانو څخه ګټه اخستې او افغانستان ته يې خپل تور لاسونه راغځولي او زمونږ خلک يې د سترو بدمرغيو سره مخامخ کړي دي . شورويانو دخپلواستعماري موخو لاسته راوړو دپاره د ببرک کارمل په مشرۍ د پرچم ګوډاګی ډله قدرت ته ورسوله ، ترڅو په سيمه کې خپل استعماري واک ته پراختيا ورکړي او په پايله کې افغانستان د کارملي او ستمي وطنپلورونکو دخوښې سره سم د شوروي اتحاد په شپاړسم جمهوريت واړوي او دشوروي اتحاد برخه يې وګرځوي .دخپلو دې ناولو موخو لاسته راوړودپاره شورويانو دخپلو استخباراتو په لار ښوونه په افغانستان کې د دوئ اجنټان ( کارمليان ،ستميان اويوشمير نور بې وطنه تش په نامه افغانان ) د پرچم او ورپورې تړلی د دوستم په مشرۍ جنبش، جمعيت او ور پروې تړلې دنظار شورا ، دهزاره ګانو دوحدت ګوند او د سيدکيان دځامنو په مشرۍ اسماعليه فرقې په وجود کې وهڅول چې په افغانانو کې د توکم ، ژبې او مذهب په نومونو تاجکان اوزبکان او هزاره ګان د پښتنو په وړاندې په مخالفت کې ودروي اوپه دې ډول دافغانانو ترمنځ د ملي يووالي دټينګيدو پر ځای توکمي ، ژبنۍ ،

مذهبي او سيمه ايزې شخړې پر افغانانو وتپي  او که وه شي کړای لار دهيواد تجزيې ته اواره کړي. خود طالبانوپه وړاندې د دوئ ماتې او  د نوموړو قومونو دعامو خلکو د نه ملاتړ له کبله ، چې ټول دځان پيژندګلوي يواځې د افغان  په نوم کې ويني، نو ځکه د هيواد دتجزيې مخه ونيول شوه. خو د کارملي سکتارستانو او نورو متعصبو عناصرو او کړيو او د دوئ بهرنيو ملاتړ کوونکو د فعاليت له کبله توکميز اوژبني اختلافونه لا تر اوسه هڅول کيږي.

امريکايانو هم د انګريزي او روسي استعمارچيانو په څير پر افغانستان باندې يرغل کولو د پاره پر هغو کسانو اوکړيو تکيه وکړه چې دخپلو اعمالو په سيند کې لاهو شوي وو او دځانونو د ژغورلو دپاره يې هر خس او خاشاک ته لاس اچاوه .په تيره بيا کله چې يې په ميليونونو ډالراو دولتي قدرت ته د رسيدو ژمنه تر لاسه کړه ، نو يې په ډير وياړ د يرغلګرو د اسارت غړوندي په خپلو غاړو کې واچول او خپل هيواد يې په امريکايي تيري کوونکو خرڅ کړ. امريکايانواو دناټو نورو ځواکونو دخپل اشغال په موده کې دکورنيو جاسوسانو اووطن پلورونکو په مرسته هغه څه وکړل ،چې تيرو استعماري ځواکونو سرته رسولي ول.

امريکايانو په ډالرو اخستي نوکران قدرت ته ورسول  اوددوئ په مرسته يې په  افغانستان کې دقوم  ، ژبې او مذهب په نومونو دافغانانو په منځ کې دبې اتفاقۍ اور ته لمن ووهله او وسه يې وکړه چې د« بيل يې کړه ،ايل يې کړه » سياست څخه د افغانانو دايل کولو دپاره کار واخلي. همدا رنګه دوئ ( بهرنيو يرغلګرو او کورنيو اجنټانو  ) دافغانستان دخلکو په تيره بيا د تيري او استعمار ضد شخصيتونو او ځواکونو دځپلو دپاره له هيڅ ډول وحشت او توطيو نه ډډه ونه کړه. امريکايانو د طالبانوپه نوم  ټول پښتانه د ځپلو لاندې راوستل او د طالب او القاعدې په پلمه يې د دوئ جرګې ، ودونه اوجنازې د بم وريو لاندې ونيول. دهيواد په شمال کې د

سکتارستانو له خوا توکميزه تصفيه پيل شوه او ډير پښتانه د طالبانو سره د اړيکو لرلو په پلمه له منځه يوړل شول. ډير نور يې دخپلو کورونو او شتمنيو پريښودو ته اړويستل شول او نورو ولايتونو ته وتښتيدل. په پښتون ميشتو ولايتونو کې په کورونو ورختل او دخلکو عنعنو او عقيدو ته سپکاوی او ورته د سر اومال تاوانونه وراړول د دغو سيمو ډير عام خلک د اشغالګرو پر ضد جګړو ته وهڅول او دطالبانو سره خواخوږي يې زياته کړه. يرغلګرو چې په خپلو وسله والو ځواکونو نازيدل له هيڅ ډول ظلم اووحشت څخه ډډه نه کوله. د يرغلګرو دې بې انډوله ظلمونو او په افغانانو د شمالي ټلوالې سره په تړاو کې دفاسدو چارواکو په تپلو سره خلک ،په تيره بيا هغه پښتانه چې د دوئ نيغ په نيغه وحشت ليدلی و، دامريکايانو په وړاندې راپاڅول او د ډيرو سرښندنو په منلو سره يې مقاومت ته پراختيا او دوام ورکړ. خو ايله وروسته له دولس کلونو افغان وژنو او افغانستان ورانولو څخه امريکايانو او نورو متحدينو يې ومنله چې دنورو پخوانيو يرغلګرو په څير يې دا جګړه بايللې ده او نه شي کولای د جګړو له لارې په زور سره افغانان ايل کړي. په دې کې شک نه شته چې امريکايان او پر افغانستان باندې د يرغل نور ملګري به يې له افغانستان څخه ووځي ، خو توطيې او لاسوهنې به يې د خپلو اجنټانو په وجود کې په نورو بڼو پاينښت ومومي.

د دې دپاره چې افغانان خپله رښتينې خپلواکي لاسته راوړي او د بهرنيو تيري کوونکو او د دوئ د لاسپوڅو د توطيو مخه ونيسي بايد هغه کمزورتياوې ليرې شي ،چې دهغوئ له کبله دافغانستان دخلکو بهرني او کورني دښمنان کولای شي د افغانانو په وړاندې توطيې جوړې کړي او فاسد لاسپوڅي حکومتونه پرې وتپي. په دې ډول بايد ټولې استعماري توطيې ،په تيره بيا دانګريزانوله خوا د ډيورنډ دکرښې په واسطه دافغانستان د ويشلو استعماري توطيه، شنډه او له امو څخه تر اباسينه

پورې دافغان واحد ملت يووالى منځته راشي. د انګريزانو په واسطه د ډيورنډ دکرښې دتوطيې په شنډولو او دټوټې شوي افغان واحد ملت په بيرته يووالي سره به افغانان وکړای شي يو رښتيانی ځواکمن اسلامي مرکزي دولت منځته راوړي ، ترڅو د کورنيو بيلتون غوښتونکو اوبهرنيو تيريو او لاسوهنو مخه ونيسي.
د ويشل شوي افغانستان د بيرته يووالي دنده يواځې له آموځخه تر اباسينه پورې افغان ولس سرته رسولی شي. افغانان بايد نور دخپلې بقا او پرمختيا د پاره راپاڅيږي او دټولو بهرنيو اوکورنيو دښمنانو د توطيو د شنډولو له لارې خپله خپلواکي ، ملي يووالى او ملي هويت ټينګ وساتي او خپل هيواد له بربادۍ او اوسنۍ غميزې نه وژغوري . که د افغانستان ټول ملي وطنپال شخصيتونه او ځواکونه همدې موخې ته د رسيدو په خاطر په يو واحد پلاتفورم راټول شي ، کيدای شي په کم وخت کې دافغانستان دخلکو ملاتړ لاسته راوړي او د يو ځواکمن ملي ازادي بښونکي غورځنګ په منځته راتلو سره له اموځخه تر اباسينه پورې د ټولو افغانانو ديووالي لار اواره کړي.
ومن الله التوفيق
د ۱۳۹۳ل کال دثور ۹
د ۲۰۱۴ م کال د اپريل ۲۹



پوهنوال ډاکتر عبدالرشيد جليلي

# HOW IS THE TRAGEDY EXTENDED

## COLLECTION OF ARTICLES

**Download from:aghalibrary**

4 may 2014